ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ

تعلیم الکتاب

آسانہ تکی پہ تکی اور روانہ ترجمہ

القرآن الکریم

مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
هُوَاللهُ
الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ
الرَّحْمٰنُ
الرَّحِيْمُ
اَلْمَلِكُ
اَلْقُدُّوْسُ
اَلسَّلَامُ
اَلْمُؤْمِنُ
اَلْمُهَيْمِنُ
اَلْعَزِيْزُ
اَلْجَبَّارُ
اَلْمُتَكَبِّرُ
اَلْخَالِقُ
اَلْمُصَوِّرُ
اَلْغَفَّارُ
اَلْقَهَّارُ
اَلْوَهَّابُ
اَلرَّزَّاقُ
اَلْفَتَّاحُ
اَلْعَلِيْمُ
اَلْقَابِضُ
اَلْبَاسِطُ
اَلْخَافِضُ
اَلرَّافِعُ
اَلْمُعِزُّ
اَلْمُذِلُّ
اَلسَّمِيْعُ
اَلْبَصِيْرُ
اَلْحَكَمُ
اَلْعَدْلُ
اَللَّطِيْفُ
اَلْخَبِيْرُ
اَلْحَلِيْمُ
اَلْعَظِيْمُ
اَلْغَفُوْرُ
اَلشَّكُوْرُ
اَلْعَلِيُّ
اَلْكَبِيْرُ
اَلْحَفِيْظُ
اَلْمُقِيْتُ
اَلْحَسِيْبُ
اَلْجَلِيْلُ
اَلْكَرِيْمُ
اَلرَّقِيْبُ
اَلْمُجِيْبُ
اَلْوَاسِعُ
اَلْحَكِيْمُ
اَلْوَدُوْدُ
اَلْمَجِيْدُ


لا إله إلا الله محمد رسول الله
الباعث الشهيد الحق الوكيل القوي
المتين الولي الحميد المحصي
المبدئ المعيد المحيي المميت الحي
الواجد الماجد الواجد الاحد
الصمد القادر المقتدر المقدم المؤخر
الأول الآخر الظاهر الباطن
الوالي المتعالي البر التواب المنتقم
العفو الرؤوف مالك الملك ذو الجلال والإكرام
المقسط الجامع الغني المغني المانع
الضار النافع النور الهادي
البديع الباقي الوارث الرشيد الصبور

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ

تعلیم الکتاب

آسانه تکی په تکی او روانه ترجمه

تالیف

مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

ترتیب و تصحیح

مولانا عبدالباری صاحب
مولانا جعفر خان صاحب
مدرسین جامعه تبلیغ القرآن پشاور

العلم پبلیکیشنز
عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور شہر
091-2580325 - 2590315
0333-4532836 / 0332-9241690

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ۝

اوویل هغه | آیا ما نه ووویلی | تاته | (چه) بیشکه ته | هیڅ کله طاقت نه لرے | ما سره | د صبر کولو
خضر ورته بیا اوویل چه وے ما تاته ویلی نه وو چه ته ما سره صبر نه شے کولے

قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ

اوویل هغه | که چرے | ما تپوس او کړو ستانه | د څیز | پس ددے نه | نو ما مهٔ ملګرے کوه
موسیٰ ورته اوویل که ددے نه پس مے دڅه خبرے تپوس او کړو نو بیا ما د ځان سره مه ساته

قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ۝ فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ

یقیناً | رسیدلے ئے ته | زما د طرف نه | عذر ته | نو دواړه روان شو | تر دے | چه کله | راغلل
ځکه چه تا زما په حقله خپل عذر پوره کړو۔ نو بس دواړه بیا روان شول تر دے چه کله دیو کلی والو په

اَهْلَ قَرْيَةٍ ِۨاسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا

یو کلی والو ته | نوخوراک ئے وغوښتلو | دهغے داوسیدونکونه | نوهغوی انکار او کړو | چه میلمستیا ور کړی دے دواړو ته
خوا تپر یدل نو دهغوی نه ئے دوډئ وغوښتله خو هغوی د دوی د میلمستیا کولو نه انکار وکړو

فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ ۭ قَالَ

پس او موندلو دواړو | په هغے کښ | یو دیوال | نزدے وو | چه راپریوځی | نوهغه ئے ټینګ کړو | اوویل (موسیٰ)
بیا دوی دواړو په دغه کلی کښ یو دیوال ولیدو چه پریوتو ته نزدے وو نو خضر هغه ټینګ کړو موسی ورته وویل

لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ۝ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ

که چرے تاغوښتلے وے | نو اغستلی به وے تا | په هغے باندے | څه اجرت | اوویل هغه | دا ده | جدائی | په مینځ زما
که تا غوښتلے نو په دے کار به دے دوی نه اجرت اغستلی وے خضر ورته وویل چه بس زما او ستاد

وَبَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ۝

او په مینځ ستا کښ | زه چه زه به تاخبر کړم | په مطلب (حقیقت) | دهغه څه | چه تاطاقت نه لرلو | په هغے باندے | د صبر کولو
جدایئ وخت راغے اوس به زه تا د هغه خبرو په مطلب پوهه کړم چه تاپرے صبر نه شو کولے

اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ فِي الْبَحْرِ

هر چه کشتۍ وه | نو هغه وه | مسکینانو دپاره | چه مزدوری ئے کوله | په دریاب کښ
هغه کشتۍ خو د فقیرانو خلقو وه چه دریاب کښ ئے (پرے) مزدوری کوله او د هغوی مخے ته یو بادشاه وو

فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ

نو ما اوغوښتل | چه زه عیبجنه کړم دا | او وو | د دوی مخے ته | یو بادشاه | چه نیوله ئے | هره یوه
چه روغ کشتۍ به ئے په زوره نیوله نو ما اوغوښتل چه دا عیبڼه (نقصانی) کړم چه بادشاه ئے

سَفِيْنَةٍ غَصْبًا ۝ وَاَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَآ

کشتۍ | په زوره | او هغه | هلک چه وو | نو وو | مور او پلار دهغه | مؤمنان | نو مونږ ویریدو چه
دخپل بیکار دپاره غصب نه کړی او هغه هلک چه وو نو د هغه مور او پلار مؤمنان وو نو مونږ سره دا ډیره پیدا شوه

اَنْ يُّرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَاَرَدْنَآ اَنْ يُّبْدِلَهُمَا

دے به لوغور خوی دے دواړه لره | په سرکشۍ او | په کفر کښې | نومونږ او غواښتل | چه بدل کښې به ورکړي دوی ته

هسې نه چه داهلک خپل مور او پلار په کفر او سرکشۍ کښې اخته نه کړي نو مونږ دا اوغواښتل چه دوی له به

رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَاَمَّا الْجِدَارُ

رب خپل | غوره | ددهٔ نه | په پاکۍ کښې | او په زړه نزدے | په رحم کښے | او هر چه | دیوال وو

خپل رب ددهٔ په ځای نور اولاد ورکړي چه ددهٔ نه به زیات پاکیزګۍ والا او زیات رحم والا وی. او هغه دیوال چه وو

فَكَانَ لِغُلٰمَيْنِ يَتِيْمَيْنِ فِي الْمَدِيْنَةِ وَكَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ

نو هغه وو | د پاره ددوؤ هلکانو | یتیمانو | په ښار کښې | او وه | د هغے لاندے | خزانه

نو هغه د دغه ښار دیوو یتیمانو هلکانو وو او د هغے د لاندے یوه خزانه پرته وه

لَّهُمَا وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنْ يَّبْلُغَآ

د هغوی | او وو | پلار د هغوی | نیک سړے | پس او غواښتله | رب ستا | چه اورسیږی دوی دواړه

او د هغوی پلار د یو نیک سړے وو نو ستا رب دا اوغواښتله چه دا دواړه د خپلوانۍ عمر ته اورسیږی

اَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا ۖ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهٗ

خپلوانۍ خپلے ته | او را اوباسی (دواړه) | خزانه خپله | دوے د مهربانۍ | د رب ستانه | او مانه دے کړے دا کار

او خپله خزانه پخپله را اوباسی دا هر څه ستا د رب په مهربانۍ سره اوشو او ما یو کار هم په خپلے

عَنْ اَمْرِيْ ۭ ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

په خپل اختیار سره | دا وو | مطلب (حقیقت) | د هغه څه | چه تاطاقت نه لرلو | په هغے باندے | د صبر کولو

رائے نه دے کړے. دا د هغه خبرو مطلب وو چه تا پرے صبر نه شو کولے

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ ۭ قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكُمْ مِّنْهُ

او دوی تپوس کوی ستانه | د ذوالقرنین په باره کښې | اووایه | زړه ته چه به اولولم | په تاسو باندے | د هغهٔ (د حال) نه

او دا خلق ستانه د ذوالقرنین باره کښې تپوس کوی (نو) ورته اووایه چه زه به زړ به زړه تاسو ته د هغه څه

ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِي الْاَرْضِ وَاٰتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ

څه نصیحت | بیشکه | مونږ طاقت ورکړے وو | ده ته | په زمکه کښې | او ورکړی وو مونږ ده ته | د هر قسم نه

حالات بطور نصیحت بیان کړم حقیقت دادی چه مونږ هغه ته په زمکه کښې زیر طاقت ورکړے وو او د هر ضروری څیز سامان

سَبَبًا ﴿٨٤﴾ فَاَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ

سامان | پس دے روان شو | په یوه لار | تر دے | چه کله | او رسیدو | د ځای د پریوتلو |

(وسائل) مو ورکړی وو. نو دے د دین د غلبے د پاره د مغرب طرف ته روان شو تر دے چه کله د نور د هویدو ځای (کناره د

وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِيْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَّوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۭ

نوے موندلو هغه | چه یریوتلو | په یوه چینه | د تور وخټو کښې | او وے موندلو | د هغے سره | یو قوم

بحر احمر) ته اورسیدو نو دا سورته ښکاره شوه چه (تور) د تور وے خټے په یوه چینه کښې ډوبیږی او هلته ئے یو (یونانی) قوم اولیدو

قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِمَّآ اَنْ تُعَذِّبَ وَاِمَّآ اَنْ تَتَّخِذَ

اوویل مونږ | اے ذوالقرنین! | یاخو | داچه | ته عذاب ورکړه | او یا | داچه | ته اختیار کړه

مونږ ده ته د وحی یا الهام په ذریعه اوویل چه ای ذوالقرنین! تا ته اختیار دے یا خو دے خلقو له سزا ورکړه او یا ورسره

فِيْهِمْ حُسْنًا ۝۸۶ قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ

دوی په باره کښ | ښه سلوک | اوویل | هغه څوک | چه ظلم ئے اوکړو | نو دیر زر به | مونږ سزا ورکړو هغه ته

ښه سلوک اوکړه ده اوویل چه څوک پس د دعوت زمانه په ظلم د شرک کښ پاتے شو نو هغوی ته خو به مونږ دیر زر دنیاوی سزا ورکړو

ثُمَّ يُرَدُّ اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكْرًا ۝۸۷ وَاَمَّا مَنْ

بیا به | اوپس کړے شی | رب ته خپل | نو عذاب به ورکړی هغه ته | عذاب | سخت | او هغه څوک

او بیا به خپل رب ته واپس کیږی نو هغه به ورله دیر سخت آخروی عذاب ورکړی ۔ او چا چه

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨ الْحُسْنٰى ۚ وَسَنَقُوْلُ

چه ایمان ئے راوړو | او عمل ئے اوکړو | نیک | نو دهغه دپاره | بدله ده | دیره ښه | اودیر زر به اووایو مونږ

ایمان راوړو او نیک عمل ئے وکړو نو دهغه بدله په آخرت کښ جنت دے او په دنیا کښ به ورسره مونږ

لَهٗ مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا ۝۸۸ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝۸۹ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ

هغه ته | د کار زمونږ نه | آسان کار | بیا | روان شو هغه | په یوه (بله) لار | تر دے | چه کله | اورسیدو

په کار د دین خپل کښ نرمه خبره کوو ۔ بیا دے په طرف د مشرق روان شو تر دے چه کله د نور د اختلو ځای ته اورسیدو

مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ

د ځای د راختلو | د نور ته | نو وے مونږ لو هغه | چه راختلو | په یوداسے قوم باندے | چه نه وه جوړه کړے مونږ

نو داسے ورته ښکاره شوه چه د انور داسے یو قوم (وحشی قبائل د مکران او باختر یا) باندے راخیژی چه هغوی له مونږ د نور نه

لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ۝۹۰ كَذٰلِكَ ۭ وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ

دهغوی د پاره | د دے (نور) مخے ته | څه پرده | هم دغه شان ده | او یقیناً | مونږ پراګیر کړی وو | هغه څه | چه د ده سره وو

د یچ کیدو د پاره څه پرده او آبادی نه وه جوړه کړے ۔ دلته ئے هم هغسے کار اوکړو او ذوالقرنین سره دومره دیر اسباب وو چه

خُبْرًا ۝۹۱ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝۹۲ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ

په علم کښ | بیا | روان شو هغه | په یوه (بله) لار | تر دے | چه کله | اورسیدو | مینځ | د دوو غرونو ته

دهغے په حال صرف مونږ پوره خبر وو ۔ بیا روان شو په طرف د شمال باندے ۔ تر دے چه کله د دوو غرونو لو (دیوالونو)

وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ۝۹۳

نو وے مونږ لو | هغے ته نزدے | یو (داسے) قوم | چه نه وو نزدے | چه پوهه شی | په خبره باندے

مینځ ته اورسیدو نو دهغے په خوا کښ ئے څه خلق (کاسپین او کولشی) اولیدل چه د دوی په خبره نه پوهیدل

قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ

اووایل هغوی | اے ذوالقرنین! | بیشکه | یاجوج | او ماجوج | فساد کونکی دی

هغوی ورته وویل اے ذوالقرنین! یاجوج او ماجوج (دوه قومونه د اولاد د یافث بن نوح نه) په زمکه کښ فساد خوروی

فِي الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ

په زمکه کښ | نو آیا | مونږ راجمع کړو | ستا دپاره | څه مال (خرچه) | په دے شرط | چه ته جوړ کړے

نو آیا مونږ تاته څه مال (خرچ) راجمع کړو؟ چه ته زمونږ او د دوی په مینځ کښ

بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿۹۴﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ

په مینځ زمونږ | او په مینځ دوی کښ | یو دیوال | هغه اوویل | هغه | چه طاقت را کړے دے ما ته | په دے کښ | رب زما

یو دیوال جوړ کړے؟ ذوالقرنین ورته اوویل زما رب چه ما ته کوم طاقت را کړے دے هغه ډیر ښه (کافی) دے

خَيْرٌ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿۹۵﴾

(هغه) ډیر ښه دے | پس تاسو مدد او کړئ زما سره | په قوت | زه به جوړ کړم | په مینځ ستاسو | او په مینځ دوی کښ | یو دیوال

(خو) تاسو د متو په طاقت زما مدد او کړئ نو زه به ستاسو او دهغوی په مینځ کښ یو مضبوط دیوال جوړ کړم

اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ

تاسو راوړئ ما ته | ټکړے | د اوسپنے | تر دے | چه کله | هغه برابر کړو (دیوال) | په مینځ | دسرو لودوارو غرونو کښ

ما ته د اوسپنے بلاکونه راوړئ تر دے چه د دوارو غرونو تر مینځه ئے دیوال برابر کړو

قَالَ انْفُخُوْا ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِيْٓ اُفْرِغْ

نو وئے ویل | چه اوپوکئ | تر دے | چه کله | کړو هغه | (په شان) داور | نو وئے ویل | تاسو راوړئ ما ته | چه زه واړوم

نو وئے ویل چه اوس دے بلاکونو ته اور اوپوکئ تر دے چه کله ئے هغه بلاکونه داور په شان سره کړل نو وئے ویل

عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿۹۶﴾ فَمَا اسْطَاعُوْٓا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا

په دے باندے | ویلی شوے تانبه | پس طاقت نه لری هغوی | چه راوخیژی په هغے باندے | او طاقت نه لری هغوی

چه اوس ویلے شوے تانبه راوړئ چه دپاسه ئے پرے واچوم. نو اوس یاجوج ماجوج نه خو دے دپاسه راختلی شی

لَهٗ نَقْبًا ﴿۹۷﴾ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ۚ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ

دهغے | سوری کولو | اوویل (ذوالقرنین) | دا | رحمت دے | د رب زما | پس کله | چه راشی | وعده

اونه پکښے سورنگ (سوری) کولے شی. ذوالقرنین اوویل: دا زما د رب مهربانی ده. بیا کله چه زما د رب وعده د قیامت راشی

رَبِّيْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا ﴿۹۸﴾ وَتَرَكْنَا

د رب زما | نو هغه به اوگرځوی دا دیوال | چوره (نرمه ذره) | او ده | وعده | د رب زما | رشتینے | اوپرے به پرےدو مونږ

نو دا دیوال به چوره چوره (وران) کړی او زما د رب وعده رشتینے ده او په دغه ورځ به مونږ دوی

بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ

بعضے د دوی نه | په دغه ورځ | چه ورننوځی به | په بعضو کښ | اوپوکے به اووهلے شی | په شپیلۍ کښ

(یاجوج ماجوج یا عام انسانان) دا سے پریږدو چه په یوبل کښ به ورننوځی. او شپیلۍ به پوک وهلے شی

فَجَمَعْنٰهُمْ جَمْعًا ﴿۴۷﴾ وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ عَرْضَا ﴿۴۸﴾

نوراجمع یه کړو مونږ دوی | ټول | او مونږ به راولو | دوزخ | په دغه ورځ | کافرانو ته | بلکل مخامخ

نو مونږ به دا ټول په یو ځای راجمع کړو او په دغه ورځ به مونږ دوزخ د دغه کافرانو مخے ته (د ډیره سخت والی د عذاب) مخامخ راولو

الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ فِيْ غِطَآءٍ عَنْ ذِكْرِيْ وَكَانُوْا

هغه کسانو ته | چه وے | ستر گے د هغوی | په پرده کښ | زما د ذکر له | او وو دوی

دا به هغه کسان وی چه د هغوی ستر گے زمونږ د یاد نه په پرده کښ وے او د حق د اوریدو

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴿۴۹﴾ اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ يَّتَّخِذُوْا

چه طاقت ئے نه لرلو | د اوریدلو | آیا گمان کوی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | دا چه اونیسی هغوی

طاقت ئے نه لرلو۔ آیا کافران دا خیال کوی چه زما نه سوا دے زما بندگان

عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ ۭ اِنَّآ اَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ

بندگان زما | زما نه سوا | دوستان (مددگاران) | بیشکه | تیار کړے دے مونږ | دوزخ | د کافرانو د پاره

کارسازان او کنړی، یقین اوسئ چه مونږ دا سے کافرانو د میلمستیا د پاره دوزخ تیار کړے دے

نُزُلًا ﴿۵۰﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ﴿۵۱﴾ اَلَّذِيْنَ

میلمستیا | او وایه | آیا | زه خبر در کړم تاسو ته | په زیات تاوانی | عمل والو باندے | یعنی هغه کسان

اے نبی! ورته او وایه چه ایا زه تاسو ته هغه څوک او بنایم چه د خپل عمل په اعتبار سره د پیر تاوانیان دی

ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ

چه برباد دے | کوشش د هغوی | په ژوند دنیوی کښ | او دوی | گمان کوی | دا چه بیشکه دوی

دا هغه خلق دی چه د دنیا په ژوند کښ ئے ټول عملونه برباد شو او (بیا هم) خیال ئے دا دے

يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴿۵۲﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ

خائسته عمل کوی | هم دا | هغه خلق دی | چه کفر ئے کړے دے | په آیتونو | د رب خپل

چه دوی د پیر ښه کارونه کوی۔ دا هم هغه خلق دی چه د خپل رب د آیتونو او د هغه د ملاقات

وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

او په ملاقات د هغه | بس ضائع شول | عملونه د دوی | پس قائم به نه کړو مونږ | د هغوی د پاره | په ورځ | د قیامت

نه ئے انکار او کړو نو ټول عملونه ئے برباد شول نو مونږ به ورله د قیامت په ورځ هیڅ وزن د اعمالو

وَزْنًا ﴿۵۳﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا

څه ټول | دا | سزا ده د دوی | دوزخ | په دے وجه | چه کفر کړے وو دوی | او نیول وو دوی

مقرر نه کړو۔ دا دوزخ د دوی سزا ده څکه چه دوی کفر کړے وو او زما آیتونو

اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ هُزُوًا ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

آیتونه زما | او پیغمبران زما | ټوقے | بیشکه | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی

او پیغمبرانو پسے ئے ټوقے کولے (بل طرف ته) چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ۝ خٰلِدِيْنَ

نیک | دی | د دوی دپاره | جنتونه | د فردوس | تیاره میلمستیا | همیشه به وی

نو د دوی د میلمستیا دپاره به د فردوس باغونه وی ۔ همیشه به پکښ اوسیږی

فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ۝ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا

په هغے کښ | نه به غواړی | د هغے نه | وتل | اووایه | که چرے | هی | دریاب | سیاهی

او د هغے نه به بل ځای ته تلل نه غواړی اے نبیؐ خلقو ته اووایه چه که چرے زما د رب د خبرو

لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ

دپاره د لیکلو د کلمو | د رب زما | نو خامخا به ختم شی | دریاب | مخکښ د دے نه | چه ختمے شی | کلمے

د حکمتونو لیکلو دپاره دریاب سیاهی شی نو زما د رب د خبرو د حکمتونو د ختمیدو نه مخکښ مخکښ به

رَبِّيْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ۝ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ

د رب زما | اګر که | راوړو مونږ | په شان د هغے | نوره سیاهی | اووایه | بیشکه | زه یم | یو انسان

دریاب اوچ شوے وی اګر چه هم داسے یو بل سمندر مونږ د دے دپاره بطور د سیاهی راوړو ۔ اووایه چه

مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ

ستاسو غوندے | چه وحی کیږی | ماته | داچه بیشکه | معبود ستاسو | معبود دے | اِک یو | نو څوک

یقیناً زه خو ستاسو غوندے انسان یم ۔ البته ماته دا وحی کیږی چه ستاسو معبود اِک یو معبود دے

كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا

چه | امید ساتی | د ملاقات | د رب خپل | نو اودے کړی | عمل | نیک

نو څوک چه د خپل رب سره د ملاقات امید (عقیده) لری نو هغوی لره پکار دی چه نیک عمل اوکړی

ع ١٢ وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ۝

او نه دے شریکوی | په عبادت | د رب خپل کښ | هیڅ څوک |

او د خپل رب په بندګۍ کښ دے هیڅ څوک نه شریکوی ۔

آیاتها [۹۸]	سورة مریم مکّیّة	رکوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

كٓهٰيٰعٓصٓ ۝۱ ذِكْرُ رَحْمَةِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ۝۲ اِذْ نَادٰى

کهیعص | دا یاداشت دے | د رحمت | د رب ستا | په بنده خپل | زکریا باندے | کله چه | آواز او کړو هغه
کاف، ها، یا، عین، صاد۔ دا ستا د رب د مهربانۍ تذکره ده چه په خپل بنده زکریا باندے ئے کړے وه، دا د هغه وخت

رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ۝۳ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ

رب خپل ته | آواز | پټ | وویل ده | اے زما ربه! | بیشکه زه چه یم | کمزوے شوے دے | هډوکے | زما
خبره ده کله چه هغه خپل رب ته پټ آواز او کړو۔ (او) وئے ویل چه ای زما ربه زما هډوکی کمزوری شوی دی

وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ۝۴

اوتکسپین شوے دے | سر زما | دبوډاوالی دوڅ | اونه یم زه | ستانه په دعا غوښتلو | اے ربه زما | بدبخته
او سر مے د بوډاوالی دوڅ تک سپین شو او زما ربه زه ستانه په غوښتلو کله هم نامراده شوے نه یم

وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا

او بیشکه زه | یریږم | د تربورانو نه | زما نه وروسته | او ده | بڼځه زما | شنډه
او زهٔ د خپل ځان نه وروسته په سنبالولو د دین کښ د خپلو تربورانو نه یریږم او بڼځه مے هم شنډه ده

فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۝۵ يَّرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۗ

نورا کړه | ماته | د خپل طرف نه | یو (داسے) وارث | چه میراث یوسی زما نه | او میراث یوسی | د یعقوب د کورنۍ نه
نو ته خاص د خپل طرف نه ماته یو داسے وارث زا کړه چه زما او د آل یعقوب د دین وارث وی

وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ۝۶ يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ

او اوکړه هغه لره | اے ربه زما | غوره انسان | اے زکریا | بیشکه مونږ | زیری درکوو تاته | د یو هلک
او اے زما ربه! هغه د دین د پاره خوښ (غوره) بنده جوړ کړه۔ (آواز ورته اوشو چه) اے زکریا! بیشکه مونږ

اسْمُهٗ يَحْيٰى ۙ لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ۝۷ قَالَ رَبِّ

چه نوم د هغه یحیٰی | یحیٰی | نه دے جوړ کړے مونږ | د هغه د پاره | د دے نه مخکښ | هم نامے | اووئیل هغه | اے زما ربه
تاته د یو داسے هلک زیرے د رکوو چه نوم به ئے یحیٰی وی (او) د دے نه مخکښ په دے نوم مونږ بل کس نه دے پیدا کړے

اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا وَّقَدْ بَلَغْتُ

څنګه به کیږی | زما | هلک | او ده | بڼځه زما | شنډه | او یقیناً | زه رسیدلے یم
زکریا اووئیل ای زما ربه زما به لا څنګه هلک اوشی حالانکه بڼځه مے بوډی ده او زه پخپله هم

مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ﴿۸﴾ قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ

د بودا والی | انتهاء ته | اوویل (فرشتے) | دغه شان | ویلی دی | رب ستا | (چه) داکار | دے په ما باندے

دبودا والی آخری حد ته رسیدلے یم فرشتے ورته اووئیل چه تاسو دواړه به دغه شان په خپل حالت یې ستا رب ویلی دی چه

هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ﴿۹﴾ قَالَ رَبِّ

آسان | او یقیناً | ما پیدا کړے ئے ته | مخکښ دے نه | او حال دا چه نه وے ته | څه شیز | اوویل ده | اے زما ربه

داکار ما ته آسان دے او ته (هم) ما دے نه مخکښ پیدا کړے ئے حالانکه ته هیڅ شیز نه وے. زکریا ؑ اوویل

اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ

مقرر کړه | ما د پاره | څه نخښه | اوویل هغهٔ | (چه) ستا نخښه داده | چه ته به خبرے نه شے کولے | د خلقو سره

اے زما ربه زما د پاره یوه نخښه (خو) مقرر کړه الله تعالیٰ ورته اوویل ستا نخښه داده چه سره د دے چه روغ رمټ به ئے

ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿۱۰﴾ فَخَرَجَ عَلٰي قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ

درے | شپے | حال دا چه ته به روغ رمټ ئے | پس دے راووتلو | قوم خپل ته | د عبادت خانے نه

(او) د خلقو سره به درے شپے ورځے خبرے نه شے کولے نو بس دے د خپلے عبادت خانے نه د خپل قوم خوا له راغے

فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿۱۱﴾ يٰيَحْيٰى خُذِ الْكِتٰبَ

نو اشاره ئے وکړه | هغوی ته | چه پاکی بیانوئ | سحر | او ماښام | اے یحییٰ | اونیسه | کتاب

(او) په اشاره ئے ورته اوویل چه سحر او ماښام (د خپل رب) پاکی بیانوئ (یحییٰ چه پیدا شو او غټ شو نو مونږ ورته اوویل) اے یحییٰ

بِقُوَّةٍ ۭ وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿۱۲﴾ وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا

په قوت سره | اوور کړے وه مونږ دده ته | پوهه | په ورو کوالی کښې | او ترس کول | د خپل طرف نه

زمونږ کتاب کلک اونیسه او مونږ هغه ته په ورو کوالی کښې پوهه ور کړے وه او د خپل طرف نه مو ورله نرم دلی

وَزَكٰوةً ۭ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿۱۳﴾ وَّبَرًّۢا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا

او پاکیزگی | او وو دے | پرهیزگاره | او احسان کوونکے | د پلار او مور خپل سره | او له وو هغه | زیاتے کوونکے

او پاکیزگی هم ور کړی وه او هغه د پرهیزگاره وو او د مور او پلار سره د پیر ښیګړه کوونکے وو او سرکش او نافرمانه نه وو

عَصِيًّا ﴿۱۴﴾ وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ

نافرمانه | او سلام دے وی | په هغه باندے | په کومه ورځ | چه پیدا شو | او په کومه ورځ | چه مړی به | او په کومه ورځ

او (د الله تعالیٰ د طرف نه) په هغه باندے سلام دے په هغه ورځ هم په کومه ورځ چه پیدا شو او په هغه ورځ هم په کومه ورځ

يُبْعَثُ حَيًّا ﴿۱۵﴾ ع وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ

چه راپاڅولے به شي | ژوندے | او یاده کړه | په کتاب کښې | مریم ؑ | کله چه | ډډے ته شوه

به چه مړی او په هغه ورځ هم په کومه ورځ به چه بیا ژوندے راپاڅیږی او ای نبی ! په دے کتاب کښې په طور د نصیحت د مریم

مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿۱۶﴾ فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا ۡ

د خپل کور والو له | یو خائ | د نور خانهٔ طرف ته | نو وے نیوله | د هغوی طرف ته | پرده

ذکر کړه هم او کړه کله چه هغه د خپل کور والو له جدا شوه (او) د نور خانهٔ طرف ته لاړه بیا ئے د هغوی طرف ته یوه پرده واچوله

فَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهَا رُوْحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿۱۷﴾ قَالَتْ

پس مونږ راولیږلو | هغے ته | خپل روح | پس چوړے کړو هغے ته شکل | د انسان | برابر | اوویل هغے

نو (په دغه موقع) مونږ ورته خپل روح (جبرئیل) اولیږلو چه د هغے مخے ته د سم انسان په شکل بنکاره شو

اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا ﴿۱۸﴾ قَالَ اِنَّمَآ

بیشکه زه | پناه غواړم | په رحمان سره | ستا نه | که چرے | ئے ته | پرهیزګاره | اوویل (هغه) | بیشکه

مریم اوویل چه زه پناه غواړم په رحمٰن ذات سره ستا نه او که ته پرهیزګاره ئے نو زما نه په پرده شه

اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ ۖ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿۱۹﴾ قَالَتْ اَنّٰى

زه | استازے یم | د رب ستا | چه اوبخښم | تا ته | یو هلک | پاک | اوویل هغے | څنګه به

هغه ورته اوویل چه زه ستا د رب د طرفه اولیږلے شوے فرشته یم (او دے د پاره راغلے یم) چه تا ته یو پاک هلک خیر کړم مریم ورته اوویل

يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ وَّلَمْ اَكُ بَغِيًّا ﴿۲۰﴾

کیږی | زما | هلک (خوے) | اولاس نه دے راوړے ما ته | یو بنده | او نه یم زه | بدکاره

چه زما به لاځنګه هلک کیږی حالانکه نه (خو) راله چا لاس راوړے دے او نه زه بدکاره یم

قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ وَلِنَجْعَلَهٗٓ

اوویل فرشتے | دغه شان (په څه) | وبلی دی | رب ستا | داکار دے | په ما باندے | آسان | اودے د پاره چه چوړه کړو مونږ دغه

فرشتے ورته اوویل هم دغسے به ئے وشی خوستا رب وبلی دی چه داکار ما ته آسان دے او مونږ دے ددے

اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿۲۱﴾ فَحَمَلَتْهُ

یوه نخښه | د خلقو د پاره | او رحمت | د خپل طرف نه | او دے | داکار | فیصله شوے | پس حمل واغستلو دے دغه نجۍ

د پاره پیدا کوو چه دے د خلقو د پاره (د خپل قدرت) یوه نخښه او د خپل رحمت ذریعه چوړه کړو او داخبره فیصله شوے ده

فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿۲۲﴾ فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ

نو په ډډه شوه | د دے حمل سره | یو ځای | لرے ته | پس راوستله دے لره | درد د بچی پیدا کیدو

بیا مریم په دے ماشوم سره حامله شوه او په سبب د دے حمل سره د خلقو نه جدا یو لرے ځای ته لاړه

اِلٰى جِذْعِ النَّخْلَةِ ۚ قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا

تنے | د کجورے ته | اوویل دے | افسوس په ما باندے | چه مړه شوے وے زه | مخکښ | د دے نه

نو د پیدائش د درد یت اللحم مقام ته راوستله او تکیه ئے ولګوله تنے د کجورے ته (او) وئیل چه هلے ئے افسوس چه زه دے نه

وَكُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿۲۳﴾ فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِيْ

او وے زه | هیره تیره (د زړو نونه وتلے) | نو آواز او کړو دے ته (هغه رسول) | د دے د کوز طرف نه | چه مه غمژنه کیږه

مخکښ مړه شوے وے او هیر تیر شوے وے نو په دغه وخت د هغے د کوز طرف نه جبرئیل ورته آواز او کړو چه غم مه کوه

قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿۲۴﴾ وَهُزِّيْٓ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ

یقیناً | پیدا کړے ده | ستا رب | ستا نه کوز طرف ته | یوه چینه | او اوخوزوه | خپل ځان ته | تنه | د کجورے

الله تعالیٰ ستا نه کوز طرف ته یوه روانه چینه پیدا کړے ده. او د کجورے دا اوچه اونه اونیسه او ځان ته (ئے) راوخنډه

تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ

نورا غورځوی به | په تا باندے | قجورے | تازه | پس خوره | او څکه | اویخے ساته | ستر گے

(نو) تاته به ترے نه تازه تازه قجورے راوغورزیږی۔ اوس خوره او څکه او خپلے ستر گے یخے کړه

فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا ۙ فَقُوْلِيْٓ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ

پس که چرے | اولیدو تا | د انسانانو نه | یو کس | نو وایه (ورته) | بیشکه ما | نذر منلے دے | د رحمن (ذات) دپاره

او که په انسانانو کښ چا اولیدے نو په اشاره ورته وایه چه ما نن ورځ د رحمن ذات دپاره

صَوْمًا فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ﴿۲۶﴾ فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا

دروژے | نو هیڅ کله | خبرے به نه کومزه | نن ورځ | دیو انسان سره هم | بیادے راوړو | هغه (یحیٰی) | خپل قوم ته

دروژے نذر منلے دے نو زهٔ به نن د انسان سره خبرے نه کوم۔ بیا هغے هغه ماشوم په غیږ کښ

تَحْمِلُهٗ ؕ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿۲۷﴾

چه په غیږ کښ ځانوچت کړے وو | اوویل هغوی | اے مریم | یقیناً | تاخو کړے دے | یو کار | ډیر بد

واغستلو او خپل قوم ته راغله هغوی ورته اوویل یقیناً تا خو ډیر بدکار کړے دے

يٰٓاُخْتَ هٰرُوْنَ مَا كَانَ اَبُوْكِ امْرَاَ سَوْءٍ وَّمَا كَانَتْ اُمُّكِ

اے خور | د هارونؑ | نه وو | پلار ستا | سړے | بد | او نه وه | مور ستا

اے د هارونؑ خورا نه خو ستا پلار بدکار وو او نه دے مور بدکاره وه نو مریمؑ

بَغِيًّا ﴿۲۸﴾ فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ ؕ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ

بدکاره | نو هغے اشاره اوکړه | دهغهٔ طرف ته | اوویل هغوی | څنګه | خبرے اوکړو مونږ | د هغه چا سره | چه دے

د هغه ماشوم طرف ته اشاره اوکړه (نو) خلقو اوویل چه مونږ د غیږ دے (زانګو) ماشوم سره خبرے څنګه اوکړو؟

فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿۲۹﴾ قَالَ اِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ؕ اٰتٰنِيَ الْكِتٰبَ

په غیږه کښ | ماشوم | اوویل هغه | بیشکه زهٔ | بنده یم | د الله تعالیٰ | را کړے دے هغه ما ته | کتاب

(په دے هغه ماشوم خبرے شروع کړے او) دے ویل چه زه د الله تعالیٰ بنده یم هغه به ما ته کتاب را کوی

وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا ﴿۳۰﴾ وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ ۪ وَاَوْصٰنِيْ

او جوړ کړے دے زهٔ | نبی (پیغمبر) | او جوړ کړے یم هغه زه | د برکت والا | چرته چه | زه یم | او حکم کړے دے ما ته

او ما به خپل پیغمبر جوړ وی او ما به د خلقو دپاره یو فائده مند انسان جوړ وی چرته هم چه زه یم او تر څو چه زه ژوندے یم

بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿۳۱﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ ۪

د مانځه | او د زکات | تر څو پورے چه یم زه | ژوندے | او نیکړه کونکے | د مور خپلے سره

نو ما ته به د مانځه او زکوة حکم کوی۔ او زهٔ ئے د خپلے مور فرمانبردار جوړ کړے یم

وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿۳۲﴾ وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ

او نه ئے یم جوړ کړے زهٔ | سرکش | بدبخت | او سلام دے | په ما باندے | په هغه ورځ | چه زهٔ پیدا شوم

او په مخلوق باندے سرکشی کونکے او بدبخته ئے نه یم پیدا کړے ما او په کومه ورځ چه زه پیدا شوم او په کومه ورځ به چه مړ

وَيَوۡمَ اَمُوۡتُ وَيَوۡمَ اُبۡعَثُ حَيًّا ﴿۳۴﴾ ذٰلِكَ عِيۡسَى ابۡنُ مَرۡيَمَ ۚ

اوپه هغه ورځ | چه زه به مړ م | اوپه هغه ورځ | چه زه به راپاڅولے شم | ژوندے | دا دے | عیسی بن مریم

اوپه کومه ورځ به چه دوباره ژوندی کیږم نو په ما باندے دالله تعالی د طرف نه سلامتیا اور حمت دے. دا دے عیسی بن مریم

قَوۡلَ الۡحَقِّ الَّذِىۡ فِيۡهِ يَمۡتَرُوۡنَ ﴿۳۵﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنۡ يَّتَّخِذَ

(وایم زهٔ) وَینا | رشتنے | هغه | چه په هغے کښ | دوی شک کوی | نه دی مناسب | الله تعالی د پاره | چه اونیسی

دهغه په باره کښ دا هغه رشتنے خبره ده چه خلق په کښ شک کوی دالله تعالی د شان سره دا نه ښائی چه هغه دے څوک څوی (نالب)

مِنۡ وَّلَدٍ ۙ سُبۡحٰنَهٗ ؕ اِذَا قَضٰۤى اَمۡرًا فَاِنَّمَا يَقُوۡلُ لَهٗ كُنۡ

څوک بچی (څوے) | پاک دے هغه | کله چه | فیصله اوکړی | دیو کار | نو بیشکه | وائی | هغه ته | اوشه

جوړ کړی (بلکه) هغه خو دهر قسم شریک نه پاک دے هغه چه کله دیو کار فیصله اوکړی نو صرف دا ورته ووائی چه اوشه نو هغه اوشی

فَيَكُوۡنُ ﴿۳۵﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّىۡ وَرَبُّكُمۡ فَاعۡبُدُوۡهُ ؕ هٰذَا

نو هغه اوشی | او بیشکه | الله تعالی | زما (هم) رب دے | اوستاسو (هم) رب دے | نو (هم) دهغه عبادت وکړئ | دا ده

او (عیسی خلقو ته وئیلی وو چه اے خلقو) یقین وساتئ چه الله تعالی زما هم رب دے اوستاسو هم رب دے نو صرف دهغه بندگی

صِرَاطٌ مُّسۡتَقِيۡمٌ ﴿۳۶﴾ فَاخۡتَلَفَ الۡاَحۡزَابُ مِنۡۢ بَيۡنِهِمۡ ۚ فَوَيۡلٌ

لار | نیغه | پس اختلاف جوړ کړو | ډلو | په خپل مینځ کښ | پس هلاکت

اوکړئ هم دا نیغه لار ده. بیا دیهود و او نصارا ؤ مختلفو ډلو په خپل مینځ کښ اختلاف اوکړو نو دهغه کسانو د پاره هلاکت

لِّلَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ مَّشۡهَدِ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ﴿۳۷﴾ اَسۡمِعۡ بِهِمۡ

دهغه خلقو د پاره دے | چه کفر ے کړے دے | د | حاضرئ | د ورځے | لوے نه | ښه به اوری | دوی

او تباهی ده چه د قیامت د لوے ورځے د حاضرئ نه ئے انکار کړے دے په کومه ورځ به چه دوی زمونږ خوا له راشی

وَاَبۡصِرۡ ۙ يَوۡمَ يَاۡتُوۡنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوۡنَ الۡيَوۡمَ فِىۡ ضَلٰلٍ

اوښه به وینی دوی | په هغه ورځ | چه راته به شی دوی مونږ ته | لیکن | ظالمان | ننه ورځ | په گمراهئ

په هغه ورځ به ډیر ښه اوریدل او لیدل کوی لیکن دا ظالمان نن ورځ په ښکاره گمراهئ کښ پراته دی

مُّبِيۡنٍ ﴿۳۸﴾ وَاَنۡذِرۡهُمۡ يَوۡمَ الۡحَسۡرَةِ اِذۡ قُضِىَ الۡاَمۡرُ ۘ وَهُمۡ

ښکاره کښ دی | او ویروه دوی | د ورځے | د افسوس نه | کله چه | فیصله به اوکړے شی | د کار | او دوی

او اے نبی دا خلق د افسوس (د پښیمانتیا) د ورځے نه اویروه کله به چه دهرے خبرے فیصله اوشی. حالانکه دا خلق

فِىۡ غَفۡلَةٍ وَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ الۡاَرۡضَ وَمَنۡ

په غفلت کښ دی | او دوی | ایمان نه راوړی | بیشکه | هم مونږ به | میراث کښ اوړو | زمکه | اوهغه څوک

(نن) په غفلت کښ پراته دی او ایمان نه راوړی. یقین اوساتئ چه دا زمکه او څوک چه په دے زمکه دی دا ټول به اخیر

عَلَيۡهَا وَاِلَيۡنَا يُرۡجَعُوۡنَ ﴿۴۰﴾ ع وَاذۡكُرۡ فِى الۡكِتٰبِ اِبۡرٰهِيۡمَ ۘ

چه په دے باندے دی | او خاص مونږ ته به | دوی راګرځولی شی | او یاد کړه | په کتاب کښ | ابراهیم علیه السلام

مونږ ته پاتے کیږی او هم زمونږ طرف به دا ټول واپس کیږی او اے نبی! په دے کتاب کښ دا ابراهیم تذکره هم بیان کړه

اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيۡقًا نَّبِيًّا ۝ اِذۡ قَالَ لِاَبِيۡهِ يٰۤاَبَتِ

بیشکه هغه | دو | دیر رښتنے | نبی | کله چه | وویل هغه | پلار خپل ته | اے زما پلاره

هغه یو دیر رښتنے پیغمبر وو ۔ کله چه هغه خپل پلار ته اووویل چه اے زما پلاره!

لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِىۡ عَنۡكَ شَيۡـًٔا ۝

ته ولے عبادت کوے | دهغه څه | چه نه اوری | او نه وینی | او نه لرے کولے هی | ستانه | څه شیز

ته د هغه څه عبادت ولے کوے چه نهٔ څه اوری اونه وینی اونه ستانه څه مصیبت لرے کولے هی

يٰۤاَبَتِ اِنِّىۡ قَدۡ جَآءَنِىۡ مِنَ الۡعِلۡمِ مَا لَمۡ يَاۡتِكَ

اے زما پلاره | بیشکه زهٔ | راغلی دی ماته | د علم نه | هغه څه | چه له دی راغلی تاته

اے زما پلاره! یقین اوکړه چه ماته داسے علم ملاو شوے دے چه تاسره نشته

فَاتَّبِعۡنِىۡۤ اَهۡدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ۝ يٰۤاَبَتِ لَا تَعۡبُدِ الشَّيۡطٰنَ‌ؕ

نو ملاسے روان شه | زه به اوښایم تاته | لاره | برابره | اے زما پلاره | ته عبادت مه کوه | د شیطان

نو ته ما پسے روان شه زه به درته سمه لار اوښایم۔ اے زما پلاره ته د شیطان بندگی مه کوه

اِنَّ الشَّيۡطٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمٰنِ عَصِيًّا ۝ يٰۤاَبَتِ اِنِّىۡۤ اَخَافُ

بیشکه | شیطان | دے | د مهربان ذات | نافرمانه | اے زما پلاره | بیشکه زه | یریږم

(څکه چه) شیطان خو پخپله د رحمن ذات نافرمانه دے۔ اے زما پلاره! ما سره دا ډیره ده

اَنۡ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحۡمٰنِ فَتَكُوۡنَ لِلشَّيۡطٰنِ وَلِيًّا ۝

چه اوبه رسی تاته | عذاب | د مهربان ذات د طرف نه | نو شے به ته | د شیطان | دوست

چه چرته په تا باندے د رحمن د طرف نه عذاب رانه هی پس ته به د شیطان ملګرے شے پلار ورته اووویل

قَالَ اَرَاغِبٌ اَنۡتَ عَنۡ اٰلِهَتِىۡ يٰۤاِبۡرٰهِيۡمُ‌ۚ لَئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ

اووویل هغهٔ | آیا مخ اړوونکے ئے | ته | زما د خدایانو نه | اے ابراهیمه! | که چرے | ته منع نه شوے

اے ابراهیمه! آیا ته زما د معبودانو نه انکار کوے یا د اوساته که چرے ته د خپلے خبرے نه منع نه شوے

لَاَرۡجُمَنَّكَ وَاهۡجُرۡنِىۡ مَلِيًّا ۝ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيۡكَ‌ۚ

نو خامخا به زه په کاڼو واولم تا | او لرے شه زمانه | ډیره موده | اووویل (ابراهیم) | سلام (د جدایئ) دے | په تا

نو زهٔ به دے سنګسار کړم او (اوس) ته زمانه د همیشه د پاره لرے (لاړ) شه. هغه ورته اووویل په تا دے د رخصتئ سلام وی

سَاَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّىۡ‌ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِىۡ حَفِيًّا ۝ وَاَعۡتَزِلُكُمۡ

زه دهغه زه به بخښنه غواړم | ستا د پاره | د خپل رب نه | بیشکه هغه | دے | په ما باندے | ډیر مهربان | او زه جدا کیږم ستاسو نه

زهٔ به ستا د پاره د خپل رب نه بخښنه غواړم. یقیناً هغه په ما باندے ډیر مهربان دے او زهٔ تاسو او تاسو چه

وَمَا تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ وَاَدۡعُوۡا رَبِّىۡ‌ۖ عَسٰۤى

او د هغه څه نه | چه تاسو ئے رابلئ | د | الله نه سوا | او زه رابلم | (یواځے) خپل رب | اُمید دے

د الله تعالیٰ نه سوا څوک رابلئ پریږدم او زه صرف خپل رب رابلم. زما پوره امید دے

اَلَّآ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّیْ شَقِیًّا ﴿۴۸﴾ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا

چه نه به یم زه | په غوښتلو کښې | دخپل رب نه | بدبخته (نامراده) | پس هرکله | چه جدا شو ددوی نه | اودهغه څه نه

چه زه به د خپل رب نه په غوښتلو نامراده نه شم ۔ نو کله چه ابراهیمؑ هغوی او هغه څه چه هغوی ئے

يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ

چه هوی ئے عبادت کولو | د الله نه سوا | ورکړو مونږ | ده ته | اسحاقؑ | او یعقوبؑ

د الله تعالی نه سوا عبادت کولو پریښودل نو مونږ ورله اسحاقؑ او یعقوبؑ ورکړل

وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿۴۹﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ

اوهریو | چې ورکړے وو مونږ | نبی | اوورکړے وو مونږ | دوی ته | خپل رحمت | اوورکړے وو مونږ | دوی ته

اوهریو هغه نبی چې ورکړو او هغوی ته مونږ خپل رحمت ورکړے وو او د هغوی ذکر خیر مو

لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰۤى ۫ اِنَّهٗ كَانَ

ذکر | نیک | اوچت | او یاد کړه | په کتاب کښې | موسیٰؑ | بیشکه هغه | وو

ډیر اوچت کړے وو ۔ او اے نبی په دے کتاب کښې د موسیٰؑ تذکره هم بیان کړه ۔ هغه هم د الله تعالی

مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾ وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ

پاک سلک شوے | او وو | رالیږلے شوے | پیغمبر (نبی) | اوآواز کړے وو مونږ هغه ته | د طور د ښی طرف نه

چونړ شوے (خاص) بنده وو او (د الله د طرفه) رالیږلے شوے پیغمبر وو (خلقو ته) او مونږ هغه ته د طور د ښی طرف نه

وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَاۤ اَخَاهُ

اونزدے کړے وو مونږ هغه | رازدار | اوورکړے وو مونږ | هغه ته | د رحمت خپل نه | ورور د هغهٔ

آواز کړے وو او د رازدارئ د خبرو دپاره موځ ان ته رانزدے کړے وو ۔ او مونږ په خپل رحمت سره هغه ته د هغه ورور

هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ ۫ اِنَّهٗ كَانَ

هارونؑ | پیغمبر (نبی) | او یاد کړه | په کتاب کښې | اسماعیلؑ | بیشکه هغه | وو

هارونؑ د پیغمبر په طور ورکړے وو او اے نبی! په دے کتاب کښې د اسماعیلؑ تذکره هم بیان کړه یقیناً هغه هم

صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ

رښتینے | وعدے والا | اووو هغه | رالیږلے شوے | نبی | او هغه به حکم کولو | خپل کورو الو ته

د وعدے رښتینے او رالیږلے شوے پیغمبر وو او هغه به خپل کور والو ته هم

بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۪ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ وَاذْكُرْ

د مانځه | او د زکات | او وو هغه | په نزد | د رب خپل | غوره | او یاد کړه

د مانځه او زکات حکم کولو او (پخپله) (هم) خپل رب ته ډیر خوښ وو ۔ او په دے کتاب کښې

فِي الْكِتٰبِ اِدْرِيْسَ ۫ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿۵۶﴾ وَّرَفَعْنٰهُ

په کتاب کښې | ادریسؑ | بیشکه هغه | وو | ډیر رښتینے | نبی | اواوچت کړے وو مونږ هغه لره

د ادریسؑ تذکره هم وکړه یقیناً هغه ډیر رښتینے نبی وو ۔ او مونږ هغه ډیر اوچت مقام ته

مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

مقام | اوچت ته | دا | هغه کسان دی | چه انعام کړے دے | الله تعالی | په دوی باندے

رسولے وو۔ د آدمؑ په اولاد کښ دا هغه انبیاء دی چه الله تعالی پرے انعام کړے دے

مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۗ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۗ

د پیغمبرانو نه | د | اولاد | د آدمؑ نه | او دهغه چا نه | چه مونږ سواره کړی وو | د نوحؑ سره

او په دے کښ څه دهغه چا اولاد دے چه مونږ د نوحؑ سره په کشتۍ کښ سواره کړی وو او څه پکښ

وَّمِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْرَآءِيْلَ ۗ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ؕ

او د | اولاد | د ابراهیمؑ | او د اسرائیل نه | او هغه چا نه | چه هدایت (ورته) کړے وو مونږ | او غوره کړی وو مونږ

د ابراهیمؑ او یعقوبؑ اولاد دے دا ټول هغه خلق دی چه مونږ ورته هدایت کړے دے او مونږ د خپل دین دپاره غوره کړی دی

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ﴿۵۸﴾

کله به چه | اوستلے شو | په دوی باندے | آیتونه | د مهربان ذات | نو پرې وتل به دوی | سجده کونکی | او ژړا کونکی

دوی ته به چه کله د رحمن ایتونه بیان شول نو دوی به په ژړا ژړا په سجده پرې وتل

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا

بیا جانشین شول | دوی نه وروسته | نا اهل نائبان | چه برباد ئے کړو | مونځ لره | او روان شو

خو بیا د دوی نه وروستو د دوی په ځای دا سے (نااهل) خلق راغلل چه مونځونه ئے برباد کړل او خپلو

الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ

په خواهشاتو پسے | نو پیر زر به | دوی مخامخ شی | سزا د سرکشۍ سره | مګر | هغه چا | چه توبه ئے وویسته | او ایمان ئے راوړو

خواهشاتو پسے روان شول، نو بس پیر زر به دوی ته د خپلے کمراهۍ سزا ملاو شی البته چا چه توبه اوویسته

وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ

او عمل ئے اوکړو | لیک | نو هم داخلیږی | داخلیږی | جنت ته | او ظلم به نه کیږی په دوی باندے

او ایمان ئے راوړو او نیک عمل ئے اوکړو نو داخلیږی به جنت ته داخلیږی او معمولی ظلم به پرے هم نه کیږی

شَيْـًٔا ﴿۶۰﴾ جَنّٰتِ عَدْنِ ِۨالَّتِيْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ

هیڅ قسمه | باغونو | د همیشه والی ته | هغه | چه وعده ئے کړے ده | رحمن ذات | د بندګانو خپلو سره

دا سے د همیشه جنتونو (ته به داخلیږی) چه د هغے وعده رحمان ذات د خپلو بندګانو سره بغیر د لیدو

بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ وَعْدُهٗ مَاْتِيًّا ﴿۶۱﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا

غائبانه | بیشکه | ده | وعده ده هغه | پوره شوے | دوی به نه اوری | په هغے کښ | څه عبث خبرے

کړے ده۔ یقیناً د هغه وعده خامخا پوره کیدونکے ده۔ دوی به په هغے کښ د سلامتیا خبرے اوری او

اِلَّا سَلٰمًا ؕ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿۶۲﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ

لیکن سلام (به اوری) | اووی به دوی دپاره | رزق د دوی | په هغے کښ | سحر | او مابنام | دا دے | جنت

عبث خبرے به نه اوری، اوهلته به ورته سحر او مابنام خپل رزق ملاویږی۔ دا هغه جنت دے چه د دے وارثان به مونږ

الَّتِیۡ نُوۡرِثُ مِنۡ عِبَادِنَا مَنۡ كَانَ تَقِیًّا ﴿۶۳﴾ وَمَا نَتَنَزَّلُ

هغه | چه وارثان ئے جوړوو مونږ | د بندګانو خپلونه | هغه څوک | چه وی | پرهیزګاره | او مونږ نه را کوزیږو

په خپلو بندګانو کښ هغه خلق جوړوو چه متقیان وی او (جبرئیل) پیغمبر ته وویل کله چه ورته لیږی او فرمائیل چه ته وله

اِلَّا بِاَمۡرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَیۡنَ اَیۡدِیۡنَا وَمَا خَلۡفَنَا

مګر | په حکم | د رب ستا | خاص دهغه دی | هغه څه | چه زمونږ مخے ته دی | او هغه څه | چه زمونږ نه وروسته دی

زرزرنه (راځے) مونږ د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر نه شو راکوزیدے زمونږ مخکښ او وروستو چه څه دی او څه چه ددے په

وَمَا بَیۡنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِیًّا ﴿۶۴﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

او هغه څه | چه په مینځ کښ دی | ددے | او نه دے | رب ستا | هیرونکے | رب دے | د آسمانونو

مینځ کښ دی هغه ټول دهغه (الله) په اختیار (ملکیت) کښ دی او ستا رب نه څه نه هیریږی۔ هغه د اسمانونو

وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَیۡنَهُمَا فَاعۡبُدۡهُ وَاصۡطَبِرۡ لِعِبَادَتِهٖ ؕ

او د زمکے | او هغه څه | چه ددے دواړو په مینځ کښ دی | نو (هم) دهغه عبادت کوه | او کلک اوسه | بندګۍ دهغه ته

اوزمکے او ددے دواړو په مینځ کښ چه څه دے ددی ټولو رب دے نو هم دهغه عبادت کوه او هم دهغه په عبادت

ع هَلۡ تَعۡلَمُ لَهٗ سَمِیًّا ﴿۶۵﴾ وَیَقُوۡلُ الۡاِنۡسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ

آیا | ته پیژنے | دهغه | څوک هم نامے | او وائی | انسان | آیا کله چه | مړ شم زه

کلک اوسه آیا ستا په علم کښ بل څوک دا سے شته چه دهغه په شان صفتونه لری؟ او کافر انسان وائی چه آیا زه مړ شم

لَسَوۡفَ اُخۡرَجُ حَیًّا ﴿۶۶﴾ اَوَلَا یَذۡكُرُ الۡاِنۡسَانُ اَنَّا خَلَقۡنٰهُ

نو خامخا زر به | بیا راوستلے کیږم | ژوندے | آیا نه یادوی | انسان | داچه بیشکه مونږ | پیدا کړے وو دے

نو بیا به دوباره پیدا کیږم؟ آیا دے انسان ته دا خبره یاد نه ده چه مونږ ددے نه وړاندے دے هغه وخت پیدا

مِنۡ قَبۡلُ وَلَمۡ یَكُ شَیۡـًٔا ﴿۶۷﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ وَالشَّیٰطِیۡنَ

مخکښ ددے نه | او نه وو دے | هیڅ شے | پس قسم دے ستا په رب | خامخا به مونږ راجمع کړو دوی | او شیطانان

کړے وو چه هیڅ وجود ئے نه لرلو۔ نو ستا په رب قسم دے مونږ به دوی او شیطانان ضرور راجمع کړو

ثُمَّ لَنُحۡضِرَنَّهُمۡ حَوۡلَ جَهَنَّمَ جِثِیًّا ﴿۶۸﴾ ثُمَّ لَنَنۡزِعَنَّ

بیا به | خامخا مونږ حاضره وؤدوی | چاپیره | د دوزخ نه | په زنګونانو باندے پراته | بیا به | خامخا مونږ راوباسو

بیا به دا ټول د دوزخ نه چاپیره دا سے حالت کښ حاضره وؤ چه پرمخے به (په ګونډو) پراته وی بیا به مونږ

مِنۡ كُلِّ شِیۡعَةٍ اَیُّهُمۡ اَشَدُّ عَلَی الرَّحۡمٰنِ عِتِیًّا ﴿۶۹﴾ ثُمَّ

د هرے | ډلے نه | کوم یو چه د دوی نه | زیات سخت وو | په رحمان باندے | په سرکشۍ کښ | بیا

د هر ډلے نه هغه خلق راوباسو چه د رحمن ذات په نافرمانۍ (مخالفت) کولو کښ د ټولو نه زیات سخت وو

لَنَحۡنُ اَعۡلَمُ بِالَّذِیۡنَ هُمۡ اَوۡلٰی بِهَا صِلِیًّا ﴿۷۰﴾ وَاِنۡ مِّنۡكُمۡ

خامخا مونږ | پیژنو | هغه کسان | چه هغوی | د هغه حقدار دی | دوزخ ته | د داخلیدو | اونشته ستاسو نه (هیڅ څوک)

بیا مونږ هغه خلق هم ښه پیژنو چه په دوزخ کښ د داخلیدو زیات حقدار (مستحق) دی۔ اوتاسو کښ به هر

إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي

مګر اوتلونکی دی پرے ولاړ دے | دا | ستا په رب باندې دے | ضروري | فیصله کړے شوے | بیا به | مونږ بچ کړو

یو کس خامخا په دے ورتیر یږي، دا دے خبرے ذمه داري ستا رب په خپله اغستلے ده۔ بیا به مونږ

الَّذِينَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ

هغه خلق | چه تقوی دار وو | اوپرے به پرېږدو | ظالمان | په هغے کښ | په زنګونانو پرېوتی | اوکله چه | اولوستلے شی

متقیانو ته نجات ورکړو او ظالمان به په دے کښ پرېښے (په کوډو غورزیدلی) پرېږدو او کله چه دوی ته

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ اٰمَنُوٓا

پرهوی باندے | زمونږ آیتونه | ښکاره (واضحه) | نووائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هغه خلقو ته | چه ایمان ئے راوړے دے

زمونږ آیتونه صفا صفا بیان شی نو کافران مؤمنانو ته وائی چه په مونږ دواړو ډلو کښ دچا مقام ډیر ښه دے او دچا

أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَّأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا

چه کوم | په دواړو ډلو کښ | ښه | مرتبے والا دی | او ډیر ښائسته | مجلس والا دی | او څومره | هلاک کړی دی مونږ

مجلس ډیر ښائسته دے۔ او (دوی دا نه ګوری) چه ددوی نه مخکښ مونږ څومره ډیر دا سے نسلونه (قومونه)

قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَّرِءْيًا ﴿٧٤﴾ قُلْ مَنْ

مخکښ ددوی نه | د ډیرو نه | چه هغوی | زیات بهتر وو | په سامان | او په بڼودنه کښ | اووایه | هغه څوک

هلاک کړی دی چه هغوی دَدوی نه په ساز و سامان او په ظاهري ښکل او صورت کښ ډیر خائسته وو. اووایه

كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ حَتّٰىٓ إِذَا رَأَوْا

چه وی | په ګمراهۍ کښ | پس مهلت ورکوی | هغه ته | رحمن | مهلت | تر دے | چه کله | اووینی دوی

اے نبی! څوک چه په ګمراهۍ کښ اخته دی نو مهربان الله تعالی هغوی له پوره پوره مهلت ورکوی تر دے چه

مَا يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ ۚ فَسَيَعْلَمُونَ

هغه شے | چه دوی سره ئے وعده کیږی | یا | عذاب | او یا | قیامت | پس ډیر زر به دوی پوهه شی

کله دوی هغه شے ووینی د شے چه ورسره وعده کیږی برابره خبره ده که د دنیا عذاب وی او که د قیامت نو په

مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّأَضْعَفُ جُنْدًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ اللّٰهُ

چه څوک دے | هغه | زیات بد | په مرتبه کښ | او زیات کمزورے | په لښکر کښ | او زیاتوی | الله تعالی

هغه وخت به دوی په دے پوهه شی چه څوک بدترین مقام والا دے او څوک زیات کمزوری لښکر والا دے

الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى ۗ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ

هغه چا لره | چه سمه لارے موندلے ده | هدایت | او باقی پاتے کیدونکی | نیک عملونه | ډیر غوره دی

او چا چه سمه لار اختیار کړے ده الله تعالی هغوی ته په هدایت کښ نور هم ترقی ورکوی او هغه نیک عملونه چه باقی پاتے

عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ أَفَرَءَيْتَ الَّذِي كَفَرَ

په نزد د رب ستا | په ثواب کښ | او ډیر غوره دی | په انجام کښ | آیا ته خبر ئے | د هغه کس نه | چه کفر ئے کړے دے

کیدونکی دی د هغے بدله هم ستا د رب په نزد ډیره غوره ده او د هغے انجام هم ډیر ښه دے آیا تا هغه کس لیدلے دے چه

بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ۝۷۷ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ

په آیتونوزمونږ | او وائی | چه خامخابه ماته راکولے شی | مال | او اولاد | آیا دے خبر دے | په غیبو باندے

زمونږ د آیتونو نه انکار کوی او وائی چه ماته به په آخرت کښ هم مال او اولاد ملاویږی۔ آیا دے د غیبو نه

اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ۝۷۸ كَلَّا ؕ سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ

یا دهٔ نیولے ده | د مهربان ذات سره | وعده | چرے هم دا سے نه ده | زرده چه مونږ به اولیکو | هغه څه | چه دے وائی

خبر شوے دے یا ئے د رحمٰن ذات له څه لوظ اخستے دے؟ هرگز دا سے خبره نه ده. داچه څه وائی هغه مونږ لیکو

وَنَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ۝۷۹ وَّنَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا

اومونږ به زیاتوو | د پاره ددهٔ | عذاب | په زیاتولو سره | اومونږ به وارثان یو | د هغه څه | چه دے وائی | اوراته به شی دے مونږ ته

اومونږ د ده عذاب نور هم زیاتوو او دا چه د څه (خبرو) حواله ورکوی هغے وارثان به مونږ یو او دا به مونږ ته

فَرْدًا ۝۸۰ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ۝۸۱

یوا ځے | او دوی نیولی دی | سوا د الله نه | نور معبودان | دے د پاره چه شی | د دوی د پاره | سبب د عزت

اِک یوا ځے راشی او دوی دالله تعالیٰ نه سوا نور معبودان دد ے د پاره جوړ کړی دی چه هغوی به د دوی ملاتړ شی

كَلَّا ؕ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ۝۸۲ ع ۵

هیڅ کله دا سے نه شی کیدے | زرده چه دوی به انکار او کړی | د هغوی د عبادت نه | او شی به | په هغوی باندے | مخالف

(خو) دا تولے خبرے غلطے دی بلکه هغوی خو به د دوی د عبادت نه هم انکار او کړی. او د دوی مخالف به شی

اَلَمۡ تَرَ اَنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا الشَّيٰطِيۡنَ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ تَؤُزُّهُمۡ

آیا ته نه گورے | چه بیشکه مونږ | راالیږلی دی | شیطانان | په کافرانو باندے چه | راپاروی دوی

اے نبی! آیا تاته پته نشته چه مونږ کافرانو پسے شیطانان ورپریښی دی چه هغوی مسلسل دوی (په کفر او گناه)

اَزًّا ۝۸۳ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ۝۸۴ يَوْمَ

په راپاروولو سره | پس ته تلوار مه کوه | په دوی باندے | بیشکه | مونږ شمارو | دوی لره | شمارل | په هغه ورځ

راپاروی نو ته د دوی په باره کښ تلوار مه کوه. مونږ د دوی د پاره ورځے (عملونه) شمارو۔ په هغه ورځ چه

نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ۝۸۵ وَّنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ

چه مونږ به راجمع کړو | متقیان | رحمن ته | د ډلے ډلے | او مونږ به اوشړو | مجرمان

مونږ به متقیان رحمن ذات ته د میلمستیا په طور د ډلے ډلے راجمع کړو او مجرمان به د تږو حنا ورو په شان

اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ۝۸۶ لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ

دوزخ ته | تږی | اختیار به نه لری دوی | د سفارش کولو | مگر | هغه څوک | چه نیولی دے

دوزخ ته اوشړو۔ (چه) د سفارش اختیار به هم نه لری سوا د هغه چا نه چه د رحمٰن ذات نه ئے

عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ۝۸۷ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ۝۸۸ لَقَدْ

د رحمن سره | وعده | او وائی دوی | (چه) نیولے دے | رحمن | ځے (خوے) | یقیناً

اجازت اخستے وی۔ او دوی وائی چه رحمٰن ذات خوی (ځائے) جوړ کړے دے (دا سے خبره کونکو) حقیقت دا دے

جِئْتُمْ شَيْـًٔا اِدًّا ﴿۸۹﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ

تاسو راوړو | یو شیز | بد (درونـد) | نزدے دہ | چہ آسمانونہ | اوچوی | ددے دوجہ نہ | او اوشلیږی
چہ تاسو (خو) دا سے بدہ خبرہ اوکړہ چہ نزدے دہ چہ دھغے دوجے آسمانونہ اوچوی

الْاَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿۹۱﴾

زمکہ | اوراپریوتی | غرونہ | ټکړے وړے | ددے وجہ نہ | چہ دوی براتلی | رحمن دپارہ | بچے (خوے)
اوزمکہ توټے توټے شی اوغرونہ اوغورزیږی (اوذرہ ذرہ شی)۔ځکہ چہ دوی درحمن دپارہ خوے مقرر کړے دے

وَمَا يَنْۢبَغِيْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾ اِنْ كُلُّ مَنْ

او نہ دی مناسب | درحمن دپارہ | چہ اونیسی | خوے | نہ دی ټول | (هر) هغہ څوک
حالانکہ دالله تعالیٰ سرہ دا نہ ښائی چہ دهغہ دے اولاد وی په آسمانونو اوزمکہ کښی چہ څومرہ خلق دی

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّاۤ اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿۹۳﴾ لَقَدْ

چہ دی په آسمانونو | او په زمکہ کښی | مګر | راتلونکی دی | رحمن ته | په بندګۍ سرہ | یقیناً
هغہ ټول به رحمن ته د بندہ په حیثیت (په عاجزۍ سره) حاضیږی۔ هغہ د ټولو احاطه کړے دہ

اَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ

هغہ راګیر کړی دی دوی | اوشمارلی ئے دی دوی | په شمار لوسره | اوهر یو دوی نه (ټول) | راتلی به هغه ته | په ورځ
اوټول ئے ښه شمارلی دی۔ اود قیامت په ورځ به ټول هغه ته تش تور (یواځے) راځی

الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د قیامت | یواځے (تش تور) | بیشکه | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | اوعملونه ئے کړی دی | نیک
البته یقیناً چاچه ایمان راوړے دے اونیک عملونه ئے کړی دی۔ رحمٰن ذات به (د خلقو په زړونو کښی)

سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ

زیږز به پیدا کړی | ددوی دپاره | رحمن | مینه | پس بیشکه | مونږ آسان کړے دے دا (قرآن) | په ژبه ستا
دهغوی دپاره محبت پیدا کړی۔ نو یقیناً مونږ دا قرآن ستا په ژبه د دے دپاره آسان کړے دے

لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ﴿۹۷﴾

چه ته زیږے ورکړے | په دے سره | متقیانو ته | او ته اویروے | په دے سره | قوم | جګړمار
چه ته متقیانو ته د دے په ذریعه زیږے ورکړے او هم د دے په ذریعه جګړه مار خلق اویروے

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ ؕ هَلْ تُحِسُّ

اوڅومره ډیر | هلاک کړی دی مونږ | مخکښی ددوی نه | قومونه | آیا | ته وینے (محسوسوے)
او د دوی نه مخکښی مونږ څومره ډیر قومونه تباه کړی دی آیا ته

مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿۹۸﴾ ع

دهغوی نه | یو کس | آیا ته آورے | دهغوی دپاره | کشار (کنګوسه) قدرے
په هغوی کښی څوک پاتے وینے یا د هغوی ګنګوسه (کشار) آورے؟

آیاتها[۱۳۵]	سورۃ طٰهٰ مکّیّۃ	رکوعاتها[۸]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

طٰهٰ ۝۱ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ۝۲ اِلَّا تَذْكِرَةً

طٰهٰ | مونږ نه دے راليږلے | په تا باندے | قرآن | چه ته په تکليف کښ شے | مګر | يادداشت
طٰهٰ. اے نبی! مونږ دا قرآن په تا باندے د دے دپاره (خو) نه دے نازل کړے چه ته دے په تکليف شے بلکه داخو

لِّمَنْ يَّخْشٰى ۝۳ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ

دهغه چا دپاره | چه يې پرې | راليږلے شوے دے | دهغه چا طرف نه | چه پيدا کړی دے | زمکه | او آسمانونه
مونږ هغه چا ته د نصيحت کولو دپاره نازل کړے دے چه (دالله نه) ډر پرې۔ دا هغه ذات لږ لږ نازل کړے دے چه زمکه او

الْعُلٰى ۝۴ اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ۝۵ لَهٗ مَا

اوچت | رحمٰن دے | په عرش باندے | برابر دے | دهغه په اختيار (کښ) دی | هغه څه
اوچت آسمانونه ځ پيدا کړی دی۔ هغه مهربان ذات په عرش باندے استواء کړے ده آسمانونو او

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ

چه په آسمانونو کښ دی | او هغه څه | چه په زمکه کښ دی | او هغه څه | چه دواړو په مينځ کښ دی | او هغه څه | چه لاندے
زمکه کښ چه څه دی او دواړو په مينځ کښ او څه چه د زمکے د خاورے لاندے دی دا ټول دهغه په اختيار کښ دی

الثَّرٰى ۝۶ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفَى ۝۷

د خاورے نه دی | او که | ته په زوره کوے | خبره | نو بيشکه هغه | پوهيږی | په پټه خبره | او په ډير پټه خبره
که ته په زوره خبره کوے (او که په دمه) نو هغه په پټو خبرو (راز ونو) (بلکه) ښه په پټو خبرو (چه په زړونو کښ وی) هم پوهيږی

(او) سستی پکښ نه کوی۔ آیا دے خلقو د زمکے والونه نور داسے معبودان نیولی دی چه هغوی دوی بیا راوولی کړے شی؟

يُنْشِرُوْنَ ۝ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ

بیا راوندی کوی دوی | که چرے وی | په دے دواړو کښ | نور خدایان | غیر د الله نه | نو دواړه به تباه شوی وو
که چرے اسمان او زمکه کښ د الله تعالیٰ نه سوا نور حق خدایان وے نو دا دواړه به تباه شوی وو ځکه چه تمانع یو بل په زور سره منع کول به

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ لَا يُسْـَٔلُ

پس پاک دے | (هغه) الله تعالیٰ | چه رب | د عرش دے | دهغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی | تپوس نشی کیدے دهغه نه
ممکن شی او په تمانع سره د الوهیت باطلیږی ځکه چه الوهیت قدرت مستقله غواړی نو د عرش مالک الله تعالیٰ د هغه خبرونه پاک دے چه دوی

عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

دهغه څه باره کښ | چه هغه ے کوی | اوددوی نه به | تپوس کیدے شی | آیا دوی نیولی دی | د هغه نه سوا

ځوائی هغه چه څه کوی نو پوښتنه ترے نه شی کیدے اوددوی نه به تپوس کیږی آیا دوی دالله تعالیٰ نه سوا نور خدایان جوړ کړی دی

اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ

نور خدایان | اووایه | راوړئ تاسو | خپل (پوخ) دلیل | هم دا | ذکر دے | دهغه چا | چه زما سره دی

(نو) اے نبی ورته ووایه چه په دے خبره خپل مضبوط دلیل پیش کړئ. دا (رد د شرک) زما د ملګرو هم وعظ دے

وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ

اوذکر دے | دهغه چا | چه زمانه مخکښ وو | بلکه | اکثر د دوی نه | نه پیژنی | حق | پس دوی

اودهغه خلقو هم چه زمانه مخکښ وو لیکن حقیقت داد ے چه په دوی کښ اکثر خلق حق نه پیژنی

مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ

مخ اړونکی دی | اونه دے لیږلے مونږ | ستانه مخکښ | هیڅ یو پیغمبر | مګر | مونږ به وحی کوله

نو ځکه ترے نه مخ اړوی او څومره پیغمبران چه مونږ ستانه مخکښ لیږلی دی هغوی ته مونږ دا وحی کړے وه

اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ

هغه ته | چه بیشکه | نشته دے | معبود | سوا | زمانه | نو هم زما عبادت کوئ | اووائی دوی | چه نیولے دے

چه زمانه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته نو یوا ځے زما عبادت کوئ۔ او دوی (مشرکان) وائی چه رحمٰن ذات

الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ۙ﴿۲۶﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ

رحمن ذات | څوی (اولاد) | پاک دے هغه | بلکه | هغوی خوښ بندګان دی | عزتمند | نه مخ اندے کیږی دوی دالله نه

(ځانله) څوی نیولے دے سبحان الله (الله پاک دے) بلکه دا (فرشتے) خو د الله تعالیٰ عزتمند بندګان دی

بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

په خبره کښ | او دوی | دهغه په حکم | عمل کوی | پوهیږی هغه | په هغه څه | چه د دوی وړاندے دی

دوی خو دهغه نه وړاندے خبره قدر ے نه شی کولی (بلکه) دوی خو دهغه په هر یو حکم عمل کوی هغه (الله)

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ

اوپه هغه څه | چه د دوی پروستو دی | اونه دوی سفارش کولے شی | مګر | دهغه چا د پاره | چه راضی وی ترے الله | او دوی

د دوی د مخکښ وروستو ټولو خبرو نه بښه واقف (خبر) دے. اودوی د چا سفارش هم نه شی کولے سوا د هغه چا نه

مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ

د هغه د یرے نه | یرېدونکی دی | او چا چه | اووایل | د دوی نه | چه بیشکه زه (هم) | معبود یم

چه الله تعالیٰ ترے رضا وی او هغوی (خو) د الله تعالیٰ د هیبت نه همیشه په یره وی۔ او په دوی کښ که (بالفرض) چا

مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِي

سوا د الله نه | پس دغه کس له به | سزا ورکوو مونږ | د دوزخ | دغه شان | مونږ سزا ورکوو

دا اووایل چه زه هم د الله تعالیٰ نه سوا معبود (د عبادت لائق) یم نو هغه ته به مونږ د دوزخ سزا ورکوو. او دا سے

الظّٰلِمِيْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ع ۱۲

ظالمانو ته | آیا نه ګوری | هغه خلق چه کفر ځکړے دے | چه یشکه آسمانونه | او زمکه

ظالمانو ته مونږ هم دغه شان سزا ورکوو آیا کافرانو خلقو ته دا نه ده معلوم چه آسمانونه او زمکه یو بل سره

كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۭ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاۗءِ كُلَّ شَيْءٍ

دواړه وو | بند (جوخت) | نو مونږ دواړه پرانستل | او مونږ پیدا کړے دے | د اوبو نه | هر یو شیز

جوخت وو بیا مونږ دواړه جدا جدا کړل او مونږ د اوبو نه هر شیز ژوندے پیدا کړے دے،

حَيٍّ ۭ اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَجَعَلْنَا فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ

ژوندے | آیا نو دوی ایمان نه راوړی | او مونږ جوړ کړی دی | په زمکه کښ | کلک غرونه

آیا بیا هم دوی ایمان نه راوړی او مونږ په زمکه کښ مضبوط غرونه پیدا کړی دی

اَنْ تَمِيْدَ بِهِمْ ۠ وَجَعَلْنَا فِيْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ

چه اونۍ خوزی | په دوی باندے | او مونږ جوړے کړی دی | په دے کښ | فراخه (پلنے) | لارے | دے دپاره چه دوی

چه دا زمکه په دوی اونۍ خوزی، او مونږ په دے کښ پلنے پلنے لارے جوړے کړی دی چه دوی په هغے

يَهْتَدُوْنَ ۝ وَجَعَلْنَا السَّمَاۗءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ۚ وَّهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا

لار پیدا مومی | او مونږ جوړ کړے دے | آسمان لره | چت | محفوظ | او دوی | د هغے د نخښو نه

خپل منزل ته ورسی، او مونږ آسمان یو محفوظ چت جوړ کړے دے خو دوی بیا هم د هغے د نخښو نه

مُعْرِضُوْنَ ۝ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ

مخ اړونکی دی | او هم هغه | هغه ذات دے | چه پیدا کړے دے | شپه | او ورځ | او نور

مخ اړوی. او هم دغه الله تعالیٰ شپه او ورځ او نور او سپوږمۍ پیدا کړی دی،

وَالْقَمَرَ ۭ كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ۝ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ

او سپوږمۍ | هر یو | په خپل مدار کښ | لامبو وهی | او مونږ نه دے کړی خو لے | یو انسان لره

هر یو په خپل مدار (خلائ د چا پیر کړ ځیدو) کښ په طریقے سره رفتار کوی. او ای نبی آستانه مخکښ مونږ هیڅ یو بنده نه

مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۭ اَفَاۗىِٕنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ۝ كُلُّ

ستا نه مخکښ | همیشه والے | آیا که چرے | ته مرشے | نو دوی به | همیشه وی؟ | هر یو

دهمیشه ژوندنه دے ورکړے نو که ته وفات شے نو ولے دوی به (په دنیا کښ) همیشه پاتے وی څه؟ هر یو کس

نَفْسٍ ذَاۗىِٕقَةُ الْمَوْتِ ۭ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۭ

کس | څکونکے | د مرګ دے | او مونږ ازمایو تاسو | په سختۍ | او په آرام سره | د پاره د امتحان

(نفس) به د مرګ مزه څکی، او مونږ تاسو بطور امتحان په ښه حالت او بد حالت ازمایو

وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ۝ وَاِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ

او خاص مونږ ته به | تاسو واپس کولی شئ | او کله چه | او وینی تاله | هغه خلق | چه کفر ځکړے دے | او نه نیسی دوی تاله

او تاسو ټول به هم مونږ ته واپس راځئ او کافران چه کله (هم) تا او وینی نو تاسے ته ټوقے درپورے کوی

اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِیْ یَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَهُمْ بِذِكْرِ

مګر | ټوکے | آیا دا دے | هغه کس | چه یادوی | ستاسو خدایان (په بدئ) | او دوی | د یاد (ذکر)

(او خپل مینځ کښې وائی) ایا دا هم هغه کس دے چه ستاسو د خدایانو (بدۀ) تذکره کوی حالانکه دا کافران

الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِیْكُمْ

د رحمٰن ذات نه | انکار کونکی دی | پیدا کړے شوے دے | انسان | د تلوار نه | زه زر به ستاسو تاسو ته

د رحمٰن ذات نه ډیر زیات لوڼه (په توحید سره) انکار کوی انسان دا سے تلوار ډن دے ته به وائے چه کلی د تلوار (تادیب) نه پیدا شوے دے

اٰیٰتِیْ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ۝ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ

نخښے خپلے | نو زر مے مه غواړئ زما نه | او دوی وائی | چه کله به وی | دا | وعده

زه زر به زه تاسو ته خپلے نخښے او ښایم نو تاسو مے زما نه زر مه غواړئ۔ او دوی وائی (مسلمانانو ته) که تاسو رشتنی یئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝ لَوْ یَعْلَمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا حِیْنَ

که چرے | یئ تاسو | رشتینی | که چرے | پوهه وے | هغه خلق | چه کفر کړے دے | په هغه وخت

نو (آخر) دا وعده (د عذاب) به کله پوره کیږی؟ که چرے دی کافرانو ته د هغه وخت (لږه) پته لګیدے

لَا یَكُفُّوْنَ عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ

چه نه به شی لرے کولے | د مخونو خپلو نه | اور | او نه د شاګانو خپلو نه | او نه به دوی سره

چه دوی به د خپلو مخونو نه او د شاګانو نه اور نشی اخوا کولے او نه به د دوی مدد کیږی

یُنْصَرُوْنَ ۝ بَلْ تَاْتِیْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ

مدد کیدے شی | بلکه | را به شی دوی ته هغه (عذاب) | ناګهانه | نو وار خطا به کړی دوی لره | پس طاقت به نه لری دوی

(نو عذاب به مے زر نه غوښتلو) بلکه عذاب خو به په دوی ناڅاپی راځی نو دوی به حیران (وار خطا) کړی

رَدَّهَا وَلَا هُمْ یُنْظَرُوْنَ ۝ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ

دهغے د واپس کولو | او نه به دوی ته | (نور) مهلت ورکولے شی | او یقیناً | ټوکے شوی وے | په پیغمبرانو پورے

بیا به دوی نه دهغے د واپس کولو طاقت لری او نه به دوی ته نور مهلت ملاویږی۔ او اے نبی! تا نه مخکښ هم

مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِیْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا

مخکښ ستا نه | پس راګیر کړل | هغه خلق | چه ټوکے کړے شوے | د دوی نه | هغه (عذاب) | چه دوی

د ډیرو پیغمبرانو پورے ټوکے شوی وے خو آخر کومو خلقو چه ټوکے کولے په هغوی باندے هم

ع ۱ بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ قُلْ مَنْ یَّكْلَؤُكُمْ بِالَّیْلِ وَالنَّهَارِ

په هغے پورے | ټوکے کولے | اووایه | څوک | ساتنه (بچ کول) کوی ستاسو | د شپے | او د ورځے

هغه عذاب راغے په کوم پسے به نے چه ټوکے کولے۔ دوی ته اووایه چه د شپے او د ورځے تاسو د رحمٰن ذات

مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ اَمْ لَهُمْ

د (عذاب د) رحمٰن نه | بلکه | دوی | د ذکر (یاد) | د رب خپل نه | مخ اړونکی دی | آیا ښه د دوی

(د عذاب) نه څوک بچ کوی؟ بلکه دوی د خپل رب د ذکر نه (همیشه) مخ اړوی۔ آیا د دوی زمونږ له سوا څه داسے

اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ؕ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ

(دا سے) خدایان | چه اوساتی دوی لره | سیوا زمونږ نه | طاقت نه لری هغوی | د مدد | د څانونو خپلو

خدایان شته چه دوی حفاظت کوی؟ هغوی خو پخپله د خپل څان مدد نه شی کولے او نه زمونږ په مقابله کښ د هغوی څوک

وَلَا هُمْ مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ۝ بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ

اونه د هغوی سره | زمونږ د طرفنه | ملگرتیا کولے شی | بلکه | مونږ فائدے ورکړی دی | د مے خلقو ته | او دوی پلار نیکه ته

مرسته کولے شی بلکه اصل معامله داده چه مونږ د مے خلقو ته او دوی مشرانو ته د دنیا فائدے ورکړے وے تر دے چه

حَتّٰى طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ؕ اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِى الْاَرْضَ

تر دے چه | اوږده شو | په دوی باندے | عمرونه | آیا نو دوی نه گوری | چه بیشکه | مونږ راځو | زمکے ته

په دے حالت د دوی عمرونه تیر شول (نو دوی د خیال او کړو گنے چه دوی په حقه دی) آیا دوی دا نه گوری چه مونږ د دوی

نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ؕ اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ

چه کمو و مونږ هغے لره | د طرفونو د هغے نه | آیا نو دوی | غالب کیدونکی دی | او وایه | بیشکه | زه یرومه تاسو

د ملک زمکه د مختلفو طرفونو نه تدریجًا | کمو و نو آیا بیا هم دوی به غلبه بیا مونډی؟ اے نبی (د مے خلقو ته) او وایه چه

بِالْوَحْىِ ۚ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ۝ وَلَئِنْ

په وحی سره | او نه آوری | کانړه | بلنه | کله هم (چه) | دوی او ویرولی شی | او که چرے

زه (خو) تاسو دوی په ذریعه د یرومه خو تاسو په شان د کنړو یئ او کانړه خلق چه او یرولی شی نو هغوی آواز (بلنه) نه آوری او که چرے

مَسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا

اورسیږی دوی ته | څه حصه | د عذاب | د رب ستانه | نو خامخا به وائی دوی | اے بد بختی زمونږ | بیشکه

دوی ته ستا د رب د طرف نه څه معمولی عذاب اورسی (نو کونړوالے به ئے ختم شی) او بیا به وائی هائے زمونږ بد بختی!

كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۝ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ

مونږ وو | ظالمان | او مونږ به کیږدو | تلے | د پاره د انصاف قائمولو | په ورځ | د قیامت

یقینًا مونږ خو ظالمان وو۔ او مونږ به د قیامت په ورځ د انصاف (نه دے) تلے کیږدو

فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ

نو ظلم به نه شی کولے | په هیڅ یو کس | هیڅ قسم | او که چرے | وی (عمل) | په اندازه | د دانے | د اوری

نو په چا باندے به معمولی ظلم هم نه کیږی، او که چرے یو عمل د اوری د دانے برابر (هومره) وی

اَتَيْنَا بِهَا ؕ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى

نو مونږ به راوړو | هغه | او کافی یو | مونږ | حساب اغوستونکی | او یقینًا | مونږ ورکړے وو | موسیٰ

نو هغه به هم مونږ پیش کړو او د حساب اغستو د پاره یو اځے مونږ کافی یو، او یقینًا مونږ موسیٰ

وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ

او هارون ته | فرق کونکے کتاب | او ډیره رڼا | او یاداشت | د متقیانو د پاره | هغه خلق

او هارون ته د حق او باطل تر مینځه فرق کونکے، ښکاره احکامو باندے مشتمل یو کتاب ورکړے و چه د متقیانو د پاره

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ۝

چه یرپیږی | د خپل رب نه | غائبانه (بے دلیله) | او هغوی | د قیامت نه | یَرپیدونکی دی

په هغے کښ وعظ او نصیحت وو. هغه متقیان چه د خپل رب نه غائبانه یَرپیږی او د قیامت دَرا تلو نه هم یَرپیږی۔

وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ۝ ع

او دا (قرآن) | یادداشت دے | برکتونو والا | چه مونږ اړولے دے دا | آیا نو تاسو | ددے نه | انکار کونکی یئ

او (اوس) دا قرآن دبرکتونو نه ډک یو نصیحت دے چه مونږ نازل کړے دے. آیا پیا هم تاسو ددے نه انکار کوئ؟

وَلَقَدْ اٰتَيْنَاۤ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ

او یقیناً | مونږ ورکړے وه | ابراهیم ته | پوهه دهغه | ددے له مخکښ | اووو مونږ | په هغه باندے

او دموسیٰ نه مخکښ مونږ ابراهیم ته پوهه (نبوت) ورکړے وو او مونږ دهغهٔ حال

عٰلِمِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ

پوهه (لرونکی) | کله چه | اووایل هغه | خپل پلار | او خپل قوم ته | څه دی | دا | شکلونه

ښه پیژندلو کله چه هغه خپل پلار او قوم ته اووایل چه دا څه دلیل دے دعبادت کولو ددے شکلونو

الَّتِيْۤ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ۝ قَالُوْا وَجَدْنَاۤ اٰبَآءَنَا لَهَا

هغه | چه تاسو | د هغے | منجوړان یئ | اووایل هغوی | (چه) مونږ موندلی دی | پلار نیکه خپل | ددے

چه تاسو ددے په عبادت باندے کلک ولاړ یئ۔ هغوی ورته اووایل چه مونږ خو خپل پلار نیکه ددے

عٰبِدِيْنَ ۝ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ

عبادت کونکی | اووایل (ابراهیمؑ) | یقیناً | یئ | تاسو | او ستاسو پلار نیکه | په گمراهۍ

په عبادت لیدلی دی ابراهیمؑ ورته اووایل چه یقیناً تاسو هم او ستاسو پلار نیکه (مشران) هم په ښکاره گمراهۍ کښ

مُّبِيْنٍ ۝ قَالُوْۤا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ۝

ښکاره کښ | اووایل هغوی | آیا تا راوړے دے مونږ ته | حق | یا | ته ئے | د ټوقو کونکو نه

اخته یئ۔ هغوی ورته اووایل چه آیا تا مونږ ته څه حق راوړے دے یا هسے ټوقے راسره کوے؟

قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِيْ

اووایل (ابراهیمؑ) | بلکه | رب ستاسو (خو) | رب (مالک) | د آسمانونو | او د زمکے دے | هغه ذات

ابراهیمؑ ورته اووایل چه نا بلکه ستاسو رب (خو) د اسمانونو او د زمکے مالک هغه الله دے چه دا ئے په اول څل

فَطَرَهُنَّ ۫ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ وَتَاللّٰهِ

چه پیدا کړی ئے دی دا | او زهٔ یم | په دے باندے | د گواهی کونکو نه | او قسم په الله

پیدا کړی دی. او ای خلقو زهٔ په دے خبره تاسو ته خبر در کوم او په الله تعالیٰ قسم اتاسو چه کله سالانه عُرس دپاره

لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ۝ فَجَعَلَهُمْ

زهٔ به خامخا (څه تدبیر جوړوم) | ستاسو بتانو ته | پس د دے نه | چه وگرځئ تاسو | شا کونکی | پس ده کړل هغه

بهر لاړ شئ او دا در گاه خالی شی نو زهٔ به دوی سره داسے کار (چال) کوم (چه تاسو به ددے په حقیقت پوهه شئ) نو د غټ بت نه سوا

جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۸﴾ قَالُوْا

توله توله | بغیر | د غټ بُت | د هغوی نه | دے دپاره چه دوی | هغه ته | رجوع اوکړی | اوویل دوی

نور توله بتان ے توله توله کړل شاید چه دوی دابراهیم دعوت یادے غټ بُت ته رجوع وکړی هغوی (چه کله راغلل نو)

مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا

چا | کړے دے | دا کار | زمونږ د خدایانو سره | بیشکه هغه دے | د ظالمانو نه | اوویل دوی

دے ویل چه زمونږ د خدایانو سره ما حرکت (سلوک) چا کړے دے؟ یقیناً دا خو چرته د ظالمانو څخه نه دے. بعضے کسانو اوویل

سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا

چه مونږ اوریدلی دی | دیو خوان نه | چه تذکره کوی د دوی | چه ویلی شی | هغه ته | ابراهیمؑ | اوویل هغوی

چه مونږ د یو خوان څخه نه د دوی یدی اوریدلے ده چه هغه ته ابراهیمؑ ویلی شی. دوی اوویل

فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰٓى اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ﴿۶۱﴾ قَالُوْا

پس راولئ | هغه | مخامخ د ستر کو | د خلقو | دے دپاره چه هغوی | گواهی اوکړی | اوویل دوی

چه دا تولو خلقو مخے ته راولئ چه تول پرے گواهی ورکړی (پاسزاد دده ته حاضر شی د عبرت دپاره). (ابراهیمؑ چه کله راغلو)

ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿۶۲﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ

آیا تا | کړے دے | دا کار | زمونږ د خدایانو سره | اے ابراهیمؑ! | وویل هغه | بلکه | کړے دے دا

دوی ورته اوویل چه اے ابراهیمؑ آیا زمونږ د خدایانو سره دا حرکت تا کړے دے؟ ابراهیمؑ ورته اوویل چه نا، دا خو دے

كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ﴿۶۳﴾ فَرَجَعُوْٓا

لوئ بت د دوی | دے | نو تپوس اوکړئ دوی نه | که چرے | دوی | خبرے کولے شی | پس رجوع اوکړه دوی

غټ بت کړی دی اوس دا نور بتان نه خبرے کولے شی نو د دوی نه تپوس اوکړئ کنه. په دے جواب دوی په خپلو

اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾ ثُمَّ نُكِسُوْا

خپلو ځانونو ته | بیا ئے وویل | چه بیشکه هم تاسو | ظالمان یئ | بیا | انسکور کړی شول دوی

کښ سوچ شروع کړو او بیا ئے خپلو کښ وویل یقیناً خبره داده چه تاسو په خپله ظالمان یئ. بیا ئے (د شرم د وجې)

عَلٰى رُءُوْسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَالَ

په خپلو سرونو | یقیناً | تاته پته ده | چه نه دی دا | چه خبرے اوکړے شی | اوویل (ابراهیمؑ)

خپل سرونه خکته (توپټ) کړل او (وے ویل چه) تاته خو پته ده چه دا خبرے نه شی کولے. ابراهیمؑ ورته اوویل چه (بنه)

اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْـًٔا

آیا نو تاسو عبادت کوئ | سوا | د الله نه | دهغه څه | چه فائده نه درکوی تاسو ته | هیڅ قسم

آیا تاسو د الله تعالیٰ نه سوا دهغه څیز عبادت کوئ چه له څه فائده درکولے شی. او نه څه نقصان درکولے شی نافسوس دے

وَّلَا يَضُرُّكُمْ ﴿۶۶﴾ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او نه نقصان درکوی تاسو ته | زه بد گنړم | تاسو | او هغه څه (څوک) | چه تاسو عبادت کوئ | د الله تعالیٰ نه سوا

په تاسو هم او په هغه چا هم چه تاسو د الله تعالیٰ نه سوا عبادت کوئ (زه تاسو نه او تاسو چه د الله تعالیٰ نه سوا چا عبادت کوئ

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

آیانو تاسو نه پوهیږئ | اوویل دوی | اوسوزوئ دے | اومدداو کړئ | دخدایانو خپلو | که چرے | یئ تاسو

دهغه نه پیژاره یئ، آیا تاسو دومره هم عقل نه لرئ۔ دوی یو بل ته اوویل چه دے اوسوزئ اودخپلو خدایانو مدد او کړئ

فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾

کونکی (کار) | اوویل مونږ | اے اوره! | شه ته | یخ | اوسلامتیا والا | په ابراهیم باندے

که تاسو دے کار لره کونکی یئ (ابراهیم ئے چه کله اور کښ وغورځولو نو) مونږ اورته وویل چه دابراهیم دپاره یخ شه،

وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿۷۰﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا

اودوی اراده اوکړه | دهغهٔ سره | د فریب | پس کړل مونږ دوی | پوره ناکامه | اومونږ بچ کړو هغه لره | او لوط لره

اوبے ضرره شه، اودوی خو دابراهیم بدی غوښتله خو مونږ دوی پوره ناکامه (تاوانی) کړل۔ اومونږ هغه اولوط دواړه

اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾ وَوَهَبْنَا

زمکے | هغے ته | چه برکت اچولے دے مونږ | په هغے کښ | د مخلوق دپاره | اوورکړو مونږ

هغه زمکے (شام) ته بچ اوویستل چه په هغے کښ مونږ د مخلوق دپاره برکت اچولے دے۔ اومونږ

لَهٗٓ اِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ﴿۷۲﴾

هغه ته | اسحاقؑ | او یعقوبؑ | زیاتی (په انعام کښ) | اوداتول | گرځولی وو مونږ | نیکان

هغه ته اسحاقؑ وخوی ورکړو او یعقوبؑ (لوسی) مودانعام په طور ورکړو، اوداتول مونږ نیکان گرځولی وو

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ

اوجوړ کړل مونږ دوی | پیشوایان | چه لاره به ئے ښودله | زمونږ په حکم | اووحی کړے وه مونږ | دوی ته

اومونږ دوی دا سے امامان (مشران) کړل چه زمونږ په حکم به ئے د خلقو (د دین دلارے) رهنمائی کوله

فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا

د کولو | د نیکو کارولو | اودپابندئ کولو | د مانځه | اود ورکولو | د زکات | اووودوی | خاص زمونږ

اومونږ دوی ته دوحی په ذریعه د نیکو کولو اود مانځه دپابندئ اود زکات دورکولو حکم کړے وو، اودوی ټولو خاص زمونږ

عٰبِدِيْنَ ﴿۷۳﴾ وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ

عبادت کونکی | او لوط | ورکړے وو مونږ دهغه ته | حکم | او علم | اوبچ کړے وو مونږ دے | د کلی (والو) نه

عبادت کولو۔ او لوط ته مونږ پیغمبری او پوهه د دین ورکړے وه۔ او د هغه کل نه مو بچ کړے وو

الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ

هغه | چه | کول به ئے | پلیت کارونه | بیشکه دوی | وو | خلق (قوم) | ډیر خراب

چه هغوی به پلیت کارونه کول، یقیناً هغه ډیر خراب او بدکار (نافرمانه) قوم وو

فٰسِقِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾

نافرمانه | اومونږ داخل کړے وو هغه | په خپل رحمت کښ | بیشکه هغه وو | د | نیکانو | نه

اوهغه مونږ په خپل رحمت کښ داخل کړے وو یقیناً هغه په کاملو نیکانو خلقو کښ شامل وو

وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ

او(یاد کړه) نوح | کله چه | آواز کړے وو هغه | مخکښ ددے نه | نو قبوله کړه مونږ | دعا ددۀ | پس خلاص موکړو ده

او نوح (ته هم مونږ علم او حکمت ورکړے وو) کله چه هغه ددے واقعے نه (دیر) مخکښ مونږ ته آواز کړے وو

وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۝ وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ

او کورنۍ ددۀ | د مصیبت | لوئے نه | اوبدله واغستله مونږ ددۀ | د هغه قوم نه

نو مونږ دهغه دعا قبوله کړه او هغه او دهغه ملګرو (کورنۍ) مو دلوئ مصیبت نه بچ کړل. او دهغه قوم په مقابله کښ

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ

چه دروغ ګڼلی وو | زمونږ آیتونه | بیشکه دوی | وو | قوم | دیر خراب | نو غرق کړل مونږ دوی

مونږ دهغه مدد او کړو چه زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼلی وو حقیقت دادے چه هغه دیر خراب قوم وو نو ځکه مونږ ټول

اَجْمَعِيْنَ ۝ وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِى الْحَرْثِ اِذْ

ټول | او(یاد کړه) داود او سلیمان (علیهما السلام) | کله چه | دواړو فیصله کوله | په باره د فصل کښ | کله چه

(په یو خائے) غرق کړل. او داود او سلیمان (ته هم مونږ پیغمبری اود دین پوهه ور کړے وه) کله چه هغوی دیو فصل د جګړے

نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ۝

څریدلے وے | په هغے کښ | ګډے (پیزے) | د خلقو | او وو مونږ | د فیصلے دهغوی | خبر لرونکی

په باره کښ فیصله کوله چه په هغے کښ دیو قوم پیزے دشپے څریدلے وے. او مونږ دهغوی فیصلے ته حاضر او ناظر وو

فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۡ

پس پوهه کړو مونږ په هغے (فیصلے) | سلیمان | او هر یو ته | ور کړی وو مونږ | پیغمبری | او علم

نو مونږ ددے فیصلے په طریقه سلیمان علیه السلام پوهه کړو. او پیغمبری او پوهه د دین خو مونږ دواړو ته ور کړے وه

وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ؕ وَكُنَّا

او تابع کړی وو مونږ | د داود سره | غرونه | چه پاکی به ئے بیانوله | او مارغان (هم) | او وو مونږ

او مونږ د داود سره غرونه او مارغان تابع کړی وو چه هغوی به هم (دالله) تسبیح ویله او دا معجزے هم مونږ ور کړے وے

فٰعِلِيْنَ ۝ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ

(دا کار) کونکی | او مونږ ښودلی وو هغه ته | جوړول | د زغرو | ستاسو دپاره | چه بچ کړی تاسو

(د داؤد پکښ خپل څه اختیار نۀ وو) او مونږ هغه ته ستاسو دفائدے دپاره د یو جنګی لباس (زغرو) د جوړولو چل ښودلی وو

مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ۝ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ

د جنګ ستاسو نه | نو آیا | تاسو | شکر اوباسئ؟ | او(تابع کړے وو مونږ) د سلیمان | هوا

چه په جنګ کښ ستاسو حفاظت کوی. نو پکار دی چه تاسو شکر او کړئ؟. او مونږ د سلیمان دپاره تیزے چلیدونکے هوا ګانے

عَاصِفَةً تَجْرِىْ بِاَمْرِهٖۤ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِىْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ

تیزه | چه چلیده به | دهغه په حکم | زمکے | هغے ته | چه برکت اچولی وو مونږ | په هغے کښ

تابع کړے وے چه دهغه په حکم به هغے زمکے (شام) طرف ته چلیدے چه په هغے کښ مونږ برکت اچولے وو

وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ

او وومونږ | په هر یو | څیز باندے | پوهه لرونکی | او د شیطانانو نه | هغه څوک | چه غوږ یه ځوهلے

اومونږ په هر څیز باندے پوهه یو۔ او مونږ بعضے پیریان هم دهغهٔ تابع کړی ووچه دهغهٔ دپاره به ځپه دریاب کښ غوپی وهلے

لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۲﴾

دهغه دپاره | او کولو به هغوی | نور کار ونه | د دے نه سوا (هم) | او وو مونږ | د هغوی | حفاظت کولکی

اودد ے نه علاوه به ځنور کار ونه هم کول اودهغوی ټولو حفاظت (ساتنه) هم مونږ کوله (چه چرته سلیمانؑ ته تکلیف ورنکړی)

وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ

او (یاد کړه) ایوب | کله چه | هغه آواز وکړو | رب خپل ته | چه بیشکه ماته رسیدلے دے | تکلیف | او ته ئے

او (په وخت د مصیبتونو کښ د عبرت حاصلولو دپاره حالات) دایوبؑ یاد کړه کله چه هغه خپل رب ته آواز (فریاد) او کړو چه ماته تکلیف

اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۸۳﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ

زیات رحم کونکے | د رحم کونکو نه | پس مونږ قبوله کړه | دعا دهغهٔ | نو لرے کړو مونږ | هغه څه | چه په هغه وو

را رسیدلے دے او ته د ټولو نه زیات رحم کونکی ئے بیا مونږ دهغه دعا قبوله کړه او کوم تکلیف چه پرے وو هغه موترے نه

مِنْ ضُرٍّ ۖ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً

د تکلیف نه | او ورکړو مونږ هغه ته | بال بچ دهغهٔ | او دهغوی هومره (نور) | د هغوی سره | د وجے د رحمت

لرے کړو۔ او هغه ته مو د هغه خپله کورنۍ او د هغوی هومره نور خلق (اولاد وغیره) هم ورکړو

مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۴﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ

د خپل طرف نه | او نصیحت (یاداشت) | دپاره د عبادت کونکو | او (یاد کړه) اسماعیلؑ | او ادریسؑ

دا دے دپاره چه دا زمونږ د رحمت یوه مظاهره شی او د عبادت کوونکو بندګانو دپاره یو سبق (نصیحت) شی او اسحاقؑ او ادریسؑ

وَذَا الْكِفْلِ ۭ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ

او ذوالکفلؑ | دا ټول | د صبر کونکو نه وو | او مونږ داخل کړی ووا ټول | په خپل رحمت کښ

او ذوالکفلؑ ته او ګوره ! دا ټول دیر صبر کونکی وو او مونږ دا ټول په خپل رحمت کښ داخل کړی وو۔

اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا

بیشکه وودوی | د نیکانو نه | او (یاد کړه) مهی والا | کله چه | لاړو هغه | (دپر) غصه (خپل قوم نه)

یقیناً دا ټول کامل نیکان وو۔ او مهی والا (یونسؑ) ته او ګوره ! کله چه هغه (د خپل قوم نه) غصه (خفه) روان شو

فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ

نو خیال ئے او کړو | چه | مونږ به تنګی رانه ولو | په ده باندے | پس آواز ئے او کړو | په تیارو کښ | (دا) چه

او دا خیال ئے او کړو چه ګنے مونږ به ده باندے څه تنګی رانه ولو۔ (خو) بیا ده په تیارو کښ آواز (فریاد) او کړو

لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۷﴾

نشته ے | حقدار د عبادت | سوا | ستانه | ته پاک ئے | بیشکه زه | یم | د نقصان کونکو نه

(چه اے الله) ستانه سوا بل هیڅ څوک فریاد اورېدونکے نشته ته د هر عیب نه پاک ئے او یقیناً زه قصور وار یم

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ نُنْجِي

نو قبوله کړه مونږ | د دغه دعاء | او مونږ خلاص کړو دغه لره | د غم نه | او دغه شان | مونږ خلاصوو

نو مونږ دهغهٔ دعا قبوله کړه او مختلف قسمه تیږو د غم نه مو خلاص کړو. او دغه شان مونږ (عامو) مؤمنانو ته هم نجات ورکوو۔

الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَزَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ

مؤمنان | اوزکریاؑ (هم یاد کړه) | کله چه | آواز او کړو هغهٔ | رب خپل ته | (چه) ای زما ربه ا | ما مه پریږده

اوزکریاؑ هم یاد کړه کله چه هغه (هم) خپل رب ته اواز (فریاد) او کړو چه اے زما ربه ما یوا څے مهٔ پریږده

فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ۝ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۠ وَوَهَبْنَا

یوا څے | او ته | ډیر ښهٔ ئے | د ټولو وارثانو | نو قبوله کړه مونږ دعا دهغهٔ | او ورکړو مونږ

او د ټولو نه غوره باقی پاتے کیدونکے ئے ۔ نو مونږ د هغه دعا (هم) قبوله

لَهٗ يَحْيٰى وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ

هغهٔ ته | یحییٰؑ | او روغه کړه مونږ | د پاره د هغهٔ | دهغه ښځه | بیشکه | دوی به | کوشش کولو

او د یحییٰؑ (پشان) څوی مو ورله ورکړو او دهغه ښی مو د هغه د پاره داولاد قابله کړه۔ یقیناً دے ټولو به

فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ؕ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ۝

په نیکو کښ | او مونږ به ئے رابللو | په شوق | او په ډیره | او وو دوی | مونږ ته | عاجزی کونکی

د نیکئ په کارونو کښ تیزی کوله او مونږ به ئے په امید (شوق) او یره مے سره رابللو او ټول مونږ ته عاجزوو

وَالَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهَا مِنْ رُّوْحِنَا

او هغه زنانه | چه بچ ئے ساتلے وه | شرمگاه خپله | پس پوکی او کړو مونږ | په هغے کښ | د روح خپل نه

او هغه زنانه ته او گوره چه د خپل عزت خیال ئے ساتلی وو نو په هغے کښ مونږ خپل روح او پوکلو

وَجَعَلْنٰهَا وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ

او جوړه کړه مونږ هغه | او څوے دهغے | یوه نښه | د مخلوقاتو د پاره | بیشکه | داکارونه دانبیاؤ | ستاسو دین دے

او هغه او دهغے څوی مو د مخلوق د پاره د خپل قدرت یوه نښه جوړه کړه اے خلقو یقین او کړئ چه دا (دین) ستاسو

اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ۝ وَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ

دین | یو | او زه | ستاسو رب یم | نو زما عبادت او کړئ | اوتاسو (یکړے یکړے کړو | کار (دین) خپل

د ټولو دین دے چه هم یو دین دے او زه ستاسو پالنهار یم نو هم زما عبادت کوئ۔ خو دے خلقو خپل دین

بَيْنَهُمْ ؕ كُلٌّ اِلَيْنَا رٰجِعُوْنَ ۝ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

په خپل مینځ کښ | ټول | مونږ ته | واپس راتلونکی دی | پس چاچه | عمل او کړو | د نیکو نه

په خپلو کښ ټوټے ټوټے کړو۔ خو دوی ټول به مونږ ته واپس راځی۔ نو څوک چه د ایمان په حالت کښ د نیکئ

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ ۚ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ۝

او وودے | مؤمن | نو نشته هیڅ ناقدری | د کوشش د دهٔ | او بیشکه مونږ | د دے (عمل) | لیکونکی یو

کارونه کوی نو د دهٔ د کوشش ناقدری به نه کیږی. او مونږ یقیناً د هغه دا کوشش (عمل) لیکو۔

وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ۝

اولازمدی | په هرهغه کلی (والو) | چه مونږ هغه هلاک کړی دی | چه بیشکه دوی به | واپس نه راځی

او کوم کلی چه مونږ هلاک کړی دی د هغوی دپاره دا ناممکن ده چه واپس دنیا ته راشی،

حَتّٰٓى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ

تردے | چه کله | راپرانستل شی | یاجوج | او ماجوج | اودوی به | د هرے | دیرئ نه

تردے چه کله یاجوج او ماجوج پرانستل شی (ازاد کړی شی) او دوی به د هرے لورے نه

يَّنْسِلُوْنَ ۝ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ

منډے وهی (راځی) | او (شه) نزدے به شی | وعده | رښتنے | پس ناڅاپه به | واړے (حیرانے) پاتے شی

په منډه راکوزیږی، اودرښتنے وعدے دپوره کیدو وخت به رانزدے شی نو دغه وخت به ناڅاپه د کافرانو ستړګے واړے

اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ

ستړګے | د هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | افسوس په مونږ | یقیناً | مونږ وو | په غفلت کښ

(حیرانے) پاتے شی او وائی به چه هائے افسوس! مونږ خو دے (حقیقت) نه په غفلت کښ

مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۝ اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ

د دے نه | بلکه | وو مونږ | ظالمان | بیشکه تاسو | او هغه څه | چه تاسو ئے عبادت کوئ

پرا ته وو بلکه (واقعی) مونږ ظالمان وو (اے مشرکانو!) تاسو هم او دالله تعالی نه سوا چه تاسو دچا عبادت کوئ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ ۝

د الله نه سوا | خشاک دے | د دوزخ | تاسو به | هغے ته | ورننوځئ

دا ټول د دوزخ خشاک دے تاسو ټول به په هغے کښ ورداخلیږئ۔

لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ؕ وَكُلٌّ فِيْهَا

که چرے | وے | داخلق | معبودان (خدایان) | نو نه به ورننوتل دے (دوزخ) ته | او دا ټول به | په هغے کښ

که چرے دا خلق (په رښتیا) خدایان وے نو دے دوزخ ته به نه ورتلے او ټول به هلته

خٰلِدُوْنَ ۝ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّهُمْ فِيْهَا لَا يَسْمَعُوْنَ ۝

همیشه وی | وی به دوی دپاره | په هغے کښ | زیږ ئ (شور او غوغا) | او دوی به | په هغے کښ | هیڅ نه اوری

همیشه اوسیږی۔ هلته به دوی چغے وهی (شور او غوغا به کوی) او بل به هیڅ خبره نه اوری۔

اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰٓى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنْهَا

بیشکه | هغه کسان | چه د مخکښ نه مقرر شوے دے | د هغوی دپاره | زمونږ د طرف نه | ښیګړه (جنت) | نو دغه خلق به | د دے نه

البته (یقیناً) د کومو خلقو په حقله چه زمونږ د طرف نه دلیکلی (جنت) فیصله د مخکښ نه شوے ده هغوی به د هغه دوزخ نه

مُبْعَدُوْنَ ۝ لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَهُمْ فِيْمَا اشْتَهَتْ

لرے ساتل شی | نه به اوری دوی | کشار (اواز) د هغے | اووی به دوی | په هغه څه کښ | چه غواړی ئے

لرے ساتل شی دوی به د هغے (دوزخ) کشار هم نه اوری. او د خپلے خوښے په ژوند کښ به

اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ۝ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰىهُمُ

نفسونه دَ دوی | (او) همیشه به وی | نه به غمژن کوی دوی لره | یره | لویه | او مخے له به راځی د دوی
همیشه همیشه اوسیږی. د قیامت هغه لویه یره به (هم) دوی نه پریشانه کوی او فرشتے به ورله مخے له ورځی

الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝ يَوْمَ

فرشتے | دا دہ | ورځ ستاسو | هغه | چه تاسو سره ئے | وعده کوله شوه | په هغه ورځ
(او ورته به وائی چه) چه دا ستاسو هغه ورځ ده چه تاسو سره به ئے وعده کیده له. هغه ورځ را یاده کړه په کومه ورځ به

نَطْوِي السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاْنَآ

چه مونږ به راونغاړو | آسمان | په شان د رانغښتلو | د رجسټر | خطونو لره | لکه څنګه چه | شروع کړے مونږ
چه مونږ آسمان داسے راونغاړو لکه چه یو رجسټر لیکلے شوی مضامین په څان کښ را نغښتلے وی څنګه چه مونږ په اول ځل

اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ۝

اول | پیدائش | (د غه شان) مونږ به دوباره پیدا ئش راوکړو | (دا) وعده ده | زمونږ په ذمه | بیشکه | مونږ یو | کونکی
(کائنات) پیدا کړی دی د غسے به ئے دوباره پیدا کړو دا یو موعده ده چه پوره کول ئے زمونږ په ذمه دی یقیناً مونږ به دا کار کوو

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ

او یقیناً | مونږ لیکلی دی | په زبور کښ | د روسته | د ذکر نه | چه بیشکه | (دا) زمکه چه ده
او یقیناً مونږ په زبور کښ د نصیحت نه پس دا خبره لیکلے وه چه د زمکے وارثان به

يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ۝ اِنَّ فِيْ هٰذَا لَبَلٰغًا

د ده مالکان به وی | بندگان زما | نیکان | بیشکه | په دے کښ | خامخا یو لوے پیغام دے
صرف زما نیکان بنده گان وی. یقیناً په دے تیر شوی مضمون کښ د عبادت کونکو د پاره پوره پیغام او کفایت

لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝

د پاره د هغه خلقو | چه عبادت کونکی دی | او مونږ نه ئے لیږلے ته | مګر | رحمت | د پاره د مخلوق
پروت دے. او اے نبیؐ! مونږ ته د ټول مخلوق د پاره رحمت رالیږلے ئے.

قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَهَلْ

اووایه | چه بیشکه | وحی کیږی | ماته | هم دا چه بیشکه | معبود ستاسو | معبود دے | اِک یو | نو آیا
اے نبیؐ دے خلقو ته اووایه چه یقیناً ماته خو هم دا وحی کیږی چه ستاسو معبود اِک یو معبود دے نو آیا

اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ

تاسو | غاړه ایخودونکی یئ | پس که چرے | مخ واړوودوی | نو اووایه | چه خبر کړی مې تاسو | برابر
تاسو خبره منئ؟ که بیا هم دوی مخ اړوی نو ورته اووایه چه ما (خو) تاسو ټول پوره پوره خبر کړی یئ.

وَاِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ۝ اِنَّهٗ

او ماته پته نشته | چه آیا نزدے دے دی | یا لرے دی | هغه څه | چه تاسو سره ئے وعده کیږی | بیشکه هغه (الله)
او ماته دا پته نشته چه د کومے سزا تاسو سره وعده کیږی هغه را نزدے ده یا لرے. یقیناً الله تعالیٰ په زوره خبرو هم

يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُوْنَ ۝ وَاِنْ اَدْرِيْ

پوهیږی | په ښکاره | خبره (وینا) | او پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ئې پټوئ | او ما ته پته نشته

پوهیږی او تاسو چه کوم خبرے پټے کوئ په هغے هم پوهیږی۔ او ما ته دا پته نشته کیدے هی چه دا (تاخیر د عذاب)

لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ۝ قٰلَ رَبِّ احْكُمْ

کیدے هی چه دا | ازمیښت وی | ستاسو دپاره | او څه څنګه (استدلال وی) | څه وخته پورے | اوویل (نبی) | اے زما ربه | فیصله اوکړه

ستاسو دپاره یو ازمیښت او دیو خاص وخته پورے دمزو (خوند) اخستلو موقع وی۔ (اخیرکار) پیغمبر اوویل چه اے زما ربه!

بِالْحَقِّ ؕ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ۝ ع

په حقه | او زمونږ رب | دیر مهربان دے | مدد غوښتلی کیږی هغه څه | په مقابله هغه څه کښ | چه تاسو ئے بیانوئ

ته د حق فیصله اوکړه۔ او زمونږ رب دیر مهربان دے۔ او تاسو چه څه خبرے کوئ هغے په برداشت کولو کښ هغه څه مدد غوښتلی شی

آیاتها [۷۸]	سورة الحج مدنيّة	رکوعاتها [۱۰]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه دیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ

اے خلقو! | اویریږئ | د رب خپل نه | بیشکه | زلزله | د قیامت | یو څیز دے

اے خلقو د خپل رب نه اویریږئ۔ او یقین وکړئ چه د قیامت زلزله یوه

عَظِيْمٌ ۝ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّاۤ

دیر لوے (هیبتناک) | په هغه ورځ | چه اوبه وینئ تاسو هغے لره | چه غافله به شی | هره | پئ ورکونکے | د هغه چا (ماشوم) نه

لویه (هیبتناکه) حادثه ده۔ اے مخاطبه! په کومه ورځ چه دا زلزله تاسو اووینئ په هغه ورځ به هره پئ ورکونکے زنانه

اَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ

چه پئ (ورله) ورکوی هغه | او اوبه غورځوی | هره | حمله اره ښځه | حمل خپل لره | او وینے به ته | خلق

خپل د تی ماشوم هیر کړی او هره حامله زنانه به خپل حمل اوغورځوی او ته به خلق وینے چه

سُكٰرٰى وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ۝

نشه | لوحل دادے چه نه به وی هغوی | نشه | لیکن | عذاب | د الله | دیر سخت دے

نشه نشه به وی حالانکه هغوی به نشه نه وی لیکن د الله تعالی عذاب به دیر سخت وی (نو دا حالت به څکه وی)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ

او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی | چه جګړه کوی | د الله په باره کښ | بغیر | د علم نه | او روان وی

او څه خلق دا سے هم دی چه د الله تعالی تعالی په توحید کښ بغیر د علم نه جګړے کوی او په هر

كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۙ كُتِبَ عَلَيْهِ اَنَّهٗ مَنْ تَوَلَّاهُ

په هر | ټول شیطان | سرکش پسے | لیکلی شوے دے | په هغهٔ باندے | چه بیشکه | څوک چه | دوستی کوی دهغهٔ سره

سرکش شیطان پسے روان وی اودهٔ تابعدار وبارهٔ کښ دا مقرر شوے دے چه دهٔ سره څوک هم دوستی کوی

فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَيَهْدِيْهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

نو بیشکه دے | گمراه کوی هغهٔ لره | او بیائی هغهٔ ته لار | په طرف دعذاب | دأور گرم (دوزخ) | اے خلقو!

نو دے به ګمراه کوی اودگرم اور دعذاب طرف ته به ځوئی یعنی دهغهٔ تابعداری مستلزم مرد ګمراهی اوجهنم لره۔ اے خلقو!

اِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ

که چرے | یئ تاسو | په شک کښے | د بیا ژوندون نه | نو بیشکه | مونږ پیدا کړی یئ تاسو

که چرے ستاسو د دوباره ژوندون باره کښ شک وی نو په دے دلیل کښ لږ سوچ اوکړئ چه مونږ تاسو په اول خل

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ

د خاورے نه | بیا | د نطفے نه | بیا | دوینے دیوے ټکړے نه | بیا | دغوښے دیوے ټکړے نه

دخاورے نه پیدا کړئ بیا دیو څاڅکی اوبو (نطفے) نه بیا دوینے دیوے ټکړے نه بیا دغوښے دیو ټکړے نه

مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ؕ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ

چه پوره اندامونو والا وی | او نیمګړی اندامونو والا هم وی | چه مونږ واضح کړو | تاسو ته | او مونږ ساتو | په رحمونو کښ

چه بعضے پوره اندامونو والا وی او بعضے پوره نه وی چه تاسو ته مونږ ستاسو حقیقت واضح کړو. او مونږ چه څومره وخت پورے

مَا نَشَآءُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا

څومره وخت | چه مونږ اوغواړو | تر نیټے | مقرر شوے پورے | بیا | راوباسو مونږ تاسو | ماشومان

غواړو نو یو مقرر شوے مودے پورے (تاسو) دمیندو په رحمونو کښ ساتو. بیا مونږ تاسو د ماشوم په شکل کښ راوباسو

ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ

بیا (پالو تاسو) | چه ورسئ تاسو | خپلے ځوانۍ ته | او بعضے ستاسو نه | هغه څوک دی | چه مړ شی | او بعضے ستاسو نه

بیا ستاسو پالنه کوو چه خپلے ځوانۍ ته اورسیږی او بعضے په تاسو کښ (د بوډاوالی نه مخکښ) مړه شی. او بعضے

مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ

هغه څوک دی | چه واپس کړے شی | دیر سپک | عمر ته | (دے دپاره چه بیا نه پوهیږی | وروستو | د پوهے نه

په تاسو کښ بدترین عمر ته اورسی نو انجام ئے داشی چه پس د پوهے نه پس په هیڅ نه پوهیږی،

شَيْـًٔا ؕ وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا

په هیڅ څیز باندے | او ته وینے | زمکه | اوچه (کلکه) | پس هرکله | چه نازل کړو مونږ | په دے باندے

او ته وینے ګورے چه زمکه اوچه مړه پرته وی نو بیا چه پرے مونږ کله باران

الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيْجٍ ۝

اوبه | نو (دا) اوخوزیږی | او راوپرسیږی | او راوتو کوی | د هر قسم | بوټو | ښائسته (تازه) نه

راوړو نو هغه حرکت کښ راشی او راوپرسیږی (زرغونه شی) او هر قسم ښائسته شینکی (بوټے) راوتو کوی

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى

دا(تول)ځکه | چه بیشکه | الله | هم هغه دے | حق | او(ځکه چه) بیشکه هم هغه به | ژوندی کوی | مړی

دا دواړه خبرے دلیل دے په دے خبره چه و جود د الله یقینی دے او دلیل دے په دے خبره چه هم هغه به مړی ژوندی کوی

وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ۝ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ

او(ځکه چه) بیشکه هغه | په هر یو | څیز باندے | قادر دے | او(ځکه چه) | قیامت | راتلونکے دے

او هم هغه په هر څیز پوره قدرت لری۔ او دا چه قیامت راتلونکے دے

لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝

هیڅ شک نشته | په هغے کښ | او(ځکه چه) | الله به | راپاڅوی | هغه څوک | چه په قبرونو کښ دی

چه هیڅ شک پکښ نشته او دا چه الله تعالیٰ به هغه ټول خلق بیا راپاڅوی چه په قبرونو کښ دی.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى

او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی | چه جګړه کوی | د الله په بارہ کښ | بغیر | د علم نه | او بغیر د هدایت نه

او بعضے خلق داسے دی چه د الله تعالیٰ په بارہ کښ جګړے کوی حالانکه نه ورسره څه عقلی دلیل شته، او نه ورسره څه نقلی دلیل

وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۙ۝ ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

او بغیر د یو کتاب | روښانه نه | تاوونکے | د ډډے خپلے لره | چه گمراه کړی (خلق) | د لارے د الله نه

شته او نه ورسره څه واضحه کتاب (دوی دلیل) شته دے په تکبر سره خپله ډډه تاوه ده چه خلق د الله تعالیٰ د لارے نه گمراه کړی

لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ

د ده د پاره | په دنیا کښ | رسوائی ده | او به څکو مونږ ده ته | په ورځ | د قیامت | عذاب

د دا سے کس د پاره په دنیا کښ هم رسوائی ده او د قیامت په ورځ به مونږ د سوزونکی اور د عذاب خوند وځکو

الْحَرِيْقِ ۝ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ

د (اور) سوزونکی | دا | په وجه د هغه څه | چه مخکښ لیږلی دی | لاسونو ستا | او بیشکه | الله تعالیٰ | نه دے

(او ورته به ووایو چه) دا ستا د هغه عملونو سزا ده چه تا په خپلو لاسونو مخکښ لیږلی وو او دا خبره یقینی ده چه الله تعالیٰ

بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ

ظلم کونکے | په بندګانو باندے | او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دے | چه عبادت کوی | د الله تعالیٰ

په خپلو بندګانو معمولی ظلم هم نه کوی. او بعضے خلق داسے (هم) دی چه د الله تعالیٰ عبادت

عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ِۨاطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ

په یوه غاړه (شک) باندے | پس که چرے | او رسی ده ته | څه خیر | نو مطمئن شی | په هغے | او که چرے | او رسی ده ته

په یوه غاړے کوی او پوره نه داخلیږی نو چه کله ورته څه دنیوی فائده او رسی په هغے مطمئن شی او چه کله ورته څه

فِتْنَةُ ِۨانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ

څه مصیبت | نو الټه اوګرځی | په مخ خپل باندے | تاوان کړه ده | دنیا | او آخرت | هم دا

مصیبت او رسی نو مخ اړوی او بیاد کفر طرف ته لاړ شی. دا سے کس خپله دنیا هم برباد (تاوانی) کړه (ځکه چه بے اعتماده شو)

هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝ يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا

دے تاوان | ښکاره | دے رامدد کوی (رابلی) | د الله نه سوا | هغه څه

اوآخرت هم (حکمه چه عملونه ئې برباد شو) هم دا ښکاره تاوان دے. دے د الله تعالی نه سوا داسے څوک رابلی چه نهٔ ورته

لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ۝

چه نقصان نه شی رسولے حکمه | اوهغه څه | چه فائده نه شی ورکولے حکمه | هم دا | ده گمراهی | ډیره لرے (د حق نه)

څهٔ نقصان رسولے شی او نه ورله څه فائده ورکولے شی، هم دا ډیره لویه گمراهی ده۔

يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗۤ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ؕ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى

دے رابلی (رامدد کوی) | هغه څوک | چه نقصان حهغهٔ | زیات نزدے دے | دفائدے دهغهٔ نه | خامخا ډیر ناکاره | دوست دے هغه

دے (د الله تعالی نه سوا) داسے څوک رابلی چه د (هغه (د زابللی) نقصان د هغه د فائدے نه زیات نزدے دے داسے مددگار

وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اوخامخا ډیر بد | ملگرے دے (هغه) | بیشکه | الله | داخلوی | هغه کسان | چه ایمان ئې راوړے دے

(مقتدا) ډیر ناکاره مددگار (مقتدا) دے اوداسے ملگرے ډیر بد ملگرے دے چاچه ایمان راوړے دے او نیک

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ

اوعملونه ئې گړی دی | نیک | (داسے) جنتونو ته | چه بهیږی به | دهغے دلاندے | نهرونه

عملونه ئې گړی دی الله تعالی تعالی به یقیناً هغوی داسے جنتونو (باغونو) ته داخل گړی چه دهغے دلاندے به نهرونه بهیږی،

اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ۝ مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ

بیشکه | الله | کوی | هغه څه | چه غواړی (ئې) | هغه څوک | چه کوی | گمان | چه هیڅکله به نصرت ونه کړی دے پیغمبر

یقیناً الله تعالی چه څه غواړی هغه کوی. او دچاچه د پیغمبر سره دشمنی پیدا شوے ده او دهغے دوجے داتمنا کوی چه

اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ

الله | په دنیا | او په آخرت کښے | پس اوږده دے کړی | یَوه رسۍ | آسمان ته

الله تعالی به دخپل پیغمبر مدد په دنیا او آخرت کښے نه کوی نو هغه دے تر آسمانه پورے یوه رسۍ اوغزوی بیا دے پرے

ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ۝

بیا دے | پریکړی | نو بیا دِاوکوری | (چه) آیا | لرے به کړی | دده دا چل | هغه څه | چه غصه کوی ده لره

اوخپڑی اودا امداد اووسی دے بند کړی اوبیا دِاوکوری چه آیا په دے تدبیر سره دده مقصد حاصلیږی (نا هیڅ کله نه حاصلیږی)

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ

او دغه شان | مونږ نازل کړے دے دا (قرآن) | آیتونه | ښکاره (واضحه) | او بیشکه | الله تعالی | لار ښائی

او هم دغه شان مونږ دا قرآن د ښکارو نخښو په صورت کښے نازل کړے دے او الله تعالی چه چاته غواړی هدایت ورته کوی،

مَنْ يُّرِيْدُ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا

هغه چاته | چه اوئے غواړی | بیشکه | هغه کسان | چه ایمان ئې راوړے دے | اوهغه کسان | چه یهودیان شوی دی

یقیناً چا چه ایمان راوړے دے او څوک چه یهودیان دی او څوک چه

وَالصّٰبِـِٕيْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ اِنَّ

او دستورو عبادت کونکی | او عیسائیان | او مجوس | اوهغه کسان | چه شرک ئے کړے دے | بیشکه

دستورو عبادت کوونکی دی اوځوک چه عیسائیان دی اوځوک چه اَتش پرست دی اوځوک چه مشرکان دی،

اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ

الله به | فیصله کوی | دوی په مینځ کښ | په ورځ | د قیامت | بیشکه | الله | په هر

الله تعالی به د قیامت په ورځ د دے تولو په مینځ کښ فیصله اوکړی. یقیناً الله تعالی د هر څیز

شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ

څیز باندے | نظر لرونکے دے | آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله | سجده کوی | دهٗ ته | هغه څوک

نه خبر دے. آیا تهٔ نه ئے خبر چه الله تعالی ته هغه ټول مخلوق سجده کوی چه په آسمانونو کښ دی

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ

چه آسمانونو کښ دی | اوهغه څوک | چه په زمکه کښ دی | او لمر | او سپوږمۍ | او ستوری

او په زمکه کښ دی او لمر ، سپوږمۍ او ستوری

وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَاۗبُّ وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ ۭ وَكَثِيْرٌ

او غرونه | او وني | او څناور | او ډیر | د خلقو نه | اوډیر خلق (داسے دی)

اوغرونه او اُونے او څاروی او ډیر انسانان هم (هغه ته سجده کوی) او ډیر خلق داسے دی

حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ۭ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

(چه) ثابت شوے دے | په هغه باندے | عذاب | اوهغه څوک | چه سپک ئے کړی | الله | نو نشته | هغهٔ ته

چه د عذاب فیصله پرے شوے ده. اوهغه څوک چه الله تعالی ئے ذلیله کړی نو هغه له څوک

مِنْ مُّكْرِمٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاۗءُ ۝ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ

څوک عزت ورکونکے | بیشکه | الله | کوی | هغه څه | چه غواړی (ئے) | دادوه ډلے دی | جګړه کونکی

عزت ورکونکے نشته یقیناً الله تعالی چه څه غواړی هغه کوی. دا (مؤمنان او کافران) دوه (جګړه کونکی) ډلے دی

اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ ۡ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ

چه جګړه کوی دوی | د خپل رب په باره کښ | پس هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | جوړ ولے به شی | دوی دپاره

چه د خپل رب په باره کښ دیو بل سره اختلاف (جګړه) کوی (اوس فیصله به داسے وی چه) کوم خلق کافران دی

ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ۭ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ۝ ۚ

جامے (جوړے شوے) | د اور نه | اچولے به شی | د پاسه | د سرونو د دوی | اېشیدلے اوبه

نو دهغوی دپاره به د اور نه جامے جوړے کړے شی اوسرونو دپاسه به ئے خوتکیدلے کړے اوبه ورتویولی شی

يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ وَالْجُلُوْدُ ۝ وَلَهُمْ مَّقَامِعُ

چه ویلی کولے به شی | په هغے سره | هغه څه | چه دَدوی په کیډو کښ دی | اوځرمنے (هم) | اودَدوی دپاره | کروزونه دی

چه په هغے سره به د دوی د خیټو دننه کولے او دَدوی څرمنے ویلی کولے شی ـ اودَدوی (دوهلو) دپاره به

مِنْ حَدِيْدٍ ﴿۲۱﴾ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ

د اوسپنے | هر کله | چه اراده اوکړی | چه اوځی | د هغے نه | د غم دوجے نه

داوسپنے گرزونه موجود وی. کله هم چه دتکلیف دوجے دوی په د دوزخ نه د بهر وتلو اراده اوکړی

اُعِيْدُوْا فِيْهَا ۫ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۲۲﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ

نو واپس کولے شی | په هغے کښ | او اوځکئ | عذاب | د اور سوزونکی | بیشکه | الله | داخلوی

نو واپس به هغے ته ورډیکه کولے شی (او ورته به ویلی شی چه) د سوزونکی اور عذاب اوځکئ. بل طرف ته چا چه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیک | دا سے جنتونو ته | چه بهیږی به

ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی الله تعالیٰ به هغوی دا سے جنتونو (باغونو) ته داخل کړی چه هغے

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ

لاندے د هغے نه | نهرونه | اچولی به شی دوی ته | په هغے کښ | د | بنګړو | د سرو زرو نه

داونو او د بنګلو لاندے به نهرونه بهیږی (چه) هلته به ورته د سرو زرو بنګړی (باهوکان) او ملغلرے اچولے شی

وَّلُؤْلُؤًا ۭ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۲۳﴾ وَهُدُوْٓا اِلَى الطَّيِّبِ

او ملغلرے | او جامے به د دوی | په هغے کښ | ریښمی وی | اولاړ ښودلے شوے وی ته | د پاکے

او هلته به د دوی جامے ریښمی وی. او (د دے وجه دا ده چه) دوی ته (په دنیا کښ) د کلمے د توحید لاړ ښودلے شوے وه

مِنَ الْقَوْلِ ۚ وَهُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴿۲۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

خبرے | او هدایت ورکړے شوے وو دوی ته | په طرف د لاړے | د ستایلی شوی ذات | بیشکه | هغه خلق

او د هغه الله تعالیٰ د قرآن طرف ته رسیدلی وو چه هغه د هر تعریف مستحق دے. یقیناً هغه خلق د سزا لائق دی

كَفَرُوْا وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

چه کفر ئے کړے دے | او منع کوی (خلق) | د الله د لاړے نه | | او د مسجد | حرام نه

چه کفر ئے کړے دے او د الله تعالیٰ د لاړے نه او د هغه مسجد حرام نه خلق منع کوی چه هغه مونږ دتولو خلقو د پاره

الَّذِيْ جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ سَوَاۗءَ ۨ الْعَاكِفُ فِيْهِ وَالْبَادِ ۭ

کوم چه | جوړ کړے دے مونږ | د خلقو د پاره | برابر دی | اوسیدونکی | په هغے کښ | او مسافر (دبهر نه راتلونکی)

دا سے جوړ کړے دے چه په هغے کښ د هغے اوسیدونکی او د بهر نه راتلونکی (مسافر) برابر دی (نو د غه خلق تباه شو)

وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍۢ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۵﴾

او څوک | چه غواړی | په هغے کښ | بے دینی | په ظلم سره | ولو به هم څکو مونږ د هغه | د عذاب | دردناک نه

او څوک چه په دے کښ په ظلم سره د بے دینئ ارادہ اوکړی نو هغه ته به مونږ د دردناک عذاب مزه ورکړو

وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ

او کله چه | مونږ ځای ورکړو | ابراهیم ته | ځائے | په بیت الله کښ | چه شریک مه جوړوه | زما سره

او هغه وخت یاد کړه کله چه مونږ ابراهیم ته د دے کور (خانه کعبے) ځای وښودلو (او ورته مو حکم اوکړو چه) چه زما سره

شَيْـًٔا وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ

هیڅ یو شیز | او پاک ساته | زما کور | د طواف کونکو دپاره | او د قیام کونکو | او د رکوع کونکو

هیڅ څوک شریک مه جوړوه او زما کور د هغه خلقو دپاره پاک ساته چه دلته طواف کوی او قیام کوی

السُّجُوْدِ ۝ وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَاْتُوْكَ رِجَالًا

او سجده کونکو دپاره | او اعلان وکړه | په خلقو کښ | د حج | (نو) دوی به راځی تاته | پیدل

او رکوع او سجدے کوی. او په خلقو کښ د حج اعلان او کړه نو هغوی به درله پیدل هم راځی

وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ۝

او په هره یوه | ماندہ سورلۍ باندے | چه راځی به | د هرے | لارے | لرے نه

او تهو تهو تیز رفتاره اوښانو باندے سواره هم چه په لویو غرونو او په اوږدو لارو به څان رارسوی

لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ

چه دوی حاضر شی | فائدو | خپلو ته | او یاد کړی دوی | نوم | د الله | په ورځو

دے دپاره چه دوی خپلو فائدو ته حاضر شی او په معلوم (مقرر) ورځو کښ د الله تعالیٰ نوم

مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا

معلومو کښ | په هغه څه | چه ورکړی دی الله دوی ته | د چارپایانو | د څاروو نه | پس خورئ

په هغه څاروو واخلی چه الله تعالیٰ ورله ورکړی دی. نو اے مسلمانانو! پخپله هم د هغے نه خورئ

مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ۝ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ

د دے نه | او خوراک ورکوئ | مصیبت والی | محتاج ته | بیا دے | لرے کړی دوی | خیری خپل

او په تنګدسته محتاجانو باندے هم خورئ. بیا حاجیانو له پکار دی چه خپل خیری لرے کړی

وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ۝ ذٰلِكَ ۚ

او پوره دے کړی | نذرونه خپل | او طواف دے او کړی | د کور | پخوانی | دا (یاد لرئ)

او خپل نذرونه پوره کړی او د دے زوړ کور (خانه کعبه) طواف دے او کړی. دا خبرے یاد ساتئ

وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ

او څوک چه | تعظیم او کړی | د حرمتونو (د شعائرو) | د الله | نو دا | دیر ښه ده | د هغه دپاره | په نزد | د رب خپل

او څوک چه د هغه څیزونو تعظیم کوی چه الله تعالیٰ ورله عزت ور کړے دے نو دا عمل به د هغه د رب په نزد د هغه دپاره دیر بهتر وی

وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ

او حلال کړے شوی دی | ستاسو دپاره | څاروی (نر او مے) | سوا | د هغے نه | چه لوستل شی | په تاسو باندے

او ستاسو دپاره نر او مے څاروی حلال کړے شوی دی سوا د هغے نه چه د هغے حرمت تاسو ته بیان شوے دے

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ ۝

پس ځان بچ کړئ تاسو | د پلیتۍ | د بتانو نه | او ځان اوساتئ | د دروغو نه

نو د بتانو (د غیر الله) د ګندګۍ نه ځان بچ کړئ او د دروغو خبرو نه هم ځان داسے بچ ساتئ چه تاسو

حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ

مائله اوسیږئ | الله ته | چه نه ځ شریکونکی | دهغه سره | اوهغه څوک | چه شرک اوکړی | دالله سره

الله تعالی ته یو مخیزی شئ (او) دهغه سره هیڅ څوک مه شریکوئ. او چا چه د الله تعالی سره شرک اوکړو

فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ

نو کو یاچه | هغه راپریوتو | د آسمان نه | نواوتښتووهغه لره | مارغانو | یا راوغورځوو | هغه لره

نو هغه داسے دے لکه چه د اسمان نه راپریوتلو بیا خو یا مارغانو په فضاء کښ اوتختولو

الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ۝ ذٰلِكَ ۙ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ

هوا | په یو ځائے | ډیرلرے کښ | دا (دهٔ اصل خبره) | اوځوک | چه تعظیم کوی | د لخښو

یاهوا چرته لرے یوړ ورځلی کښ اوغورځولو. دا تولے خبرے یادساتی اوځوک چه دالله تعالی د دین د لخښو تعظیم کوی

اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ۝ لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ

دالله (د دین) | نو بیشکه داده | د پرهیزګارئ | د زړونو نه | ستاسو دپاره دی | په دے کښ | فائدے

نو دا حقیقی تقوی ده څکه دے تقوی تعلق د زړهٔ سره دے. تاسو له دے څاروونه یو مقرر وخته پورے (یعنی یوم النحر پورے)

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ۝ ع

تر نیټے | مقرر ے پورے | بیا | د دے د ذبح کولو ځای | د کور | پخوانی سره دے

د فائدو اغستلو حق حاصل دے بیا دے د حلالولو ځای د زور کور (بیت الله) په خوا کښ مقرر دے (چه تول حرم دے

وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا

او دهر یو | امت دپاره | مونږ مقرر کړے ده | قربانی | چه هغوی یاد کړی | نوم | د الله | په هغه څه

او په مِنی کښ ذبحه افضل ده) او مونږ د هر امت دپاره قربانی په دے غرض مقرر کړے وه چه کوم څاروی هغوی ته

رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ؕ فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

چه هغهٔ ورکړی دی هوی ته | د چارپایانو | د څاروو نه | پس معبود ستاسو | معبود دے | اِک یو

الله تعالی ورکړی دی په هغے دالله تعالی نوم واخلی څکه چه ستاسو د تولو معبود دس اِک یو معبود دے نو هم دهغه تابعدار اوسئ

فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا ؕ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

نو خاص هغه ته | غاړه کیږدئ | اوزیرے ورکړه | عاجزی کوونکو ته | هغه کسان | چه کله | یاد کړے شی | الله

اوزیری ورکړه هغه خلقو ته چه الله تعالی ته عاجزی کوی. او حالت ئے دا دے چه کله د هغوی مخے ته دالله تعالی ذکر اوشی

وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِى

نو یریږی | زړونه دهغوی | او صبر کونکی وی | په هغه څه | چه هغوی ته اورسیږی | او پابندی کونکی وی

نو د هغوی زړونه په یریدو شی او کله چه ورته مصیبت اورسی نو په هغے باندے صبر کوی. او د مونځونو

الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا

د مانځه | او دهغه څه نه | چه مونږ هغوی ته ورکړی دی | خرچ کوی | او غټ څاروی (اوښان) | چه ورکړی دی مونږ هغه

پابندی کوی. او څه چه ورله مونږ ورکړی دی دهغے نه دالله تعالی په لار کښ خرچ کوی او د قربانئ غټ څاروی (اوښان)

لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا

ستاسو دپاره | د نخښو | دالله (ددین) نه | ستاسو دپاره | په هغے کښ | دیر خیر دے | پس یاد کړئ

مونږ ستاسو دپاره د الله تعالی ددین په نخښو کښ شامل کړی دی چه پکښ ستاسو دیر ے فائدے (هم) دی، نو کله چه

اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا

نوم | د الله | په هغے باندے | په حال سے کښ چه ولاړوی (په قطار) | پس کله چه | اوغورځیږی | په ارخ ځنو

دغه څاروی د قربانی دپاره په قطار کښ ولاړوی نو د الله تعالی نوم پرے واخلئ بیا چه کله په خپلو ارخ ځنو (په زمکه باندے) پرېوځی

فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ۭ كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا

نو خورئ | د هغے نه | اوخوراکوئ | قناعت کونکی فقیر ته | اوغوښتونکی فقیر ته | دغه شان | تابع کړی دی مونږ دا (څاروی)

نو د هغے غوښے پخپله هم خورئ او صبر کونکو او د سوال دپاره بار بار پیش کیدونکو اوغوښتونکو فقیرانو باندے ځے هم

لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا

ستاسو دپاره | دے دپاره چه تاسو | شکر گزار شئ | هیڅ کله نه رسی | الله ته | غوښے ددے | اونه وینے ددے

او خورئ، او دا څاروی مونږ هم دغه شان ستاسو تابع جوړ کړی دی چه تاسو شکر گزار شئ. الله تعالی ته خونځ ددے څاروو غوښے

وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ۭ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ

لیکن | رسی هغه ته | تقوٰی | ستاسو نه | دغه شان | تابع کړی دی هغه دا څاروی | ستاسو دپاره

رسی اونه ځے وینے رسی بلکه هغه ته خو صرف ستاسو تقوٰی (اخلاص) رسیږی، هغه دا څاروی دغه شان ستاسو تابع کړی دی

لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰي مَا هَدٰىكُمْ ۭ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

چه تاسو لوئ بیان کړئ | د الله | په هغه طریقه | چه ښودلے ئے ده تاسو ته | او زیرے ورکړه | نیکانو ته

چه تاسو د هغه لوئ بیان کړئ په هغه طریقه چه هغه درته ښودلے ده او د غسے نیکانو ته زیرے ورکړه،

اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

بیشکه | الله | اړوی (کافران) | د هغه خلقو نه | چه ایمان ئے راوړے دے | بیشکه | الله | نه خوښوی

یقیناً الله تعالی د هغه خلقو نه دشمنان لرے کوی (دفع کوی) چه ایمان ئے راوړے دے. یقیناً الله تعالی هیڅ یو خیانت کر

كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ۝ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ع

هر | خیانتگر | ناشکره | اجازت ورکړے شو | هغه خلقو ته | چه جنگ ورسره کیږی | ځکه چه په هغوی باندے

او ناشکره سره مینه نه کوی. کومو مسلمانانو سره چه جنگ کیږی هغوی ته د خپلے دفاع کولو اجازت ملاوشو ځکه چه

ظُلِمُوْا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰي نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُۨ ۝ ۙ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا

ظلم شوے دے | او بیشکه | الله تعالی | د دوی په مدد کولو | خامخا قادر دے | هغه خلق | چه ویستلی شوی دی

په هغوی باندے ظلم شوے دے، او یقین او کړئ چه الله تعالی د دوی په مدد کولو پوره قدرت لری. دا هغه خلق دی

مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ۭ

د کورونو خپلو نه | په ناحقه | صرف په دے | چه دوی وائی | چه رب زمونږ | الله دے

چه صرف په دومره خبره د خپلو کورونو نه په ناحقه وویستلی شو چه دا به ځے ویل چه زمونږ رب (یوا ځے) الله تعالی دے

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ

اوکه چرے نه دفع کولے | الله | خلقو لره | بعضے دهغوی لره | په بعضو سره | نو خامخا به ټول شوی وے

او که چرے الله تعالی د خلقو دیوے ډلے شر دبلے ډلے په ذریعه نه لرے کولے نو خانقاه گانے

صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا اسْمُ اللّٰهِ

خلوت خانے | او گرجے | او عبادت خانے | او جوماتونه | چه یادولے شی | په هغے کښ | نوم | د الله

کلیسے او عبادت خانے او جماتونه چه د الله تعالی نوم پکښ ډیر یادیږی دا ټول به ویران شوی وو

كَثِيْرًا ۭ وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ

ډیر (ډیر) | او خامخا مدد به کوی | الله | دهغه چا | چه مدد کوی دهغه (ددین) | بیشکه | الله | خامخا ډیر قوت والا

او الله تعالی به خامخا د هغه چا مدد کوی څوک چه د الله تعالی د دین مدد کوی. یقیناً الله تعالی پوره طاقتور

عَزِيْزٌ ۝ اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ

غالب دے | هغه خلق | که چرے | طاقتور کړو مونږ هغوی ته | په زمکه کښ | نو پابندی به کوی | د مانځه

او زور ور ذات دے. دا مؤمنان دا سے خلق دی که چرے مونږ دوی ته په زمکه کښ څه اقتدار (حکومت) ورکړو

وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ۭ

او ورکوی به | زکات | او حکم به کوی | د نیکۍ | او منع به کوی | د بدۍ نه

نو د مانځه پابندی به کوی او زکات به ورکوی او د نیکۍ حکم به کوی او د بدۍ نه به خلق منع کوی

وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ۝ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ

او خاص الله لره دے | انجام | د ټولو کارونو | او که چرے | دوی درو غژن ګڼری تا | نو یقیناً | دروغژن ګڼلے وو (پیغمبران)

او د ټولو کارونو انجام د الله تعالی په قبضه کښ دے. او (اے نبی) که دا خلق تا درو غژن ګڼری نو ته مه خفه کیږه څکه چه

قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُوْدُ ۝ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ وَقَوْمُ

دده وی نه مخکښ | قوم | د نوح | او عاد | او ثمود | او قوم | د ابراهیم | او قوم

د دوی نه مخکښ هم د نوح علیه السلام قوم او عادیانو او ثمودیانو او د ابراهیم علیه السلام قوم او د لوط علیه السلام

لُوْطٍ ۝ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ مُوْسٰى فَاَمْلَيْتُ

د لوط | او مدین والو | او درو غژن ګڼلے شوے وو | موسیٰ | پس ما مهلت ورکړو

قوم او مدین والو هم خپل خپل پیغمبران درو غژن ګڼلی وو. او موسیٰ هم درو غژن ګڼلے شوے وو

لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝ فَكَاَيِّنْ

کافرانو ته | ښایے | اونیول دوی | پس څنګه | وو | عذاب زما | پس ډیر

خو ما کافرانو ته لږ مهلت ورکړو او ښایے راونیول نو او کوره چه زما عذاب څنګه وو؟ او ډیر کلی

مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ

د کلو نه | هلاک کړی دی مونږ هغه | او حال دا دے چه هغه وو | ظلم کونکی | نو هغه | راپریوتے دی

دا سے وو چه کله هغوی ظلم کولو نو مونږ هلاک کړل نو د هغوی کورونه په چتو نو پر مخے پراته دی

عَلٰى عُرُوْشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّقَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿۴۵﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

په خپلو چتونو | او (ډیر) کوهیان | شار شوی | او ډیرے بنګلے | پخے (هم) | آیا لودوی نه دی کړ خیدلی

او (دغه شان) ډیر بیکاره کوهیان او ډیرے لوړے لوړے مانړۍ وران پراته دی۔ نو آیا دا خلق

فِى الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَآ اَوْ اٰذَانٌ

په زمکه کښ | چه شی | ډډوی دپاره | داسے زړونه | چه پوهیدلے | په هغے سره | یا (داسے) غوږونه

په زمکه کښ گرځیدلی نه دی چه د دوی زړونه داسے شوی وی چه په هغے ئے پوهه اغستلے یا ئے

يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ۚ فَاِنَّهَا لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَلٰكِنْ تَعْمَى

چه اوریدل ئے | په هغے سره | پس بیشکه | نه دی پرلدے | ستر گے (د دوی) | لیکن | پرانده دی

غوږونه داسے وے چه حق ئے پرے اوریدلی حقیقت دا دے چه د دوی ستر گے پرلدے نه دی بلکه هغه

الْقُلُوْبُ الَّتِىْ فِى الصُّدُوْرِ ﴿۴۶﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ

زړونه | هغه | چه سینو کښ دی | او دوی زر غواړی ستانه | عذاب

زړونه ئے پرانده دی چه په سینو کښ دی، او دوی تانه عذاب زر غواړی حالانکه الله تعالیٰ

وَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ ؕ وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ

او هیڅ کله به خلاف اونه کړی | الله | د وعدے خپلے نه | او بیشکه | یوه ورځ | ستا درب په نزد | په شان د زرو

د خپلے وعدے خلاف ورزی هیڅ کله نه کوی، او یقین او کړئ چه ستا درب د عذاب یوه ورځ ستاسو د شمار مطابق

سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿۴۷﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَمْلَيْتُ لَهَا

کالو ده | دهغه (کلونو) نه | چه تاسو ئے شمارئ | او ډیر | کلی (داسے) دی | چه ما مهلت ورکړے وو | هغوی ته

د زړو کالو سره برابره ده ، او ډیر کلی داسے وو چه ما ورله مهلت ورکړے وو

وَهِىَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذْتُهَا ۚ وَاِلَىَّ الْمَصِيْرُ ﴿۴۸﴾ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

او هغوی | ظالمان وو | بیا | ما اونیول هغوی | او خاص ماته | واپس راتلل دی | اووایه! | اے خلقو!

او هغوی ظلم کولو خو بیا مے راونیول او ټول به آخر ماته واپس راتلی، اے نبیؐ اووایه چه اے خلقو!

اِنَّمَآ اَنَا لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۴۹﴾ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

بیشکه | زه (خو) | ستاسو دپاره | یرونکی یم | ښکاره | پس هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی

زه خو ستاسو دپاره صفا صفا یرونکی یم، پس چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۵۰﴾ وَالَّذِيْنَ سَعَوْا

نیک | دهغوی دپاره دے | مغفرت | او رزق | عزتمند | او هغه خلق | چه کوشش ئے کړے دے

نو د هغوی دپاره مغفرت او عزتمند رزق مقرر دے او کوم خلق چه زمونږ د آیتونو د عاجزه کولو

فِىْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۵۱﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا

زمونږ په آیتونو کښ | عاجزه کونکی هغے لره | نو دغه خلق دی | دوزخ والا | اونه دے لیږلے مونږ

(کمزوری ښکاره کولو) دپاره منډے ترړے وهی (کوشش کوی) نو هم دغه خلق دوزخیان دی. او (اے نبیؐ!)

مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى

ستانه مخکښ | یو رسول | او نه یو نبی | مګر | کله به | چه بیان کولو هغه | نو وسوسے به اچولے

ستانه مخکښ چه کله هم مونږ یو رسول یا یو نبی لیږلے دے (نو هغه سره دا شوی دی) چه هغه به کله بیان کولو

الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ۚ فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ

شیطان | دهغه دبیان په وخت کښ | نو لرے به کړے | الله | هغه (وسوسے) چه اچولے | شیطان

نو شیطان به دهغه دبیان په وخت کښ د خلقو په زړونو کښ وسوسے اچولے خو بیا به الله تعالیٰ د شیطان هغه اچولی شوے وسوسے لرے کړی

ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۙ لِّيَجْعَلَ

بیا | مضبوط به کړل | الله | خپل آیتونه | او الله | ښه پوهه | ښه حکمت والا دی | دے دپاره چه الله اوکړي

په ذریعه ختمے کړے او خپل آیتونه به ځپله دلیلونو سره مضبوط کړل، او الله تعالیٰ ښه پوهه او لوے حکمت والا ذات دے

مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

هغه څه | چه اچوی ئے | شیطان | یو ازمیښت | دهغه خلقو دپاره | چه په زړونو کښ | مرض دے

او دا تسلط د وسوسو شیطان ته الله څکه ورکړے دے چه دا وسوسے د هغه خلقو دپاره یو ازمیښت جوړ کړی د چا په زړونو کښ

وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ۝

او (د هغه خلقو دپاره چه) سخت دی | زړونه دهغوی | او بیشکه | ظالمان | خامخا دی په ضد کښ | ډیر لرے د حق نه

چه مرض دلنفاق دے او زړونه ځپله کفر کښ سخت دی او یقیناً ظالمان په مخالفت کښ د حق نه ډیر لرے پراته دی

وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ اَنَّهُ الْحَقُّ

او دے دپاره چه پوهه شی | هغه خلق | چه ورکړے شوے دے هغوی ته | علم | چه بیشکه دا (خو) | حق دے

او الله تعالیٰ دا وسوسے څکه لرے کوی چه پوهه خلق په دے یقین وکړی چه دا کلام ستاد رب د طرف نه

مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاِنَّ

ستاد رب د طرف نه | نو ایمان به راوړی | په دے باندے | بیا به ښه نرم شی | هغے ته | زړونه دهغوی | او بیشکه

حق دے نو هغوی به پرے ایمان راوړی او زړونه به ځپله الله ته تابع (عاجزه) شی

اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

الله | خامخا هدایت کونکے دے | هغه خلقو ته | چه ایمان ځپله راوړے دے | په طرف د لارے | لیږے

او یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ ایمان والو ته د لیږے لارے توفیق ورکوی،

وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ

او همیشه به وی | هغه خلق | چه کفر ځپله کړے دے | په شک کښ | د دے نه | تر دے | چه راځی دوی ته

او کافران به همیشه د دے قرآن په باره کښ په شک کښ پراته وی تر دے چه یا خو پرے

السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ۝ اَلْمُلْكُ

قیامت | ناڅاپه | یا راځی دوی ته | عذاب | د ورځے | شنډے (بے خیرے) | بادشاهی به

قیامت سمدستی راځی یا پرے د بے خیرئ (بے برکته) ورځے عذاب راځی. په دغه ورځ به بادشاهی

يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

په دغه ورځ | یوا ځی د الله وی | هغه به فیصله کوی | د دوی په مینځ کښ | پس هغه خلق | چه ایمان یی راوړے دے

صرف د الله وی هغه به د دوی په مینځ کښ فیصله کوی نو چا چه ایمان راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او عملونه ئے کړی دی | نیک | (هغوی به) وی په جنتونو | د نعمت کښ | او هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے

او نیک عملونه ئے کړی دی هغوی به د نعمتونو په باغونو کښ وی. او چا چه کفر کړے دے

وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾ ع وَالَّذِيْنَ

او دروغژن ئے ګڼلی دی | آیتونه زمونږ | نو هم دغه | خلقو دپاره دے | عذاب | سپکوونکے | او هغه خلق

او زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼلی دی نو د هغوی دپاره به رسوا کولونکے عذاب وی. او چا چه

هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ

چه هجرت ئے کړے دے | د الله په لار کښ | بیا | وژلی شوی دی | یا مړه شوی دی | خامخا به ورکړی ورته

د الله په لار کښ هجرت کړے دے بیا شهید کړے شوی دی یا په خپل مرګ مړ شوی دی نو هغوی ته به الله تعالی

اللّٰهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۵۸﴾ لَيُدْخِلَنَّهُمْ

الله | رزق | ډیر ښائسته | او بیشکه | الله | خامخا دے | بهتر | رزق ورکولونکے | خامخا به هغه داخل کړی

خامخا بهترین رزق ورکوی او یقین او کړئ چه الله بهترین رزق ورکولونکے دے. هغه به خامخا دوی داسے ځای ته

مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۵۹﴾ ذٰلِكَ ۚ

داسے ځای (د داخلیدو) ته | چه دوی به خوښ وی هغه | او بیشکه | الله | خامخا ښه پوهه | صبر ناک دے | دا (یقینی دی)

داخل کړی چه دوی به پرے خوشحاله وی. او یقیناً الله ښه پوهه صبر ناک ذات دے. دا خبره خو مقرره ده. او دا هم واورئ

وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوْقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ

او څوک | چه بدله واخلی | په شان | د هغے | چه تکلیف ورکړے شوے وو | د ده ته | بیا | ظلم اوشو | په ده باندے

څوک چه د زیاتی دومره بدله واخلی څومره زیاتے چه په ده باندے شوے دے او بیا په ده باندے (نور) زیاتے اوشی

لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿۶۰﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ

(نو) خامخا مدد به کوی ده سره | الله | بیشکه | الله | خامخا معافی کولونکے | ډیر بخښونکے دے | دا ځکه | چه بیشکه

نو الله تعالی به خامخا د ده مدد کوی یقیناً الله تعالی معافی کولونکے بخښنه کولونکے دے. دا ځکه چه د الله تعالی دومره لوئی

اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَاَنَّ

الله | ننباسی | شپه | په ورځ کښ | او ننباسی | ورځ | په شپه کښ | او دا چه بیشکه

قدرت دے چه شپه په ورځ کښ او ورځ په شپه کښ داخلوی او دا ځکه چه

اللّٰهَ سَمِيۡعٌۢ بَصِيۡرٌ ﴿۶۱﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الۡحَقُّ وَاَنَّ

الله | هیشه اوریدونکے | هیشه لیدونکے دے | دا | ځکه چه | الله | هم هغه دے | حق (رښتیا) | اوبیشکه

الله تعالی هر څه اوری او هر څه وینی، دا مدد به ځکه کړی چه هم الله حق دے

مَا يَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِهٖ هُوَ الۡبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ

هغه څه | چه دوی ځے رابلی | د هغه نه سوا | هغه دی | باطل (دروغ) | اوبیشکه | الله | هم هغه دے

اودهغه نه سوا چه دا مشرکان څوک رابلی هغه باطل دی، او هم الله په مرتبه کښ اوچت دے

الۡعَلِيُّ الۡكَبِيۡرُ ﴿۶۲﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

دیر اوچت | دیر لوے | آیا ته نه کورے | چه بیشکه | الله | راورولی دی | د آسمان نه | اوبه

اوپه اعتبار د ذات سره لوے دے، آیا ته نه کورے چه الله تعالی د آسمان نه اوبه راورولی دی چه په هغے سره

فَتُصۡبِحُ الۡاَرۡضُ مُخۡضَرَّةً ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيۡفٌ خَبِيۡرٌ ﴿۶۳﴾ۚ لَهٗ

نو شی | زمکه | تکه شنه | بیشکه | الله | دیر باریک بین | دیر خبردار دے | خاص دهغه (اختیار کښ) دی

زمکه تکه شنه شی، حقیقت دا دے چه الله دیر مهربان او د هر څه نه خبردار دے،

مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ

هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی | او هغه څه | چه په زمکه کښ دی | او بیشکه | الله | خامخا هم هغه دے

آسمانونو او زمکه کښ چه څه دی دا ټول دهغه (په اختیار کښ) دی او یقین او کړئ چه الله بے حاجته

الۡغَنِىُّ الۡحَمِيۡدُ ﴿۶۴﴾ ع اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمۡ مَّا

بے حاجته | ستائیلے شوے | آیا ته نه کورے | چه بیشکه | الله | تابع کړی دی | ستاسو دپاره | هغه څه

او د صفتونو لائق دے، آیا ته دے ته نه کورے چه الله تعالی د زمکے ټول څیزونه ستاسو په کار

فِى الۡاَرۡضِ وَالۡفُلۡكَ تَجۡرِىۡ فِى الۡبَحۡرِ بِاَمۡرِهٖ ؕ وَيُمۡسِكُ

چه په زمکه کښ دی | او کشتۍ | چه روانے وی | په دریاب کښ | په حکم دهغه | اوهغه راتینګ کړے دے

(خدمت) کښ لګولی دی او کشتۍ هم دهغه په حکم په دریاب کښ روانے دی (چلیږی) او آسمان ځے بغیر دستونه داسے

السَّمَآءَ اَنۡ تَقَعَ عَلَى الۡاَرۡضِ اِلَّا بِاِذۡنِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

آسمان | ددے نه | چه راپریوځی | په زمکه | مګر | په حکم دهغه | بیشکه | الله

راتینګ کړے دے چه دهغه د اجازت له بغیر په زمکه راپریوتے نه دی، یقیناً الله تعالی په خلقو دیر مهربان (شفقت کونکی)

بِالنَّاسِ لَرَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۶۵﴾ وَهُوَ الَّذِىۡۤ اَحۡيَاكُمۡ ثُمَّ

په خلقو | دیر شفقت کونکے | رحم کونکے دے | او هغه | هغه ذات دے | چه تاسو ځوندی کړی یئ | بیا به

رحم کونکی دی، او الله هم هغه ذات دے چه تاسو ځوندی کړی یئ بیا به مو مړه کوي او بیا مو راځوندی کوی، یقیناً انسان بلکه چه دے

يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ أُمَّةٍ

سره کړی تاسو | بیا به | ژوندی کړی تاسو | بیشکه | انسان | خامخاپیر ناشکره دے | دهر یو | امت دپاره

دلیلونو ویر ناشکره دے چه شرک کوی، دهر یو امت د خلقو دپاره مونږ د عبادت یو طریقه مقرر کړے دے چه دوی په هغه طریقه عبادت

جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ

مقرر کړے دے مخصوص | یو طریقه د بندګۍ | چه دوی | په هغے چلیږی | پس جګړه دے نه کوی دوی تاسره | په دے معامله (ددین) کښ

کوی نو اے نبی! دا خلق دے تاسره په دے معامله کښ جګړه نه کوی (یعنی جګړه دے دوی دے تابندنه کړی د کار ددین خپل نه)

وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن

اورابله (خلق) | رب خپل ته | بیشکه ته ئے | خامخا په لاره | نیغه باندے | اوکه چرے (بیاهم) دوی

او ته خپل رب طرف ته خلق رابله ته خو یقیناً په نیغه لار (روان) ئے. او که دوی (بیا هم)

جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ اللَّهُ يَحْكُمُ

جګړه کوی تاسره | نو اووایه | (چه) الله | پښه پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | الله به | فیصله اوکړی

تاسره جګړه کوی نو ورته اووایه چه الله تعالیٰ ته ستاسو عملونه پښه معلوم دی. الله به د قیامت په ورځ

بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾

په مینځ ستاسو کښ | په ورځ | د قیامت | په هغه څه کښ | چه تاسو به | په هغے کښ | اختلاف کولو

ستاسو په مینځ کښ د هغه خبرو فیصله اوکړی چه تاسو به پکښ اختلاف کولو.

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ

آیا ته نه پوهیږے | چه بیشکه | الله | پوهیږی | په هغه څه | چه آسمانونو کښ دی | اوزمکه کښ دی

آیا ته نه پوهیږے چه د آسمانونو او د زمکے د ټولو څیزونو علم د الله سره دے

إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ

بیشکه | دا ټول | په کتاب کښ (محفوظ) دی | بیشکه | دا دی | الله ته | ډیر آسان | اودوی عبادت کوی

دا ټولے خبرے په یو کتاب کښ محفوظ دی. یقیناً دا ټول کارونه الله ته ډیر اسان دی. او دا خلق

مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ

د الله نه سوا | دهغه څه (چا) | چه نه دے نازل کړے الله | په هغے باندے | څه دلیل | او نشته

د الله نه سوا دهغه څیزونو عبادت کوی چه دهغے په خدائی الله نه څه دلیل رالیږلے دے اونه پرے

لَهُم بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ

دوی سره | په هغے باندے | څه علم (پوهه) | او نشته | ظالمانو دپاره | هیڅ قسم مدد کونکے | اوکله چه | لوستل شی

دَدوی سره څه علم شته، اودے ظالمانو به په آخرت کښ هیڅ څوک مددګار نه وی. او (دوی حالت خو دا دے چه) کله ورته

عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا

په دوی باندے | آیتونه زمونږ | واضحه | نو ته به پیژنے | په مخونو | دهغه خلقو کښ | چه کفر ئے کړے دے

زمونږ آیتونه پوره وضاحت سره بیانیږی نو نو ته به د کافرانو په مخونو د خفګان نخښے پیژنے

الْمُنْكَرَ ؕ يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ

خفگان | نزدے دی دوی | چه حمله اوکړی | په هغه خلقو | چه هغوی لولی | په دوی باندے | آیتونه زمونږ

دا سے بنکاری چه دوی به په هغه خلقو حمله اوکړی چه زمونږ آیتونه ورته بیانوی

قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ اَلنَّارُ ؕ وَعَدَهَا اللّٰهُ

اووایه | آیا خبر درکړم تاسو خبر کړم | په ډیر بد شے | د دے نه | (چه هغه) اوردے | وعده کړے ده هغے | الله

ته ورته اووایه چه آیا زه تاسو ته د دے نه زیات خراب شے اوښایم؟ چه هغه اور دے د هغے وعده الله تعالی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ ع

دهغه خلقو سره | چه کفر ئے کړے دے | اوډیر بد ځای دے | دورتلو هغه | اے خلقو! | بیانیږی

دکافرانو سره کړے ده او هغه ډیر ناکاره ځای دورتلو دے. اے خلقو! (اوس) یوناشنا مثال بیانیږی

مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

یو مثال | نو ښه غوږ کیږدئ | هغے ته | بیشکه | هغه خلق | چه رابلئ ئے تاسو | د الله نه سوا

نو ښه غوږ ورته کیږدئ حقیقت دا دے چه تاسو چه د الله تعالی نه سوا څوک رابلئ

لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ؕ وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ

هیڅرے نه شی پیدا کولے هغوی | یو مچ قدرے | اګر که | هغوی را یو ځای شی (ټول) | هغے ته | او که چرے | اوتختوی دغوی نه

هغوی یو مچ قدرے هم نه شی پیدا کولے اګر که ټول ورته را یو ځای (هم) شی او که چرے دغه مچ

الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ؕ ضَعُفَ الطَّالِبُ

مچ | څه شے | نو نه شی خلاصولے دوی دغه شے | د هغهٔ نه | (ډیر) بے وسه دے | طالب

دهغوی دَدربارنه څه شے اوتختوی نو هغه ترے نه هم نه شی خلاصولے. غوښتونکی (عابد) او دچا نه ئے چه غواړی

وَالْمَطْلُوْبُ ۝ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او مطلوب | قدر اونه کړو دوی | د الله | څنګه چه حق | دهغه د قدر وو | بیشکه | الله

(معبود) دواړه ډیر کمزوری دی، دے خلقو دالله تعالی هغسے قدر او عزت اونه کړو څنګه چه پکار وو (حالانکه) حقیقت دا دے

لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝ اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا

خامخا ډیر قوت والا | زورور دے | الله | غوره کوی | د فرشتو نه | پیغام رسونکی

چه الله تعالی ډیر طاقتور او ډیر غالب ذات دے. الله تعالی په فرشتو کښ هم پیغام رسوونکی غوره کوی

وَّمِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝ يَعْلَمُ مَا

او د انسانانو نه هم | بیشکه | الله | همیشه اوریدونکے | همیشه لیدونکے دے | پوهیږی هغه | په هغه څه

او په انسانانو کښ هم، یقیناً الله تعالی هر څه اوری هر څه وینی. هغه ته د مخلوق مخکنی او روستو

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝

چه ددوی وړاندے دی | اوپه هغه څه | چه ددوی وروسته دی | او خاص الله ته | واپس کولے شی | ټول کارونه

ټول حالات معلوم دی او ټول کارونه به الله تعالیٰ ته واپس کیږی۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا

اے مؤمنانو! | رکوع کوئ | او سجده کوئ | او عبادت کوئ | د رب خپل | او کوئ

اے مومنانو! رکوع کوئ او سجده کوئ او صرف د خپل رب عبادت کوئ او

الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ وَجَاهِدُوْا فِى اللّٰهِ حَقَّ

د خیر کارونه | دے دپاره چه تاسو | کامیاب شئ | او جهاد کوئ | د الله په لار کښ | (څومره چه) حق دے

دنیکۍ ټول کارونه کوئ چه کامیاب شئ. او د الله په لار کښ داسے جهاد وکړئ لکه څنګه چه ئے ډیره والی حق دے

جِهَادِهٖ ؕ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِى الدِّيْنِ

د هغه د جهاد | هغه | غوره کړی یئ تاسو | اونه ده ایخودے هغه | په تاسو | په دین کښ

هغه تاسو د خپل دین دپاره غوره کړی یئ او په تاسو ئے د دین په حقله هیڅ قسم

مِنْ حَرَجٍ ؕ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ؕ هُوَ سَمّٰىكُمُ

څه قسم تنګی | (روان شئ په) دین | د خپل پلار | ابراهیمؑ | هغه | تومر ایخودے لے تاسو له

تنګی نه ده راوستلے. د خپل پلار ابراهیمؑ دین مضبوط اونیسئ. هغه د دے نه مخکښ هم ستاسو نوم

الْمُسْلِمِيْنَ ۙ۬ مِنْ قَبْلُ وَفِىْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ

مسلمانان | مخکښ د دے نه | اوپه دے (کتاب) کښ (هم) | دے دپاره چه شی | پیغمبر

مسلمان ایښودلے دے. اوپه دے قرآن کښ هم (ستاسو دا نوم دے) دا دے دپاره چه پیغمبر

شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ ۚ

گواه | په تاسو باندے | او شئ تاسو | گواهان | په خلقو باندے

په تاسو گواه جوړ شی او تاسو په نورو خلقو گواهان جوړ شئ.

فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ؕ

پس پابندی کوئ | د مانځه | او ورکوئ | زکات | او کلک شئ | د الله په دین

نو بس د مانځه پابندی کوئ. او زکات ورکوئ او د الله دین مضبوط راونیسئ

هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ۝

هغه | مالک ستاسو دے | نو ډیر ښه | کارساز دے هغه | او ډیر ښه | مددګار دے هغه

هم هغه ستاسو مالک (کارساز) دے. او کوئ هغه څومره ښه کارساز دے او څومره ښه مددګار دے.

آیاتها [۱۱۸]	سورة المؤمنون مكّيّة	رکوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۙ﴿۲﴾

یقیناً | کامیاب شو | مومنان | هغه کسان | چه هغوی | په خپل مانځه کښې | عاجزی کونکی دی

یقیناً هغه مومنان کامیاب شول چه په خپلو مونځونو کښې عاجزی کوی

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۙ﴿۳﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ

او هغه کسان | چه هغوی | د فضول کارونو (خبرو) نه | مخ اړونکی دی | او هغه کسان | چه هغوی | (د) زکات

او د فضول خبرو او عبث کارونو نه مخ اړوی (ځان ساتی) او د زکات په حکم باندے عمل کوی

فٰعِلُوْنَ ۙ﴿۴﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۙ﴿۵﴾ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ

ورکونکی دی | او هغه خلق | چه هغوی | د خپلو شرمګاهونو | حفاظت کونکی دی | مګر | په خپلو بیبیانو باندے

(زکات ورکوی)۔ او د خپلو بښځو او ویښزو نه سوا نور د هر چا نه

اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۚ﴿۶﴾ فَمَنِ

یا په هغه ویښزو باندے | چه مالکان شوی دی | بنی لاسونه ددوی | پس بیشکه دوی | نه دی ملامته (کړی شوی) | پس چا چه

د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی البته د خپلو بښځو او ویښزو باره کښې دوی ملامته نه دی خو څوک چه

ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۚ﴿۷﴾ وَالَّذِيْنَ

اولټوی | سوا | د دے نه | نو هم دښه خلق | دوی | د حد نه اوړیدونکی دی | او هغه خلق

د دے نه سوا بله طریقه اختیار کړی نو دغه خلق د حد نه تیریدونکی دی، او دغه مومنان چه

هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۙ﴿۸﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ

چه هغوی | د امانتونو خپلو | او د لوظونو خپلو | خیال ساتونکی دی | او هغه خلق | چه هغوی

د خپلو دینی او دنیوی ذمه وارو او د خپلو وعدو خیال ساتی، او د خپلو مونځونو همیشه پوره

عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۘ﴿۹﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۙ﴿۱۰﴾ الَّذِيْنَ

د مونځونو خپلو | حفاظت کوی | هم دغه خلق | دوی | وارثان (حقدار) دی | هغه خلق

حفاظت کوی ، هم دا خلق حقداران دی چه په میراث کښې به

يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا

چه وارثان به شی | د فردوس | دوی به | په هغے کښې | همیشه وی | او یقیناً | پیدا کړے دے مونږ

جنة الفردوس حاصل کړی. (چه) په هغے کښې به همیشه اوسیږی، او یقیناً مونږ انسان

الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ۝ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً

انسان | د چانړ کړی شوے | خښے نه | پیدا | چې کړو مونږ هغه لږه | پوه نطفه

د نرے چانړ کړے شوے خښے نه پیدا کړو پیدا مو هغه په یو مضبوط

فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۝ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا

په خاے د قراري | مضبوط کښ | پیدا | مونږ جوړه کړه | (دغه) نطفه | بیکړه دوني | پیدا مونږ جوړه کړه

او محفوظ خاى کښ د نطفے په شکل او ساکلو پیدا مو هغے نطفے نه دوني د تو لے شکل ور کړو پیدا مو دهغه وني

الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ

دبکړے دوني نه | پو لے دغو ښے | پیدا مونږ جوړ کړه | دپو لے دغو ښے نه | هډوکی | پیدا مونږ واغوستله | هډوکو ته

د تو لے نه دغو ښے پو پو لے جوړ کړو پیدا مو دغو ښے هغه پو لے هډوکی کړل پیدا مو هډوکو ته

لَحْمًا ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ؕ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ

غوښه | پیدا | پیدا کړو مونږ دغه لږه | په شکل | بل کښ | پس هغه برکتونه لرے | الله | چه ډیر ښائسته

غوښه واچوله پیدا مو هغے نه یو نوی شکل ور کړو (یعنی روح اچول او ترمرګه پورے تول احوال) پس هغه الله ډیر

الْخٰلِقِيْنَ ۝ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ۝ ثُمَّ اِنَّكُمْ

د شکل جوړونکو نه دے | پیدا | بیشکه تاسو به | د دے نه وروسته | خامخا مړه کیږئ | بیا | بیشکه تاسو به

پر کتونو والا ذات دے چه د تو لو نه خکسته شکل جوړونکے دے. پیا دے هر څه نه پس یقیناً تاسو به مرئ بیا به د قیامت

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ۝ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۖ

په ورځ | د قیامت | راپاځولی شئ | او یقیناً | مونږ پیدا کړی دی | ستاسو د پاسه | اوه | الړے (آسمانونه)

په ورځ دوباره راپاځولی شئ او یقیناً مونږ ستاسو د پاسه اوه آسمانونه جوړ کړی دی (چه دملائکو د تلو راتلو الړے دی)

وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ۝ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

اونه یو مونږ | د مخلوق نه | بے خبره | اوراوړلی دی مونږ | د آسمان نه | اوبه

او مونږ (د خپل) مخلوق نه غافله نه یو. او مونږ د آسمان نه په یوه اندازه اوبه راوړلے دی

بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِي الْاَرْضِ ۖ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍ بِهٖ

په اندازه | نو ایسارے کړی دی مونږ هغه | په زمکه کښ | او بیشکه مونږ | په یوتللو | د هغے

بیا مو هغه په زمکه کښ دچینو او دریابونو په شکل ایسارے کړلے. او یقین او کړئ چه مونږ د هغے په ختمولو

لَقٰدِرُوْنَ ۝ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ ۖ

خامخا قادر تلونکي یو | پس مونږ پیدا کړی دی | ستاسو د پاره | په هغے سره | باغونه | د قجورو | او د انګورو نه

پوره قادر یو. بیا مونږ د هغے په ذریعه ستاسو د پاره د قجورو او د انګورو باغونه پیدا کړل

لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۝ وَشَجَرَةً

ستاسو د پاره دی | په هغے کښ | میوے | ډیرے | او بعضے د هغے نه | تاسو خورئ | او اونه

چه د هغے نه تاسو ډیرے میوے حاصلوئ او د هم هغے نه تاسو خورئ او هغه اونه (د خونه) هم

تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ۝

چه راوځی | د غر | ښائسته نه | چه راتوکوی | تیل | او ترکاری | د خوړونکو دپاره

مونږ په خائسته غر کښ پیدا کړه چه د تیلو دپاره او د خوړونکو د ترکاریٔ دپاره بطور سالن استعمالیږی

وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيْكُمْ مِّمَّا

او بیشکه | ستاسو دپاره (شته) | په څاروو کښ | خامخا عبرت | مونږ څکوو په تاسو باندے | د هغه څه نه

او حقیقت دادے چه ستاسو دپاره په څاروو کښ (هم) د عبرت ډیرے ځنیے دی. د هغے د خیټو نه مونږ په تاسو

فِىْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۝

چه د هغے په خیټو کښ دی | او ستاسو دپاره | په هغے کښ دی | فائدے | ډیرے | او بعضے د هغے نه | تاسو خورئ

باندے پ څکوو او په هغے کښ ستاسو دپاره نورے هم ډیرے فائدے دی او د هغے نه تاسو غذا هم حاصلوئ

وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا

او په هغے باندے | او په کشتۍ باندے | تاسو سورولے شئ | او یقیناً | مونږ لیږلے وو | نوح علیه السلام

او په دغے څاروو او په کشتو تاسو سورلی هم کوئ۔ او یقیناً مونږ نوح علیه السلام

اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ

قوم خپل ته | پس اوویل هغه | اے زما قومه! | عبادت کوئ | د الله | نشته دے | ستاسو (دپاره)

خپل قوم ته لیږلے وو نو ورته ئے اوویل چه اے زما قومه یوا ځے د الله بندگی کوئ ځکه چه

مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۖ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۝ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ

هیڅ څوک د عبادت لائق | د هغه نه سوا | آیا نو تاسو نه پریږئ | پس اوویل | مشرانو | د هغه کسانو

د هغه نه سوا بل هیڅ څوک ستاسو معبود نشته. آیا تاسو نه ویریږئ. نو د دغه د قوم کافرانو سردارانو

كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يُرِيْدُ اَنْ

چه کفر ئے کړے وو | د قوم د دغه نه | نه دے دے | مګر | یو بنیادم دے | ستاسو په شان | غواړی | چه

(مشرانو) اوویل چه دا خو هم ستاسو غوندے یو انسان دے په تاسو باندے

يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ۭ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ۚ

فضیلت حاصل کړی | په تاسو باندے | او که چرے | غوښتلے | الله | نو خامخا به ئے لیږلے وے | فرشتے

خان اوچتول غواړی او که الله غوښتلے نو فرشته به ئے راليږلے وے.

مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِىْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ۝ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌ

مونږ نه دی اوریدلی | دا خبرے | په خپل پلار نیکه | مخکښو کښ | نه دے دے | مګر | یو سړے دے

دا خبرے خو مونږ د خپلو پخوانو مشرانو نه نه دی اوریدلی. (او) دا خو یو لیونے سړے دے

بِهٖ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ حَتّٰى حِيْنٍ ۝ قَالَ رَبِّ

چه په ده باندے | لیونتوب دے | نو انتظار کوئ | د ده | تر څه وخته پورے | اوویل (نوح) | اے زما ربه

نو څه وخته پورے ورته انتظار او کړئ (مر به هغی یا روغ به هغی). نوح په دعا کښ اوویل اے زما ربه

انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ۝ فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ

مدد او کړه زما | په دے موجه | چه دوی زه دروغژن او کنړلم | پس مونږ وی او کړه | ده ته | چه جوړه کړه | کشتئ

دے خلقو زه دروغژن او کنړلم نو ته زما مدد او کړه. نو مونږ ورته وحی اولیږله چه زمونږ په نگرانئ کښ

بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ فَاسْلُكْ

زمونږ د ستر کو په اندے | او زمونږ په وحی | پس کله | چه راشی | حکم زمونږ | اوجوش اووهی | تنور | نو داخل کړه

او زمونږ په حکم (وحی) یوه کشتئ جوړه کړه. بیا چه کله زمونږ حکم راشی او تنور جوش اووهی

فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ

په دے کښ | دهر قسم (حنا ور) نه | جوړه | دوه | او اهل خپل هم | سوا | دهغه چا نه | چه مخکښ شوے ده

نو دهر قسمه حنا ور و نه پکښ جوړه جوړه (یعنی نر او ماده) سواره کړه او خپل اهل وعیال هم سوا دهغه چا نه چه

عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۚ وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ

په هغه باندے | وینا (فیصله) | د دوی نه | او خبرے مه کوه زما سره | دهغه خلقو په باره کښ | چه ظلم ئے کړے دے

په هغه باندے د عذاب فیصله د مخکښ نه شوے ده. او د دے ظالمانو باره کښ ما سره خبره (سفارش) مه کوه

اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ۝ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ

بیشکه دوی | غرقولے شی | بیا کله چه | برابر شے | ته | او هغه څوک | چه تا سره دی

(څکه چه) دوی به خامخا دوبیړی. بیا چه کله ته او ستا ملگری په کشتئ کښ سم برابر برابر کینئ

عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ نَجّٰىنَا مِنَ الْقَوْمِ

په کشتئ کښ | نو اووایه | (چه) حمدونه دی | الله لره | هغه ذات | چه بچ ئے کړو مونږ | د قوم

نو اووایه چه دهغه الله حمدونه (شکرونه) دی چه مونږ ئے د ظالمانو خلقونه بچ اوساتلو.

الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَيْرُ

ظالمانو نه | او وایه | اے زما ربه | ته کوز کړه ما | په ځای د کوزیدو | برکتی کښ | اوته ئے | د ټولو نه بنه

او دا اووایه چه اے زما ربه! ما د برکت او د سلامتیا په ځائے کښ کوز کړه اوته د ټولو نه غوره کوزوونکے ئے.

الْمُنْزِلِيْنَ ۝ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ۝

کوزوونکے | بیشکه | په دے کښ | خامخا درے نښے دی | او بیشکه | مونږ یو | خامخا امتحان کونکی

یقیناً دے واقعه کښ ډیر دلیلونه دی (د کافر مانو د پاره) او پکښ عبرت او مسلمانانو لره پکښ حکمت دا بتلا حے دے) او یقیناً مونږ ازمیښت کوونکی وو.

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝ فَاَرْسَلْنَا فِيْهِمْ

بیا | مونږ پیدا کړل | روستو د هغوی نه | قومونه | نور | پس را ولیږلو مونږ | په هغوی کښ

بیا مونږ د دوی نه وروستو نور نسلونه (عادیان، ثمودیان) پیدا کړل او هغوی ته موهم د هغوی نه یو پیغمبر

رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ

یو پیغمبر | د هغوی نه | چه عبادت کوئ | د الله | نشته درے | ستاسو (د پاره) | هیڅ څوک د عبادت لائق | سوا د هغه نه

(په دے پیغام سره) اولیږلو چه دیو الله عبادت او کړئ (څکه چه) د هغه نه سوا بل څوک ستاسو حقدار د بندگئ نشته

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

آیا نو تاسو نه پریږدئ | او اوویل | سردارانو | د قوم د هغهٔ نه | هغه کسانو | چه کفر ئے کړے وو

آیا نو تاسو خان نه ساتئ د شرک نه؟ او د هغه د قوم هغه مشرانو (سردارانو) چه کفر ئے کړے وو

وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ

او دروغژن ئے ګڼلے وو | ملاقات | د آخرت | او عیش ورکړے وو مونږ دوی ته | په ژوند | دُنیوی کښ

او د آخرت ملاقات ئے دروغ ګڼلے وو او مونږ ورله د دنیا په ژوند کښے مزے ورکړے

مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ

(چه) نه دے دے | مګر | یو بُنیادم | پشان ستاسو | خوراک کوئ دے | د هغے څه نه | چه تاسو خوراک کوئ | د هغے نه

(هغوی) اوویل چه دا خو ستاسو غوندے، یو انسان دے تاسو چه څه خوړئ دے هم هغه خوړی

وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ

او څکی | د هغه څه نه | چه تاسو ئے څکئ | او که چرے | تاسو خبره اومنله | دیو بنیادم | ستاسو په شان

او تاسو چه څه څکئ دے هم هغه څکی، او که تاسو دځان غوندے د یو سړی خبره اومنله

اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿٣٤﴾ اَيَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ

(نو) بیشکه تاسو به | د غه وخت | خامخا پورته تاوانیان ښئ | آیا دے موعده کوی تاسو سره | چه بیشکه تاسو | کله چه | مړه شئ | او شئ تاسو

نو دیر تاوان کښ به پریوځئ. آیا دے تاسو سره د دے خبرے وعدے کوی چه کله تاسو مړه شئ او

تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا

خاورے | او هډوکی | (نو) بیشکه تاسو به | راویستل شئ | دیر لرے دی | دیر لرے دی | هغه څه

خاورے او هډوکی شئ نو تاسو به بیا (د قبرونو نه) راویستل شئ، د کومے خبرے چه دے تاسو سره وعده کوی

تُوْعَدُوْنَ ﴿٣٦﴾ اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا

چه تاسو سره ئے وعده کوله شی | نه دے ژوند | مګر | ژوند زمونږ | دنیوی | یعنے زمونږ نه مړه کیږی | او یعنے زمونږ نه پیدا کیږی

هغه خو د عقل نه ډیره لرے (خبره) ده، زمونږ خو د دے دنیا د ژوند نه سوا بل ژوند نشته څوک را کښ مړی او څوک را کښ

وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿٣٧﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلُ ِۨافْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

او نه یُو مونږ | بیا راپاڅولی شوی | نه دے دے | مګر | یو (داسے) سړے | چه جوړوی | په الله باندے

پیدا کیږی او مونږ به بیا د مرګ نه پس هیڅ چرے دوباره نه شو ژوندی کولے داخو یو داسے سړے دے چه په الله باندے

كَذِبًا وَّمَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ

دروغ | او نه یُو مونږ | د ده لره | منونکی (یقین کونکی) | اوویل (نبی) | اے زما ربه | مدد او کړه زما

ئے دروغ جوړ کړی دی او مونږ په ده ایمان نه راوړو۔ پیغمبر اوویل اے زما ربه! د دے خلقو

بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ﴿٤٠﴾

په دے وجه چه | دوی ما دروغژن ګڼړی | اوویل (الله) | د لږ وخت نه پس | خامخا به دوی شی | پښیمانه

چه ځکه زه دروغژن ګڼړلے یم په هغے سره تر مدد و کړه. الله (ورته) اوویل لږ وخت پس به دوی پښیمانه شی.

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً ۚ

پس اونیول دوی | هیبتناک چغے | په حقه سره | پس مونږ کړل دوی | (تور شوی) بوس

بس دهغه رڼتنے وعدے مطابق دوی یوے سختے چغے راونیول نو مونږ دوی (دبوسو پشان) ریزه ریزه کړل او

فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ

پس هلاکت دے وی | د قوم | ظالمانو دپاره | بیا | پیدا کړل مونږ | وروسته د دوی نه

په دے ظالمانو خلقو دے لعنت وی۔ بیا مونږ د دوی نه وروستو

قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ۝ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ۝

پیړۍ | نورے | نه مخکښ کیږی | هیڅ یو امت | دخپلے نیټے نه | او نهٔ روسته کیږی

نور نسلونه پیدا کړل، هیڅ یو امت د خپل مقرر وخت نه نه مخکښ کیدے شی او نه وروستو کیدے شی،

ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا

بیا | اولیږل مونږ | پیغمبران ډیر | پرله پسے | هر کله به | چه راغے | یو امت ته | پیغمبر خپل

بیا مونږ پرله پسے خپل ډیر پیغمبران راولیږل، هر کله به چه یو قوم ته خپل پیغمبر راغلو

كَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ ۚ

نو دروغژن یې اوګڼلو دوی هغه | پس ورپسے یې کړل مونږ | یو څو دوی نه | په یو څو پسے | اوبه کړ حوالے مونږ دوی ته | قصے (د عبرت)

نو هغوی یې دروغژن اوګڼلو نو مونږ یې هغه قوم نه یو بل پسے هلاک کړل او دهغوی نه یې مود عبرت قصے جوړے کړے

فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ

پس هلاکت دے | د (هاسے) قوم دپاره | چه ایمان نه راوړی | بیا | ولیږل مونږ | موسیٰ | او ورور د هغهٔ

پس دا سے خلق د هلاک شی چه ایمان نه راوړی. بیا مونږ موسیٰ او د هغه ورور هارون

هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ

هارون | په خپلو نښو (معجزو) سره | او په دلیل | روښانه سره | فرعون | او سردارانو د هغهٔ ته

د خپلو نښو او د ښکاره دلیل سره فرعون او د هغه سردارانو ته اولیږل

فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا عَالِيْنَ ۝ فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ

نو لوئی او کړه هغوی | او وو هغوی | قوم | لوئی کونکی (زورور) | پس اوویل هغوی | آیا مونږ ایمان راوړو

نو هغوی (هم) تکبر او کړو او هغوی یو سرکشه قوم وو. نو هغوی اوویل چه آیا مونږ

لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ ۝ فَكَذَّبُوْهُمَا

په (هغه) دوو سړو | چه زمونږ پشان دی | او قوم ددے دواړو | زمونږ | غلامان دی | پس دوی دروغژن او ګڼلو هغه دواړه

دځان غوندے په یو دوو سړو ایمان راوړو حالانکه ددوی قوم خو زمونږ غلامی (خدمت) کوی، دغه شان هغوی هم

فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ

پس شول دوی | د هلاک شوو نه | او یقیناً | ورکړے وو مونږ | موسیٰ ته | کتاب | د دے دپاره چه دوی

دا دواړه پیغمبران دروغژن اوګڼلو نو دوی هم هلاک کړی شو او یقیناً مونږ موسیٰ ته کتاب د دے دپاره ورکړے وو

يَهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗٓ اٰيَةً وَّاٰوَيْنٰهُمَآ

هدایت پیدا مومی | اومونږ جوړ کړے وو | څوئے د مریم | اومور دهغهٔ | یوه نخښه | اوپناه ځای ورکړے مومونږ دے دواړو ته
چه هغه خلق هدایت حاصل کړی. اومونږ د مریم ؑ څوی اود هغه مور (د خپل قدرت) نخښه جوړه کړے وه او دواړو ته مو

اِلٰى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِيْنٍ ﴿۵۰﴾ يٰٓاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا ع

زمکے اوچتے ته | چه د آرام ځائے وو | او د روانو اوبو | اے پیغمبرانو! | خورئ
په دا سے اوچت ځائے کښ پناه ورکړے وه چه د سکون اود صفا اوبو ځائے وو. (اوو ئیلے وو مونږ) ای پیغمبرانو!

مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ۭ اِنِّىْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۵۱﴾

د پاکیزه څیزونو نه | او عمل کوئ | نیک | بیشکه زه | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | ښه پوهه یم
پاکیزه څیزونه خورئ او نیک عمل وکړئ. یقیناً زه ستاسو د عملونو نه پوره خبر یم.

وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ﴿۵۲﴾

اوبیشکه | دا | دین ستاسو دے | دین | یو | اوزه | ستاسو رب یم | نو زما نه اویریږئ
اوستاسو دا ډله (جماعت) په حقیقت کښ هم یوه ډله ده اوزهٔ ستاسو رب یم نو هم زما نه اویریږئ.

فَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۭ كُلُّ حِزْبٍۢ بِمَا لَدَيْهِمْ

پس تو ئے کړو دوی | دین خپل | په مینځ خپل کښ | تو ئے تو ئے | هره یوه | ډله | په هغه څه | چه دوی سره دی
بیا دے (وروستانو) خلقو په خپل دین کښ په خپل مینځ کښ جدا جدا ډلے جوړے کړے او هره ډله هم په خپله طریقه او دین

فَرِحُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَذَرْهُمْ فِىْ غَمْرَتِهِمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۵۴﴾ اَيَحْسَبُوْنَ

خوشحاله دی | پس پریږده دوی | په خپل غفلت (گمراهۍ) کښ | تر یو وخته پورے | آیا دوی گمان کوی
باندے خوشحاله ده. نو اے نبی! دوی یو مقرر وخت د عذاب پورے په خپل غفلت کښ پرا ته پریږده. آیا دوی په دے گمان کښ

اَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهٖ مِنْ مَّالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۵۵﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ

چه بیشکه هغه څه | چه مونږ یا تولے کوو دوی لره | په هغے سره | د مال | او ځامنونه | (لو گیني دا) مونږ تلدی کوو | د دوی چاره
پرا ته دی چه مونږ دوی ته کوم مال او اولاد ورکوو نو دا گنے مونږ دوی ته د دوی د نیکو زر زر فائدے ورکوو.

فِى الْخَيْرٰتِ ۭ بَلْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ

په نیکو کښ | بلکه | دوی نه پوهیږی | بیشکه | هغه کسان | چه هغوی | د وے د یرے
(نه) بلکه دوی (په حقیقت) نه پوهیږی، حقیقت دا دے چه کوم خلق د خپل رب د رعب

رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۸﴾

د رب خپل نه | اندیشه لری (ناڅاپه ئے دی) | او هغه کسان | چه هغوی | په آیتونو | د رب خپل | ایمان راوړی
(هیبت) نه یریږی او کوم خلق چه د خپل رب په آیتونو ایمان راوړی

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَا

او هغه کسان | چه هغوی | د خپل رب سره | شرک نه کوی | او هغه کسان | چه ورکوی | (هغه) څه
او کوم خلق چه د خپل رب سره شرک نه کوی او کوم خلق چه څه قسم عمل هم کوی نو د هغے د کولو

اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ۝

چه ورکوی ئے | اوزړونه ددوی | یریدونکی وی | چه بیشکه دوی | خپل رب ته | واپس تلونکی دی

په وخت کښ دهغوی زړونه ددے خبرے نه یَر یږی چه دوی به خپل رب ته واپس کیږی۔

اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ۝

دغه خلق | ټُندی کوی | په نیکو کښ | او دوی | هغے ته | وړاندے کیدونکی دی

هم دا هغه خلق دی چه دنیکو په حاصلولو کښ کوشش کوی او هم دا خلق په نیکو کښ مخکښ کیدونکی دی۔

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ

اومونږ تکلیف نه ورکوو | یو نفس ته | مګر | دهغه دَوس برابر | اوزمونږ سره | یو کتاب دے | چه خبرے به کوی

اومونږ هیڅ یو کس ته هم دهغه دوس نه زیاته ذمه واری نه ورکوو اوزمونږ سره یو کتاب دے (عملنامه) چه

بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝ بَلْ قُلُوْبُهُمْ فِيْ غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا

په حق وئیلو سره | اوپه دوی به | ظلم نه شی کولے | بلکه | زړونه ددوی | په غفلت کښ دی | ددے نه

دټولو حال به سَم سَم بیانوی اوپه دوی به ظلم نه کیږی. لیکن ددے خلقو زړونه ددے عملنامے نه په غفلت کښ

وَلَهُمْ اَعْمَالٌ مِّنْ دُوْنِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عٰمِلُوْنَ ۝ حَتّٰٓى

اوددوی دپاره | (نور) عملونه دی | سوا ددے نه | چه دوی | هغے لره | (همیشه) کونکی دی | تر ددے

پراته دی او ددے نه علاوه ددوی نور (خراب) عملونه هم دی چه دوی ئے کوی۔

اِذَآ اَخَذْنَا مُتْرَفِيْهِمْ بِالْعَذَابِ اِذَا هُمْ يَجْـَٔرُوْنَ ۝

چه کله | راونیسو مونږ | بدمسته خلق ددوی | په عذاب سره | نودغه وخت به | دوی | فریاد کوی

تر ددے چه کله مونږ ددوی مالدار (اسوده حاله) خلق په عذاب کښ راګیر کړو نودغه وخت به ددوی دسپوپشان چغے اوبلسی

لَا تَجْـَٔرُوا الْيَوْمَ ۭ اِنَّكُمْ مِّنَّا لَا تُنْصَرُوْنَ ۝ قَدْ كَانَتْ

فریاد مه کوئ | نن | بیشکه تاسو سره به | زمونږ د طرف نه | مدد نه شی کولے | یقیناً | وو

ورته به ووبلے شی چه نن ورځ چغے مه وهئ. یقیناً تاسو ته (اوس) زمونږ د طرف نه مدد نه شی ملاویږی. یقیناً

اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُوْنَ ۝

آیتونه زما | چه لوستل به شول | په تاسو | پس وئ تاسو | په خپلو پوندو باندے | چه اوریدلو

تاسو ته به زما آیتونه بیانیدل (لوستل کیدل) نو تاسو به ترے مخ په شا تختیدلئ۔

مُسْتَكْبِرِيْنَ ۖ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ۝ اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ

(لوئ کونکی (وئ) | ددے قرآن نه | قصے کونکی وئ | تاسو به پریخودلو د قرآن | آیا تاسو سوچ نه کوی دوی | په ددے خبره کښ

اولوئ به موکوله د قرآن نه اودملاسخوتن په وخت کښ به موقصے کولے او قرآن اورسول موپریخودلو. آیا ددے خلقو په ددے

اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَاْتِ اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا

یا راغلی دی دوی ته | هغه شے | چه نه وو راغلی | د دوی پلرونیکه | پخوانو ته | یا دوی اونه پیژندلو

کلام کښ غور نه دے کړے یا دوی ته داسے یو څیز راغلے دے چه د دوی پخوانو مشرانو ته نه وو راغلی یا دوی خپل پیغمبر

رَسُوْلَهُمْ فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ۝ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ۝

پیغمبر خپل | نو دوی | هغه لره | ناآشنا ګڼلو نکی دی | یا دوی وائی | چې په عقل ندے | لیونتوب دے

نه دے پیژندلے نو حُکه ترے نه انکار کوی ، یا دوی وائی چه دا لیونے دے ،

بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ۝ وَلَوِ

بلکه | راغلے دے هغه دوی ته | په حق سره | او اکثر د دوی | حق لره | بد ګڼونکی دی | که چرے

(نه) بلکه اصل خبره دا ده چه دے پیغمبر (خو) دوی ته حق راوړے دے او په دوی کښ اکثر خلق حق نه خوښوی

اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ

روان شی | حق | په خواهشاتو د دوی سے | نو خامخا خراب به شی | آسمانونه | او زمکه | او هغه څوک

او که چرے حق د دوی خواهشاتو (شرکاو کفر) پسے روان شی نو آسمانونه اوزمکه او څوک چه په دے کښ اوسیږی

فِيْهِنَّ ؕ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ

چې په دے کښ دی | بلکه | راوړے دے مونږ دوی ته | یاداشت (نصیحت) د دوی | پس دوی | د خپل یاداشت (نصیحت) نه

هغه ټول به تباه شی. (نه) بلکه مونږ دوی ته د دوی نصیحت راوړے دے خو دوی د خپل نصیحت نه مخ اړوی،

مُّعْرِضُوْنَ ۝ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَّهُوَ

مخ اړونکی دی | یا ته غواړے د دوی نه | څه مزدوری | نو مزدوری | د رب ستا | ډیره ښه ده | او هغه دے

یا (د دوی د انکار وجه دا ده چه) ته د دوی نه څه معاوضه غواړے (نو دا خبره هم غلطه ده) څکه چه ستا د رب عطا او بخشش ډیر ښه دے

خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝ وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

د ټولو نه ښه | رزق ورکونکے | او بیشکه ته | خامخا راباندے دوی | لارے | نیغے ته

او هغه د ټولو نه ښه رزق ورکونکے دے ، او مقصد د دعوت ستاسو هم غلط نه دے څکه چه ته د خلق سمے لارے ته راباندے ،

وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ۝

او بیشکه | هغه کسان | چه ایمان نه لری | په آخرت | د (دغے) لارے نه | خامخا ډډه کوی

بلکه حقیقت دا دے چه کوم خلق په آخرت ایمان نه لری نو دغوی دا کفر بالآخرت سبب دے دسمے لارے نه مخ اړولو

وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا

او که چرے | مونږ رحم او کړو په دوی باندے | او لرے کړو مونږ | هغه | چه دے په دوی باندے | څه تکلیف | نو خامخا ټینګ نو ځی په دوی

او که چرے مونږ په دوی باندے رحم وکړو او کوم مصیبت (د قحط) کښ چه ګیر دی هغه ترے نه لرے کړو

فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ

په سرکشۍ خپله کښ | (چه) سرګردانه به وی | او یقیناً | او نیول مونږ دوی | په عذاب

نو بیا به هم دوی په خپله سرکشۍ (کمراهۍ) کښ سرګردانه بروهلی کرځی. او یقیناً مونږ (یو ځل) دوی په عذاب

فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ۝ حَتّٰۤى اِذَا فَتَحْ

نو تابعدار نه شو دوی | رب خپل ته | او نه دوی زاری او کړه | تر دے | چه کله | پرانیزو

او نیول خو بیا هم دوی نه خپل رب ته تیټ شول او نه ئے (ورته) عاجزی او کړه، تر دے چه کله

عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ۝۷۷

په دوی باندے | دروازه | د عذاب سخت والا | لودغه وخت به | دوی | په هغے کښ | نا اُمیده شی

په دوی باندے دیو سخت ترین عذاب دروازه (دجهنم) پرانزو نو بیا به دوی په هغے کښ نا امیده شی

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ

او الله | هم هغه ذات دے | چه پیدا کړی ئے دی | تاسو دپاره | غوږونه | او سترګے | او زړونه

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه تاسو له ئے غوږونه ، سترګے او زړونه درکړی دی

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝۷۸ وَهُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ

ډیر لږ | تاسو شکر کوئ | او الله هغه ذات دے | چه خواره کړی ئے یئ تاسو | په زمکه کښ

(خو تاسو ډیر لږ شکر کوئ (چه اقرار دے نعمت کوئ خو سر به شرک نه) او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه تاسو ئے په زمکه کښ خواره کړی یئ

وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝۷۹ وَهُوَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ وَلَهُ

او خاص هغه ته به | تاسو ورجمع کیږئ | او هم الله هغه ذات دے | چه ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی | او هم دهغه په اختیار کښ دی

او هم هغه ته به تاسو ورجمع کیږئ ، او هم الله هغه ذات دے چه ژوندون کوی او مرګ راولی او هم دهغه په اختیار کښ دی

اخْتِلَافُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝۸۰ بَلْ قَالُوْا مِثْلَ مَا

بدلیدل | د شپے | او د ورځے | آیا نو تاسو عقل نه لرئ | بلکه | دوی وائ | په شان دهغے

انقلابات د شپے او د ورځے (په تلو را تلو سره او په تیارۀ او رڼا کیدو سره) . آیا نو تاسو بیا هم د عقل نه کار نه اخلئ؟

قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ۝۸۱ قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا

چه ولی وو | پخوانو خلقو | دوی وائ | آیا کله چه | مړه شو مونږ | او شو مونږ | خاورے | او هډوکی

بلکه (خبره داده چه) دوی هم د پخوانو پشان خبرے کوی . (او) وائ چه کله مونږ مړه شو او خاورے او هډوکی شو

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۝۸۲ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا

آیا مونږ به | خامخا بیا راپاڅولی شو | یقیناً | وعده کړے شوے وه | مونږ سره | او زمونږ پلرانیکه سره | ددے

نو آیا مونږ به بیا ژوندی راپاڅولی شو ، یقیناً دا خو هم هغه وعده ده چه مونږ سره هم کیږی او زمونږ

مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝۸۳ قُلْ لِّمَنِ

مخکښ ددے نه | نه دی دا | مګر | قصے | د پخوانو | اووایه | (دچا په اختیار کښ) ده

مشرانو سره هم شوے ده دا خو صرف د پخوانو خلقو قصے دی ، اے نبی لږ دوی ته ووایه چه

الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝۸۴ سَيَقُوْلُوْنَ

(لوئی | اوخوک چه دی | په دے کښ | که چرے | تاسو | پوهیږئ | زر به اووائ دوی

اولوئی ک چه پکښ اوسیږی دا ټول د چا په اختیار کښ دی ، که پوهیږئ (نو جواب را کړئ) دوی به ضرور وائ

اَمْ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝۸۵ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ

یا راختیار کښ دی | اووایه | آیا نو تاسو نصیحت نه اخلئ | اووایه | خوک دے | مالک | د آسمانونو | اووو

کلام الله په اختیار کښ دی . ته ورته اووایه چه بیا تاسو نصیحت ولے نه قبلوئ؟ ورته ووایه چه د اووو آسمانونو

وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٨٧﴾

او مالک | د عرش | لوئے | زربه اووائی دوی | چه الله (دے) | اووایه | آیا نو تاسو نه یریږئ

لوی عظیم الشان عرش مالک څوک دے؟ دوی به خامخا وائی چه دا هر څه الله دی. نو ته اووایه چه بیا تاسو ولے نه یریږئ (چه شرک کوئ)؟

قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيْرُ

اووایه | څوک دے | چه د هغه په لاس کښ | حکومت دے | د هر یو | څیز | او هغه | پناه ورکوی

ته ورته اووایه! چه د هر یو څیز مکمل اختیار (بادشاهی) د چا په لاس کښ دی؟ او هم هغه پناه ورکوی او د هغه په

وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ

او پناه نه شی ورکیدے | د هغه خلاف | که چرے | تاسو | پوهیږئ | زربه اووائی دوی | (چه) الله (دے)

مقابله کښ څوک پناه نه شی ورکولے، که تاسو پوهیږئ (نو جواب را کړئ) دوی به خامخا وائی چه الله دے

قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ﴿٨٩﴾ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَاِنَّهُمْ

اووایه | پس د کوم خای نه | په تاسو جادو کولے شی | بلکه | مونږ راوړے دے دوی ته | حق | او بیشکه دوی

ته ورته اووایه چه بیا د کوم خوا له ستاسو دماغ خراب شوی دی چه دا الله دا صفتونه منئ او بیا هم شرک کوئ. (نه) بلکه اصل خبره

لَكٰذِبُوْنَ ﴿٩٠﴾ مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ

خامخا دروغژن دی | نه دی نیولے | الله | هیڅ څوئ | او نشته دے | د هغه سره

دا ده چه مونږ دوی ته حق (خبره) را رسولے ده او دا خلق یقیناً دروغژن دی. نه خو الله څوی نیولے دے او نه ورسره بل څوک

مِنْ اِلٰهٍ ؕ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۢ بِمَا خَلَقَ

بل هیڅ څوک اختیار مند برابر | (کښې) د غه وخت | به بوتلے وے | هر | اختیار مند | هغه څه | چه پیدا کړی ئے وو

برابر اختیار مند شته، گنے نو په دغه وخت کښ به هر خدائے خپل پیدا کړے مخلوق څانله بیل کړے وو

وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿٩١﴾

او خامخا ورور شوی به وو | بعضے د دوی نه | په بعضو باندے | پاک دے | الله | د هغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی

د پاره د دے چه مستقل تصرف پکښ او کړی نو غالب شوی به وو په یو بل باندے. الله د هغه عیبونو نه پاک دے چه دوی ئے بیانوی

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٩٢﴾ ع قُلْ

پوهه دے | په پټو | او په ښکارو | پس لوړ او چت دے هغه | د هغه څه نه | چه دوی ئے ورسره شریکوی | اووایه

او الله په پټو او ښکاره خبرو باندے بنه پوهه دے پس (غرض دا چه) الله په مرتبه کښ لوړ او چت دے د دوی د شریکانو نه

رَبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ

اے زما ربه | که چرے | ته ښائے ما ته | هغه څه | چه دوی سره ئے وعده کولے شی | اے زما ربه | نو ما مه شاملوه

اے نبی دعا وکړه (اووایه) چه ای زما ربه! د کوم عذاب چه دوی سره وعده شوے ده که ته هغه ما ته ښائے

فِى الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَاِنَّا عَلٰٓى اَنْ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ

په قوم | ظالمانو کښ | او بیشکه مونږ | په دے | چه او ښایو ته ته | هغه څه | چه مونږ ئے وعده کوو دوی سره

نو اے زما ربه ما د ظالمانو خلقو سره په عذاب کښ او په سبب د عذاب کښ مه شاملوه. او یقین او کړه چه مونږ د کوم څیز نه چه دوی ډروو

لَقٰدِرُوْنَ ﴿۹۵﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ السَّیِّئَةَ ؕ نَحْنُ اَعْلَمُ

خامخا قادر یو | دفع کوه | په هغه طریقه | چه هغه | ډیره خائسته ده | بدئ لره | مونږ | پوهیږو

مونږ ټاکه دهغے دښو دلو پورته قدرت لرو. اے نبی ته په وخت د دعوت ورکولو کښ د بدئ خبرے په جواب کښ خائسته طریقه اختیار وه

بِمَا یَصِفُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ

په هغه څه | چه دوی ئے بیانوی | اووایه | اے زما ربه | زه پناه غواړم | په تاسره | د وسوسو

(یعنی صبر کوه عفوه کوه او د هغے نه غواړه) دوی چه څه بیانوی په هغے مونږ ډیر ښه پوهیږو. اے نبی ته اووایه چه اے زما ربه زه د شیطانانو د وسوسو نه

الشَّیٰطِیْنِ ﴿۹۷﴾ وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ یَّحْضُرُوْنِ ﴿۹۸﴾ حَتّٰۤی

د شیطانانو نه | او زه پناه غواړم | په تاسره | اے زما ربه | (ددے نه) چه | دوی حاضر شی ماته | تر دے

ستا پناه غواړم. اواے زما ربه زه ددے خبرے نه هم ستا پناه غواړم چه هغوی ماته راشی (دوی به مخالفت کوی) تر دے

اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿۹۹﴾ لَعَلِّیْۤ

چه کله | راشی | یو کس ته دوی نه | مرګ | (نو) وائی به | اے زما ربه | واپس اولیږه ما | کیدے شی چه زه

چه کله په دوی کښ یو کس له مرګ راشی نو اوبه وائی چه اے زما ربه ما واپس ولیږه دے دپاره (کیدے شی)

اَعْمَلُ صَالِحًا فِیْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ

عمل او کړم | نیک | په بدله دهغه څه کښ | چه پریخودلی دی ما | هیڅ کله نه | بیشکه داخو | یوه خبره ده | چه دے

چه کوم عملونه ما پریښودلے دی دهغے په بدله کښ (څه) نیک عمل او کړم. هرګز نه. داخو یوه خبره ده چه دے ئے

قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰی یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ فَاِذَا

ویونکے دهغے دے | اوده د دوی مخے ته | ایوه پرده د برزخ | تر (هغے) ورځے پورے | چه دوی به بیا راپاڅولی شی | پس کله چه

په خوله کوی. اوده دوی مخے ته به یوه پرده ترهغه ورځے پورے وی چه کله به دوی (د قبرونو نه) راپاڅیږی بیا چه کله

نُفِخَ فِی الصُّوْرِ فَلَاۤ اَنْسَابَ بَیْنَهُمْ یَوْمَئِذٍ

پوکے اووهل شی | په شپیلۍ کښ | نو نه به وی نسبونه (رشتے) | د دوی په مینځ کښ | په دغه ورځ

دویمه شپیلۍ کښ پوکی اووهل شی نو په دغه ورځ به نه د دوی په مینځ کښ رشتے باقی پاتے شی

وَّلَا یَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

او نه به دوی تپوس کوله کوی چا سره | پس هغه څوک | چه درنے شی | تله ے د هغه | نو هم دغه خلق به | کامیاب وی

او نه به دوی یو بل نه د رحم تپوس کوله شی. نو د چا د عملونو تله چه درنه شی هم دغه خلق به کامیاب شی

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ

او هغه څوک | چه سپکے شی | تلے د هغه | نو هم دا | خلق دی | چه تلوان کښ ئے واچول | خپلانونه خپل

او د چا د عملونو تله چه سپکه شی نو هم دا هغه خلق دی چه پخپله ئے د خپل خپلانو نو تاوان کړے دے

فِیْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِیْهَا

په دوزخ کښ به | همیشه وی | سوزوی به | مخونه د دوی لره | اور | او دوی به | په هغے کښ

(او) همیشه به دوزخ کښ اوسیږی. اور به د دوی مخونه سوزوی او د دوی مخونه به هلته وران شوی وی.

كَالِحُونَ ۝ اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا

بدشکله وی | آیا نه وو | آیتونه زما | چه لوستل به شو | په تاسو باندے | نوی تاسو | چه هم هغه به مو

(او ورته به اوویلی شی چه) آیا تاسو ته به زما ایتونه نه بیانیدل نو تاسو به هغه دروغژن ګڼرل؟

تُكَذِّبُوْنَ ۝ قَالُوْا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا

دروغژن ګڼرل | دوی به اووائی | اے زمونږ ربه | غالبه شوے وه | په مونږ باندے | بدبختی زمونږ | او وو مونږ

دوی به اووائی اے زمونږ ربه! مونږ باندے زمونږ بدبختی غالبه شوے وه او یقیناً مونږ

قَوْمًا ضَآلِّيْنَ ۝ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا فَاِنَّا

یو قوم | ګمراه | اے ربه زمونږ | او باسه مونږ | حد مخه | پس که چرے | او پس شو مونږ | نو بیشکه مونږ به

ګمراه خلق وو. اے زمونږ ربه! ته مونږ د دے دوزخ نه او باسه که بیا هم مونږ دوباره کفر او شرک او کړو نو یقیناً مونږ به

ظٰلِمُوْنَ ۝ قَالَ اخْسَـُٔوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ۝ اِنَّهٗ كَانَ

ظالمان یُو | اوبه وائی (الله) | کوږے شئ | په دے کښ | او خبرے مه کوئ زما سره | بیشکه | وه

دیر ظالمان یو. الله به ورته اووائی په دے دوزخ کښ ذلیله اوسیږئ او ما سره خبرے مه کوئ. یقیناً

فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا

یوه ډله | د بندګانو زما نه | چه ویل ئے | اے ربه زمونږ | ایمان راوړے دے مونږ | نو بخښنه اوکړه | مونږ ته

زما په بندګانو کښ یوے ډلے به ویل چه اے زمونږ ربه! مونږ ایمان راوړے دے نو ته راته معافی وکړه

وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ۝ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا

اورحم اوکړه په مونږ | او ته ئے | (د ټولونه) غوره | رحم کونکے | نو تاسو به کولے په دوی پورے | ټوقے

اورحم راباندے اوکړه او ته د ټولونه ښه رحم کونکے یے. نو تاسو به دوی پورے دیر زیاتے ټوقے کولے

حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ۝ اِنِّيْ

تر دے | چه خوی هیر کړو تاسو نه | یاد زما | او وئ تاسو | چه په دوی پورے به مو | خندا کوله | بیشکه ما

تر دے چه د دوی هغه مسخرو تاسو نه زما یاد هیر کړو او تاسو به په دوی پورے خندل. د هغوی

جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْٓا اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝

بدله ورکړه دوی ته | نن | په دے وجه | چه هغوی صبر کړے وو | (دا) چه بیشکه هم دوی | کامیاب دی

د صبر په وجه ما هغوی ته نن دا بدله ورکړه چه هم هغوی په خپل مقصد کښ کامیاب شول.

قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ ۝ قَالُوْا

اوبه وائی (الله) | څومره | وختیر کړے مدے تاسو | په زمکه کښ | په شمار | د کلونو؟ | اوبه وائی دوی

الله به دوی ته اووائی چه تاسو په زمکه کښ د کلونو په حساب څومره موده پاتے شوی یئ؟ دوی به اووائی

لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ ۝ قٰلَ

چه مونږ وختیر کړے مدے | یوه ورځ | یا څه حصه د ورځ | پس تپوس وکړه | د شمار کونکو نه | اوبه وائی (الله)

چه یوه ورځ یا د ورځے څه لږه حصه به پاتے شوی یو. د شمار کوونکو نه تپوس اوکړه. الله به ورته اووائی که چرے تاسو پوهه لرلے

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ اَفَحَسِبْتُمْ

وخت نه مے پیر کړے تاسو | مګر | دیر لږ | که تاسو پوهیدلئ | آیا نو تاسو خیال کوئ

نو تاسو (خو) دیر لږ وخت پاتے شوی یے. آیا ستاسو دا خیال دے چه

اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ۝

چه بیشکه | مونږ پیدا کړی یئ تاسو | بیکاره (فضول) | او داچه بیشکه تاسو به | مونږ ته | واپس کولی نه شئ

کنے مونږ تاسو هسے عبث (بے مقصده) پیدا کړی یئ او تاسو به کنے مونږ ته واپس نه راتلئ؟

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ

پس دیر اوچت دے | الله | چه بادشاه دے | حقیقی | نشته | لائق د عبادت | سوا | دهغه نه | مالک دے | د عرش

غرض دیر اوچت شان دے دهغه الله چه حقیقی بادشاه دے. دهغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

الْكَرِيْمِ ۝ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ

عزتمند | او هغه څوک | چه رابلی | د الله سره | مددګار | بل | چه نشته هیڅ دلیل | دهغه سره

هغه د عزتمند عرش مالک دے. او څوک چه د الله تعالی سره بل مددګار ته رامدد شه وائی چه په هغے ور سره

بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ۝

په دے باندے | نو بیشکه | دهغه حساب | د خپل رب سره دے | بیشکه | نه شی کامیابیدے | کافران

هیڅ دلیل نشته نو یقیناً دهغه حساب به د خپل رب سره کیږی یقین او کړه چه کافران نه شی کامیابیدے.

وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ۝ ع

او ووایه | اے زما ربه | بخښنه او کړه | او رحم او کړه | او ته ئے | (د ټولو نه) ښه | رحم کونکے

لوا اے نبی! دا دعا غواړه چه اے زما ربه معاف او کړه او رحم او کړه ته په ما باندے اوزما په سلګړو باندے) او ته د ټولو نه ښه رحم کونکے ئے

آیاتها [۶۴]	سورة النّور مدنيّة	رکوعاتها [۹]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه دیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۢ

دا یو سورت دے | مونږ اتارلے دے دا | او مونږ فرض کړے دے دا | او مونږ اتارلی دی | په دے کښ

دا یو لوے شان والا سورت (دے) چه مونږ اتارلے دے او مونږ په دے باندے عمل کول فرض کړی دی او مونږ

بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا

واضحه | دے دپاره چه تاسو | نصیحت واخلئ | زناکاره ښځه | او زناکار سړے | پس اووهئ

اتارلی دی په دے کښ واضحه احکام دے دپاره چه تاسو ترینه نصیحت واخلئ زناکاره ښځه او زناکار سړے اووهئ

كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا

هر | یو | ددے دواړو نه | سل | کوړے | اواودے نه نیسی تاسو | پرے دواړو باندے

هر یو ددے دواړو نه سل کوړے. اوجائز نه دی تاسو لره چه نرمی اور عایت او کړے ددے دواړو سره

رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ

رحم (ترس) | په دین د الله کښ | که چرے تاسو | ایمان لرئ | په الله | او په ورځ

د الله تعالی د حکم په نافذ کولو کښ که چرے تاسو ایمان لرئ په الله او په ورځ د آخرت

الْآخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝ الزَّانِي

روستنۍ | اوحاضر دی شی | سزا ددے دواړو ته | یوه ډله | د مومنانو نه | زناکار سړے

اود مومنانو یوه ډله ددے دعبرت د پاره ددے دواړو سزا ته حاضر دے شی۔ زناکار سړے

لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً ۖ وَالزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَا

نکاح نه کوی | مګر | دزناکارے ښځے | یامشرکے ښځے سره | او (دغه شان) زناکار ښځه (هم) | نکاح نه کوی دغسے سړه

نکاح نه کوی (بناء په عادت اکثری خپل باندے) مګر دزناکارے ښځے یامشرکے سره. اوزناکار ښځه (بناء په عادت اکثری خپل)

إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ۝ وَالَّذِينَ

مګر زناکار سړے | یامشرک سړے | اوحرام کړے شوے ددے | داکار | په مومنانو باندے | او هغه خلق

نکاح نه کوی دغسے سړه مګر زناکار سړے یامشرک. اوبند کړے شوے دے دا عادت نیول په مؤمنانو باندے

يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ

چه بدنامی | پاک لمنے زنانه | بیا | رانه ول دوی | څلور | ګواهان | نو ووهئ دوی

اوکوم خلق چه په پاکدامنو زنانو (اونارینو) باندے تهمت لګوی اوبیا ور سره څلور (نارینه) ګواهان نه وی نو هغوی

ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ۚ وَأُولَٰئِكَ

اتیا | کوړے (درے) | او مه قبلوئ | د دوی | ګواهی | هیڅ چرے (همیشه) | هم دغه خلق

اتیا کوړے (دُرے) اووهئ او ګواهی ئے هیڅ کله مه قبلوئ او دا خلق

هُمُ الْفَاسِقُونَ ۝ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا

نافرمانه دی | مګر | هغه خلق | چه توبه اوباسی | وروسته د دے نه | اواصلاح اوکړی دعمل

هم دوی فاسقان دی. البته چاچه ددے کار نه وروسته توبه اوویسته اوخپل عمل ئے سم کړو (نواثر دفسق به ترینه

فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ

پس بیشکه | الله | ډیر بخښونکے | زیات مهربان دے | او هغه خلق | چه تهمت لګوی | په خپلو بښځو باندے

ختم شی ځکه چه) یقیناً الله تعالی ډیر بخښونکے مهربان دے. اوکوم خلق چه په خپلو بښځو تهمت یا الزام د زنا لګوی

وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ

او نه وی | د دوی سره | ګواهان | سوا | د خپلو ځانونو نه | پس ګواهی | د یوکس د دوی

او بیا ور سره د خپل ځان نه علاوه (نور) ګواهان نه وی نو د دا سے سړی د ګواهئ طریقه داده

اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ

څلور | ګواهۍ (قسمه) دی | په الله | چه بیشکه دے | خامخا درشتینوله دے | اوپنځمه ګواهی دا (ده) | چه بیشکه

چه څلور ځله به په الله تعالی قسم خوری چه دا یقیناً رښتنے دے اوپه پنځم ځل به

لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا

لعنت | د الله دے وی | په ده باندے | که چرے | وی دے | د دروغژنو نه | اولرے کوی | د دے ښځے نه

دا اووائی چه که چرے دے دروغژن وی نوپه ده دے د الله لعنت وی، او د ښځے نه د زنا

الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ

عذاب | دا چه | ګواهی ورکړی هغه | څلور | ګواهۍ (قسمونه) | په الله | چه بیشکه هغه دے

دسزا دلرے کولو طریقه داده چه هغه به څلور ځلے په الله تعالی قسم خوری چه یقیناً دا (خاوند)

لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ

خامخا د دروغژنو نه | اوپنځمه (ګواهی) دا (ده) | چه غضب دے وی | د الله | په ده باندے | که چرے وی هغه

دروغژن دے اوپه پنځم ځل به دا اووائی که چرے دا (خاوند) رښتنے وی نوپه دے (ښځه) دے د الله تعالی غضب نازل شی.

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ

د رښتینو نه | اوکه چرے نه وے | فضل | د الله | په تاسو | اورحمت دهغهٔ | اوداچه بیشکه

اوکه چرے د الله تعالی فضل (بندول) مستاسو دفحش عملی نه) اورحمت (بندول) مستاسو دفحش قولی نه په تاسو نه وے او الله تعالی توبه قبلونکے

ع ۲ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ

الله | دیر توبه قبلونکے | حکمت والا دے | بیشکه | هغه خلق | چه راوړے ئے دی | دروغ (بهتان) | یوه مضبوطه ډله ده

لوحکمت والا ذات نه وے (نو تاسو به ضرور مبتلاء شوی وی په فحشاء کښ) یقین اوکړئ چه کومو خلقو بدنامه ملکو لے ده په عائشه باندے)

مِّنْكُمْ ۭ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ۭ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۭ

ستاسو نه | مه ګڼرئ تاسو دا | بده | د ځان دپاره | بلکه | دا | دیر غوره ده | ستاسو دپاره

هغوی هم ستاسو یوه ډله ده. تاسو دا خبره د ځان دپاره بده (شر) مه ګڼرئ بلکه دا (خو) ستاسو دپاره دیره فائده منده ده

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْاِثْمِ ۚ وَالَّذِيْ

دپاره د هریو کس | د دوی نه | سزا دهغه څه ده | چه هغه کړی وی | د ګناه نه | او هغه کس

په دوی کښ چه هر چا څومره حصه اغستلے ده هغه ته به هغه هومره د ګناه سزا ملاویږی. او چا

تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ لَوْلَآ

چه زمه واری ئے اغستلے ده | دلوے بوج ئے دے | د دوی نه | دهغه دپاره | عذاب دے | دیر لوئے | اوله نه وه

چه پکښ دټولو نه زیاته حصه اخستے ده (عبدالله بن ابی بن سلول) هغه ته به سزا هم دیره غټه ملاویږی کله چه

اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ

کله چه | واوریدله تاسو دا خبره | چه ګمان ئے وکړے | مؤمنانو سړو | او مؤمنانو ښځو | په خپلو خلقو

تاسو دا خبره واوریدله نو مؤمنانو سړو او ښځو په خپلو ملګرو باندے ښه ګمان ولے اونه کړو؟

خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا هٰذَآ اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ۝ لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ

دنیکئ | اووئیلی ئے وے (چه) دا | دروغ دی | بهکاره | ولے رانهٔ وستل دوی | په دے باندے | څلور

او دا به ئے وئیلی وو چه دا خو بهکاره دروغ دی. تهمت لګونکو په دے خبره څلور ګواهان ولے

شُهَدَآءَ ۚ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ

ګواهان | پس هر کله | چه دوی رانه وستل | ګواهان | نو هم دغه خلق | په نزد | دالله

پیش نه کړل؟ اوس چه هغوی ګواهان نه دی پیش کړی نو د الله تعالی په نزد هم

هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ۝ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

دوی دروغژن دی | اوکه چرے نه وے | فضل | د الله | په تاسو باندے | اورحمت دهغهٔ

دوی دروغژن دی. اوکه په تاسو باندے په دنیا او آخرت کښ د الله تعالی فضل او رحمت

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ

په دنیا | اوپه آخرت کښ | نوخامخا به رسیدلے وے تاسو ته | دهغه کار په وجه | چه تاسو رنتوتی وئ | په هغے کښ

(چه نازلول دخائسته آدابودی) نه وے نو په کومو خبرو کښ چه تاسو لګیاوئ دهغے په وجه به درباندے

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ

عذاب | ډیر لوئے | کله چه | واغستله تاسو دا خبره | په خپلو ژبو | او تاسو وویل

ډیر لوئے عذاب راغلے وے. کله چه دا خبره تاسو په خپلو ژبو ډیو بل نه نقل کوله او په خپلو خولو مو

بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ

په خپلو خولو | هغه څه | چه نه وو | تاسو سره | په هغے باندے | څه علم | اوګڼرله تاسو دا خبره | معمولی

هغه خبرے کولے چه دهغے باره کښ تاسو سره هیڅ علم نه وو او تاسو دا خبره معمولی ګڼرله

وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ۝ وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ

اوهغه وه | په نزد | د الله | ډیره لویه (خبره) | اوولے نه وه | کله چه | واوریدلو تاسو دا تهمت | چه وئیلی (وئ) تاسو

حالانکه د الله تعالی په نزد ډیره غټه (خرابه) خبره وه. کله چه تاسو دا خبره واوریدله نو تاسو دا ولے اونه وئیل

مَّا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ

نه دی مناسب | مونږلره | چه خوله اوخوزوو | په دے خبره | پاک ئے ته | دا خو | بهتان دے

چه مونږ سره دا سے خبرے کول نه ښائی. اے الله ته ډیر پاک ئے. دا خو ډیر لوئے بهتان دے

عَظِيْمٌ ۝ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا اِنْ كُنْتُمْ

ډیر لوئے | نصیحت کوی تاسو ته | الله | چه بیا ونه کړئ | دده پشان کار | هیڅ کله | که چرے | ئے تاسو

که تاسو واقعی مومنان یئ نو الله تعالی درته په دے ذکر شوؤ آدابو سره نصیحت کوی چه بیا دا سے کار ونه کړئ،

مُّؤْمِنِيْنَ ۝ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

مومنان | او بیانوی | الله | تاسو ته | آیتونه (احکام) | او الله | ښه پوهه | اوئ حکمت والا دے

او الله تعالی تاسو ته خپل حکمونه (آیتونه) صفا صفا بیانوی او الله تعالی ډیر پوهه او حکمت والا ذات دے.

اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ فِى الَّذِيْنَ

بیشکه | هغه کسان | چه خوښوی | دا چه خوره شی | بے حیائی | په هغه خلقو کښ

یاد ساتئ کوم خلق چه دا غواړی چه په مسلمانانو کښ بے حیائی خوره شی

اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۭ

چه ایمان لړلی دے | هغوی دپاره | عذاب دے | دردناک | په دنیا | اوپه آخرت کښ

د هغوی دپاره په دنیا او اخرت کښ دیر دردناک عذاب مقرر دے،

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

او الله | پوهیږی | او تاسو | نه پوهیږئ | اوکه چرے نه وے | فضل | د الله | په تاسو باندے

اوالله تعالیٰ په هر څه پوهیږی اوتاسونه پوهیږئ. اوکه دالله تعالیٰ فضل اورحمت په تاسو باندے نه وے

وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع

اورحمت دهغهٔ | او دا چه | الله | دیر شفقت کونکے | زیات رحم کونکے دے | اے مؤمنانو

(په بندولودِاشاعت دَفاحشے سره) اوالله تعالیٰ نرمی کونکے مهربان نه وے (نوتاسونه شوئ بچ کیدے) اے مومنانو!

لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ

مه ځئ تاسو | په قدمونو | د شیطان (پسے) | اوهغه څوک | چه روان شی | په قدمونو | د شیطان پسے

شیطان پسے مه ځئ او څوک چه شیطان پسے روان شی

فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَاۗءِ وَالْمُنْكَرِ ۭ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ

نوبیشکه هغه (خو) | نه ښودنه کوی | د بے حیایئ | اودناروا (بدکار) | اوکه چرے نه وے | فضل | د الله

نو یقیناً هغه ورته د بے حیائی او د بدکارو حکم کوی . او که د الله تعالیٰ فضل

عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ

په تاسو | اورحمت دهغهٔ | نوپاک شوے به نهٔ وے | ستاسو نه | یو کس (هم) | هیڅ کله | لیکن

اورحمت په تاسو باندے نه وے (په نازلولو دے سورت سره) نوپه تاسو کښ به یو کس هم پاک شوے نه وے لیکن

اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝ وَلَا يَاْتَلِ

الله | پاکوی | چاڼه | چه اوغواړی | او الله | ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے | اوقسم دے نه خوری

الله تعالیٰ چه چاڼه اوغواړی نو پاکوی یئ. او الله تعالیٰ د هر څه اوریدونکے په هر څه باندے پوهه دے،

اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِي الْقُرْبٰى

فضیلت والا (خلق) | ستاسو نه | اوفراخئ والا (خلق) | دا چه ورکړه به نهٔ کوی | خپلوانو ته

(اے مومنانو) اوپه تاسو کښ دے اهل فضیلت اومالداره خلق دا سے قسمونه نه خوری چه خپلو خپلوانو،

وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۠ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ۭ

او مسکینانو ته | اومهاجرینو ته | د الله په لار کښ | اومعافی دے اوکړی | اومخ دے واړوی

مسکینانو او د الله تعالیٰ په لاره کښ هجرت کونکو ته څه به نه ورکوی، بلکه دمعافئ اودرګزر نه دے کار واخلی،

اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

آیا تاسو نه غواړئ | چه وبخښنه او کړی | الله | تاسو ته | او الله | ډیر وبخښونکے | زیات رحم کونکے دے

ولے تاسو دا نه غواړئ چه الله تعالیٰ درته معافی او کړی؟ او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر رحم کونکے دے

اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

بیشکه | هغه کسان | چه تهمت لګوی | په پاک لمنو | بے خبره | مومنانو ښځو باندے

یقیناً کوم خلق چه په پاکدامنو بے خبرو مومنانو زنانو باندے تهمتونه لګوی هغوی باندے

لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝

لعنت کړے شوے دے په هغوی باندے | په دنیا | او په آخرت کښ | او دهغوی دپاره | عذاب دے | ډیر لوئے

په دنیا او آخرت کښ لعنت کړے شوے دے او دهغوی دپاره ډیر لوئے عذاب مقرر دے،

يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ

په هغه ورځ | چه گواهی به کوی | په دوی باندے | ژبے خپلے | او لاسونه خپل | او خپے خپلے

په هغه ورځ چه د دوی ژبے، لاسونه او خپے به د دوی خلاف د هغه عملونو گواهی ورکوی

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ

دهغه څه | چه دوی به کول | په دغه ورځ | پوره پوره به ورکړی دوی ته | الله | بدله د دوی | په انصاف

چه دوی به کول. په دغه ورځ به الله تعالیٰ دوی ته د دوی پوره پوره بدله ورکړی

وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ۝ اَلْخَبِيْثٰتُ

اوپوهه به شی دوی | چه بیشکه | الله | هم هغه دے | حق | ښکاره کونکے | پلیتے ښځے

او دوی ته به پته اولګی چه یقیناً هم الله حق دے او حقه خبره ښکاره کونکے دے پلیتے ښځے

لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ

دپلیتو سړو دپاره دی | او پلیت سړی | دپلیتو ښځو دپاره دی | او پاکے ښځے | دپاکو سړو دپاره دی

دپلیتو سړه لائق دی او پلیت سړی دپلیتو ښځو سړه لائق دی او پاکے ښځے دپاکو سړو سړه لائق دی

وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ؕ

او پاک سړی | دپاکو ښځو دپاره دی | دغه خلق | پاک کړے شوی دی | دهغه څه نه | چه دوی وائی

اوپاک سړی دپاکو ښځو سړه لائق دی دا (پاک سړی او ښځے) دهغه خبرو نه بلکل پاک دی چه دا خلق وړپسے وائی

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا ع ٣

دهغوی دپاره | بخښنه ده | او رزق دے | عزتمند | اے | مومنانو | مه داخلیږئ

دوی (پاکو خلقو) دپاره بخښنه او عزتمند رزق مقرر دے. اے مومنانو! دخپلو کورونو (دخپلے ښځے داوسیدو ځائے) نه سوا

بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ؕ

کورونو ته | سیوا | دخپلو کورونو نه | تر دے | چه اجازت اوغواړئ تاسو | او سلام واچوئ | په اوسیدونکو دهغے باندے

نورو کورونو ته تر هغه وخته پورے مه ورننوئ تر څو چه تاسو اجازت نه وی اغستے او دهغے په اوسیدونکو سلام نه وی اچولے

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا

دا | ډیره غوره ده | ستاسو دپاره | دے دپاره چه تاسو | نصیحت واخلئ | پس که چرے | بیا نه مونډلو تاسو

دا ستاسو دپاره ډیره غوره ده امید دے چه تاسو دا یاد اوساتئ او که په دغه کورونو کښ تاسو څوک اُونه مونډلو

فِيْهَآ اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ

په هغے کښ | هیڅ څوک | نومه ورننوځئ هغے ته | تر دے | چه اجازت درکړے شی | تاسو ته | او که چرے | اوویلی شی

نو بیا هم تر هغے پورے مه ورننوځئ تر څو چه درته اجازت اُونه شی. او که تاسو ته وویلی شی

لَكُمُ ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

تاسو ته | چه واپس لاړ شئ | نو واپس شئ | دا | زیاته پاکیزه ده | ستاسو دپاره | او الله | په هغه څه | چه تاسو کوئ

چه واپس لاړ شئ. نو واپس لاړ شئ هم دا خبره ستاسو دپاره د پاکئ طریقه ده او تاسو چه څه کوئ الله تعالی ته

عَلِيْمٌ ۝ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا

ښه پوهه دے | نشته | په تاسو باندے | هیڅ گناه | چه ورننوځئ | (داسے) کورونو ته

د هغے پوره علم (حاصل) دے. په تاسو باندے په دے خبره کښ هیڅ گناه نشته چه تاسو داسے کورونو ته (بے اذنه) ورننوځئ

غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ

چه دا اوسیدونه دی | چه په هغے کښ | سامان (فائده) وی | ستاسو | او الله | پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ښکاره کوئ

چه څوک پکښ نه اوسیږی او ستاسو پکښ سامان پروت وی او تاسو چه څه ښکاره کوئ

وَمَا تَكْتُمُوْنَ ۝ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ

او په هغه څه | چه تاسو ئے پټوئ | او وایه | مومنانو سړو ته | چه ټیټے دے ساتی | ستر گے خپلے

او څه پټ کوئ الله تعالی ته هغه معلوم دی. اے نبی! مومنانو سړو ته او وایه چه خپل نظرونه ډیټ ساتی

وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ۭ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ

او بچ دے ساتی | شرمگاهونه خپل | دا طریقه | ډیره پاکیزه ده | ددوی دپاره | بیشکه | الله | ښه خبر دے

او د خپلو شرمگاهونو حفاظت دے کوی دا د دوی دپاره ډیره د پاکئ خبره ده. دوی چه څه کوی

بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ

دهغه څه نه | چه دوی ئے کوی | او اووایه | مومنانو ښځو ته | چه ښکته دے ساتی | نظرونه خپل

الله تعالی د هغے نه پوره خبر دے. او اے نبی مومنانو زنانو ته اووایه چه خپل نظرونه دے ټیټ ساتی

وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ

او بچ دے ساتی | شرمگاهونه خپل | اونه دے ښکاره کوی | خپل ښائست | مگر | هغه | چه ښکاره وی

او د خپلو شرمگاهونو حفاظت دے کوی او خپل ډول او سنگار (ښائست) دے نه ښکاره کوی سوا د هغے نه چه پخپله

مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰي جُيُوْبِهِنَّ ۠ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ

د هغے نه | او را وادے چوی | لوښتے خپلے | په گریوانونو خپلو باندے | اونه دے ښکاره کوی | ښائست خپل

ښکاره شی او خپلے لوښتے (غټے څادرے) دے په خپلو سینو باندے راا چوی او د خپلو

اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ

مکر | خاوندانو خپلوته | یا پلارانو خپلوته | یا سخرانو خپلوته | یا ځامنو خپلوته

خاوندانو او خپلو پلارانو او خپلو سخرانو او خپلو ځامنو

اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِیْٓ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِیْٓ اَخَوٰتِهِنَّ

یا بنځو خپلوته | یا وروڼرو خپلوته | یا وریرونو خپلوته | یا خوریونو خپلوته

او د خپلو بنځو او خپلو وروڼرو او خپلو وریرونو او خپلو خوریونو

اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَیْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِیْنَ

یا زنانو خپلوته | یا هغه چاته | چه مالکان ئے دی | نبی لاسونه ددوی | یا هغه خدمتګارانو ته

او د خپلو زنانو او د خپلو وینزو او د هغه خدمتګارانو نه چه نفسانی

غَیْرِ اُولِی الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِیْنَ لَمْ یَظْهَرُوْا

چه حاجت (شهوت) والا نه دی | د نارینو نه | یا هغه ماشومان | چه نه دی خبر هغوی

خواهشات نه لری او دهغه ماشومانونه چه د زنانو په پټو خبرونه پوهیږی ددے ټولونه علاوه دے

عَلٰی عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۪ وَلَا یَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِیُعْلَمَ مَا

په شرمګاهونو | د زنانو | او نه دے وهی | خپے خپلے (په زوره) | چه معلوم شی | هغه څه

بل چاته خپل ښائست (چول او سنګار) نه ښکاره کوی، او خپلے خپے دے دومره په زوره (په زمکه) نه وهی

یُخْفِیْنَ مِنْ زِیْنَتِهِنَّ ؕ وَتُوْبُوْٓا اِلَی اللّٰهِ جَمِیْعًا اَیُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ

چه دوی ښځوی | د ښائست خپل نه | او توبه اوباسئ | الله ته | ټول | اے مومنانو!

چه کوم ښائست هغوی پټ کړے دے چه هغه ښکاره شی، او اے مومنانو ټول الله تعالیٰ ته توبه اوباسئ

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ وَاَنْكِحُوا الْاَیَامٰی مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِیْنَ

دے د پاره | چه کامیاب شئ | او نکاح اوکړئ | د لوندانو | ستاسونه | او د نیکانو

چه کامیاب شئ او په تاسو کښ چه د چا نکاح نه وی شوے د هغوی هم نکاح اوکړئ او ستاسو په غلامانو

مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ ؕ اِنْ یَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ یُغْنِهِمُ اللّٰهُ

غلامانو خپلو | او وینزو خپلونه | که چرے | وی دوی | فقیران | نو مالداره به کړی دوی لره | الله

او وینزو کښ چه څوک د نکاح قابل وی (نیکان) وی د هغوی هم نکاح اوکړئ، که چرے هغوی تنګدسته (محتاجه) وی

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ۝ وَلْیَسْتَعْفِفِ الَّذِیْنَ

د خپل فضل نه | او الله | ښه فراغ والا | ښه پوهه دے | او ځان دے پاک ساتی | هغه کسان

نو الله تعالیٰ به ئے په خپل فضل سره مالداره کړی، او الله تعالیٰ دیر فراغ والا او پوهه ذات دے او کوم خلق چه

لَا یَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰی یُغْنِیَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ

چه وس نه لری | د نکاح | تر دے پورے | چه مالداره کړی دوی لره | الله | د خپل فضل نه

د نکاح کولو وس نه لری نو هغوی دے ځان پاک ساتی تر دے چه الله تعالیٰ ئے په خپل فضل مالداره کړی،

وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

او هغه کسان | چه غواړي | معاهده د کتابت | دهغه چا نه | چه مالکان دي | ستاسو نهي لاسونه (دهغوی)
او ستاسو چه کوم غلامان مکاتبت کول غواړي

فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ وَّاٰتُوْهُمْ

پس ليکل او کړئ دهغوی سره | که چرې | تاسو معلومه کړئ | په هغوی کښ | څه نيکی | اوورکړئ دوی ته
نو که تاسو په هغوی کښ څه نيکی (ايمان) وينئ نو مکاتبت ورسره اوکړئ. او الله تعالی چه تاسو له

مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ۭ وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ

د الله د مال | هغے نه | چه در کړے ځه دے تاسو ته | او زبردستی مه کوئ | په پيغلو خپلو باندے
کوم مال در کړے دے دهغے له دغسے غلامانو اوونډو نه هم (دَبدلِ کتابت دادا ليکئ) دپاره ښه کوئ. او دد نيا دسازوسامان

عَلَى الْبِغَاۗءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ

د بدکارئ | که چرې | غواړي هغوی | پاکدامنی | دے دپاره چه تاسو تلاش کړئ | سامان (فائده)
(فائدو) دحاصلولو دپاره خپلے جينکۍ په بدکارئ (اوپه نکاح نه کولو) مه مجبورو ئ هر کله چه

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ

د ژوند | دنيوی | اوځوک چه | زور کوی په هغوی | لوبيشکه | الله | پس د هغوی د مجبورۀ کولو له
هغوی پاک اوسيدل (اونکاح کول) غواړی. اوځوک چه هغوی مجبورۀ کوی نو يقيناً الله دهغوی د مجبورۀ کولو نه پس

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ

ډير بخښونکے | زيات رحم کونکے دے | اويقيناً | مونږ راليږلی دی | تاسو ته | آيتونه | وضاحت کونکی
ډير بخښونکے مهربان دے. اويقيناً مونږ تاسو ته داسے آيتونه هم راليږلی دی چه هره خبره واضح کوی

وَّمَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝ ع

او مثالونه | د هغه خلقو نه | چه تيرشوی دی | مخکښ ستاسو نه | او نصيحت | د متقيانو دپاره
او د پخوانو خلقو مثالونه هم او د متقيانو دپاره نصيحت هم راليږلے دے.

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا

الله | نور دے | د آسمانونو | او د زمکے | مثال | د هغه د نور | پشان د تاخ دے | چه په هغے کښ
الله تعالی د نيولو آسمانونو او زمکے نور (منوّر) دے. د هغهٗ د نور د توحيد مثال (په بدن د موحد کښ) داسے دے لکه يو تاخ وی

مِصْبَاحٌ ۭ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ۭ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ

يوه ډيوه ده | ډيوه | په يوه شيشه کښ ده | شيشه داسے ده | لکه چه هغه | يو ستوری دے
هغه ډيوه په شيشه کښ وی (چه زړۀ د مومن دے). شيشه داسے وی لکه يو پرليدونکے ستوری (دا رنګ زړۀ د مؤمن

دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ

پرليدونکے | چه بلولے شی | د ډيوے اوښے | برکتی نه | د زيتون | چه نه نور خاته طرفته ده
ځلنده په ظلمات کښ). چه دهغه ډيوه ډيوه برکتی وښے (قرآن او حديث) نه بلليږی چه له نور خاته طرف ته ولاړه ده

(چه هغه سينه د مومن ده) (چه هغے کښ زيوه ئ) (چه هغه په سينه د مومن ده)

وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ

اونه نورپریواته طرف ته | نزدے دہ | چه دهغے تیل | رڼا ورکړی | اګر که | نه وی رسیدلی هغے ته | اور

اونه نورپریواته طرفته نوتیل ئے دا سے چمکدار ښکاری (نزدے دہ) چه پخپله بل شی اګر که اور ورته رسیدلے هم نه وی (دا رنګ

نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ

رڼا ده | د پاسه د رڼا | لاره ښائی | الله | خپلے رڼا ته | چا ته | چه اوغواړی | او بیانوی

دمؤمن جزء ګاسته راځی نور (هدایت فطری) د پاسه نور (هدایت حوی) دے. الله تعالیٰ دا نور خپل خاص بنده ګانو ته ور کوی او الله تعالیٰ د خلقو

اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ۙ۝ فِىْ بُيُوْتٍ

الله | مثالونه | خلقو دپاره | او الله | په هر یو | څیز باندے | ښه پوهه دے | په هغه کورونو کښ

دپاره مثالونه بیانوی. او الله تعالیٰ په هر یو څیز باندے پوهه دے. دعوت حق دے نور د توحید او د ایمان وی په هغے کورونو (جماعتونو)

اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ

چه حکم کړے دے | الله | چه اوچت کړے شی | او یاد کړے شی | په هغے کښ | نوم د هغهٔ | پاکی بیانوی

د الله تعالیٰ کښ چه الله هغے عزت او تعظیم حکم کړے دے او دا حکم ئے کړے دے چه په هغے کښ د هغه نوم یاد کړے شی.

لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ۙ۝ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ

د هغه | په هغے کښ | سحر | او ماښام | دا سے سړی | چه نه غافله کوی دوی لره | تجارت

په هغے کښ سحر او ماښام. دا سے خلق (اصحاب النور) د الله پاکی بیانوی چه تجارت او اغستل خرڅول هغوی لره

وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ

اونه اخستل خرڅول | د یاد | د الله نه | او قائمولو | د مانځه نه | او د ورکولو | د زکات نه

د الله تعالیٰ د ذکر نه او د مانځه د پابندئ نه او د زکات د ورکولو نه نهٔ منع کوی

يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ۙ۝

یریږی | د هغے ورځے نه | چه ګډوډه به خوزی | په هغے کښ | زړونه | او سترګے

او دوی د هغے ورځے نه یریږی چه په هغے کښ به زړونه او سترګے اوړی راواوړی

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ

دے دپاره چه بدله ورکړی دوی ته | الله | خائسته بدله | د هغه عملونو | چه دوی کړی دی | او چه زیات ورکړی دوی ته

نتیجه داده چه الله تعالیٰ به دے خلقو ته د خپلو عملونو ډیره ښه بدله ورکړی

مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝ وَالَّذِيْنَ

د فضل خپل نه | او الله | رزق ورکوی | چا ته | چه اوغواړی | بے حسابه | او هغه خلق

او د خپل فضل له به ورله څه زیاتی هم ورکړی. او الله تعالیٰ چه چا ته اوغواړی بے حسابه رزق ورکوی. (بل طرف ته) چه

كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۢ بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ

چه کفر ئے کړے دے | عملونه دهغوی | پشان د سراب دی | په یو بیابان کښ | چه ګمان پرے کوی | تږے

کومه کافر خلق دی د هغوی دظاهری لیکو عملونو مثال په برباد کیدلو کښ دا سے دے لکه چه په یو بیابان کښ یو سراب

مَآءً ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّوَجَدَ اللّٰهَ

داوبو | تردے | چه کله | راشی هغے ته | نو اونه مومی هغے لره | هیڅ شیز | او ومومی | الله

(پرقیدونکے شکے) وی چه یوتږے کس پرے (دلږے نه دغږے په وخت کښ) داویو گمان کوی تردے چه کله ورله خوالهراشی

عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۙ﴿۳۹﴾

دهغے په خوا کښ | نو هغه پوره پوره کړی دده ته | حساب ددهٔ | او الله | ډیر زر | حساب کونکے دے

نو هیڅ بیانه مومی او هلته الله تعالی بیا مومی نو هغه وررسوه خپل حساب پوره پوره ادا کړی. او الله تعالی ډیر زر حساب کونکے دے.

اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِىْ بَحْرٍ لُّجِّىٍّ يَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ

یاپشان د ډیرو تیارو دے | په یو دریاب | ژور کښ | چه پتوی دے لره | یوه څپه | چه دپاسه دهغے | بله څپه وی

او دکافر د بد عملونو مثال په تورو والی د کفر، د جهل او د فسق کښ داسے دے لکه چه یو کس په ژور دریاب کښ وی او پټ

مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَاۤ

د هغے د پاسه | وریځ وی | ډیر مے تیارے وی | بعضے د هغے نه وی | د پاسه | د بعضو نورو | کله چه

کړے وی د ده لره څه چه د هغے د پاسه بله څپه وی (او) د هغے د پاسه وریځ وی (غرض دا چه) لاندے باندے تیارے وی

اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ

دے راوباسی | لاس خپل | (نو) نږدے نه وی | چه اوویني هغے لره | او هغه څوک | چه ورنکړی | الله | هغه لره

که چرے د هغه کس خپل لاس بهر راوباسی نو لیدلے نه شی (د هغه شان کافر د خپل عمل په بدوالی هم نه پوهیږی) څکه چه

نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴۰﴾ ع اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ

نور | نو نشته | د هغه د پاره | هیڅ نور | آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله | پاکی بیانوی | د هغه

چاله چه الله تعالی نور ورنه کړی نو د هغه د پاره هیڅ نور نشته. آیا دده ے نور د حصول د پاره ته دده ے نه دلیل نه ترسیے

مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ كُلٌّ قَدْ

هغه څوک | چه په آسمانونو | او په زمکه کښ دی | او مارغان (هم) | وزرے خورونکی | هر یو | یقیناً

چه د آسمانونو او زمکے تول مخلوق د الله تعالی پاکی بیانوی. او مارغان هم په دا سے حال کښ چه وزرے ځوروونکی وی او هر یو ته

عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلِلّٰهِ

پیژنی | مونځ خپل | او تسبیح خپله | او الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه دوی کوی | او خاص د الله ده

د خپل مانځه او تسبیح طریقه معلومه ده. او الله تعالی د دوی د ټولو کارونو نه پوره خبر دے او د

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۴۲﴾ اَلَمْ تَرَ

بادشاهی | د آسمانونو | او د زمکے | او خاص الله ته | واپس تلل دی | آیا ته نه ګورے

آسمانونو او د زمکے بادشاهی یوا ځے د الله ده. او د الله طرف ته (د ټولو) واپس ورتلل دی. آیا تاته معلومه نه ده

اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِىْ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ

چه بیشکه | الله | روانوی (پورته کوی) | وریځے | بیا | یوځای کوی (هغه) | په خپل مینځ کښ | بیا | اوګرځوی هغه

چه الله تعالی وریځے روانوی بیا ټکړے د هغے په خپل مینځ کښ رایوځائے کوی بیائے دیوبل دپاسه

رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ

لاندے باندے | نو ته وئے | باران | چه راوځی | د مینځ ډهغے نه | اوهغه راوروی | د آسمان نه

(لاندے باندے) کړی بیا ته گورے چه باران د هغے د مینځ نه راوځی او په آسمانو نو کښ

مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

دغرونو (پشان وریځو) نه | چه په هغے کښ | بعضے ولی وی | نو رسوی | هغے لره | چا ته چه | اوغواړی

چه د وریځو کوم غرونه دی د هغے نه ولی راوروی نو په چا چه ځی اوغواړی په هغوی ځی راوړوروی

وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ؕ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ

او اړوی هغے لره | د چا نه ځی چه | اوغواړی | نزدے وی | چه پرق د برېښنا د هغے | بوځی

او د چا نه چه ځی اوغواړی نو د هغوی نه ځی واړوی دا سے ښکاری چه د هغے برېښنا (بجلی) به

بِالْاَبْصَارِ ؕ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً

نظرونه | بدلوی رابدلوی | الله | شپه | او ورځ | بیشکه | په دے کښ | خامخا عبرت دے

د سترګو نظرونه ختم کړی۔ الله تعالیٰ شپه او ورځ اړوی راړوی، یقیناً په دے کښ د عقلمندو د پاره

لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ۝ وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ ۚ فَمِنْهُمْ

د سترګو والو د پاره | او الله | پیدا کړے دے | هر یو | ساه والا څیز | د | اوبو نه | بیا بعضے د دوی نه

لوئے عبرت پروت دے۔ او الله په زمکه باندے گرځیدونکی هر ساه والا څیز د اوبو نه پیدا کړے دے بیا په

مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ ۚ

هغه دی | چه گرځی | په خیته خپله | او بعضے د دوی نه | هغه دی | چه گرځی | په دوو خپو

هغے کښ بعضے دا سے دی چه په خپله گیډه باندے خوځیږی او څنے پکښ دا سے دی چه په دوو خپو گرځی

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰٓى اَرْبَعٍ ؕ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ؕ

او بعضے د دوی نه | هغه دی | چه گرځی | په څلورو | پیدا کوی | الله | هغه | چه اوغواړی

او څنے پکښ دا سے دی چه په څلورو خپو گرځی الله چه څه غواړی هغه پیدا کوی،

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ؕ

بیشکه | الله | په هر یو | څیز باندے | قادر دے | یقیناً | مونږ اړولی دی | آیتونه | وضاحت کونکی

یقیناً الله تعالیٰ په هر څه قادر دے، یقیناً مونږ دا سے آیتونه راولیږلی دی چه پوره وضاحت کونکی دی،

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ وَيَقُوْلُوْنَ

او الله | ښائی | چا ته چه | وغواړی | لاره | نیغه | او دوی وائی

او الله تعالیٰ چه چا ته اوغواړی (نو) سمه لار ورته ښائی، او دا (منافق) خلق وائی

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ

چه ایمان راوړے دے مونږ | په الله | او په پیغمبر | او تابعداری کړے ده مونږ | بیا | اوړی | یوه ډله

چه مونږ په الله او په پیغمبر ایمان راوړے دے او مونږ خبره منلے ده بیا هم د دوی (نه) یوه ډله

مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَاِذَا

د دوی نه | پس د دے نه | او نه دی | دا خلق | مومنان | اوکله چه

د دے نه پس مخ اړوی . او دا خلق بلکل مومنان نه دی . او هر کله چه دوی

دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ

راوبللے شی دوی | الله ته | اورسول دهغهٔ ته | دے دپاره چه هغه فیصله اوکړی | په مینځ دوی کښی | نو (ناګهانه) | دغه یوه ډله

دالله او دهغه د رسول طرف ته دے دپاره راوبللی شی چه هغه د دوی په مینځ کښی فیصله اوکړی نو په دغه وخت

مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْٓا اِلَيْهِ

د دوی نه | مخ اړونکی وی | اوکه چرے | وی | د دوی (دپاره) | حق (فائده) | نو راځی | هغے ته

د دوی یوه ډله مخ اړوی (انکار کوی) او که چرے د دوی څه حق جوړیږی نو حکم منونکی (فرمانبردار)

مُذْعِنِيْنَ ۝ اَفِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَمْ يَخَافُوْنَ

زر قبلونکی (منونکی) | آیا د دوی په زړونو کښی | مرض دے | یا دوی شک کړے دے | یا دوی یَرِیږی

د پیغمبر طرف ته راځی بلکه د دوی په زړونو کښی مرض (کمزورۍ د عقیدے) دے بلکه دوی په شک کښی پراته دی بلکه دوی

اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ؕ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ ع

چه ظلم به اوکړی | الله | په دوی باندے | اورسول دهغهٔ | بلکه | هم دا خلق | دی | ظالمان

د دے نه یَرِیږی چه الله تعالیٰ او دهغه رسول به په دوی باندے ظلم اوکړی بلکه دا خلق (پخپله) ظالمان دی .

اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

بیشکه | وی | خبره | د مومنانو | هر کله | چه راوبللے شی دوی | الله | او دهغه رسول ته

یقیناً د مومنانو خبره خو دا وی چه کله هم هغوی الله او دهغه رسول دے دپاره راوبلی چه هغه

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ وَاُولٰٓئِكَ

چه فیصله اوکړی هغه | دوی په مینځ کښی | داچه وائی دوی | اوریدل مونږ | اوتابعداری کوؤ مونږ | اوهم دغه خلق

دوی په مینځ کښی فیصله اوکړی نو هغوی وائی چه مونږ (حکم) واوریدلو او و مو منلو . اوهم دے خلق دا سے خیر حاصل کړو

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ

دوی کامیاب دی | او څوک | چه حکم اومنی | دالله | او د رسول دهغهٔ | او ویریږی | دالله نه

چه اثر ئے همیشه باقی پاتے کیدونکے دے . او څوک چه دالله تعالیٰ او دهغه د رسول حکم ومنی او دالله تعالیٰ نه یَرِیږی او دهغه

وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ

څان بچ اوساتی دهغهٔ د نافرمانۍ نه | نو هم دغه خلق | کامیاب دی | اودوی قسمونه کړی دی | په الله | پاخه

د نافرمانۍ نه په آئنده کښی څان بچ کوی نو هم دغه خلق دهر مصیبت نه بچ شو او هر مقصد ئے حاصل کړو . او دا منافقان خلق په

اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ؕ قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ۚ

قسمونه خپل | که چرے | ته حکم اوکړے دوی ته | نو خامخا به اوځی دوی | اووایه | (چه) | قسمونه مه خورئ

الله تعالیٰ ویږیاخه قسمونه خوری چه که ته دوی ته حکم اوکړے نو خامخا به دوی (تلسر مدجهاد دپاره) پهرو وځی . ته ورته اووایه چه

طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٣﴾ قُلْ

(ستاسو) تابعداری | ښکاره ده | بیشکه | الله | ښه خبر دے | دهغه څه له | چه تاسو ئے کوئ | اووایه

قسمونه مه خورئ (ستاسو) تابعداری هر چا ته معلومه ده. یقین او کړئ چه الله تعالی ستاسو د عملونو له پوره خبر دے. اے نبی اووای ته

اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ

حکم اومنئ | د الله | او حکم اومنئ | د پیغمبر | پس که چرے | مخ واړولو تاسو | نو بیشکه | دی د ده په ذمه

اووایه چه د الله تعالی حکم اومنئ او دهغه د پیغمبر تابعداری اوکړئ. بیا هم که تاسو مخ اړوئ نو په دے پیغمبر باندے

مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ

هغه څه | چه هغه ته سپارلی شوی دی | او په تاسو دی | هغه څه | چه تاسو ته سپارلی شوی دی | او که چرے | تاسو تابعداری اوکړئ حد

خپله ذمه واری پوره کول دی او په تاسو باندے خپلے ذمه واری پوره کول دی. او که چرے تاسو د دے (رسول)

تَهْتَدُوْا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٥٤﴾ وَعَدَ اللّٰهُ

نو هدایت به مومئ | او نشته | په پیغمبر باندے | مګر | (پیغام) رسول | ښکاره | وعده کړے ده | الله

تابعداری اوکړه نو سمه لاره به بیا مومئ. او د پیغمبر ذمه داری خو صرف (د الله تعالی پیغام) صفا صفا رسول دی.

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ

د هغه کسانو سره | چه ایمان ئے راوړے دے | ستاسو نه | او عمل ئے کړے دے | نیک | (چه) خامخا خلافت به ورکوی هغه دوی ته

په تاسو کښ چه چا ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی هغوی سره الله تعالی وعده کړے ده

فِى الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۪

په زمکه کښ | لکه څنګه چه | هغه خلافت ورکړے وو | هغه کسانو ته | چه مخکښ وو د دوی نه

چه هغوی ته به خامخا د زمکے خلافت ورکوی لکه څنګه چه ئے د دوی نه پخوا نو خلقو ته خلافت ورکړے وو

وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِى ارْتَضٰى لَهُمْ

او خامخا کلک به کړی | د دوی دپاره | دین د دوی | هغه (دین) | چه هغه خوښ کړے دے | د دوی دپاره

او هغه دین به ورته مضبوط کړی چه دوی له ئے خوښ کړے دے او دیرے په بدل کښ به ورته

وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ؕ يَعْبُدُوْنَنِىْ لَا يُشْرِكُوْنَ

او خامخا بدل کښ به ورکړی دوی ته | پس دیرے د دوی نه | امن | دوی به بندګی کوی زما | شریک به نه جوړوی

امن ورکړی (پس) هغوی به صرف زما عبادت کوی او هیڅ یو شیز به ما سره

بِىْ شَيْـًٔا ؕ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٥٥﴾

زما سره هیڅ هم | او چا چه | کفر اوکړو | وروسته د دے له | نو هم دغه خلق | دوی فاسقان (نافرمان) دی

نه شریکوی او کوم خلق چه د دے نه وروسته (هم) ناشکری (کفر) اوکړی نو هم دا خلق به نافرمانه وی

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ

او قائموئ | مونځ | او ورکوئ | زکات | او خبره منئ | د پیغمبر | (دے دپاره چه په تاسو

او د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ او د پیغمبر خبره منئ چه

تُرْحَمُوْنَ ۝ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۚ
رحم اوکړے شی | ته گمان مه کوه | په هغه خلقو | چه کفر ئې کړے دے | چه دوی عاجزه کونکی دی | په ملکه کښی
رحم دریاندے او شی اے نبی! دا خیال هرگز مه کوه چه کافران به (گنے) الله تعالیٰ په زمکه کښی کمزوری (عاجزه) کړی

وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۭ وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
او ځائے د دوی | اور دے | او خامخا ډیر بد ځائے | د ورتلو دے دا | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے
او د دوی ځائے اور دے او هغه د ورتلو ډیر بد ځائے دے. اے مومنانو!

لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ وَالَّذِيْنَ
اجازت دے غواړی ستاسو نه | هغه کسان | چه مالکان دی | ښځی لاسونه ستاسو (د هغوی) | او هغه کسان
ستاسو وینځے او غلامان او هغه ماشومان چه بالغ شوی نه دی هغوی له پکار دی

لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ۭ مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ
چه نه وی رسیدلی | بلوغ ته | ستاسو نه | درے | ځل | مخکښ | د مانځه
چه هغوی دے په درے وختونو کښ تاسو نه اجازت غواړی (یو) د سحر مانځه نه مخکښ

الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْۢ بَعْدِ
د سحر نه | او په هغه وخت کښ | چه اوباسئ | جامے خپلے | د غرمے (په وخت کښ) | او وروستو
او (یو) څه وخت چه تاسو د غرمے خپلے جامے اوباسئ او (یو) د ماسخوتن

صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ۭ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ۭ لَيْسَ عَلَيْكُمْ
د مانځه | د ماسخوتن نه | (دا) درے (وختونه) | د پردے دی | ستاسو (د پاره) | نشته | په تاسو
د مانځه نه وروستو. دا درے وختونه ستاسو د پردے (خلوت) وختونه دی، د دے وختونو نه علاوه نه په تاسو

وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۭ طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ
اونه په دوی باندے | څه گناه | وروستو د دے نه | د ډیر تلونکی (راتلونکی) دی | په تاسو باندے | بعضے ستاسو نه
څه گناه شته اونه په دوی. او هر وخت اجازت غوښتل څکه نشته چه د کثرتِ حاجاتو د وجے نه تاسو د یو بل خوا له ځی راځی

عَلٰي بَعْضٍ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ
په بعضو باندے | دغه شان | بیانوی | الله تعالیٰ | تاسو ته | آیتونه | او الله | ښه پوهه
دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل آیتونه (حکمونه) صفا صفا بیانوی. او الله تعالیٰ په هر څه باندے پوهه

حَكِيْمٌ ۝ وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَاْذِنُوْا
لوئی حکمت والا دے | او کله چه | او رسیږی | ماشومان | ستاسو (نه) | بلوغت ته | نو اجازت دے اخلی
او د لوئی حکمت خاوند دے. او کله چه ستاسو ماشومان بالغ شی نو هغوی دے هم هغه شان اجازت غواړی

كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ
لکه څنګه | چه اجازت غوښتلو | هغه خلقو | چه مخکښ وو د دوی نه | دغه شان | بیانوی | الله
څنګه چه د هغوی نه مخکښ (بالغ کسانو) اجازت غوښتلو دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل آیتونه صفا

لَكُمْ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٥٩﴾ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ

تاسو ته | آیتونه خپل | او الله | ښه پوهه | ډیر حکمت والا دے | او ناستے (بوډۍ) | زنانه

صفا بیانوی، او الله تعالی په هر څه باندے پوهه او حکمت والا ذات دے، او هغه بوډۍ ګانے (په کورونو کښ ناستے)

الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ

هغه | چه امید نه لری | د نکاح کولو | پس نشته | په هغوی باندے | هیڅ ګناه | چه کیږدی

زنانه چه د نکاح کولو طمع نه لری په هغوی باندے په دے خبره کښ هیڅ ګناه نشته چه خپلے

ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍ بِزِيْنَةٍ ؕ وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ

جامے خپلے | چه نه به وی بنکاره کونکی | خپل بهائست | او که څان ښ ساتی (احتیاط او کړی) | نو دا به ډیره ښه وی

زیاتی جامے کوزے کړی خو په دے شرط چه خپل ډول او سنګار (بهائست) نه بنکاره کوی، او که بیا هم دوی احتیاط او کړی

لَّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٦٠﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ

د دوی دپاره | او الله | ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے | نشته دے | په روند باندے | څه ګناه

نو دا ورله ډیره غوره ده، او الله تعالی هر څه اوری او هر څه باندے پوهه دے. نه په روند څه ګناه شته

وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ

او نه په ګوډ باندے | څه ګناه | او نه په مریض باندے | څه ګناه

او نه په ګوډ او نه په بیمار

وَّلَا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَنْ تَاْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآئِكُمْ

او نه په تاسو باندے | چه خوراک کوئ | د کورونو خپلونه | یا د کورونو | د پلار انو خپلونه

اونه په تاسو (پخپله) څه ګناه شته چه د خپلو کورونو نه خوراک او کړئ یا د خپلو پلار انو د کورونو نه

اَوْ بُيُوْتِ اُمَّهٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ

یا د کورونو | د میندو خپلونه | یا د کورونو | د وروڼو خپلونه | یا د کورونو | د خویندو خپلونه

یا د خپلو میندو د کورونو نه یا د خپلو وروڼو د کورونو نه یا د خپلو خویندو د کورونو نه

اَوْ بُيُوْتِ اَعْمَامِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ عَمّٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخْوَالِكُمْ

یا د کورونو | د تروریانو خپلونه | یا د کورونو | د تروریانو (پرڼی ګانو) خپلونه | یا د کورونو | د ماما ګانو خپلونه

یا د خپلو تروڼو د کورونو نه یا د خپلو تروریانو د کورونو نه یا د خپلو ماما ګانو د کورونو نه

اَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ اَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ اَوْ صَدِيْقِكُمْ ؕ

یا د کورونو | د تروریانو (ماسیګانو) خپلونه | یا د هغه کورونه | چه مالکان یې تاسو | د چا بیا نو د هغے | یا د خپلو دوستانو (د کورونه)

یا د خپلو ماسیګانو د کورونو نه یا د هغه کورونه چه ستاسو په اختیار کښ وی یا د خپلو دوستانو د کورونو نه (خوراک او کړئ)

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا ؕ فَاِذَا

نشته | په تاسو | څه ګناه | چه خوراک کوئ تاسو | په یو ځای | یا ځان ځانله | پس کله چه

په دے کښ هم په تاسو هیڅ ګناه نشته چه په یو ځای خوراک کوئ او که ځانله ځانله، خو چه کله هم

دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

داخليږئ تاسو | کورونو ته | توسلام کوئ | په خپلو خلقو | دعاء د خير | د الله د طرف نه

(دغ) کورونو ته ورننوځئ نو اوسيدونکو دهغے ته هغه سلام کوئ چه هغه د الله د طرف نه پيشکشی ده

مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ

برکتونو والا | پاکيزه | دغه شان | بيانوی | الله | تاسو ته | آيتونه | دے دپاره چه تاسو

اودبرکت والا زړه خوشحالونکے دعاء ده. الله تعالی هم دغه شان تاسو ته آيتونه (حکمونه) صفا صفا بيانوی چه تاسو

تَعْقِلُوْنَ ۝ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ع

پوهه شئ | بيشکه | مومنان (خو) | هغه خلق دی | چه ايمان ځړاوړے دے | په الله | اوپه رسول دهغهٔ

پوهه شئ. يقيناً مومنان خو هغه خلق دی چه الله او د هغه رسول د زړه نه منی

وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى

اوکله چه | وی هغوی | د هغه سره | په يو کار | راجمع کونکی باندے | نو دوی نه ځی | تر دے

اوکله چه رسول (پيغمبر) سره په يو اجتماعی کار کښ شريک وی نو د هغه د اجازت نه بغير نه ځی

يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

چه اجازت واخلی د هغه نه | بيشکه | هغه خلق | چه اجازت غواړی ستانه | هم دا | هغه خلق دی

(اے نبی!) کوم خلق چه تانه (د عُذر دوجے) اجازت اخلی (غواړی) هم دا خلق الله اورسول

يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ

چه ايمان لری | په الله | اوپه رسول دهغهٔ | پس کله چه | اجازت غواړی دوی ستانه | د بعضے | کارونو خپلو دپاره

د زړه نه منی. نو دوی چه کله د څه کار دپاره تانه اجازت غواړی نو په دوی کښ چه ته چاته غواړے

فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

نو اجازت ورکړه | هغه چاته | خوښه وی ستا | د دوی نه | اوبخښنه غواړه | د دوی دپاره | د الله نه | بيشکه | الله

نو اجازت ورکړه او د الله نه ورله بخښنه غواړه. يقيناً الله تعالی

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ

ډير بخښونکے | زيات رحم کونکے دے | تاسو مه کنړئ | بلنه | د پيغمبر | په خپل مينځ کښ | په شان د بلنے

ډير بخښونکے ډير مهربان دے. اے خلقو د پيغمبر بلنه داسے (معمولی) مه کنړئ لکه څنګه چه تاسو

بَعْضِكُمْ بَعْضًا ؕ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ

د بعضو ستاسو | بعضو لره | يقيناً | پيژنی | الله | هغه خلق | چه پټ خوئيږی | ستاسو نه

خپل مينځ کښ يو بل را ايستل (په نومونو سره). يقيناً الله تعالی په تاسو کښ هغه خلق ښه پيژنی چه يو ارخ ته شی نو

لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ

ديو بل نه پناه پناه | پس اودے ډيرويږی | هغه خلق | چه خلاف کوی | د هغه د حکم نه | د دينه چه ولوبه رسيږی هغوی ته

غلی غوندے د مجلس نه اوکشيږی. نو کوم خلق چه د پيغمبر د حکم خلاف کوی هغوی دے د دے خبرے نه اويريږی

فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

څه مصیبت | یا اوبه رسیږی هغوی ته | عذاب | دردناک | خبردارا | بیشکه | خاص دالله دی | هغه څه چه په آسمانونو

چه چرته څه آفت (مصیبت) کښ گیر نه شی یا پرے دردناک عذاب رانشی. یاد ساتئ چه د آسمانونو او زمکے هر څه

وَالْاَرْضِ ؕ قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ؕ وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ

اوپه زمکه کښ دی | یقیناً | پیژنی الله | هغه (حالت) | چه تاسو یئ | په هغے باندے | اوپه هغه ورځ | چه واپس کولے به شی خوی

دالله (په اختیار کښ) دی. تاسو چه په کوم حالت ئے هغه الله ته به معلوم دے. اوپه کومه ورځ به چه دوی ټول الله ته

اِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ ع

هغه ته | نو هغه به خبر کړی خوی | په هغه څه | چه خوی کړی دی | او الله | په هر څیز | څیز باندے | ښه پوهه دے

واپس ورشی نو په هغه ورځ به ئے الله خبر کړی چه دوی څه څه عملونه کړی وو. او الله تعالیٰ په هر څیز باندے پوره پوهه دی.

آیاتها [۷۷]	سورة الفُرقان مكّيّة	رکوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | ـزیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د ټوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ

(ډیرو) برکتونو والا دے | هغه ذات | چه الیږلے ئے دے | فرقان | په بنده خپل باندے | چه شی

هغه ذات د لوئی شان او برکتونو والا دے چه په خپل بنده ئے فیصله کن کتاب رالیږلے دے چه هغه

لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرَا ۝ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

مخلوقاتو لره | یروڼکے | هغه ذات | چه خاص دهغه ده | بادشاهی | د آسمانونو | او د زمکے

مخلوق لره خبردار کړی۔ او وے یروی هم هغه ذات چه د اسمانونو او د زمکے بادشاهی د هغه ده

وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ

اونه ئے دے نیولے | څوئ | او نشته | د هغه سره | هیڅ څوک شریک | په بادشاهئ کښ

او هغهٔ نهٔ څوک څوے نیولے دے اونه ورسره په بادشاهئ کښ څوک شریک شته

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا ۝ وَاتَّخَذُوْا

اوهغه پیدا کړے دے | هر یو | څیز | بیا ئے په اندازه کړے دے هغه | په اندازه کولو سره | او دوی نیولی دی

اوهغه هر یو څیز پیدا کړے دے بیا ئے ورله یوه خاص اندازه مقرر کړے ده. او مشرکانو د الله تعالیٰ نه

مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ

سوا دهغه نه | نور خدایان | چه نه شی پیدا کولے | هیڅ یو شے | او هغوی | پخپله پیدا کړے شوی دی

سوا (نور دا سے) خدایان جوړ کړی دی چه هغوی هیڅ شئ نه شی پیدا کولے. بلکه هغوی

وَلَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا

او اختیار نه لری هغوی | د خپل ځان د پاره | د نقصان | او نه د فائدے | او اختیار نه لری هغوی | د مرګ

(خو) په خپله پیدا کړے شوی دی (مخلوق دی) او نه د خپل ځان نه د نقصان د لرے کولو اختیار لری

وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ

او نه د ژوند | او نه د بیا راپورته کولو | او وائی | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | نه دے دا

او نه د فائدے او نه د مرګ او د ژوند اختیار لری. او نه د بیا ژوندی کولو. او کافران وائی چه دا (قرآن)

اِلَّآ اِفْكُ ِۨافْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ

مګر | دروغ | چه جوړ کړی ئے دی د ځان نه | او مدد کړے دے دے (سره) | په دے کښ | خلقو | نورو

خو تش دروغ دی چه دے پیغمبر د ځان نه جوړ کړے دے او په دے کښ ورسره نورو خلقو مدد کړے دے.

فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ۝ وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ

پس یقیناً | دوی راتلګ او کړو | ظلم ته | او دروغ ته | او وائی دوی | (چه دا) قصے | د پخوا نو دی

پس یقیناً دے خلقو د پیر زیاتے او کړو او د پیر دروغ ے او ویل. او دوی وائی چه دا (خو) د پخوا نو خلقو قصے دی

اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝ قُلْ

چه ئے ځان لپاره لیکلو کړے دے | نو هغه | بیان ئے کیدے شی | په ده باندے | سحر | او ماښام | اووایه

چه دے (پیغمبر) په چا لیکلی دی او سحر او ماښام ده ته لوستلی کیږی (بیا لیږی) اے نبی ته ورته ووایه

اَنْزَلَهُ الَّذِيْ يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ

(چه) رالیږلے دے دا هغه (ذات) | چه پوهیږی | په پټو څیزونو | په آسمانونو | او زمکه کښ | بیشکه هغه | دے

چه دا خو هغه ذات نازل کړے دے چه په اسمانونو او زمکه کښ هره پټه خبره پیژنی. یقیناً هغه

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ يَاْكُلُ الطَّعَامَ

دیر بخښونکے | زیات مهربان | او وائی دوی | (چه) څه وجه ده دے | پیغمبر لره | چه خوری | خوراک

دیر بخښونکے دیر مهربان دے. او دوی وائی چه دا (لا) څنګه پیغمبر دے چه خوراک (هم) کوی

وَيَمْشِيْ فِي الْاَسْوَاقِ ۭ لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُوْنَ

او گرځی | په بازارونو کښ | ولے راوڼه لیږلے شوه | ده ته | یوه فرشته | چه هغه وی

او بازارونو کښ (هم) گرځی. ده ته یوه فرشته ولے راوڼه لیږلے شوه چه هغے

مَعَهٗ نَذِيْرًا ۝ اَوْ يُلْقٰٓى اِلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ تَكُوْنُ لَهٗ جَنَّةٌ

د ده سره | یره ورکونکے | یا (ولے) غورزولی نه شی | ده ته | یوه خزانه | یا ولے نشته | ده ده | یو باغ

ورسره خلق یروے. یا ورته یوه خزانه ورکړے شوے وے. یا د ده یو باغ وے چه ده ترے نه

يَّاْكُلُ مِنْهَا ۭ وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا

چه ده خوراک کولے | د هغے نه | او وائی | ظالمان | نه یی روان تاسو | مګر | په طلسم ورسره

خوراک کولے. او ظالمان وائی (مسلمانانو ته) چه تاسو خو یو داسے سړی پسے روان یئ

مَّسْحُوْرًا ۝ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا

چه جادو پرے شوے دے | اوګوره | څنګه | پیانوی دوی | ستا دپاره | مثالونه | پس دوی ګمراه شوی دی

چه جادو پرے شوے دے، اے نبی! اوګوره ستا باره کښ دوی څنګه څنګه نکاره خبرے جوړوی نو بس دوی حاسے ګمراه شول

فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۝ تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ اِنْ شَآءَ

نو طاقت نه لری دوی | دسے لارے | ډیر برکتونو والا دے | هغه ذات | که چرے | اوغواړی هغه

چه اوس سمه لار موندل ددوی دوس نه بهر دی. هغه الله ډیر برکتونو (لوئی شان) والا دے که هغه اوغواړی

جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

(نو) دربه کړی | تاته | ډیر غوره | ددے نه | (داسے) باغونه | چه بهیږی به | دهغے دلاندے

نو تاله به ددے هرڅه نه ډیر غوره څیز. داسے جنتونه درکړی چه دهغے دلاندے به

الْاَنْهٰرُ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ۝ بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ

نهرونه | او دربه کړی | تاله | بنګلے | بلکه | دوی دروغ ګڼلی | قیامت له

نهرونه بهیږی. او محلونه به درله جوړ کړی ـ اصل خبره داده چه دے خلقو قیامت دروغ ګڼلے دے.

وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ۝ اِذَا رَاَتْهُمْ

اومونږ تیار کړے دے | دهغه چا دپاره | چه دروغ ګڼلی | قیامت | بل کړے شوے اور | کله چه | اووینی هغه اور دوی له

اوځوک چه قیامت دروغ ګڼلی دهغوی دپاره مونږ ګرم اور تیار کړے دے. کله چه هغه (اور) دوی له

مِّنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ۝ وَاِذَآ اُلْقُوْا

د ځایٍ | لرے نه | (نو) اوری به دوی | دهغے | غږ مبیدل | او هنړیدل | او کله چه | وغورځولی شی دوی

دلرے نه اووینی نو بنه به تیز شی نو دوی به دهغه زور او شور (غږ مبیدل او هنړیدل) اوری. او کله چه دوی دهغے

مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ۝

دهغے نه | په یو ځای | تنګ کښ | تړلی شوی (یو بل سره) | نو غواړی به دوی | په دغه وخت کښ | هلاکت (مرګ)

په یو تنګ ځای کښ بنه کلک تړلی شوی او غورځولی شی نو هغه وخت به ځان دپاره مرګ غواړی.

لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا ۝

مه غواړئ | نن ورځ | هلاکت (مرګ) | یو | او اوغواړئ | هلاکتونه (مرګونه) | ډیر

(نو) ورته به اوویلی شی چه نن یو ځل مرګ مه غواړئ بلکه ډیر ډیر مرګونه اوغواړئ.

قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ

اووایه | آیا دا | ډیر غوره دے | یا جنت | دهمیشوالی | هغه | چه وعده ګڼلے شوے ده | دمتقیانو سره

اے نبی! اووایه چه آیا دا انجام غوره دے یا دهمیشه اوسیدو هغه جنتونه چه دمتقیانو سره ځے وعده شوے ده؟

كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَّمَصِيْرًا ۝ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ

وی به دا | ددوی دپاره | بدله | او ځای دورتلو | ددوی دپاره به وی | په دے کښ | هغه څه | چه دوی ځے غواړی

چه هغه به ددوی بدله (انعام) او آخیری ځای وی. دوی ته به هلته هر هغه څیز ملاویږی چه دوی ځے غواړی

خٰلِدِيْنَ ؕ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْئُوْلًا ۝ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ

همیشه | دی | ستا په رب باندے | وعده | پیره کړے شوے | او په هغه ورځ | چه هغه به راجمع کړی دوی

(او) همیشه به پکښ اوسیږی. دا هغه د ذمه داری وعده ده چه ستا رب په خپل (لازم کړے دے) او په هغه ورځ چه الله تعالیٰ به

وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَقُوْلُ ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ

او هغه څه | چه دوی ـ ئے عبادت کوی | د الله نه سوا | نو وبه وائی (الله) | آیا تاسو | گمراه کړی وو

دا کافران او دَدوی هغه (خدایان) چه دوی ـ ئے د الله نه سوا عبادت کړے وو راجمع کړی نو الله به دَدوی هغه خدایانو ته اووائی

عِبَادِىْ هٰٓؤُلَآءِ اَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيْلَ ۝ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ

بندگان زما | دغه | یا دوی (پخپله) | گمراه شوی وو | د سے لار نه | او به وائی هغوی | پاک ئے ته

چه آیا تاسو زما دا بندگان گمراه کړی وو یا دوی پخپله د سے لارے نه گمراه شوی وو. هغوی به اووائی اے الله ته

مَا كَانَ يَنْۢبَغِىْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنْ

نه دی | مناسب | مونږ لره | چه مونږ اونیسو | سوا ستا نه | نور دوستان | لیکن

دهر عیب نه پاک یے، زمونږ (خو) دا مجال قدرے نه وو چه ستا نه سوا نور دوستان (کارسازان) جوړ کړو لیکن

مَّتَّعْتَهُمْ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا قَوْمًا

تا ځکه مو کړے وو دوی ته | او دوی پلرونیکه ته | تر دے | چه دوی هیر کړو | نصیحت | او وو دوی | یو قوم

(حقیقت دا دے چه) تا دوی ته او دَدوی مشرانو ته د دنیا فائدے (ساز و سامان) ور کړے وو تر دے چه دوی ستا یاد هیر کړو

بُوْرًا ۝ فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ

تباه کیدونکے | پس یقیناً | دوی خو غوځ ـ ن کړی تاسو | په هغه څه کښ | چه تاسو به وئیل | نو تاسو طاقت نه لرئ

او تباه او برباد شول. (الله به وائی) اے کافرانو! دوی خو ستاسو تولے خبرے دروغ ـ ژنے کړے نو اوس خو نه

صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا

دارولو (د عذاب) | او نه د مدد کولو | او څوک | چه ظلم ـ ے کړے دے | ستاسو نه | نو او به څکوو مونږ هغه ته | عذاب

تاسو پخپله د عذاب څخه نه لرے کولے شئ او نه د مدد حاصلولی شئ. او په تاسو کښ چه چا هم ظلم کړے دے هغه ته به مونږ

كَبِيْرًا ۝ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ اِنَّهُمْ

ډیر لوئے | او مونږ نه دی لیږلی | ستا نه مخکښ | پیغمبران | مگر | بیشکه هغوی

ډیر لوئے عذاب او څکوو. او اے نبی! مونږ (چه) ستا نه مخکښ څومره پیغمبران (هم) لیږلی دی هغوی ټولو به

لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِى الْاَسْوَاقِ ؕ وَجَعَلْنَا

خامخا خوړلو | خوراک | او گرځیدل | په بازارونو کښ | او مونږ جوړ کړی دی

خوراک (هم) کولو او بازارونو کښ به (هم) گرځیدل. او مونږ تاسو د یو بل دپاره

بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ؕ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ۝ ع

بعضے ستاسو نه | د بعضو دپاره | ازمیښت | آیا تاسو صبر کوئ | او دے | ستا رب | ښه لیدونکے

د ازمیښت ذریعه گرځولی یئ. نو آیا تاسو صبر کوئ؟ او ستا رب هر څه وینی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ

او وائی | هغه خلق | چه اُمید نه ساتی | دملاقات ز مونږ | (چه) ولے نه نازلیږی | په مونږ باندے | فرشتے
او کوم خلق چه ز مونږ د ملاقات امید (عقیده) نه ساتی هغوی وائی چه په مونږ باندے فرشتے

اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ؕ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا

او(ولے) نهٔ وینو | خپل رب | یقیناً | تکبر کړے دے | دوی | (چه پوره دے پلار ونو هوی کښ | الوسر کشی کړے دهغوی | سر کشی
ولے نه نازلیږی یا مونږ خپل رب ولے نهٔ وینو؟ حقیقت دا دے چه دے خلقو خپل ځان ډیر لوے ګڼلے دے

كَبِيْرًا ۝ يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ

لویه | په هغه ورځ | چه دوی (به) اوویني | فرشتے | نوله به دوی هیڅ خوشحالی | په دغه ورځ | د مجرمانو دپاره
اوپه سر کشۍ کښې د حد نه اوړیدلی دي په کومه ورځ به چه دوی فرشتے اوویني (نو) په هغه ورځ به د مجرمانو دپاره هیڅ

وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ۝ وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ

اووائی به دوی | پناه غواړو | پناه کلکه | اووراندے به شو مونږ | هغه څه ته | چه دوی کړی دی | د څه عمل نه
خوشحالی نه وی بلکه دا به وائی چه پناه غواړو پناه کلکه اودوی چه څه عمل نه کړی دی مونږ به هغے ته متوجه شو

فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ۝ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ

نو کړو به مونږ هغه | دوړه | الوزولے شوے | جنتیان به | په دغه ورځ | په ډیر ښه
نو هغه به ورله د الوتونکی ګرد او غبار په شان (بے قیمته) کړو جنتیان به په دغه ورځ په خائسته

مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ۝ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ

ځای د اوسیدو کښ وی | او ښائسته | آرامګاه کښ به وی | اوپه هغه ورځ | (چه) اوچوی | آسمان | په وریځو سره
ځایونو او خائسته ارام ګاه (خوابګاه) کښې وی۔ اوپه کومه ورځ چه آسمان به دیوے وریځے نه اوچوی

وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ۝ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ِالْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ؕ

اورا کوزی به کړے شی | فرشتے | اپه را کوزولو سره | بادشاهی | په دغه ورځ | حق ده | رحمان ذات لره
او فرشتے به (د میدان حشر دا انتظام دپاره) را کوزے کړے شی په دغه ورځ به حقیقی (رښتنی) بادشاهی د رحمن وی

وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا ۝ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ

اووی به دغه | ورځ | په | کافرانو | ډیره سخته | اوپه هغه ورځ | چه چک به لګوی | ظالم
او دغه ورځ به په کافرانو ډیره سخته وی او په دغه ورځ به ظالم انسان (د افسوس نه) په خپلو لاسونو

عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا ۝

په دواړو لاسونو خپلو | وائی به | هائے افسوس په ما | چه مانیولی وے | د پیغمبر سره | لار
چکونه لګوی (او) دا به وائی چه کاش! ما هم د پیغمبر د تابعدارئ لار اختیار کړے وے

يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا ۝ لَقَدْ اَضَلَّنِيْ

هائے هلاکته | افسوس دے زما | چه مانه وے نیولے | فلانکے | دوست | یقیناً | هغه ما لارے کړم زه
هائے زما بد نصیبه! کاش چه فلانکے مے خپل دوست نه وے جوړ کړے یقیناً ده خو زه

عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ جَآءَنِيْ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ

دنصیحت (قرآن) نه | پس دده نه | کله چه | راغ ماته | او دے | شیطان | انسان لره

دده نه پس گمراه کړم چه نصیحت راته راغ او عادت د شیطان دا دے چه دے انسان لره

خَذُوْلًا ۝ وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا

شرموونکے | او اوبه وائی | پیغمبر | اے زما ربه! | بیشکه | زما قوم | نیولے وو | دا

بے یاره مددگار پریږدی او پیغمبر به اووائی چه اے زما ربه! زما قوم (خو) دا قران بالکل

الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ۝ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا

قرآن | پریښودلے شوے | او دغه شان | جوړ کړے دے مونږ | د هر | نبی دپاره | دشمن

پریښودلے وو او دغه شان مونږ مجرمان خلق د هر نبی دشمنان جوړ کړی دی

مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا ۝ وَقَالَ

د مجرمانو نه | او کافی دے | رب ستا | لاره ښودونکے | او مدد کونکے | او وائی

او ستا رب هدایت کوونکے او مددگار کافی دے او دا کافران وائی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | ولے نه نازلیږی | په ده باندے | قرآن | په یو ځل

چه دا قرآن په دے پیغمبر باندے ټول په یو ځل ولے نه نازلیږی اے نبی دغه شان ئے په دمه دمه څه نازلوو چه په یوځل

كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ۝

دغه شان | دے دپاره چه مونږ کلک کړو | په دے سره | زړه ستا | او په ارام (ډیر ډیر) لوستلے دے مونږ دا (قرآن) | په لوستو سره

دا عتراض ونو دکافرانو کښ په دے سره مونږ ستا زړه مضبوط کړو او مونږ دا په ورورو لوستلے دے چه دالفاظو وضاحت ئے وکړو

وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ۝

اور اتله نه کوی دوی تاته | په څه شی سره | مکر | راوړو مونږ تاته | حق جواب | او ښایسته | بیان (ښه وضاحت)

او کله هم چه دوی تاته څه ناشنا سوال راوړاندے کړی نو مونږ دهغے سم (صحیح) جواب او ښه وضاحت تاته اوښایو

اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ

هغه خلق | چه جمع به کړی شی | په مخونو خپلو باندے | جهنم ته | دغه خلق دی | ډیر بد

کوم خلق به چه پر مخے جهنم ته راجمع کړے شی دهغوی ځائے هم ډیر خراب دے

مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيْلًا ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

ځائے والا | او ډیر ورکو ونکی دی | لار (د جنت لره) | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | کتاب

او د سمے لارے هم بے لارے دی او یقیناً مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړے وو

وَجَعَلْنَا مَعَهٗۤ اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ۝ فَقُلْنَا اذْهَبَآ

او جوړ کړے وو مونږ | دهغه سره | ورور دهغه | هارون | وزیر (ملاتړ) | نو اووئیل مونږ | لاړ شئ دواړه

او دهغه سره مو دهغه ورور هارون مددگار مقرر کړے وو نو مونږ وئیل وو هغوی ته چه دواړه هغه قوم ته لاړ شئ

اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ۝

قوم | هغے ته | چه دروغ ے ګڼلی دی | آیاتونه زمونږ | پس هلاک کړل مونږ دوی | په هلا کولو سره

چه زمونږ آیاتونه ے دروغ ګڼلی دی آخر دا چه مونږ هغوی پوره تباه کړل

وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ اَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ

او قوم | د نوح (هم) | کله چه | دروغژن کړلحوی | پیغمبران | (نو) مونږ غرق کړلحوی | اولاګرځول مونږ دوی لره

اودنوح قوم هم چه کله پیغمبران دروغژن اوګڼل نو مونږ غرق کړل اودخلقو دپاره مو

لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ وَّعَادًا

دخلقو لپاره | نښه | اومونږ تیار کړے دے | د ظالمانو دپاره | عذاب | دردناک | او عادیان

دعبرت یوه نښه جوړه کړه او د ظالمانو دپاره مونږ دردناک عذاب تیار کړے دے او (د غه شان) عادیان

وَّثَمُوْدَا وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ۝ وَكُلًّا

او ثمودیان | او کوهی والا | او (نور) قومونه | په مینځ | دے کښې | ډیر | اوهریوته

او ثمودیان او کوهی والا او ددے په مینځ کښې نور ډیر نسلونه (مونږ تباه کړل)

ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ ۫ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ۝ وَلَقَدْ اَتَوْا

بیان کړی وو مونږ | هغه ته | مثالونه | او هریو | تباه کړل مونږ | په تباه کولو سره | او یقیناً | تیرشوی دی دوی

او دے ټولو ته مونږ ډیر ے د پاره مثالونه بیان کړی وو او (چه وے نه منل نو) ټول موتباه او برباد کړل

عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ؕ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا

په کل | هغے باندے | چه ورولی شوی وو په هغوی باندے | باران | بد | آیا پس نه وو دوی

او یقیناً دا اوسنی کافران په هغه کلو هم تیریږی راتیریږی چه دکانړو ډیر سخت باران پرے شوی وو نو آیا

يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ۝ وَاِذَا رَاَوْكَ

چلیدلے ټوے هغه لره | بلکه | دوی | امید نه لری | دبیا راپورته کیدلو | اوکله چه | اووینی دوی تاسو لره

دوی دغه کلی نه وینی؟ بلکه دوی د دوباره ژوندون عقیده نه ساتی او اے نبی! دا کافران چه کله تا اووینی

اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ۝

(نو) نه نیسی تا لره | مګر | ټوقے | آیا دادے | هغه کس | چه اولیږلے دے | الله | پیغمبر

نوتا پورے ټوقے کوی (او دا وائی چه) آیا دا هغه کس دے چه الله پیغمبر رالیږلے دے؟

اِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ؕ

بیشکه | نزدے وه | چه گمراه کړی وے مونږ | د خپلو | که چرے مونږ ټینګ شوی نه وو | په هغے باندے

که چرے مونږ په خپلو خدایانو کلک ولاړ نه وے نو دے سړی خو به مونږ د خپلو خدایانو نه اړولی (گمراه کړی وے

وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ

او ډیر زر به | دوی پوهه شی | کله چه | ووینی | عذاب | (چه) څوک | زیات گمراه

نوکله چه دوی عذاب اووینی نوپته به ورته اولگی چه څوک دسے لاړے نه زیات اوریدلی دی

سَبِيْلًا ﴿٤٤﴾ اَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ

دلارے نه | آیا تالیدلے دے | هغه څوك | چه لیولے ځے | معبود خپل | خواهش خپل کړه | آیا نو ته | ئے

اے نبی! آیا تا دهغه چا په حال نظر کړے دے چه خپل خواهش ئے معبود (خدائے) جوړ کړے دے نو آیا ته

عَلَيْهِ وَكِيْلًا ﴿٤٣﴾ اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ

په هغه باندے | ذمه وار (نگهبان) | آیا ته گمان کوے | چه بیشکه | اکثر د دوی | آوری

ددهٔ د هدایت ذمه وار ئے؟ ـ یا ته دا خیال کوے چه په دوی کښی اکثر خلق (حق) آوری

اَوْ يَعْقِلُوْنَ ؕ اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ

یا د عقل نه کار اخلی | نه دی دوی | مګر | په شان د څارو | بلکه | دوی | زیات بلاړے دی

یا پوهیږی؟ نا بلکه دوی خو بس د څناورو په شان دی بلکه د څناورو نه هم زیات بلاړے دی په بطلوت کولو کښی صاحب خپل نه

سَبِيْلًا ﴿٤٤﴾ اَلَمْ تَرَ اِلٰى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَآءَ ع

دلارنه | آیا تا نه دی کتلی | خپل رب ته | چه څنګه ئے | خور کړے دے | سورے | اوکه چرے | هغه غوښتلے

آیا تا د خپل رب قدرت نه دے لیدلے چه سورے ئے څنګه خور کړے دے اوکه هغه غوښتلے (نو نور به ئے ځکه راخیژولے)

لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿٤٥﴾

نو خامخا کړے وے لبه ئے وے هغه لره | ولاړ په ځای | بیا | جوړ کړے دے مونږ | نور | په هغه باندے | دلیل

نو دا به ئے ځای په ځای ولاړ پریښودلے وے بیا مونږ د نور راخیژول په هغے باندے یوه نښه مقرر کړے ده

ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ الَّذِىْ جَعَلَ

بیا | راغلو مونږ هغه | خپل ځان ته | په راغښتلو | آسان سره | اوالله هم هغه ذات دے | چه جوړه کړے ئے ده

بیا مونږ دا (سورے) خپل طرف ته وروړو راتولوو او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه شپه ئے ستاسو د پاره جامه

لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾

ستاسو د پاره | شپه | جامه | او خوب | آرام | اوجوړه کړے ئے ده | ورځ | وخت د خوریدلو

(پرده پوش) او خوب ئے درله د آرام ذریعه جوړه کړے ده او ورځ ئے د کار کیدو راکار کیدو ذریعه جوړه کړے ده

وَهُوَ الَّذِىْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهٖ ۚ

او هم الله هغه ذات دے | چه راالیږی | هوا ګانے | زیرے | مخکښ | د رحمت خپل نه

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه د خپل رحمت (باران) نه مخکښ د زیری په طور هوا ګانے راالیږی

وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوْرًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحْيِىَ بِهٖ بَلْدَةً

او مونږ راوروو | د آسمان نه | اوبه | پاکوونکے | د دے د پاره چه مونږ ژوندے کړو | په هغے سره | ښار

او بیا هم مونږ د آسمان د طرف نه پاکوونکے اوبه راوړو چه مونږ په هغے سره یو اوچ ښار تازه کړو

مَّيْتًا وَّنُسْقِيَهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ اَنْعَامًا وَّاَنَاسِىَّ كَثِيْرًا ﴿٤٩﴾

مړ (اوچ) | او مونږ راوخکوو هغه | هغه چا نه | چه مونږ پیدا کړی دی | څاروی | او انسانان | ډیر

او د خپل مخلوق نه ډیر څاروی او انسانان په هغے باندے سیراب (خړوب) کړو

وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوْا ۫ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ

او یقیناً | گرځول اګرځومونږ دا اویۀ | په مینځ ددوی کښې | چه دوی نصیحت واخلی | پس نۀ کوی | ډیر | خلق

او مونږ دا (کرشمه دا وبو) په مختلفو طریقو سره په دوی کښې تقسیمو وچه دوی غور او کړی خو اکثر خلق

اِلَّا كُفُوْرًا ۝ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيْرًا ۝

مګر | ناشکری | اوکه چرے | مونږ غوښتلے | نو خامخا به مونږ لیږلے وے | په هر یو | کلی کښې | یو ډونکے

دناشکرئ نه سوا دهرے خبرے نه انکار کوی او که مونږ غوښتلے نو مونږ به هر کلی ته یو ډونکے (پیغمبر) لیږلے وو

فَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا ۝

پس ته خبره مه منه | د کافرانو | او جهاد کوه ددوی سره | په دے باندے | جهاد | لوے

نو اے نبی اته د کافرانو خبره مه منه او دوی ته د قرآن په تبلیغ کښې پوره ځان او کړوه (ځکه چه) دا لوے جهاد دے

وَهُوَ الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا

او هم الله هغه ذات دے | چه یو ځائی ځروان کړی دی | دوه دریابونه | دا ئیو | خوږ دے | تنده ماتوونکے | او دا (بل)

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه دوه دریابونه ځیږ د کښون نه په دا سے طریقه یو ځائی روان کړی دی چه دا یو دا سے خوږ دے

مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ۝

مالګین | تریخ دے | او هغه جوړه کړے ده | په مینځ ددے دواړو کښې | یوه پرده | او ئیو بند | پوخ (مضبوط)

چه تنده ماتوی او دا بل مالګین تریخ دے او هغه ددے دواړو په مینځ کښې یوه پرده او یو مضبوط بند جوړ کړے دے

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا

او هم الله هغه ذات دے | چه پیدا کړے ئے دے | د اوبو نه | بنیادم | بیا ئے جوړ کړے دے هغه | د نسب والا

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه د اوبو (نطفے) نه ئے انسان پیدا کړے دے او بیا ئے ده له نسب

وَّصِهْرًا ۭ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ۝ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او سخر گنئ والا | او دے | ستا رب | قدرت لرونکے | او دوی عبادت کوی | سوا د الله نه

او سخر گنئ ور کړے ده او ستا رب په هر څه قادر دے او دا (مشرکان) د الله تعالیٰ نه سوا هغه چا عبادت کوی

مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۭ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰي رَبِّهٖ

دهغه چا | چه نه فائده ور کوی دوی ته | او نه نقصان ور کوی دوی ته | او دے | کافر | خپل رب ته

چه نه ور ته فائده ور کولے شی او نه نقصان او کافر د خپل رب مخالفت ته ملا تړلے ده او اے نبی مونږ خو ته صرف

ظَهِيْرًا ۝ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝ قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ

شاګرځوونکے | او نه ئے لیږلے مونږ ته | مګر | زیرے ور کوونکے | او ویرہ ور کوونکے | او وایه | (چه) نه غواړم تاسو نه

دے دپاره لیږلے ئے چه خلقو ته زیرے ور کړے (دجنت) او خبردار ئے کړی (په حال د نوځ) اے نبی اته وای چه وایه چه زه نه غواړم تاسو نه

عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِلَّا مَنْ شَاۗءَ اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ۝

په دے باندے | څه اجرت (بدله) | لیکن | څوک چه | غواړی | چه اختیار کړی | خپل رب ته | لاره

په دے (دعوت) هیڅ بدله (اجرت) نه غواړم لیکن دچا چه خوښه وی چه خپل رب ته ځی سیدو لار اختیار کړی (نو ملاتړ ئے وکړی)

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ

او توکل اوکړه | په ژوندی | هغه ذات | چه مرګ پرے نه راځی | او پاکی بیانوه | سره د تعریف دهغه نه

اوته په هغه ذات باندے خان اوسپارہ چه همیشه ژوندے دے مرګ پرے نه راځی او د هغه د صفتونو سره د هغه پاکی بیانوه

وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرَا ۨ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

او کافی دے | هغه | په ګناهونو | د بندګانو خپلو باندے | خبردار | هغه ذات | چه پیدا کړی ئے دی | آسمانونه

او هغه د خپلو بندګانو د ګناهونو نه پوره خبردار دے الله هغه ذات دے چه آسمانونه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى

او زمکه | او څه چه | په مینځ د دے دواړو کښے دی | په شپږو | ورځو کښے | بیا | برابر شو

او زمکه او د دی په مینځ کښے ټول څیزونه ئے په اندازه د شپږو ورځو کښے پیدا کړل بیا په عرش باندے

عَلَى الْعَرْشِ ۚ الرَّحْمٰنُ فَسْـَٔلْ بِهٖ خَبِيْرًا ۝ وَاِذَا قِيْلَ

په عرش باندے | رحمان دے | پس تپوس اوکړه | د هغه په باره کښے | د خبردار نه | او کله چه | اووئیلی شی

مستوی (برابر شو هغه رحمان دے نو د هغه (د شان) باره کښے د هغه چا نه تپوس اوکړه چه د هغه د صفاتو معرفت لری او کله چه دے

لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۖ اَنَسْجُدُ

دوی ته | (چه) سجده اوکړئ | رحمان ته | (نو) وائی دوی | او څه دے | رحمٰن؟ | آیا مونږ سجده اوکړو

خلقو ته اووئیلی شی چه رحمان ته سجده اوکړئ (نو) وائی رحمان څوک دے؟ آیا مونږ به هغه چا ته سجده کوو

لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ۝ تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ ع

هغه چا ته | چه ته مونږ ته حکم کوے | او زیات کړی دوی لره | نفرت | برکت والا دے | هغه ذات | چه جوړ کړی ئے دی

چه ته ئے را ته حکم کوے او دا خبره د دوی نفرت نور هم زیات کړی۔ ډیر برکت والا دے هغه (الله) چه په

فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا ۝

په آسمان کښے | منزلونه | او جوړه کړے ئے ده | په هغے کښے | یوه ډیوه | او سپوږمۍ | روښانه

آسمان کښے ئے دستورونه د ښکاره کیدلو منزلونه پیدا کړی دی او په هغے کښے ئے بلیدونکے نور اور نړا کونکے سپوږمۍ پیدا کړے ده

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ

او هم الله هغه ذات دے | چه جوړه کړی ئے ده | شپه | او ورځ | یو بل پسے راتلونکی | د هغه چا د پاره | چه غواړی

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه شپه او ورځ ئے دا سے جوړ کړی دی چه یو بل پسے راځی خو دا نخښے د هغه چا د پاره (فائده مند) دی

اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ۝ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ

چه نصیحت واخلی | یا غواړی | شکر کول | او (خاص) بندګان | د رحمان | هغه خلق دی | چه ګرځی

چه د نصیحت اغستلو اراده لری یا شکر ادا کول غواړی او د رحمٰن بندګان (خو) هغه خلق دی چه په زمکه په عاجزئ سره،

عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ۝

په زمکه باندے | په ټلاره | او کله چه | خبرے کوی دوی سره | ناپوهه خلق | نو وائی دوی | د سلامتیا خبره

نرم رفتار سره او د میانه چال سره ګرځی او کله چه د ورسره جاهلان خلق خبرے کوی نو دوی ورته د سلامتیا خبره کوی

وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ۝ وَالَّذِيْنَ

اوهغه خلق دی | چه شپه تیروی | خپل رب ته | سجده کوونکی | او ولاړ | اوهغه خلق دی

اودوی هغه خلق دی چه خپل رب ته په حالت دسجده اوقیام کښی شپه تیروی او داهغه خلق دی

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا

چه وائی | اے ربه زمونږ | واړوه | زمونږنه | عذاب | د دوزخ | بیشکه | عذاب د هغے

چه دا دعا غواړی (چه) اے زمونږ ربه د جهنم عذاب زمونږ نه لرے اوساته یقیناد هغے عذاب

كَانَ غَرَامًا ۝ اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ۝ وَالَّذِيْنَ اِذَآ

دے | لازم | بیشکه هغه | ډیر بد | ځائے د آرام | اوځائے د ډیره کیدو دے | او هغه خلق دی | چه کله

هیشه لازم (تاوان) دے یقیناهغه ډیره خرابه ټیکاونره اوډیر خراب ځائے د اقامت دے اوداهغه خلق دی چه کله

اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ۝

خرچ کوی | نو نه فضول خرچی کوی | او نه شومتیا کوی | او وی | په منیځ ددے کښی | په اعتدال

خرچ کوی نو نه فضول خرچی کوی او نه تنګی (شومتیا) کوی بلکه د هغوی خرچ په اعتدال سره وی

وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ

اوهغه خلق دی | چه نه رابلی | د الله سره | مددګار | بل | او نه وژنی | نفس

اوداهغه خلق دی چه د الله تعالی سره بل هیڅ څوک مددګار نه رابلی او الله تعالی چه دچا وژل حرام کړی دی

الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ

هغه | چه حرام کړے دے | الله | مګر | په حقه (په جرم شرعی سره) | او نه زنا کوی | اوڅوک چه | اوکړی

هغه په ناحقه نه وژنی اونه زنا کوی اوڅوک چه (په حالت د کفر اوشرک کښی) دا کار اوکړی (نو) هغه به د خپلے ګناه

ذٰلِكَ يَلْقَ اَثَامًا ۝ يُّضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

دا کار | نومخامخ به شی | (سزا د) ګناه سره | دوه چنده به کړے شی | د هغه د پاره | عذاب | په ورځ | د قیامت

سزا سره مخامخ کیږی د قیامت په ورځ به د هغه عذاب دوه چنده زیاتیږی

وَيَخْلُدْ فِيْهٖ مُهَانًا ۝ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ

اوهغه به همیشه وی | په هغے کښی | ذلیله کړے شوی | مګر | هغه چا | چه توبه ئے وویسته | اوایمان ئے راوړو | اوعمل ئے وکړو

اوپه هغے کښی به همیشه ذلیل او خوار وی، مګر چا چه توبه او ویسته او ایمان ئے راوړو او نیک

عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ۗ وَكَانَ

عمل | نیک | نو دغه خلق دی | چه بدل به کړی | الله | د دوی ګناهونه | په نیکو سره | او دے

عمل ئے اوکړو نو دا سے خلقو ګناهونه به الله تعالی په نیکو بدل کړی. او الله تعالی ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے

اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاِنَّهٗ

الله | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | او څوك | چه توبه اوکړی | او عمل اوکړی | نیك | نو بیشکه هغه

او څوك چه (په حالت دایمان کښ دے ګناهونه) توبه اوباسی او نیك عمل اوکړی نو دهغهٔ توبه هم قبوله ده ځکه چه دے په

يَتُوْبُ اِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ۝ وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ ۙ وَاِذَا

رجوع کوی | الله ته | په رجوع کولو سره | او هغه خلق دی | چه ګواهی نه ورکوی | د دروغو | او کله چه

حقیقت کښ الله تعالیٰ ته پورته راګرځیدو (او دا دلیل داخلاص دے) او (دا) هغه خلق دی چه د دروغو ګواهی نه ورکوی او کله چه دوی

مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ۝ وَالَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِاٰيٰتِ

تیریږی دوی | په ناروا کار | تیریږی | په عزت | او دا هغه خلق دی | چه کله | نصیحت اوکړی شی دوی ته | په آیتونو

په ناروا (فضول) کارونو او ګناهونو باندے تیریږی نو په عزت سره مخ اړونکی تیریږی او دا هغه خلق دی چه کله ورته د خپل رب

رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوْا عَلَيْهَا صُمًّا وَّعُمْيَانًا ۝ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

د رب خپل | (لو) نه پریږدی | په هغے باندے | کافره | او راندهٔ | او دا هغه خلق دی | چه وائی

په ایتونو باندے نصیحت اوکړے شی نو په هغے پوه بندو غوږونو او په پټو سترګو په غفلت سره نه ورپریږدی او دا هغه

رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ

اے ربه زمونږه! | راکړه | مونږته | د ښځو زمونږ نه | او د بچو زمونږ نه | یخوالے | د سترګو

خلق دی چه په دعا کښ وائی اے زمونږ ربه! مونږ له د خپلو ښځو او بچو نه د سترګو یخوالے راکړه

وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ۝ اُولٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا

او جوړ کړه مونږ | د متقیانو دپاره | پیشوایان | هم دغه خلق دی | چه په بدله کښ به ورکړے شی | بنګلے | په هغے وجه

او مونږ د متقیانو مشران جوړ کړه۔ هم دغه خلق دی چه د صبر کولو په وجه به ورته بالاخانے ورکړے شی

صَبَرُوْا وَيُلَقَّوْنَ فِيْهَا تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا ۝ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

چه صبر ګړے دے | الوښ کولو په هغے کښ | په هغے کښ | دعا دوونکی | او سلام | همیشه به اوسی دوی | په هغے کښ

او هلته به ورسره فرشتے او ملګری د دعا او سلام سره ملاقات کوی په هغے کښ به همیشه اوسیږی

حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ۝ قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّيْ

ډیر خائسته دے (جنت) | ځائے د اوسیدو | او ځلے ځدیره کیدو | اووایه! | پروا نه کوی | په تاسو | رب زما

او هغه د اسیدو او دیره کیدو ډیر بهترین ځائے دے اے نبیٔ! خلقو ته اووایه که چرے تاسو الله نه را بلی خپل توحید ته نو زما رب

لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۚ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ۝

که چرے نه وے | را بلل دهغهٔ ستاسو لره | پس یقیناً | دروغ اوګڼرل تاسو | نو زر ده | چه شی به عذاب | لازم

ستاسو د عذاب هیڅ پرواه نه کوله خو اوس (اے کافرانو) تاسو توحید د الله دروغژن ګڼرلے نو سزا به لازمی وی۔

آیاتها[۲۲۷]	سورة الشعرآء مكّية	رکوعاتها[۱۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

طٰسٓمّٓ ۝١ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ

طسم | دا | آیاتونه | د کتاب | واضح دی | شاید چه ته | هلا کونکے ئے | خپل ځان لره

طٰسٓمّٓ دادهغه کتاب آیتونه دی چه حق واضحه کوی اے نبی! شاید چه ته په دے غم کښ ځان هلاکوے

اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝٣ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ

(په دے وجه) چه نه دی دوی ایمان راوړونکی | که چرے | اوغواړو مونږ | (نو) نازل به کړو مونږ | په دوی باندے

چه دوی ایمان (وے) نه راوړی؟ که مونږ (د دوی جبری ایمان) اوغواړو نو دوی ته به

مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ۝٤

د آسمان نه | یوه نخښه | نو شی | د دوی څټونه | هغے ته | عاجزی کونکی (تیټ)

د آسمان نه یوه داسے نخښه راولیږو چه هغے ته به د دوی څټونه تیټ شی

وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ

او نه راځی دوی ته | څه یاداشت (نصیحت) | د رحمان د طرف نه | نوے | مگر | وی دوی | د هغے نه

او د دوی حال خو دا دے چه د رحمن د طرف نه ورته څه نوے نصیحت راځی نو دوی د هغے نه

مُعْرِضِيْنَ ۝٥ فَقَدْ كَذَّبُوْا فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا

مخ اړونکی | پس یقیناً | دوی خرو غوڑن کړو (حق) | پس ډیر زر به راځی دوی ته | خطرناک خبرونه | د هغه څه | چه دوی به

مخ اړوی نو بس دوی حق د روغوڑن ګنړلے دے نو اوس به ورته ډیر زر د هغه څه حقیقت معلوم شی چه

بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٦ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ اَنْۢبَتْنَا

په هغے پورے | ټوقے کولے | آیا دوی نه ګوری | زمکے ته | چه څومره | راز روغون کړی دی مونږ

دوی به ورپورے ټوقے کولے آیا دے خلقو زمکے ته نه دی کتلی چه مونږ پکښ د هر قسم

فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝٧ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ

په دے کښ | د هر قسم | څیزونو | فائده مندونه | بیشکه | په دے کښ | خامخا نخښه ده

فائده مند بوتی پیدا کړی دی یقیناً په دے څیزونو کښ د الله د قدرت نخښه ده

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

او نه دی | اکثر د دوی | ایمان راوړونکی | او بیشکه | ستا رب | خامخا (هم) هغه دے | زور ور (غالب)

بیا هم په دوی کښ اکثر خلق ایمان نه راوړی او یقیناً ستا رب خامخا (هم) هغه ډیر زور آور (غالب) (دے مکذبینو ته عذاب ورکولو کښ)

الرَّحِيْمُ ﴿١٧﴾ وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰٓى اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٨﴾

مهربان | اوکله چه | آواز اوکړو | رب ستا | موسیٰ ته | چه لاړ شه | قوم | ظالمانو ته

اوډیر رحم کوونکے دے (مومنانو باندے) او دهغه وخت حال واوره کله چه ستا رب موسیٰ ته آواز اوکړو چه ظالم قوم ته ورشه

قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوْنَ ﴿١٩﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ

قوم | د فرعون ته | آیا دوی نه یریږی | اووئیل هغه | اے زما ربه | بیشکه زه | یریږم

یعنی د فرعون قوم (ته ورشه) آیا دوی د الله نه نه یریږی؟ موسیٰ اووئیل اے زما ربه ما سره دایره ده

اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿٢٠﴾ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ فَاَرْسِلْ

چه خروغژن به اوکړی هغوی ما | اوتنګه به شی | سینه زما | او اوبه نه چلیږی | ژبه زما | نو (وحی) اولیږه

چه دوی به ما دروغژن کړی۔ او زما زړه به تنګیږی او ژبه به مے نه چلیږی نو هارون ته هم

اِلٰى هٰرُوْنَ ﴿٢١﴾ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿٢٢﴾

هارون ته | او د دوی | په ما باندے | یو جرم دے | نو زهٔ یریږم | چه دوی به اووژنی ما

د نبوت پیغام اولیږه او دوی په ما باندے یو الزام د جرم لګولے دے نو ما سره یره ده چه ما اونهٔ ووژنی؟

قَالَ كَلَّا ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿٢٣﴾

اووئیل (الله) | هیڅ چرے نه | پس لاړ شئ دواړه | زمونږ د نخښو سره | بیشکه مونږ | تاسو سره | اوریدونکی یو

الله تعالیٰ ورته اووئیل هیڅ کله دا سے نه شی کیدلے تاسو دواړه زما د معجزاتو سره لاړ شئ یقین اوسائ چه مونږ درسره یو هر څه آورو

فَاْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٤﴾

پس دواړه لاړ شئ | فرعون ته | نو (ورته) اووایئ | (چه) بیشکه مونږ | رسولان | د رب | د ټولو مخلوقاتو یو

نو اوس فرعون ته ورشئ او ورته اووایئ چه مونږ د رب العالمین پیغمبران یو

اَنْ اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٢٥﴾ قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا

(چه) ته راپریږده | زمونږ سره | بنی اسرائیل | اووئیل هغه | آیا ته مونږ نه ځ پالله | په خپل کور کښ

او دے دپاره راغلی یو چه ته بنی اسرائیل مونږ سره راپریږده فرعون ورته اووئیل چه آیا مونږ

وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ

وړوکے | او تاوخت تیر کړے دے | په مونږ کښ | د خپل عمر نه | دیر کلونه | او تا کړے دے

په وړوکوالی کښ ستا پالنه نه ده کړے او تا د خپل عمر دیر کلونه زمونږ سره نه دی تیر کړی؟ او تا یو بل

فَعْلَتَكَ الَّتِيْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ قَالَ

کار خپل | هغه | چه تا کړے دے | او ته ځ | د ناشکرو نه | اووئیل هغه

حرکت (قتل) هم کړے وو او ته خو دیر ناشکره سړے ځ۔ موسیٰ اووئیل ا دغه وخت

فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا

ما کړے وو دغه کار | هغه وخت | او زهٔ ووم | د ناخبرو نه | نو زه او تښتیدم | ستاسو نه | کله چه

قتل د قبطی ما په دا سے حال کښ کړے وو چه ما ته پته نه وه (چه دے به په موکه قدر مے مړ کیږی) بیا چه کله ما سره

خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝

زه اوپریدم ستاسو نه | نو راکړو | ماته | زما رب | هوښیارتوب | اوجوړ ئ کړم زه | د پیغمبرانو نه

ستاسو نه یره پیدا شوه نو ستاسو نه اوتختیدم بیا زما رب ماته پوهه (حکمت) راکړو اوزه ئ په پیغمبرانو کښې شامل کړم

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝

او دغه | څه احسان دے | چه ته زما ډنډه کوے دهغے | په ما باندے | چه غلامان کړی دی تا | بنی اسرائیل

اودغه احسان چه ته ئ په ما باندے زما ډنډه کوے دهغے حقیقت دادے چه تا بنی اسرائیل خپل غلامان کړی دی (نو زه ستا ظلم دوے

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

اووئیل | فرعون | اوځواب دے | رب | د ټولو جهانونو ؟ | اووئیل (موسیٰ) | رب | د آسمانونو

ستا په پالنه کښې راغلے وم) فرعون اووئیل رب العالمین څه شے دے ؟ موسیٰ اووئیل هغه د ټولو اسمانونو اودزمکے اودهغه ټولو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ۝ قَالَ

او د زمکے | او څه چه | د دے دواړو په مینځ کښې دی | که چرے | تاسو | یقین کوونکی یئ | اووئیل (هغه)

شے زمونږ مالک (پروردګار) دے چه دے په مینځ کښې دی که تاسو یقین کوئ نو دے اشیاؤ کښې غور کولو سره یقین پیدا کړی فرعون

لِمَنْ حَوْلَهٗٓ اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ۝ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ

هغه چا ته | چه چاپیره ددهٔ وو | آیا | تاسو نه اوریئ | اووئیل (موسیٰ) | رب ستاسو دے | او رب | ستاسو د پلرونیکه

خپل کړ چاپیره خلقو ته ووئیل آیا تاسو (ددهٔ خبرے) اوریئ ؟ موسیٰ ورته اوئیل چه هغه ستاسو هم رب دے او ستاسو

الْاَوَّلِيْنَ ۝ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ

وړومبنو هم دے | اووئیل (هغه) | بیشکه | رسول ستاسو | هغه | چه راپرے لیږلے شوے دے | تاسو ته

د پخوانو مشرانو هم رب دے فرعون اووئیل یقین او کړئ تاسو ته چه دا کوم پیغمبر راپرے لیږلے شوے دے داخو

لَمَجْنُوْنٌ ۝ قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ

خامخا لیونے دے | اووئیل (موسیٰ) | رب دے | د مشرق | او د مغرب | اودهغه څه | چه دے دواړو په مینځ کښې دی

لیونے دے موسیٰ اوئیل چه هغه د مشرق اود مغرب هم رب دے اوددے دواړو په مینځ کښې چه څه دی دهغے هم رب دے

اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝ قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ

که چرے | تاسو | عقل لرئ | اووئیل (فرعون) | که چرے | تا اونیولو | معبود | زما نه سوا

که تاسو د عقل نه کار واخلئ فرعون اووئیل (اے موسیٰ یاد ساته) که چرے تا زما نه سوا څوک

لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ۝ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ

نو خامخا زهٔ به او گرځوم تا | د قیدیانو نه | اووئیل (موسیٰ) | اګر که زهٔ راوړم تا ته | یو څیز (دلیل)

قدرت والا او منلو نو زه به د قید کړم موسیٰ ورته اووئیل که زه تا ته یو واضح دلیل پیش کړم

مُّبِيْنٍ ۝ قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝

ښکاره | اووئیل (فرعون) | پس راوړه ته | هغه | که چرے | ئ ته | د رشتینو نه

نو بیا هم ؟ فرعون اووئیل څه که ته رشتنی ئ نو هغه (دلیل) پیش کړه

فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ۝٣٢ وَّنَزَعَ يَدَهٗ

پس اوغورزوله هغه | امسا خپله | پس ناګهانه | هغه (شوه) | یو اژدها | ښکاره | اوراوېستلو هغه | لاس خپل

بس موسیٰ خپله امسا اوغورزوله نو فورًا هغه یوه غټه اژدها (جوړه) شوه او خپل لاس ئے راوېستلو

ع ٢ فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ۝٣٣ قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ

پس ناګهانه | هغه شو | سپین | د کتونکو دپاره | اووئیل (فرعون) | سردارانو ته | چه چاپیره دهغهٔ نه وو

نو د کتونکو دپاره تك سپین شو فرعون خپل کیر چاپیره (ناست) مشرانو ته اووئیل

اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ۝٣٤ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ

چه بیشکه | دا | خامخا جادوګر دے | ډیر پوهه | غواړی | چه تاسو اوباسی | د زمکے ستاسونه

یقیناً دا (خو) یو ماهر جادوګر دے. دے غواړی چه دخپل جادو په ذریعه تاسو د خپلے زمکی نه اوباسی

بِسِحْرِهٖ ۖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ۝٣٥ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَابْعَثْ

په جادو خپل سره | پس څه | حکم کوئ تاسو | اووئیل هغوی | مهلت ورکړه هغه | او ددهٔ ورور ته | او اولیږه

نو ستاسو څه رائے (مشوره) ده هغوی ورته اووئیل دے دواړو ته فی الحال مهلت ورکړه او

فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ۝٣٦ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ۝٣٧ فَجُمِعَ

په ښارونو کښې | راجمع کوونکی | (چه) راولی هغوی تاته | هر یو | جادوګر | پوهه | پس راجمع کړی شو

ټولو ښارونو ته راجمع کونکی کسان اولیږه چه هر یو پوهه جادوګر تاته راولی بس یوه ورځ

السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ۝٣٨ وَّقِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ

جادوګران | مقرر وخت | د ورځے | معلومے ته | او اووئیل شو | خلقو ته | (چه) آیا تاسو

په مقرر وخت باندے ټول جادوګران راجمع کړی شو او خلقو ته (هم) اووئیلے شو چه تاسو ټولو لره هم

مُّجْتَمِعُوْنَ ۝٣٩ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ۝٤٠

جمع کیدونکی یئ | کیدے شی چه | مونږ پروان شو | جادوګرانو پسے | که چرے | شول دوی | غالب (زور آور)

جمع کیدل پکار دی. دے دپاره که چرے جادوګران غالب (زوراور) شو نو چه مونږ په دوی پسے روان شو

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ اَئِنَّ لَنَا لَاَجْرًا

پس هرکله | چه راغلل | جادوګران | اووئیل هغوی | فرعون ته | آیا وی به | زمونږ دپاره | څه بدله

بیا چه کله جادوګران راغلل نو فرعون ته ئے اووئیل چه دا خبره (خو) یقینی ده کنه چه که چرے

اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ۝٤١ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ اِذًا

که چرے | شو | مونږ | غالب | اووئیل هغه | آو | اوبیشکه تاسو به | دغه وخت هئ

مونږ غالب شو نو مونږ ته به څه انعام (بدله) ملاویږی؟ فرعون ورته اووئیل بالکل او یقیناً تاسو به په دغه وخت

لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ۝٤٢ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ۝٤٣

خامخا د نزدیکانو نه | اووئیل | هغوی ته | موسیٰ | اوغورزوئ | هغه څه | چه تاسو ئے | غورزونکی یئ

په نزدیکانو (مقربینو) خلقو کښې داخل کړے شئ موسیٰ جادوګرانو ته اووئیل تاسو چه څه غورزول غواړئ هغه اوغورزوئ

فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ

پس اوغورزولەدوی | پرې خپل | او امساکانې خپلې | اووئیل دوی | قسم دے پەعزت | د فرعون

نو هغوی خپل پرې او امساکانې اوغورزولے اووے ویل چه د فرعون په عزت قسم دے

اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ فَاَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ

چه بیشکه مونږ به | خامخا غالب یو | پس اوغورزوله | موسیٰ | امسا خپله | نو ناکهانه | هغے

چه مونږ به خامخا غالب کیږو بیا موسیٰ خپله امسا اوغورزوله نو فورا ئے هغه

تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿٤٥﴾ فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوْٓا

تیروول | هغه څه | چه دوی دروغ جوړ کړی وو | پس اوغورزولے شو | جادوگران | سجده کوونکی | اووئیل هغوی

هر څه تیروول شروع کړل چه دوی خودساخته جوړ کړی وو پس جادوگران بے اختیاره په سجده پریوتل (او) وے وئیل

اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالَ

مونږ ایمان راوړے دے | په رب | د مخلوقاتو | په رب | د موسیٰ | او د هارون | اووئیل (فرعون)

چه مونږ په رب العالمین چه د موسیٰ او د هارون رب دے ایمان راوړو فرعون ورته اووئیل

اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ

آیا تاسو ایمان راوړو | په ده باندے | مخکښې دے نه | چه زه اجازت اوکړم | تاسو ته | بیشکه دے | خامخا ستاسو مشر دے

آیا تاسو زما د اجازت نه (بغیر) مخکښې په ده باندے ایمان راوړو؟ یقیناً دا ستاسو (هغه) مشر دے

الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۭ لَاُقَطِّعَنَّ

هغه | چه ښودلے ئے دے تاسو ته | جادو | پس ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | زه به خامخا پریکړم

چه تاسو ته ئے جادو ښودلے دے ډیر زر به تاسو ته د دے انجام معلوم شی زه به ستاسو

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٩﴾

لاسونه ستاسو | او خپے ستاسو | ادل بدل | اوزه به خامخا په سولئ کړم تاسو | ټول

د یو غاړے لاس او د بلے غاړے خپے پریکړم. او تاسو ټول به په سولئ زوړند کړم

قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۭ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّا نَطْمَعُ

اووئیل هغوی | هیڅ پروا نشته | بیشکه مونږ | رب خپل ته | واپس تلونکی یو | بیشکه | مونږ طمع لرو

هغوی ورته جواب کښې اووئیل دا هیڅ د نقصان خبره نه ده زمونږ یقین دے چه مونږ به خپل رب ته واپس کیږو

اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥١﴾ ع

چه معاف به کړی | مونږ ته | رب زمونږ | ګناهونه زمونږ | په دے وجه | چه مونږ یو | د اول | ایمان راوړونکو نه

زمونږ امید دے چه زمونږ رب به زمونږ ګناهونه په دی وجه معاف کړی چه مونږ د ټولونه وړومبی ایمان راوړے دے

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿٥٢﴾

او مونږ وحی اوکړه | موسیٰ ته | چه دشپے شپے بوځه | بندګان زما | بیشکه تاسو پسے به | درتلل کیدے شی

او مونږ موسیٰ ته وحی اولیږله چه زما بندګان دشپے بوځه یقیناً تاسو پسے به درتلل کیږی

فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ

پس اولیږل | فرعون | په ښارونو کښې | راجمع کوونکی | بیشکه | دا خلق | خامخایوه ډله ده

نو (پس) فرعون په ښارونو کښې سپاهیان اولیږل (او وئیل چه) یقیناً دا یو وړو کے شان ډله ده

قَلِيْلُوْنَ ﴿٥٤﴾ وَاِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ﴿٥٦﴾

لږه شان | اوبیشکه دوی | مونږلره | خامخاغصه کونکی دی | اوبیشکه مونږ | خامخاتول | هوښیاران یو

او یقیناً دوی مونږ غصه کوی او یقیناً مونږ تول په سازو سامان او په اسبابو پوره یو پس (دغه شان)

فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٥٧﴾ وَّكُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿٥٨﴾

پس اوویستل مونږ دوی | د باغونو نه | او د چینو نه | او د خزانو نه | او د ځایونو | عزتمندونه

مونږ هغوی د باغونو او د چینو او د خزانو او د عزتمندو ځایونو نه راوویستل هم دغه شان وشوه او بنی اسرائیل مو

كَذٰلِكَ وَاَوْرَثْنٰهَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿٥٩﴾ فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِيْنَ ﴿٦٠﴾

دغه شان | اوورکړل مونږ هغه | بنی اسرائیلو ته | پس هغوی ورپسے شول په دوی پسے | دنور ختلو په وخت کښې

دغه شان د هرڅه وارثان جوړ کړل غرض داچه تول (فرعونیان) په هغوی پسے د نور خاته په وخت کښې روان شو

فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا

پس هرکله | چه اولیدل یوبل | دواړو ډلو | اووئیل | ملګرو | د موسیٰ | چه بیشکه مونږ

بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ۝ وَكَانَ فِي الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ

بلکه | تاسو | یو قوم ئے | چه ازمائیلی کیږئ | او وو | په ښار کښی | نهه

البته تاسو داسے خلق یئ چه ازمیښت درباندے کولے شی او په دغه ښار کښی نهه

رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ۝ قَالُوْا

کسان | چه فساد به ئے کولو | په زمکه کښی | او اصلاح ئے نه کوله | اووئیل هغوی یو بل ته

کسان داسے وو چه په زمکه کښی ئے فساد خورولو او اصلاح ئے نه کوله هغوی خپلو کښی یو بل ته اووئیل

تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ

قسمونه اوخوری | په الله | (چه) خامخا مونږ به دشپے حمله کوو په ده | او په کورواله ودهٔ باندے | بیا به | خامخا مونږ وایو

چه ټول د الله په نوم قسمونه اوخوری چه مونږ به په صالح او د هغه په کور والو دشپے حمله کوو او بیا به ددهٔ

لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۝

وارث ددهٔ ته | چه مونږ نه یو حاضر شوی | په وخت دوژلو | د کورنۍ ددهٔ نه | او بیشکه مونږ | خامخا یو رښتینی

وارث ته وایو چه مونږ خو دهغه د کور والو د هلاکت په وخت کښی هم موجود هم نه وو او یقین و کړئ چه مونږ رښتیا وایو

وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝

او دوی چل جوړ کړو | چل | او مونږ هم تدبیر جوړ کړو | تدبیر | او دوی | نه پوهیدل

او دوی مکرونه او حیلے جوړے کړے او مونږ هم تدبیرونه جوړ کړل د حفاظت د صالح او د هلاکت د دوی او دوی نه پوهیدل

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ

پس اوګوره | (چه) څنګه | شو | انجام | د چلونو د دوی | بیشکه | مونږ هلاک کړل دوی

نو اوس ته اوګوره چه دهغوی د چلونو او حیلو انجام څنګه شو؟ یقیناً مونږ هغوی او د هغوی

وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةً ۢ بِمَا ظَلَمُوْا ؕ

او قوم د دوی | ټول | پس دغه دی | کورونه د دوی | چه راپریوتلی دی | په سبب د ظلم | چه دوی ظلم کړے وو

ټول قوم تباه کړل نو (اوس) دغه د هغوی کورونه دی چه د هغوی د ظلم د وجې ویجاړ پراته دی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ

بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده | دپاره د هغه قوم | چه پوهیږی | اوبچ کړل مونږ | هغه خلق

یقیناً په دے واقعه کښې د هغه خلقو دپاره د عبرت نخښه ده چه د پوهے نه کار اخلی او کومو خلقو چه

اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٣﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ

چه ایمان ځړاوړے وو | او هغوی | یریدل (دالله نه) | او لوط | کله چه | اووئیل هغه | قوم خپل ته

ایمان راوړے وو او تقوٰی ئے اختیار کړے وه هغوی مونږ بچ اوساتل او لوط یاد کړه څه وخت چه هغه خپل قوم ته اووئیل

اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿٥٤﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ

آیا تاسو راتلل کوئ | بے حیائی ته | او تاسو | کورئ (یوبل ته) | آیا تاسو | خامخا راتلل کوئ | سړو ته

آیا تاسو د بے حیائی کار کوئ سره د دے چه یوبل وینئ کورئ؟ آیا تاسو د خپلو بښځو په ځائے سړو سره

شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿٥٥﴾

په شهوت سره | تجاوز کولکی د بښځو نه | بلکه | تاسو | یو قوم ئے | چه د جهالت کار کوئ

بد فعلی کوئ (خپل شهوت پوره کوئ) حقیقت دا دے چه تاسو داسے خلق ئے چه د جهالت کار کوئ۔

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ

پس نه وو | جواب | د قوم د هغهٗ | مګر | دا چه | هغوی اووئیل | اوباسئ | کورنئ د لوط

نو د هغه د قوم جواب دا دی خبرے نه سوا دا چه ووچه یوبل ته ئے اووئیل چه د لوط کورنئ د خپل کلی نه اوباسئ (ځکه چه)

مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ

د کلی خپل نه | بیشکه دوی | دا سے خلق دی | چه ځان پاک پاک کوی | پس نجات ورکړو مونږ هغه ته | او کورنئ د هغهٗ ته

دوی ځانونه پاک پاک بنکاره کوی پس مونږ لوط او د هغه کورنئ بچ کړه سوا د هغه د بښځے نه چه د هغے باره کښې مونږ

اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۫ قَدَّرْنٰهَا مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

سوا | د بښځے د هغهٗ نه | مقرر کړے وه مونږ هغه | په وروستو پاتے شوو کښې | او مونږ باران راوورولو | په هغوی باندے

فیصله کړے وه چه وروستو پاتے کیدونکو کښې به شامله وی او مونږ په هغوی باندے د ډیر ناشنا باران اوورولو نو په

مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٥٨﴾ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ

(ناشنا) باران | پس ډیر بد وو | باران | د ډیرو ورکړے شوو | او دا وایه | (چه) حمد ونه دی | الله لره | او سلامتیا ده

هغه خلقو ډیر خراب باران اوورولی شو چه دالله د عذاب نه یَرولی شوی وو اے نبیؐ! دا وایه ټول تعریفونه دالله دپاره دی

عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٩﴾

په بندګانو د هغهٗ | هغه کسان | چه غوره کړی ئے دی | آیا الله | غوره دے | یا هغه څوک | چه دوی شریکوی

او د هغه په هغه بندګانو د سلامتیا وی چه هغه چوڼ کړی دی آیا الله تعالیٰ غوره دے که هغه څوک چه دوی ئے شریکوی؟

أَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ

یاهغه څوک | چه پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | اوراوړلی دی | ستاسو دپاره | د آسمان له

که هغه ذات (غوره) دے چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړی دی او د آسمان له ئے ستاسو دپاره

مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ

او به | پس راز رغون کړی دی مونږ | په هغے سره | باغونه | تازګی والا (ښائسته) | له وو ممکن | تاسو لره

او به (باران) راوړلے دی، بیا مونږ د هغے او بو په ذریعه ښائسته ښائسته باغونه راتو کولی دی، د هغے وئے راز رغونول

اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ۗ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ بَلْ هُمْ قَوْمٌ

د اچه راز رغون کړئ | وئے ډهغے | آیا شته (بل) تصرف کوونکے | د الله سره | بلکه | دوی (داسے) قوم دے

ستاسو په وس کښ له وو نو آیا د الله سره بل څوک د دے کارونو واکدار شته؟ نه بلکه دا خلق د حق له اوړی

يَّعْدِلُوْنَ ۗ اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ

چه اوړی (د حق له) | یاهغه څوک | چه جوړه کړے ځمکه | زمکه | ځای د قرار | اوجوړ کړی دی | په مینځ د هغے کښ

که هغه ذات غوره دے چه زمکه ئے (د انسانانو او ځناورو دپاره) د قرار ځای جوړ کړے دے او د هغے په مینځ کښ ئے ټهروونکه روان

اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ

ټهروونکه | اوجوړ کړی دی | د هغے دپاره | غرونه | اوپیدا کړے دی | په مینځ | د دوو دریابونو کښ | یوه پرده

کړی دی او د هغے د تینګولو دپاره ئے غرونه پیدا کړی دی او د دوو دریابونو په مینځ کښ ئے یوه پرده (دیوال) پیدا کړے ده

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۗ اَمَّنْ يُّجِيْبُ

آیا بل واکدار شته | د الله سره | بلکه | اکثر د دوی | له پوهیږی | آیا هغه څوک | چه سوال قبلوی

آیا د الله سره بل تصرف کوونکے شته؟ نه، بلکه په دوی کښ اکثر خلق په حقیقت نه پوهیږی که هغه ذات غوره دے

الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ

د ډیر ناچاره | کله چه | دعا غواړی د هغه له | او لرے کوی | تکلیف | او جوړوی تاسو | خلیفه کان

چه د ناقلاره (ناچاره) بنده فریاد اوری کله چه ورته هغه بلنه (فریاد) کوی، او تکلیف (ئے) لرے کوی او په زمکه کښ تاسو

الْاَرْضِ ۗ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۗ اَمَّنْ

د زمکے | آیا شته بل واکدار | د الله سره | ډیر لږ | نصیحت قبلوئ تاسو | یا هغه څوک

خلیفه کان جوړوی؟ آیا د الله سره بل څوک [illegible] ئے شته؟ نه بلکه ډیر لږ تاسو نصیحت قبلوئ

يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ

چه لار بنائی تاسو ته | په تیارو | د اوچه | او دریاب کښ | او هغه څوک | چه رالیږی | هوا کانے

که هغه ذات چه تاسو ته د وچے او د دریاب په تیارو کښ لار بنائی او هغه ذات چه د خپل رحمت (باران) له مخکښ زیری ورکولکی

بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۗ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ تَعٰلَى اللّٰهُ

د زیری | مخکښ د رحمت خپل له | آیا شته بل څوک واکدار | د الله سره | ډیر اوچت دے | الله

هوا کانے رالیږی آیا د الله سره بل څوک معبود شته؟ نه (هرگز نه) الله د هغه شرک له ډیر اوچت دے

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ

هغه څه نه | چه دوی ئې شریکوی (هغه سره) | یا هغه څوک | چه اول خلق پیدا کوی | مخلوق | بیا به ئې | دوباره پیدا کوی
چه دا خلق ئې (ورسره) کوی که هغه ذات غوره دے چه مخلوق ئې په اول خلق پیدا کړے دے او بیا به ئې دوباره (هم) پیدا کوی

وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ

او هغه څوک | چه رزق درکوی تاسو ته | د آسمان | او د زمکے نه | آیا شته بل څوک واکدار | الله سره
او هغه ذات چه د آسمان او د زمکے نه تاسو له رزق درکوی آیا د الله سره بل څوک واکدار شته؟

قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ قُلْ لَّا يَعْلَمُ

اووایه | راوړئ | یقینی دلیل خپل | که چرے | یئ تاسو | رشتینی | اووایه | نه پوهیږی
اے نبئ! ته ورته اووایه که تاسو رشتنی یئ نو خپل دلیل پیش کړئ (اے نبئ دے خلقو ته) اووایه چه دالله نه سوا

مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ وَمَا يَشْعُرُوْنَ

هغه څوک | چه دی په آسمانونو | او په زمکه کښ | په غیبو باندے | سوا | د الله نه | او دوی نه پوهیږی
په آسمانونو او په زمکه کښ هیڅ څوک په غیبو نه پوهیږی او نه ورته دا پته شته چه

اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ۝ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ ۛ بَلْ هُمْ

چه کله به | دوی راپاڅولی شی | بلکه | ختم شوے دے | علم د دوی | د آخرت په باره کښ | بلکه | دوی دی
کله به دوی د قبرونو نه راپاڅولی شی بلکه د آخرت په باره کښ د دے کافرانو نه د بعضے خلقو علم ختم شوے دے

فِىْ شَكٍّ مِّنْهَا ۛ بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ ع

په شک کښ | د دغے نه | بلکه | دوی | د دغے نه | ړانده دی | او وائی | هغه خلق
او بعضے د دوی نه دغے په باره کښ په شک کښ پراته دی او بعضے د دغے نه ړانده شوی دی او کافران وائی

كَفَرُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا وَّاٰبَآؤُنَآ اَئِنَّا لَمُخْرَجُوْنَ ۝

چه کفر ئې کړے دے | آیا کله چه | شو مونږ | خاورے | او پلاران زمونږ | (نو) آیا مونږ به | خامخا راویستل کیږو
چه کله مونږ او زمونږ پلار لیکه خاورے خاورے شو نو آیا مونږ به د قبرونو نه دوباره راویستل کیږو؟

لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ ۙ اِنْ هٰذَآ

یقیناً | وعده شوے وه | د دے | زمونږ سره | او زمونږ پلار انو سره | مخکښ د دے نه | نه دی دا
دا ښے واعدے خو پخوا نه مونږ سره او زمونږ پلار نیکه (مشرانو) سره کیږی دا خو بس د پخوانو خلقو

اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا

مګر | قصے | د پخوانو خلقو | اووایه | اوګرځئ | په زمکه کښ | نو اوګورئ
قصے دی چه راانقل کیږی (اے نبئ ته دوی ته) اووایه چه لږ په زمکه کښ اوګرځئ او اوګورئ چه

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ۝ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ

چه څنګه | شو | انجام | د مجرمانو | او ته مه غمژن کیږه | په دوی باندے | او مه کیږه
د مجرمانو څه انجام شو؟ او (اے نبئ!) ته د دے کافرانو په حال غم مه کوه او دستا خلاف چه دوی د مکر کیږی نه

فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ

زړه تنګے | دهغه څه نه | چه دوی ځنډ پیر کوی | او وائی دوی | (چه) کله به وی | دا | وعده

(چا لونه) کوی د هغے دوے زړه مه تنګوه او دوی تاسو ته وائی چه که چرے تاسو رشتینی یئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٧١﴾ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ رَدِفَ لَكُمْ

که چرے | یئ تاسو | رشتینی | اووایه | یقینی ده | دا خبره چه شی | نزدے | تاسو ته

نو دا وعده به کله پوره کیږی؟ ته ورته اووایه چه کیدے شی (څه بعیده نه ده) چه کوم عذاب تاسو دومره زر غواړئ

بَعْضُ الَّذِيْ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ فَضْلٍ

بعض | هغه (عذاب) | چه تاسو ئے زر غواړئ | او بیشکه | رب ستا | خامخا د فضل والا دے

دهغے څه حصه تاسو ته بلکل نزدے راغلے وی او حقیقت دا دے چه ستا رب په خلقو باندے (په ورو ستو کولو د عذاب سره)

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ

په خلقو باندے | لیکن | اکثر د دوی نه | شکر نه اوباسی | او بیشکه | رب ستا

فضل کونکے دے لیکن اکثر خلق شکر نه اوباسی او یقین او کړه چه ستا رب هغه ټولے

لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَمَا

خامخا پوهیږی | په هغه څه | چه پټوی ئے | سینے د دوی | او په هغه څه | چه دوی ئے ښکاره کوی | او نیشته

خبرے پیژنی چه د دوی په سینو کښ پټے پرتے دی او هغه څه (هم پیژنی) چه دوی ئے ښکاره کوی

مِنْ غَآئِبَةٍ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٧٥﴾

هیڅ یو پټ څیز | په آسمان | او په زمکه کښ | مګر | (هغه دے) په کتاب | روښانه کښ

او په آسمان او زمکه کښ دا سے هیڅ یو پټ څیز نشته چه هغه په لوح محفوظ کښ درج شوی نه وی

اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَكْثَرَ الَّذِيْ

بیشکه | دا | قرآن | بیانوی | په بنی اسرائیلو باندے | ډیرے | هغه خبرے

حقیقت دا دے چه دا قرآن بنی اسرائیلو ته هغه ډیرے خبرے واضح کوی چه

هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٧٦﴾ وَاِنَّهٗ لَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٧٧﴾

چه دوی | په هغے کښ | اختلاف کوی | او بیشکه دا | خامخا هدایت | او رحمت دے | د مؤمنانو دپاره

هغوی پکښ اختلاف کوی. او یقیناً دا د مومنانو دپاره (د) هدایت او رحمت (کتاب) دے.

اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ بِحُكْمِهٖ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ﴿٧٨﴾

بیشکه | رب ستا | فیصله به کوی | په مینځ د دوی کښ | په خپل حکم سره | او هغه دے | ډیر زور ور (غالب) | ډیر پوهه

(او) یقیناً ستا رب به په خپل حکم (سره) د دوی ترمینځه فیصله او کړی او هغه ډیر زور ور او ډیر حکمت والا ذات دے.

فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِيْنِ ﴿٧٩﴾ اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ

نو ته توکل کوه | په الله باندے | بیشکه ته ئے | په حق | واضح باندے | بیشکه ته | نه ئے اوروے

نو (اے نبی) ته په الله باندے توکل (بهروسه) کوه یقیناً ته په ښکاره حق باندے ئے یاد ساته (چه) ته کافرانو ته چه پشان دمړو دی

الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٨٠﴾

مړو ته | اوته نشے اوروے | کنړو ته | آواز (بلنه) | هرکله چه | هغوی اوګرځوی مخوله | شا کونکی

په نه آوریدلو کښې خپله خبره (دعوت) نشے اوروے اونه ته کنړو ته خپل آواز اوروے شے خاصکر کله چه هغوی شا کړی اوروان شی

وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِى الْعُمْىِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا

او نه ئے ته | لارې ښودونکے | رندو ته | د کمراهۍ د هغوی نه | ته (خو) نشے اوروے | مګر

اونه ته راندې خلق د کمراهۍ نه سمے لارے ته راوستلے شے ته (خو) هم هغه چا ته خبره (دعوت) اوروے شے

مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ

هغه چا ته | چه ایمان راوړی | زمونږ په آیتونو | پس دوی | مسلمانان دی | اوکله چه | پوره شی | خبره (فیصله)

چه زمونږ په آیتونو ایمان لړی او بیا عمل کولو ته غاړه کیږدونکی دی اوکله چه په دوی باندے

عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ ۙ

په دوی باندے | (نو) مونږ به راوباسو | د دوی دپاره | یو څناور | د زمکے نه | چه خبرے به کوی دوی سره

د عذاب د پوره کیدو وخت راشی نو مونږ به د دوی دپاره د زمکے یو څناور راوباسو چه دوی سره به د دغه قبلیدو د ایمان خبرے کوی

اَنَّ النَّاسَ كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ ع

څکه چه بیشکه | خلق | به وی | چه زمونږ په آیتونو | به یقین نه کوی | او په هغه ورځ | چه راجمع به کړو مونږ

د دے وجے نه چه خلق (به) زمونږ په آیتونو یقین نه لړی او (هغه ورځ هیره نه کړئ) کله به چه مونږ د هر امت نه د هغه

مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّنْ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿٨٣﴾

د هر یو | امت نه | یوه ډله | د هغه چا نه | چه دروغژن ګڼړی | آیتونه زمونږ | پس دوی به | ډلې ډلې کړے شی

خلقو یوه یوه ډله راجمع کړو چه زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼړل بیا به دوی په ډلو (صفونو) کښې تقسیم کړے شی

حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوْ قَالَ اَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِىْ وَلَمْ تُحِيْطُوْا

تر دے | چه کله | راشی دوی | او به وائی (الله) | آیا دروغ ګڼړل تاسو | آیتونه زما | او (حال دا دے چه) احاطه نه وه کړے تاسو

تر دے چه کله دوی ټول راشی نو الله به ورته اووائی (چه) آیا تاسو زما آیتونه دروغ ګڼړل و وحالانکه تاسو په هغے حان

بِهَا عِلْمًا اَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ

په هغے باندے | په علم سره | یا نور څه وو | چه تاسو به | کول؟ | او واقع به شی | فیصله | په دوی باندے

پوره پوهه کړے نه وو بلکه دے نه علاوه تاسو نور څه (خراب) کارونه کول او د دوی د ظلم په وجه به په دوی باندے

بِمَا ظَلَمُوْا فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا

څکه چه | دوی ظلم کړے دے | پس دوی به | خبرے نشی کولے | آیا دوی نه ګوری | چه بیشکه | مونږ جوړه کړے ده

د عذاب فیصله پوره شی او دوی به خبرے قدرے هم نشی کولے آیا دوی دیته نه ګوری چه مونږ

الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ

شپه | چه دوی آرام اوکړی | په هغے کښې | او ورځ | روښانه | بیشکه | په دے کښې

شپه (تیارے والا دے دپاره پیدا کړے ده چه دوی پکښې آرام اوکړی، اوورځ مو روښانه کړے ده (چه دوی پکښې کسب اوکړی)

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَفَزِعَ

خامخا نخښې دی | دپارې هغه قوم | چې ایمان راوړی | اوپه هغه سرې | چې پوهیږي هغه اووهلی شی | په شپیلۍ کښې | نو اوبه ګډوډ

یقیناً په دے کښې دهغه چا دپارې ډیرے نخښے ډیرت دی چې ایمان لری اوپه کومه ورځ چې شپیلۍ به پوک وهلے شی

مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ

هغه څوک | چې آسمانونو کښې دی | اوهغه څوک | چې په زمکه کښې دی | سوا | دهغه چا نه | چې اوغواړی | الله

نو د آسمانونو او زمکے ټول مخلوق به اویریږی سوا د هغه چا نه چې الله ے ښیګ کول غواړی

وَكُلٌّ اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً

اوهریو به | راځی الله ته | عاجزی کونکی | اوته (به) ولاړے | غرونه | (چې) ګمان کوے ته په هغے باندے | ګلک په ځای ولاړ

اوټول به الله ته عاجزه (ذلیله) راځی او (لږ) ته غرونه ولاړے نو دا خیال کوے چې دا به خپل ځای ګلک ولاړ دی

وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ؕ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اَتْقَنَ

اوهغه به | روان وی | په شان د وریځو | کاریګری | د الله | هغه (الله) | چې هغه مضبوط کړے دے

خو په هغه ورځ د وریځو په شان روان وی، دا هر څه د هغه الله کاریګری ده چې هر یو څیز ے

كُلَّ شَيْءٍ ؕ اِنَّهٗ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٨٨﴾ مَنْ جَآءَ

هر یو | څیز | بیشکه هغه | پوره خبر دے | په هغه څه | چې تاسو ے کوئ | څوک چې | راځی

ډیر مضبوط جوړ کړے دے یقیناً هغه ستاسو د ټولو کارونو نه پوره خبر دے چا چې نیکی (کلمه د توحید) راوړه

بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ

د نیکۍ سره | نو هغه دپاره | ډیره غوره بدله ده | دهغے نه | اودوی به | د ډیرے | د دغه ورځے نه

نو هغه ته به د هغے په وجه ډیره ښه (غوره) بدله ملاؤ شی اودوی به د دغے ورځے ډیرے نه په امن وی

اٰمِنُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ ؕ

په امن وی | اوڅوک چې | راځی | د ګناه سره | نو لسکور به اوغورځولے شی | مخونه دهغوی | په اور کښې

اوچا چې بدی (شرک او کفر) راوړو نو هغوی به په اور کښې پرمخے اوغورځولے شی اوورته به اووایلے شی چې دا تاسو ته صرف

هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّمَآ اُمِرْتُ

تاسو ته (به) سزا شی جرګولے | مګر | دهغه څه | چې تاسو به | کول | بیشکه | حکم کړے شوے دے ماته

دهغه عملونو سزا ملاویږی چې تاسو به کول (اے نبی! دے خلقو ته اووایه چې) ماته دا حکم شوے دے چې زه

اَنْ اَعْبُدَ رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِيْ حَرَّمَهَا

چې عبادت اوکړم | د رب | د دے | ښار | هغه (مالک) | چې عزت ے ورکړے دے دیته

د دے ښار د (هغه) رب (مالک) بندګی اوکړم چې دے له ے عزت ورکړے دے

وَلَهٗ كُلُّ شَيْءٍ ۫ وَّاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ

اوهم دهغه (په اختیار کښې) دے | هر یو څیز | اوماته حکم کړے شوے دے | چې زه شم

اوهر یو څیز دهغه (په اختیار کښې) دے اوماته دا حکم (هم) شوے دے چې زه دې په حکم منونکو خلقو کښې

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى

د مسلمانانو نه | اودا چه | زه ولولم | قرآن لره | پس چاچه | هدایت اومومندلو

شامل اوسیږم اودا (حکم راته هم شویدے) چه زه (دې) قرآن ولولم نو اوس کوم کس چه لیغه لار اختیار کړی

فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ

نو بیشکه | هغه هدایت اومومندلو | دخپل ځان دپاره | اوڅوک چه | گمراه شو | نو ته اووایه | (چه) بیشکه

نو هم دخپلے فائدے دپاره ئے اختیار وی اوڅوک چه گمراهی اختیار کړی نو ته اووایه زه خو بس (صرف)

اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ۝ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ

زه خویم | د ډیرو ورکوونکو نه | اوته اووایه | (چه) ټول حمدونه | دالله دپاره دی | زر ده چه هغه به اوښائی تاسو ته

خلقو لره ډیرو ډکے یم اوته اووایه چه ټول حمدونه دالله دپاره دی هغه به ډیر زر تاسو ته خپلے نخښے

اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

خپلے نخښے | بیاتاسو به اوپیژنئ هغے لره | اونه دے ستاربّ | بے خبره | دهغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ

(نمونے دعذاب) اوښائی اوتاسو به ئے اوپیژنئ. او ستاربّ ستاسو دعملونو نه بے خبره نه دے.

آیاتها [٨٨]	سورة القصص مكّية	رکوعاتها [٩]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ لوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

طٰسٓمّٓ ۝ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝ نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ

طسم | دا دی | آیتونه | د کتاب | واضحه | مونږ لولو | تاته | څه خبر (حال)

طاسین میم: دا دهغه کتاب آیتونه دی چه حق او باطل واضحه کوی (اے نبیؐ!) مونږ د مومنانو د فائدے دپاره

مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ اِنَّ فِرْعَوْنَ

د موسیٰؑ | او د فرعون | په حقه | دپاره دهغه قوم | چه ایمان راوړی | بیشکه | فرعون

تاته د موسیٰؑ او د فرعون بعضے رښتینی حالات بیانوو۔ حقیقت دادے چه فرعون په زمکه کښ

عَلَا فِي الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ

لوئی کړے وه | په زمکه کښ | اوجوړ کړی ځوو | اوسیدونکو (خلق) د هغے | ډلے ډلے | (چه) کمزورے کوله ئے

ډیره سرکشی اختیار کړے وه او د هغے (ملک) اسیدونکی خلق ئے په مختلفو ډلو کښ تقسیم کړی وو چه

طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۭ

یوه ډله | د هغوی نه | ذبح کول به ئے | خامن د هغوی | اوڑوندئ به ځوی ینبودلے | زنانه (ښځے) د هغوی

په هغوی کښ ئے یوه ډله کمزورے کړے وه او د هغوی خامن به ئے ذبح کول او جینکئ به ئے ورله ژوندئ پریښودلے

اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ

پیشکه هغه | وو | د فساد کولکو نه | اومونږ غوښتل | چه احسان اوکړو | په هغه خلقو باندے

یقیناً فرعون ډیر فساد خورولکے ووا او مونږ دا غوښتل چه کوم خلق په زمکه (ملک) کښ کمزوری کړی شوی وو

اسْتُضْعِفُوْا فِي الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ

چه کمزوری کړے شوی وو | په زمکه کښ | اوجوړ کړو مونږ هغوی | امامان (مشران) | اوجوړ کړو مونږ هغوی

په هغوی باندے احسان اوکړو او پیشوایان ئے جوړ کړو او هم هغوی د دے ملک

الْوٰرِثِيْنَ ۝ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْاَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ

وارثان | اوطاقت ور کړو مونږ | هغوی ته | په زمکه کښ | او اوښایو | فرعون | او هامان ته

وارثان جوړ کړو او هغوی له په زمکه کښ اقتدار (مضبوطیا) ور کړو او فرعون، هامان

وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ۝ وَاَوْحَيْنَآ

اولښکرو ئے دوی دواړو ته | د هغوی (دلاس) نه | هغه څه | چه دوی (به) ترے | یریدل | اومونږ الهام اوکړو

او د دوی لښکرو ته د بنی اسرائیلو هغه څه اوښایو د څه نه چه دوی یریدل۔ اومونږ د موسیٰ

اِلٰى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ

مور د موسیٰ ته | چه ئے ورکړه دده ته | پس کله چه | ته اویریږے | په ده باندے | نو اوغورځوه ده لره

مور ته الهام اوکړو چه ته ئے دے (ماشوم) له پټ ورکوه بیا چه کله ته د ده په باره کښ خطره محسوس کړے نو دریاب ته ئے

فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِيْ وَلَا تَحْزَنِيْ ۚ اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ

په دریاب کښ | اومه یَریږه | او مهٔ غم کوه | بیشکه مونږ | واپس راوستونکی یُو ده لره | تا ته

اوغورزوه او د ده ډهلاکت په باره کښ یَریږه مهٔ او د ده په جدائی غمژنه کیږه هم مهٔ، یقین اوسا ته چه مونږ به تا ته دے

وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ فَالْتَقَطَهٗٓ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ

اوجوړولکی یُو ده لره | د پیغمبرانو نه | نو را اوچت کړو ده لره | د فرعون د کور خلقو | چه شی هغه

واپس را رسوا او خپلو پیغمبرانو کښ به ئے شاملوو۔ نو د فرعون خلقو هغه ماشوم (موسیٰ) را اوچت کړو چه نتیجه ئے دا شی

لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ۭ اِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا

دهغوی دپاره | دشمن | او غم | بیشکه | فرعون | او هامان | او د هغوی لښکرے | وو

چه هغه د دوی دپاره دشمن او د غم ذریعه جوړه شی، یقیناً فرعون هامان او د هغوی دواړو لښکرے

خٰطِـِٕيْنَ ۝ وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ

خطا کار (گناهگار) | او اوویل | بښځے | د فرعون | (دا) یخوالے | دستر گو | زما | او ستا دے

دیر خطاکار وو۔ او د فرعون بښځے (فرعون ته) اوویل چه دا ماشوم زما او ستا د ستر گو یخوالے دے

لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّنْفَعَنَآ اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمْ

مه وژنه ده لره | کیدے شی | چه دا به فائده را کړی مونږ ته | یا به جوړ کړو مونږ ده لره | (خپل) څوئے | او دوی

(نو) دا مه وژله کیدے شی چه دے به مونږ ته فائده را کړی یا به ئے خپل څوے (جوړ) کړو او دوی ته

لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٠﴾ وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا ؕ اِنْ كَادَتْ

نه پوهیدل | او شو | زړه | د مور | د موسیٰ | اوزګار د هر څه نه | بیشکه | نزدے وه هغه

د انجام پته نه وه. او د موسیٰ د مور زړهٔ بے قراره شو نزدے وه چه ټول راز ے

لَتُبْدِيْ بِهٖ لَوْلَاۤ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا لِتَكُوْنَ

چه ښکاره کړی | (حال د) هغه | که چرے مونږ نه وے تړلے (ټینګ دصبر) | په زړهٔ د هغے | د ے د پاره چه شی هغه

ښکاره کړے وے که چرے مونږ د هغے زړه مضبوط کړے نه وے. د ے د پاره چه هغه زمونږ په وعده

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١﴾ وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ ۚ فَبَصُرَتْ بِهٖ

د مومنانو نه | او اوویل هغے | خور د هغهٔ ته | ته روانه شه د ده پسے | نو وکتل هغے | د هٔ ته

کلک یقین وساتی او هغے د موسیٰ خور ته اوویل چه ته ورپسے (ورو ستو ورو ستو) څه نو هغے موسیٰ ته د لرے نه

عَنْ جُنُبٍ وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿١١﴾ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ

د لرے نه | او هغوی | نه پوهیدل | او حرام کړی وو مونږ | په ده باندے | پیئ ور کونکی (دایه ګانے)

(پټ پټ) د اسے کتل چه هغوی ته پته نه لګیده او مونږ د مخکښ نه په موسیٰ باندے د دایه ګانو پیئ بند کړی وو

مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰۤى اَهْلِ بَيْتٍ

مخکښ د د ے نه | نو اوویل هغے (خور د موسیٰ) | آیا | زه اوښایم تاسو ته | یو کور والا

نو (خپله خو) (د موسیٰ) خور اوویل چه آیا زه تاسو ته د اسے یو ه کورنۍ اوښایم چه ستاسو د پاره به ستاسو د د ے ماشوم

يَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدْنٰهُ اِلٰۤى اُمِّهٖ

چه پالنه او کړی د دهٔ | ستاسو د پاره | او هغوی به | د ده | خیر خواهان (هم) وی | پس مونږ بیرته پس کړو د هٔ لره | خپلے مور ته

پرورش او کړی او هغوی به د ده خیر خواهان (هم) وی؟ نو په (د ے طریقه) مونږ موسیٰ خپلے مور ته واپس راوستلو

كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

د پاره د د ے | چه یخے شی | ستر ګے د هغے | او غم اونکړی | او چه پوهه شی | (په د ے) چه بیشکه | وعده | د الله

چه د هغے ستر ګے یخے شی او غمجن نه نه شی او ورته ښه پته اولګی چه د الله تعالیٰ وعده

حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ ع

رښتینی ده | لیکن | اکثر د دوی نه | نه پوهیږی | او هر کله | چه اورسید و هغه | خوانۍ خپلے ته

رښتینے ده خو اکثر خلق (په حُسن عاقبت د صبر) نه پوهیږی. او کله چه موسیٰ خوانۍ ته اورسید و

وَاسْتَوٰۤى اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي

او برابر شو | نو مونږ ورکړه هغهٔ ته | حکمت | او علم | او دغه شان | مونږ بدله ورکوو

او پوره خوان (ښه تکړه) شو نو مونږ ورله په امور و د دنیا او آخرت باندے پوهه ورکړو او نیکانو خلقو ته مونږ هم دغه شان

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٤﴾ وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا

نیکی کونکو ته | او داخل شو هغه | ښار ته | په وخت | د غفلت کښ | د اوسیدونکو د هغے

بدله (صله) ورکوو. او (یوه ورځ) موسیٰ ښار ته په د اسے وخت کښ داخل شو چه د هغے خلق په غفلت کښ وو

فَوَجَدَ فِيْهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلٰنِ ۚ هٰذَا مِنْ شِيْعَتِهٖ وَهٰذَا

نوروئے مونږدل | په هغے کښ | دوه سړی | چه یو بل سره ځنګ کولو | دا یو | د دغه د ډلے نه وو | او دا (بل)

نو هلته ئے دوه کسان په خپلو کښ په جنګ اولیدل (چه) یو خو د موسیٰ د قوم نه وو او بل

مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِيْ مِنْ شِيْعَتِهٖ عَلَى الَّذِيْ

د دغه د دشمن د ډلے نه وو | پس مدد او غوښتلو دغه ئے نه | هغه کس | چه د دغه د ډلے نه وو | په مقابله دهغه کس کښ

د هغه د دشمن د قوم نه وو. نو کوم کس چه د دغه د قوم نه وو هغه د دشمن د قوم د کس په مقابله کښ

مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ ۚ قَالَ هٰذَا

چه د دغه د دشمن د ډلے نه وو | پس سوک ور کړو هغه ته | موسیٰ | نو کار ئے تمام کړو | د هغه | اوویل (موسیٰ) | دا (خو)

د موسیٰ نه مدد او غوښتلو. نو موسیٰ ورله یو سوک ور کړو او د هغه کار ئے پوره (تمام) کړو موسیٰ اوویل دا خو

مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ۭ اِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ۝ قَالَ رَبِّ

عمل | د شیطان وو | بیشکه هغه | دشمن دے | ګمراه کونکے | ښکاره | اوویل (هغه) | اے ربه زما

یو شیطانی کار وو. یقیناً شیطان ښکاره دشمن دے چه خلق بے (لارے کوی). موسیٰ اوویل اے زما ربه!

اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ ۭ اِنَّهٗ هُوَ

بیشکه ما | ظلم او کړو | په ځان خپل | نو ته بخښنه او کړه | ما ته | نو بخښنه او کړه (الله) | د هغه ته | بیشکه هم هغه دے

ما (خو) په ځان زیاتے او کړو خو ته را ته معافی او کړه نو الله ورته معافی او کړه یقیناً هغه (الله)

الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ

ډیر بخښونکے | ډیر رحم کونکے | اوویل (هغه) | اے زما ربه | په دے وجه | چه تا انعام کړے دے | په ما باندے

ډیر بخښونکے مهربان دے. موسیٰ اوویل اے زما ربه! تا چه په ما باندے کوم احسان کړے دے

فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ۝ فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ

(نو) زه به هیڅ کله نشم | مددګار | د مجرمانو | پس صبا کړو هغه | په ښار کښ

نو زهٔ به (اینده) هم هیڅ چرے د مجرمانو مددګار جوړ نشم. الغرض موسیٰ چه کله صبا کړو په ښار کښ

خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ

یَرِیدونکے | انتظار ئے کولو | پس ناګهانه | هغه کس | چه مدد ئے غوښتلے وو دغه ئے نه | پرون

نو یَرِیدلو او انتظار ئے کولو چه څه (چل) به کیږی په دے کښ هم هغه کس چه پرون ئے دغه نه مدد غوښتلے وو

يَسْتَصْرِخُهٗ ۭ قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ۝ فَلَمَّآ

څنګے ئے وهلے دغه ته | اوویل | هغه ته | موسیٰ | بیشکه ته ئے | خامخاسر کش | ښکاره | پس هر کله

هغه ورته (ټن پیا) د مدد دپاره څنګے وهلے موسیٰ هغه ته اوویل چه (معلومه شوه چه) ته ښکاره بے لارے (شرارتی) ئے

اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِيْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ

چه دغه اراده او کړه | چه راونیسی | هغه کس | چه هغه | دشمن وو | د دے دواړو | نو اوویل (هغه)

پیا چه کله موسیٰ دهغه قبطی کس درانیولو اراده او کړه کوم چه د دے دواړو دشمن وو نو هغه (اسرائیلی) اوویل

يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِالْاَمْسِ ۚ

اے موسیٰ | آیا ته غواړے | چه اووژے ما | لکه چه | تاوولے دے | یو کس | پرون

اے موسیٰ! ته ما هم هغه شان وژل غواړے څنګه چه دے پرون یو کس وژلے وو

اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا فِي الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ

ته(خو) نه غواړے | مګر | داچه | ځے ته | زور وَر | په زمکه کښ | او ته نه غواړے

ته هم دا غواړے چه په زمکه (ملک) کښ ستا رعب جوړ شی

اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ۝ وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا

چه ته شے | د اصلاح کونکو نه | او راغے | یوسړے | د لرے طرف

او اصلاح (روغه) کول نه غواړے ، او د ښار د لرے طرف نه یو کس

الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ

د ښار نه | چه منډے ځوملے | وے ویل | اے موسیٰ | بیشکه! سردران | مشورے کوی

په منډه منډه راغے (او موسیٰ ته ئے) اوویل چه اے موسیٰ! د ښار سرداران ستا په باره کښ مشورے کوی

بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّيْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ۝ فَخَرَجَ

ستا خلاف | چه اووژی تا | نو ته اوځه | بیشکه زه | ستا | د خیر خواهانو نه یم | پس اووتلو هغه

چه تا اووژی، نو د دے ځائے نه اوځه، او یقین اوکړه چه زه ستا خیر خواه یم۔ نو (پس) موسیٰ

مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ۙ قَالَ رَبِّ نَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ ع

دهغه (ښار) نه | یریدو لکے | انتظار ئے کولو | وے ویل | اے زما ربه | ما بچ کړه | د قوم | ظالمانو نه

په یَرَه یَرَه د هغے ځائے نه اووتلو چه اوګوری چه څه کیږی وے ویل اے زما ربه! ما د ظالمانو خلقو نه بچ کړه

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ

او هر کله | چه هغه مخ کړو | طرف | د مدین ته | وے ویل | نزدے ده | چه رب زما به | او ښائی ما ته

او هر کله چه د مدین په اړخ روان شو نو وے ویل چه زما پوره امید دے چه زما رب به ما ته

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ۝ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً

نیغه | لار | او هر کله | چه اورسیدو | اوبو | د مدین ته | (نو) دا ولیدله | په هغے باندے | یوه ډله

سمه لار او ښائی او کله چه د مدین د کوهی (اوبو) غاړے ته اورسیدو نو هلته ئے د خلقو یوه ډله اولیدله

مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ ۝ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ

د خلقو نه | چه اوبه ځوکولے څاروونه | او دوه ښځے | جدا د هغوی نه | دوه ښځے

چه خپل څاروی خړوبوی او د هغوی نه یو طرف ته ئے یو دوه زنانه اولیدلے چه خپل څاروی

تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۭ قَالَتَا لَا نَسْقِيْ

چه منع کول ئے (خپل څاروی) | اوویل ده | څه حال دے ستاسو دواړو | هغوی دواړو اوویل | (چه) اوبه نه ورکوو مونږ خپل څاروونه

راسره کوی. موسیٰ ترے تپوس اوکړو چه تاسو څه غواړئ؟ هغے دواړو ورته اوویل چه مونږ خپل څاروی تر هغه وخته پورے

حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ۖ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ۝ فَسَقٰى

تر دے | چه واپس کړی | داشپونکی (خپل څاروی) | اوپلار زمونږ | بوډا دے | دیر زیات | نو اوبه ئے کړل څاروی

خړوبول نه شو تر څو پورے چه داتول شپونکی خپل څاروی واپس بونه ځی. او زمونږ پلار دیر زیات بوډا دے

لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰٓى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّىْ لِمَآ

دے دواړو لره | بیا | لاړو | سوری ته | نوو ئے ویل | اے زما ربه! | بیشکه زه | هغه څه ته

نو موسیٰ د هغوی څاروی خړوب کړل بیا یو سوری طرف ته لاړو او وئے ویل اے زما ربه! ته چه کوم خیر

اَنْزَلْتَ اِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ۝ فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِىْ

چه ته ئے رالیږے | ماته | د خوراک نه | محتاج یم | پس راغله ده ته سے | یوه زنانه د هغے دواړو نه | چه راالله

په ما باندے راانازلوے زه هغے ته محتاج یم (لږ ساعت پس) په هغه دواړو زنانو کښ یوه زنانه د موسیٰ خوا له

عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۖ قَالَتْ اِنَّ اَبِىْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ

کلکه په حیاء باندے | وئے ویل | بیشکه | زما پلار | راغواړی تا | چه درکړی تاته | مزدوری (بدله)

دیر په شرم او حیاء سره راغله (او ورته ئے) اوویل چه زما پلار دے غواړی چه تاته د دے خبرے اُجرت درکړی

مَا سَقَيْتَ لَنَا ۭ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ

دهغے | چه خړوب کړی دی تا (څاروی) | زمونږ (دپاره) | پس هرکله | چه ورغله ده ته | او بیان ئے کړه | هغه ته | قصه پوره

چه تا زمونږ څاروی خړوب کړی دی نو کله چه موسیٰ د هغه خوا له اورسیدو او ټوله قصه ئے ورته بیان کړه

قَالَ لَا تَخَفْ ۡ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ قَالَتْ

اوویل هغه | مهٔ یَریږه | ته بچ شوے | د قوم | ظالمانو نه | اوویل

نو هغه ورته اوویل چه یَریږه مهٔ. ته د ظالمانو خلقو نه بچ شوے هغه دواړو زنانو کښ

اِحْدٰىهُمَا يٰٓاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۡ اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ

یوے د هغے دواړو نه | اے پلاره زما | په مزدورئ اونیسه ده ګره | بیشکه | دیر ښه | د هغه چا نه | چه ته ئے په مزدورئ نیسے

یوے اوویل (چه) اے پلاره ته دا کس په اُجرت اوساته. یقیناً ته چه په اجرت د چا نه کار اخلے نو د هغے دپاره

الْقَوِىُّ الْاَمِيْنُ ۝ قَالَ اِنِّىْٓ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى

دا طاقتور | امانتدار دے | اوویل هغهٔ | بیشکه | زه غواړم | چه په نکاح درکړم تاته | یَوه

بهترین کس هم دا دے چه طاقتور او امانتدار دے هغه (پلار ئے) اوویل زه دا غواړم چه خپلو دے دواړو لونږو کښ

ابْنَتَىَّ هٰتَيْنِ عَلٰٓى اَنْ تَاْجُرَنِىْ ثَمٰنِىَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ

زما دے دوو لونږو نه | په دے (شرط) | چه ته به مزدورئ کوے زما سره | اته | کاله | پس که چرے

دیوے تا سره نکاح او کړم خو په دے شرط چه ته به زما سره اته کاله په اجرت باندے کار کوے بیا که تا

اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ۭ

تا پوره کړل | لس (کاله) | نو هغه به ستا د طرف نه (احسان) وی | او زه نه غواړم | چه سختی او کړم | په تا باندے

لس (کاله) پوره کړل نو هغه به ستا د طرف نه احسان وی. او زه تا په تکلیف کښ اچول نه غواړم.

سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ۝٢٧ قَالَ ذَٰلِكَ

زدے چه ته به اومومے | کله چه رے | اوغواړی | الله | د نیکانو نه | اوویل (هغه) | دا وعده هشوه

ته به ان شاء الله ما (په معامله کښ) دیر ښه بیا موے. موسیٰ ورته اوویل دا خبره

بَيْنِي وَبَيْنَكَ ۖ أَيَّمَا ٱلْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَٰنَ

په مینځ زما کښ | اوپه مینځ ستا کښ | هر یو | د دواړو مودو نه | چه پوره کړه ما | نو نه به وی څه زیاتے کول

زما او ستا ترمینځه فیصله شوه. په دواړو مودو کښ چه هره یوه ما پوره کړه نو په ما به څه زیاتے (جبر) نه کیږی

عَلَيَّ ۖ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ۝٢٨ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ع

په ما باندے | او الله | په هغه څه | چه مونږ وایو | ګواه دے | پس هر کله | چه پوره کړه | موسیٰ

او مونږ چه څه وایو الله په هغے ګواه دے. بیا چه کله موسیٰ هغه مودہ پوره کړه

ٱلْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارًا ۖ

نیټه (مودہ) | اوروانه ئے کړه | کورنۍ خپله | نو دهٔ اولیدو | د طرفه | د طور نه | یو اور

او خپل کور والا ئے روان کړل نو د کوه طور د طرف نه ئے یو اور اولیدو

قَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓا۟ إِنِّيٓ ءَانَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم

اوویل ده | خپل کور والاته | ایسار شئ تاسو | بیشکه | ما اولیدو | اور | کیدے شی چه زه | راوړم تاسو ته

(نو) خپل کور والا ته ئے اوویل تاسو (دلته) ایسار شئ، ما اور اولیدو کیدے شی چه زه دهغے نه تاسو ته

مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ۝٢٩ فَلَمَّآ

دهغے نه | څه خبر | یا یو سکروټه | د اور نه | چه تاسو (ورته) | ځان ګرم کړئ | پس هر کله

څه خبر (دلارے) راوړم یا د اور یوه سکروټه (راوړم) دے دپاره چه تاسو ورته ځان تودہ کړئ پس کله چه هغه

أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِئِ ٱلْوَادِ ٱلْأَيْمَنِ فِي ٱلْبُقْعَةِ

چه دے راغلته | آواز ورته اوکړے شو | د غاړے | د میدان | ښی طرف نه | په ځای (زمکه)

د هغے اور خواته راغے نو د هغه میدان د ښی طرف نه په هغه مبارک ځای کښ ورته

ٱلْمُبَٰرَكَةِ مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ

برکتی کښ | د ونے نه | چه اے موسیٰ | بیشکه | هم زهٔ | الله یم | رب

د یوے ونے نه آواز اوشو چه اے موسیٰ! یقیناً هم زه الله یم چه د ټول مخلوق

ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٣٠ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا

د مخلوقاتو | او (داچه) | ته اوغورځوه | اما ساخپله | پس چه دهٔ اولیده هغه | چه خوځیږی | لکه چه هغه

پالنه کونکے یم او (داچه) خپله اما اوغورځوه نو کله چه هغه وکتل چه اما د سے حرکت کوی

جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ۖ يَٰمُوسَىٰٓ أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۖ

یو مار دے | (نو) واپس شو | شا کونکے | اوپه شا ئے نه کتل | اے موسیٰ! | را مخکښ شه | اومه یږیږه

لکه نر ے مار. نو په شا ئے منډه کړه اوپه ورستو ئے نه کتل (آواز ورته اوشو چه) اے موسیٰ مخ کړه اویږیږه مهٔ

اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ۝ اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ

بیشکه ته ئے | د امن والو نه | دلته کړه | لاس خپل | په کریوان خپل کښ او راوبه وځی هغه

ته بلکل په امن ئے (او) خپل لاس په خپل کریوان کښ ورلنباسه (نو) د څه بیمارئ (عیب) نه بغیر به

بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۭ وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ

تک سپین | بغیر د څه عیب نه | او جوخت کړه | ځان پورے | مټ خپل | د ډیرے (هیبت) نه

سپین څلنده (پرقید ونکے) راوځی. او دیرے لرے کولو دپاره خپل مټ د ځان سره یو ځای کړه

فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ۭ اِنَّهُمْ

پس دا دواړه | دلیلونه دی | ستا د رب د طرف نه | فرعون ته | اوسردارانو ته دهغهٔ ته | بیشکه دوی

دا ستا د رب د طرف نه فرعون او د هغه سردارانو ته دوه معجزے دی، یقیناً دوی

كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝ قَالَ رَبِّ اِنِّىْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا

وو | قوم | نافرمانه | اوویل (هغه) | اے زما ربه | بیشکه | ما وژلے دے | د دوی نه | یو کس

دیر نافرمانه خلق دی. موسیٰ اوویل اے زما ربه! ما (خو) د هغوی نه یو کس وژلے دے

فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ۝ وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ

نو زه ډیر ډیرېږم | چه دوی به اووژني ما | او وړور زما | هارون | هغه | ډیر فصیح دے | زمانه

(نو) ما سره ډیره ده چه هغوی به ما قتل کړي. او زما ورور هارون زمانه زیات فصیح دے

لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ ۡ اِنِّيْٓ اَخَافُ

په ژبه کښ | نو ته اولیږه هغه | زما سره | مددګار | چه تصدیق اوکړي زما | بیشکه زه | ډیر ډیرېږم

(نو) هغه (هم) د مددګار په طور زما سره اولیږه، چه زما تائید (تصدیق) کوی ما سره ډیره ده

اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ۝ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِاَخِيْكَ وَنَجْعَلُ

چه دوی به ما دروغژن اوګڼري | اوویل (الله) | زړه چه مونږ به مضبوط کړو | مټے ستا | په وړور ستاسره | او مونږ به ډیر کړو

چه هغوی به ما دروغژن اوګڼري. الله ورته اوفرمایل مونږ به ستا د ورور په ذریعه ستا مټے مضبوط کړو

لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَا ۚ بِاٰيٰتِنَآ ۚ اَنْتُمَا

تاسو دواړو ته | غلبه (رعب) | نو نه به هغی رسیدلے دوی | تاسو ته | (لاړ شئ) زمونږ په نخښو سره | یئ به تاسو

او تاسو له به دا سے رعب (غلبه) درکړو چه هغوی به تاسو ته درسیدے هم نه هغی زمونږ د نخښو سره لاړ شئ تاسو

وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ ۝ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَا

او څوک | چه تاسو پسے روان شی | زور ور (غالب) | پس هرکله | چه راغے دوی ته | موسیٰ | په نخښو زمونږ سره

او ستاسو تابعدار به غالب راځی. بیا هرکله چه موسیٰ هغوی ته زمونږ بښکاره نخښے راوړلے

بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَّمَا سَمِعْنَا

بښکاره | (نو) اوویل دوی | نه دی دا | مکر | جادو | د ځان نه جوړ کړے شوے | او مونږ نه دی اوریدلے

نو هغوی اوویل چه دا خو (بس) د ځان نه جوړ شوے جادو دے او دا خبرے (خو) مونږ د خپل پخوانو

بِهٰذَا فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ۝ وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَنْ

دا(خبرے) | په پلارانو خپلو | پخوانو کښې | او اوویل | موسیٰ | رب زما | ښه پوهه دے | په هغه چا

پلار نیکه په وختونو کښې (هم) نه دی اوریدلے. موسیٰ ورته اوویل زما رب ښه پیژنی چه چا

جَآءَ بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ

چه راوړی | هدایت لره | دهغه د طرف نه | اوپه هغه چا(هم) | چه وی به | دهغه دپاره | (ښه) انجام

دهغه د طرف نه هدایت (سم دین) راوړے دے اود آخرت انجام د چا ښه کیدونکے دے

الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ

دکور(آخرت) | بیشکه | نه کامیابیږی | ظالمان | او اوویل | فرعون | اے سردارانو!

دا یقینی خبره ده چه ظالمان کامیابیدے نشی. اوفرعون اوویل اے درباریانو! (سردارانو!)

مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ

زه نه پیژنم | ستاسو دپاره | بل څوک معبود | سوا زمانه | نو ته بل کړه اور | زما دپاره | اے هامانه

ماته خو د څان نه سوا ستاسو بل معبود (خدائے) معلوم نه دے نو اے هامان!

عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ

په خښته باندے | بیا جوړ کړه | زما دپاره | یو محل | دے دپاره چه | زه اوخیژم | الله

ته زما دپاره خښته (خښتے) په اور کښې پخے کړه او بیا یو لوړ محل راله جوړ کړه چه زه دهغے نه

مُوْسٰى ۙ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ

د موسیٰ ته | او بیشکه زه | گمان کوم په دهغه باندے | د دروغژنو (نه) | او تکبر اوکړو | هغه

د موسیٰ خدائی اولیدے شم او زه پوره یقین سره دا سړے دروغژن گڼرم. او (غرض دا چه) هغه او د هغه

وَجُنُوْدُهٗ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اِلَيْنَا

اولښکرو دهغه | په زمکه کښې | په ناحقه | اوگمان ئے اوکړو | چه بیشکه دوی به | مونږ ته

لښکرو په ناحقه په زمکه (ملک) کښې تکبر (سرکشی) شروع کړه او دا خیال ئے اوکړو چه هغوی به (کنې) مونږ ته

لَا يُرْجَعُوْنَ ۝ فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ

واپس نه کړے شی | پس راونیولو مونږ هغه | او لښکرے دهغهٔ | پس اوغورځول مونږ دوی لره | په دریاب کښې

واپس نه راځی. پس (نو څکه خو) مونږ هغه او دهغه لښکرے راونیولے او دریاب ته مو اوغورځول

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً

پس اوگوره | څنگه | شو | انجام | د ظالمانو | اوجوړ کړی وو مونږ دوی لره | (داسے) مشران

نو ته اوگوره چه د ظالمانو انجام څنگه شو؟ او مونږ هغوی داسے مشران (پیشویان) جوړ کړی وو

يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝

چه رابلل ئے (خلق) | اور ته | او په ورځ | د قیامت به | مدد اونکړے شی د دوی

چه خلق به ئے اور ته رابلل اود قیامت په ورځ به ورسره هیڅ قسمه مدد اونکړے شی.

وَ اَتْبَعْنٰهُمْ فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا لَعْنَةً ۚ وَیَوْمَ الْقِیٰمَةِ هُمْ

او موندلہ پسے او پرلو پہ دوی باندے | پہ دے | دنیا کښ | لعنت | او پہ ورځ | د قیامت پہ | دوی وی

او پہ دنیا کښ (هم) ورپسے مونږ لعنت اولګولو او د قیامت پہ ورځ بہ هم

مِّنَ الْمَقْبُوْحِیْنَ ﴿۴۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَاۤ

د بد حالہ خلقو نہ | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | موسیٰ تہ | کتاب | پس ددے نہ

دَ دوی بدل وئیلے شی او د پخوانی امتونو د هلاکولو نہ پس مونږ موسیٰ تہ

اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰی بَصَآىِٕرَ لِلنَّاسِ وَهُدًی وَّرَحْمَةً

چه هلاک کړی وو مونږ | نسلونہ (قومونہ) | وړومبنی | دلیلونہ | د پاړه دپوهے د خلقو | او هدایت | او رحمت

دا سے کتاب ورکړے وو چه د خلقو د پاړه بصیرت هدایت او رحمت وو چه هغوی ترے

لَّعَلَّهُمْ یَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۳﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِیِّ اِذْ

دے د پاړه چه دوی | نصیحت واخلی | او نه وے تہ | پہ طرف | مغربی کښ | کله چه

سبق (نصیحت) واخلی. او اے نبیٔ! تہ پہ اول وخت د وحی کښ د موسیٰ سره مغربی طرف کښ موجود نه وے

قَضَیْنَاۤ اِلٰی مُوْسَی الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿۴۴﴾

مونږ حواله کړو | موسیٰ تہ | کار (د پیغمبرئ) | او نه وے تہ | د حاضرو خلقو نه (هلته)

کله چه مونږ موسیٰ تہ کار د پیغمبرئ حواله کولو. او نۀ تۀ پہ هغه خلقو کښ شامل وے چه (هلته) حاضر وو

وَلٰكِنَّاۤ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَیْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ

او لیکن | مونږ پیدا کړل | ډیر نسلونہ | نو اوږدۀ شول | پہ هغوی باندے | عمرونہ | او نه وے تہ

لیکن مونږ د هغوی نه وروسته ډیر نسلونہ پیدا کړل بیا پہ هغوی باندے ډیره اوږد زمانہ تیره شوه (تر مونږ تۀ راولیګلے پس د زمانے

ثَاوِیًا فِیْۤ اَهْلِ مَدْیَنَ تَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا

اوسیدونکے | پہ مدین والو کښ | چه لوستل تا | پہ هغوی باندے | آیتونہ زمونږ | لیکن | مونږ یُو

د ډیرۀ نه) او نه تہ پہ مدین والو کښ اوسیدونکے وے چه تا د هغوی نه د واقعات لوستل ایزده کړی دی بلکه هم مونږ پیغمبران

مُرْسِلِیْنَ ﴿۴۵﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَیْنَا وَلٰكِنْ

رالیږونکی (پیغمبران) | او نه وے تہ | پہ طرف | د طور کښ | کله چه | آواز او کړو مونږ | لیکن (داخو)

رالیږونکی یُو او نه تہ پہ هغه وخت کښ د طور طرف (غاړے) تہ موجود وے کله چه مونږ موسیٰ تہ د تورات ور کولو د پاړه

رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّاۤ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِیْرٍ

مهربانی ده | ستا د رب د طرف نه | (د دے د پاړه چه تہ ویرو ے | هغه قوم | چه نه دی راغلی هغوی تہ | څوک ویرونکی

آواز کړے وو بلکه دا (رالیږل ستا) خو ستا د رب رحمت دے چه تہ هغه خلق اویروے چه ستا نه مخکښ ورته څوک

مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ یَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَوْلَاۤ اَنْ تُصِیْبَهُمْ

مخکښ ستا نه | د دے د پاړه چه دوی | نصیحت واخلی | او که چرے نه وے (داخبره) | چه اورسی دوی تہ

ویروونکے نه دے راغلے شاید چه دوی نصیحت قبول کړی. او (د دے د پاړه موتہ رالیږلے ئے چه) پہ دے خلقو

مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ

څه مصیبت | په سبب د هغے | چه مخکښ لپاره دی | لاسونو دوی | نو دوی به وائی | اے زمونږ ربه! | ولے تا نه راليږلو

د خپلو عملونو دوے څه مصیبت راشی نو چه دا اونه وائی چه اے زمونږ ربه! تا مونږ ته یو رسول

اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

مونږ ته | یو پیغمبر | چه مونږ روان شوی وے | په آیتونو ستا پسے | او شوی وے مونږ | د مومنانو نه

ولے راؤنه لیږلو چه مونږ ستا د آیتونو تابعداری کړے وے او مومنانو کښ شامل شوی وے

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ مِثْلَ مَآ

پس هر کله | چه راغلو دوی ته | حق | زمونږ د طرف نه | نو اوویل دوی | ولے ورنه کړے شو دغه ته | په شان د هغه څه

بیا هر کله چه هغوی ته زمونږ د طرف نه حق راغلو نو ویل چه دے نبی ته هغه شان معجزات او کتاب په یو ځای ولے ورنکړی شو

اُوْتِيَ مُوْسٰى ؕ اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى

چه ورکړے شوی وو | موسیٰ ته | آیا دوی کفر نه دے کړے | په هغه څه | چه ورکړے شوی وو | موسیٰ ته

کوم چه موسیٰ ته ورکړے شوی وو. حالانکه څه چه موسیٰ ته ورکړے شوی وو ولے دوی په هغے مخکښ ددے نه

مِنْ قَبْلُ ۚ قَالُوْا سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا ۫ وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ

مخکښ ددے نه | اوویل دوی | دا دواړه جادوگران دی | چه دیوبل مدد کوی | او اوویل دوی | بیشکه مونږ | په هر یو

کفر نه وو کړے څه؟ دوی خو ویلی وو چه دا دواړه جادو دے چه دیوبل تائید کوی او (وائی) مونږ د هر یو نه انکار کوو

كٰفِرُوْنَ ۝ قُلْ فَاْتُوْا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى

کفر کونکی یو | اووایه | پس راوړئ | یو (داسے) کتاب | د الله د طرف نه | چه هغه | د هر هدایت والا وی

اے نبیٰ! دوی ته اووایه! که تاسو رشتنی یئ نو د الله د طرف نه یو بل داسے کتاب راوړئ چه د دے دواړو نه

مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا

د دے دواړو نه | چه زه روان شم په هغے پسے | که چرے | یئ تاسو | رشتنی | پس که چرے | دوی قبوله نه کړی

زیات هدایت کونکے وی چه زه هغے پسے روان شم. بیا که دوی ستا خبره قبول نه کړی

لَكَ فَاعْلَمْ اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ؕ وَمَنْ اَضَلُّ

خبره ستا | نو ته پوهه شه | چه بیشکه | دوی روان دی | خواهشاتو خپلو پسے | او څوک دے | زیات گمراه

نو پوهه شه چه دوی صرف خواهشاتو پسے روان دی. او د هغه چا نه زیات بے لارے څوک دے

مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

د هغه چا نه | چه روان وی | په خواهش خپل پسے | بغیر | د هدایت نه | د الله د طرف نه | بیشکه | الله

چه د الله هدایت پریږدی (او) خپل خواهشاتو پسے روان شی؟ یقیناً الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ ع

هدایت نه کوی | قوم | ظالمانو ته | او یقیناً | مونږ پیوست لیږلے ده | دوی ته | خبره

ظالمانو خلقو ته توفیق دَسے لارنه ورکوی. او یقیناً مونږ د خلقو د (فائدے) د پاره پرله پسے د هدایت خبرے لیږلے دی

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ

دے د پارہ چه خوی | نصیحت واخلی | هغه خلق | چه ور کړے دے مونږ هغوی ته | کتاب | مخکښ ددے له

چه دوی نصیحت قبول کړی. کومو خلقو ته چه مونږ د قرآن نه مخکښ کتاب ور کړے دے هغوی

هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

هغوی | په دے | ایمان راوړی | اوکله چه | اولوستلے شی دا | په هغوی باندے | نو وائی (چه) | مونږ ایمان راوړے دے

په خپل کتاب ایمان راوړی. او کله چه هغوی ته قرآن واورولے شی نو هغوی وائی مونږ په دے ایمان راوړے دے

بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ۝

په دے باندے | بیشکه دا | حق دے | زمونږ د رب نه طرف نه | بیشکه | مونږ وو | مخکښ ددے له | مسلمانان

یقیناً دا زمونږ د رب د طرف نه برحق دے مونږ خو ددے د راتلو له مخکښ هم دا منلو

اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ

دغه خلق دی | چه ور کولے شی دوی ته | اجر خپل | دوه ځله | ځکه چه | دوی صبر کړے دے | اولړے کوی دوی

دا سے خلقو ته به دوی اجر دوه ځل ملاویږی ځکه چه دوی د صبر له کار واغستلو او د نیکۍ په ذریعه ځ

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝ وَاِذَا سَمِعُوا

په نیکۍ سره | بدۍ لره | او دهغه څه | چه ور کړی دی مونږ دوی ته | خرچ کوی | اوکله چه | واوری دوی

بدی (گناه) لرے کړه او مونږ چه ورله څه ور کړی دی د هغے له څه حصه دالله په لار کښ خرچ کوی اوکله چه

اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ وَقَالُوْا لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ

فضول خبره | لوم خ اړوی | د هغے له | او وائی | زمونږ د پاره | زمونږ عمله ده دی | اوستاسو د پاره | ستاسو عمله ده دی

څه فضول خبره واوری نو د هغے نه مخ اړوی او وائی چه زمونږ عمله زمونږ د پاره ده دی او ستاسو عمله ستاسو د پاره ده دی

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ۝ اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ

سلام دے | په تاسو باندے | مونږ نه غواړو | طریقه د جاهلانو | بیشکه ته | هدایت نشے کولے | هغه چا ته

په تاسو دے سلام د جدائی وی مونږ د جاهلانو سره ملګرتیا کول نه غواړو. (اے نبی!) حقیقت دا دے چا ته چه

اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ

چه ته ئے خوښ وے | لیکن | الله | هدایت کوی | چا ته (ئے) | چه او غواړی | او هغه | ښه پوهه دے

ته پخپله او غواړے نو توفیق د هدایت نشے ور کولے بلکه الله چه چا ته او غواړی (نو) توفیق د هدایت ور کوی او الله هدایت

بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝ وَقَالُوْٓا اِنْ نَّتَّبِعِ الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ

په هدایت مومندو لکو | او وائی دوی | که چرے | مونږ روان شو | په سمه لار | تاسره | (نو) مونږ به اوتختولی شو

قبولولکی ښه پیژنی او دا خلق وائی (اے نبی!) که چرے مونږ تاسره په هدایت (حق دین) سره روان شو نو د خپل ملک نه به اوشړلی شو

مِنْ اَرْضِنَا ۭ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ

د زمکے خپلے له | آیا مونږ ځای نه دے ور کړے | دوی ته | په حرم کښ | چه امن والا دے | چه راخکلے شی | هغے ته

(دوی نه لږ دا تهوس او کړه چه) آیا مونږ دوی له په هغه حرم کښ ځای نه دے ور کړے چه امن والا دے

ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

میوے دَ | هر ډول قسم له | دېاره د رزق | زمونږ د طرف نه | خو لیکن | اکثر په دوی کښ

چه هر قسم میوے ورته زمونږ د طرف نه ورکړے شوے رزق دے. لیکن

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا ۚ

نه پوهیږی | اوځومره (ډیر) | هلاک کړی دی مونږ | (داسے) کلی | چه د خپلې اوږدلرونکو | په ډوډۍ خپل کښ

په دوی کښ اکثر خلق نه پوهیږی او مونږ ډیر (داسے) کلی هلاک کړی دی چه په خپل ډوډۍ (ساماڼو نو) غاوره شوی وو

فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا ۭ

پس دغه دی | کورونه د هغوی | چه اوسیدل نۀ دی شوے | وروسته د هغوی نه | مګر | لږ

اوس دغه د هغوی کورونه دی چه دهغوی نه پس ډیر کم آباد شوی دی

وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى

او وو | هم مونږ | وارثان (آخری مالکان) | او نه دے | رب ستا | هلاکوونکے | د کلو

او اخیر هم مونږ ئے وارثان شو. او ستا رب کل تر هغے پورے نه هلاکوی

حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ

تر دے | چه راولیږی | په مینځ د هغے کښ | پیغمبر | چه لولی | په هغوی باندے | آیتونه زمونږ

تر څو پورے چه د هغے په مرکزی مقام کښ یو پیغمبر ونه لیږی چه هغوی ته زمونږ آیتونه واوروی

وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرٰٓى اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ۝ وَمَآ

او نه یُو مونږ | هلاکوونکی | د کلو | مګر (داچه) | خلق د هغے | ظالمان وی | او هغه

او مونږ یوکلے صرف هله تباه کوو کله چه د هغے خلق ظالمان څی. او (اے خلقو!)

اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ

چه درکړے شوے دے تاسو ته | څه څیز | نو (هغه) فائده | د ډوډۍ | دلیوی ده | او بهائسته دے هغے

تاسو ته چه څه هم درکړے شوی دی هغه (خو بس) د دلیوی ډوډۍ سامان او د دے زیب وزینت دے

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ اَفَمَنْ

او هغه څه | چه د الله سره دی | (هغه) ډیر غوره | او باقی پاتے کیدونکی دی | آیا نو تاسو عقل نه لرئ؟ | آیا نو هغه څوک

او الله سره چه څه دی هغه ډیر بهتر او همیشه پاتے کیدونکی دی آیا تاسو بیا هم د عقل نه کار نه اخلئ؟ (لږ سوچ او کړه چه)

وَعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ

چه وعده کړے ده مونږ هغه سره | وعده | بهائسته | پس هغه | ملاویدونکے وی هغے سره | پشان هغه چا دے

آیا هغه کس چه مونږ ورسره ښه وعده کړے ده او دے به هغه وعده حاصله (هم) کړی. دا هغه چا پشان کیدے شی چه مونږ ورله

مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

چه ورکړی وی مونږ هغه ته فائده | د ډوډۍ | دلیوی | بیا | هغه وی | په ورځ | د قیامت

د دلیا په ډوډۍ کښ لږے مزے ورکړی دی او بیا به د قیامت په ورځ په هغه خلقو کښ شامل وی چه دوزخ ته به

مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ

د حاضر کړے شوو نه | اوپه هغه ورځ | چه آواز به او کړی الله دوی ته | نو وائی به | (چه) چرته دی

حاضرول شی. او هغه ورځ (هیره نه کړئ) په کومه ورځ به چه الله دے خلقو ته آواز او کړی او ورته به وائی

شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَالَ الَّذِيْنَ حَقَّ

شریکان زما | هغه کسان | چه تاسو به | (پرے) گمان کولو؟ | او به وائی | هغه خلق | چه ثابت شوے دے

چه چرته دی زما هغه شریکان چه تاسو به ئے دعوے د شرکت او شفاعت کولے؟ نو په چا چه د عذاب فیصله

عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَغْوَيْنَا ۚ

په هغوی باندے | حکم (د عذاب) | اے زمونږ ربه | دا دی | هغه خلق | چه گمراه کړی دی مونږ

پوره شوی وی هغوی به اووائی اے زمونږ ربه دا هغه خلق دی چه مونږ گمراه کړی وو.

اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ ۫ مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا

گمراه کړی دی مونږ دوی | لکه څنګه چه | گمراه (شوی) وو مونږ | بیزاری پیدا کوو مونږ | تا ته | نه وو دوی | چه مونږ له

مونږ دوی هغه شان گمراه کړل څنګه چه مونږ په خپله گمراه وو مونږ ستا مخے ته د دوی نه بیزار کیږو دوی خو زمونږ

يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ

عبادت به ئے کولو | او او به ویلی شی | (چه) راوبلئ | شریکان خپل | پس دوی به راوبل هغوی

عبادت نه کولو. او کافر الوته به اووایی شی چه هغه خلق راوبلئ چه تاسو د الله سره شریک کړی وو نو دوی به ئے راوبل

فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا

پس ورته نه کړی هغوی هیڅ جواب | دوی ته | او او به ویلی دوی | عذاب | کاش | چه دوی وو

خو هغوی به ورله جواب ورنکړی. او دوی به عذاب اوویني او ارمان به او کړی چه هدایت ئے قبول کړے وے

يَهْتَدُوْنَ ﴿۶۴﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ

چه هدایت ئے قبول کړے وے | او په هغه ورځ | چه الله به آواز ور کړی دوی ته | نو او به وائی | څه جواب ور کړے وو تاسو

او هغه ورځ (هیر نه کړئ) چه الله به دوی ته آواز او کړی او تپوس به ترے او کړی چه تاسو پیغمبرانو ته

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶۵﴾ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ

پیغمبرانو ته | پس پټ به شی | په دوی باندے | خبرونه (دلیلونه) | په دغه ورځ | پس دوی به

څه جواب ورکړے وو؟ نو په دغه ورځ به د دوی نه ټول جوابونه او تاویلات هیر شی او خپلو کښې به دیوبل نه

لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۶۶﴾ فَاَمَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

تپوس نشی کولے دیوبل نه | پس چا چه | توبه اووسته له | او ایمان ئے راوړلو | او عمل ئے او کړو | نیک

څه تپوس هم نشی کولے البته چا چه توبه وویسته له او ایمان ئے راوړو او عملونه ئے او کړل موافق د سنت

فَعَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿۶۷﴾ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ

نو یقینی ده | چه شی به هغه | د کامیابی مونډ ولکو نه | او ستا رب | پیدا کوی | هغه څه | چه غواړی ئے

نو پوره امید دے چه دا خلق به کامیاب شی. او ستا رب چه څه غواړی (نو) پیدا کوی ئے

وَيَخْتَارُ ؕ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا

اوخپله خوښه کوی | نشته دے | دَدوی دپاره | هیڅ اختیار | پاک دے | الله | اودپراوچت دے | دهغه څه نه

او(څه چه غواړی) نوخپله خوښه کوی. مخلوق لره هیڅ اختیار دالوهیت نشته. الله ددوی دشرک نه پاک اودپراوچت دے

يُشْرِكُوْنَ ۝ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا

چه دوی ئې شریکوی | اورب ستا | پوهیږی | په هغه څه | چه پټوی ئے | سینے ددوی | اوپه هغه څه

اوستارب هغه خبرے هم پیژنی چه ددوی سینونه ئے کړی دی اوهغه خبرے هم پیژنی چه دوی ئے

يُعْلِنُوْنَ ۝ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ الْحَمْدُ

چه دوی ئې ښکاره کوی | اوهم هغه | الله دے | نشته | لائق دعبادت | سیوا | دهغهٔ نه | خاص دهغه دپاره | حمدونه دی

ښکاره کوی اوالله هم هغه دے چه دهغهٔ نه سوا بل هیڅ څوک دعبادت حقدار نشته. دلیا او آخرت (دواړو) کښې

فِى الْاُوْلٰى وَالْاٰخِرَةِ ۫ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝

په دنیا | اوپه آخرت کښې | اوخاص هم دهغه | اختیار دے | اوخاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ

هم دهغه تعریف کیږی اوحکم (فیصله) هم دهغه چلیږی اودهغه طرف ته به تاسو ټول واپس کیږئ.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا

اووایه | آیا خبر یئ تاسو | که چرے | اوګرځوی | الله | په تاسو باندے | شپه | همیشه (دپاره)

اے نبیؐ! دوی ته اووایه چه لږ دا راته اووایئ که چرے الله شپه په تاسو باندے

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ

تر ورځے | دقیامت پورے | (نو) څوک دے | بل واکدار | سیوا | دالله نه | چه راولی تاسو ته | رنړا

د قیامت دورځ پورے مسلط کړی نو دالله نه سوا بل څوک خدائے دے چه تاسو له رنړا درکړی؟

اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ۝ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ

آیا نو تاسو نه آورئ؟ | اووایه | آیا خبر یئ تاسو | که چرے | اوګرځوی | الله | په تاسو باندے

آیا تاسو نه اورئ؟ اے نبیؐ! دوی نه تپوس اوکړه چه لږ دا راته اووایئ چه که چرے الله په تاسو باندے

النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ

ورځ | همیشه (دپاره) | تر ورځے | دقیامت پورے | (نو) څوک دے | بل تصرف کونکے | سیوا | دالله نه

ورځ همیشه د قیامت دورځے پورے مسلط کړی نو د الله نه سوا بل څوک خدائے دے

يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝ وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ

چه راولی تاسو ته | شپه | چه تاسو آرام اوکړئ | په هغے کښې | آیا نو تاسو نه ګورئ؟ | او د خپل رحمت دوے

چه شپه درباندے راولی چه تاسو پکښې آرام اوکړئ؟ نو آیا تاسو ګورئ نه؟ او هغه (الله) په خپل رحمت سره

جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا

هغه جوړه کړے ده | ستاسو دپاره | شپه | او ورځ | چه تاسو آرام اوکړئ | په هغے کښې | اوچه اولټوئ تاسو

تاسو دپاره شپه اوورځ جوړه کړے ده چه تاسو په شپه کښې آرام اوکړئ او د ورځے دهغه فضل

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ

فضل دهغهٔ | اودے دپارہ چه تاسو | شکر او کړئ | اوپه هغه ورځ | چه آواز به او کړی الله دوی ته | نو اوبه وائی

تلاش کړئ او شکر ادا کړئ. اوهغه (ورځ هیره نه کړئ) کله به چه الله مشرکانو ته آواز او کړی اوورته به اووائی

اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا مِنْ كُلِّ

چرته دی | شریکان زما | هغه کسان | چه تاسو به | پرے گمان کولو | او مونږ به راوباسو | د هر یو

چه چرته دی زما هغه شریکان چه تاسو به هغوی زما سره شریک گڼل. اومونږ به د هر یو امت نه د توحید تبلیغ کونکے

اُمَّةٍ شَهِيْدًا فَقُلْنَا هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوْٓا اَنَّ الْحَقَّ

امت نه | یو گواه | بیا به اووایو مونږ | راوړئ | یقینی دلیل خپل | پس پوهه به شی دوی | چه بیشکه | حق

یو گواه راولو بیا به (دوی ته) اووایو چه خپل دلیل پیش کړئ. نو هغه وخت به دوی ته پته اولگی چه حق د خدائے تو ب

لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٧٥﴾ ع اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ

دالله دے | اوورک به شی | ددوی نه | هغه څه | چه دوی به دروغ جوړول | بیشکه | قارون | وو

خو صرف دالله دے. او دوی چه څه دروغ شرکی قصے دځان نه جوړے کړے وے هغه تولے به ترے ورکے شی. قارون

مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۠ وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ

د | قوم | د موسیٰ نه | نوسرکشی ئے او کړه | په هغوی باندے | اوورکړے وے مونږ هغه ته | خزانے

د موسیٰ د قوم یو کس وو خو هم په هغوی ئے سرکشی شروع کړه او سبب د سرکشۍ داوو چه مونږ ورله دومره

مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ ۗ اِذْ قَالَ

دومره | چه بیشکه | چابیانے ډهغے | خامخا درنوے | په یوے ډلے | طاقتورے باندے | کله چه | اوویل

خزانے ورکړے وے چه د هغے چابیانے به یوے طاقتورے ډلے په کرانه اوچتولے نو یو وخت هغه ته

لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ ﴿٧٦﴾ وَابْتَغِ

ده ته | قوم خپل | لوئی مه کوه | بیشکه | الله | نه خوښوی | لوئی کوونکی | او اولټوه

خپل قوم اوویل چه غاوره کیږه مه (څکه چه) الله تعالیٰ تکبر کوونکی غاوره خلق نه خوښوی،

فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ ۖ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ

په هغه څه کښ | چه درکړی دی تاته | الله | کور | د آخرت | او مه هیروه | برخه خپله

او الله تعالیٰ چه درله څه درکړی دی په هغے کښ د آخرت د کور دپاره څه کوشش او کړه. او د دنیا نه هم

مِنَ الدُّنْيَا وَاَحْسِنْ كَمَآ اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ

د دنیا نه | او خیر ښیګړه کوه | لکه څنګه چه | احسان کړے دے | الله | تاسره | او مه لټوه

خپله حصه مه هیروه. او څنګه چه تاسره الله احسان کړے دے ته هم (د خلقو سره) احسان او کړه

الْفَسَادَ فِي الْاَرْضِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٧٧﴾ قَالَ

فساد | په زمکه کښ | بیشکه | الله | نه خوښوی | فساد کوونکی | اوویل هغه

او په زمکه (ملک) کښ د فساد خورولو کوشش مه کوه. یقین او کړه چه فساد کوونکی د الله تعالیٰ خوښ نه دی

إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ

بیشکه | را کړے شوے مے ما (مال) | په هغه پوهه | چه ما سره ده | آیا دے نه پوهیدو | چه بیشکه

هغه (په جواب کښ) اوویل چه ما هر څه خو ما ته زما د علم (مهارت) په وجه ملاو شوی دی. آیا ده ته دومره پته هم له وه

ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ

الله | هلاک کړی دی | مخکښ د ده نه | د پیړو نه | هغه څوک | چه هغه | زیات کلک وو

چه الله تعالی د ده نه وړاندے د ما سے ډیر نسلونه تباه کړی دی چه د ده نه زیات طاقتور

مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ

د ده نه | په طاقت کښ | او ډیر زیات وو | په جمع کولو د مال کښ | او تپوس به نشی کیدے | د ګناهونو د دوی

او ډیر مال دولت (جمع کولی وو) او د مجرمانو نه به د دوی د ګناهونو په باره کښ تپوس

ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ

د مجرمانو نه | پس راووتلو دے | په خپل قوم باندے | په بهائست خپل کښ | اوویل | هغه خلقو

نه کیږی. بیا یوه ورځ قارون د خپل پوره شان او شوکت سره د خپل قوم مخے ته راووتلو (نو) کوم خلق چه

يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ

چه غوښتلونکے | ژوند | دنیوی | اے کاش | چه موږ سره | په شان | دهغه شے | چه ورکړے شوی دی

د دنیا د ژوند طلبګار وو هغوی اوویل کاش چه موږ سره هم هغه څه وے کوم چه قارون ته ورکړے شوی دی

قَٰرُونُ ۙ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟

قارون ته | بیشکه هے | خامخالونکے برخے والا دے | او اوویل | هغه خلقو | چه ورکړے شوے وو هغوی نه

یقیناً دا خو ډیر خوش نصیبه دے. او کوم خلقو ته چه علم ورکړے شوے وو هغوی اوویل په تاسو (خو) افسوس دے

ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ

علم | افسوس دے په تاسو باندے | بدله | د الله | ډیره غوره ده | دهغه چا دپاره | چه ایمان ئے راوړے وی

(چه دا سے خبرے کوئ) د الله تعالی بدلے او نعمتونه (خو) دهغه چا دپاره ډیر بهتر دی چا چه ایمان راوړے دے

وَعَمِلَ صَٰلِحًا ۚ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهِۦ

او عمل ئے ګړے وی | نیک | او نه ملاویږی دا | مګر | صبر کوونکو ته | پس موږ ورښخ کړو | هغه لره

او نیک عمل ونه ئے کړی دی او دا خصلت د زړه هم هغه چا ته ملاویږی چه د صبر نه کار اخلی. بیا موږ قارون

وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ ۖ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ

او کور دهغه | په زمکه کښ | پس نه وو | دهغه | هیڅ یوه ډله | چه مدد ئے کړے وے دهغه

او دهغه کور په زمکه کښ ورښخ کړو نو (بیا) د الله نه سوا دهغه څوک دا سے ډله نه وه چه مدد ئے

مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾ وَأَصْبَحَ ٱلَّذِينَ

سوا د الله نه | او نه وو هغه پخپله | د بدله اخستونکو نه | او صبا کړو | هغه خلقو

ورسره کړے وے او نه هغه پخپله خان بچ کړے شو. او چا چه د هغه د مرتبے پرون

تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ

چه ارمان ئے کولو | دهغه د درجے | پرون | وئیل ئے | عجیبه ده یقیناً | الله | فراخوی

تمنا کوله صباله هغوی اوویل مونږ تعجب کوو دے حالت نه اوپته او لګیده چه الله تعالی په خپلو بندګانو کښې دچا دپاره اوغواړی

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ

رزق | چا دپاره | چه اوغواړی | د بندګانو خپلو نه | اوتنګوی ئے | که چرے احسان نه وے کړے | الله

رزق ورله فراخوی او دچا دپاره چه اوغواړی تنګوی ئے، که چرے په مونږ باندے الله احسان دایمان راوړلو

ع ۱۰ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ۭ وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ۝

په مونږ باندے | (نو) بنخ کړی به ئے وے | مونږ لره (هم) | عجیبه ده یقیناً شان دادے | چه نه کامیابیږی | کافران

نه وے کړے نو مونږ به ئے هم په زمکه کښې بنخ کړی وے. عجیبه ده چه کافران سره مالداري نه دالله د عذاب نه څه شی بچ کیدے

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا

دغه | کور | روستنے | خاص کوو مونږ دے لره | دپاره د هغه کسانو | چه اراده نه لري | د لویئ کولو

دا د آخرت کور خو به مونږ د هغه چا دپاره مخصوص کړو چه په زمکه کښې تکبر (لوئی)

فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۭ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝ مَنْ جَآءَ

په زمکه کښې | او نه د فساد کولو | او (نه) انجام | د متقیانو دپاره ثابت دے | څوک چه | راغے

او فساد کول نه غواړی. او نیه انجام د متقیانو دپاره مقرر دے. چا چه د ځان سره

بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى

د نیکۍ سره | نو وی به هغه دپاره | ډیر غوره | د هغے نه | او څوک چه | راغے | د بدئ سره | نو بدله به نه ورکړے کیږی

نیکی راوړه نو هغه ته به د هغے نه بهتره بدله ملاو شی او چا چه بدی (ګناه) راوړه

الَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ اِنَّ

هغه خلقو ته | چه کړی ئے دی | بدیانے (ګناهونه) | مګر | د هغے (عملونو) | چه هغوی به کول | بیشکه

نو چا چه بد کارونه کړی وو هغوی ته به صرف د خپلو کړو (بدو عملونو) سزا ملاویږی. اے نبی! یقین او کړه

الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ۭ

هغه (ذات) | چه فرض کړے ئے دے | په تا باندے | قرآن | خامخا واپس کوونکے دے تا لره | ځائے د واپسئ ته

کوم ذات چه په تا باندے قرآن فرض کړے دے هغه به دے خامخا خپل ځائے (مکے مکرمے) ته واپس راولی

قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ مَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى وَمَنْ هُوَ

اووایه | رب زما | ښه پیژنی | هغه څوک | چه راغلے دے | هدایت سره | او هغه څوک (هم) | چه هغه دے

ته دوی ته اووایه چه زما رب هغه څوک هم پیژنی چه هدایت (حق دین) ئے راوړے دے او هغه څوک (هم پیژنی)

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝ وَمَا كُنْتَ تَرْجُوْٓا اَنْ يُّلْقٰٓى اِلَيْكَ

په ګمراهئ | ښکاره کښې | او نه وے ته | چه امید دے لرلو | چه درباندے کړے شی | تا ته

چه په ښکاره ګمراهئ کښې پروت دے. او اے نبی! دا دے نه مخکښې خو ستا دا امید نه وو چه په تا باندے به

الْكِتٰبُ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ ظَهِيْرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝٨٦

کتاب | مګر | په رحمت | د رب ستا سره | پس ته مه کیږه | مددګار | د کافرانو

دا قرآن نازل شی لیکن دا خو ستا د رب په مهربانۍ نازل شو. نو ته هیڅ کله د کافرانو مددګار چې نشے

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ

اودوی دے منع نه کړی تا | د | آیتونو | د الله نه | پس دده نه | چه نازل کړے شول هغه | تاته

او د الله آیتونه چه کله په تا باندے نازل شوو هغے نه پس دے د اخلق (کافران) هرګز تا نه وهغے د تبلیغ

وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝٨٧ وَلَا تَدْعُ

اورابله(خلق) | رب خپل ته | او ته مه کیږه | د مشرکانو نه | او مه رابله

او دعمل نه منع نه کړی او خپل رب طرف ته خلق رابله او په مشرکانو کښ هرګز مه شامل کیږه. او الله تعالی سره

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ

د الله سره | معبود | بل | نشته دے | لائق د عبادت | سوا | دهغه نه | هر ڼو | څیز | هلاکیدونکے دے

بل (هیڅ څوک) مددګار مهٔ رابله (څکه چه) د هغه نه سوا بل هیڅ څوک مددګار نشته. د الله تعالی ذات نه سوا

اِلَّا وَجْهَهٗ ؕ لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝٨٨

سوا | د مخ دهغه نه | خاص دهغه | حکم (اختیار) دے | او خاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ

هر یو څیز فنا کیدونکے دے حکومت (فیصله) هم دهغه ده او دهغه طرف ته به تاسو واپس کیږئ.

آیاتها [٦٩]	سورة العنكبوت مكّية	رکوعاتها [٧]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓمّٓ ۝١ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا

الم | آیا ګمان کوی | خلق | چه دوی به پریخودلے شی | (په دے) چه دوی اووائی | ایمان راوړے دے مونږ

الف لام میم. آیا دخلقو داخیال دے چه صرف په دے ویناچه مونږ ایمان راوړے دے دوی به هم داسے پریښودلی شی

وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ۝٢ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او (حال داچه) دوی | نه شی ازمایلے | او یقیناً | مونږ ازمایلی وو | هغه کسان | چه مخکښ د دوی نه وو

او نور تکوینی او شرعی تکلیفونه به پرے نه راځی حالانکه د دوی نه مخکښ خلقو باندے هم مونږ ازمیښت کړے وو،

فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝٣

پس خامخا به ښکاره کوی | الله | هغه خلق | چه رشتیا ئې ویلی دی | او خامخا به ښکاره کوی الله | دروغژن

(او فائده دا متحان دا ده) چه الله خو به خامخا هغه خلق ښکاره کوی چه رشتیا وائی او هغه خلق هم چه دروغژن دی

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ؕ سَآءَ

آیا گمان کوی | هغه کسان | چه کوی | بد کارونه | چه (ګنی) هیڅ به شی دوی زمونږ نه | ډیره بده ده

کومر خلق چه ګناهونه (بدکارونه) کوی دهغوی څه خیال دے چه (ګنی) زمونږ دقابو نه به ووځی څه؟

مَا يَحْكُمُوْنَ ۝ مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ

هغه فیصله چه دوی ځی کوی | هغه څوک | چه امید ساتی | د ملاقات | د الله | پس بیشکه | نیټه

ډیر ے غلط اندازے دوی لګوی څوک چه الله تعالی سره د ملاقات امید (عقیده) ساتی هغوی لره یقین ساتل پکار دی

اللّٰهِ لَاٰتٍ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا

د الله | خامخا راتلونکے ده | او هم هغه | اوریدونکے | پوهه دے | او هغه څوک | چه ځان کړوی | پس بیشکه

چه د الله تعالی مقرر شوے نیټه به خامخا راځی (نو صبر دے او کړی) او هم هغه الله هر څه اوری او هر څه وینی. او څوک چه

يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ

هغه ځان کړوی | د خپل ځان د پاره | بیشکه | الله دے | خامخا بے حاجته | د مخلوقاتو نه | او هغه کسان

بدنی او مالی مجاهدے کوی نو د خپل ځان د فائدے د پاره ځے کوی. ځکه چه الله تعالی (خو) مخلوقاتو ته محتاج نه دے

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

چه ایمان ځی راوړے دے | او عملونه ځے کړی دی | نیک | خامخا به ورځ وومونږ | د هغوی نه | ګناهونه د هغوی

او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ځے کړی دی مونږ به د هغوی ګناهونه د هغوی نه خامخا لرے کړو

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَحْسَنَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَوَصَّيْنَا

او خامخا به بدله ورکړو مونږ هغوی ته | خائسته بدله | د هغه څه | چه هغوی به | کول | او مونږ حکم کړے دے

او هغوی ته به د هغوی د عملونو بهتر ینه بدله خامخا ورکړو. او مونږ انسان ته تاکید حکم کړے دے چه

الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ؕ وَاِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ

انسان ته | د مور او پلار سره | د نیکۍ کولو | او که چرے | زور چلوی هغوی دواړه چه تاباندے | چه ته شریک کړے

د مور او پلار سره ښیګړه کوه او که چرے هغوی دواړه تا مجبوره کړی چه ما سره داسے (معبود) شریک

بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ؕ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ

زما سره | هغه شے | چه نشته | تا سره | په هغے باندے | هیڅ علم | نو مه منه خبره هغوی دواړو | خاص ما ته | واپس کیدل دی ستاسو

جوړ کړے چه تا سره پرے هیڅ قسم دلیل نشته نو د هغوی خبره مه منه. تاسو ټول به هم زما طرف ته واپس راځئ

فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

نو زه به خبر کړم تاسو | د هغه څه نه | چه تاسو به | کول | او هغه کسان | چه ایمان ځی راوړے دے | او عملونه ځے کړی دی

نو هغه وخت به موږ د هغه هر څه نه خبر کړم چه تاسو به کول. او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ځے کړی دی

الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

نیک | خامخا به مونږ داخل کړو دوی | په نیکانو کښ | او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی

مونږ به هغوی خامخا په نیکانو خلقو کښ شامل کړو. او څه خلق داسے هم شته

يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ

چه وائی | مونږ ایمان راوړے دے | په الله باندے | پس کله چه | تکلیف ورکړے شی حقه | په لار د الله کښ | نو اوکړ ځوی

چه دا وائی چه مونږ په الله تعالی ایمان راوړے دے بیا کله چه ورته د الله په لار کښ څه تکلیف اورسی

فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ

ازمیښت | د خلقو | په شان د عذاب | د الله | اوکه چرے | راشی | مدد | ستا د رب د طرف نه

نو د خلقو د تکلیف او فتنے نه دا سے ویریږی لکه د الله د عذاب چه یره پکار ده او که چرے ستا د رب د طرف نه څه مدد راشی

لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا

نو خامخا به وائی چه (چه) بیشکه | مونږ | تاسو سره یُو | آیا نه دے | الله | ښه پوهه | په هغه څه

نو دوی به خامخا (مومنانو ته) دا وائی چه مونږ خو ستاسو ملګری وو آیا الله تعالی ته هغه خبرے (د اخلاص او د عدم اخلاص) معلومے نه دی

فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چه دی په سینو | د مخلوقاتو کښ | او خامخا ښکاره کوی به | الله | هغه کسان | چه ایمان یې راوړے دے

چه د خلقو په سینو کښ پرته دی؟. او الله تعالی به هغه خلق خامخا ښکاره کوی چا چه ایمان راوړے دے

وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ

او خامخا ښکاره کوی به | منافقان | او وائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هغه چا ته

او منافقان به هم خامخا ښکاره کوی. او کافران مومنانو ته وائی چه

اٰمَنُوا اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَمَا هُمْ

چه ایمان یې راوړے دے | روان شئ | په لاره زمونږ | او مونږ به اوچت کړو | ګناهونه ستاسو | او (حال دا چه) نه دی دوی

زمونږ په لاره (طریقه) روان شئ او ستاسو د ګناهونو بوج به مونږ په خپل سر واخلو حالانکه دوی د هغوی

بِحٰمِلِيْنَ مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝

اوچتونکی | د ګناهونو د هغوی نه | هیڅ شیز لره | بیشکه دوی | خامخا دروغژن دی

د ګناهونو نه لږ غوندے بوج هم په خپل سر نشی اغستلے. یقیناً دا خلق دروغژن دی.

وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ ۫ وَلَيُسْـَٔلُنَّ

او خامخا دوی به اوچتوی | بوجونه خپل | او نور بوجونه | د خپلو بوجونو سره | او خامخا تپوس به کیږی دوی نه

او دوی به د خپلو ګناهونو بوجونه خامخا اوچتوی او د خپلو بوجونو سره به څه نور بوجونه هم اوچتوی. او دوی چه

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا ع

په ورځ | د قیامت | د هغه څه باره کښ | چه دوی به | دروغ جوړول | او یقیناً | مونږ لیږلے وو | نوح

څه دروغ خبرے جوړولے د قیامت په ورځ به ترے د هغے باره کښ خامخا تپوس کیږی. او یقیناً مونږ نوح

اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ؕ

قوم خپل ته | نو هغه تیر کړل | په هغوی کښ | زر | کاله | سوا | د پنځوس | کالونه

خپل قوم ته لیږلے وو نو هغه په هغوی کښ پنځوس کم زر کاله پاتے شو.

فَاَخَذَهُمُ الطُّوْفَانُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ

پس راونیول هغوی لره | طوفان | او هغوی | ظالمان وو | پس نجات ورکړو مونږ هغه

بیا په هغوی باندے طوفان راغے او هغوی ظالمان وو. نو (بیا) مونږ نوح

وَاَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ وَجَعَلْنٰهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۵﴾ وَاِبْرٰهِيْمَ

او کشتۍ والو ته | او (جوړه) کړه مونږ هغه (کشتۍ) | یوه نښانه | د مخلوق دپاره | او ابراهیم

او کشتۍ والا بچ کړل. او هغه کشتۍ مو د ټول جهان والو دپاره د عبرت یوه نښانه جوړه کړه. او ابراهیم

اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ

کله چه | هغه اووایل | خپل قوم ته | (چه) عبادت اوکړئ | د (یَوَاحُے) الله | او اویریږئ دهغه نه | دا | ډیره ښه ده

مولیږلے وو کله چه هغه خپل قوم ته اووایل چه (یواځے) د الله تعالی عبادت کوئ او دهغه نه یریږئ،

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

ستاسو دپاره | که چرے | تاسو | پوهیږئ | بیشکه | تاسو عبادت کوئ | سوا | د الله نه

که تاسو پوهه لرئ نو دا خبره درله غوره ده. تاسو (خو) د الله تعالی نه سوا د بتانو عبادت کوئ

اَوْثَانًا وَّتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

د بتانو | او جوړوئ تاسو | دروغ | بیشکه | هغه کسان | چه تاسو (ئے) عبادت کوئ | سوا | د الله نه

او د ځان نه دروغ جوړوئ. یقین اوکړئ چه تاسو چه د الله تعالی نه سوا د چا عبادت کوئ

لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ

هغوی اختیار نه لری | ستاسو دپاره | د رزق | پس اولټوئ تاسو | د الله سره | رزق

هغوی (خو) تاسو له د رزق درکولو اختیار (هم) نه لری. پس رزق د الله نه اوغواړئ

وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنْ تُكَذِّبُوْا

او عبادت اوکړئ دهغه | او شکر ادا کړئ | دهغهٔ | خاص هغهٔ ته به | تاسو واپس کولے شئ | او که چرے | تاسو دروغژن کنړئ (ما)

او دهغه عبادت اوکړئ او شکر ئے اداء کړئ. تاسو ټول به هم دهغه طرف ته واپس کیږئ. او که چرے تاسو

فَقَدْ كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ

نو یقیناً | دروغژن کنړلے وو (حق لره) | ډیرو امتونو | مخکښ ستاسو نه | او نشته | په پیغمبر باندے

ما دروغژن کنړئ نو هیڅ خبره نه ده څکه چه تاسو نه مخکښ قومونو هم خپل پیغمبران دروغژن کنړلی وو او د پیغمبر ذمه داری

اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ

مکر | (پیغام) رسول | ښکاره | آیا دوی نه ګوری | چه څنګه | په اول ځل پیدا کوی | الله

خو صرف داوی چه حق صفا صفا بیان کړی. آیا دے خلقو ته معلومه نه ده چه الله تعالی څنګه مخلوق په اول ځل

الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۱۹﴾ قُلْ سِيْرُوْا

مخلوق | بیابه ئے | هغه دوباره پیدا کوی | بیشکه | دا کار | په الله باندے | ډیر آسان دے | اووایه | او ګرځئ

پیدا کوی بیا (به) ئے هم هغه دوباره پیدا کوی دا کار الله ته ډیر آسان دے. اووایه چه لږ

فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللّٰهُ

په زمکه کښ | پس اوګورئ | چه څنګه | په اول ځل پیدا کړے دے الله | مخلوق | بیا به | الله

په زمکه کښ اوګرځئ (او) اوګورئ چه الله تعالی مخلوق څنګه په اول ځل پیدا کړو بیا به ئے هم الله

يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۲۰

پیدا کول کوی | پیدا کول | وروستئ | بیشکه | الله | په هر یو | څیز | قادر دے

په دویم ځل پیدا کوی ۔ یقیناً الله تعالی په هر څه قادر دے۔

يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ۝۲۱

هغه عذاب ورکوی | چاته | چه اوغواړی | او رحم کوی | په چا | چه اوغواړی | اوخاص هغه ته به | تاسو واړس کولی شئ

هغه چه چاته اوغواړی سزا به ورکړی اوپه چاچه اوغواړی رحم (به) اوکړی۔ اوتاسو ټول به هم دهغه طرف ته واړس کیږئ۔

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ۫ وَمَا لَكُمْ

اونه یئ تاسو | عاجزه کونکی | په زمکه کښ | او نه په آسمان کښ | اونشته ستاسو دپاره

او تاسو نه په زمکه کښ (الله) عاجزه کولے شئ او نه په آسمان کښ ۔ او د الله نه سوا

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝۲۲ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

سوا | د الله نه | هیڅ څوک دوست | او نه څوک مددګار | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے

نه ستاسو نه څوک بچ کوونکے دوست شته او نه څوک مددګار۔ او چاچه د الله د آیتونو نه

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖٓ اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِيْ وَاُولٰٓئِكَ

په آیتونو | د الله | اوپه ملاقات دهغه | هم دغه کسان | ناامیده شوی دی | د رحمت زما نه | اوهم دغه خلق

او د هغه د ملاقات نه انکار کړے دے هغوی زما د رحمت نه ناامیده شوی دی او د هغوی دپاره

لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝۲۳ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ

د دوی دپاره | عذاب دے | دردناک | پس نه وو | جواب | د قوم د هغهٔ | مګر | دا چه

دردناک عذاب مقرر دے۔ غرض (نو) د ابراهیمؑ د قوم جواب صرف دا وو چه هغوی اووایل چه

قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ

اووئیل دوی | چه ووژنئ دے | یا اوسوزوئ دے | پس بچ کړو هغه لره | الله | د | اور نه | بیشکه

یا خو دے اووژئ او یا ئے اوسوزوئ۔ لیکن الله تعالی هغه د اور نه بچ کړو ۔ یقیناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝۲۴ وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ

په دے کښ | خامخا نښانے دی | د پاره د هغه قوم | چه ایمان راوړی | او اووایل هغه | بیشکه | تاسو نیولی دی

په دے واقعه کښ دا ایمان لرونکو خلقو دپاره د عبرت نښانے دی۔ او ابراهیمؑ (ورته دا هم) وویل وو

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

سوا | د الله نه | بتان | ذریعه د محبت | په خپل مینځ کښ | په ژوند | دنیوی کښ

چه تاسو د الله تعالی نه سوا بتان په خپل مینځ کښ د محبت (او دوستانے) ذریعه جوړه کړے ده

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ

بیا | په ورځ | د قیامت | انکار به کوی | بعضے ستاسو | د بعضو نه | اولعنت به وائی | بعضے ستاسو

خو د قیامت په ورځ به تاسو د یو بل نه انکار کوئ او په یو بل باندے به لعنت وایئ

بَعْضًا وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝ فَاٰمَنَ

په بعضو باندے | اوځائے ستاسو | اور دے | اونه به وی | ستاسو دپاره | هیڅ څوک مدد کوونکی | پس ایمان ښکاره کړو

او ستاسو د اوسیدو ځائے به اور وی او هیڅوک به مو مددګار نه وی. پس (بیا) لوط

لَهٗ لُوْطٌ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ

دهٔ ته | لوط | او اووایل هغه | بیشکه زه | هجرت کونکے یم | دخپل رب طرف ته | بیشکه | هم هغه | ډیر زور ور

د هغه تصدیق او کړو. او ابراهیم اووایل چه زه د خپل رب طرف ته هجرت کوم یقیناً هغه ډیر غالب

الْحَكِيْمُ ۝ وَوَهَبْنَا لَهٗ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ

ډیر حکمت والا دے | او ورکړل مونږ | هغه ته | اسحاق | او یعقوب | اوجاری کړه مونږ | په اولاد د هغهٔ کښ

او لوئے حکمت والا دے. او مونږ هغه ته (د) اسحاق او یعقوب (پشان بچی) ورکړل او د هغه په اولاد کښ مو

النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا وَاِنَّهٗ

پیغمبری | او کتاب | اورکړو مونږ هغه ته | اجر د هغهٔ | په دنیا کښ | اوبیشکه هغه به وی

د نبوت او کتاب سلسله جاری اوساتله. او هغه ته مو د هغه اجر (صله) په دنیا کښ هم ورکړه او یقیناً

فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ

په آخرت کښ | خامخا د نیکانو نه | او لوط | کله چه | اووایل هغه | قوم خپل ته

په آخرت کښ به هم هغه په کاملو نیکانو کښ شامل وی. او (د) لوط (حالات یاد کړه) کله چه هغه خپل قوم ته اووایل

اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ

بیشکه تاسو | خامخا راتلل کوئ | بے حیائی ته | چه وراندے شوی نه دی تاسو نه | هغے ته | هیڅ څوک (هم)

چه حقیقت دادے چه تاسو (خو) داسے بے حیائی کوئ چه تاسو نه مخکښ په مخلوقاتو کښ هیڅ چا

مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ۙ

د مخلوقاتو نه | آیا تاسو | خامخا راځئ | نارینو ته | او شوکوئ | لار

نه ده کړے آیا (ستاسو دا حال دے چه د ښځو په ځائے) د نارینو نه خپل شهوت پوره کوئ او لار ے (هم) شوکوئ

وَتَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ۭ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ

اوراتلل کوئ تاسو | په مجلسونو خپلو کښ | خراب کارونو ته | پس نه وو | جواب | د قوم د هغه | مګر

او په خپلو مجلسونو کښ ناروا (نامناسب) کارونه کوئ؟ نو د قوم جواب ورته صرف دا وو چه که ته

اَنْ قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝

دا چه | اووایل هغوی | راوړه مونږ ته | عذاب | د الله | که چرے | ئے ته | د رشتینو نه

رشتینی ئے نو په مونږ باندے د الله عذاب راوله.

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِيْنَ ۝٣٠ وَلَمَّا جَآءَتْ

اوويل هغه | اے زما ربه! | مدد اوکړه زما | په خلاف د قوم | فساد کونکو | او هرکله | چه راوړه

(لوط دعاء اوغوښتنه) چه اے زما ربه اددے فسادیانو خلقو په مقابله کښ زما مدد اوکړه. اوکله چه زمونږ

رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰى ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ

فرشتوزمونږ | ابراهیم ته | زیرے | اووېل هغوی | بیشکه مونږ | هلاکونکی یُو | اوسیدونکی (خلق)

فرشتے د ابراهیم خواله (د زیرې دپاره) راغلے نو دائے ورته هم اووېل چه مونږ د دغه کلی خلق تباه کول غواړو

هٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۚ اِنَّ اَهْلَهَا كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ۝٣١ قَالَ اِنَّ فِيْهَا

د دے | کلی | بیشکه | د دے خلق | وو | ظالمان | اووېل هغهٔ | بیشکه | په دے کښ (خو)

(څکه چه) دهغے خلق ظالمان (بدکار) دی. ابراهیم ورته اووېل چه په هغے کښ (خو) لوط هم دے. فرشتو

لُوْطًا ۭ قَالُوْا نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَنْ فِيْهَا ۡ لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَاَهْلَهٗٓ

لوط دے | اووېل هغوی | مونږ | ښه خبر یُو | په هغه چا | چه په دے کښ دی | خامخا مونږ به بچ کوو هغه | او کورنۍ د هغهٔ

ورته اووېل چه هلته چه څوک اوسیږی هغه ټول مونږ پیژنو. مونږ به لوط او د هغه کور والا (کورنۍ) ضرور بچ کوو

اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۡ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ۝٣٢ وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا

سوا | د ښځے د هغهٔ نه | وی به هغه | د وروستو پاتے کیدونکونه | او هرکله | چه | راغلے | فرشتے زمونږ

سوا د هغه د ښځے نه چه هغه به په وروستو پاتے کیدونکو خلقو کښ شاملیږی. اوکله چه زمونږ فرشتے

لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالُوْا لَا تَخَفْ

لوط ته | (نو) غمژن شو | په وجه د هغوی | اوتنګ ځے شو | د هغوی په وجه | زړه | او اووېل هغوی | مه یَریږه

د لوط خواله راغلے نو لوط د هغوی په راتلو ډیر خفه شو او زړه ځے تنګ شو (او) هغه فرشتو ورته اووېل ته مه یَریږه

وَلَا تَحْزَنْ ۡ اِنَّا مُنَجُّوْكَ وَاَهْلَكَ اِلَّا امْرَاَتَكَ كَانَتْ

او مه غمژن کیږه | بیشکه مونږ | بچ کونکی یُو تا لره | او کورنۍ ستا لره | سوا | د ښځے ستا نه | وی به هغه

او مه غم کوه. یقیناً مونږ به تا او ستا کور والا ضرور بچ کوو سوا ستا د ښځے نه چه هغه به

مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ۝٣٣ اِنَّا مُنْزِلُوْنَ عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا

د وروستو پاتے کیدونکونه | بیشکه مونږ | راکوزونکی یُو | په اوسیدونکو | د دے | کلی باندے | عذاب

په وروستو پاتے کیدونکو خلقو کښ شاملیږی. یقیناً مونږ د دے کلی د خلقو د نافرمانۍ د وجے

مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۝٣٤ وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ

د آسمان نه | څکه چه | دوی به فسق کولو | او یقیناً | مونږ پریښودله | د هغے (کلی) نه

په دوی باندے د آسمان نه عذاب راليږو. او یقیناً مونږ د عقل لرونکو خلقو دپاره په دغه کلی کښ

اٰيَةً بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا

یوه نخښه | ښکاره | دپاره دهغه قوم | چه عقل لری | او مدین والو ته | ورور دهغوی | شعیب

ښکاره نخښے (کنډرات) پریښودلی دی. او مدین والو ته مونږ دهغوی ورور شعیب لیږلے وو

فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَلَا تَعْثَوْا

پس اوویل هغه | اے زما قومه! | عبادت اوکړئ | د الله | او عقیده لرئ | د ورځ | روستنۍ | او مه کړئ

نو هغه ورته اوویل اے زما قومه! دیو الله عبادت اوکړئ او د آخرت د ورځے امید (عقیده) ساتئ

فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۳۶﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

په زمکه کښ | فساد کونکی | پس هغوی دروغژن اوګڼلو هغه | پس اونیول هغوی لره | زلزلے

او په زمکه (ملک) کښ فساد مه خورئ. خو هغوی شعیب دروغژن اوګڼلو نو زلزله پرے راغله

فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَعَادًا وَّثَمُوْدَ وَقَدْ

نو شول هغوی | په کورونو خپلو کښ | پرمخے پراته | او عاد | اوثمود (هم مونږ هلاک کړل) | اویقیناً

او هغوی په خپلو کورونو کښ پرمخے پریوتی پاتے شو. او عادیان او ثمودیان هم مونږ هلاک کړل

تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ ۫ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

ښکاره شوی دی | تاسو ته | د کورونو دهغوی نه (واحالات) | اوښائسته کړی وو | هغوی ته | شیطان | (بد) عملونه خپل

او تاسو ته دهغوی تباهی دهغوی د کورونو نه ښه معلومه شوے ده. او شیطان ورته خپل بد عملونه ښائسته ښکاره کړی وو

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿۳۸﴾ وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ

پس منع کړی ځوو | د (سمے) لارے نه | او ووهغوی | هوښیاران | او قارون | او فرعون

نو د سمے لارنه ئے بند کړی وو (سره د دے چه) هغوی ښه هوښیاران وو او قارون، فرعون

وَهَامٰنَ ۫ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا

او هامان (هم) | او یقیناً | راغلے وو دوی ته | موسیٰ | په ښکاره دلیلونو سره | پس تکبر اوکړو دوی

او هامان هم مونږ تباه کړی دی او یقیناً موسیٰ هغوی ته ښکاره دلیلونه پیش کړی وو خو (بیا) هم هغوی

فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿۳۹﴾ فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ

په زمکه کښ | او نه وو دوی | بچ کیدونکی | پس هریو | نیولے وو مونږ | په گناه دهغهٔ

په زمکه کښ تکبر اوکړو حالانکه هغوی زمونږ نه بچ کیدے نشو. نو مونږ هریو دهغه د گناه په وجه راونیولو

فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ

پس بعضے دَدوی نه | هغه (څوک) وو | چه راولیږلو مونږ | په هغه باندے | باران د کانړو | او بعضے دَدوی نه | هغه څوک وو

نو په عادیانو او قومِ لوط باندے مو کانړی راوړول. او په ثمودیانو باندے

اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ

چه نیولے وو هغه لره | سخته چغه | او بعضے ډډوی نه | هغه څوک وو | چه ښخ کړل مونږ | هغه | په زمکه کښې

یوه چغه اووهلے شوه او قارون مونږ په زمکه کښې ورښخ کړو.

وَمِنْهُمْ مَّنْ اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

او بعضے ډډوی نه | هغه څوک وو | چه غرق کړل مونږ | او نه دے | الله | چه ظلم ئے کولو په هغوی

او فرعون او قومِ نوح مو په دریاب کښې ډوب کړل . او الله په دوی ظلم نه کولو

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝ مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

لیکن | دوی | په خپلو ځانونو | ظلم کولو | مثال | دهغه کسانو | چه نیولے ئے دی

بلکه دوی پخپله په خپلو ځانونو ظلم کولو. کومو خلقو چه د الله تعالیٰ نه سوا

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ۭ

سوا | د الله نه | نور دوستان | په شان د مثال | د جولاګی دے | چه جوړ کړے ئے وی | کور

نور کارسازان جوړ کړی دی د هغوی حال د جولاګی د حال پشان دے چه یو کور ئے جوړ کړے وی

وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝

اوبیشکه | دیر کمزورے | د کورونو نه | خامخا کور | د جولاګی دے | کاش | چه دوی | پوهیدلے

او دا بنکاره خبره ده چه په ټولو کورونو کښې زیات کمزورے کور د جولاګی دے (دغسے حال د مشرک دے چه شرک په

اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ۭ

بیشکه | الله | پیژنی | حال دهغه چا | چه دوی ئے رابلی | سوا د هغه نه | هر څیز چه وی

ورته هیڅ فائده ورنکړی) کاش که دوی پوهیدلے دا خلق چه د الله نه سوا څوک رابلی الله د هغوی په عجز ښه خبر دے

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ

او هم هغه | ډیر زور ور | اولوے حکمت والا دے | او دا | مثالونه دی | چه مونږ ئے بیانوو | خلقو ته

او هم هغه ډیر غالب او حکمت والا دے . او دا مثالونه مونږ د خلقو د فائدے د پاره بیانوو

وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ۝ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ

اونه پوهیږی په دے باندے | مګر | پوهه خلق | پیدا کړی دی | الله | آسمانونه

اوپه دے باندے هم هغه خلق پوهیږی چه علم لری. الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه د حق بنکاره کولو د پاره

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝ ع

او زمکه | په حقه سره | بیشکه | په دے کښې | خامخا نښه ده | د پاره د مومنانو

پیدا کړی دی. یقیناً د مومنانو د پاره په دے کښې د الله د قدرت او توحید غټ دلیل پروت دے۔

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ

لوله ته | هغه څه | چه وحي کړے شوے ده | تاته | د کتاب نه | او قائم کړه | مونځ | بیشکه
(اے نبیؐ!) د کوم کتاب چه تاته وحي شوے ده هغه لوله او د مانځه پابندي کوه. یقیناً

الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ

مونځ | منع کوي | د بے حیایئ | او د ناروا نه | او خامخا ذکر | د الله | د لوے څیز دے
مونځ د بے حیائ او د بدو کارونو نه منع کوي. او د الله ذکر (یاد) د ټولو نه لوے څیز دے

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ۝ وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ

او الله | پوهیږي | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | او جګړه مه کوئ تاسو | د اهل کتابو سره
او تاسو چه څه عمل عادةً کوئ الله ته هغه معلوم دے. او (اے مسلمانانو!) د اهل کتابو سره جګړه (بحث) مه کوئ

اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ

مګر | په هغه طریقه | چه هغه | ښائسته ده | سوا | د هغه خلقو نه | چه ظلم ئے کړے دے | د دوی نه
مګر په داسے طریقه چه هغه ډیره ښه وي البته په هغوی کښ چه څوک په ضد باندے ولاړ دي هغوی سره هم د هغوی د پښان معامله کوئ

وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

او ووایئ تاسو | (چه) مونږ ایمان راوړے دے | په هغه څه | چه نازل کړے شوي دي | مونږ ته | او (چه) نازل کړے شوي دي | تاسو ته
او دا (ورته) او ووایئ چه مونږ په هغه کتاب هم ایمان راوړے دے کوم چه مونږ ته نازل شوے دے او په هغه کتابونو هم کوم چه تاسو ته

وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝ وَكَذٰلِكَ

او زمونږ خدائے | او ستاسو خدائے | یو دے | او مونږ | خاص (هم) دهغه | حکم منونکي یو | او د غه شان
نازل شوي وو او زمونږ او ستاسو حقدار د بندګي یو دے. او مونږ هم د هغه ټول حکمونه منو.

اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

نازل کړے دے مونږ | تاته | کتاب | پس هغه خلق | چه ورکړے دے مونږ هغوی ته | کتاب
او (اے نبیؐ!) د غه شان مونږ تاته هم کتاب راولیږلو. نو چا ته چه مونږ (پخوا) کتاب ورکړے دے

يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَمَا يَجْحَدُ

هغوی ایمان راوړي | په دے باندے | او بعضے دے خلقونه | هغه څوک دي | چه ایمان راوړي | په دے باندے | او انکار نه کوي
هغوی هم په دے ایمان راوړي او د دے موجوده خلقونه هم بعضے خلق په دے ایمان راوړي. او زمونږ د آیتونو نه

بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ۝ وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ

د آیتونو زمونږ نه | مګر | کافران | او نه وے ته | چه لوستلے وے تا | مخکښ د دے نه
خو صرف (ضدي) کافران انکار کوي. او د دے قرآن نه مخکښ تا نه څه کتاب لوستلے وو او نه دے څه کتاب

مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝

څه کتاب | او نه لیکلے دے تا کتاب لره | په ښي (لاس) خپل | دغه وخت | خامخا شک به کړے وے | باطل پرستو خلقو
په خپل ښي لاس لیکلے وو که چرے داسے وے نو دے باطل پرستو خلقو به خامخا شکونه کول

بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

بلکه | دا(قرآن) | (خو)آیتونه دی | ښه واضحه | په سینو | دهغه کسانو کښ | چې ورکړے شوے دے علم دی نه

بلکه حقیقت (خو) دا دے چه کومو خلقو ته علم ورکړے شوے دے دهغوی په سینو (زړونو) کښ

الْعِلْمَ ؕ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَقَالُوْا

علم | او انکار نه کوی | د آیتونوزمونږ نه | مکر | ظالمان | او وائی دوی

دا(کتاب) بلکل واضحه دلیلونه دصدق دی اوزمونږ د آیتونو نه خو صرف ظالمان (ضدیان) خلق انکار کوی. اوکافران وائی چه

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ

ولے نشی نازلیدلے | په ده باندے | نخښے | دخپل رب دطرف نه | اووایه | (چه) بیشکه | نخښے (خو)

په دے پیغمبر باندے دخپل رب دطرف نه نخښے (معجزات) ولے نه راځی؟ اے نبی ! ته ورته جواب ورکړه چه نخښے خو

عِنْدَ اللّٰهِ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ

د الله سره دی | او بیشکه | زه(خو) یم | یروونکے | ښکاره | آیا نه ده کافی دوی لره (داخبره) | چه بیشکه

دالله په اختیار کښ دی اوزه (خو بس) صفا صفا خبردارونکے (یروونکے) یم. آیا دے خلقو دپاره دا نخښه (معجزه) کافی نه ده

اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

مونږ نازل کړے دے | په تا باندے | دا کتاب | چه لوستلے کیږی | په دوی باندے | بیشکه | په دے کښ

چه مونږ تاته (یو داسے) کتاب رالیږلے دے چه هغه دوی ته بیانیږی یقیناً په دے کښ

لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ

خامخار رحمت | اونصیحت دے | دپاره دهغه قوم | چه ایمان راوړی | اووایه | کافی دے | الله | زما تر مینځه

دمنونکو خلقو دپاره رحمت (دزړونو اطمینان) اونصیحت پروت دے. (اے نبی ! ته) اووایه چه زما اوستاسو په مینځ کښ

وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

اوستاسو تر مینځه | گواهی کونکے | هغه پیژنی | هغه څه | چه دی په آسمانونو | او زمکه کښ

د گواهۍ دپاره الله کافی دے. هغه د آسمانونو او د زمکے د ټولو څیزونو علم لری.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ

او هغه کسان | چه ایمان راوړی | په باطل | او کفر کوی | په الله | هم دغه خلق

او چا چه په باطل شیطانی شبهاتو باندے ایمان راوړے دے او د الله نه ئے انکار کړے دے هم دغه

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَلَوْلَآ اَجَلٌ

پوره تاوانیان دی | او دوی زر غواړی ستانه | عذاب | او که چرے نه وے نیټه

پوره تاوانیان دی. (اے نبی !) دا خلق تاته عذاب زر غواړی او (حالانکه) که چرے د عذاب دپاره

مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ؕ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ

مقرره | نو خامخار اغلے به وو په دوی باندے | عذاب | او خامخار ابه شی دوی ته هغه (عذاب) | ناګهانه | او دوی به (پرے)

یو وخت مقرر نه وے نو (اوس) به په دوی عذاب راغلے وو. او یقیناً هغه (عذاب) به په دوی (په خپل وخت)

لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٣﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ

نه پوهیږی | دوی زر غواړی تا نه | عَذاب | او بیشکه | دوزخ | خامخا راګیروونکے دے

دومره ناځاپه راشی چه دوی ته به پته هم اونه لګی. دا خلق تا نه عذاب زر غواړی او (حالانکه) یقیناً عذاب د جهنم احاطه کوونکے دے

بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ

کافرانو لره | په هغه ورځ | چه پټ به کړی دوی لره | عَذاب | د پاسه د دوی نه

په کافرانو باندے د هر طرف نه. او په کومه ورځ چه عذاب به په دوی باندے د بره نه او د دوی

وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٥﴾

او د خپو د لاندے د دوی نه | اووائی به هغه (الله) | اوځکئ (خوند) | دهغه څه | چه تاسو به | کول

د خپو د لاندے نه راخورهی او الله تعالیٰ به ورته اووائی دهغه کارونه مزه اوځکئ چه تاسو به همیشه کول.

يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ

اے بندګانو زما! | هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | بیشکه | زمکه زما | فراخه ده | پس خاص زما

اے زما مومنانو بندګانو! یقین او کړئ چه زما زمکه د طاعاتو د ادائیګئ د پاره فراخه ده نو هجرت او کړئ خو خالص

فَاعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۫ ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٧﴾

عبادت کوئ | هر یو کس | څکونکے | د مرګ دے | بیا | خاص مونږ ته به | تاسو واپس کولے شئ

زما عبادت کوئ هر ډوند دے به (یو ځل) خامخا د مرګ خوند څکی. بیا به تاسو ټول مونږ ته واپس کیږئ.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ

او هغه کسان | چه ایمان مو راوړے دے | او عملونه مو کړی دی | نیک | خامخا به ورکړو مونږ دوی ته

او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه مو کړی دی هغوی به مونږ ضرور

مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

د جنت نه | بالاخانے | چه بهیږی به | لاندے د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښ

د جنت په دا سے بالاخانو (محلونو) کښ آباد کړو چه لاندے به ئے نهرونه بهیږی همیشه به په کښ اوسیږی

نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿٥٨﴾ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٥٩﴾

ډیره ښه | بدله ده | د عمل کونکو | هغه خلق | چه صبر ئے کړے دے | او په خپل رب باندے | توکل کوی

د هغه نیک عمل خلقو د پاره دا ډیر بهترین اجر دے چه د صبر له ئے کار اخستلے وو او په خپل رب باندے ئے ځان سپارلے دے

وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖ اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا

او ډیر | زنده سر دی | چه نشی اوچتولے | رزق خپل | الله | روزی ورکوی هغوی ته

او (ګورئ) ډیر ځناور دا سے شته چه د خپل رزق (روزئ) د پیدا کولو طاقت نه لری الله هغوی ته هم رزق ورکوی

وَاِيَّاكُمْ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦٠﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ

او تاسو ته هم | او هم هغه دے | ښه اوریدونکے | ښه پوهه | او که چرے | ته پوښتنه او کړے دوی نه | چه چا

او تاسو ته هم، او هم هغه هره خبره اوری او په هر څه پوهیږی. او (اے نبیؐ!) که ته دا دے خلقو نه پوښتنه او کړے

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | اوتابع کړی ےدی | نوَر | او سپوږمۍ

چه آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی او نور او سپوږمۍ چا په کار لګولی دی؟

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ

نوخامخابه دوی وائی | چه الله | پس کوم خوا | اړول شی دوی | الله | فراخه کوی | روزی | چا د پاره

نو دوی به ضرور وائی چه الله. نو بیا (آخر) څۀ رنګ دوی د حق نه اړولے شی؟ هم الله په خپلو بندګانو کښ

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

چه اوغواړی | د بندګانو خپلو نه | اوکموی ےئ | هغه لره | بیشکه | الله | په هر څیز باندے

چه چاله اوغواړی رزق ورله فراخه کوی اوچاله چه اوغواړی رزق ورله تنګوی یقیناً الله په هر یو څیز باندے

عَلِيْمٌ ۝ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

ښه پوهه دے | او که چرے | تاسو پوس اوکړے دوی نه | چه چا | راوړول دی | د آسمان نه | اوبه

پوره پوهیږی. او که تۀ دَدوی نه تپوس اوکړے چه د آسمان نه اوبه (باران) چا راوړلی دی

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

بیلتۀ وونډۍ کړے ده | په هغے سره | زمکه | وروستو | د مرګ د هغے نه | نوخامخابه دوی وائی | چه الله

بیا ئے د هغے په ذریعه زمکه پس د اوچ والی نه تازه کړه نو دوی به ضرور وائی چه الله.

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝ وَمَا هٰذِهِ

اووایه | تعریفونه دی | د الله دپاره | بلکه | اکثر د دوی نه | عقل نه لری | اونه دے | دا

ته اووایه الحمد لله (حمدونه یوا ځے د الله دی) لیکن اکثر خلق د عقل نه کار نه اخلی. او دا

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَاۤ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ

ژوند | دُنیوی | مګر | تماشا | او لوبے | اوبیشکه | کور | روستنۍ

د دنیا ژوند خو صرف لوبے تماشے دی او د همیشه ژوند مقام خو د آخرت کور دے.

لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝ فَاِذَا رَكِبُوْا

خامخا هم هغه دے | اصل ژوند | کاش! | که دوی | پوهیدلے | پس هرکله | چه دوی سواره شی

کاش که دا خلق پوهیدلے بیا چه کله دوی په کشتۍ کښ سواره شی

فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۖ فَلَمَّا

په کشتۍ کښ | نو رابل | الله | خالص کولکی | هغه لره | په بلنه کښ | پس هرکله

نو په خالص اعتقاد سره صرف الله رابلی. خو هرکله چه ئے الله د اوچ

نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ۝ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ

چه ژغورلی هغه (الله) دوی لره | دوچ طرف ته | (نو) هغه وخت | دوی | شرک کوی | چه انکار لوکړی دوی | د هغه څه نه

طرف ته ژغورلی نو فوراً دوی (د هغه سره) شرک شروع کړی. تر لیکه د اشی چه سو نو پورله کوم نعمتونو کړی وی د هغے ناشکری

اٰتَيْنٰهُمْ ۚ وَلِيَتَمَتَّعُوْا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا

چه ورکړی وی مونږ دوی ته | او چه فائده مے واخلی دوی | پس دیر زر به | دوی پوهه شی | آیا دوی نه ګوری

شروع کړی او نجلۍ مے د پلار ور کوؤ چه مزے مے واخلی پس دیر زر به دوی (په حقیقت) پوهه شی. آیا دوی مے خبر مے نکړو چه ګوری

اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا اٰمِنًا وَّيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۭ

چه بیشکه | مونږ جوړ کړے دے | حرم | امن والا | او تښتولے کیږی | خلق | چار چاپیره د دوی نه

چه مونږ حرم دامن ښار جوړ کړے دے حالانکه د دوی نه ګیر چاپیره (نور) خلق (د خپلو علاقو نه) بهر ویستل شی

اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَكْفُرُوْنَ ۝ وَمَنْ اَظْلَمُ

آیا نو په باطل | دوی ایمان راوړی | او په نعمت | د الله | کفر کوی | او څوک دے | غټ ظالم

آیا (بیا هم) دوی په لات او منات باندے ایمان راوړی او د الله د نعمت نه انکار کوی او دهغه چا نه په غټ ظالم څوک وی

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهٗ ۭ

دهغه چا نه | چه جوړوی | په الله باندے | دروغ | یا نسبت د دروغو کوی | حق ته | هر کله | چه راغے هغه ته

چه په خپل شرک کولو کښ په الله تعالیٰ باندے دروغ جوړی یا نسبت د دروغو کوی قرآن او پیغمبر ته هر کله چه راغے دوی ته

اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا

آیا نشته | په دوزخ کښ | ځای (د اوسیدو) | د پاره د کافرانو | او هغه خلق | چه محنت کوی

آیا په دوزخ کښ د دے کافرانو ترکانه (ځای د ډیره کیدو) نشته؟ او کومو خلقو چه زمونږ (د رضا) د پاره ځان کړولے دے

فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

په رضا زمونږ کښ | خامخا به مونږ راوښایو هغوی ته | لارے خپلے | او بیشکه | الله | خامخا د نیکی کوؤنکو سره دے

مونږ به هغوی ته ضرور خپلے لارے د عمل او طاعت او ښایو. او یقیناً الله تعالیٰ د نیکی کونکو سره دے

آیاتها [٦٠]	سورة الرّوم مكّيّة	ركوعاتها [٦]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓمّٓ ۝ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ۝ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

الم | کمزوری کړی شول | رومیان | په نزدے | زمکه کښ | او دوی به | پس

الم. رومیان په نزدے علاقو کښ کمزوری (مغلوبه) شول. او دوی به د کمزوری کیدو نه پس

غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ۝ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۭ لِلّٰهِ الْاَمْرُ

د کمزوری کیدلو خپلو نه | زر ده چه غالب به شی | په یو څو | کلونو کښ | خاص د الله (په اختیار کښ) دی | فیصله د کار

په یو څو کلونو کښ (دننه) بیا غالب شی. د دے نه مخکښ هم پوره اختیار (د حکم) د الله وو

مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ ؕ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۴﴾

مخکښ (هم) | او وروستو (هم) | او په دغه ورځ | خوشحاله به شي | مومنان

اوروستو به هم پوره اختیار د الله وی. اوپه دغه ورځ به مسلمانان خوشحاله شی (یو د جنګ بدر په غلبه. دویم د روميانو په غلبه)

بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۖ﴿۵﴾ وَعْدَ

په مدد | د الله | مدد کوی هغه | دچا | چه اوغواړی | اوهم هغه دے | ډیر زورور | ډیر رحم کونکے | وعده کړے ده

د الله په مدد. هغه چه دچا اوغواړی مدد (ے) کوی. او هغه ډیر زورور (غالب) او ډیر مهربان دے.

اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶﴾

الله | خلاف نه کوی | الله | دوعدے خپلے | لیکن | اکثر | خلق | نه پوهیږی

الله دا وعده کړے ده. او الله د خپلے وعدے خلاف نه کوی لیکن اکثر خلق نه پوهیږی.

يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ

دوی پوهیږی | په ښکاره آبادولو | د ژوند | دنیوی | او دوی | د آخرت نه

دا خلق خو صرف د دنیا د ژوند په ظاهر پوهیږی او د آخرت نه پوره غافله دی.

هُمْ غٰفِلُوْنَ ﴿۷﴾ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ

هم دوی په غفلت کښ دی | آیا دوی غور نه کوی | په زړونو خپلو کښ | (چه) نه دی پیدا کړی | الله

آیا دوی په خپلو زړونو کښ سوچ نه دے کړے چه الله تعالی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَاۤ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ

آسمانونه | او زمکه | اوهغه څه | چه دے دواړو په مینځ کښ دی | مګر | په حقه | او دنیټے

دا آسمانونه او زمکه او څه چه دے دواړو ترمینځه دی د حق ښکاره کولو د پاره او دیوے مقرر ے

مُّسَمًّى ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ﴿۸﴾

مقرر پورے | او بیشکه | ډیر | د خلقو نه | په ملاقات | د رب خپل | خامخا انکار کونکی دی

نیټے د پاره پیدا کړی دی. او ډیر خلق د خپل رب د ملاقات نه منکر دی.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

آیا دوی نه گرځی | په زمکه کښ | چه اوګوری دوی | چه څنګه | وو | انجام

آیا دوی په زمکه کښ نه دی ګرځیدلی چه کتلی وے چه د دوی نه د مخکنو خلقو انجام څنګه وو؟

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْۤا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاَثَارُوا

د هغه خلقو | چه د دوی نه مخکښ وو | ووهغوی | ډیر سخت | د دوی نه | په طاقت کښ | او اړولے وے وه

هغوی د دوی نه زیات طاقتور وو او (د دوی نه ئے زیاته) زمکه کرونده کړے وه.

الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَاۤ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا وَجَآءَتْهُمْ

زمکه | او آباده کړے ئے وه دا (زمکه) | زیاته | د هغے نه | چه آباده کړے ده دوی زمکے لره | او راغلی وو هغوی ته

او دوی چه څومره زمکه آباده کړے ده د دے نه هغوی زیاته آباده کړے وه. او هغوی ته خپلو

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا

پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | پس نه وو | الله (دا سے) | چه ظلم ئے کولو په دوی | لیکن | هغوی په خپله

پیغمبرانو ښکاره دلیلونه راوړی وو. او الله په هغوی باندے څه زیاتے (ظلم) نه کولو لیکن هغوی

اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا

په ځانونو خپلو | ظلم کولو | بیا | شو | انجام | د هغه خلقو | چه کړی ئے بدی

پخپله په خپلو ځانونو باندے په وجه د ګناهونو ظلم کولو. بیا ناکاره فعل د هغه خلقو انجام شو چه بدی ئے

السُّوْٓاٰى اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا

ناکاره (فعل) | دا چه | دروغژن او ګنړل دوی | آیتونه | د الله | او وو هغوی | چه په هغے پورے

کړے وے (هغه ناکاره فعل دا وو) چه دوی د الله آیتونه دروغ او ګنړل او هغے پورے ئے همیشه ټوکے کولے.

يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ

به ئے ټوکے کولے | الله | اول ځل پیدائش کوی | د مخلوق | بیا به ئے | دوباره (هم) پیدا کوی | بیا به | خاص هغه ته

هم الله تعالیٰ مخلوق په اول ځل پیدا کوی بیا به ئے هم هغه دوباره پیدا کوی بیا به هم د هغه طرف ته

تُرْجَعُوْنَ ۝ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ۝

تاسو واپس کولی شئ | او په هغه ورځ | چه قائم به شی | قیامت | ناامیده به شی | مجرمان

تاسو واپس کیږئ. او په کومه ورځ چه قیامت راشی نو په هغه ورځ به مجرمان مایوسه شی

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ

او نه به وی | د دوی دپاره | د شریکانو خپلو نه | سفارشیان | او شی به دوی | د شریکانو خپلو نه

اود دوی جوړ کړی شریکانو کښی به هیڅ څوک د دوی سفارشی نه وی بلکه دوی (به په دغه ورځ) د خپلو

كٰفِرِيْنَ ۝ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ۝

انکار کونکی | او په هغه ورځ | چه قائم به شی | قیامت | په دغه ورځ | جدا جدا به شی دوی

شریکانو نه منکر شی. او په کومه ورځ چه قیامت راشی نو په هغه ورځ به د ټول خلق دیوبل نه جدا جدا شی

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ

پس هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے ګړی دی | نیک | نو هغوی به | په باغیچه کښ

بیا چاچه ایمان راوړے وو او نیک عملونه ئے (هم) کړی وو هغوی به د جنت په باغ کښ

يُّحْبَرُوْنَ ۝ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ

خوشحاله وی | او هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | او دروغژن ئے ګنړلی دی | آیتونه زمونږ | او ملاقات

(بیا بیا) خوشحاله وی. او چاچه کفر کړے وو او زمونږ آیتونه او د آخرت ملاقات ئے دروغ ګنړلے وو

الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ۝ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ

د آخرت | نو دغه کسان به | په عذاب کښ | حاضر کړے شی | پس پاکی وایئ پاکی | د الله

نو هم هغوی به په عذاب کښ (دائمًا) حاضر کړے شی. نو (پس) د سحر اود مانښام

حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ

په هغه وخت کښ | چه تاسو بیګاه کوئ | او په هغه وخت کښ | چه تاسو صبا کوئ | او هغه د پاره ده | صفتونه د خدائ تعالیٰ | په آسمانونو

په وختونو کښ د الله پاکی بیانوئ (تسبیح وایئ). او هم د هغه حمد ونه (صفتونه) کیږی په آسمانونو کښ

وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ الْحَيَّ

او زمکه کښ | او دور ځے په اخیره کښ | او کوم وخت چه | تاسو ماسپښین کوئ | هغه راوباسی | ژوندے

هم او په زمکه کښ هم. او دور ځے په آخیری حصه کښ هم او د ماسپښین هم. هم هغه

مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْاَرْضَ

د مړی نه | او راوباسی | مړے | د ژوندی نه | او ژوندئ کوی | زمکه

د مړی نه ژوندے او د ژوندی نه مړے راوباسی (پیدا کوی) او هم هغه زمکه د وچوالی نه پس تازه کوی

بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿١٩﴾ ع وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ

پس د مرګ د هغے نه | او د هغه شان به | تاسو (هم) راویستلی شئ | او بعضے د نخښو د هغهٔ نه | دا دی | چه پیدا کړی یئ تاسو

او (هم) د هغه شان به تاسو (هم) (د مرګ نه پس) راویستلی شئ. او د هغه د قدرت د نخښو نه یوه نخښه دا هم ده چه تاسو ئے

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ

د خاورے نه | بیا | شوئ تاسو | بشر | چه خورے پرے ئ (په زمکه کښ) | او بعضے د نخښو د هغهٔ نه

اصلاً د خاورے نه پیدا کړی بیا تاسو سم د م انسانان شوئ (او) په زمکه کښ خوارے توارے شوئ. او د هغهٔ د نخښو نه یوه نخښه دا هم ده

اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا

دا دی | چه هغه پیدا کړی دی | ستاسو د پاره | ستاسو د نفسونو نه | د ښځیانے | چه تاسو آرام حاصل کړئ

چه ستاسو د پاره ئے ستاسو د جنس نه ښځیانے پیدا کړی دی چه تاسو ورسره آرام (اطمینان) حاصل کړئ

اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

هغوی ته | او هغه پیدا کړے ده | په مینځ ستاسو کښ | مینه | او مهربانی | بیشکه | په دے کښ

او ستاسو په مینځ کښ ئے محبت او مهربانی پیدا کړے ده کوم خلق چه غور او فکر کوی د هغوی د پاره په دے کښ

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢١﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ

خامخا ډیرے نخښے دی | د پاره د هغه قوم | چه غور کوی | او بعضے دلیلونو د هغه نه | پیدا کول | د آسمانونو

(د عبرت) ډیرے نخښے دی. او د هغه د قدرت او توحید په دلیلونو کښ آسمانونه

وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

او د زمکے دی | او اختلاف | د ژبو ستاسو | او د رنګونو ستاسو (دے) | بیشکه | په دے کښ

او زمکه پیدا کول او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف (جدا جدا کول) هم دی. یقیناً د پوهه خلقو د پاره

لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿٢٢﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ

خامخا ډیرے نخښے دی | د پاره د پوهه لرونکو | او بعضے د نخښو د هغه نه | ستاسو خوب کول دی | په شپه | او په ورځ کښ

په دے کښ ډیرے نخښے دی. او د هغه د قدرت په نخښو کښ د شپے او د ورځے ستاسو خوب کول

وَابْتِغَآؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

اوتلاش کول ستاسو(دی) | د هغه فضل لره | بیشکه | په دے کښ | خامخاپیرے نخښے دی | دپاره دهغه قوم

اودهغه فضل لټول (تلاش کول) هم دی، کوم خلق چه (خبره) آوری دهغوی دپاره په دے کښ ډیرے نخښے دی

يَّسْمَعُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا

چه آوری | اوبعضے دنخښو دالله نه (دادی) | چه ښائی تاسوته | بریښنا | دیرے | او طمع دپاره

اودهغه په نخښو کښ (یوه نخښه) دا هم ده چه هغه تاسوته دیرے اودطمع پیدا کولو دپاره د بریښنا برق

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ

او راوروی | د آسمان نه | اوبه | بیاژوندئ کوی | په هغه سره | زمکه | پس دوچوالی دهغے نه

(چمک) ښائی، اودآسمان نه باران راوروی (بیا) دهغے په ذریعه زمکه دهغے دوچوالی نه پس تازه کوی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ

بیشکه | په دے کښ | خامخاپیرے نخښے دی | دپاره دهغه قوم | چه عقل لری | اوبعضے دنخښو دهغه نه

کوم خلق چه د عقل نه کار اخلی دهغوی دپاره په دے کښ ډیرے نخښے دی. اودهغه په نخښو کښ

اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ

دا ده | چه قائم دے | آسمان | او زمکه | په حکم دهغه | بیا | کله چه | راوبلی هغه تاسو

یوه نخښه دا هم ده چه آسمان او زمکه دهغه په حکم قائم دی. بیا کله چه هغه

دَعْوَةً ۖ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿٢٥﴾ وَلَهٗ مَنْ

په رابللوسره | د زمکے نه | نودغه وخت به | تاسو | راوځئ | اوهم دهغه دی | هغه څوک

تاسو د زمکے نه په یَو آواز (سره) راوبلی نو تاسو به فوراً بهر راوځئ.

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

چه دی په آسمانونو | او په زمکه کښ | ټول | دهغه | تابعدار دی | اوهم الله هغه ذات دے

او د آسمانونو او د زمکے ټول مخلوق هم دهغه (په اختیار کښ) دی. ټول دهغه د حکم تابعدار دی

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ؕ وَلَهُ

چه اول پیدائش کوی | بیابه ئے دوباره هم کوی | او دا | آسان دی | هغه ته | اوهم دهغه (دپاره) دے

اوهم الله هغه ذات دے چه مخلوق په اول ځل پیدا کوی بیابه ئے دوباره (هم) پیدا کوی، اودا هغه ته ډیر آسان دی.

الْمَثَلُ الْاَعْلٰى فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

صفت (شان) | ډیر اوچت | په آسمانونو | او په زمکه کښ | اوهم هغه دے | ډیر زورور

او په اسمانونو او په زمکه کښ د هغه ډیر لوی شان دی. او هغه ډیر زورور (غالب) او لوئے حکمت والا دے

الْحَكِيْمُ ﴿٢٧﴾ ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ؕ هَلْ لَّكُمْ ع

لولے حکمت والا | بیان کړے دے هغه | ستاسو دپاره | یو مثال | ستاسو د نفسونو نه | آیا | شته تاسو دپاره

(اے خلقو!) الله ستاسو د (یوے دپاره) یو مثال ستاسو د جنس نه بیانوی (چه) مونږ تاسوته کوم رزق درکړے دے

مِّمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْمَا رَزَقْنٰكُمْ

دهغه چانه | چه مالکان (ځی دی) | نبی لاسونه ستاسو | څوک شریکان | په هغه څه کښ | چه مونږ درکړی دی تاسو ته

آیا تاسو سره په هغے کښ ستاسو د غلامانو نه څوک حصه دار شته چه تاسو او هغه

فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ كَخِيْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ

چه تاسو یئ | په هغے کښ | برابر | چه تاسو یو بل څخه ډاریږئ دهغوی نه | په شان د یو بل سره ستاسو | د خپلو ورونړو نه | دغه شان

په دے مال کښ برابر شئ (او) تاسو دهغوی نه داسے یره او کړئ لکه څنګه چه په خپلو کښ د یو بل نه یره کوئ؟

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝ بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ

په تفصیل سره بیانوو مونږ | آیتونه | د پاره دهغه قوم | چه عقل لری | بلکه | روان دی | هغه خلق

هم دغه شان مونږ دهغه خلقو د پاره چه د عقل نه کار اخلی آیتونه (دلیلونه) واضح (په تفصیل سره) بیانوو. لیکن (بیا هم)

ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ

چه ظلم ئے کړے دے | په خواهشاتو خپلو پسے | بغیر | د علم نه | نو څوک دی | چه په لاره کړی | هغه څوک | چه لاړے ئے کړی وی

ظالمان خلق بغیر د علم نه په خپلو خواهشاتو پسے روان دی نو هغه چا ته څوک هدایت کولے شی چه الله ئے گمراه

اللّٰهُ ؕ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ

الله | او نشته | د دوی د پاره | هیڅوک مددګاران | پس ته قائم کړه | مخ خپل | دین ته

ئے کړی وی، او دا سے خلقو به هیڅ څوک مددګار نه وی. نو (پس) (اے نبی!) ته همیشه خپل مخ دین حقه طرف ته برابر ساته

حَنِيْفًا ؕ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ

کلک په حق باندے | حال د پیدائش | د الله | هغه | چه پیدا ئے کړی دی | (ټول) خلق | په هغے باندے

(او) یو مخیز ے اوسیږه. د الله تعالیٰ په هغه حالت د پیدائش چه توحید دے قائم اوسیږه چه ټول خلق ئے په هغے پیدا ئے کړی دی.

لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ

نشته | بدلیدل | پیدا اوښت | د الله لره | دغه دے | دین | پوخ | لیکن

د الله تعالیٰ په دغه تخلیق کښ تبدیلی نه راځی الا داچه روستو موانع موجودشی نو انسان عقیده د توحید پریږدی. هم دا ښکلی

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ ۙ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا

اکثر | خلق | نه پوهیږی | رجوع کونکی ئے | هغه ته | او ویریږی دهغه نه | او قائم کړی

صحیح دین دے لیکن اکثر خلق نه پوهیږی. اے خلقو! د الله طرف ته ورګرځیدونکی جوړ شئ او هم دهغه نه اویریږئ

الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ ۙ مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا

مونځ | او مه کیږئ | د مشرکانو نه | دهغه خلقو نه | چه توله توله کړے ئے دے

او د مانځه پابندی کوئ او په هغه مشرکانو کښ مه شامليږئ. چه هغوی خپل دین

دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ

دین خپل | او شول هغوی | ډلے ډلے | هره یوه | ډله | په هغه څه | چه هغوی سره دی | خوشحاله دی

توله توله کړے دے او په مختلفو ډلو کښ تقسیم شوی دی. هره یوه ډله په خپله خپله طریقه خوشحاله ده

وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ

اوکله چه | اورسی | خلقو ته | څه تکلیف | (نو) رابلی دوی | رب خپل | رجوع کونکی وی | هغه ته

او (د خلقو حال خو داد ے چه) کله ورته څه تکلیف اورسی نو خپل رب رابلی او هم هغه ته ور گرځیدونکی وی،

ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ

بیا | هرکله چه | اوځکوی هغه دوی ته | دخپل طرف نه | څه رحمت | نو دغه وخت | یوه ډله | د دوی نه

بیا چه ورته کله هغه دخپل رحمت مزه اوځکوی نو یوه ډله د دوی فوراً د خپل رب سره

بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ۙ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ۟

دخپل رب سره | شرک کوی | چه کفر او کړی دوی | په هغه څه | چه مونږ ورکړی وی دوی ته | پس فائده واخلئ

شرک شروع کړی نو انجام دا شی چه مونږ ورله څه ورکړی دی دهغے ناشکری او کړی نو (بس) (څه ورځے) مزے واخلئ

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝ اَمْ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ

پس ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | یا نازل کړی دی مونږ | په دوی باندے | څه دلیل | نو هغه | بیانوی

پس ډیرزر به پوهه شئ. آیا مونږ دوی ته څه داسے دلیل (سند) رالیږلے دے چه هغه دوی ته دهغه شریک دبندگی

بِمَا كَانُوْا بِهٖ يُشْرِكُوْنَ ۝ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً

هغه څه | چه دوی ئے | دالله سره | شریکوی | اوکله چه | اوځکوو مونږ | خلقو ته | څه مهربانی

(دلیل) بیانوی چه دوی ئے د الله سره شریکوی؟ اوکله چه مونږ خلقو ته دخپل رحمت مزه وځکوو

فَرِحُوْا بِهَا ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتْ

نو دوی خوشحاله شی | په هغے باندے | اوکه چرے | اورسی دوی ته | څه بدحالی | په وجه د هغه څه | چه مخکښ لیږلی دی

نو دوی په هغے مست شی او که چرے د خپل عمل د لاسه پرے څهٔ مصیبت راشی

اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

لاسونو دوی | نو دغه وخت | دوی | ناامیده شی | آیا دوی نه گوری | چه بیشکه | الله

نو بیا فوراً ناامیدی شروع کړی۔ آیا دوی دے خبرے ته سوچ نه دے کړے چه الله تعالیٰ

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

فراخه کوی | روزی | چا دپاره | چه اوغواړی | اوکموی ئے | بیشکه | په دے کښ | خامخا لښے دی

چه دچا دپاره اوغواړی رزق ورله فراخه کوی اودچا دپاره ئے چه اوغواړی تنگ ئے کړی. یقیناً په دے کښ

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ

دپاره دهغه قوم | چه ایمان راوړی | پس ورکړه | رشته دار ته | حق دهغهٔ | او مسکین ته

دهغه خلقو دپاره ډیرے لښے دی چه ایمان راوړی. نو (پس) خپلو خپلوانو او مسکینانو

وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫

او مسافر ته هم | دا | ډیره ښه ده | دهغه خلقو دپاره | چه غواړی | مخ (رضا) | د الله

او مسافر و ته خپل حق ورکړه. څوک چه د الله تعالیٰ رضا لتوی دا د هغوی دپاره ډیره بهتره ده.

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا

اوهم دغه خلق | دوی دی کامیاب | اوځه | چه تاسوورکوئ | دسود (دمال) نه | چه زیات شی

او هم دا خلق پوره کامیاب دی . او تاسو چه څه په سود ورکوئ چه د خلقو

فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ

په مالونو | دخلقو کښې | نو نه زیاتیږی هغه | په نزد | دالله | اوهغه (څه) | چه تاسوئ ورکوئ

دمالونو سره ملاوشی (او) زیات شی نو هغه دالله تعالی سره نه ډیریږی. او تاسو چه دالله درضا حاصلولو دپاره

مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ۝

ډکه زکات (صدقه) نه | چه غواړئ تاسو | رضا | دالله | نو هم دغه خلق | ډیرووونکی دی

کومه زکات ورکوئ نو هم دغه خلق خپل مال زیاتوی .

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ

الله | هغه ذات دے | چه تاسو ئے پیدا کړئ | بیا ئے | رزق درکړو تاسو نه | بیا به | مړه کړی تاسو | بیا به

الله تعالی هغه ذات دے چه تاسو ئے پیدا کړئ بیا ئے رزق درکړو بیا به مو مړه کوی بیا به مو

يُحْيِيْكُمْ ۭ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ

ژوندی کړی تاسو | آیاشته | ستاسو دشریکانو نه | هغه څوک | چه اوکړی | د دے (کارونو) نه

ژوندی کوی. آیا ستاسو په شریکانو کښې دا سے څوک شته چه په دے کارونو کښې

مِّنْ شَيْءٍ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ ظَهَرَ ع

څه څیز | پاکی بیانوئ پاکی دهغه | اوهغه لږ اوچت دے | دهغه څخه نه | چه څوئ ئے (ورسره) شریکوی | انکار هغوے دے

یوکار کولے شی؟ پاک دے الله تعالی او ډیر اوچت دے د هغه څه نه چه دوی ئے (ورسره) شریکوی.

الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ

فساد | په وچه | اوپه دریاب کښې | په وجه دهغه څه | چه کړی دی | لاسونو | د خلقو

په اوچه (خشکۍ) اوپه لمده (دریاب) کښې د خلقو د بد عملونو دوجے فساد خور شو

لِيُذِيْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝

چه وخکوی هغه (الله) دوی ته | (مزه) د بعضے | هغه (عملونو) | چه دوی کړی دی | دے دپاره چه دوی | رجوع اوکړی

چه الله تعالی دوی ته د دوی د بعضے عملونو (سزا) اوخکوی شاید چه دوی (د معصیت نه) الله ته واپس شی.

قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

اووایه | اوګرځئ | په زمکه کښې | نو اوګورئ | چه څنګه | شو | انجام | دهغه خلقو

اووایه (اے نبیؐ!) چه زمکه کښې اوګرځئ او (بیا) اوګورئ چه د پخوا نو خلقو انجام څنګه شو؟

مِنْ قَبْلُ ۭ كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ ۝ فَاَقِمْ وَجْهَكَ

چه مخکښې وو | وو | اکثر دهغوی نه | مشرکان | پس قائم ساته | مخ خپل

په هغوی کښې اکثر مشرکان وو . نو (اے نبیؐ!) ته خپل مخ (ځ) د صحیح

لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ

دین | مضبوط ته | مخکښ دد ے نه | چه راشی | هغه ورځ | چه نه به وی واپس | د هغے

(مضبوط) دین طرف ته قائم (برابر) ساته. د هغے ورځے د راتلو نه مخکښ چه د الله د طرف نه د هغے

مِنَ اللّٰهِ يَوْمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ۝ مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ

د الله د طرف نه | په دغه ورځ به | دوی جدا جدا شی (دیوبل نه) | هغه چا | چه کفر ے کړے دے | نو هم په هغه باندے به وی

د واپسئ څه امکان نشته. په دغه ورځ به خلق جدا جدا ډلے ډلے شی. چاچه کفر کړے دے د هغه

كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُوْنَ ۝

(وبال) د کفر د هغهٔ | او هغه چا | چه عمل ے کړے دے | نیک (ښه) | نو د خپلو ځانونو د پاره | ځائے تیارو ی

د کفر ضرر به هم هغه ته رسیږی او چاچه نیک عمل کړے دے (نو) هغوی د خپل ځان د پاره د آرام ځائے تیارو ی

لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

دے د پاره چه الله بدله ورکړی | هغه خلقو ته | چه ایمان ے راوړے دے | او کړی ے دی عملونه | نیک

نتیجه به دا وی چه الله تعالیٰ به هغه خلقو ته په خپل فضل سره بدله ورکړی چاچه ایمان راوړے دے

مِنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ۝ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ

د خپل فضل نه | بیشکه هغه (الله) | نه خوښوی | کافران | او بعضے د نخښو د هغهٔ نه | دا دی چه

او نیک عملونه ے کړی دی. یقیناً الله تعالیٰ کافران نه خوښوی. او الله تعالیٰ د قدرت د نخښو نه یوه نخښه دا هم ده

يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ

رالیږی | هوا گانے | زیږی ورکونکی | او (دے د پاره) چه او څکوی هغه په تاسو | د رحمت خپل نه

چه هغه د باران زیږی ورکونکی هوا گانے رالیږی (او دے د پاره) چه په تاسو د خپلے مهربانئ خوند (مزه) او څکوی

وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ

او چه روانے وی | کشتئ | په حکم د هغهٔ | او چه او لټوئ تاسو | د فضل د هغهٔ نه | او (دے د پاره) چه تاسو

او (دے د پاره) چه کشتئ د هغه په حکم او چلیږی او دے د پاره چه تاسو د هغه فضل تلاش کړئ. او چه د هغه

تَشْكُرُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ

شکر او باسئ | او یقیناً | مونږ لیږلی دی | مخکښ ستانه | (د ے) پیغمبران | قومونو خپلو ته

شکر اداء کړئ. او (اے نبیؐ!) مونږ ستانه مخکښ هم د ے پیغمبران خپلو خپلو قومونو ته لیږلی دی

فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا ۭ وَكَانَ

نو راوړی ے وو دوی هغوی ته | ښکاره دلیلونه | پس بدله واغستله مونږ | د هغه خلقو نه | چه جرمونه ے کړے وو | او دے

نو هغوی ورته ښکاره (واضحه) دلیلونه پیش کړی وو بیا مونږ د مجرمانو نه انتقام واغستلو

حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ اَللّٰهُ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ

حق | په مونږ باندے | مدد (کول) | د مومنانو سره | الله | هغه (ذات) دے | چه رالیږی | هوا گانے

او د مومنانو سره مدد کول په مونږ لازم دی. الله تعالیٰ هغه ذات دے چه هوا گانے رالیږی

فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ فِي السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهٗ

نورالاوتے کړی هغه | وریښے | نوخوروی هغے لره | په آسمان کښ | څنګه چه | غواړی هغه | اواوګرځوی داوریښے

نوهغه هواګانے وریښے راالوتے کړی بیا الله چه څنګه غواړی هغه شان ئے په فضا کښ خورے کړی

كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ فَاِذَآ اَصَابَ

ټکړے دیوبل دپاسه | نوته ویني | څاڅکے | چه راوځی | دمینځ دهغے نه | پس کله چه | هغه اورسوی

اولاندے باندے ټکړے ترینه جوړے کړی. بیاته ګورے چه څاڅکی باران دهغے دمینځ نه راوړی، بیاچه

بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۚ وَاِنْ

هغے لره | هغه چاته | چه غواړی ئے | دبندګانو نه خپلونه | نودغه وخت | دوی | خوشحاله شی | اوبیشکه

الله تعالی په خپلو بندګانو کښ په چا اوغواړی هغوی ته باران اورسوی نو (دغه وخت) هغوی خوشحاله شی. حالانکه

كَانُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ۝

وو دوی | مخکښ دده نه | چه راورولی شی | په دوی باندے (باران) | مخکښ دده نه | خامخا ناامیده

دده وخت نه مخکښ تر څو پورے چه پرے باران نه وو شوے دوی ناامیده وو.

فَانْظُرْ اِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ الْاَرْضَ

پس اوګوره | نخښو | د رحمت | دالله ته | (چه) څنګه | ژوندی کوی الله | زمکه

پس (اوس لږ) دالله تعالی د رحمت اثرات (بوټی فصلونه) اوګوره چه هغه زمکه روستو دهغے دوچوالی نه څنګه

بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ

پس | دمرګ دهغے نه | بیشکه | دغه (ذات) | خامخا ژوندے کوونکے | دمړودے | او هغه | په هر څیز باندے

تازه کړه. حقیقت دادے چه هم دغه الله مړو لره ژوندی کوونکے دے. او هغه په هر څیز قادر دے.

قَدِيْرٌ ۝ وَلَىِٕنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوْا

قادر دے | او که چرے | راولیږو مونږ | سیلۍ | پس اوویني دوی فصل لره | زیړ | نوخامخا شی دوی

او که چرے مونږ داسے باد ونه راولیږو چه دهغے په سبب دوی خپل فصل اوګوری چه زیړ شوے دے نو دوی به دهغے نه پس

مِنْۢ بَعْدِهٖ يَكْفُرُوْنَ ۝ فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ

روستو دهغے نه | چه کفر به کوی | پس بیشکه ته | نشے اورولے | مړو ته | او ته نشے اورولے

ناشکری شروع کړی. غرض اے نبی! که مړو ته خپله خبره نشے اورولے (اوداکافران هم پشان دمړو، کنړو اوړندو دی)

الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ۝ وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ

کنړو ته | آواز دبلنے | کله چه | دوی واپس شی | شاکوونکی | او نه ئے ته | لاره ښودونکے

او نه کنړو ته (اورولے شے) (خاص کر) کله چه هغوی تاته شاکړی اوروان شی. او نه ته راوړنده دهغوی

الْعُمْيِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ۭ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا

ړندو ته | دګمراهۍ دهغوی نه | ته نشے اورولے | مګر | هغه چاته | چه ایمان راوړی | په آیتونو زمونږ

دګمراهۍ نه سیے لارے ته راوستے شے. ته خو صرف هم هغه خلقو ته اورولے شے چه زمونږ په آیتونو ایمان لری

فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ

پس هم دوی | حکم منونکی دی | الله | هغه (ذات) دے | چه تاسو ئے پیدا کړی یئ | د کمزورے (اوبو) نه

اوهم دغه خلق فرمانبردار دی. الله تعالی هغه (ذات) دے چه ستاسو پیدائش ابتداء ئے د کمزوری (څیز) نه کړے ده

ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ

بیا | کړ خولے دے هغه | پس د | کمزورئ نه | طاقت | بیا | پیدا کړے ده هغه | پس د | طاقت نه

بیا ئے د ماشوم والی نه پس طاقت د ځوانئ درکړو بیا ئے درباندے د طاقت نه پس

ضُعْفًا وَّشَيْبَةً ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴿۵۴﴾

کمزوری | او بوډاوالے | هغه پیدا کوی | څه | چه غواړی | او هغه دے | ښه پوهه | قدرت لرونکے

کمزوری او بوډاتوب راوستلو، هغه چه څه غواړی هغه پیدا کوی، او هغه ډیر پوهه پوره قادر دے.

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ مَا لَبِثُوْا

او په هغه ورځ | چه قائم به شی | قیامت | قسمونه به خوری | مجرمان | چه وخت نه دے تیر کړے دوی

او په کومه ورځ چه قیامت قائم شی په هغه ورځ به مجرمان قسمونه خوری چه دوی خو د یو ساعت نه

غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

سوا | د یو ساعت نه | دغه شان به | دوی | اړولی شو | او اوبه وائی | هغه خلق

زیات وخت نه دے تیر کړے. دغه شان دوی (په دنیا کښ هم) اړولی شو د حق نه. او چا ته چه

اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ

چه ور کړے شوے وو هغوی ته | علم | او ایمان | (چه) یقیناً | تاسو وخت تیر کړے دے | په کتاب

علم او ایمان ور کړے شوے وو هغوی به اووائی چه تاسو د الله تعالی د کتاب (تقدیر) مطابق

اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ۚ فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ

د الله کښ | تر ورځے | د بیا پاځیدو پورے | نو هم دا ده | ورځ | د بیا پاځیدو | لیکن تاسو

د قیامت د ورځے پورے پاتے شوی یئ. نو (اوس) هم دا د قیامت (هغه) ورځ ده. لیکن تاسو

كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

وئ چه | پوهه مونه لرله | پس په دغه ورځ | فائده به نه ورکوی | هغه خلقو ته | چه ظلم ئے کړے دے

(په دے) یقین نه کولو. نو (پس) په دغه ورځ به کافرانو ته د هغوی عذرونه (بهانے) هیڅ فائده ورنه کړی

مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ

بهانے د هغوی | او نه به دده دوی | توبه قبلولے شی | او یقیناً | مونږ بیان کړی دی | خلقو د پاره

او نه به ورته د الله د راضی کولو موقع ورکړے شی. او حقیقت دا دے چه مونږ د خلقو د پوهے د پاره

فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ

په دے | قرآن کښ | د هر قسم | مثال نه | او که چرے | ته راوړے دوی ته | څه نخښه

په دے قرآن کښ هر قسم خبرے (مثالونه) بیان کړی دی. او (اے نبی!) د دوی حال خو دا دے

لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿٤٨﴾ كَذَٰلِكَ

نو خامخا وائی به | هغه خلق | چه کفر وکړے دے | (چه) نه یئ تاسو | مګر | دروغ ویونکی | دغه شان

که چرے ته ورته څه نخښه پیش کړے نو دا کافر به هم دا وائی چه تاسو دروغژن یئ

يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٩﴾ فَاصْبِرْ إِنَّ

مهر وهی | الله | په زړونو | دهغه خلقو | چه نه پوهیږی | پس صبر کوه | بیشکه

الله تعالی هم دغه شان دهغه خلقو په زړونو مهر لګوی چه دپوهے نه کار نه اخلی. نو (اے نبی!) ته دصبر نه کار واخله

وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ

وعده | د الله | حقه ده | او بے همته دے نه کړی تا لره | هغه خلق | چه یقین نه کوی

او یقین او کړه چه د الله وعده رښتنے ده او کوم خلق چه یقین نه لری هغوی (چرته) تا بے همته نه کړی

آیاتها [۳۴] | سورة لقمٰن مکّیّة | رکوعاتها [۴]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د ټوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

الٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ ﴿٢﴾ هُدًى وَرَحْمَةً

الم | دا | آیتونه دی | د کتاب | حکمت والا | هدایت | او رحمت دے

الف لام میم. دا د دا سے کتاب آیتونه دی چه د حکمتونو نه ډک دے او د هغه نیکانو خلقو دپاره

لِلْمُحْسِنِينَ ﴿٣﴾ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ

دپاره د نیکانو | هغه کسان | چه قائموی | مونځ | او ورکوی | زکات

هدایت او رحمت دے، چه د مانځه پابندی کوی او زکات ورکوی

وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى

او دوی | په آخرت باندے | هم دوی | یقین لری | دغه خلق | په هدایت دی

او په آخرت پوخ یقین لری. هم دغه خلق د خپل رب د طرف نه په هدایت (په سمه لار) دی

مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

د خپل رب د طرف نه | اوهم دغه خلق | هم دوی | (پوره) کامیاب دی | او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی

اوهم دغه خلق پوره کامیاب دی. اوپه خلقو کښ بعضے داسے هم دی چه د الله تعالی د قرآن نه

يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ

چه اخلی | عبث (فضول) | خبرے | (دے د پاره) چه گمراه کړی (خلق) | د لارے | د الله نه | بغیر

غافله کوونکی (فضول) خبرے (قصے) اخلی دے دپاره چه بغیر دپوهے نه پرے خلق د الله د لارے نه گمراه کړی

عِلْمٍ ۚ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝٦

دځه علم نه | او (چه) اوګرځوی هغې لره | تهوقے | دغه خلق | دے ځندونی دپاره | عَذاب | رسوا کونکے

اولار دالله یعنی قرآن لره په ټوقو سره اونیسی، هم دا سے خلقو دپاره رسوا کونکے عذاب تیار دے.

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا

اوکله چه | لوستل شی | په هغه باندے | آیتونه زمونږ | نو مخ اړوی | تکبر کونکے وی | لکه چه ده | نه دی اوریدلی هغه

اوکله هم چه ورته زمونږ آیتونه بیان شی نو دے په غرور (تکبر) سره داسے مخ واړوی لکه چه هغه ے اوریدلی نه وی

كَاَنَّ فِيْٓ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٧

لکه چه | په غوږونو دده کښ | دروندوالے دے | پس زیرے ورکړه ده ته | په عَذاب | دردناک سره

لکه چه په غوږونو کښ ے دروندوالے وی، نو ده ته د دردناک عذاب خوشخبری واړوه

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتُ

بیشکه | هغه خلق | چه ایمان ے راوړے دے | او کړی ے دی عملونه | نیک | دهغوی دپاره | جنتونه

(بل طرف ته) چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ے کړی دی دهغوی دپاره

النَّعِيْمِ ۝٨ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

د نعمتونو دی | همیشه به وی | په هغے کښ | وعده د | الله ده | رښتنے | او هم هغه دے | ډیر زورور

دنعمتونو جنتونه مقرر دی، چه په هغے کښ به همیشه اوسیږی، دالله وعده رښتنے ده. او هغه ډیر زورور (غالب)

الْحَكِيْمُ ۝٩ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَاَلْقٰى

لوئی حکمت والا | پیدا کړی دی هغه | آسمانونه | بغیر | دستنونه | چه تاسو وینئ هغه | او غورځولی ے دی

او حکمت والا ذات دے. (هم) الله آسمانونه دستنونه بغیر پیدا کړی دی چه تاسو ے وینئ

فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيْهَا

په زمکه کښ | غرونه | چه اونه خوزی (دا) | په تاسو | اوخواره کړی ے دی | په دے کښ

او په زمکه ے (درانه) غرونه ایښودلی دی چه په تاسو زمکه اونه خوزی. او هر قسم زنده سر (حناور)

مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا

د هر قسم | زنده سرنه | او راوړو مونږ | د آسمان نه | اوبه | نور ازر غونو مونږ | په دے کښ

ے پکښ خواره کړی دی. او (هم) مونږ د اسمان نه باران (اوبه) راوړلی دی بیا مو په دے (زمکه) کښ

مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝١٠ هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِيْ مَاذَا

د هر قسم | جوړے | فائدو والا نه | دا دے | پیدائش | دالله | پس وښایئ تاسو ماته | چه څه

هر قسم فائدو والا څیزونه راازرغون کړی دی. دا دالله مخلوق (جوړ کړی څیزونه) دی نو (اوس لږ) تاسو ماته وښایئ چه

خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝١١ ع

پیدا کړی دی | هغه کسانو | چه دهغه له سوا دی | بلکه | ظالمان دی | په ګمراهۍ | ښکاره کښ

دالله نه سوا نور چا څه پیدا کړی دی؟ اصل خبره داده چه ظالمان په ښکاره ګمراهۍ کښ پراته دی.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّشْكُرْ

او یقیناً | ورکړے وو مونږ | لقمان ته | حکمت | چه شکر کوه | د الله | او چا چه | شکر او کړو

او یقیناً مونږ لقمان ته حکمت ورکړے وو (او ورته مو ویلی وو) چه د الله شکر ادا کوه او څوک چه شکر ادا کوی

فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ

نو بیشکه | هغه شکر کوی | د خپل ځان د پاره | او چا چه | ناشکری او کړه | نو بیشکه | الله | بے حاجته دے

نو د خپلے فائدے د پاره شکر ادا کوی. او څوک چه ناشکری او کړی نو یقیناً الله تعالیٰ بے پروا (بے حاجته)

حَمِيْدٌ ۝ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ

صفتونو والا دے | او کله چه | او ویل | لقمان | خوی خپل ته | او ده | نصیحت کولو هغه ته | (چه) اے زما بچو ریه

ستایلے شوے ذات دے. او هغه وخت یاد کړه کله چه لقمان خپل خوی ته په نصیحت کښ او ویل چه اے زما بچو ریه!

لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ۝ وَوَصَّيْنَا

شرک مه کوه | د الله سره | بیشکه | شرک | خامخا دے ظلم | ډیر لوئے | او مونږ حکم کړے دے

د الله تعالیٰ سره شرک مه کوه ځکه چه شرک ډیر لوئے ظلم دے. او مونږ انسان ته د مور او پلار

الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ

انسان ته | د ده مور او پلار په بارہ کښ | اوچت کړے وو هغه | مور د ده | د کمزورئ سره | د پاسه د کمزورئ

په بارہ کښ د ښیګړے کولو پوخ حکم کړے دے. (ځکه چه) د ده مور ده ټوله ده ډیرے کمزورئ سره په خپله ګیډه برداشت کړے وو

وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ؕ اِلَيَّ

او پریکول د ده (دوه نه) | په دوه کالو کښ دی | چه شکر او کړه | زما | او د مور او پلار خپل | خاص ما ته

او د ده تکلیف د ده په دوه کالو کښ ځنډی نه پرے کړو حکم دادے چه اے بنده زما هم شکر ادا کوه او د خپل مور او پلار هم. هم زما طرف ته

الْمَصِيْرُ ۝ وَاِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰٓى اَنْ تُشْرِكَ بِيْ

واپس راتلل دی (ستاسو) | او که چرے | هغه دواړه کوشش کوی په تا باندے | د دے خبرے | چه ته شریک کړے | زما سره

ستاسو واپس راتلل دی. او که چرے هغه دواړه په تا باندے دا زور کوی چه ته زما سره په خدایئ کښ څوک شریک کړے

مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا

هغه څه | چه نشته | تاسره | په هغے باندے | هیڅ علم | نو خبره مه منه د هغوی دواړو | او ملګرتیا کوه د هغوی دواړو سره

چه تاسره پرے څه علم (دلیل) هم نه وی (او نه شته) نو د هغوی خبره مه منه. او په دنیا کښ ورسره

فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا ۖ وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ ثُمَّ

په دنیا کښ | ښه (ملګرتیا) | او روان شه | په لاره | د هغه چا | چه راګرځی | ما ته | بیا

ښه سلوک کوه او د خپلو آباؤ غلطه تابعداری مه کوه بلکه د دا سے کس تابعداری کوه چه متبع د سنت وی او ما ته راګرځی

اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ يٰبُنَيَّ

ما ته | واپس راتلل ستاسو دی | نو زه به خبر در کړم تاسو ته | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | اے زما بچو ریه!

بیا به تاسو ټول زما طرف ته واپس راځئ نو تاسو چه څه عمل کولو د هغے نه به موزه خبر کړم.

اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ

بیشکه دا (عمل) | که چرے وی | په اندازه | دیوے دانے | د اوری | بیا وی دا | په یوه ګټه کښ

اے زما بچو په یه که (خصلت د نیکۍ یا بدۍ) د اوري د دانے برابر وی او په یوه ګټه کښ وی

اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

یا په آسمانونو کښ | یا په زمکه کښ | نو راوړی به | هغے لره | الله | بیشکه | الله دے

یا په آسمانونو کښ وی یا په زمکه کښ وی نو بیا به ئے هم الله تعالیٰ حاضر کړی. یقین او کړه چه الله تعالیٰ

لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ۝ يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ

باریک لیدونکے | ډیر خبردار | اے بچو په ! | قائموه | مونځ | اوحکم کوه | د نیکۍ

باریک بین خبردار دے. اے زما بچو په ! د مانځه پابندی کوه او د نیکۍ حکم کوه

وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ

اومنع کوه (خلق) | د ناروا نه | او صبر کوه | په هغه څه | چه اورسیږی تاته | بیشکه | د

او د بدو نه (خلق) منع کوه او کوم مصیبت چه دررسی په هغے صبر کوه. یقیناً دا

مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۝ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ

د همت | د کارونو نه دی | او مه اړوه | رُخسار خپل | د خلقو نه | او مه ګرځه

ډیر د همت کارونه دی. اوپه وخت د خبرو کښ خلقو سره ته خپل مخ مه اړوه او په زمکه کښ په غرور اونزاکت

فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ۝

په زمکه کښ | په غرور سره | بیشکه | الله | نه خوښوی | هرلوئی کونکے (مغروره) | فخر کونکے

سره مه ګرځه. یقین او کړه چه الله تعالیٰ دا سے متکبر انسان نه خوښوی چه بل سپک ګڼری او په خپل ځان فخر کوی.

وَاقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ؕ اِنَّ اَنْكَرَ

او میانه روی کوه | په تګ خپل کښ | او ښکته ساته | آواز خپل | بیشکه | ډیر بد

او په خپل تګ کښ اعتدال اختیار کړه او په بعضے آواز خپل کښ نرمی پیدا کړه (آواز ټیټ ساته) یقیناً

الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ۝ اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ ع

په آوازونو کښ | خامخا آواز | د خرو دے | آیا تاسو نه ګورئ | چه بیشکه | الله | په کار لګولی دی

په ټولو آوازونو کښ بدترین آواز د خرو دے (ځکه چه بے ضرورته وی). آیا تاسو دعبرت حاصلولو دپاره نه ګورئ چه الله تعالیٰ

لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ

ستاسو دپاره | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی | او هغه څه | چه په زمکه کښ دی | او پوره کړی ئے دی | په تاسو باندے

د آسمانونو او د زمکے هرڅه ستاسو په کار (خدمت) کښ لګولی دی او خپل

نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ؕ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ

نعمتونه خپل | (څه) ښکاره | او (څه) پټ | او بعضے د خلقو نه | هغه څوکسدی | چه جګړه کوی

ظاهری او باطنی نعمتونه ئے تاسو ته پوره پوره درکړی دی او (بیا هم) بعضے خلق دالله تعالیٰ

فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝ وَاِذَا

دالله په باره کښ | بغیر | د علم نه | او د هدایت نه | او د یو کتاب | روښانه نه | او کله چه

د توحید په باره کښ جګړه کوی حالانکه نه ورسره څه علم وی او نه څه هدایت او نه یو روښانه کتاب۔ او کله

قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ

اوویلی شی | دوی ته | چه روان شئ | په هغه څه پسے | چه نازل کړی دی | الله | نو وائی دوی | بلکه | مونږ روان یُو

چه ورته اوویلی شی چه هغه څه پسے روان شئ چه الله تعالیٰ رالیږلی دی نو وائی چه نه بلکه مونږ

مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ

په هغه څه پسے | چه مونږ موندلی دی | په هغے باندے | پلاران خپل | آیا اګر که وی | شیطان

به په هغه څه پسے روان یو په څه چه مونږ خپل پلار نیکه (مشران) موندلی دی اګر که شیطان

يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝ وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗٓ

چه رابلی دوی | عذاب | د اور لمبو والا ته | او هغه څوک | چه اوسپاری | خپل مخ (ځان)

دوی کرم اور ته رابلی (نو بیا به هم ورپسے دوی روان وی؟) او څوک چه الله ته

اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ؕ

الله ته | اووی دے | نیکی کوونکے | نو یقیناً | ده راتهینګه کړه | ګړئ | مضبوطه

خپل ځان اوسپاری او نیکی کونکی وی نو یقیناً ده مضبوطه کړئ راونیولے۔

وَاِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ۝ وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ

او خاص الله ته | انجام | د ټولو کارونو دے | او هغه څوک | چه کفر وکړے دے | نو غمژن دے نه کړی تا

او د ټولو کارونو آخری انجام الله تعالیٰ ته حواله دے۔ او (اے نبیؐ!) چا چه کفر اختیار کړے دے دهغه کفر دے تا

كُفْرُهٗ ؕ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

کفر دهغه | خاص مونږ ته | دهغوی واپس راتلل دی | نو مونږ به خبر کړو هغوی | په هغه څه | چه هغوی کړی دی | بیشکه | الله

غمژن نه کړی آخر دا ټول به زمونږ طرف ته واپس راځی نو مونږ به ورته اوښایو چه دوی څه څه کارونه کړی دی؟

عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ

ښه پوهه دے | په راز | د سینو | مونږ فائده ورکوو هغوی ته | لږه شان | بیا به | راکاږو مونږ هغوی

یقیناً الله تعالیٰ په سینو کښ پټے خبرے هم پیژنی۔ مونږ دوی ته دمزو اغستلو لږه موقع ورکوو بیا به ئے مونږ

اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

عذاب | دیر سخت ته | او که چرے | ته تپوس او کړے دوی نه | چه چا | پیدا کړی دی | آسمانونه

یو سخت ترین عذاب ته راکاږو۔ او که چرے ته دوی نه تپوس او کړے چه آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی؟

وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

او زمکه | نو خامخا به دوی وائی | چه الله | اووایه | چه صفتونه دی | د الله دپاره | بلکه | اکثر د دوی نه

نو دوی به ضرور وائی چه الله، ته اووایه چه الحمد لله، خو د دے باوجود (بلکه) اکثر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

نه پوهيږي | خاص دالله دی | هغه څه | چه په آسمانونو | او زمکه کښ دی | بيشکه | الله

دپوهے نه کار نه اخلی. د آسمانونو او د زمکے هر څه خاص دالله تعالی (په اختيار کښ) دی يقيناً الله تعالی

هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝ وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ

هم هغه دے | بے حاجته | ستائلے شوے | اوکه چرے شی | هغه څه | چه په زمکه کښ دی | د | وونو | نه

بے پروا د صفتونو لائق ذات دے. او په زمکه کښ چه څومره وني دی که دا ټول

اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ

قلمونه | او درياب | چه مدد او کړی حده | دَدهٗ نه وروسته | اوه (نور) | دريابونه | نو ختم به نه شی

قلمونه شی او زياتی کړی دے سمندر لره اوه دريابونه روسته د ختميدلو دده نه او سياهی شی نو بيا به هم دالله تعالی خبرے

كَلِمٰتُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝ مَا خَلْقُكُمْ

کلمے (خبرے) | د الله | بيشکه | الله دے | ډير زورور | او لوے حکمت والا | نه دی پيدا کول ستاسو

صفات، عجائب او حکمتونه ختم نشی، يقيناً الله تعالی ډير غالب لوے حکمت والا ذات دے. ستاسو پيدا کول او بيا دوباره

وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝

او بيا ژوندی کول ستاسو | مګر | په شان د نفس | يَو | بيشکه | الله دے | ښه اوريدونکے | ښه ليدونکے

ژوندی کول خو الله تعالی ته داسے دی لکه يو کس (پيدا کول او دوباره ژوندی کول) يقيناً الله هر څه اوری هر څه وينی

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ

آيا تا نه دی کتلی | چه بيشکه | الله | داخلوی | شپه | په ورځ کښ | او داخلوی | ورځ

آيا تا نه دی کتلی چه الله تعالی شپه په ورځ کښ او ورځ په شپه کښ داخلوی

فِي الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۙ كُلٌّ يَّجْرِيْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ

په شپه کښ | او هغه تابع کړی دی | نور | او سپوږمۍ | هريَو | روان دے | تر نيټے

او نور او سپوږمۍ ئے په کار لګولی دی (چه) هريَو به تر مقرر ے نيټے پورے روان وی.

مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ

مقرر ے | او (داچه) بيشکه | الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | خبردار دے | دا ځکه | چه بيشکه | الله

او الله تعالی ستاسو د ټولو کارونو (عملونو) نه پوره خبردار دے. دا تفصيل دے دپاره او شو چه بنکاره شی چه الله تعالی

هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ

هم هغه دے | حق | او بيشکه | هغه څه | چه دوی ئے رابلی | سوا د هغه نه | باطل دی | او بيشکه

حق دے او د هغه نه سوا چه دوی څوک رابلی هغه باطل دی. او داهم بنکاره شی چه يقيناً الله تعالی

ع ١٥ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۝ اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِيْ

الله | هم هغه دے | ډير اوچت | ډير لوئ | آيا تا نه دی کتلی | چه بيشکه | کشتئ | روانے وی

ډير اوچت مرتبے والا او لوے ذات دے. آيا تا نه دی کتلی چه کشتئ په درياب کښ دالله تعالی

فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

په دریاب کښ | په نعمت | د الله سره | چه اوښائی هغه تاسوته | څه نخښے خپلے | بیشکه | په دے کښ

په نعمت (په نر موهوا کانو) سره روانے وی دے دپاره چه الله تاسوته دخپل قدرت بعضے نخښے اوښائی. یقیناً په دے کښ

لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝ وَاِذَا غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ

خامخا نخښے دی | دپاره د هر | صبر کونکی | شکر کونکی | او هر کله | چه پټ کړی دوی لره | چپه

د هر عادتی صبر ناک شکر گزار د پاره پیرے نخښے پرتے دی. او کله چه د دریاب چپے

كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ

پشان د سائبان | نورا بلی دوی | الله لره | خالص کونکی وی | د هغه پاره | دین (عبادت) | پس هر کله | چه هغه بچ کړی دوی لره

د سائبان په شان په دوی باندے راخوریے شی نو دوی د پیر په اخلاص سره الله را بلی. بیا کله چه ئے الله

اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ؕ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ

دوچے طرف ته | نو بعضے ددوی نه | په اعتدال وی | او انکار نه کوی | د آیتونو زمونږ له | مګر | هر وعده ماتونکے

د خشکۍ طرف ته بچ راولی نو په دوی کښ څه خلق توحید پرست پاتے شی او زمونږ د آیتونو نه خو صرف بے لوظه (ډهری)

كَفُوْرٍ ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِيْ

ناشکره | اے خلقو! | اویریږئ | درب خپل نه | او اویریږئ | د هغه ورځ نه | چه نه به شی لرے کولے

او ناشکره (مشرک) انکار کوی. اے خلقو! د خپل رب د عذاب نه ځان وساتئ او د هغے ورځے نه اویریږئ چه

وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ ۫ وَلَا مَوْلُوْدٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَّالِدِهٖ شَيْـًٔا ؕ

یو پلار | د خوی خپل نه | اونه یو خوے به لرے کوونکے وی | د پلار خپل نه | څه څیز

یو پلار به د خپل خوی په کار نه راځی او نه به یو خوئے د پلار په کار راشی.

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۪

بیشکه | وعده | د الله | رښتنے ده | پس دهوکه دے نه کړی تاسو | ژوند | دُنیوی

یقین اوکړئ چه د الله تعالیٰ وعده رښتنی ده. پس د دنیا ژوند دے تاسو دهوکه نه کړی

وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ

او دهوکه دے نه کړی تاسو | د الله په باره کښ | دهوکه باز | بیشکه | الله | هم دهغه سره دے | علم

اونه دے لوئے دهوکه باز (شیطان) د الله تعالیٰ په باره کښ تاسو دهوکه کړی. یقیناً د قیامت (د راتلو) علم الله سره دے

السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ؕ

د قیامت | او هغه راوړی | باران | او پوهیږی هغه | په هغه څه | چه رحمونو کښ دی

او هم هغه باران راوړی. او هم هغه ته معلوم دی چه په رحمونو کښ (د بچی پوره حالات) څه دی

وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ؕ وَمَا تَدْرِيْ

او نه پوهیږی | هیڅ یو تن | چه دے به څه کوی | صبا | او نه پوهیږی

او هیڅ یو کس ته پته نه لګی چه صبا به هغه څه کوی. او نه یو کس ته دا پته شته چه

نَفْسٌ بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ۝

هیڅ یو تن | چه په کومه زمکه به | دے مری | بیشکه | الله | ښه پوهه | ښه خبردار دے

په کومه زمکه به دے مری. یقیناً الله تعالی په هر څه پوهه د هر څه نه پوره خبردار دے

آیاتها [٣٠]	سورة السجدة مكية	رکوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓمّٓ ۝١ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٢

الم | راليږل | د (دے) کتاب | نشته دے هیڅ شک | په دے کښ | د طرفه د رب | د مخلوقاتو نه دی

الم، په دے کښ هیڅ شک نشته چه د دے کتاب راليږل د رب العالمین د طرف نه دی

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ

آیا وائی دوی | چه هغه خان نه جوړ کړے دے (قرآن) | بلکه | دا (خو) | حق دے | ستا د رب د طرف نه

آیا دا خلق دا وائی چه دے پیغمبر دا (قرآن) د خان نه جوړ کړے دے (نه نه) بلکه دا خو حق دے ستا د رب

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ

چه اوږوے ته | هغه قوم | چه نه دے راغلے هغوی ته | څوک ویروونکے | مخکښ ستا نه | دے د پاره چه هغوی

د طرف نه دے د پاره راغلے دے چه ته د دے په ذریعه هغه خلق (قوم) اوږوے چه ستا نه مخکښ ورته څوک ویروونکے

يَهْتَدُوْنَ ۝٣ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا

هدایت بیا مومی | الله | هغه (ذات) دے | چه پیدا کړی دے | آسمانونه | او زمکه | او هغه څه

نه وو راغلے (دے د پاره) چه هغوی په سمه لار راشی. الله خو هغه ذات دے چه آسمانونه او زمکه او څه چه د دے دواړو

بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ؕ

چه د دے دواړو په مینځ کښ دی | په شپږو | ورځو کښ | بیا | برابر شوے دے | په عرش باندے

په مینځ کښ دی د اتو لسو په اندازه د شپږو ورځو کښ پیدا کړی دی بیا په عرش باندے قائم (مستوی) شوے دے

مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝

نشته ستاسو د پاره | د هغه نه سوا | هیڅ څوک دوست | او نه څوک سفارش کونکے | آیا نو تاسو نصیحت نه قبلوئ

د هغه نه سوا ستاسو نه څوک دوست شته او نه څوک سفارشی. آیا بیا هم تاسو نصیحت نه قبلوئ.

يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ

هغه بندوبست کوی | د کار | د آسمان نه | زمکے ته | بیا به | خیژی | د هغه طرف ته

هم هغه د آسمان نه ترزمکے پورے د هر کار انتظام (بندوبست) پخپله کوی بیا به هر یو کار په دا سے

فِیْ یَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗۤ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ۝ ذٰلِكَ

(دا سے) ورځ کښ | چه دے | مقدار دهغے | زر | کاله | دهغه (مودے) نه | چه تاسو ګڼئ | دغه (ذات)

یوه ورځ (قیامت) کښ هغه ته واپس کیږی چه د هغے مقدار ستاسو د حساب مطابق زر کاله دے.

عٰلِمُ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِیْزُ الرَّحِیْمُ ۝ الَّذِیْۤ

عالم دے | په هر پټ | او ښکاره (څیز) | ډیر زورآور | ډیر مهربان دے | هغه (ذات)

هم دا (الله) په پټو او په ښکاره خبرو پاند دے پوهه دے او زورور (غالب) او مهربان دے. هغه ذات

اَحْسَنَ كُلَّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ

چه ښائسته ځیږ کړے دے | هر څیز | چه پیدا کړے ئے دے هغه | او شروع کړے دے هغه | پیدائش | د انسان

چه هر یو څیز ئے ښائسته پیدا کړے دے. او د انسان پیدائش ئے

مِنْ طِیْنٍ ۝ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ

د خټے نه | پیدا ئے | جوړ کړے دے | نسل دهغهٔ | د راښکلے شوو | اوبو

د خټے نه شروع کړے دے. پیدا ئے دهغه نسل د نچوړ شوو بے قدره اوبو نه چلولے دے

مَّهِیْنٍ ۝ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِیْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ

سپکو نه | پیدا | ئے برابر کړے دے دهغه | اوبوک وهلے ئے دے | په ده کښ | د روح خپل نه | اوپیدا کړی ئے دی

پیدا ئے ورله اندامونه برابر کړی دی او خپل روح ئے پکښ پوک وهلے دے. او (اے انسانانو!)

لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝

ستاسو دپاره | غوږونه | او سترګے | او زړونه | (خو) ډیر لږ | تاسو شکر کوئ

ستاسو دپاره ئے غوږونه، سترګے. او زړونه پیدا کړل (خو) تاسو ډیر لږ شکر کوئ.

وَقَالُوْۤا ءَاِذَا ضَلَلْنَا فِی الْاَرْضِ ءَاِنَّا لَفِیْ خَلْقٍ جَدِیْدٍ ؕ

اووائی دوی | آیا هر کله | چه ورک شو مونږ | په زمکه کښ | آیا (نو) ښوبه مونږ | خامخا په پیدائش | نوی کښ

او دا خلق وائی چه (آیا) کله چه مونږ په زمکه کښ ورک (خاورے) شو نو آیا مونږ به د نوی سره بیا راوونډی کیږو،

بَلْ هُمْ بِلِقَآىِٕ رَبِّهِمْ كٰفِرُوْنَ ۝ قُلْ یَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ

بلکه | دوی | د ملاقات | د رب خپل نه | انکار کونکی دی | اووایه | ساه (به) اخلی ستاسو | فرشته

اصل خبره داده چه دوی د خپل رب د ملاقات نه منکر دی. اے نبیؐ اورته اووایه چه تاسو نه به

الْمَوْتِ الَّذِیْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰی رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ۝

د مرګ | هغه | چه مقرر کړے شوے ده | په تاسو | بیا به | خپل رب ته | تاسو واپس کول شئ

د مرګ هغه فرشته روح قبض کوی کومه چه په تاسو مقرر شوے ده، بیا به تاسو خپل رب ته واپس کیږئ.

وَلَوْ تَرٰۤی اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

او که چرے | ته اوویني | کله به چه | مجرمان | ښکته کوونکی | د خپلو سرونو وی | د خپل رب په وړاندے

او کاش چه ته هغه منظر اووینے څه وخت چه دے مجرمانو به د خپل رب مخے ته سرونه ټیټ نیولی وی

رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا

اے ربه زمونږ! ولیدل مونږ او واورېدل مونږ پس واپس کړه مونږ چه عمل اوکړو نیک بیشکه مونږ

(او وائی به) اے زمونږ ربه! زمونږ سترګے او غوږونه کولاؤشو. نو واپس مو دنیا ته اولیږه چه نیک عمل اوکړو

مُوْقِنُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ

یقین کوونکی یو او که چرے غوښتلے مے مونږ نو خامخا ورکړے به وو مونږ هر یو تن ته هدایت دهغهٔ لیکن

(اوس) زمونږ پوره یقین راغے. او که چرے مونږ غوښتلے نو مونږ به هر یو کس ته هدایت کړے وے لیکن

حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّيْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ

پوره شوے دہ فیصله زما د طرف نه چه خامخا به ډکوم زه دوزخ د پیریانو او د انسانانو

زما د طرف نه دا خبره فیصله شوے ده چه زه به دوزخ د پیریانو او انسانانو ټولو نه ضرور ډکوم.

اَجْمَعِيْنَ ﴿١٣﴾ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۖ

ټولونه په یو ځائے پس اوځکئ (عذاب) په بدله د هغے چه تاسو هیر کړے وو ملاقات د دے ورځے ستاسو

پس (اوس) د اور خوند (مزه) واخلئ ځکه چه تاسو دَ دے ورځے راتلل هیر کړی وو

اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤﴾

بیشکه مونږ به (یه) هیر کړو تاسو او اوځکئ عذاب د همیشه په بدله د هغه څه کښ چه تاسو به کول

(نن) مونږ هم تاسو هیر کړئ او د خپلو بد عملونو په بدله کښ د همیشه عذاب خوند (مزه) واخلئ

اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا

بیشکه ایمان راوړی په آیتونو زمونږ باندے هغه خلق چه کله نصیحت اوکړے شی هغوی نه په دے سره نو پرې ږی

یقیناً (حقیقت دادے چه) زمونږ په آیتونو باندے هغه خلق ایمان راوړی چه کله ورته زمونږ په آیتونو سره نصیحت اوکړے شی

سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿١٥﴾ تَتَجَافٰى

سجده کونکی او پاکی وائی سره دَ حمد د رب خپل او دوی ځان لوئے نه کوی جدا وی

نو هغوی په سجده پرې یو ځی او د خپل رب د حمد سره د هغه تسبیح وائی او لوئی (تکبر) نه کوی.

جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۖ

اړخونه د هغوی د بستر و نه را بلی رب خپل په یره او په طمع

د هغوی اړخونه د خوب د ځایونو (بسترو) نه جدا وی (او) خپل رب د یرے او د طمعے سره را بلی.

وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ

او له هغه څه نه چه مونږ هغوی ته روزی کړی دی هغوی نه خرچ کوی پس نه پوهیږی هیڅ یو کس په هغه څه چه پټ ساتلی شوی دی

او مونږ چه ورله څه ورکړی دی هغے نه خرچ کوی. پس هیڅ چا ته پته (علم) نشته چه دا سے خلقو دپاره

لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٧﴾

هغوی د پاره د یخوالی د سترګو نه بدله (به ورکولے شی) د هغه څه چه هغوی به کول

د هغوی د عملونو په بدله کښ د سترګو د یخوالی څومره سامان پټ سنبال پروت دے

أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ۚ لَا يَسْتَوُۥنَ ﴿١٨﴾

آیا نو هغه څوک | چه وی | مومن | په شان د هغه چا دے | چه وی هغه | فاسق | نه برابریږی

آیا څوک چه مؤمن وی هغه د هغه چا په شان کیدے شی چه هغه فاسق وی؟ نشی برابرید لے.

أَمَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ جَنَّٰتُ

هغه کسان | چه ایمان یې راوړے دے | او عملونه ئے ګړی دی | نیک | نووی په هغوی د پاره | جنتونه

چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی د هغوی د اوسیدو د پاره به باغونه وی

ٱلْمَأْوَىٰ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ

د اوسیدو | میلمستیا به وی | په بدله د هغه څه کښ | چه دوی ئے کوی | او هغه کسان

چه دا به د هغوی د عملونو په بدله کښ د هغوی میلمستیا وی. او چا چه

فَسَقُوا۟ فَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓا۟ أَن يَخْرُجُوا۟

چه نافرمانی ئے کړے ده | نو ځائے د دوی | اُور دے | هر کله | چه اراده او کړی هغوی | چه راوتلی

نافرمانی کړے ده نو د هغوی د اوسیدو ځائے اور دے. کله هم چه هغوی د هغے نه د راوتلو اراده او کړی

مِنْهَآ أُعِيدُوا۟ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ

د هغے نه | (نو) واپس به کړ ځولے شی | په هغے کښ | او واپس به ویلے شی | هغوی ته | چه اوځکئ | عذاب | د اُور

نو واپس به ورته اوغورځولے شی او ورته به اووایلے شی د اور کومر عذاب چه تاسو دروغ ګڼلو

ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلْعَذَابِ

هغے | چه تاسو به | هغه | دروغ ګڼلو | او خامخا مونږ به اوخکوو دوی ته | د عذاب

د هغے خوند (مزه) واخلئ. او مونږ به دوی ته (د قیامت) د لوئی عذاب نه مخکښ د دنیا

ٱلْأَدْنَىٰ دُونَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَنْ

نزدے نه | مخکښ د عذاب | لوئے نه | د دے د پاره چه دوی | واپس شی (د نافرمانئ نه) | اوځکوو دے

نزدے عذاب اوځکوو شاید چه دوی حق ته رجوع او کړی. او د هغه چا نه

أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآ ۚ

غټ ظالم | د هغه چا نه | چه نصیحت ورته اوکړے شی | په آیتونو | د رب خپل | بیا | هغه مخ واړوی | د هغے نه

غټ ظالم څوک کیدے شی چه د خپل رب د آیتونو په ذریعه ورته نصیحت اوشی نو هغه ترے مخ واړوی

إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ ع وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى

بیشکه مونږ | د مجرمانو نه | بدله اغستونکی یُو | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته

مونږ به د دے مجرمانو نه ضرور بدله اخلو. او حقیقت دا دے چه مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړے وو

ٱلْكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ ۖ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى

کتاب | پس مه کیږه ته | په شک کښ | د ملاقات د هغه نه | او جوړ کړے وو مونږ هغه لره | هدایت

نو (اے نبیؐ!) ته (په شپه د معراج) د موسیٰؑ د ملاقات په بارہ کښ شک مه کوه او مونږ تورات د بنی اسرائیلو د پاره

لِّبَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۝ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا

د پارہ دہ بنی اسرائیلو | اوجوړ کړی وو مونږ | دهغوی نه | امامان | چه لاره ښودله (خلقو ته) | زمونږ په حکم

د هدایت ذریعه جوړه کړے وه. او مونږ په هغوی کښ څه خلق پیشوایان جوړ کړی وو چه زمونږ په حکم به ئے

لَمَّا صَبَرُوْا ۫ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ ۝ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ

کله چه | هغوی صبر کړے وو | او وو هغوی | چه زمونږ په آیتونو به ئے | یقین کولو | بیشکه | رب ستا | (هم) هغه به

بیان د دین کوؤ کله چه هغوی د صبر نه کار واغستلو او زمونږ په آیتونو ئے یقین محکم شو. یقیناً هم ستا رب به

يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝

فیصله کوی | د دوی په مینځ کښ | په ورځ | د قیامت | په هغه څه کښ | چه دوی به | په هغے کښ | اختلاف کولو

د قیامت په ورځ د دوی په مینځ کښ د هغه خبرو فیصله او کړی چه دوی به په یکښ اختلاف کولو

اَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ

آیا نه ده ښکاره شوے | دوی ته | چه څومره هلاک کړی دی مونږ | مخکښ د دوی نه | د | قومونو نه

آیا دے کافرانو ته د دے خبرے نه (هم) هدایت حاصل نه شو چه د دوی نه مخکښ څومره قومونه مونږ هلاک کړی دی

يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ ۭ اَفَلَا يَسْمَعُوْنَ ۝

چه دوی گرځی | په کورونو د هغوی کښ | بیشکه | په دے کښ | خامخا نښے دی | آیا نو دوی نه آوری؟

چه د هغوی په کورونو کښ دوی گرځی راگرځی. یقیناً په دے کښ (د خلقو د پاره) ډیرے نښے پرتے دی آیا نو دوی نه آوری؟

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَاۗءَ اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ

آیا دوی نه گوری | چه یېشکه مونږ | چلوو | اوبه | زمکے | شارے ته | پس راوباسو مونږ

او یا دوی نه گوری چه مونږ اوبه اوچے زمکے ته رسوو بیا په هغے سره هغه فصلونه راوباسو

بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَاَنْفُسُهُمْ ۭ اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ۝

په هغے سره | فصل | چه خوری | د هغے نه | څاروی د دوی | او دوی په خپله (هم) | آیا نو دوی نه وینی؟

چه د هغے نه د دوی څاروی هم خوری او دوی پخپله هم. آیا نو دوی (بیا هم) نه وینی؟

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ قُلْ

او دوی وائی | چه کله به وی | دا | فتح (فیصله) | که چرے | یئ تاسو | رښتنی | اووایه

او دوی وائی که تاسو واقعی رښتنی یئ نو د فیصلے دا ورځ به کله راځی؟ ته ورته اووایه چه

يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِيْمَانُهُمْ وَلَا هُمْ

په ورځ | د فتح (فیصلے) | فائده به نه ورکوی | هغه کسانو ته | چه کفر ے گړے دے | د هغوی ایمان | اونه به دوی ته

د فیصلے په ورځ به کافرانو ته د هغوی ایمان راوړل هیڅ فائده ورنه کړی او نه به ورته (نور) مهلت ورکړے شی

يُنْظَرُوْنَ ۝ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ۝

مهلت ورکولے شی | پس مخ واړوه | د دوی نه | او انتظار کوه | بیشکه دوی (هم) | انتظار کونکی دی

نو (اے نبی ا) د دے خلقو (د خبرو) پروا مه کوه (د دوی نه مخ واړه) او انتظار کوه دوی هم انتظار کوی.

آياتها [٧٣]	سورة الأحزاب مدنية	ركوعاتها [٩]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ ؕ

اے پیغمبره! | اویریږه | دالله نه | او خبره مه منه | د کافرانو | او منافقانو
اے نبیٰ! د الله تعالیٰ نه ډیره کوه او د کافرانو او منافقانو خبره مه منه۔

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۙ﴿١﴾ وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ

بیشکه | الله | دے | ښه پوهه | لوے حکمت والا | او روان اوسه | هغه څهچه سے | چه وحی کیږی | تاته
یقیناً الله تعالیٰ په هر څه باندے پوهه (او) لوئی حکمت والا دے۔ او ستا د رب د طرف نه چه تاته کومه وحی کیږی

مِنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۙ﴿٢﴾ وَّتَوَكَّلْ

ستا د رب د طرف نه | بیشکه | الله | دے | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | پوره خبردار | او توکل کوه
هغے پسے روان شه یقیناً الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه پوره خبردار دے۔ او په الله تعالیٰ باندے توکل کوه۔

عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝﴿٣﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ

په الله باندے | او پوره دے | یوا ځے الله | کارساز | نه دی جوړ کړی | الله | هیڅ یوسړی لره
او (ستاد) کار جوړولو دپاره یوا ځے الله کافی دے۔ (اے خلقو!) الله تعالیٰ د هیڅ کس په سینه کښ دوه زړونه

مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ

دوه زړونه | دهغه په خیټه کښ | اونه ئے دی جوړ کړے | ښځے ستاسو | هغه | چه ظِهار کوئ تاسو
نه دی پیدا کړی (نو شرک او توحید دواړه په یو کس کښ نشی جمع کیدے)۔ او تاسو چه کومے ښځے په خان باندے حرامولئ په شان

مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ؕ

دهغوی سره | ستاسو میندے | او نه ئے دی جوړ کړی | په خولے بللی شوی ستاسو | خامن ستاسو
دمیندو۔ هغه ئے ستاسو حقیقی میندے کړی نه دی او نه ئے ستاسو په خوی والی ګیولی هلکان ستاسو خپل حقیقی خامن جوړ کړی دی

ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي

دا | خبره ستاسو ده | په خولو ستاسو | او الله | وائی | حق | او هغه | ښائی
دا خو هسے ستاسو د خولے بے دلیله خبرے دی۔ او الله تعالیٰ (خو) حق وائی او هم په نیغه لار روانول کوی۔

السَّبِيْلَ ۝﴿٤﴾ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ

سمه لار | رابلئ دوی لره | ددوی د پلارانو په نومونو | دا (خبره) | ډیره د انصاف ده | په نزد د الله
تاسو دوی د دوی د پلارانو په نومونو رابلئ هم دا طریقه د الله په نزد ډیره د انصاف ده۔

فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ فِی الدِّیْنِ

پس که چرے | نه پیژئ تاسو | پلاران ددوی | نو(دوی) ورونړه دی ستاسو | په دین کښ

او که چرے تاسو ته د دوی پلاران معلوم نه وی نو ستاسو دینی ورونړه

وَمَوَالِیْكُمْ ؕ وَلَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ فِیْمَآ اَخْطَاْتُمْ

اوزادشوی)غلامان ستاسو دی | او نشته | په تاسو باندے | هیڅ گناه | په هغه څه کښ | چه تاسو غلطی کړے ده

او دوستان دی. او تاسو نه چه کومه غلطی (خطائی) په اقوالو کښ اوشی نو په هغے کښ په تاسو څه گناه نشته

بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

په هغے سره | لیکن (گناه شته) | دهغه څه | چه قصد ئے کړے وی | زړونو ستاسو | او دے | الله

لیکن د زړه په قصد چه کومه کار او کړئ په هغے کښ درباندے گناه شته. یقیناً الله تعالیٰ

غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ۝ اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ

دیر بخښونکے | دیر رحم کونکے | پیغمبر | زیات حقدار دے | په مومنانو باندے | د هغوی د ځانونو نه

دیر بخښونکے دیر مهربان دے. نبیٔ په مومنانو باندے د خپلو ځانونو نه هم زیات حق لری

وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰی

او بیبیانے دهغه | میندے دَدی دی | او (نزدے) رشته داران | بعضے دهغوی نه | زیات حقدار دی

اودهغه بیبیانے (په تعظیم اوپه حرمت د نکاح کښ) ددوی میندے دی. باقی دالله تعالیٰ په کتاب کښ خپل خپلوان

بِبَعْضٍ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُهٰجِرِیْنَ اِلَّاۤ

په (میراث) کښ بعضو سره | په کتاب | دالله کښ | د مومنانو نه | او د مهاجرینو نه | مگر

د نورو (عامو) مسلمانانو او مهاجرینو نه په یو بل باندے (د میراث) زیات حق لری البته

اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤی اَوْلِیٰٓىِٕكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِی الْكِتٰبِ

داچه | تاسو کوئ | خپلو دوستانو سره | څه نیکی (بنیگړه) | دے | داحکم | په کتاب کښ

که تاسو د خپلو دوستانو سره څه نیکی کول غواړئ (نو کولے شئ) دا خبره په کتاب کښ لیکلے شوے ده.

مَسْطُوْرًا ۝ وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِیّٖنَ مِیْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ

لیکلے شوے | او کله چه | واغستلو مونږ | د پیغمبرانو نه | پوخ لوظ دَهغوی | او ستانه

او اے نبیٔ اهغه وخت یاد کړه کله چه مونږ د ټولو پیغمبرانو نه وعده اغستلے وه او ستانه هم

وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی وَعِیْسَی ابْنِ مَرْیَمَ ۪ وَاَخَذْنَا

او د نوح نه | او د ابراهیم نه | او د موسیٰ نه | او د عیسیٰ | حُوی | د مریم نه | او اغستلی وو مونږ

او د نوح د ابراهیم، د موسیٰ او د عیسیٰ بن مریم نه هم. او مونږ ددوی نه (د دعوت د دین او د یو بل د تصدیق کولو)

مِنْهُمْ مِّیْثَاقًا غَلِیْظًا ۝ لِّیَسْـَٔلَ الصّٰدِقِیْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ

د دوی نه | لوظ | پوخ | د هغوی پاره چه تپوس او کړی (الله) | د رشتنو نه | دهغوی د رشتیا و باره کښ

پخه وعده اغستلے وه (دا د هغوی پاره) چه الله تعالیٰ د رشتینو خلقو نه د هغوی د رشتیا ؤ باره کښ تپوس او کړی

وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ع

اوتیار کړے دے هغه | د کافرانو دپاره | عذاب | دردناک | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے
او هغه د کافرانو دپاره ډیر دردناک عذاب تیار کړے دے ۔ اے مومنانو!

اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا

یاد کړئ | نعمت | د الله | په تاسو باندے | کله چه | راغلل تاسو ته | لښکرے | نو راولیږله مونږ
د الله هغه مهربانی یاده کړئ چه په تاسو ئے (په موقع د غزوهٔ خندق) کړے ده کله چه د کافرو لښکرے ستاسو خواته راغلے

عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا

په هغوی باندے | هوا | او (دا سے) لښکرے | چه نه لیدلے تاسو هغه | او دے | الله | هغه څه لره
نو مونږ پرے یوه سیلۍ راولیږله او دا سے لښکرے (د ملائکو هم) چه تاسو نه لیدلے او تاسو چه څه کوئ الله تعالی

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ۝ اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ

چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے | کله چه | راغلل دوی تاسو ته | ستاسو دېره طرف نه | او د لاندے طرف
هغه هر څه وینی ۔ څه وخت چه هغوی د مدینے دېره مشرقی طرف نه او د مدینے د لاندے مغربی طرف نه په تاسو راوختل

مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ

ستاسو نه | او کله چه | کږے شوے | سترګے | او اوږے سیدل | زړونه | مَرو ته
او څه وخت چه ستاسو سترګے (د ډیرے دوے) وازے پاتے شوے او زړونه (مو) خولے ته راغلل

وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۝ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ

او گمان کولو تاسو | په الله باندے | گمانونه (مختلف) | د غه ځائے کښ | او ازمایل شو | مومنان
او تاسو د الله تعالی په باره کښ قسما قسم گمانونه شروع کړل. په دغه موقع باندے د مومنانو

وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ۝ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ

او اوجړ قولی شو | په جړ قولو | سختو سره | او کله چه | اووئیل | منافقانو | او هغه کسانو
پوره ازمیښت او کړے شو. او ډیر سخت وجړ قولی شو. او کله چه منافقانو او د چا

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اِلَّا غُرُوْرًا

چه په زړونو د هغوی کښ | مرض وو | چه نه ده کړے موعده مونږ سره | الله | او رسول دهغهٔ | مگر | د دهوکے
په زړونو کښ چه مرض وو دا اوئیل چه مونږ سره الله او د هغه رسول صرف د دهوکے وعده کړے ده.

وَاِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يٰٓاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ

او کله چه | وویل | یوے ډلے | د دوی نه | اے یثرب والو | هیڅ طاقت (ځای) نشته | ستاسو
او څه وخت چه د هغوی یوے ډلے اووئیل چه اے د مدینے (یثرب) والو! تاسو کښ د دشمن سره د مقابلے

فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ

نو واپس شئ | او اجازت غوښتلو | یوے ډلے | د دوی (نه) | د پیغمبر نه | وئیل ئے | چه بیشکه
هیڅ طاقت نشته پس (نو) واپس لاړ شئ. او د دوی یوے ډلے د پیغمبر نه اجازت غوښتلو چه زمونږ

بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ؕ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا ۝

کورونه زمونږ | خالی دی | او نه وو هغه | خالی | نه غوښتل دوی | مګر | تختیدل

کورونه غیر محفوظ (په ډاګه) دی حالانکه هغه غیر محفوظ نه وو بلکه د دوی مقصد خو صرف تختیدل وو

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ

لوکه چرے | داخل کړے شی لښکرے | په دوی باندے | د اطرافو ددے (مدینے) نه | بیا | اُوغوښتلے شی دَدوی نه | فتنه

او که چرے د مدینے د اطرافو نه په دوی باندے د دشمن را ننوتی او دوی ته د فساد کولو اوویلی شی

لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَآ اِلَّا يَسِيْرًا ۝ وَلَقَدْ كَانُوْا

نو خامخا به دوی راشی هغه ته | او ایسار به نشی هغوی | په دے کښ | مګر | لږ | او یقیناً | دوی

نو دوی به دا خبره اومنی او په دے مدینه کښ به ډیر لږ وخت پاتے شی. او حقیقت دادے چه دوی

عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ؕ وَكَانَ عَهْدُ

وعده کړے وه | د الله سره | مخکښ ددے نه | چه نه به اړوی | شاګانے | او ده | وعده

مخکښ د الله سره دا وعده کړے وه چه دوی به (هیڅ کله) نه شا کوی (تختی به نه) او د الله دوعدے

اللّٰهِ مَسْئُوْلًا ۝ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ

د الله | چه تپوس به ےوکړے شی | اووایه | هرګز به فائده درنه کړی تاسو ته | تیخته | که چرے | وتختئ تاسو

تپوس به ضرور کیږی. اے نبیؐ! دوی ته اووایه چه که تاسو د مرګ یا د قتل نه تختئ

مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝

د مرګ نه | یا د قتل نه | او دغه وخت | فائده به درنه کړے شی تاسو ته | مګر | لږه

نو دا تخیته به هیڅ فائده درنه کړی او په دغه وخت کښ به تاسو ډیره لږه فائده اوچته کړئ.

قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ

اووایه | څوک دے | هغه ذات | چه بچ کړی تاسو | د الله نه | که چرے | اوغواړی هغه | په تاسو باندے

دوی ته اووایه چه څوک به مود الله تعالیٰ نه بچ کړی که هغه تاسو ته تکلیف رسول اوغواړی

سُوْٓءً اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ؕ وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ

تکلیف راوستل | یا اوغواړی هغه | په تاسو باندے | رحمت (کول) | او دوی به بیا نه مومی | د خپل ځان دپاره

یا که په تاسو مهربانی کول غواړی (نو څوک ئے منع کولے شی؟) او دوی به د ځان دپاره

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ

سوا د الله نه | څوک دوست | او نه څوک مددګار | یقیناً | پیژنی | الله

د الله تعالیٰ نه سوا نه څوک دوست بیا مومی او نه څوک مددګار. الله په تاسو کښ هغه خلق ښه پیژنی

الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ

منع کونکی (خلق) | ستاسو نه | او وینا کوونکی | خپلو وروڼو ته | (چه) راشئ | زمونږ خوا له

چه (د جهاد نه خلق) منع کوی او خپلو وروڼو ته وائی چه زمونږ خوا له راشئ،

وَلَا يَأْتُوْنَ الْبَأْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۚ فَاِذَا

او نه راځی دوی | جنګ ته | مګر | لږ | حاضرانې چه سخت شومان دی | ستاسو په حق کښ | پس کله چه

او پخپله جنګ له ډیر لږ راځی . ستاسو په حق کښ ډیر شومان دی بیا کله چه

جَآءَ الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ

راشی | یره | (نو) ته به وینے دوی | چه ګوری به | تاته | چه اوړی رااوړی به | سترګے د دوی

د دشمن د حملے یره پیدا شی نو ته به دوی وینے چه دا سے به درته ګوری چه ډیرے نه به ئے سترګے اوړی راوړی

كَالَّذِيْ يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ

پشان د هغه کس | چه بے هوشی راغلی وی | په هغه باندے | د مرګ (دوجے) | پس کله چه | لاړه شی | یره

لکه چه د مرګ بے هوشی پرے راغلی وی . بیا کله چه یره ختمه شی نو

سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ

نو دوی تکلیف در کوی تاسو ته | په ژبو | تیزو سره | سخت شومان دی | په مال باندے | د هغه خلقو

دوی د مال په حرص کښ په تیزو ژبو سره تاسو ته طعنے در کوی .

لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

ایمان نه دے راوړے | پس ضائع کړل | الله | د دوی عملونه | او دے | دا (کار) | په الله باندے

دے خلقو ایمان نه دے راوړے (ځکه خو) الله تعالیٰ د دوی اعمال برباد کړل . او دا کار الله ته

يَسِيْرًا ۝ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ يَّاْتِ

ډیر آسان | دوی ګمان کوی | په لښکرو باندے | چه (تراوسه) نه دی تلی | او که چرے | راشی (حمله او کړی)

ډیر آسان دے . دوی داخیال کوی چه د حمله کونکو لښکرے تراوسه پورے ولې نه دی تلی او که چرے د غه لښکرے

الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِي الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ

لښکرے | (نو) دوی خوښوی | دا (چه) کاش چه دوی | اوسیدونکی وے | په بانډو کښ | (چه) تپوس ئے کوے

بیا راشی (حمله او کړی) نو دوی به دا غواړی چه د صحرا ئے نه بهر په بانډه کښ ډیره وے او ستاسو د حالاتو تپوس نه ئے کوے

عَنْ اَنْۢبَاۗىِٕكُمْ ۭ وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِيْلًا ۝ ع

د خبرونو ستاسو | او که چرے | دوی وے | په تاسو کښ | نو جنګ به نه وو کړے دوی | مګر | لږ

او که چرے دوی ستاسو په مینځ کښ (تاسو سره) هم وی نو په جنګ کښ ډیره لږه حصه اخلی .

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ

یقیناً | شته | ستاسو د پاره | په رسول | د الله کښ | نمونه | بنائسته | د هغه چا د پاره

حقیقت دا دے چه ستاسو د پاره د رسول الله په ذات کښ یوه بهترینه نمونه ده .

كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ۝ وَلَمَّا

چه هغه | اُمید لری | د الله | او د ورځے | د آخرت | او یاد وی | الله | ډیر | او هر کله

خو د دا سے خلقو د پاره چه څوک د الله او د آخرت د ورځے (عقیده) ساتی او الله تعالیٰ ډیر یاد وی .

رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا . وَعَدَنَا

چه اولیدلے | مومنانو | لښکرے (دکافرانو) | نواوویل دوی | دادی | هغه څه | چه وعده ئے کړے ده صلی الله علیه وسلم سره

او کله چه مومنانو د کافرانو لښکرے اولیدلے نو وئے ویل چه دا هم هغه خبره ده چه

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۫ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ

الله | اورسول د هغهٔ | اورشتیا ویلی دی | الله | او رسول د هغهٔ | اودے زیات نه کړودوی لره | مګر

الله اورسول ئے ژمونږ سره وعده کړے وه او الله اودهغه رسول رشتیا ویلی وو. اودے خبرے دَدوی ایمان او اطاعت

اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ۝ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا

ایمان | او فرمانبرداری | بعضے د مومنانو نه | (هغه) سړی دی | چه رشتیا کړل هغوی | هغه څه

نور هم سوا کړو. په دے مومنانو کښې څه خلق دا سے هم دی چه د الله تعالی سره ئے خپل کړی

عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ

چه وعده ئے کړے وه | د الله سره | په هغے باندے | پس بعضے دوی نه | هغه څوک دی | چه پوره ئے کړو | نذر خپل | او بعضے دوی نه

لوظونه رشتیا پوره کړل. نو چا پکښې خپله منځته پوره کړه او بعضے

مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ۝ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ

هغه څوک دی | چه انتظار کوی | او بدل نه کړودوی (خپل لوظ) | په (هیڅ) بدلولو سره | دے دپاره چه بدله ورکړی | الله

(لا دوخت) انتظار کوی او په خپلو لوظونو کښې ئے بلکل تبدیلی اونه کړه. دا واقعه ځکه اوشوه چه الله تعالی

الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ

رشتینو (خلقو) ته | درشتیاو دهغوی | اوسزا به ورکړی هغه | منافقانو ته | که چرے | اوغواړی هغه

رشتینو خلقو ته دهغوی درشتیاو بدله (انعام) ورکړی او منافقانو ته که اوغواړی

اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَرَدَّ اللّٰهُ

یا توفیق دتوبے ورکړی | هغوی ته | بیشکه | الله | دے | دیر بخښونکے | دیر مهربان | اووایس کړل | الله

نوسزا به ورکړی یا به دهغوی توبه قبوله کړی. یقیناً الله تعالی دیر بخښونکے دیر مهربان دے. او کافران الله تعالی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۭ وَكَفَى اللّٰهُ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | دخپلے غصے سره | چه حاصل نه کړه هغوی | هیڅ فائده | او کافی شو | الله

دخپلے غصے سره واپس کړل چه هیڅ فائده ئے حاصل نه کړه. او (هم) الله تعالی

الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ۝ وَاَنْزَلَ

د مومنانو دپاره | په جنګ کښې | او دے | الله | دیر طاقتور | دیر زورور | اوراکوزے کړل

د مومنانو دپاره په جنګ کښې کافی شو. او الله تعالی دیر طاقتور دیر غالب دے. او په اهل کتابو کښې

الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ

هغه کسان | چه مدد ئے کړے وو دهغوی (کافرانو) | د اهل کتابو نه | د قلاګانو د هغوی نه

چه چا د هغوی (د مشرکانو) مدد کړے وو هغه ئے د خپلو قلاګانو نه بهر راویستل

وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ وَتَأْسِرُوْنَ

او وائے چولو | په زړونو دهغوی کښ | رعب | (چه) یوه ډله | تاسو وژله | او قید کوله تاسو

او په زړونو کښ ئے ورله رعب اوغورځولو نو څه کسان پکښ تاسو وژل او څه مو پکښ قید کول.

فَرِيْقًا ۝ وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا

بله ډله | او وارثان ئے کړئ تاسو | د زمکو دهغوی | او د کورونو دهغوی | او د مالونو دهغوی | او دهغے زمکے هم

او تاسو ته ئے د هغوی زمکے او کورونه او مالونه درکړل او (یوه داسے) زمکه (د خیبر) ئے درکړه

لَّمْ تَطَئُوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ۝ ع

چه قدمونه نه وو ایخودلے تاسو په هغے | او دے | الله | په هر څیز باندے | قادر

چه تاسو پرے (د جنګ په غرض) قدمونه نه وو ایخودلی. او الله تعالیٰ په هر څه باندے قادر دے.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

اے نبیؐ! | اووایه! | خپلو بیبیانو ته | که چرے | تاسو | غواړئ | ژوند | دنیوی

اے نبیؐ! خپلو بیبیانو ته ووایه! که چرے تاسو د دنیا ژوند او د هغے زیب وزینت (ډول سنګار)

وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ۝

او د هغے ښائست | نو راشئ | چه څه درکړم (سامان) درکړم ژغلونه | او پرېږدم تاسو | په پرېښودلو | خائسته سره

غواړئ نو راشئ چه زه تاسو ته په تحفه کښ (څه لږ ډیر سامان) درکړم او په ښه طریقه مو رخصت کړم.

وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ

او که چرے | تاسو غواړئ | الله | او رسول د هغهٔ | او کور | روستنے | نو بیشکه | الله

او که چرے تاسو الله او د هغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو یقین او کړئ چه الله تعالیٰ

اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ

تیار کړے دے | د نیکئ کونکو دپاره | ستاسو نه | اجر | ډیر لوئے | اے بیبیانو | د پیغمبر!

ستاسو نیک عمله زنانو دپاره ډیر لوئے اجر تیار کړے دے. اے د نبیؐ بیبیانو!

مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا

هغه څوک | چه اوکړی | ستاسو نه | بے حیائی | ښکاره | نو غټ کړے به شی | د هغے دپاره

په تاسو کښ چه څوک ښکاره بے حیائی (ښکاره ګناه) اوکړی نو هغے ته به

الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝

عذاب | دوه غټ کړے | او دے | دا (کار) | په الله باندے | آسان

دو چنده سزا ورکولے شی. او دا کار الله تعالیٰ ته ډیر آسان دے.

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا

اوځوک چه | تابعداری کوی | ستاسو نه | د الله | او د رسول دهغهٔ | او عمل کوی | نیک

(اے د پیغمبر بیبیانو!) په تاسو کښ چه څوک د الله تعالیٰ او د هغه د رسول اطاعت کوی او نیک عمل کوی

نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ۝

(نو) ورپه کړو مونږ هغے ته | اجر د هغے | دوه چند | او تیار کړے دے مونږ | د هغے د پاره | رزق | عزتمند (ښه)

نو مونږ به هغے ته د هغے دوه (غبرګ) اجر ونه ورکړو او مونږ د هغے د پاره ډیر ښه (عزتمند) رزق تیار ساتلے دے

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ

اے بیبیانو | د پیغمبر! | نه یئ تاسو | پشان د یو تن | د (نورو) زنانو نه | که چرے | تقوی لرئ تاسو

اے د پیغمبر بیبیانو! تاسو (په فضیلت کښ) د عامو زنانو پشان نه یئ که تاسو پرهیزګار اوسیدل غواړئ

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ

نو مه کوئ تاسو نرمی | په خبرو کښ | ګنی نو طمع (به) او کړی | هغه کس | چه په زړه د هغهٔ کښ | مرض دے

نو د پردو (اجنبی) سړو سره نرمے نرمے خبرے مه کوئ (که داسے مو او کړل) نو د چا په زړه کښ چه مرض د میلان وی ښځوته

وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ

او وایئ تاسو | خبره | نیکه | او ناستے اوسئ | په کورونو خپلو کښ | او مه ښکاره کوئ بناسټ

د هغه به د رته طمع پیدا شی او د قاعدے مطابق خبرے کوئ. او په خپلو کورونو کښ په قلاره (ناستے) اوسیږئ

تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ

پشان د ښکاره کولو د بناسټ | د جاهلیت | زور | او قائموئ | مونځ | او ورکوئ | زکات

او (پرد و سره وته) د تیرے زمانے د جاهلیت پشان ډول او سنګار مه ښایئ او د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ

وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ

او خبره منئ | د الله | او د رسول دهغهٔ | بے شکه | غواړی | الله | چه لرے کړی | ستاسو نه

او د الله او د هغه د رسول تابعداری کوئ اے د نبئ کور والو! الله تعالیٰ خو غواړی چه تاسو نه

الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ۝ وَاذْكُرْنَ مَا

پلیتی | اے کورنۍ (د پیغمبر) | او پاک کړی تاسو | په (پوره) پاکولو سره | او یادوئ | هغه څه

ګندګی لرے اوساتی او تاسو ښه پاک کړی. او ستاسو په کورونو کښ چه د الله تعالیٰ

يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه لوستلے کیږی | په کورونو ستاسو کښ | د آیتونو | د الله | او د حکمت (سنت) نه | بے شکه | الله

نو مر آیتونه او د پیغمبر سنت بیانیږی هغه یاد کړئ یقین او کړئ چه الله تعالیٰ

كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ۝ اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ ع

دے | د دیر باریک (څیزونه) لیدونکے | خبردار | بے شکه | مسلمانان سړی | او مسلمانانے ښځے

دیر باریک بین پوره خبردار ذات دے. یقیناً مسلمانان سړی او مسلمانانے ښځے

وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ

او مؤمنان سړی | او مؤمنانے ښځے | اوتابعداری کوونکی سړی | اوتابعداری کوونکی ښځے | او رشتونی سړی
او مؤمنان سړی او مؤمنانے ښځے. اطاعت کوونکی سړی او اطاعت کوونکی ښځے. رشتنی سړی

وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ

او رشتونے ښځے | اوصبر کوونکی سړی | اوصبر کوونکی ښځے | اوعاجزی کوونکی سړی | اوعاجزی کوونکی ښځے
اورشتنے ښځے. صبر کوونکی سړی او صبر کوونکی ښځے. عاجزی کوونکی سړی او عاجزی کوونکی ښځے

وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ

او خیرات کوونکی سړی | او خیرات کوونکی ښځے | اوروژه نیوونکی سړی | اوروژه نیوونکی ښځے
خیرات ور کوونکی سړی او خیرات ور کوونکی ښځے. روژه دار سړی او روژه دارے ښځے.

وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا

اوحفاظت کوونکی سړی | د شرمگاهونو خپلو | اوحفاظت کوونکی ښځے | او یادوونکی سړی | الله لره | ډیر
د خپلو شرمگاهونو حفاظت کوونکی سړی او حفاظت کوونکی ښځے او د الله تعالی ډیر ذکر کوونکی سړی

وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝

او یادوونکی ښځے | تیار کړے دے | الله | د دوی دپاره | بخښنه | او اجر | ډیر لوئے
او ذکر کوونکی ښځے. دے تولو دپاره الله تعالی مغفرت او ډیر لوئے اجر تیار کړے دے.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ

اونشته دے حق | دیو مؤمن سړی | اونه دیوے مؤمنے ښځے | کله چه | فیصله اوکړی | الله | اورسول دهغهٔ
اوکله چه الله تعالی اود هغه رسول دیوے خبرے فیصله اوکړی نو بیا دیو مؤمن سړی یا

اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ۭ وَمَنْ

دیوکار | چه وی دے | دوی لره | اختیار (خپله خوښه) | د کار خپل نه | او څوک
مؤمنے ښځے دپاره دا کنجائش نشته چه خپله خوښه دے اوکړی په کار خپل کښ. او چا چه

يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ۝ وَاِذْ

چه نافرمانی کوی | د الله | او د رسول دهغهٔ | نو یقیناً | هغه گمراه شو | په گمراهئ | ښکاره سره | اوکله چه
د الله تعالی اود هغه د رسول نافرمانی اوکړه نو یقیناً هغه په ښکاره گمراهئ کښ اخته شو.

تَقُوْلُ لِلَّذِيْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ

اووایل تا | هغه کس ته | چه انعام کړے دے | الله | په هغه باندے | اوتاهم انعام کړے دے | په هغه باندے
او (اے نبیؐ!) هغه وخت یاد کړه کله چه تا هغه کس ته چه الله پرے احسان کړے وو او تا ورسره هم احسان کړے وو

اَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ

چه ساته | د ځان سره | بی بی خپله | او یریږه | د الله نه | او تا پټوله | په زړه خپل کښ
دا وویل چه خپله بی بی په خپله نکاح کښ ساته او د الله نه یریږه او تا چه په خپل زړه کښ گومه خبره پټه ساتله

مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ

هغه خبره | چه الله | ښکاره کوونکے دهغسوو | اوته یریدے | دخلقونه | او الله | دیر حقدار دے
الله تعالیٰ هغه ښکاره کول غوښتل اوته د خلقونه یریدلے حالانکه الله تعالیٰ دیر حقدار دے

اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا

چه ته اویریږے دهغه نه | پس هر کله | چه پوره کړو | زید | دهغے نه | (خپل) حاجت | نومونږ په نکاح درکړه تاته هغه
چه ته ترے اویریږے بیا کله چه زید د خپلے بی بی نه خپل حاجت پوره کړو نو مونږ تاسره دهغے نکاح اوکړه

لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ

دے دپاره چه نه وی | په مؤمنانو باندے | څه تنګی | په (نکاح کولو) | دخولے لپالی شوی خامنو خپلو کښی
دا دے دپاره چه (آئنده) مسلمانانو ته د خپلو متبنّی کانو د بیبیانو سره په نکاح کولو

اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ۝

کله چه | پوره کړی دوی | دهغوی نه | حاجت | او دے | حکم (کار) | د الله | پوره کړے شوے
کښی څه قسم تنګی پاتے نه شی کله چه هغوی ترے خپل حاجت پوره کړی او د الله تعالیٰ حکم خامخا پوره کیږی۔

مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ

نهٗ دے وی | په پیغمبر باندے | هیڅ تنګی | په هغه څه کښی | چه فرض کړی دی | الله | دهغه دپاره
د پیغمبر دپاره (خو) جائز نه دی چه حرج محسوس کړی په رسولو دهغه حکم کښی، کوم چه دهغه دپاره الله مقرر کړے وی

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ

پشان د طریقے | د الله | په هغه خلقو کښی | چه تیر شوی دی | پخوا ددهٗ نه | او دے | کار (حکم) | د الله
هم دا د الله تعالیٰ دستور (طریقه) ده دهغه پیغمبرانو د تبلیغ په بارہ کښی چه مخکښی تیر شوی دی، او د الله تعالیٰ هر حکم (تقدیر)

قَدَرًا مَّقْدُوْرَا ۝ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ

په اندازه | مقرر کړے شوے | هغه کسان | چه رسوی | پیغامونه | د الله | اویریږی دهغه نه
مقرر شوے دے دا پیغمبران هغه خلق ووچه د الله تعالیٰ (رالیږلی شوی) پیغامات ځے پوره پوره (خلقو ته) رسول او هم

وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝

او نه یریږی | دهیڅ چا نه | سوا | د الله نه | او کافی دے | الله (یواځے) | حساب کوونکے
دهغه نه یریدل او د الله نه سوا بل دهیڅ چا نه نه یریدل، او داعتراض کوونکو د حساب اخستلو دپاره یواځے الله کافی دے

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ

نه دے | محمد ﷺ | پلار | دهیڅ یو کس | د سړو ستاسو نه | لیکن (هغه دے) | پیغمبر
(اے مسلمانانو!) محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو په سړو کښی دهیڅ چا پلار نه دے بلکه هغه خو د الله رسول

اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝ ع

د الله | او اخیری | د پیغمبرانو | او دے | الله | په هر یو | خیز باندے | ښه پوهه
او اخیری پیغمبر دے۔ او الله تعالیٰ په هر څیز باندے دیر (ښه) پوهیږی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ۙ وَّسَبِّحُوْهُ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | یا دوئ | الله | په یاد ولو | ډیرو سره | اوپاکی بیانوئ دهغه

اے مؤمنانو! الله تعالی ډیر یاد وئ .او سحر او ماښام د هغه پاکی (تسبیح) وایئ

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ

سَحر | او بیګا (ماښام) | هم الله هغه ذات دے | چه رالیږی رحمت | په تاسو باندے | او ملائک دهغهٔ (دعاګانے غواړی)

الله هم هغه ذات دے چه پخپله هم په تاسو رحمت رالیږی او دهغه ملائکے هم (درته درحمت دعاګانے کوی)

لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ

چه اوباسی الله تاسو | د تیارو نه | رنړا ته | اودے الله | په مؤمنانو باندے

دے دپاره چه هغه تاسو د تیارو نه رنړا ته راوباسی. او الله تعالی په مؤمنانو باندے

رَحِيْمًا ۝ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚ وَاَعَدَّ

ډیر مهربان | پیشکشی (دعاء) ددوی به | په هغه ورځ | چه مخامخ به شی دهغه (الله) سره | سلامونه وی | اوتیار کړے دے هغه

ډیر مهربان دے په کومه ورځ چه مؤمنان به دالله سره ملاوشی په هغه ورځ به دهغوی تحفه (استقبال) په سلام سره وی

لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا

ددوی دپاره | اجر | عزتمند | اے پیغمبره! | بیشکه | مونږ الیږلے یے ئے | ګواهی ورکوونکے

او الله تعالی د هغوی دپاره ډیر د عزت اجر (انعام) تیار ساتلے دے اے نبیؐ! یقیناً مونږ ته یو دا سے نبیؐ رالیږلے ئے

وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝ وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا

اوزیرے ورکوونکے | او ویروونکے | او رابلونکے | الله ته | په حکم د هغهٔ | او ډیوه بلیدونکے

چه ګواه هم یے اوزیرے ورکوونکے اویروونکے هم یے. او دالله تعالی طرف ته دهغه په حکم سره رابلونکے اورنړا خورونکے

مُّنِيْرًا ۝ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا

روښانه | اوزیرے ورکړه | مؤمنانو ته | چه بے شکه | د هغوی دپاره | د الله د طرف نه | فضل دے

ډیره هم بے اے نبیؐ! ته مؤمنانو ته زیرے واوروه چه الله تعالی د هغوی دپاره د خپل طرفه ډیر لوئ فضل تیار کړے دے

كَبِيْرًا ۝ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ

ډیر لوئ | اوته خبره مه منه | د کافرانو | او د منافقانو | اوپریږده | تکلیفونه د هغوی

او ته د کافرانو او منافقانو خبره مه منه او د هغوی د طرف نه درسیدونکی تکلیفونو پرواه مه کوه

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

او توکل کوه | په الله باندے | او کافی دے | الله (یواځے) | ذمه وار | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

اوپه الله تعالی باندے توکل کوه. او الله تعالی (یواځے) کارساز کافی دے۔ اے مؤمنانو!

اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ

کله چه | نکاح او کړئ تاسو | د مؤمنانو ښځو سره | بیا | طلاق ورکړئ تاسو هغوی ته | مخکښ

کله چه تاسو د مؤمنانو ښځو سره نکاح او کړئ (او) بیا دلاس لګولو نه مخکښ ورله طلاق ورکړئ

اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ

دوینه چه تاسولاس ورورئ وی هغوی که | نونشته ستاسو دپاره | په هغوی باندے | هیڅ عدت | چه تاسو شمارئ هغه

نو په هغوی باندے ستاسو په وجه هیڅ عدت (تیرول) نشته چه تاسو یے شمیره او کړئ.

فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ

پس سامان ورکړئ هغوی ته | او پریږدئ هغوی | په پریخودلو | خائسته سره | اے نبیؐ! | بیشکه

البته څه تحفه ورله ورکړئ او په ښه طریقه ئے رخصت کړئ اے نبیؐ! مونږ ستا دپاره

اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ الّٰتِيْٓ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ وَمَا

مونږ حلالے کړی دی | ستادپاره | بیبیانے ستا | هغه | چه تاورکړی دی | مهرونه دهغوی | او هغه

ستا هغه بیبیانے حلالے کړی دی چه تاورله مهر ورکړے دے او هغه ښځے هم چه

مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَبَنٰتِ

چه مالک ئے دے | شے لاس ستا | دهغے نه | چه په غنیمت کښ درکړی دی | الله | تاته | او لونړه

ستا په ملکیت کښ دی چه الله تعالیٰ درله د مال د کافرانو په غنیمت کښ درکړی دی. او ستا

عَمِّكَ وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ

دتره ستا | او لونړه | دتروریانو ستا | او لونړه | د ماما ستا | او لونړه | د خاله کانو ستا

دتره او دتروریانو لونړه هم او د ماما او خاله کانو لونړه (هم ستا دپاره حلالے دی) چه

الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ۡ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ

هغه | چه هغوی هجرت کړے دے | تاسره | او (ښځه) زنانه | مسلمانه هم | که چرے | او بخښی هغه

تاسره ئے هجرت کړے دے. او هغه مومنه زنانه هم چه (د مهر نه بغیر) خپل ځان پیغمبر ته او بخښی

نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ۗ خَالِصَةً

ځان خپل | پیغمبر ته | که چرے | غواړی | پیغمبر | چه نکاح او کړی دهغے سره | (دا حکم) صرف (خاص)

په دے شرط چه پیغمبر ورسره نکاح کول غواړی، دا کثرت دبیبیانو او هبه کول د ځان خپل خاص

لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا

ستادپاره دے | سوا | د نورو مؤمنانو نه | یقیناً | پوهه یُو مونږ | په هغه څه | چه فرض کړی دی مونږ

ستادپاره دی نورو مسلمانانو دپاره نه دی، یقیناً مونږ ته هغه څیزونه (د نان نفقه او مهر) ښه معلوم دی کوم چه مونږ

عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ

په دوی باندے | د دوی د ښځو په باره کښ | او د هغه (وینزو) په باره کښ | چه مالکان ئے دی | د ښځو لاسونه دوی

په دوی باندے د دوی د بیبیانو او د دوی د وینزو په باره کښ (چه نفقه ده) مقرر کړی دی (او اے نبیؐ! ته مو د دوی نه

لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

دے دپاره | چه نشی | په تاباندے | هیڅ تنګی | او دے | الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان

مستثنیٰ کړے) دے دپاره چه په تاباندے څه تنګی په تبلیغ د دین کښ را نشی او الله تعالیٰ دیر بخښونکے دیر مهربان دے.

تُرْجِيْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِيْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ ؕ

لرے کوہ تہ | چالرہ | چہ غواړے تہ | د دوی نہ | اوخائے ور کوہ | د خان سرہ | چالرہ | چہ غواړے

پہ دے ببیانو کښ چہ تہ کومہ غواړے نو نہ ببر نہ ئے لرے کولے شے او کومہ چہ غواړے نو خان تہ ئے نزدے کولے شے

وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ؕ

او هغہ (بی بی) | چہ تہ غواړے (او خائے کیدلی) | د هغہ چا نہ | چہ تا جدا کړی وی (د خان نہ) | نو نشتہ هیڅ گناہ | پہ تا باندے

او کومہ بی بی چہ تا د نہ ببر نہ ویستلے دہ کہ هغہ ببیا نزدے کول غواړے نو (پہ دے کښ) پہ تا باندے هیڅ گناہ نشتہ

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ

دا (حکم) | زیات نزدے دے | چہ یخیبړی یہ | ستر گے د دوی | او خفہ کیږی یہ نہ | او خوشحالہ یہ وی

پہ دے اختیار در کولو کښ تاتہ فائدہ دا دہ چہ د دوی ستر گے یہ یخے وی او غمژنے یہ نہ وی

بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ

پہ هغہ څہ | چہ تا ور کړی دی د دوی ټولو تہ | او اللہ | پوهیږی | پہ هغہ څہ | چہ ستاسو پہ زړونو کښ دی

اوتہ چہ ورلہ څہ ور کوے نو دوی ټولے یہ پہ هغے باندے خوشحالہ وی، اوستاسو پہ زړونو کښ چہ څہ دی

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ۝ لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ

او دے | اللہ | ښہ پوهہ | صبر والا | نہ دی روا | ستا د پارہ | زنانہ | روستو د دے (قسمونو) نہ

هغہ اللہ تہ معلوم دی او اللہ تعالیٰ ډیر پوهہ ډیر صبر ناک دے د دے څلورو قسمونو نہ پس نورے ښځے ستا د پارہ حلالے نہ دی

وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكَ

او نہ دا (روا دی) | چہ بدلے کړے | د دوی پہ ځائے | نورے ببیانے | اګر که | تعجب کښ اچوی تا

او نہ در لہ دا جائز دی چہ تہ د دوی پہ بدلہ کښ نورے ښځے او کړے اګر که د هغوی حسن تاتہ ښہ لګی،

حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

ښائست د هغوی | مګر | هغہ | چہ مالک ئے دے | شے لاس ستا | او دے | اللہ | پہ هر یو

البتہ کومے وینزے چہ ستا ملکیت کښ دی هغہ در لہ حلالے دی، او اللہ تعالیٰ د هر یو څیز

شَيْءٍ رَّقِيْبًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ

څیز باندے | نګهبان | اے هغہ کسانو چہ ایمان مو راوړے دے | مہ داخلیږئ | کورونو

پورہ نګرانی کوؤنکے دے اے مؤمنانو! د پیغمبر کور تہ د اجازت نہ بغیر مہ داخلیږئ،

النَّبِيِّ اِلَّآ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ

د پیغمبر تہ | مګر (هغہ وخت) | چہ اجازت او کړے شی | تاسو تہ | د خوراک | نہ بہ یئ انتظار کوؤنکی

البتہ که د خوراک اجازت در کړے شی (نو بیا داخلیږئ) خو هغہ هم پہ دے شان چہ د مخکښ نہ د خوراک

اِنٰىهُ ۙ وَلٰكِنْ اِذَا دُعِيْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ

د پخیدلو د هغے | لیکن | کلہ چہ | تاسو راوبللی شئ | نو داخل شئ | بیا کلہ چہ | خوراک او کړئ

د پخیدلو پہ انتظار کښ مہ کیئ لیکن څہ وخت چہ در تہ د خوراک د پارہ دعوت او شی نو داخل شئ بیا چہ کلہ خوراک او کړئ

فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي

نو خواره شئ | او مه ایسار یږئ مینه کوؤنکی | د خبرو | بیشکه | دا (کار) | تکلیف رسوی

نو خواره شئ او خبرو ته بنځ ناست مه پاتے کیږئ حقیقت دادے چه په دے سره پیغمبر ته تکلیف رسی

النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ ۫ وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَاِذَا

پیغمبر ته | نو هغه حیا کوی | ستاسو نه | او الله | حیا نه کوئ | د حق (بیانولو) نه | او کله چه

خو هغه ستاسو لحاظ کوی (او تاسو ته د ویلو نه) شرمیږی، او الله تعالی د حق په ویلو کښ د چا لحاظ نه کوی

سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ

غواړئ تاسو د هغوی نه | څه سامان | نو غواړئ د هغوی نه | وروستو | د پردے نه | دا طریقه

او کله چه تاسو د پیغمبر د بیبیانو نه څه سامان غواړئ نو د پردے نه شاته (اخوا) ئے ترینه غواړئ.

اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا

ډیره پاکیزه ده | ستاسو د زړونو د پاره | او د هغوی د زړونو د پاره | او نه دی جائز | تاسو لره | چه تکلیف اورسوئ

دا طریقه ستاسو او د هغوی د زړونو د پاک ساتلو ښه ذریعه ده. او تاسو له دا نه دی جائز چه

رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖٓ

پیغمبر | د الله ته | او نه دا (جائز دی) | چه تاسو نکاح او کړئ | د بیبیانو د هغهٔ سره | وروستو د هغهٔ نه

د الله رسول ته تکلیف اورسوئ او نهٔ دا جائز دی چه د هغه نه وروستو د هغه د بیبیانو سره نکاح او کړئ

اَبَدًا ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ۝ اِنْ تُبْدُوْا

همیشه | بیشکه | دا | (گناه) ده | د الله په نزد | ډیره لویه | که چرے | تاسو ښکاره کوئ

یقیناً دا د الله تعالی په نزد ډیر لوئے جرم دے۔ که تاسو څه خبره ښکاره کوئ

شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝

څه څیز | یا پټوئ هغه | نو بیشکه | الله | دے | په هر یو | څیز باندے | ښه پوهه

یا ے پټوئ نو (یاد ساتئ چه) الله تعالی د هر څیز پوره پوره علم لری۔

لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْٓ اٰبَآئِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ اِخْوَانِهِنَّ

نشته دے هیڅ گناه | په دوی باندے | په بارهٔ د پلار انو د دوی کښ | او نه په بارهٔ د ځامنو د دوی کښ | او نه په بارهٔ د ورونو د دوی کښ

د پیغمبر په بیبیانو باندے د خپلو پلار انو نه په پرده نه کولو کښ هیڅ گناه نشته (دا رنگ) د خپلو ځامنو.

وَلَآ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَآ اَبْنَآءِ اَخَوَاتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ

او نه په بارهٔ د ورېرونو د دوی کښ | او نه په بارهٔ د خوریونو د دوی کښ | او نه په بارهٔ د زنانو د دوی کښ

د خپلو ورونړو، د خپلو وریرونو، د خپلو خوریونو او د عامو مسلمانانو زنانو او د خپلو دینزو

وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ۚ وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او نه په هغه چا کښ | چه مالکان ئے دی | د بنی لاسونه د دوی | او ویریږئ | د الله نه | بے شکه | الله

(په بارهٔ کښ پرے هم هیڅ گناه نشته) او اے زنانو د الله تعالی نه ویریږئ، یقین او کړئ

كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۵۴﴾ اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ

دے | په هر ښۍ | څیز باندے | ګواه (حاضر) | بے شکه | الله | او ملائک د هغهٔ

چه الله تعالی په هر څیز باندے حاضر ناظر دے۔ الله تعالی او د هغه ملائکے

يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ

درود (رحمت) لیږی | په پیغمبر باندے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | درود وایئ | په هغه باندے

په پیغمبر باندے درود لیږی. اے مؤمنانو تاسو هم په هغه باندے درود وایئ

وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

او سلام وایئ | په (پوره) سلام ویلو سره | بیشکه | هغه کسان | چه تکلیف رسوی | الله | او رسول د هغهٔ ته

او ښه (ډیر) سلام پرے لیږئ (وایئ) یقیناً کوم خلق چه الله تعالی او د هغه رسول ته تکلیف رسوی

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ

لعنت کړے دے په هغوی باندے | الله | په دنیا | او آخرت کښ | او تیار کړے ئے دے | د دوی دپاره

نو الله تعالی په دنیا او آخرت کښ په هغوی باندے لعنت کړے دے او د هغوی دپاره ئے

عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

عذاب | رسوا کوونکے | او هغه کسان | چه تکلیف رسوی | مؤمنانو سړو | او مؤمنانو ښځو ته

سپکوونکے (رسوا کوونکے) عذاب تیار کړے دے او کوم خلق چه مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته

ع ۷ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾

بغیر | د څه (جرم) نه چه هغوی کړی وی | نو یقیناً | دوی اوچت کړو | بهتان | او ګناه | ښکاره

بغیر د څه جرم کولو نه تکلیف رسوی نو هغوی د بهتان او د ښکاره ګناه بوج په خپل سر اوچت کړے دے

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ

اے نبیٔ! | اووایه | بیبیانو خپلوته | او لونړو خپلوته | او زنانو (ښځو) | د مؤمنانو ته

اے نبیٔ! خپلو بیبیانو او خپلو لونړو او د مسلمانانو ښځو (زنانو) ته اووایه چه

يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى

چه هغوی دے راخکته ساتی | په ځانونو خپلو باندے | (لوئے) څادرونه خپل | دا (خبره) | ډیره نزدے ده

خپلے لوئے څادرے دے په ځان راخکته ساتی په دے طریقه کښ ډیره توقع ده

اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۵۹﴾

چه دوی به اوپژندلی شی | نو تکلیف به نه شی ورکولے دوی ته | او دے | الله | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان

چه د هغوی پیژندګلوبه کیږی چه دا اصیله ښځه ده نو څوک به ورته تکلیف نه ورکوی او الله تعالی ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے

لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

که چرے | منع نه شول | منافقان | او هغه کسان | چه د هغوی په زړونو کښ | مرض دے

که چرے منافقان او هغه خلق چه د هغوی په زړونو کښ مرض دے او هغه خلق چه

وَالْمُرْجِفُوْنَ فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ

او ددروغ (خبر) خورونکی | په مدینه کښ | نو خامخا مونږ به اولسوو تا | (جنګ د) دوی ته | بیا به
په مدینه کښ غلط (د شر) خبر ونه خوروی منع نشول نو مونږ به تا په دوی پسے اولګوو نو بیا به دوی

لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا

دوی نه اوسیږی تاسره | په دے (مدینه) کښ | مګر | لږ وخت | لعنت کړے شوی به وی | چرته چه | بیا مونږ ملے شی دوی
تاسره په مدینه کښ ډیر لږ (وخت) پاتے شی (او که پاتے هم شی نو) لعنت به پرے وریږی (بیا) چرته هم

اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ۝ سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا

نیولے به شی | او وژلی به شی | په وژلو سره | پشان د طریقے | د الله | په هغه کسانو کښ | چه تیر شوی دی
چه مونږ ملے شی نو نیولی به شی او (یو یو به) وژلے شی. دا د الله تعالیٰ هغه معمول (دستور) دے

مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۝ يَسْئَلُكَ

پخوا (د دے نه) | او ته به هیڅکله اونه مومے | طریقے | د الله لره | بدلول | تپوس کوی ستانه
چه د پخوا نو خلقو باره کښ هم وو. او ته به د الله تعالیٰ په معمول (دستور) کښ هیڅ قسم تبدیلی بیا نه مومے

النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۭ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ۭ

خلق | په باره د قیامت کښ | اووایه | (چه) بیشکه | علم د هغے | د الله سره دے
اے نبی! خلق تانه د قیامت دراتلو باره کښ تپوس کوی ته ورته اووایه چه د هغے علم خو بس الله سره دے

وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ۝ اِنَّ اللّٰهَ

اوځه څیز خبر در کولے شی تاته | کیدے شی | چه قیامت | وی هغه | نزدے | بیشکه | الله
او تاته څه پته ده کیدے شی چه قیامت ډیر نزدے وی په دے کښ هیڅ شک نشته چه الله تعالیٰ

لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ۝ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

لعنت کړیدے | په کافرانو | اوتیار کړے ځے دے | دهغوی دپاره | اُور د لمبو والا | همیشه به وی | په هغے کښ
کافران د خپل رحمت نه لرے کړی دی او د هغوی دپاره ځے کرم اور تیار کړے دے چه په هغے کښ به

اَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝ يَوْمَ تُقَلَّبُ

همیشه | نه به مومی دوی | څوک دوست | او نه څوک مددګار | هغه ورځ | چه اړولی را اړولی به شی
هغوی همیشه دپاره اوسیږی نه به د څان دپاره څوک بچ کوونکے ملګرے بیا مومی او نه څوک مددګار په دغه ورځ به

وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ

مخونه د دوی | په اور کښ | وائی به دوی | هلے ځارمان دے زمونږ | چه مونږ خبره منلے وے | د الله
د دوی مخونه په اور کښ اړولی را اړولی شی (نو) وائی به چه اے کاش مونږ د الله تعالیٰ حکمونه منلے وے

وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ۝ وَقَالُوْا رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا

او مونږ خبره منلے وے | د پیغمبر | اووائی به دوی | اے ربه زمونږ! | بے شکه مونږ | خبره منلے وه | د سردارانو خپلو
او د رسول خبره مو منلے وے اووائی به اے زمونږ ربه حقیقت دا دے چه مونږ د خپلو سردارانو (پیرانو)

وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا۠ ۝ رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ

او دغتمانو خپلو | نو هغوی گمراه کړو مونږ | د سمے لارے نه | اے ربه زمونږ | ورکړه دوی ته | غبرگ
او مشرانو (اقتدارو الو) خبرے منلے وے نو هغوی مونږ د سمے لارے نه گمراه کړو اے زمونږ ربه اته دوی ته دوچند

مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا۠ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع

د عذاب نه | اولعنت اوکړه په دوی باندے | لعنت | لوے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے
عذاب ورکړه او د خپل رحمت نه ئے مکمل لرے کړه اے مؤمنانو!

لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا

مه کیږئ تاسو | په شان د هغه خلقو | چه تکلیف ئے ورسولو | موسیٰ ته | نو بیځ اوساتلو هغه لره | الله | د هغه څه نه
د هغه خلقو په شان مه کیږئ چا چه موسیٰ ته تکلیفونه رسول نو الله تعالیٰ هغه

قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چه هغوی (ورپسے) وئیل | او وو دے | په نزد | د الله | اوجیه مرتبے والا | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے
(د خلقو د بدنامو لگولونه) بری کړو او هغه (خو) د الله تعالیٰ په نزد ډیر مخوریز (عزتمند) وو اے مؤمنانو!

اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝ يُّصْلِحْ لَكُمْ

اوپریږئ | د الله نه | او وایئ | خبره | سمه (برابره) | درست به کړی الله | ستاسو
د الله تعالیٰ نه یره کوئ او سمه (درسته) خبره کوئ الله تعالیٰ به ستاسو د فائدے دپاره ستاسو

اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ

کارونه (عملونه) | او او به بخښی | تاسو ته | گناهونه ستاسو | اوچا چه | خبره اومنله | د الله
اعمال سم کړی او گناهونه به مو معاف کړی. او څوک چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول خبره منی

وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝ اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ

او د رسول د هغه | نو یقیناً | کامیاب شو هغه | په کامیابۍ | لوے سره | بیشکه | مونږ پیش کړه | ذمه داری (امانت)
نو یقیناً هغه ډیره لوے کامیابی حاصل کړه۔ یقیناً مونږ (دا) امانت

عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا

په آسمانونو | او په زمکه | او غرونو باندے | نو حان بچ کړو دوی | د دینه چه اوچت کړی دوی دا امانت
آسمانونو. زمکے. او غرونو ته پیش کړو نو هغوی د دے د اوچتولو نه انکار اوکړو

وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا

او او یریدل دوی | د دے نه | او اوچت کړو دے لره | انسان | بے شکه دے | وو | ډیر ظالم
او د دے نه او یریدل او انسان د دے بوج اوچت کړو یقیناً دا انسان ډیر لوے ظالم وو چه پس د قبلولو نه ئے خیانت شروع

جَهُوْلًا ۝ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

ډیر نادان | د دے دپاره چه عذاب ورکړی | الله | منافقانو سړو | او منافقانو ښځو ته | او مشرکانو سړو
کړو او ډیر ناپوهه وو چه په خپل انجام ئے سوچ اونکړو نو نتیجه داشوه چه الله تعالیٰ به منافقانو سړو او منافقانو ښځو ته او مشرکانو سړو

وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ

او مشرکانو ښځو ته | اوتوبه قبوله کړی | الله | د مؤمنانو سړو | او د مؤمنانو ښځو

او مشرکانو ښځو ته سزا (عذاب) ورکړی. او مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو باندے به خپل رحمت اوکړی

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

او دے | الله | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان |

او الله تعالی ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے.

آیاتها [٥٤]	سورة سبا مكية	رکوعاتها [٦]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

ټول حمدونه دی | الله لره | هغه ذات | چه د هغه دی | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی | او هغه څه

ټول حمدونه د هغه الله د پاره دی چه د آسمانونو او زمکے هر څه د هغه (په اختیار کښ) دی

فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

چه په زمکه کښ دی | او خاص د هغه د پاره | حمدونه دی | په آخرت کښ | او هم هغه | حکمت والا

او په آخرت کښ به هم د هغه تعریف وی. او هم هغه ډیر لوے حکمت والا

الْخَبِيْرُ ۝ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ

خبردار دے | هغه پوهیږی | په هغه څه | چه ورننوځی | په زمکه کښ | او په هغه څه | چه راوځی

او پوره خبردار ذات دے هغه عالم دے په هغه څه چه ورننوځی زمکه کښ دننه او هغه څیزونه هم (پیژنی) چه

مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ وَهُوَ

د هغے نه | او په هغه څه | چه را کوزیږی | د آسمان نه | او په هغه څه | چه خیژی | په دے کښ | او هغه دے

د زمکے نه بهر راوځی او هغه څیزونه (هم پیژنی) چه د آسمان نه را کوزیږی او هغه څیزونه (هم پیژنی) چه آسمان ته ورخیژی

الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا

ډیر مهربان | ډیر بخښونکے | او وائی | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | چه نه به راځی مونږ باندے

او هغه ډیر مهربان ډیر بخښونکے دے او کافران خلق وائی چه په مونږ باندے به قیامت نه راځی

السَّاعَةُ ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ

قیامت | اووایه | ولے نه | زما قسم دے په خپل رب | چه هغه به خامخا راځی په تاسو | پوهه دے | په غیبو

اے نبی! (ته ورته) اووایه ولے به نه راځی زما قسم دے په خپل رب چه په تاسو باندے به قیامت ضرور راځی هغه عالم دے

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ

نه شی پتیدلے | دهغهٔ نه | په اندازه | دیو ذرے | په آسمانونو کښ | او نه په زمکه کښ

په غیبو باندے ذره برابر څیز د هغه نه پټ نه دے نه په آسمانونو کښ او نهٔ په زمکه

وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۙ

او نه وړوکے | ددے نه | او نه غټ | مګر | دی په کتاب | ښکاره کښ

اونه ددے نه وړوکے یو دا سے څیز شته او نه لوئے چه هغه په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کښ درج نه وی

لِّيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ

دے دپاره چه هغه بدله ورکړی | هغه خلقو ته | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیک | هم دغه خلق دی

(او قیامت به ځکه راځی) چه کومو خلقو ایمان راوړے دے او نیک اعمال ئے کړی دی الله تعالی هغوی له

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝ وَالَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْٓ اٰيٰتِنَا

چه دوی دپاره | بخښنه ده | او رزق | عزتمند دے | او هغه خلق | چه کوشش کوی | زمونږ په آیتونو کښ

انعام (بدله) ورکړی هم دا سے خلقو دپاره مغفرت او عزتمند رزق تیار دے او کومو خلقو چه زمونږ د آیتونو پاره کښ

مُعٰجِزِيْنَ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ۝ وَيَرَى

عاجزه کولنکی | هم دغه خلق دی | چه دوی دپاره | عذاب دے | د عذاب | دردناک نه | او وینی

دا کوشش کوی چه هغه ناکامه کړی دهغوی دپاره د سختئ نه ډک دردناک عذاب (تیار) دے

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

هغه خلق | چه ورکړے شوی دے هغوی نه | علم | هغه (کتاب) لره | چه نازل کړے شوی دے | تاته

او (اے نبیؐ!) کومو خلقو ته چه علم ورکړے شوے دے هغوی ښه پوهیږی چه تاته چه ستا د رب د طرف نه

مِنْ رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ

ستا د رب د طرف نه | هم هغه دے | حق | او هدایت کوی | لارے | د زورور (غالب)

څه (کتاب) نازل شوے دے هغه بلکل حق دے او د هغه الله بتائی چه هغه زورور (غالب)

الْحَمِيْدِ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰي رَجُلٍ

او ستایلی شوی ذات ته | اووائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړیدے | آیا | اوښایو مونږ تاسو ته | (دا سے) یو سړے

او د صفتونو مستحق دے او دا کافران (یو بل ته) وائی چه آیا تاسو ته یو دا سے کس اوښایو چه

يُّنَبِّئُكُمْ اِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ خَلْقٍ

چه خبر در کوی تاسو ته | کله چه | ذره ذره شئ تاسو | په پوره ذره کیدلو سره | نو بیشکه تاسو به | خامخا په پیدایش

هغه تاسو ته دا خبر در کوی چه کله تاسو بلکل ریزه ریزه شئ نو بیا به سر دوباره پیدا کیږئ؟

جَدِيْدٍ ۚ اَفْتَرٰى عَلَي اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلِ

نوی کښ یئ | آیا ده ترلی دی | په الله باندے | دروغ | یا | په ده | لیونتوب دے | بلکه

پته نشته چه دے سړی په الله باندے دروغ ترلے دی او که لیونے شوے دے. (نه) بلکه

الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ۝

هغه خلق | چه ایمان نه راوړي | په آخرت | په عذاب کښ | او په ګمراهئ | لرے کښ دی

حقیقت دادے چه کوم خلق په آخرت ایمان نه لري هغوی په عذاب او د حق نه لرے ګمراهئ کښ اخته دی

اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَآءِ

آیا نو دوی نه ګوري | هغه څه ته | چه د دوی مخے ته دی | او هغه څه ته | چه د دوی وروستو دی | د آسمان

آیا دا خلق آسمان او زمکے ته نه ګوري چه په دوی ئے د مخکښ وروستو هر طرف ته احاطه کړے ده

وَالْاَرْضِ ؕ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ

او د زمکے نه | که چرے | اوغواړو مونږ | نو ښخ به کړو | دوی | په زمکه کښ | یا به مونږ راوغورځو

که چرے مونږ اوغواړو نو دوی به په زمکه کښ ښخ کړو یا به پرے

عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

په دوی باندے | یوه ټکړه | د آسمان نه | بے شکه | په دے کښ | خامخا نښه ده

د آسمان نه یوه ټکړه راوغورځوو، یقیناً په دے کښ د هر هغه بنده د پاره نښه ده چه

لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا ؕ ع

د پاره د هر یو | بنده | رجوع کوونکی | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | داؤد علیه السلام ته | د خپل طرف نه | غوره والے

(الله ته) رجوع کوونکے وی او یقیناً مونږ داؤد ته د خپل طرف نه فضیلت ورکړے وو،

يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ ۝

اے غرونو | تسبیح وایئ | د هغه سره | او مارغان هم مونږ تابع کړی وو د هغه | او مونږ نرمه کړے وه | د هغه د پاره | اوسپنه

(او مونږ ورته ویلے وو) اے غرونو! د هغه سره تسبیح وایئ او مارغان مو د هغه مسخر کړی وو او د هغه د پاره مو اوسپنه نرمه کړے وه

اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ

چه جوړوه | پوره (کشاده) زغرے | او اندازه ساته | په یو خاے ګولو کړو کښ | او عمل کوئ | نیک

(او حکم مو ورته کړے وو) چه پوره پوره (کشاده) زغرے جوړوه او د ګړو په جوړولو کښ د توازن نه کار اخله او تاسو نیک عمل کوئ

اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا

بیشکه زه | د هغه څه | چه تاسو کوئ | لیدونکے یم | او د سلیمان د پاره تابع کړے وو مونږ | هوا | چه د صبا مزل د هغے

یقیناً زه ستاسو ټولو اعمالو لره لیدونکے یم او د سلیمان د پاره مونږ هوا مسخر کړے وه چه د هغے د سحر سفر به د یو مے میاشتے

شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَاَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ؕ

یوه میاشت وو | او د ماښام مزل د هغے | یوه میاشت وو | او مونږ بیولے وه | د هغه د پاره | چینه | د تانبے

په مزل وو او د ماښام سفر به ئے هم د یو مے میاشتے په مزل وو او مونږ د هغه د پاره د وینلے شوے تانبے یوه چینه جاري کړے وه

وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ؕ

او د پیریانو نه | بعضے هغه وو | چه کار به ئے کولو | په وړاندے د هغه | په حکم | د رب د هغه

او بعضے جناتو (پیریانو) به د هغه په وړاندے د هغه د رب په حکم کار (خدمت) کولو او

وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ

اوشوک یې | چه کوپرشو | ددوی نه | زمونږ د حکم نه | نومونږ به اوځکوله هغه ته | د عذاب

په هغوی کښې به چه څوک زمونږ د حکم نه کوږ شو (واوړيدو) نو هغه ته به مونږ د ګرم اور د عذاب مزه اوځکوله

السَّعِيْرِ ۝ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ

د اور ګرم نه | دوی به جوړول | دهغه دپاره | هغه څه | چه هغه به غوښتل | عبادت خانې | اوتصويرونه د آبادئ

دے پيريانو به دسليمان عليه السلام د مرضئ مطابق ځيزونه جوړول لکه عبادت خانې اوشکلونه د آبادئ.

وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ

او خانکونه | په شان د حوضونو | او ديګونه | کلک په ځای پراته | عمل کوئ | اے اولاده د داؤد عليه السلام

او د حوضونو غوندے لوئے لوئے خانکونه اولوئے لوئے ديګونه چه په ځائے به پراته وو. اے د داؤد خاندان

شُكْرًا ؕ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ۝ فَلَمَّا قَضَيْنَا

د شکر کولو | او ډير لږ | زما د بندګانو نه | شکر ګزار دی | بيا هر کله چه | مونږ فيصله اوک د

دا سے عملونه کوئ چه شکر ترے څرګند شی. او زما په بندګانو کښې ډير لږ خلق شکر ګذار دی بيا کله چه

عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلٰى مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ

په هغه باندے | د مرګ | نوخبر نه کړل دوی | په مرګ د هغه باندے | مګر | يَو وَينهٔ | د زمکے

مونږ د سليمان د مرګ فيصله اوکړه نو پيريانو ته د هغه د مرګ پته بل چا ورنکړه بلکه يو وينه ورکړه

تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ لَّوْ

چه خوړله ئے | امساد هغهٔ | بيا کله چه | هغه راپريوتلو | نو پوهه شول | پيريان | په دے | که چرے

چه د هغه امسائے خوړله. نوکله چه هغه راپريوتلو نو پيريانو ته معلومه شوه چه که چرے دوی

كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ؕ

دوی | پوهيدلے | په غيبو باندے | نووخت به ئے نه ووتيږکړے | په | عذاب | رسوا کوونکے کښې

په غيبو پوهيدلے نو د ذلت په تکليف به (دومره وخت) نه وے پراته

لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ

يقيناً | وه | (د سبا والو) دپاره | په کورونو د هغوی کښې | نښه (د توحيد) | دوه باغونه وو | د ښي طرف

حقيقت دا دے چه د سبا والو دپاره د هغوی په آبادئ کښې يوه نښه (د توحيد) موجود وه (چه) د هغے ښي

وَّشِمَالٍ ؕ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ

او د کس طرف نه | خورئ | د رزق | د رب خپل نه | او شکر اداء کوئ | د هغه | دا يو ښار دے

او د کس طرف ته دوه باغونه وو (هغوی ته حکم شوے وو چه) د خپل رب رزق خورئ او د هغه شکر اداء کوئ

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ۝ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

پاکيزه | او رب دے | بخښنه کوونکے | نو مخ واړولو دوی | نو مونږ راوليږلو | په دوی باندے

يو (خو) دا ښار د مړو والا دے او (بل مو) رب بخښونکے دے خو بيا هم هغوی (د هدايت نه) مخ واړولو نو مونږ پرے

سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ

سیلاب | دبندتړلی شوی | اوپه بدل کښې ورکړل مونږ دوی ته | په ځائے دوؤ باغونو دوی | دوه باغونه نور | خاوندان
دبند والا سیلاب راپریخودلو او دهغے دواړو باغونو په ځائے مو ورله دوه نور دا سے باغونه ورکړل

اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ۝ ذٰلِكَ

د میوو بے خوندو | او وُنے دغز | او څه (وُنے) | د بیرو | لږ ے شان | دا
چه بے خونده میوے او غزان او لږ ے غوندے د بیرو ے چارے پکښې ولاړ ے وے دا سزا مو ورله

جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ۭ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ۝

بدله مو ورکړے وه مونږ دوی ته | په هغے وجه | چه دوی کفر کړے وو | او نه ورکوو مونږ بدله | مګر | غټو ناشکرو ته
ځکه ورکړه چه دوی کفر (ناشکری) اختیار کړے وو او دا سے سزا مونږ د غټو ناشکرو نه سوا بل چا ته نه ورکوو

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

او مونږ جوړ کړی وو | په مینځ دَ دوی کښې | او په مینځ | د کلو | هغے کښې | چه مونږ برکت اچولے وو | په هغے کښې
او مونږ د دوی او د هغه کلو په مینځ کښې چه مونږ پکښې قسمه قسمه برکات اچولی وو دا سے نور کلی آباد کړی وو چه د لږ ے نه به یو بل ته په

قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ۭ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ

کل | ښکاره | اوپه اندازه کړے وو مونږ | په هغے کښې | مزل | کړ ئ | په هغے کښې | د شپے
وخت د سفر کولو ښکاره یو دل او په هغے کښې مو د سفر منزلونه (مرحلے) مقرر کړے وے (اوورته مو ویلی وو چه) په دے کلو کښې د شپے

وَاَيَّامًا اٰمِنِيْنَ ۝ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا

او دورځے | په امن سره | پس اوویل دوی | اے ربه زمونږ! | لرے مه والے راولے | زمونږ د سفرونو په مینځ کښې
او دورځے په امن سره سفر کوئ نو دوی دعاء او غوښتله چه | اے زمونږ ربه! زمونږ د سفرونو منزلونه لرے لرے کړه

وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ

او دوی ظلم او کړو | په خپلو ځانونو | پس او ګرځول مونږ دوی لره | قصے (د عبرت) | او توټے توټے کړل مونږ دوی لره
او په خپلو ځانونو بے ظلم او کړو (چه د هغے په نتیجه کښې) مونږ ترے نه د عبرت قصے جوړ ے کړے او خوارۀ

كُلَّ مُمَزَّقٍ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝

په پوره توټے کولو سره | بے شکه | په دے کښې | خامخا نښے دی | د پاره د هر ډیر صبر کوونکی | شکر ګزار
وارۀ مو کړل یقیناً په دے واقعه کښې د هر صبر ناک شکر ګزار د پاره د عبرت د یر ے نښے پرے دی

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ

او یقیناً | رشتنے او موندلو | په دوی باندے | شیطان | ګمان خپل | (پس) دوی روان شو په هغه پسے
او یقیناً شیطان د دے خلقو په باره کښې خپل ګمان (د ګمراه کولو) صحیح او موندلو، نو د لږ و مؤمنانو

اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ

سوا | د یوے ډلے | د مؤمنانو نه | او نه وو | د شیطان د پاره | په دوی باندے
نه سوا د یوې ټولې په ابلیس پسے روان شول حالانکه د هغه په دوی باندے څه زور نه وو

مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ مِمَّنْ

هیڅ زور (غلبه) | مگر | دے دپاره چه مونږ ښکاره کړو | هغه څوک | چه ایمان راوړی | په آخرت | دهغه چا نه

مگر مُسلط کیدل د شیطان صرف دے دپاره دی چه مونږ هغه څوک چه په آخرت ایمان لری د هغه چا نه

هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ؕ وَرَبُّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ۝

چه هغه | د دے نه | په شک کښ دے | او رب ستا | په هر یَو | څیز | نگهبان دے

جدا کړو چه د آخرت په باره کښ شک کښ پراته دی. او ستا رب د هر څیز حفاظت کوونکے دے.

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ

اووایه | راوبلئ | هغه کسان | چه تاسو (پرے) گمان کوئ | سوا | د الله نه | هغوی اختیار نه لری

(اے نبیٰ دے کافرانو ته) اووایه چه تاسو چه د الله نه سوا په چا د خدایئ گمان کوئ هغه راوبلئ

مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ

په اندازه | د یوے ذرے | په آسمانونو کښ | او نه په زمکه کښ | او نشته | د دوی دپاره

هغوی (خو) په آسمانونو او په زمکه کښ د ذرے برابر (دیَو څیز) اختیار نه لری او نه په آسمانونو

فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ۝ وَلَا تَنْفَعُ

په دے دواړو کښ | څه شرکت | او نشته | د الله دپاره | د دوی نه | څوک مددگار | او فائده نه ورکوی

او زمکه کښ د دوی څه برخه شته او نه په دوی کښ څوک د الله مددگار شته او د الله تعالیٰ په وړاندے

الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ؕ حَتّٰٓى اِذَا

سفارش | د هغه په نزد | مگر | هغه چا ته | چه هغه اجازت اوکړی | د هغه دپاره | تر دے | چه کله

(د هیڅ چا) سفارش هیڅ چا ته فائده نه ورکوی سوا د هغه چا نه چه د هغه په باره کښ الله پخپله اجازت ورکړی تر دے چه

فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوا

لرے کړے شی یره | د دوی د زړونو نه | (نو) وائی به دوی | څه | اوویل | رب ستاسو؟ | وائی هغوی

کله د هے شفعاؤ د زړونو نه یره (هیبت) لرے شی نو دوی به اووائی چه ستاسو رب څه اووئیل نو خبر راوړونکے ملائک به هغوی ته

الْحَقَّ ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۝ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ

چه هو ے وئیل حق | او هم هغه | دیر اوچت | دیر لوئ دے | او وایه | څوک | رزق درکوی تاسو ته | د آسمانونو

جواب کښ اووائی چه حق خبره ده ارشاد او فرمائله (یعنی دمؤحدینو دپاره د سفارش اجازت اوشو) او هغه دیر اوچت دیر لوئ دے

وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى

او د زمکے نه | اووایه | الله | او بیشکه مونږ | یا | تاسو | خامخائی پر هدایت

د دوی نه تپوس اوکړه چه تاسو ته د آسمانونو او د زمکے نه رزق څوک درکوی؟ اووایه چه الله، اوورته اووایه چه مونږ او تاسو کښ

اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝ قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا

یا په گمراهئ | ښکاره کښ | اووایه | تاسو نه به تپوس شی کیدے | د هغه څه په باره کښ | چه مونږ جرم کړے دے

یوه ډله په سمه لاره او بله ډله په گمراهئ کښ پراته ده دوی ته اووایه چه نه به د مونږ د جرمونو تاسو نه تپوس کیږی

وَلَا نُسْئَلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا

اوزمونږنه به تپوس نه شی کیدے | دهغه څه په بارہ کښ | چه تاسو یئ کوئ | اووایه | جمع به کړی | مونږلره | رب زمونږ

اونهٔ به ستاسو دعملونو زمونږ نه تپوس کیږی اووایه چه زمونږ پروردګار به مونږ ټول راجمع کړی

ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ۝ قُلْ

بیا به | فیصله اوکړی | په مینځ زمونږ کښ | په حق سره | اوهغه دے | (ښه) فیصله کوونکے | ډیر پوهه | اووایه

بیا به زمونږ تر مینځ په حقه فیصله اوکړی اوهم هغه ښه فیصله کوونکے ډیر پوهه ذات دے

اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ كَلَّا ؕ بَلْ

اوښایئ ماته | هغه کسان | چه تاسو (هغوی) یو ځائے کړی دی | دالله سره | شریکان | هیڅکله نه | بلکه

(اے نبی! دے مشرکانو ته) اووایه چه لږ ماته هغه شریکان وښایئ چه تاسو دالله تعالیٰ سره یو ځائے کړی دی ناهر گز نه

هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ

هم هغه دے | الله | زور ور | ډیر حکمت والا | اونهٔ ئے لیږلے مونږ ته | مګر | د ټولو | خلقو ډپاره

(دهغه شریک نشته) بلکه هغه الله ډیر زور ور اولوے حکمت والا دے او (اے نبیٰ!) مونږ (خو) ته د ټولو انسانانو ډپاره

بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَيَقُوْلُوْنَ

زیږے ور کوونکے | او ډیر وونکے | لیکن | اکثر | خلق | نه پوهیږی | او وائی دوی

زیږے ور کوونکے او ډیر وونکے پیغمبر الیږلے ئے لیکن اکثر خلق نه پوهیږی او (تاته) وائی که چرے تاسو

مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ قُلْ لَّكُمْ مِّيْعَادُ

چه کله به وی | دا | وعده | که چرے | یئ تاسو | رښتنی | اووایه | تاسو ډپاره | وعده ده

واقعی رښتنی یئ نو (د قیامت) دا وعده به کله پوره کیږی؟ ته ورته اووایه چه تاسو سره د یوے داسے

ع ۴ يَوْمٍ لَّا تَسْتَاْخِرُوْنَ عَنْهُ سَاعَةً وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ ۝ وَقَالَ

د (داسے) ورځے | چه تاسو به نه وروستو کیدے شئ | دهغے نه | یو ساعت | او نه به مخکښ کیدے شئ | او وائی

مقرر ے ور ځے وعده (نیټه) ده چه تاسو به د هغے نه نهٔ یو ساعت وروستو کیدے شئ او نه مخکښ کیدے شئ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا بِالَّذِيْ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هیڅ کله مونږ ایمان نه راوړو | په دے | قرآن | او نه په هغه (کتاب)

او کافران خلق وائی چه نه مونږ په دے قرآن ایمان راوړو او نه په هغه (کتاب) چه

بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ مَوْقُوْفُوْنَ

چه د دے نه مخکے وو | او که چرے ته اووینے | هغه وخت | چه ظالمان به | اودرول شی

د دے نه مخکے وو. او که چرے ته هغه وخت اووینے کله به چه ظالمان د خپل رب مخے ته ولاړ وی

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۖۚ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ ِۨالْقَوْلَ ۚ يَقُوْلُ

د خپل رب په وړاندے | واپس کوی به | بعضے د دوی نه | بعضو ته | خبره | وائی به

(نو) یو بل باندے به خبره وراړوی (یعنی یو بل ته به جواب ورکوی) کوم خلق چه په دنیا کښ کمزوری گڼلی شوی وو هغوی به

الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لَوْلَآ اَنْتُمْ

هغه کسان | چه کمزوری ګڼلی شوی وو | هغه خلقو ته | چه تکبر ئے کړے وو | که چرے له وئ تاسو
هغه چاته وائی چه ځان ئے لوئے ګڼلے وو چه که چرے تاسو نه وئ

لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ۝ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ

نو خامخا مونږ یه وو | مؤمنان | اوبه وائی | هغه کسان | چه ځان ئے لوئے ګڼلے وو | هغه کسانو ته
نو مونږ به خامخا مؤمنان وے ۔ غټان به کمزورو ته اووائی

اسْتُضْعِفُوْٓا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ

چه کمزوری ګڼلی شوی وو | آیا مونږ | بند کړی وئ تاسو | د هدایت نه | وروسته ددے نه | کله چه
آیا مونږ تاسو د هدایت (د قبلولو) نه منع کړی وئ څه وخت چه هغه (هدایت) تاسو ته راغلے وو؟

جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا

راغے تاسو ته | (نه) بلکه | وئ تاسو | (پخپله) جرم کوونکی | اواوبه وائی | هغه کسان | چه کمزوری ګڼلی شوی وو
بلکه (اصل خبره دا ده) چه تاسو په خپله مجرمان وئ او کمزوری خلق به غټانو ته اووائی

لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِذْ

هغه کسانو ته | چه ځان ئے لوئی ګڼلے وو | (نه) بلکه | مکر | د شپے | او د ورځے | کله چه به
چه نه بلکه دا خو ستاسو د شپے او د ورځے مکرونو (تدبیرونو) (مونږ منع کړی وو) چه

تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ؕ وَاَسَرُّوا

حکم کولو تاسو مونږته | چه مونږ کفر او کړو | په الله | او جوړ کړو | دهغه دپاره | شریکان | اوښکاره به کړی
تاسو به راته حکم کولو چه د الله نه انکار او کړو او د هغه سره شریکان جوړ کړو. او (دا ټول چه)

النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ؕ وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ

پښیمانتیا | کله چه | اوویني دوی | عذاب لره | اومونږ به واچوو | طوقونه | په څټونو
کله عذاب اوویني نو خپله پښیمانتیا به پټوی. او مونږ به د کافرانو په غاړو کښې طوقونه واچوو.

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

دهغه کسانو کښې | چه کفر ئے کړے دے | نه به ورکړے کیږی حوی ته بدله | مګر | دهغه څه چه | دوی به کول.
او دوی ته به د خپل عمل نه سوا د بل څه بدله (سزا) نه ملاویږی

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ

اونه دی لیږلے مونږ | په هیڅ یو کلی کښې | هیڅ یو ویروونکے | مګر | ویل به | خوشحاله (بدمستو) خلقو دهغے
او مونږ چه کوم یو کلی ته هم یو پیغمبر لیږلے دے نو د هغے خوشحاله (مالداره) خلقو به هم دا ویل چه

اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝ وَقَالُوْا نَحْنُ

(چه) بیشکه مونږ | په هغه څه | چه تاسو لیږلی شوی یئ | په هغے باندے | کفر کوونکی یو | او وئیل به دوی | چه مونږ
تاسو د کوم پیغام سره رالیږلی شوی یئ مونږ د هغے نه انکار کوو او (دا به ئے هم) ویل چه زمونږ

اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ۝ قُلْ اِنَّ

دیر ډیر | په مال | او اولاد کښی | اونه یو | مونږ | عذابیدونکی | اووایه | بے شکه

مال او اولاد تاسو نه زیات دے او مونږ ته به عذاب نه ملاویږی۔ (اے نبی! ته ورته) اووایه چه

رَبِّیْ یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ یَّشَآءُ وَیَقْدِرُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ

ربزما | فراخوی | رزق | چاته | چه وغواړی | او کموی ئے | لیکن | اکثر

زما رب چه چاته اوغواړی رزق ورله فراخوی او (چاته چه اوغواړی رزق ورله) تنګوی لیکن اکثر

النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ۝ وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِیْ ع

د خلقو نه | نه پوهیږی | اونه دی | مالونه ستاسو | او نه اولاد ستاسو | داسے څیز

(په دے خبره) نه پوهیږی۔ او (اے خلقو!) ستاسو مال او اولاد څه داسے څیز نه دے

تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰۤی اِلَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ

چه هغه نزدے کړی تاسو | مونږ ته | په نزدیکت کښی | مګر | هغه څوک | چه ایمان ځاوړے دے | او عمل ئے کړے دے

چه تاسو به زمونږ مقرب جوړ کړی البته چا چه ایمان راوړے دے او نیک اعمال ئے کړی دی

صَالِحًا ۪ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا

نیک | نو هم دغه خلق دی | چه دوی دپاره | بدله ده | دوچنده | په وجه د هغه څه | چه دوی عمل ونه کړی دی

نو هغوی ته به د خپل عمل دوچند اجر ورکولے شی

وَهُمْ فِی الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ۝ وَالَّذِیْنَ یَسْعَوْنَ فِیْۤ اٰیٰتِنَا

او دوی به وی | په بالاخانو کښی | امن والا | او هغه خلق | چه کوشش کوی | په آیتونو زمونږ کښی

او (د جنت) په بالاخانو کښی به په امن اوسیږی۔ او کوم خلق چه زمونږ د ایتونو د ناکامه کولو کوشش کوی

مُعٰجِزِیْنَ اُولٰٓئِكَ فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ۝ قُلْ اِنَّ رَبِّیْ

عاجزه کوونکی | دغه خلق به | په عذاب کښی | حاضروړے شی | اووایه | بیشکه | ربزما

هغوی به عذاب ته ورمخامخ (حاضر) کړے شی ته ورته اووایه چه زما رب

یَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَیَقْدِرُ لَهٗ ؕ

فراخوی | رزق | دچا دپاره | چه اوغواړی | د بندګانو خپلو نه | او کموی یې | هغه دپاره

په خپلو بندګانو کښی چاته چه اوغواړی رزق ورله فراخوی او (چاته چه اوغواړی رزق ورله) تنګوی

وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ فَهُوَ یُخْلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَیْرُ

او هغه | چه تاسو ئے خرچ کوئ | د څه څیز نه | نو الله | به بدلے ورکوی دهغے | او هغه دے | دیر ښه

او تاسو چه څه هم خرچ کوئ نو د هغے په ځائے به الله نور څه درکوی او هغه د ټولو نه

الرّٰزِقِیْنَ ۝ وَیَوْمَ یَحْشُرُهُمْ جَمِیْعًا ثُمَّ یَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ

رزق ورکوونکے | او په هغه ورځ | چه هغه به راجمع کړی دوی | بیا | بیا به | اووائی | ملائکو ته

ښه رزق ورکوونکے دے او (هغه ورځ یاد ساتئ) په کومه ورځ به چه الله دا ټول راجمع کړی بیا به ملائکو ته اووائی

أَهٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿۴۰﴾ قَالُوا سُبْحٰنَكَ

آیا هم دا (هغه خلق) دی | چه خاص ستاسو به | دوی عبادت کولو | او به وائی ملائک | پاکی ده تالره

آیا دے خلقو به واقعی خاص ستاسو عبادت کولو؟ ملائک به اووائی چه مونږ خو ستا پاکی بیانوو زمونږ تعلق خو

أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ۖ

(اے الله) ته | زمونږ دوست ئے | بے د دوی نه | بلکه | دوی وو | چه عبادت به ئے کولو | د پیریانو

تاسره دے دوی سره نه دے (نه زمونږ کارساز ئے دوی نه دی) بلکه (اصل خبره داده چه) دوی به د پیریانو عبادت کولو

أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُّؤْمِنُونَ ﴿۴۱﴾ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ

اکثر د دوی | په پیریانو باندے | ایمان راوړونکی وو | پس نن ورځ | اختیار نه لری | بعضے ستاسو

او اکثرو پکښې په هغوی ایمان لرلو پس (نو) نن ورځ په تاسو کښې هیڅوک نه چا ته

لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ۭ وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا

د بعضو د پاره | د فائدے | او نه د نقصان | اواوبه وایو مونږ | هغه کسانو ته | چه ظلم ئے کړے وو | اوځکئ

د فائدے رسولو اختیار لری او نه د نقصان رسولو، او مونږ به ظالمانو ته اووایو

عَذَابَ النَّارِ الَّتِي كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿۴۲﴾ وَإِذَا تُتْلٰى

عذاب | د اور | هغه | چه تاسو به | هغے لره | دروغ ګڼلو | او کله چه | لوستلے کیږی

چه د هغه اور مزه اوځکئ چه تاسو به دروغ ګڼلو او کله چه دوی ته زمونږ آیتونه لوستلی کیږی

عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوا مَا هٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُّرِيدُ

په دوی باندے | آیتونه زمونږ | واضحه | (نو) وائی دوی | نه دے دا | مګر | یو سړے | چه غواړی

نو دوی (د پیغمبر په باره کښې) وائی چه دا سړے خو بس دا غواړی چه

أَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوا مَا هٰذَآ

چه بند کړی تاسو | د هغه څه نه | چه عبادت به ئے کولو | پلارانو ستاسو | او وائی دوی | نه دی دا

ستاسو پلار نیکه چه د چا عبادت کولو د هغے نه مو واړوی (منع کړی) او وائی چه دا (قرآن)

إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۭ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ لَمَّا

مګر | دروغ | د ځان نه جوړ کړے شوی | او وائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | د حق په باره کښې | کله چه

خو بس د ځان نه جوړ کړے شوی دروغ دی او دے کافرانو ته چه کله حق راغے

جَآءَهُمْ ۙ إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿۴۳﴾ وَمَآ آتَيْنٰهُمْ

راغے هغه دوی ته | نه دے دا | مګر | جادو | ښکاره | او نه دے ورکړے مونږ دوی ته

نو د هغے په باره کښې ئے دا اووئیل چه دا خو دیو ښکاره جادو نه علاوه بل څه نه دی حالانکه مونږ دوی ته

مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُونَهَا وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيرٍ ۭ

هیڅ یو کتاب | چه دوی ئے لولی | او مونږ نه دی لیږلے | دوی ته | مخکے ستانه | هیڅ یرووونکی

دے مونږ نه مخکے نه څه دا سے کتابونه ورکړی وو چه دوی ئے لولی او نه موږ ته ستانه مخکے څوک یرووونکی رالیږلے وو

وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ

اودروغ گنړلے وو(توحیدلره) | هغه کسانو | چه مخکے ووددوی نه | اونه دی رسیدلی دوی | لسمے حصے | دهغه څه چه

اودوی نه مخکے خلقو هم (حق) دروغژن گنړلے وو اوهغوی ته چه مونږ کوم قوت بدنی اومالی ورکړے ووتودامشرکین خو

اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝

ع

چه ورکړی ووموږ هغوی ته | پس دروغژن گنړل هغوی | پیغمبران زما | پس څنګه | شو | عذاب زما

دهغے لسمے حصے ته هم نه دی رسیدلی خو بیاهم کله چه هغوی زما پیغمبران دروغژن اوگنړل نو (اوگوره) چه زما عذاب څنګه وو

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى

اووایه | چه بیشکه | زه نصیحت کوم تاسوته | دیوے خبرے | (دا) چه اودریږئ تاسو | د الله دپاره | دوه دوه

(اے نبی!) دوی ته اووایه چه زه تاسوته صرف دیوے خبرے نصیحت کوم هغه دا چه تاسو خالص د الله دپاره دوه دوه

وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۗ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ

او یو یو | بیا | سوچ اوکړئ | نشته دے | ستاسو په ملګری باندے | هیڅ لیونتوب

اویو یو اودریږئ او بیا غور اوکړئ (نو تاسو ته به معلومه شی چه) ستاسو دے رفیق (پیغمبر) کښ هیڅ

اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ۝ قُلْ

نه دے هغه | مګر | یروونکے | تاسو لره | مخکے | د عذاب | ډیر سخت نه | اووایه

دلیونتوب خبره نشته دے خو دیو سخت عذاب دراتلو نه مخکے تاسوته خبر درکوی، ته ورته اووایه

مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا

هغه | چه غواړم زه ستاسو نه | څه اجر | نو هغه | ستاسو شو | نه دے اجر زما | مګر

که چرے ما ستاسو نه په دے (دعوت) څه اجرت غوښتلے وی نو هغه ستاسو شو زما اجر خو

عَلَي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ

په الله باندے | او هغه دے | په هر یو | څیز باندے | ګواه | اووایه | بیشکه | رب زما

د الله نه سوا دبل چا په ذمه نشته او هغه په هر څیز خبردار دے (حاضر ناظر دے) اووایه چه زما رب

يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ

اولی | په حق باندے | هغه دپرو هه دے | په غیبو باندے | اووایه | راغے | حق

په حق سره گوزارونه کوی په باطل باندے اوهغه د غیب تولے خبرے پیژنی. اووایه حق راغلے دے او باطل (معبود)

وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ۝ قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ

اوپیدائش شی کولے په اول ځل باندے | باطل (معبود) | اونه دوباره پیدائش کولے شی | اووایه | که چرے گمراه یم زه

نه په اول ځل څه پیدا کولی شی او نه به ئے دوباره پیدا کړی اووایه چه که چرے زه (دسے لارے نه) گمراه یم

فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰي نَفْسِيْ ۚ وَاِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِيْٓ

نو بے شکه | زه گمراه کیږم | (اووبال زما) په خپل ځان دے | او که چرے | زه په هدایت یم | نو په دے وجه | چه وحی کوی

نو زما د گمراه کیدو نقصان به هم ماته رسی او که چرے زه په سمه لاریم نو دا دهغه وحی په وجه دی چه ماته ئے خپل رب

اِلَيَّ رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ۝ وَلَوْ تَرٰۤى اِذْ فَزِعُوْا

ماته | رب زما | بیشکه هغه دے | ښه اوریدونکے | نزدے | اوکه چرے | ته اوویني | کله چه | دوی به اویریږی

رالیږی، یقیناً هغه ډهر څه اوریدونکے هر چا ته نزدے دے او (اے نبیؐ!) که چرے ته هغه وخت اوویني کله به چه دوی کبر اوشی

فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ۝ وَّقَالُوْۤا اٰمَنَّا

نو نه به وی بچ کیدل | او دوی به اونیولی شی | د ځائے | نزدے نه | او او به وائی دوی | چه مونږ ایمان راوړے دے

نو دخلاصیدو څه لار به نه وی او دوی به د نزدے ځای نه راونیولی شی (او (هغه وخت به) دوی اووائی چه مونږ به دے باندے

بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ۝ وَّقَدْ

په دے | او چرته به وی | د دوی دپاره | رانیول (د ایمان) | د ځائے | لرے نه | او یقیناً

ایمان راوړے دے حالانکه دغو مره لرے ځای نه (د دوی لاس ته (ایمان) څنګه راتلے شی (څنګه چه د ایمان راوړلو ځائے د دنیاوه)

كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍۢ

دوی کفر کړے وو | په دے باندے | مخکښ د دینه | او ویشتل به کول دوی | بے دلیله | د ځائے

حالانکه دوی د دے نه مخکے د دے نه انکار کړے وو او دلرے نه به ټے بے دلیله خیالی غشی ویشتل۔

بَعِيْدٍ ۝ وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ كَمَا

لرے نه | او پرده به واچولے شی | د دوی په مینځ کښ | او په مینځ | دهغه څه کښ | چه دوی ټے غواړی | لکه څنګه

او (په هغه وخت) به چه دوی د کوم څیز (ایمان) آرزو کوی د هغے او د دوی ترمینځه به یو دیوال پرده شی

ع فُعِلَ بِاَشْيَاعِهِمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا فِيْ شَكٍّ مُّرِيْبٍ

چه کار او کړے شو | د دوی د ډلو سره | مخکښ د دینه | بیشکه دوی | وو | په شک | مضبوط کښ

لکه څنګه چه د دے نه مخکے د دوی پشان خلقو سره کار او کړے شو حقیقت دا دے چه دا ټول په پوخ شک کښ پراته وو

آیاتها [۴۵]	سورة فاطر مكّية	رکوعاتها [۵]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ

ټول حمدونه | د هغه الله دپاره دی | چه پیدا کوونکے | د آسمانونو | او د زمکے دے | جوړونکے دے | ملائکو لره

ټول حمدونه هغه الله دپاره دی چه د آسمانونو او د زمکے پیدا کوونکے دے (او چه) فرشتے ټے

رُسُلًا اُولِيْۤ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ؕ يَزِيْدُ فِي الْخَلْقِ

پیغام رسوونکي | وزرو والا | دوه دوه | او درے درے | او څلور څلور | زیاتول کوی | په پیدائش کښ

پیغام رسوونکے مقرر کړی دی چه دوه دوه، درے درے او څلور څلور وزرو والا دی (او بعضے ملائکو ته ټے د دینه زیاتے وزرے

مَا يَشَآءُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ مَا يَفْتَحِ

څه چه | اوغواړي | بېشکه | الله | په هر ښيو | څيز باندې | قادر دے | هغه | چه پرانزي

ور کړے دی څکه چه) هغه چه په خپل مخلوق کښ څه غواړي نو زيات توی ے. يقيناً الله تعالیٰ په هر څيز قادر دے الله تعالیٰ چه

اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ

الله | د خلقو دپاره | د رحمت نه | نو نشته | بندوونکے | دهغے | او هغه څه | چه بند نے کړی هغه

د خپل رحمت (دروازه) (د خپل) مخلوق دپاره پرانئی نو هغه څوک بندولے نه شی او (کومه) دروازه چه

فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

نونشته دے | آزادوونکے | دهغے | وروستو دهغه نه | او هغه دے | ډير زور ور | لوے حکمت والا

بنده کړی نو روسته دبندولو دهغه نه ے څوک پرانستلی نه شی او هم هغه ډير زور ور او لوے حکمت والا ذات دے

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۭ هَلْ مِنْ خَالِقٍ

اے خلقو | ياد کړئ | نعمت | د الله | په تاسو باندے | آياشته | څوک پيدا کوونکے ذات

اے خلقو ! د الله تعالیٰ هغه نعمتونه ياد کړئ چه په تاسو ے کړی دی آيا د الله تعالیٰ نه سوا بل دا سے خالق شته

غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۭ لَآ اِلٰهَ

سوا | د الله نه | چه رزق درکوی هغه تاسو ته | د آسمان | او د زمکے نه | نشته دے | حقدار د بندگئ

چه تاسو له د آسمانونو او د زمکے نه رزق درکړی؟ د هغه نه سوا هيڅ څوک د عبادت لائق نشته.

اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ

سوا | د هغه نه | پس کوم خوا | اړولی شئ تاسو | او که چرے | دوی دروغژن کړی تا | نو يقيناً

نو د تاسو کوم طرف ته اړولی روان يئ؟ او (اے نبی!) که د اخلق تا دروغژن کړی نو مهٔ خفه کيږه څکه چه ستانه مخکے

كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝

دروغژن کړلی شوی دی | پيغمبران | مخکے ستا نه | او خاص الله ته | واپس کولے شی | کارونه

هم پيغمبران دروغژن کړلی شوی دی. او ټول معاملات (کارونه) به اخير الله ته واپس کيږی

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ

اے خلقو | بے شکه | وعده | د الله | حقه ده | نو دهوکه دے نه کړی تاسو | ژوند

اے خلقو ! يقين او کړئ چه د الله تعالیٰ وعده رښتنے ده نو د دنيا ژوند مو (چرته) دهوکه نه کړی

الدُّنْيَا ۪ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ

دُنيوی | او دهوکه دے نه کړی تاسو | د الله په باره کښ | دهوکه باز | بے شکه | شيطان | ستاسو

اونهٔ مو د الله تعالیٰ په باره کښ دهوکه باز (شيطان) دهوکه کړی. يقين او کړئ چه شيطان ستاسو

عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ۭ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا

دشمن دے | پس او نيسئ ده ګله | (خپل) دشمن | بے شکه | دے رابلی | ډله خپله | دے دپاره چه شی هغوی

دشمن دے نو خپل دشمن ے او ګنړئ. يقيناً هغه خپله ډله (خپل منونکی) (خپل ځان ته) دے دپاره رابلی چه (اخير)

مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ

د دوزخ والو نه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | دهغوی دپاره | عذاب دے

هغوی په دوزخیانو کښ شامل شی. دد ے (حزب الشیطن) کافرانو دپاره دیر سخت عذاب تیار شوے دے

شَدِيْدٌ ۘ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ

دیر سخت | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | اوعملونه ئے کړی دی | نیک | دهغوی دپاره

اوچا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی (حزب الرحمٰن) دهغوی دپاره

مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ

بخښنه ده | اواجر دے | دیر لوئے | آیا نو هغه څوک | چه بنائسته کړے شوے دے | هغه ته | بد | عمل خپل

مغفرت اوډیر لوئے اجر دے آیا چاته چه خپل بد عملونه بنائسته (بنکاره) کړے شوی وی پس هغه ئے ښه ګڼړی؟

فَرَاٰهُ حَسَنًا ۭ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَهْدِيْ

نو وینی دے هغے لره | بنائسته | پس بے شکه | الله | ګمراه کوی | چاله | چه اوغواړی | او سمه لار بنائی

(خبره داده چه) الله تعالی چاله اوغواړی ګمراه ئے کړی او چاله چه اوغواړی نو په سمه لار ئے روان کړی

مَنْ يَّشَاۗءُ ۡ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ۭ اِنَّ

چاته | چه اوغواړی | پس لاړه دے نه شی | ساه ستا | په دوی پسے | دوے د افسوس ونه | بے شکه

نو (اے نبی!) په دے کافرانو پسے دے د افسوس په وجه ستا ساه لاړه نشی یقین اوساته

اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝ وَاللّٰهُ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ

الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه دوی ئے کوی | او الله | هغه (ذات) دے | چه رالیږی | هوا ګانے

چه دوی چه څه کوی الله تعالی ته هغه معلوم دی او الله تعالی هم هغه ذات دے چه هوا ګانے رالیږی

فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَاَحْيَيْنَا بِهِ

نو پورته کوی هغه | وریځ ګولره | بیا مونږ اوچلوو هغه | یو بښار | وچ ته | نو تازه کړو مونږ | په هغے سره

بیا هغه هوا ګانے وریځے اوچتے کړی بیا مونږ هغه دا سے بښار ته بوځو چه هغه (دقحط دوے) اوچ شوے وی، نو مونږ

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۝ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ

زمکه | پس | دوچوالی دهغے نه | دغه شان به | دوباره پیدائش وی | هغه څوک | چه دے غواړی

دهغے (اوبو) په ذریعه زمکه دهغے داوچوالی نه پس تازه کړو بس هم دغه شان به د انسانانو بیاوځوندون وی څوک چه

الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ۭ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ

عزت | نو خاص الله دپاره دے | عزت | ټول | خاص هغه ته | ورخیژی | کلمے

عزت غواړی نو عزت ټول د الله تعالی (په قبضه کښ) دے پاکیزه خبرے (کلمے) الله تعالی طرف ته بره خیژی

الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ ۭ وَالَّذِيْنَ يَمْكُرُوْنَ

پاکے | او عمل | نیک هم | پورته کوی الله هغے لره | او هغه خلق | چه تدبیرونه کوی

او نیک عمل هم الله بره خیژوی. او کوم خلق چه (د حق خلاف) ناکاره تدبیرونه جوړوی

السَّيِّاٰتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَمَكْرُ اُولٰٓئِكَ هُوَ

د بدو کارونو | د هغوی دپاره | عذاب دے | ډیر سخت | او تدبیر (چل) | د دغه خلقو | هغه به

د هغوی دپاره به ډیر سخت عذاب وی او د هغوی دا تدبیر به برباد شی

يَبُوْرُ ۝ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ

بے کاره شی | او الله | پیدا کړی تاسو | د خاورے نه | بیا | د نطفے نه | بیا ئے

او الله تعالی تاسو د خاورے نه پیدا کړئ بیا ئے د نطفے نه (پیدا کړئ) بیا ئے

جَعَلَكُمْ اَزْوَاجًا ؕ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا

جوړ کړئ تاسو | جوړے | او نه حامله کیږی | یوه زنانه | او نه (ئے) زیږوی | مګر

جوړے جوړے کړئ او یوه زنانه چه حمل اخلی یا زیږوی کوی

بِعِلْمِهٖ ؕ وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا

په علم دهغهٔ سره | او نه ورکولے کیږی عمر | یو عمر ورکړے شوی ته | او نه کمیدے شی | د عمر دهغهٔ نه | مګر

نو دا هر څهٔ د الله په علم کښ دی، او نه د چا عمر زیاتیږی او نه کمیږی مګر دا ټول

فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ وَمَا يَسْتَوِي

(دا) په کتاب کښ دی | بیشکه | دا کار | په الله باندے | آسان دے | او نه دی برابر

په یو کتاب (لوح محفوظ) کښ درج دی، یقیناً دا کار د الله ته ډیر آسان دی۔ او دوه

الْبَحْرٰنِ ۖ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهٗ وَهٰذَا

دوه دریابونه | دا (یو) | خوږ دے | تنده ماتوونکے | چه آسان دی | څکل د هغے | او دا (بل)

دریابونه برابر نه دی یو دا ستے خوږ دے چه تنده ماتوی او څکل ے خوشگوار دی او بل

مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ

مالګین | تریږ دے | او د هر یو نه | خورئ تاسو | غوښه | تازه | او راوباسئ تاسو

تریو مالګین دے او د هر یو نه تاسو تازه غوښے خورئ او هغه زیورات (کالی) ترے راوباسئ

حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا

کالی | چه اغوندئ تاسو هغه | او ته وینے | کشتئ | په دے کښ | شلوونکی دا وبو | د دے دپاره چه تاسو اولتوئ

چه هغه ستاسو د اغوستلو په کار راځی او ته کشتئ وینے چه په دریاب کښ اوبه شلوی (او روانے وی)

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ

د فضل د هغه نه | او چه تاسو | شکر اوکړئ | هغه ننباسی | شپه | په ورځ کښ

دا دے دپاره چه تاسو د الله فضل اولتوئ او شکر گزار شئ هغه (الله) شپه په ورځ کښ

وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۙ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۚ

او ننباسی | ورځ | په شپه کښ | او په کار ئے لګولی دی | نور | او سپوږمئ

او ورځ په شپه کښ داخلوی او نور او سپوږمئ ئے په کار لګولی دی،

كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ

هر یو | روان دے | تر یو وخت | مقرر پورے | هم دغه | الله | رب ستاسو دے | هم دهغه ده

هر یو مقرر میعاد پورے روان دے، هم دا الله ستاسو رب دے تولـه بادشاهی هم دهغه ده

الْمُلْكُ ؕ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ

بادشاهی | او هغه کسان | چه تاسو ئے رابلئ | سوا دهغه نه | اختیار نه لری هغوی

او دهغه نه سوا چه تاسو کوم (معبودان) رابلئ نو هغوی (خو) د قجور ے د هډوکی د پاسه د نری

مِنْ قِطْمِيْرٍ ؕ اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ

د قجور ے د هډوکی د پوستکی | که چرے | تاسو رابلئ هغوی | (نو) هغوی نه آوری | بلنه ستاسو | او که چرے

پوستکی برابر اختیار هم نه لری. که چرے تاسو ئے رابلئ نو ستاسو بلنه (آواز) هم نه آوری، او که چرے بالفرض

سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ؕ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ

هغوی (ئے) واوری | نو جواب نشی درکولے | تاسو ته | او په ورځ | د قیامت به | هغوی انکار کوی

واوری نو (بیا هم) تاسو ته جواب نشی درکولے او د قیامت په ورځ به دوی ستاسو (د دے) شرک نه انکار کوی

بِشِرْكِكُمْ ؕ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ۚ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ع

ستاسو د شرک نه | او خبر به درنکړی تاته (هیڅوک) | پشان | د پوره خبردار ذات | اے خلقو

او کوم ذات چه د هرڅه نه پوره خبردار دے دهغه پشان به هیڅوک تاته صحیح خبره اونه ښائی اے خلقو!

اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۚ

تاسو | محتاج یئ | الله ته | او الله | هم هغه دے | بے پروا (بے حاجته) | ستایلے شوے

تاسو ټول الله ته محتاج یئ او الله تعالی بے حاجته (بے نیاز) دے د صفتونو مستحق دے

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ۚ وَمَا ذٰلِكَ

که چرے | او غواړی هغه | نولرے به کړی تاسو | او رابه ولی | مخلوق | نوے | اونه دے دا کار

که هغه او غواړی نو تاسو ټول به ختم (فنا) کړی او نوے مخلوق به پیدا کړی او دا کار

عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَاِنْ

په الله باندے | څه گران | او نشی اوچتولے | یو بوج اوچتونکے | بوج | د بل چا | او که چرے

الله تعالی ته څه گران نه دے۔ او هیڅ یو بوج اوچتونکے به د بل چا بوج د گناه اوچت نه کړی او که چرے

تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَّلَوْ

راوبلی | یو درون بوج والا | د خپل بوج د اوچتولو دپاره | نو اوچت به نه کړے شی | دهغه نه | هیڅ څیز | اگر که

یو درون بوج والا د خپل بوج د اوچتولو دپاره څوک راوبلی نو (بیا به ترے هم) معمولی بوج اوچت نه کړے شی

كَانَ ذَا قُرْبٰى ؕ اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ

وی هغه | نزدے رشته دار | بے شکه | ته یَروے | هغه کسان | چه یَرِیږی | د رب خپل نه

اگر که هغه ئے نزدے خپلوان وی، (اے نبیؐ!) ته (خو) هم هغه خلق یروے شے چه د خپل رب نه

بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى

بے لیدلو | اوقائموی | مونځ لره | اوځوک چه | پاک شو | نو بیشکه | هغه پاک شو

بے لیدو یرپرې او دمانځه پابندی کوی، او چا چه ځان پاک کړو نو یقیناً هغه د خپلے فائدے دپاره

لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۝

دپاره دخپلے فائدے دځان خپل | اوخاص الله ته | (واپس) ورتلل دی | او نه دی برابر | روند | او بینا

ځان پاکوی او خاص الله تعالی ته د ټولو واپس تلل دی. او روند او بینا برابر نه دی.

وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ۝ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ۝ وَمَا يَسْتَوِي

او نه تیارے | او نه رنړا | او نه سورے | او نه گرمی | او نه دی برابر

او نه تیارے او رنړا (برابر دی) او نه سوری او نور (برابر دی)

الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

ژوندی | او نه مړی | بیشکه | الله | آوروی | چاته | چه اوغواړی

او نه ژوندی او مړه برابر دی یقیناً الله تعالی چه چاته اوغواړی (خبره) ورته آوروی

وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ ۝ اِنْ اَنْتَ اِلَّا نَذِيْرٌ ۝

او نه ئے ته | اوروؤنکے | هغه چاته | چه په قبرونو کښ دی | نه ئے ته | مگر | یروؤنکے

او ته (خبره) هغه چاته نشے اوروے ځوک چه قبرونو کښ پراته دی. ته خو بس یروؤنکے ئے

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ؕ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا

بیشکه | مونږ لیږلے ئے ته | په حقه | زیرے ورکوؤنکے | اویروؤنکے | او نه دے هیڅ یو امت | مگر

مونږ ته په حقه زیرے ورکوؤنکے او یروؤنکے رالیږلے ئے. او داسے یو امت نشته

خَلَا فِيْهَا نَذِيْرٌ ۝ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ

تیر شوے دے | په هغے کښ | یو ډار کوؤنکے | او که چیرے | دوی درواغژن گڼری تا | نو یقیناً | درواغژن گڼلے وو | هغه کسانو

چه هغے ته یو یروؤنکے نه وی راغلے. او که دا خلق تا درواغژن گڼری نو دا دوی نه پخوا نو (کافرانو) هم

مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالزُّبُرِ

چه مخکښ وو دوی نه | راغلی وو هغوی ته | پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | او د صحیفو سره

(پیغمبران) درواغژن گڼلی وو. د هغوی پیغمبرانو هغوی ته ښکاره دلیلونه. صحیفے

وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ۝ ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَكَيْفَ

او د کتاب | روښانه سره | بیا | اونیول ما | هغه خلق | چه هغوی کفر کړے وو | پس څنګه

او روښانه کتابونه راوړی وو بیا ما کافران خلق راونیول نو اوګوره چه

ع ۳ كَانَ نَكِيْرِ ۝ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

وو | عذاب زما | آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله | راورولی دی | د آسمان نه | اوبه

زما سزا څنګه وه؟ آیا تا نه دی کتلی چه الله تعالی د آسمان نه اوبه راورولی دی

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ؕ وَمِنَ الْجِبَالِ

بیا مونږ راویستلی دی | په هغے سره | میوے | چه مختلف دی | رنګونه دهغے | او د غرونو نه

بیا مونږ په هغے سره رنګ په رنګ میوے پیدا کړے او په غرونو کښ هم

جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ۝

توتے دی | څه سپینے | اوڅه سرے | چه مختلف دی | رنګونه دهغے | او د کار غانو پشان | تک تور دی

رنګ په رنګ تکړے دی څه پکښ سپینے دی څه پکښ سرے دی مختلف رنګونو والا او څه پکښ تکے تورے دی

وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ؕ

او بعضے د خلقو | او د زنده سرو | او د څاروو نه | مختلف دی | رنګونه دهغے | هم دغه شان

او په انسانانو او ځناورو او څاروو کښ هم دغه شان مختلف رنګونو والا دی

اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

بیشکه | یَرِیږی | دالله نه | د بندګانو د هغهٔ نه | پوهه خلق (عالمان) | بیشکه | الله دے | ډیر زور ور (غالب)

یقیناً د الله تعالیٰ نه د هغه په بندګانو کښ هغه خلق یَرِیږی چه علم لری. یقیناً الله تعالیٰ ډیر زور ور

غَفُوْرٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

ډیر بخښونکے | بیشکه | هغه کسان | چه لولی | کتاب | د الله | او قائموی | مونځ

ډیر بخښونکے دے کوم خلق چه د الله تعالیٰ کتاب لولی او د مانځه پابندی کوی

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ

او خرچ کوی | دهغه څه نه | چه مونږ ورکړی دی دوی ته | په پټه | او په ښکاره | هغوی امید لری

او مونږ چه ورله کوم رزق ورکړے دے دهغے نه په پټه او په ښکاره خرچ کوی هغوی د داسے تجارت امید لری

تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ۝ لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ

د (داسے) تجارت | چه هیڅ کله تاوان نه کوی | دے دپاره چه الله پوره ورکړی دوی ته | اجرونه د دوی | او زیات ورکړی دوی ته

چه کله به هم نقصان نه کوی دا ځکه چه الله تعالیٰ هغوی ته د هغوی اجر پوره ورکړی او د خپل فضل نه ورله

مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ۝ وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ

د فضل خپل نه | بیشکه هغه | ډیر بخښونکے | ډیر قدردان دے | او هغه څه | چه مونږ وحی کړے ده

زیات هم ورکړی یقیناً هغه ډیر بخښونکے ډیر قدردان دعمل دے. او (اے نبی!) مونږ چه تاته

اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ

تاته | د کتاب نه | هم هغه دی | حق | چه تصدیق کوونکی دی | دهغه څه | چه مخکښ دی دهغه نه

د کوم کتاب وحی درلیږلے ده هغه بالکل حق دے (او) د مخکے کتابونو تصدیق کوونکے دے.

اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ۝ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ

بیشکه | الله | په بندګانو خپلو | پوره خبردار | (او) لیدونکے دے | بیا | مونږ په میراث کښ ورکړو | کتاب

یقیناً الله تعالیٰ د خپلو بندګانو نه پوره خبردار دے او هر څه وینی. بیا مونږ دے کتاب وارثان

الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ
هغه خلقو ته | چه غوره کړی دی مونږ | دبندګانو خپلو نه | نو بعضے دهغوی نه | ظلم کوونکی دی | د ځان خپل سره
په خپلو بندګانو کښ هغه خلق چې کړل چه مونږ غوره کړی وو بیا په هغوی کښ بعضے په ځان ظلم کوونکی دی

وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ
او بعضے دهغوی نه | په اعتدال دی | او بعضے دهغوی نه | مخکښ کیدونکی دی | په نیکو کښ | په حکم | د الله
او بعضے پکښ میانه حال دی او بعضے پکښ د الله تعالیٰ په حکم د نیکۍ په کارونو کښ مخکښ کیدوونکی دی

ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ؕ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا
دا دے | فضل | ډیر لوئے | جنتونه | دهمیشه والی | چه دوی به داخلیږی هغے ته
دا د الله تعالیٰ ډیر لوئے فضل دے. دهمیشه اوسیدو باغونه دی چه دوی به ورته داخلیږی

يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ
اغوستو لپاره شي دوی ته | په هغے کښ | باهوګان (بنګړی) | د سرو زرو | او ملغلرے | اوجامے د دوی به
هلته په دوی د سرو زرو او د ملغلرو په بنګړو (باهوګانو) ښائسته کولے شي. او جامے به یے

فِيْهَا حَرِيْرٌ ؕ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ عَنَّا
په هغے کښ | ریښمو دی | او وائی به دوی | (چه) حمد دی | الله لره | هغه (الله) | چه لرے کړو | زمونږ نه
هلته د ریښمو دی او دوی به وائی چه ټول تعریفونه د هغه الله دی چه زمونږ نه ئے

الْحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ ۙ شَكُوْرُ ۙ الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا
غم | بیشکه | رب زمونږ دے | خامخا ډیر بخښونکے | ډیر قدردان | هغه (ذات) | چه مونږ ئے اوستلو
هر غم لرے کړو یقیناً زمونږ رب ډیر بخښونکے ډیر قدردان دے. (هغه ذات چه) مونږ ئے

دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ
کور | دپاتے کیدو ته | په خپل فضل سره | نه به رسی مونږ ته | په دے کښ | څه تکلیف (ستړے والی)
په خپل فضل د همیشه اوسیدو ځائے ته راوستلو چه نه به پکښ مونږ ته څه تکلیف راورسی

وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ
اونه به رسی مونږ ته | په دے کښ | څه ستومانی | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | دهغوی دپاره | اور
او نه ستړیوالے. او چا چه کفر کړے دے د هغوی دپاره د دوزخ اور دے

جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ
دجهنم دے | فیصله به نه کیږی | په هغوی باندے | چه مړه شی | اونه به کمولے شی | د هغوی نه
نه به ورله اجل راځی چه مړه شی او نه به ترے د هغے (دوزخ) عذاب کمیدے شی

مِّنْ عَذَابِهَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ۚ وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ
د عذاب د هغے | دغه شان | مونږ بدله ورکوو | هر ډیر | غټ ناشکره ته | او هغوی به | چغے وهی
هر غټ ناشکره ته مونږ هم دغه شان سزا ورکوو۔ او دوی به په هغے کښ چغے وهی

فِيْهَا ۚ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا

په هغے کښ | اے ربه زمونږ | اوباسه مونږ | چه عمل اوکړو | نیک | غیر د هغے نه | چه مونږ به همیشه
(اووائی به چه) اے زمونږ ربه مونږ بهر وباسه چه د نیکۍ کارونه اوکړو د هغے عملونو نه خلاف چه پخوا به مو کول

نَعْمَلْ ؕ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ

کولو | آیا مونږ نه وو درکړے تاسو ته عمر | دومره | (چه) نصیحت قبول کړی | په هغے کښ | هغه څوک
(ورته به اووایی شی چه) آیا مونږ تاسو ته دومره عمر نه وو درکړے چه یو نصیحت قبلونکے پکښ

تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ ؕ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ

چه نصیحت قبول غواړی | او راغل وو تاسو ته | یرو ونکی | پس اوځکئ (عذاب) | پس نشته د ظالمانو دپاره
نصیحت قبلولے شو او تاسو ته خویرو ونکی (هم) راغلی وو، پس (اوس) (د عذاب) خوند اوځکئ (ځکه چه) دا سے ظالمانو

مِنْ نَّصِيْرٍ ۝ اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ ع

هیڅوک مددګار | بیشکه | الله | پوهه دے | په پټو څیزونو | د آسمانونو | او د زمکے | بیشکه هغه
دپاره هیڅوک مددګار نشته یقیناً الله تعالی د آسمانونو او د زمکے د پټو څیزونو علم لری، یقیناً

عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ

ښه پوهه دے | په رازونو | د سینو | هم الله هغه ذات دے | چه جوړ کړی ئے یئ تاسو | خلیفه ګان
هغه د سینو په پټو خبرو ښه پوهیږی او (الله تعالی) هم هغه ذات دے چه تاسو یئ په زمکه کښ خلیفګان

فِي الْاَرْضِ ؕ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ؕ وَلَا يَزِيْدُ

په زمکه کښ | پس چا | چه کفر وکړو | نو په هغه باندے | (وبال) د کفر د هغهٔ دے | او نه زیاتوی
جوړ کړی یئ اوس څوک چه کفر کوی نو د هغه د کفر وبال به هم هغه ته رسی. او کافرانو لره

الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ اِلَّا مَقْتًا ۚ وَلَا يَزِيْدُ

کافرانو لره | کفر د هغوی | په نزد | د رب د هغوی | مکر | غصه | او نه زیاتوی
د هغوی کفر د خپل رب په نزد د (هغه د) غصے نه سوا نور څه نه زیاتوی. او کافرانو لره

الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ اِلَّا خَسَارًا ۝ قُلْ اَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ

کافرانو لره | کفر د هغوی | مکر | تاوان | اووایه | آیا تاسو لیدلی دی | شریکان خپل
کفر د تاوان نه سوا نور څه نه زیاتوی. (اے نبئ ادوی ته) اووایه چه آیا تاسو خپل هغه شریکان لیدلی دی

الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا

هغه چه | تاسو ئے رابلئ | سوا | د الله نه | اوښایئ ماته | چه څه څیز | پیدا کړے دے هغوی
چه تاسو یئ د الله نه سوا رابلئ، نو ما ته اوښایئ چه هغوی په زمکه کښ

مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۚ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ

د زمکے نه | یا څه برخه | په آسمانونو کښ | یا ورکړی دی مونږ هغوی ته
څه پیدا کړی دی؟ یا په آسمانونو کښ د هغوی څه شرکت شته؟ یا مونږ دوی ته

كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ

څه کتاب | چه هغوی | په یو څنګاره دلیل دی | د هغے نه | (نه) بلکه | وعده نه کوی | ظالمان

یو دا سے کتاب ورکړے دے چه دوی د هغے په یو څنګاره دلیل ولاړ دی (نا) بلکه دا ظالمان

بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ

بعضے | د بعضو سره | مکر | د دهوکے | بیشکه | الله | راتینګوی | آسمانونه

د یو بل سره خالص د دهوکے وعدے کوی۔ حقیقت دا دے چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه

وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا

او زمکه | چه (اونه) خوزی | او که چرے | او خوزیدل دا دواړه | او نشی راتینګولے دے دواړه ولره

راتینګ کړی دی چه د خپل ځائے نه اونه خوزی او که چرے دا دواړه او خوزی (د خپل ځائے نه)

مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ۭ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ۝ وَاَقْسَمُوْا

هیڅ څوک | وروسته د دے نه | بیشکه هغه | دے | د پیر صبر ناک | د پیر بخښونکے | او دوی قسمونه کړی دی

نو د هغه نه سوا هیڅ څوک دا سے نشته چه راتینګ ے کړی۔ یقیناً هغه د پیر صبر ناک د پیر بخښونکے دے

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ لَّيَكُوْنُنَّ

په الله باندے | پاخه | قسمونه خپل | (چه) که چرے | راغے دوی ته | یو ډوڼکے | نو خامخا وی به دوی

او دے (کافرانو) به په الله تعالیٰ باندے کلک قسمونه خوړل چه که چرے دوی ته څوک یو ډوڼکے راغے

اَهْدٰى مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ

د پیر هدایت والا | د هر یَو | د امتونو نه | بیا هر کله چه | راغے دوی ته | یو ډوڼکے

نو دوی به د هر امت نه زیات هدایت قبلوونکی وی خو چه کله ورته یو ډوڼکے راغے نو د هغے سره ے نفرت

مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرَا ۝ اِسْتِكْبَارًا فِي الْاَرْضِ وَمَكْرَ

(نو) زیات ے نه کړو دوی لره | مکر | نفرت | د وجے د خان لوے ګڼلو نه | په زمکه کښ | او تدبیر

نو هم زیات شو څکه چه دوی په زمکه کښ خان د پیر لوی ګڼلو او ناکاره (غلط) تدبیرونه ے جوړ کړل حالانکه

السَّيِّئِ ۭ وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ ۭ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ

ناکاره | او نه چاپیریږی | تدبیر | ناکاره | مکر | د هغے په کوونکو باندے | پس نه کوی دوی انتظار

ناکاره تدبیرونه بل څوک نه بلکه پخپله تدبیرونه جوړونکی راګیروی اوس دوی د هغه دستور (قانون) نه سوا د څه خبرے

اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۚ

مکر | د طریقے | د وړومبنو | پس هیڅکله به ته ونه مومے | طریقے | د الله لره | څه تبدیلی

په انتظار کښ دی چه هغه پخوا تیر شوے دے (که د اخبره وی) نو ته به د الله په دستور کښ هیڅ تبدیلی اونه مومے

وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ۝ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

او هیڅکله به ته اونه مومے | طریقے | د الله لره | او پیدل | آیا دوی نه دی ګرځیدلی | په زمکه کښ

او نه به د الله په دستور کښ بل طرف ته اوړیدل بیا مومے۔ آیا دے خلقو په زمکه کښ کله سفر نه دے کړے

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوْٓا

چه کتلی ئے وے | چه څنګه | وو | انجام | دهغه کسانو | چه د دوی نه مخکے وو | اوو هغوی

چه دائے لیدلے وے چه د دوی نه دپخوا نو خلقو څه انجام شو؟ حالانکه هغوی د دوی نه

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ

زیات سخت | د دوی نه | په طاقت کښ | او نه دے | الله | (داسے) چه عاجزه کړی هغه لره | هیڅ یو څیز

زیات طاقتور وو ، او الله تعالی داسے نه دے چه په آسمانونو یا په زمکه کښ

فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا قَدِيْرًا ۝٤٤

په آسمانونو کښ | او نه په زمکه کښ | بے شکه هغه | دے | ډیر پوهه | قدرت لرونکے

دے څه څیز هغه لره عاجزه (کمزورے) کړی، یقیناً هغه ښه پوهه او (پوره) قدرت والا ذات دے

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ

اوکه چرے | نیولے | الله | خلق | په هغه څه | چه دوی کړی دی | نو نه به ئے وو پر یخودلی

او که چرے الله تعالی دا خلق د دوی د (بد) عملونو په وجه (فوراً) نیولے نو په مخ د زمکه به ئے

عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ

په شا د زمکے | هیڅ یو ساه والا څیز | لیکن | هغه وروستو کوی دوی | تر نیټے | مقرر ے پورے

یو ساه والا څیز هم نه وے پر یخودلے لیکن الله تعالی دوی ته دیو معین وخت پورے مهلت ور کوی

فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ۝٤٥ ع

بیا هر کله | چه راشی | نیټه د دوی | نو بیشکه | الله | دے | بندګانو څپلو لره | ښه لیدونکے

پس بیا هر کله چه دغه نیټه راشی نو الله تعالی د خپلو بندګانو په حال ښهٔ خبر دے.

آیاتها [٨٣]	سورة يٰسٓ مكّيّة	رکوعاتها [٥]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰسٓ ۝١ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۝٢ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝٣

یٰسٓ | قسم دے په قرآن | حکمت والا (باندے) | (چه) بیشکه ته یے | خامخا د پیغمبرانو نه

یٰسٓ، د حکمت نه ډک قرآن باندے قسم دے (چه) ته یقیناً پیغمبرانو کښ شامل ئے (او) په نیغه لار باندے

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝٤ تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۝٥

په لاره | نیغه باندے | رالیږل (د دے) | د زور ور (غالب) | ډیر مهربان (د طرف نه دی)

(روان) ے (دا قرآن) دهغه ذات د طرف نه نازل شوے دے چه هغه ډیر زور ور (غالب) ډیر مهربان دے۔

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝ لَقَدْ

دے دپارہ چه اویروے | (هغه) قوم | چه نه دی یروولی شوی | پلاران دهغوی | پس هغوی | غافله دی | یقیناً

چه ته (پرے) هغه قوم اویروے چه دهغوی پلار نیکه نه وو یَروولی شوی نو هغوی بے خبره پاتے دی.

حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ اِنَّا

ثابته شوے ده | فیصله (دالله) | په ډیرو دَدوی باندے | نو دوی | ایمان نه راوړی | بیشکه

حقیقت دادے چه دَدوی دا کثر و خلقو په باره کښ فیصله ثابته شوے ده نو ځکه دوی ایمان نه راوړی. یقیناً

جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ

مونږ اچولی دی | په څټونو دوی کښ | طوقونه | نو هغه | تر زنے پورے وی | نو دوی

مونږ دَدوی په څټونو کښ (دَموا نعو دَهدایت نه) دا سے طوقونه اچولی دی چه تر زنے پورے سیدلی دی (او) دهغے دوجے په

مُّقْمَحُوْنَ ۝ وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ خَلْفِهِمْ

سرونه پورته کړی دی | او مونږ جوړ کړے دے | مخے د دوی ته | یَو دیوال | او ورو ستو دَدوی نه

سرونه دَلارے دهدایت نه بره طرف ته اوچت پاتے شوی دی او مونږ مخکښ روستو دَدوی نه دشکو کو او شبهاتو

سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ۝ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ

یَو دیوال | پس پټ کړی دی مونږ دوی | نو دوی | (څه) نه وینی | او برابره ده | په دوی باندے

اوشهواتو دیوالونه جوړ کړی دی نو دوی دَحق نه راندهٔ شوے دی او هیڅ لار دهدایت نهٔ وینی او دوی دپاره

ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ اِنَّمَا تُنْذِرُ

که چرے ته یَروے دوی | یا نه یروے دوی | دوی ایمان نه راوړی | بیشکه | ته یَروے

دواړه خبرے یو برابر دی که ته دوی یَروے یا نے نه یَروے دوی ایمان نه راوړی یقیناً ستا یَرول په هغه چا

مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ

هغه څوک | چه تابعداری کوی | دنصیحت | او یَریږی | درحمٰن (ذات) نه | بے دَلیدلو | پس زیرے ورکړه هغه ته

اثر اندازدی چه په نصیحت (قرآن) پسے روان شی او درحمٰن ذات نه په حال دنهٔ لیدلو دهغهٔ کښ یریږی

بِمَغْفِرَةٍ وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ۝ اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ

د بخښنے | او د اجر | عزتمند | بیشکه | مونږ | ژوندی کوو | مړی | او مونږ لیکو

نو دا سے کس ته ته د مغفرت او دَډیر بنه (عزتمند) اجر زیرے ورکړه یقیناً هم مونږ به مړی ژوندی کوو او دوی چه

مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ۭ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ

هغه څه | چه مخکے لیږلی دی دوی | او روستو پریخودلی شوی بدکارونه دوی | او هر یو | څیز | محفوظ کړے مونږ هغه | په کتاب

څه عمل نه مخکے لیږلی دی هغه هم لیکو او څه چه دوی ورو ستو پریږدی (هغه هم لیکو) او مونږ هر یو څیز

مُّبِيْنٍ ۝ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ اِذْ جَآءَهَا

ښکاره کښ | او بیان کړه | دوی ته | یَو مثال | د یَو کلی والو | کله چه | راغلل هغے ته

په واضح کتاب لوح محفوظ کښ حاضر کړے دے او (اے نبی!) ته دوی ته د یو کلی والو مثال پیش کړه کله چه هغے (کلی) ته پیغمبران

الْمُرْسَلُوْنَ ۙ﴿١٣﴾ اِذْ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا

پیغمبران | کله چه | اولیږل مونږ | هغوی ته | دوه کسان | نو هغوی دروغژن اوګڼل هغه دواړه

راغلل کله چه مونږ هغوی ته دوه پیغمبران ولیږل نو هغوی دروغژن اوګڼل نو بیا مو دیو دریم پیغمبر په ذریعه

فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴿١٤﴾ قَالُوْا

نومونږ مضبوط کړل | په دریم | پس اوویل هغوی | بیشکه مونږ | تاسو ته | رالیږلی شوی یُو | اوویل هغوی

دهغوی (دوو) تائید اوکړو اودریواړو هغوی ته اوویل چه یقین اوکړئ چه مونږ تاسو ته رالیږلی شوی یو هغوی ورته

مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ ۙ

(چه) نه ئے تاسو | مګر | بندګان | پشان زمونږ | اونه دے رالیږلے | مهربان (ذات) | هیڅ یَو څیز

(جواب کښې) اوویل تاسو خو هم زمونږ پشان بنیادمان یئ اور حمٰن ذات هیڅ څیز نه دے نازل کړے

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ﴿١٥﴾ قَالُوْا رَبُّنَا يَعْلَمُ اِنَّآ

نه ئے تاسو | مګر | دروغ وایئ | پیغمبرانو اوویل | زمونږ رب | پوهیږی (چه) | بیشکه مونږ

تاسو تش دروغ وایئ پیغمبرانو ورته اوویل (چه) زمونږ رب ته ښه پته ده چه مونږ واقعی

اِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٧﴾ قَالُوْٓا

تاسو ته | خامخا رالیږلی شوی یُو | اونشته په مونږ باندے | مګر | پیغام رسول | ښکاره | اوویل دوی

تاسو ته رالیږلی شوی یو، او زمونږ ذمه داری خو صرف داده چه صفا صفا پیغام اورسوو کلی والو ورته اوویل

اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ

چه بیشکه مونږ | سپیرهٔ شومونږ | ستاسو په وجه | که چرے | منع نه شوئ تاسو | نو خامخا مونږ به سنګسار کړو تاسو

یقیناً ستاسو دوجې نه زمونږ حالت سپیرهٔ شوے دے یقین اوکړئ که تاسو منع نه شوئ نو سنګسار به موکړو

وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوْا طَآئِرُكُمْ

اوخامخا اوبه رسی تاسو ته | زمونږ (طرف) نه | سزا | دردناکه | اوویل هغوی (پیغمبرانو) | ستاسو سپیرهٔ څوب خو

اوزمونږ د طرف نه به دردناکه سزا ملاوشی پیغمبرانو (ورته) اوویل ستاسو سپیرهٔ څوب ستاسو د بدعملۍ وجه ستاسو پورے ځکے

مَّعَكُمْ ؕ اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ

تاسو سره لازم دے | آیا که چرے نصیحت اوکړے شی تاسو ته | بلکه | تاسو | یَو قوم یئ | اسراف کوونکی | او راغے

آیا داسپیرهٔ څوب دے چه تاسو ته نصیحت اوکړے شو او تاسو انکار کوئ، (نه) بلکه اصل خبره داده چه تاسو د حد نه تیریدونکی خلق یئ

مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا

د لرے طرف | د ښار نه | یو سړے | چه منډے ئے وهلے | وے ویل: | اے زما قومه! | روان شئ

او د ښار د لرے (لیرے) غاړے نه یو کس په منډه منډه راغے (او) خلقو ته ئے اوویل: اے زما قومه!

الْمُرْسَلِيْنَ ۙ﴿٢٠﴾ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْـَٔلُكُمْ اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢١﴾

(دے) پیغمبرانو پسے | روان شئ | په هغه چا پسے | چه نه غواړی تاسو نه | څه اجر | او هغوی | په سمه لار روان دی

دے پیغمبرانو پسے روان شئ، هغه چا پسے روان شئ چه تاسو نه هیڅ اجرت (بدله) نه غواړی او (پخپله) په سمه لار دی

وَمَا لِيَ لَآ اَعْبُدُ الَّذِيْ فَطَرَنِيْ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٢٢﴾

اوځه علاوه دے | زما دپاره | چه زه (ئې) عبادت نه کوم | دهغه (ذات) | چه زه ئې پیدا کړے یم | او خاص هغه ته به | تاسو واپس کولے شئ
او زما څه عذر دے چه زه دهغه ذات عبادت ونه کړم چه زه ئې پیدا کړے یم او هم دهغه طرف ته به تاسو واپس کیږئ

ءَاَتَّخِذُ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً اِنْ يُّرِدْنِ الرَّحْمٰنُ بِضُرٍّ

آیا زه اونیسم | سوا د هغهٔ نه | خدایان | که چرے | اوغواړی ما ته | رحمان (ذات) | ضرر رسول
آیا زه دهغه نه سوا نور دا سے خدایان جوړ کړم چه که چرے رحمٰن ذات ما ته څه ضرر (نقصان)

لَّا تُغْنِ عَنِّيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا يُنْقِذُوْنِ ﴿٢٣﴾ اِنِّيْٓ

(نو) نشی لرے کولے | زما نه | سفارش د هغوی | هیڅ څیز | اونه هغوی خلاصولے شی ما | بیشکه زه به هم
دا رسول اوغواړی نو نه د هغوی سفارش زما په کار راځی اونه مے خلاصولے شی که زه دا سے وکړم

اِذًا لَّفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٤﴾ اِنِّيْٓ اٰمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُوْنِ ﴿٢٥﴾

په دغه وخت | خامخا په گمراهۍ | ښکاره کښے | بیشکه ما | ایمان راوړے دے | په رب ستاسو | نو واورئ زما خبره
نو یقیناً زه (خو) به په ښکاره گمراهۍ کښے مبتلا شم ما (خو) ستاسو په رب ایمان راوړے دے نو تاسو (هم) زما نصیحت واورئ

قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ۭ قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ بِمَا

اووئیلے شو | (چه) داخل شه | جنت ته | اووئیل هغه | اے کاش | چه قوم زما | پوهیدلے | په هغه څه
(دمرگ نه پس روح دهغه ته) اووئیلے شو چه جنت ته داخل شه (نو په جنت کښ) هغه اووئیل کاش چه زما قوم په هغه توحید علم او عقیده طرے

غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿٢٧﴾ وَمَآ اَنْزَلْنَا

(چه) بخښنه او کړه | ما ته | رب زما | اووے ګرځولم زهٔ | د عزتمندو نه | اونه وو راليږلے مونږ
د کوم توحید په وجه چه زما رب ما ته بخښنه او کړه او زه ئې په عزتمندو خلقو کښے داخل کړم او دغه کس د شهادت نه پس مونږ

عَلٰي قَوْمِهٖ مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ جُنْدٍ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَمَا كُنَّا

په قوم دهغهٔ باندے | وروستو د هغهٔ نه | هیڅ لښکر | د آسمان نه | اونه یو مونږ
د هغه په قوم باندے (د عذاب د پاره) د آسمان نه څه لښکر را کوز کړے نه وو اونه د یو قوم د استیصال عذاب د پاره لښکر وراليږلو تکړ مونږ

مُنْزِلِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ

راليږونکی | نه وو (د هلاکت) | مګر | چغه | یوه | بس دغه وخت | دوی
څه ضرورت شته۔ هلاکت د دوی خو بس یوه چغه وه (چه هغے سره) دوی ټول په شان د اور

خٰمِدُوْنَ ﴿٢٩﴾ يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ

مړهٔ پراتهٔ وو | افسوس دے | په بندګانو | چه نهٔ راځی دوی ته | یو پیغمبر
ساړه پریوتل۔ (د دا سے) بندګانو په حال افسوس اکله هم چه دوی ته یو پیغمبر راغلے دے

اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٣٠﴾ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا

مګر | دوی | په هغه پورے | ټوقے کوی | آیا دوی نه دی کتلی | چه څومره | هلاک کړی دی مونږ
نو دوی ورپورے همیشه ټوقے کړے دی آیا دوی نه دی کتلی (غور نه دے کړے) چه دومره نه مخکښ مونږ

قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ اَنَّهُمْ اِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ۝ وَاِنْ كُلٌّ

مخکښې ددوی نه | د قوموتو نه | چه هغوی | دوی ته | واپس نه راځی | اونه دی دا ټول

څومره پیړۍ (قوموته) هلاک کړی دی چه بیا هغوی دوی ته واپس نه راځی اوداټول به (یوه ورځ)

لَّمَّا جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ۝ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ۚ

مکر | ټول به | زمونږ مخے ته | حاضر کړے شی | اونخښه | ددوی دپاره | زمکه | اوچه ده

زمونږ مخے ته حاضر کړے شی اوددوی دپاره یوه نخښه دتوحید اود قدرت دالله تعالی هغه مړه (اوچه) زمکه ده

اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ۝ وَجَعَلْنَا

چه تازه کړه مونږ هغے لره | اوراوباسلے مونږ | دهغے نه | دانے | نو دهغے نه | دوی خوری | اوجوړ کړل مونږ

چه مونږ راژوندۍ کړه او مونږ ترے غله راپیدا کړه چه داټول ترینه خوراک کوی او مونږ

فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا

په دے کښے | باغونه | د | قجورو | اود انګورو نه | او اوبیولے مونږ | په دے کښے

په دے زمکه کښے دقجورو او دانګورو باغونه پیدا کړل او چینے موپکښے جاری کړے

مِنَ الْعُيُوْنِ ۝ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ؕ

د چینو نه | دے دپاره چه دوی اوخوری | د میوو دهغے نه | اونه دی جوړ کړی دے لره | لاسونو ددوی

(دے دپاره) چه دوی دهغے (باغونو) میوے اوخوری حالانکه دا (څیزونه) ددوی لاسونو نه دی (جوړ) کړی

اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝ سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا

آیا نو دوی شکر نه کوی | پاکی (وایئ) | د هغه ذات | چه پیدا کړی دی | جوړے | ټولے

آیا نو بیا هم دوی شکر نه اوباسی پاکی (بیانوه) دهغه ذات چه دهر یو څیز څخه جوړے (نر اومادګی) پیدا کړی دی

مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

دهغه څخه نه | چه راوزغونوی ځمکه | اود نفسونو د دوی نه | او دهغه څخه نه | چه دوی نه پیژنی

دزمکے په زرغونه کښے هم اوددوی په نفسونو کښے هم اوپه هغه څیزونو کښے هم چه دوی نه پیژنی هم نه

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ

اوبله نخښه | ددوی دپاره | شپه ده | (چه) مونږ راوکاږو | دهغے نه | ورځ | نو دغه وخت | دوی

او د دوی دپاره یوه بله نخښه شپه ده چه مونږ ترے ورځ راکاږو نو دغه وخت دوی

مُّظْلِمُوْنَ ۝ وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ؕ ذٰلِكَ

په تیارۀ کښے شی | او لمر | روان دے | وخت مقرر | دهغۀ له | دا

په تیاره کښے پاتے شی اوبله نښه لمر دے چه خپل مقرر وخت طرف ته (فناء دَدنیا طرف ته) روان دے داحرکت دلمر

تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى

اندازه | د زور آور | پوهه ذات ده | او سپوږمۍ | مقرر کړی دی مونږ هغے لره | منزلونه | تر دے

اندازه دهغه ذات ده چه ډیر غالب او ډیر پوهه دے. اوسپوږمۍ دپاره مونږ منزلونه (ځایونه دَښکارۀ کیدلو) مقرر کړی دی

عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ۝ لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ

چه واپس شی | پشان د څانګے د قجور زړے | نه دے نور | چه آسان شی | هغهٔ نه

تر دے چه د قجور مے د زړے څانګے پشان پاتے شی۔ نه (خو) نور له دا ممکنه ده

اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ

داچه رالاندے کړی | سپوږمۍ | او نه شپه | مخکښ کیدونکے ده | دورځ نه | او هریو

چه سپوږمۍ رالاندے کړی او نه شپه دورځ نه مخکښ کیدے شی او دا هر یو

فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ۝ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ

په (خپل) مدار کښے | لامبو وهی | اویله نخښه | ددوی دپاره | داده چه مونږ | سواره کړی دی | بچی د دوی

په خپل مدار (څانګ دګرځیدلو) کښے لامبو وهی (روان دی) او ددوی دپاره یوه نخښه داده چه مونږ ددوی اولاد (بچی)

فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ۝ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا

په کشتۍ | دکه کښے | او مونږ پیدا کړی دی | ددوی دپاره | پشان د دے | هغه څیزونه

په دکه کشتۍ کښے سواره کړی دی او مونږ ددوی دپاره هم ددے پشان نور دا سے څیزونه پیدا کړی دی

يَرْكَبُوْنَ ۝ وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ

چه دوی (پرے) سورلی کوی | او که چرے | او غواړو مونږ | نو غرق به کړو دوی | بیا به نه وی هیڅ څوک فریادرس | د دوی

چه دوی پرے سورلی کوی او که چرے مونږ او غواړو نو دوی به ډوب کړو بیا به نه د دوی څوک

وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ۝ اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ۝

او نه به دوی | بچ کړے شی | مګر | په وجه د رحمت | د طرف زمونږ نه | او (په وجه) د فائدے ورکولو | تر څه وخته پورے

فریاد اوریدو والا وی او نه به بچ کړے شی لیکن دا ټول زمونږ مهربانی او څه وخته پورے فائدے ورکول دی۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ

او کله چه | اووئیلے شی | دوی ته | چه اویرږئ | د هغه څه نه | چه ستاسو مخکښ دی | او د هغه څه نه | چه ستاسو روسته دی

او کله چه دوی ته اووئیلے شی چه د (عذاب د آخرت) نه څان بچ کړئ چه ستاسو رالاندے دے او د هغهٔ عذاب نه څه ستاسو نه روسته په

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ

دے دپاره چه په تاسو | رحم او کړے شی | او نهٔ راځی دوی ته | هیڅ یوه نخښه | د نخښو | د رب د دوی نه

اقوام مکذبو ترشو دے دپاره چه رحم درباندے او شی (نو دوی (اعراض کوی) او دوی ته چه د خپل رب د نخښونه هر یو نخښه راځی

اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ۝ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا

مګر | دوی | د هغے نه | مخ اړونکی وی | او کله چه | اووئیلے شی | دوی ته | چه خرچ کړئ

نو دوی ترے نه مخ اړوی او کله چه دوی ته اووئیلے شی چه الله چه تاسو له کوم رزق درکړے دے د هغے نه

مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ

د هغه څه نه | چه درکړی دی تاسو ته | الله | وائی | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | د هغه خلقو په باره کښے

څه (حصه) (په غریبانو) خرچ کړئ نو کافران د مومنانو په باره کښے وائی

اٰمَنُوْٓا اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ

چه ایمان ئے راوړے | (چه) آیا خوراک ورکړو مونږ | هغه چا ته | که چرے | غوښتلے | الله | نو خوراک به ئے ورکړے وو هغه

آیا مونږ په هغه چا باندے خوراک او کړو چه که الله مرضی وے نو پخپله به ئے ورله خوراک ورکړے وے؟

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا

نه یئ تاسو | مګر | په ګمراهئ | ښکاره کښے | او وائی دوی | (چه) کله به وی | دا

تاسو خو په ښکاره ګمراهئ کښے پراته (اخته) یئ او وائی که چرے تاسو رشتینی یئ نو دا (د قیامت) وعده به

الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ مَا يَنْظُرُوْنَ اِلَّا صَيْحَةً

وعده | که چرے | یئ تاسو | رشتینی | دوی انتظار نه کوی | مګر | د چغے

کله پوره کیږی؟ نو دوی چه د کوم شے انتظار کوی هغه خو به اوله شپیلئ وهل وی

وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ۝ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

یوے | چه راوبه نیسی دوی لره | او دوی به | جګړے کوی | پس (بیا به) طاقت نه لری دوی

چه دوی به د ډګناء دپاره په دا سے حال کښے راونیسی چه خپلو کښے به په دنیاوی امورو کښ بحثونه کوی بیا خو به دوی نه

تَوْصِيَةً وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ ۝ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ ع

د وصیت کولو | او نه به خپل کور والو ته | واپس تلے شی | او پوک به اووهلے شی | په شپیلئ کښے

وصیت کولے شی او نه به خپل کور (والو) ته واپس تلے شی او (کله چه دویمه) شپیلئ کښ پوکے د بعث دپاره اووهلے شی

فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ۝ قَالُوْا

نو ناڅاپه به | دوی | د قبرونو نه | خپل رب طرف ته | ورزغل | وائی به دوی

نو دوی به دغه وخت د قبرونو نه د خپل رب طرف ته په منډه روان وی۔ وائی به

يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ

هائے تباهئ زمونږ ه | چا | راپورته کړو مونږ | د خایونو د ملاستے خپلے نه | دا | هغه څه دی | چه وعده ئے کړے وه

هائے زمونږ بد نصیبه! مونږ چا د خپلو قبرونو نه راپاڅولو؟ (جواب به ورکړے شی چه) دا خو هم هغه (قیامت) دے

الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ۝ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً

رحمٰن | او رشتیا وئیلی وو | پیغمبرانو | نه به وی دا | مګر | چغه | یوه

چه رحمٰن ذات ئے وعده کړے وه او پیغمبرانو رشتیا وئیلی وو دا به بس یوه درنه چغه وی

فَاِذَا هُمْ جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ۝ فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ

پس ناڅاپه به | دوی | ټول | زمونږ مخے ته | حاضر کړے شی | پس نن ورځ | ظلم به اونه کړے شی

(چه دغے نه پس به) دا ټول زمونږ مخے ته حاضر (کړے) شی پس نن ورځ به په هیڅ چا باندے هیڅ قسمه ظلم نه کیږی

نَفْسٌ شَيْـًٔا وَّلَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ اِنَّ

په هیڅ یو کس | هیڅ هم | اونه به تاسو ته بدله ورکولے شی | مګر | د هغه څه | چه تاسو به کول | بیشکه

او تاسو ته به صرف د خپلو عملونو (که بلا واسطه وی او که بالواسطه وی) بدله ملاویږی

اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ۝٥٥ هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ

جنت والا به | نن ورځ | په خپله مشغولا کښے وی | خوشحاله به وی | دوی | اودوی بیبیانے (به)

یقیناً جنتیان به نن ورځ په خپله مشغولا کښے وی او خوشحاله به وی ـ دوی او د دوی بیبیانو به

فِيْ ظِلٰلٍ عَلَى الْاَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ۝٥٦ لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ

په سورو کښے وی | په تختونو باندے | تکیه وهونکی به وی | وی به دوی دپاره | په دے کښے | میوے

د سورو لاندے په تختونو باندے تکیه لګولی وی او د دوی دپاره به هلته میوے

وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ۝٥٧ سَلٰمٌ ۚ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ۝٥٨

اووی به دوی دپاره | هر هغه څه | چه دوی (ـځ) غواړی | سلام دے | ویناً به کیږی | د طرفه د رب | دیر مهربان له

او هر هغه څیز وی چه دوی ځ غواړی د مهربان پروردګار د طرف نه به ورته سلام وئیلے شی

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ۝٥٩ اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ

او جدا شئ | نن ورځ | اے مجرمانو | آیا پخه خبره نه وه کړے ما | تاسو ته

او (کافرانو ته به اووئیلے شی چه) اے مجرمانو ! نن تاسو (د مومنانو نه) جدا شئ ـ اے د آدم بچو

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ

اے د آدم بچو ! | داچه نه به کوئ تاسو عبادت | د شیطان | بیشکه هغه دے | تاسو لره | دشمن

آیا ما تاسو ته (دد ے خبر ے) تاکید نه وو کړے چه د شیطان عبادت مه کوئ ځکه چه هغه ستاسو ښکاره

مُّبِيْنٌ ۝٦٠ وَّاَنِ اعْبُدُوْنِيْ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝٦١ وَلَقَدْ

ښکاره | او (داچه) بندگی به کوئ زما | دا ده | لاره | نیغه | او یقیناً

دشمن دے او دا چه (صرف) زما عبادت به کوئ هم دا نیغه لار ده ـ او حقیقت دا دے

اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ۭ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ۝٦٢ هٰذِهٖ

ډډه ګمراه کړی دی | ستاسونه | خلق | ډیر | آیا نو تاسو | عقل نه لرلو | دا دے

چه دے (شیطان) په تاسو کښے ډیر خلق ګمراه کړی وو نو آیا تاسو د عقل نه کار نه اخستلو ؟ دا هغه

جَهَنَّمُ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝٦٣ اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا

دوزخ | هغه | چه تاسو سره به ـځ | وعده کیدله | داخل شئ دے ته | نن ورځ | په دے وجه

دوزخ دے چه تاسو سره به ـځ (په صورت د خلاف کولو کښې) وعده کیدله نن دے ته داخل شئ ځکه چه

كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝٦٤ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ

چه تاسو به | کفر کولو | نن ورځ به | مونږ مهر اووهو | په خلو د دوی باندے | او خبرے به کوی زمونږ سره

تاسو به همیشه کفر کولو . نن به مونږ د دوی په خلو باندے مهر اولګوو او د دوی لاسونه به مونږ سره

اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝٦٥ وَلَوْ

لاسونه د دوی | او ګواهی به کوی | خپے د دوی | په هغه څه | چه دوی به کول | او که څه

خبرے کوی او د دوی خپے به (د دوی خلاف) د هغه کارونو ګواهی ورکوی کوم چه دوی (په دنیا کښے) کسب کول. او که څه

نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ

اوغواړو مونږ | نوخامخا مونږ به ورلـ ړکړو | ستړګے د دوی | نو دوی به ورالـ دے کړی | لارے ته
مونږ وغواړو نو (په دنیا کښ به) ددوی ستړګے بے نورہ (رندے) کړو بیا به دوی دلارے طرف ته منډے وهی

فَاَنّٰى يُبْصِرُوْنَ ۝ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ

نو څنګه به | لیدل کوی | اوکه چرے | مونږ اوغواړو | نو مسخ به کړو دوی | (ولاړ) په خپلو ځایونو باندے
لیکن څه به نه وینی اوکه چرے مونږ اوغواړو نو هم ددوی په ځائے به ددوی شکلونه مسخ کړو

فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ۝ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ

نو (بیا به) وس نه لری | د(مخکښ) تللو | اونه به واپس کیدے شی | اوهغه څوک | چه مونږ زیات ور کړو هغه ته عمر
بیا به دوی نه وړاندے تلے شی اونه به واپس کرځیدے شی اوچا له چه مونږ دیر عمر ور کړو

نُنَكِّسْهُ فِى الْخَلْقِ ۭ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ۝ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ

نو التا کړو مونږ هغه | په پیدائش کښے | آیا نو دوی عقل نه لری | اومونږ نه دے بنودلے دے نبی ته | شعر
نو واپس ئے کړو کمزورئ ته آیا نو بیا هم دوی نه پوهیږی اومونږ دے (خپل پیغمبر) ته نه شاعری بنودلے ده

وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ۝ لِّيُنْذِرَ

اونه (دا) مناسب دے | ددهٔ سره | نه دے دا (کتاب) | مګر | نصیحت | او قرآن | واضح
او نه ورسره دا مناسب ده دا خو بس یو نصیحت او واضح (روښانه) قرآن دے۔
دے ډاریږه چه دے اوږوی | هغه څوک | چه وی | ژوندے | او ثابته شی | خبره (حجت) | په کافرانو باندے

مَنْ كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝

دے ډاریږه صورالیږلے دے چه هغه خلق پرے خبردار کړی چه ژوندی دی اوپه کافرانو باندے حجت (خبره) پوره شی

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ

آیا اودوی نه ګوری | چه بیشکه | پیدا کړی دی مونږ | ددوی د ډاره | هغه څه نه | چه جوړ کړی دی | لاسونو زمونږ
او آیا دوی دیته نه ګوری چه مونږ دخپلو لاسو جوړ شوی څیزونو نه دوی د ډاره څاروی پیدا کړل

اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ۝ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا

څاروی | نو دوی | دهغے | مالکان دی | اومونږ تابع کړی دی دا (څاروی) | ددوی | نو بعضے دهغے نه
اودوی دهغے مالکان دی او مونږ دا څاروی ددوی په قابو کښ راوستلی دی نو په بعضو باندے دوی

رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ۝ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۭ

سورلی ددوی دی | اوبعضے دهغے نه | دوی خوری | اوددوی د ډاره | په هغے کښے | فائدے دی | او څکلو څیزونه دی
سورلی کوی اوبعضو نه خوراک کوی اودوی ته ددے څاروو نه (نورے دیرے) فائدے او څکلو څیزونه ملاویږی

اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ

آیا نو دوی شکر نه کوی | او دوی نیولی دی | د الله نه سوا | (نور) خدایان | دے ډاره چه ددوی (سره)
آیا بیا هم دوی شکر نه اوباسی اودوی دالله نه سوا نور ګڼړ خدایان په دے امید جوړ کړی دی چه مدد به ورسره اوکړے شی

يُنْصَرُوْنَ ۝ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ ۙ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ

مدد وکړے شی | هغوی طاقت نه لری | د مدد کولو د دوی | او دوی | دهغوی (دپاره) | لښکر دے

حالانکه په هغوی کښے د دوی سره د مدد کولو هیڅ طاقت نشته او بیا هم دوی دهغوی د څوکیدارئ دپاره لښکر

مُّحْضَرُوْنَ ۝ فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ

حاضر کړے شوے | پس غمژن دِنه کړی تاته | وَینا دَدوی | بیشکه | مونږ پوهیږو | په هغه څه | چه دوی ئے پټه

حاضر کړے شوے دے پس (اے نبی!) دَدوی خبرے دِتا خفه نه کړی یقین او کړه دوی چه څه

وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ

اوپه هغه څه | چه دوی ئے ښکاره کوی | آیا او نه گوری | انسان | چه بیشکه | مونږ پیدا کړے دے دغه

ښکاره کوی اوهغه پټوی هغه ټول مونږ ته معلوم دی او آیا انسان دیته نه گوری چه مونږ دے دیوے

مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا

د نطفے نه | پس ناگهانه | دے (شو) | جگړمار | ښکاره | اوبیانوی دے | زمونږ دپاره | مثال

نطفے نه پیدا کړو؟ بیا دے ښکاره جگړمے کوی (په توحید کښ) او زمونږ دقدرت نه دَانکار دپاره مثالونه بیانوی

وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ ۭ قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ ۝

اوهیر کړے ئے دے | پیدائش خپل | وائی دے | څوك به | ژوندی کړی | هډوکی | حال دا دے چه هغه بوی | ذره ذره زاره

اوخپل پیدائش ئے هیر کړے دے (او) وائی چه دا هډوکی به څوك راژوندی کوی حالانکه دا به زاره شوی وی؟

قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۭ وَهُوَ بِكُلِّ

اووایه | ژوندی به کړی دے لره | هغه ذات | چه هغه پیدا کړی وو دا | په اول | ځل | او هغه | په هر

ته ورته جواب ورکړه چه دا به هم هغه ذات راژوندی کوی چا چه په اول ځل پیدا کړی وو او هغه ته

خَلْقٍ عَلِيْمُ ۝ ۙ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ

مخلوق باندے | ښه پوهه دے | هغه ذات | چه پیدا کړے دے هغه | ستاسو دپاره | د اوني | شنے نه

دهر کار د پیدا کولو پوره علم دے هم هغه ذات (به ئے پیدا کوی) چه ستاسو دپاره ئے د شنے اوني نه

نَارًا فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ۝ اَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ

اور | نو ناگهانه | تاسو | دهغے نه | اور بلوئ | آیا نه دے | هغه ذات | چه پیدا کړی ئے دی

اور پیدا کړے دے نو بیا تاسو د هغے نه اور بلوئ آیا کوم ذات چه

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ۭ بَلٰى ۙ

آسمانونه | او زمکه | قدرت لرونکے | په | دے چه پیدا کړی | پشان دَدوی | ولے نه

آسمانونه او زمکه پیدا کړی دی هغه په دے قادر نه دے چه دوی بیا هم هغه شان پیدا کړی؟ ولے نه؟

وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ۝ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـــًٔا

او هغه | ډیر پیدا کوونکے | ښه پوهه دے | بیشکه | حکم دهغهٔ | کله چه | اراده او کړی | دیو څیز

او (حالانکه) هغه هر څه پیدا کوونکے ښه پوهه دے. دهغه شان خو دا دے چه کله دیو څیز د پیدا کولو اراده او کړی

اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ۝ فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ بِيَدِهٖ

(داوی چه) اووائی | هغه ته | شه | نو هغه اوشی | پس پاکی (بیانوه) | دهغه ذات | چه دهغه په لاس کښے

نو صرف دومره (ورته) اووائی چه اوشه نو هغه اوشی پس هغه ذات ډیر پاک دے (پاکی بیان کړه دهغه ذات)

مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ ع

بادشاهی ده | د هر یَو | څیز | او هغه ته به | تاسو واپس کولے شئ |

چه دهغه په لاس کښے دهر څیز بادشاهی ده او تاسو ټول به دهغه طرف ته واپس کیږئ.

آیاتها [۱۸۲]	سورۃ صٰفّٰت مکّیۃ	رکوعاتها [۵]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۝ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۝ فَالتّٰلِيٰتِ

قسم دے په صف جوړونکو فرشتو په صف جوړولو سره | بیا قسم دے په هغه شړونکو ملائکو | په شړلو سره | بیا قسم دے په هغه ملائکو چه لوستونکو دی

په صف جوړونکو فرشتو باندے قسم دے بیا په هغه فرشتو قسم دے چه (شیطانان) په کلکه رټلی بیا په

ذِكْرًا ۝ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۝ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

وئی لره | بیشکه | معبود ستاسو | خامخا یَو دے | چه رب دے | د آسمانونو | او د زمکے

هغه فرشتو قسم دے چه ذکر (قرآن) لولی (چه) یقیناً ستاسو حقدار دبندګۍ هم یو دے چه دټولو اسمانونو او دزمکے

وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۝ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ

او دهغه څه | چه دے دواړو ترمینځه دی | او رب دے | د مشرقونو | بیشکه | مونږ خائسته کړے دے | آسمان

او د دے دواړو په مینځ کښے چه څه دی دهغے مالك (رب) دے او دنور د اختلو ځایونو مالك (رب) دے

الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ِالْكَوَاكِبِ ۝ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ

دنیوی | په خائست سره | چه ستوری دی | او بچ موساتلے دے په ساتنے سره | د هر | شیطان

یقیناً مونږ د دنیا آسمان دستورو په خائست سره خائسته کړے دے او دهر یو سرکش شیطان نه

مَّارِدٍ ۝ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ

سرکش نه | دوی غوږ نشی کیښودلے | هغه ډلے | او چتے ته | او دوی ویشتلے کیږی | د هر

مو بچ ساتلے دے۔ (داشیطانان) دَ ملائکو دَ برنی مجلس خبرے نشی اوریدلے او دهر طرف نه ویشتلے کیږی

جَانِبٍ ۝ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۝ اِلَّا مَنْ

طرف نه | زغولے شی په زغولو سره | او دوی دپاره | عذاب دے | پیوست کیدونکے | مګر | هغه څوك

دهلته نه دشړلو دپاره (دوی له رټلے شی) او دوی دپاره پیوست کیدونکے عذاب دے. البته که څوك

خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝ فَاسْتَفْتِهِمْ

چه اوتختوی (څه خبره) | په تختو لوسره | نو ور پسے شی | ئیوه شعله | بلیدونکے | پس ته تپوس اوکړه دوی نه

پکښے یو خبره نیمه اوتختوی نو یوه گرمه ځلنده شعله ورپسے (روانه) شی اوس دے کافرانو نه (یو) تپوس اوکړه چه

اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ

چه آیا دوی | د پیدا سخت دی | په پیدائش کښے | یا هغه څوک | چه مونږ پیدا کړی دی | بیشکه مونږ | پیدا کړی دی هغوی

ددوی پیدا کول د پیدا سخت دی یا دنورو څیزونو چه مونږ پیدا کړی دی؟ مونږ خو دوی د څلیښتو خټے نه پیدا کړی

مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ۝ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ۝ وَاِذَا ذُكِّرُوْا

د خټے | سلیښتو خټے نه | بلکه | ته تعجب کوے | اودوی خندا کوی | اوکله چه | نصیحت اوکړے شی دوی نه

(اے نبی!) حقیقت خو دادے چه ته (ددوی په خبره) تعجب کوے اودوی خندا کاندے (توے) کوی. اوکله چه ورته

لَا يَذْكُرُوْنَ ۝ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ۝ وَقَالُوْٓا اِنْ هٰذَآ

نو نصیحت نه قبلوی | اوکله چه | اوویني | څه نخښه | نودوی توے کوی (په هغے پورے) | اووائی | نه دے دا

نصیحت او (کړے) شی نو نۀ ځے منی اوکله چه څه نخښه اوویني نو هغے پورے ملنډے (توے) کوی. اووائی چه

اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا

مګر | ئیوجادو | ښکاره | آیا کله چه | مړ شو مونږ | او شو مونږ | خاورے | او هډوکی

دا خو بس (صرف) یو ښکاره جادو دے آیا چه مونږ کله مړ شو او خاورے او هډوکی شو

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۝ اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ۝ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ

(نو) مونږ به | بیا راپورته کولے شو | آیا اوزمونږ پلاران | اوړومبنی (هم) | اووایه | هاوا | اوتاسو به

نو (لا بیا به) ژوندی کیږو او آیا زمونږ پخوانی پلار نیکه به (هم راژوندی کیږی؟) ته ورته اووایه چه او (هو)!

دَاخِرُوْنَ ۝ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمْ

ذلیل یئ | پس بیشکه | دا به | (تیزه) چغه وی | ئیوه | پس دغه وخت به | دوی

اوتاسو به ذلیله (هم) یئ پس دا خو به یوه درنه چغه وی نو دغه وخت به دوی یو بل ته کوری یا خپل حالت ته کوری

يَنْظُرُوْنَ ۝ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝ هٰذَا يَوْمُ

کوری | او وائی به | هاے هلاکت دے زمونږ | دا ده | ورځ | د جزاء | دا ده | ورځ

او وائی به هاے زمونږ بد نصیبه ! دا خو د حساب او کتاب (د قیامت) ورځ ده (ورته به اووئیلے شی چه) دا هم هغه

الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۝ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ

د فیصلے | هغه | چه تاسو به | هغه | دروغ ګڼلو له | راجمع کړئ | هغه خلق

د فیصلے ورځ ده چه تاسو به دروغ ګڼلو له۔ فرشتو ته به حکم وشی (چه) ظالمان او دهغوی ملګری

ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ۝ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

چه ظلم ے کړے دے | او دهغوی ملګری | او هغه څه | چه دوی به ئے | عبادت کولو | سوا د الله نه

او هغه معبودان چه دوی به ئے د الله نه سوا عبادت کولو هغه ټول راجمع کړئ

فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ ﴿٢٤﴾

پس روان کړئ دوی | په طرف دلارے | د دوزخ | اواودروئ دوئ | بیشکه دَدوی نه | تپوس کیږی
بیائے د دوزخ په لار روان کړئ او لږے اودروئ (ایسارے کړئ) دَدوی نه تپوس کیږی

مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿٢٥﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿٢٦﴾

څه اوشوپه تاسو | چه دیوبل مدد نه کوئ | بلکه | دوی به | تن ورځ | تابعدار وی
(چه دا)په تاسو څه (چل) اوشو چه دیوبل مدد نه کوئ؟ بلکه تن خو دوی سرونه ټیټ ولاړدی (فرمانبردار دی)

وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ قَالُوْٓا اِنَّكُمْ

اورامخامخ به شی | بعضے د دوی نه | په بعضو باندے | دیوبل نه به تپوس کوی | وائی به | چه بیشکه
او یوبل ته به راامخامخ شی (اویوبل نه به) تپوسونه شروع کړی (کشران به مشرانو ته) اووائی چه تاسو به

كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿٢٨﴾ قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا

تاسو وئ | چه راتلۍ مونږ ته | د ښی طرف نه | اوبه وائی | (نه) بلکه | نه وئ تاسو (پخپله)
مونږ ته د ښی پوے نه راتلۍ اود صحیح دین نه مو منع کړی وو (مشران به ورته) اووائی چه نه بلکه تاسو خو پخپله

مُؤْمِنِيْنَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ بَلْ كُنْتُمْ

ایمان راوړونکی | او نه وو | زمونږ | په تاسو باندے | څه زور | بلکه | اوئ تاسو (پخپله)
ایمان نه راوړو او زمونږ خو په تاسو هیڅ زور نه وو اصل خبره دا ده چه تاسو پخپله

قَوْمًا طٰغِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۖ اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿٣١﴾

یو قوم | سرکشی کوونکی | پس ثابته شوے ده | په مونږ | وینا | درب زمونږ ه | بیشکه مونږ | خامخا څکونکی یو (د عذاب)
سرکشان وئ اوس خو زمونږ په باره کښے د خپل رب خبره (فیصله) ثابته شوے ده اوس خو به مونږ ضرور د عذاب خوند څکوو

فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿٣٢﴾ فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى الْعَذَابِ

پس گمراه کړی وئ مونږ تاسو | (څکه چه) مونږ | وو پخپله | گمراهان | پس بیشکه دوی به | په دغه ورځ | په عذاب کښے
مونږ تاسو گمراه کړی وئ د دے وجے نه چه مونږ پخپله هم گمراه وو پس په دغه ورځ به دوی ټول په عذاب کښے

مُشْتَرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿٣٤﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْٓا

شریك وی | بیشکه مونږ | دغه شان | کار کوو | د مجرمانو سره | بیشکه دوی | وو
دیوبل سره شریك وی۔ یقیناً مونږ مجرمانو سره هم دغه شان (کار) کوو۔ د دوی حال داوو

اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۙ يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٣٥﴾

کله به چه | اووئیلے شو | دوی ته | چه نشته حے | لائق د عبادت | غیر | د الله نه | نو دوی به څان لوے کښ لو
چه کله به ورته اووئیلے شو چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوك معبود نشته نو دوی به لوئی (تکبر) کولو

وَيَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَتَارِكُوْٓا اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿٣٦﴾ بَلْ

او (دوی به) وئیل | آیا مونږ | پریښودونکی یُو | خپلو خدایانو لره | دوے دیوشاعر | لیونی نه | بلکه
اووئیل به ئے چه آیا مونږ دیو لیونی شاعر په وینا خپل معبودان پریږدو؟ (حالانکه پیغمبر نه لیونے وو او نه شاعر)

جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا

هغه راوړے دے | حق | اوتصدیق ئے کړے دے | د پیغمبرانو | بیشکه تاسو | خامخا څکونکی یئ
بلکه هغه خو دوی ته یو حق (رشتینے) دین راوړے دے او دنور و پیغمبرانو تصدیق ئے کړے دے۔

الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ۝ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝

د عذاب | ډیر دردناک | او بدله به نشی درکولے تاسو ته | مګر | دهغه څه | چه تاسو به همیشه کول
یقیناً تاسو (ټول) به ضرور دردناک عذاب مزه (خوند) څکئ او هم دهغه څه بدله به درته ملاویږی چه تاسو به همیشه کول

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ۝

مګر | بندګان | د الله | خالص کړے شوی | هم دغه کسان دی | ددوی دپاره | رزق دے | معلوم
البته کوم چه د الله خالص کړے شوی (مخلص) بندګان دی دهغوی دپاره معلوم رزق دے

فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ۝ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝ عَلٰى سُرُرٍ

میوے دی | او دوی به | عزتمند کړے شی | په | جنتونو | دنعمتونو کښے | په تختو باندے (به ناستو ی)
چه هغه (قسما قسم) میوے دی او دنعمتونو نه ډک جنتونو (باغونو) کښے به ښه په عزت سره وی په اوچتو تختونو

مُّتَقٰبِلِيْنَ ۝ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ۝ بَيْضَآءَ

یو بل ته مخامخ | ګرځولے به شی | په دوی باندے | ډک جامونه | د جاری شرابو نه | سپین (به وی)
به یو بل ته مخامخ ناست وی او دبهیدونکو شرابو ډک ډک جامونو به پرے ګرځولے شی چه تک سپین به وی

لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۝ لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ۝

خوند ور کونکی | څکونکو ته | نه به وی په هغے کښے | دسر درد | او نه به دوی | دهغے نه | نشه کیږی
څکونکو ته به ډیر خوند ور کوونکی وی (چه) نه به پرے سر ګرځوی او نه به ئے په عقل کښے فتور راولی

وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ۝ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ

اووی به ددوی سره | (ښځے) بند ساتونکی | نظر لره | غټو سترګو والا | لکه چه دی هغوی | اګنے
او ددوی سره به دغټو سترګو والا حورے وی چه (دحیا دوجے به) خپل نظر ونه ښکته ساتی (دا ے به ښکاری)

مَّكْنُوْنٌ ۝ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ۝

پټے ساتلے شوی | نو را مخامخ به شی | بعضے د دوی نه | په بعضو باندے | دیو بل نه به تپوس کوی
لکه دا پټے (محفوظ) ساتلے شوی اګنے دی بیا به یو بل ته مخ راواړوی دیو بل نه به تپوس کوی

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّيْ كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ ۝ يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ

او به وائی | یو ویونکے | د دوی نه | (چه) بیشکه | وو | زما | یو ملګرے | وئیل به هغه | (چه) آیا ته
یو به پکښے اووائی چه زما یو ملګرے وو (چه ماته به ئے) وئیل چه آیا ته (هم)

لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ۝ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا

خامخا د رشتیا ګنړونکو نه ئے | آیا کله چه | مړه شو مونږ | او شو مونږ | خاورے | او هډوکی | (نو) آیا مونږ ته به
په هغه خلقو کښے ئے چه آخرت رشتیا ګنړی؟ آیا چه مونږ کله مړه شو او خاورے او هډوکی شو نو مونږ ته به

لَمَدِيْنُوْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ﴿٥٤﴾ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ

بدلہ راکولے شی | اوبہ وائی | آیا | تاسو | ورښکارہ کیدونکی یئ | نوور ښکارہ بہ شی دے | نواوبہ ویئی هغہ لرہ

دخپل عملونو بدلہ ملاویږی؟ ییا بہ (داجنتی) (نوروتہ) اووائی آیا تاسو ئے لیدل غواړئ؟ ییا بہ ئے هغہ (پخپلہ) اوګوری

فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ﴿٥٦﴾

پہ مینځ | د دوزخ کښے | اوبہ وائی دے | قسم پہ اللہ | بیشکہ | نزدے وے تہ | چہ زہ ئے هلاک کړے وے

نو دجهنم پہ مینځ کښے بہ ئے اووئی چہ قسم پہ اللہ! تاخو بس زہ هم هلاک کړے وے وم

وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَمَا نَحْنُ

اوکہ نہ وے | نعمت | د رب زما | نوخامخا وے بہ زہ | د حاضر کړے شوے نہ | آیا نو نہ یُو مونږ

کہ چرے زما د رب مهربانی (احسان) نہ وے نو زہ بہ هم (ستاغوندے) پہ عذاب کښے حاضر کړے شوے وم۔

بِمَيِّتِيْنَ ﴿٥٨﴾ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٥٩﴾ اِنَّ

مړہ کیدونکی | مګر | مرګ زمونږ | ورومبنے | او نہ یُو مونږ | عذابیدونکی | بیشکہ

آیا نو اوس بہ پہ مونږ مرګ نہ راځی سوا دهغہ ورومبی مرګ نہ اونہ بہ راتہ عذاب ملاویږی؟ یقیناً

هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴿٦١﴾

دا | خامخا ده | کامیابی | ډیره لویه | دپاره د دغسے (کامیابی) | پس عمل دِاو کړی | عمل کوونکی

هم داډیره لویه کامیابی ده دے پشان کامیابۍ دپاره عمل کوونکو لره عمل کول پکار دی

اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ﴿٦٢﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً

آیا دا | ډیره ښه | میلمستیاده | که اونه | د زقوم | بیشکه مونږ | جوړه کړے دهغه | ازمیښت

آیا دا میلمستیا ښه ده کهٔ د زقوم اونه؟ مونږ دغه اونه د ظالمانو دپاره

لِّلظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٣﴾ اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ﴿٦٤﴾

د ظالمانو دپاره | بیشکہ هغه | یَوه اونه ده | چہ راوځی بہ | پہ ویخ | د دوزخ کښ

یو ازمیښت جوړ کړے دے دا یوه دا سے اونه ده چه د جهنم پہ ویخ کښے راتو کیږی۔

طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ ﴿٦٥﴾ فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا

څانګے دهغے | (ډلے دی) لکه | سرونه دی | د مارانو (شیطانانو) | بیشکه دوی به | خامخا خورونکی وی | د هغے نه

دهغے څانګے دا سے دی لکه د شیطانانو (مارانو) سرونه۔ پس دوی (دوزخیان) به هم د هغے نه خوراک کوی

فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا

پس ډکونکی به وی | د هغے نه | خیتے | بیا | بیشکه وی به | د دوی دپاره | د هغے دپاسه | ګډون

او هم د هغے نه به خپلے خیتے ډکوی بیا به ورته د هغے دپاسه ختکیدلے خرپوڑے

مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ﴿٦٨﴾ اِنَّهُمْ

د ختکیدلو اوبو نہ | بیا | بیشکه | د دوی واپسی کیدل دی | دوزخ تہ | بیشکه دوی

اوبه ورکولے شی بیا به دوی هم دے جهنم ته واپس کیږی۔ یقیناً دوی

اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ ﴿۶۹﴾ فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ﴿۷۰﴾

موندلی وو | پلاران خپل | گمراهان | نو دوی | دهغوی دقدمونوپه نخښو باندے | زغلولی شو

خپل پلار نیکه گمراهان (موندلی) وو نو دوی (هم) د هغوی په نقش قدم په منډه روان وو۔

وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۷۱﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

او یقیناً | گمراه شوی دی | مخکښ دوی نه | ډیر | د پخوانو نه | او یقیناً | مونږ لیږلی وو

او دوی نه وړاندے هم اکثر پخوانی خلق گمراه شوی وو او یقیناً مونږ دوی ته پیروؤنکی

فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۷۳﴾

په دوی کښے | پیره ورکوؤنکی | پس اوگوره | (چه) څنګه | شو | انجام | د پیروؤلے شوو (خلقو)

(پیغمبران) لیږلی وو (پس) ته اوگوره چه د پیروؤلے شوو۔ خلقو انجام څنګه شو

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ ع

سوا | د بندګانو | د الله نه | چه خالص کړے شوی وو | او یقیناً | آواز کړے وو مونږ ته | نوحؑ | پس ډیر ښه

البته د الله د مخلصو بندګانو انجام ډیر ښه وو او یقیناً نوحؑ مونږ ته آواز کړے وو نو (اوگوره) مونږ

الْمُجِيْبُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۶﴾

جواب ورکونکی وو | او بچ کړو مونږ هغه | او کورنۍ د هغهٔ | د مصیبت | ډیر لوے نه

څومره ښه جواب ورکونکی وو او مونږ هغه او د هغه کور والا د ډیر لوے مصیبت نه بچ کړل

وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ﴿۷۷﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿۷۸﴾

او اوګرځول مونږ | بچی د هغهٔ | یوازے پاتے کیدونکی | او مونږ پریښودلو | په هغه باندے (شاء) | په وروستنو کښے

او هم د هغه نسل موباقی پاتے کړو او په وروستنو خلقو کښے مو د هغه ښه تذکره پریښودله

سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۹﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى

سلام دے | په نوحؑ | په مخلوقاتو کښے | بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو

چه په ټول مخلوق کښے دے په نوحؑ باندے سلام وی مونږ نیک عمل خلقو ته هم دا سے بدله ورکوو

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۰﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۱﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

نیکی کوؤنکو ته | بیشکه هغه وو | د بندګانو زمونږ | مومنانو نه | بیا | غرق کړل مونږ

یقیناً هغه زمونږ په (کامل) مومنانو بندګانو کښے شامل وو۔ بیا مونږ هغه نور خلق ډوب (غرق) کړل

الْاٰخَرِيْنَ ﴿۸۲﴾ وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ ﴿۸۳﴾ اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ

نور خلق | او بیشکه | د هغه ډلے نه | خامخا ابراهیمؑ (هم) وو | کله چه | هغه راغے | رب خپل ته

او هم د هغه په طریقه تلونکی خلقو کښے ابراهیمؑ وو۔ (کله) چه هغه خپل رب ته

بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿۸۴﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَاذَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۸۵﴾

په زړه | روغ سره | کله چه | هغه اووئیل | پلار خپل | او قوم خپل ته | (چه) دغه څیز | عبادت کوئ تاسو؟

په صفا زړه راغے کله چه هغه خپل پلار او خپل قوم ته اووئیل چه تاسو دغه څیزونو عبادت کوئ؟

اَئِفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ تُرِيْدُوْنَ ﴿۸۶﴾ فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ

آیا د دروغو | خدایان | سوا د الله نه | تاسو غواړئ | نو څه دے گمان ستاسو | په رب

آیا تاسو د الله تعالیٰ نه بغیر د دروغو (جوړ کړے شوی) خدایان غواړئ؟ نو د رب العالمین په باره کښے

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُوْمِ ﴿۸۸﴾ فَقَالَ اِنِّيْ سَقِيْمٌ ﴿۸۹﴾

د مخلوقاتو باندے؟ | بیا هغهٔ او کتل | یو نظر | په ستورو کښے | نو وے ئ ویل | بیشکه زه (خو) | ناجوړه یم

ستاسو څه خیال دے؟ بیا (څه وخت پس) هغه ستورو ته په غور او کتل او وے ئ ویل چه زما طبیعیت خراب دے

فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِيْنَ ﴿۹۰﴾ فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ

پس هغوی لاړل | د دهٔ نه | شا گرځونکی | پس پټ راغے | خدایانو د هغوی ته | پس وے ئ ویل

نو (پس) هغوی ترینه لاړل روان شول بیا ابراهیمؑ د هغوی خدایانو پسے ورغے او ورته ے ئ اووئیل آیا تاسو

اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۹۱﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ﴿۹۲﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ

(چه) آیا تاسو نه خورئ؟ | څه شوی دی په تاسو | چه خبرے نه کوئ؟ | پس شروع ے ئ او کړه | په هغوی باندے

خوراک (ځکاک) نه کوئ؟ د اځه د رباندے شوی دی چه خبرے هم نه کوئ؟ بیا ے ئ په ښی لاس (ښه په قوت سره)

ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ﴿۹۳﴾ فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ ﴿۹۴﴾ قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ

په وهلو سره | په ښی لاس باندے | پس را مخامخ راغل هغوی | دهٔ ته | منډے ئ وهلے | او وئیل هغه | آیا تاسو عبادت کوئ

(بتان) ما تول شروع کړل (نو) هغوی ورپسے په منډه منډه راغل ابراهیمؑ ورته او وئیل آیا تاسو د هغه (بتانو) عبادت کوئ

مَا تَنْحِتُوْنَ ﴿۹۵﴾ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوا ابْنُوْا

د هغه څه | چه تاسو ئے ټوخپله تراشئ | او الله | پیدا کړی یئ تاسو | او هغه څه (هم) | چه تاسو ئے کوئ | او وئیل هغوی | جوړ کړئ

چه په خپلو لاسونو ئے تراشئ؟ حالانکه تاسو او څه چه تاسو جوړوئ هغه ټول صرف الله پیدا کړی دی هغوی او وئیل

لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ﴿۹۷﴾ فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا

دده دپاره | یو آبادی | بیا اوغورځوئ دے | په اور کښے | پس ارادہ او کړه هغوی | د دهٔ په خلاف | د تدبیر جوړولو

چه د دهٔ (ابراهیمؑ) دپاره یو عمارت جوړ کړئ بیا دے په سور انگار کښے اوغورځوئ غرض دا چه (دغه شان) هغوی د ابراهیمؑ

فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَقَالَ اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ

نو او کړو څو مونږ هغوی لره | ذلیلان | او او وئیل هغه | بیشکه زه | تلونکے یم | د خپل رب طرف ته

خلاف سازش او کړو خو مونږ هغوی ذلیله کړل او ابراهیمؑ او وئیل چه زه د خپل رب طرف ته څم

سَيَهْدِيْنِ ﴿۹۹﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ فَبَشَّرْنٰهُ

هدایت به راکړی ما ته | اے زما ربه | راکړه | ما ته | (یو څوے) د نیکانو نه | نو مونږ زیرے ورکړو هغه ته

او هم هغه به ما ته سمه لار اوښائی اے زما ربه ما ته یو داسے اولاد راکړه چه په نیکانو کښے شامل وی

بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يٰبُنَيَّ

د یو هلک | د یر صبر ناک | پس هر کله | چه هغه او رسیدو | د دهٔ سره | کار کولو ته | او وئیل د دهٔ | (چه) اے زما بچیه

نو مونږ ورله د یو صبر ناک هلک زیرے ورکړو بیا چه کله هغه هلک د ابراهیمؑ سره د گرځیدو قابل شو نو ابراهیمؑ ورته او وئیل

اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ؕ

بیشکه زه | وینم | په خوب کښے | چه زه | ذبح کومرتا | نو ته اوګوره | چه ستا څه رائے دے؟

چه اے ځویه! زه خوب کښے وینم چه تا ذبحه کومر نو ته هم غور اوکړه چه ستا څه رائے دے؟

قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۫ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ

اووئیل هغه | اے زما پلاره | ته اوکړه | هغه څه | چه تاته ځکم کیږی | زړه چه به اومومے | که چرے | اوغواړی | الله

هغه ورته اووئیل! اے پلاره! تاته چه دځه حکم شوے دے هم هغه اوکړه انشاء الله ته به ما صبر کوونکے

مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ۝ فَلَمَّآ اَسْلَمَا وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ۝ وَنَادَيْنٰهُ

د صبر کوونکو نه | پس هرکله | چه دواړو غاړه کیخودله | اوهغه ځملولو | په یوایښ خسر باندے | اوآواز ورکړو مونږ هغه

بیا مومے. بیا کله چه دواړو دالله حکم ته غاړه کیخودله اوځوئے ئے دمخ په طرف څملولو اومونږ ورته آواز اوکړو

اَنْ يّٰٓاِبْرٰهِيْمُ ۝ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي

چه اے ابراهیمؑ | یقینا | تا رشتیا کړو | خوب (خپل) | بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو

چه اے ابراهیمؑ! تا خپل خوب یقینا رشتیا کړو یقینا مونږ نیکی کوونکو ته هم دغه شان بدله

الْمُحْسِنِيْنَ ۝ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ۝ وَفَدَيْنٰهُ

نیکانو ته | بیشکه | دا | خامخاوو | ازمیښت | ښکاره | اومونږ بدل کښے ورکړه هغه

(صله) ورکوو حقیقت کښے دا یو ښکاره امتحان وو او مونږ هغهٔ ته په فدیه کښے

بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ۝ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ۝ سَلٰمٌ

یوه حلاله | ډیره لویه | اومونږ پریښودله | په هغه باندے | په ورستنو کښے (ښه ثناء) | سلام دے

یوه لویه قربانی ورکړه او په ورستنو خلقو کښے مو دهغه (ابراهیمؑ) ښه تذکره پاتے کړه (چه)

عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ۝ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

په ابراهیمؑ باندے | دغه شان | مونږ بدله ورکوو | نیکانو ته | بیشکه هغه وو | د بندګانو زمونږ

په ابراهیمؑ دے سلام وی. مونږ نیکانو ته هم دغه شان بدله ورکوو. یقینا هغه زمونږ په مومنانو

الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝

مومنانو نه | اومونږ زیرے ورکړو هغه ته | په اسحاقؑ سره | چه نبی (به وی) | د نیکانو خلقو نه

بندګانو کښے (شامل) وو او مونږ ورته د اسحاق نبی زیرے هم ورکړو (چه هغه به هم) د نیکانو نه وی.

وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ؕ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ

اومونږ برکت واچولو | په هغه باندے | اوپه اسحاقؑ باندے | او د دوی دواړو د اولاد نه | څه نیک دی

او مونږ په هغه او په اسحاقؑ باندے برکتونه نازل کړی وو او دهغوی په اولاد کښے نیک عمله هم شته

وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ۝ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى

اوڅه ظلم کوونکی دی | په خپل ځان | ښکاره | او یقینا | مونږ احسان کړے وو | په موسیٰؑ

اوپه خپل ځان باندے ښکاره ظلم کوونکی (ګناهګار) هم شته. او یقینا مونږ په موسیٰؑ

وَهٰرُوْنَ ﴿١١٤﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿١١٥﴾

اوهارونؑ باندے | اوخلاص کړی وومونږدوی دواړه | او قوم دَدوی لره | د مصیبت | لوئے نه

اوهارونؑ باندے هم احسان کړے وو او دوی او ددوی قوم ته مو دیولوے مصیبت نه نجات ورکړے وو

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿١١٦﴾ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ

اومونږمدد کړے وودوی | نو شول | هم دوی | غالب | اوورکړے وومونږدواړوته | کتاب

او ددوی سره مومدد کړے وو چه دهغے په نتیجه کښ هم دوی غالب شول او مونږ دواړو ته یو

الْمُسْتَبِيْنَ ﴿١١٧﴾ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا

واضحه | اوښودلے وه مونږدواړوته | لاره | نیغه | اوپریښودلے وه مونږ

واضح کتاب ورکړے وو او دواړه مو په نیغه لاره روان کړی وو او په وروستنو خلقو کښے مو

عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿١١٩﴾ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿١٢٠﴾

په دوی دواړو باندے | په وروستنو کښے (ښه ثناء) | سلام دے | په موسیٰؑ | او هارونؑ

ددوی ښه تذکره پاتے کړے وه (چه) په موسیٰؑ او هارونؑ دے سلام وی

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٢١﴾ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا

بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو | نیکانو ته | بیشکه دوی دواړه وو | زمونږ د بندګانو

یقیناً مونږ نیکانو ته هم دغه شان بدله (صله) ورکوو یقیناً دوی دواړه زمونږ په مومنانو

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ قَالَ

مومنانو نه | او بیشکه | الیاسؑ وو | خامخا د پیغمبرانو نه | کله چه | اووئیل هغه

بندګانو کښے شامل وو۔ او یقیناً الیاسؑ هم په پیغمبرانو کښے شامل وو کله چه هغه

لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ

قوم خپل ته | آیا تاسو نهٔ یریږئ؟ | آیا تاسو رابلئ | بَعل | او پریږدئ | خائسته

خپل قوم ته اووئیل چه آیا تاسو دشرک دبد انجام نه نهٔ یریږئ آیا تاسو بعل بُت رابلئ او دتولو نه بهتر

الْخَالِقِيْنَ ﴿١٢٥﴾ اَللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٢٦﴾

دَشکل جوړوؤنکونه | الله | چه رب دے ستاسو (هم) | اورب دے | د پلار نیکه ستاسو | پخوانو

پیدا کوؤنکے ذات پریږدئ یعنی هغه الله چه ستاسو هم رب دے او ستاسو د پخوانو پلار نیکه (مشرانو) هم پالنهار دے؟

فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿١٢٧﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

پس هغوی دروغژن اوګڼلو هغه | نو بیشکه دوی به | خامخا حاضر کړے شی (عذاب ته) | سوا | د بندګانو | د الله نه

نو هغوی دروغژن اوګڼلو نو ځکه به هغوی دوزخ ته حاضر کړے شی البته د الله تعالیٰ خاص بندګان

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٢٩﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ﴿١٣٠﴾

خالص کړے شوی | اومونږ پریښودله | په هغه باندے | په وروستنو کښے (ښه ثناء) | سلام دے | په الیاسینؑ باندے

(به محفوظ وی) او په وروستنو خلقو کښے مونږ دهغه ښه تذکره پریښودله (چه) په الیاسؑ دے سلام وی۔

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو | نیکانو ته | بیشکه هغه وو | زمونږ د بندګانو | مومنانو نه

یقیناً مونږ نیکانو ته هم دغه شان بدله ورکوو یقیناً هغه زمونږ په مومنانو بندګانو کښے شامل وو۔

وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ نَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ ۝

اوبیشکه | لوط وو | خامخا د پیغمبرانو نه | کله چه | نجات ورکړو مونږ هغه ته | او کورنۍ دهغهٔ | ټولو ته

اویقیناً لوط هم په پیغمبرانو کښے (شامل) وو کله چه مونږ هغه ته او دهغه ټول کورواله ته (د عذاب نه) نجات ورکړو

اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ۝ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ۝ وَاِنَّكُمْ

سوا | د یوے بوډۍ نه چه ورو ستو پاتے کیدونکو کښے وه | بیا | مونږ تباه کړل | نور خلق | اوبیشکه تاسو

سوا د یوے بوډۍ نه چه ورو ستو پاتے کیدونکو خلقو کښے شامله وه بیا مونږ هغه نور (ورو ستنی) تباه کړل

لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ۝ وَبِالَّيْلِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ ع

خامخا تیریږئ | په هغوی باندے | د صبا په وخت کښے | او د شپے | آیا نو تاسو عقل نه لرئ؟

او (اے مکے والو!) تاسو د هغوی په کلو (علاقو) تیریږئ د سحر هم او د شپے هم آیا نو بیا هم تاسو عقل نه کارنه اخلئ؟

وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِذْ اَبَقَ اِلَى الْفُلْكِ

اوبیشکه | یونس وو | خامخا د پیغمبرانو نه | کله چه | اوتختید لوهغه | کشتۍ

او یقیناً یونس (هم) په پیغمبرانو کښے (شامل) وو کله چه هغه اوتختید لو (او) یوے

الْمَشْحُوْنِ ۝ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ۝ فَالْتَقَمَهُ

ډکے (شوے) ته | پس خسنږے ځواچولو | نو شو هغه | د پرشوو (مغلوبو) نه | پس تیر کړو هغه لره

ډکے کشتۍ ته اورسید و بیا په قرعه اندازۍ کښے شریك شو اوپه قرعه کښے مغلوب شو. بیا مهی (لوړ)

الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ۝ فَلَوْلَاۤ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ۝

مهی | او هغه وو | ملامته کونکے ځان لره | پس که چرے نه وے | هغه | د تسبیح ویونکو نه

تیر کړو اوځان ځے ملامته کولو نو که چرے هغه دالله تسبیح ویونکے نه وے نو د مهی په خیټه کښے به

لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖۤ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝ فَنَبَذْنٰهُ

نو خامخا پاتے شوے به وو | په خیټه د هغه کښے | (د هغے) ور ځے پورے | چه خوی به بیا راپاڅولے شی | پس اوغورزولو مونږ هغه

تر هغه وخته پورے پروت وے په کومه ورځ چه خلق به راژوندی کولے شی بیا مونږ په دا سے حالت کښے

بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ۝ وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ۝

په یو میدان کښے | او هغه | بیمار وو | او مونږ پرازرغون کړه | په هغه باندے | یوه اونه | د کدو (زیلو والا)

یو هوار میدان کښے واچولو چه دیر کمزورے (بیمار) وو او د پاسه موپرے د کدو (ذیلو والا) اونه راازرغون کړه

وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ اَوْ يَزِيْدُوْنَ ۝ فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ

او مونږ یولیږلو هغه | سل زره (یولك) خلقو ته | یا دے نه هم زیات | پس ایمان راوړو | نو فائده ورکړه مونږ هغوی ته

او مونږ هغه یولاك بلکه دے نه هم زیاتو خلقو ته لیږلے وو. بیا هغوی ایمان راوړو نو څکه مو ورله څه وخته پورے

اِلٰى حِيْنٍ ۝ فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنٰتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ۝

څه وخته پورے | پس تہ تپوس اوکړه ددوی نه | (چه) آیا ستا دپاره | لونړه دی | اوددوی دپاره | ځامن دی؟

دفائدو اغستلو موقع ورکړه اوس ددے مشرکانو نه) تپوس وکړه چه آیا ستادپاره لونړه رسیدلی دی اوددوی ځامن؟

اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ۝ اَلَآ اِنَّهُمْ

یا مونږ پیدا کړی دی | ملائکے | زنانه | او دوی | حاضر وو | خبردار | بیشکه دوی

یا مونږ چه کله فرشتے زنانه پیدا کولے نو دوی هغه وخت موجود وو؟ گورئ (یادساتئ) دوی

مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ۝ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝

د دروغو خپلو نه | خامخا وائی | چه خوځ اولاد ے دے | الله | او بیشکه دوی | خامخا دروغژن دی

دخپلو دروغو خبرو په وجه وائی چه د الله څوئ (اولاد) دے حالانکه یقینا دوی دروغژن دی.

اَصْطَفَى الْبَنٰتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ۝ مَا لَكُمْ ۫ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۝

آیا غوره کړی دی هغه | لونړه | په څامنو باندے | څه شوی دی په تاسو؟ | څنګه | فیصلے کوئ تاسو؟

آیا الله تعالی دځامنو په څائے لونړه غوره کړی دی؟ دا په تاسو څه شوی دی؟ تاسو دا څنګه فیصله کوئ؟

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝ اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ۝ فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ

آیا نو تاسو نصیحت نه قبلوئ | یا شته ستاسو دپاره | څه دلیل | واضح | پس راوړئ | کتاب خپل لره

آیا تاسو (لږ) دسوچ نه کار نه اخلئ؟ یا تاسو سره څه واضحه (ښکاره) دلیل شته. که تاسو رشتینی یئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ

که چرے یئ تاسو | رشتینی | اودوی جوړه کړے ده | په منیځ دهغه (الله) | او په مینځ | دپیریانو کنبے

نو خپل کتاب پیش کړئ او دوی دالله او دپیریانو په مینځ کنبے (هم) رشته (داری) جوړه کړے ده

نَسَبًا ۭ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ۝ سُبْحٰنَ

یوه رشته | او یقینا | پوهه دی | پیریان | (چه) بیشکه دوی به | خامخا حاضر کړے شی (عذاب ته) | (پاکی وایه) پاکی

حالانکه پیریانو ته پته ده چه هغوی به عذاب ته ضرور حاضر وے شی دوی چه څه بیانوی

اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝ فَاِنَّكُمْ

دالله | دهغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی | سوا | دبندګانو | دالله | خالص کړے شوو نه | پس بیشکه تاسو

الله تعالی دهغے نه پاک دے البته د الله تعالی خالص بندګان (په محفوظ وی). پس تاسو

وَمَا تَعْبُدُوْنَ ۝ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ ۝ اِلَّا مَنْ

اوهغه څه | چه تاسو (ئے) عبادت کوئ | نه یئ تاسو | دهغه نه | هیڅ چالره اړونکی | سوا | دهغه چانه

او تاسو چه دچا عبادت کوئ (ستاسو معبودان) دالله تعالی په باره کښے هیڅ څوک گمراه کولے نشئ سوا دهغه چانه

هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ ۝ وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ۝

چه هغه | ورننوتونکے وی | گرم دوزخ ته | اونشته دے زمونږ نه هیڅوک | مګر | دهغه (دپاره) | ځائے دے | معلوم

چه دوزخ ته داخلیدونکے وی او (فرشتے خو دا وائی چه) په مونږ کښے دهریو یو مقرر مقام دے

وَّاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ ۝ وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ۝ وَاِنْ

اوبیشکه | خامخا مونږ | صف جوړونکی یُو | اوبیشکه | خامخا مونږ | تسبیح ویونکی یُو | او بیشکه

اویقیناً مونږ (خو دالله تعالی په اطاعت کښے) په صفونو کښے ولاړ یُو. اویقیناً مونږ دالله تعالی تسبیح ویونکی یُو.

كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ ۝ لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ۝ لَكُنَّا

وو دوی | چه خامخا وئیل به ئے | که چرے | وے زمونږ سره | نصیحت | دوړو مینو خلقو | نو خامخا وے به مونږ

اودے کافرانو به اگرچه داوئیل (چه) که چرے زمونږ سره دپخوانو خلقو غوندے دنصیحت څه کتاب وے نو مونږ به هم

عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝ فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝

بندگان | دالله | خالص کړے شوی | پس دوی کفر اوکړو | په هغے (قرآن) | نو ډیر زر به | پوهه شی

دالله تعالی خالص بندگان وے. لیکن اوس دهغے (قرآن) نه انکار کوی نو بس ډیر زر به ورته خپل انجام معلوم شی

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ۝ اِنَّهُمْ لَهُمُ

او یقیناً | مخکښ مقرر شوے ده | وعده زمونږ | دبندگانو زمونږ سره | چه پیغمبران دی | (چه) بیشکه | دوی سره به

او مونږ دخپلو پیغمبرانو بندگانو سره د پخوا نه دا وعده کړے ده چه یقیناً ددوی به

الْمَنْصُوْرُوْنَ ۝ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ

مدد کولے شی | اوبیشکه | لښکر زمونږ | خامخا هم دوی به | غالب وی | پس مخ واړوه | ددوی نه

مدد کیږی اویقیناً زمونږ لښکر به غالب راځی. نو اے نبی! څه وخته پورے ددوی دخبرو

حَتّٰى حِيْنٍ ۝ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ۝ اَفَبِعَذَابِنَا

ترڅه وخته پورے | او کوره دوی ته | پس ډیر زر به | دوی (هم) اوګوری | آیا نو عذاب زمونږ لره

پرواه مه ساته او دوی ته کوره ډیر زر به دوی هم (خپل انجام دُنیوی) اوګوری آیا نو دوی زمونږ عذاب

يَسْتَعْجِلُوْنَ ۝ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ

دوی زر غواړی؟ | پس کله چه | نازل شی هغه (عذاب) | په میدان د دوی کښے | نو بد به وی | صبا

زر غواړی؟ نو کله چه (عذاب) دَدوی په صحن (میدان) کښے راکوز شی نو ډیر وله شوو خلقو صبا به

الْمُنْذَرِيْنَ ۝ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ۝ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ

ډیر وله شوو خلقو | او مخ واړوه | د دوی نه | ترڅه وخته پورے | او کوره | پس ډیر زر به

ډیر خراب وی او ته څه وخته پورے د دوی پرواه مه کوه او کوره ډیر زر به دوی

يُبْصِرُوْنَ ۝ سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝

دوی (هم) اوګوری | (پاکی وایه) پاکی | درب خپل | (چه) رب | دعزت دے | دهغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی

هم (خپل انجام اُخروی) اوګوری ستا رب چه دعزت مالک دے دهغه ټولو خبرونه پاک دے چه دا مشرکان ئے ورله بیانوی

وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ع

او سلام دے | په پیغمبرانو باندے | او ټول حمدونه دی | (هغه) الله لره | چه رب | د مخلوقاتو دے

او په پیغمبرانو دے سلام وی او ټول تعریفونه د ټولو جهانونو د مالک دپاره دی

آیاتها [۸۸]	سورة صٓ مكّيّة	رکوعاتها [۵]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ۝١ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ

ص | قسم دے په قرآن | چه نصیحت والا دے | بلکه | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | په تکبر
ص، قسم دے دنصیحت نه ډک قرآن باندے (چه ته په حقه ئے) مګر دا کافران په غرور او مخالفت کښے

وَّشِقَاقٍ ۝٢ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا

او ضد کښے دی | ډير | هلاک کړی دی مونږ | مخکښ د دوی نه | د پيړو نه | نوښتے (په) او وهلے هغوی
پرانۍ دی۔ د دوی نه مخکښ مونږ څومره قومونه هلاک کړی د ی نو هغوی په هغه وخت کښے فرياد او کړو

وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۝٣ وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ

او نه وو دغه وخت | د خلاصی | او دوی تعجب کوی | په دے (خبره) | چه راغلے دے دوی ته | يو يروڼکے
خو د خلاصی به وخت پاتے شوے نه وو او دوی د دے خبرے نه تعجب کوی چه دوی ته يو يروڼکے

مِّنْهُمْ ۫ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝٤ اَجَعَلَ

د دوی نه | او وائی | کافران | دا دے | جادوګر | غټ دروغژن | آيا ګرځولے دی دۀ
هم د دوی د جنس نه راغلے دے او کافران وائی چه دا جادوګر ډير دروغژن دے۔ آيا دۀ د دومره

الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ۝٥ وَانْطَلَقَ

ډيرو خدايانو نه | خدائے | يو | بيشکه | دا (خو) | خامخا يو څيز دے | ډير عجيبه | او روان شو
ډيرو معبودانو نه (صرف) يو معبود جوړ کړو دا خو ډيره عجيبه خبره ده۔ او د دوی سرداران

الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا

سرداران | د دوی | چه | ځئ | او کلک شئ | په خپلو خدايانو باندے | بيشکه | دا
(معزز خلق) روان شول (او وئے ويل چه) لاړ شئ او د خپلو معبودانو په عبادت باندے کلک اودريږئ دا توحيد خو

لَشَيْءٌ يُّرَادُ ۝٦ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ

خامخا يو (داسے) څيز دے | چه ارادے ئے شوے دے | مونږ نه ده اوريدلے | دا (خبره) | په دين | او روستنی کښے
دا سے څيز دے چه ستاسو نه دَ دے دَ منلو ارادے کولے شي مونږ خو دا خبرے دَ مَتاخرينو مشرانو نه هيڅ کله نه وے اوريدلے

اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝٧ ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

نه دی دا | مګر | دروغ جوړ کړے شوی | آيا نازل کړے شوے دے | په ده باندے | نصيحت (قرآن)
دا بالکل دځان نه جوړے کړے شوے خبرے دی۔ آيا د نصيحت دا خبره (وحی) په مونږ ټولو کښے صرف په ده

مِنۢ بَيۡنِنَا ؕ بَلۡ هُمۡ فِىۡ شَكٍّ مِّنۡ ذِكۡرِىۡ ۚ بَلۡ لَّمَّا يَذُوۡقُوۡا

په مینځ زمونږ کښے | بلکه | دوی | په شك کښ دی | د نصیحت زمانه | (نه) بلکه | لا نه دے څکلے دوی

نازله شوے ده؟ اصل خبره داده چه دوی زما د نصیحت د کتاب نه په شك کښے دی بلکه دوی لا تر اوسه

عَذَابِ ۞ اَمۡ عِنۡدَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ الۡعَزِيۡزِ الۡوَهَّابِ ۚ ۝

عذاب زما | یا دوی سره دی | خزانے | د رحمت | د رب ستا | چه ډیر غالب | ډیر ور کوونکے دے

زما د عذاب خوند نه دے څکلے یا دوی سره ستا د رب د رحمت خزانے دی چه هغه ډیر غالب او عطا کوونکے دے

اَمۡ لَهُمۡ مُّلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ۖ

یا د هغه د دوی د پاره | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکے | او دهغه څه | چه دے دواړو په مینځ کښے دی

یا د آسمانونو او د زمکے او څه چه دے دواړو په مینځ کښے دی په دے ټولو د دوی حکومت دے

فَلۡيَرۡتَقُوۡا فِى الۡاَسۡبَابِ ۞ جُنۡدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُوۡمٌ ۝

پس او د خیژی دوی | په زسو (آسمان ته) | یولینکر دے لږ غوندے | چه په دغه ځائے به | شکست ور کړے شی

بیا خو دوی له پکار دی چه په اندر پاتے پوښره او خیژی (او وځی بنده کړی) دا هم د مخالفو ډلو یو وړوکے لښکر (غوندے) دے

مِّنَ الۡاَحۡزَابِ ۞ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوۡحٍ وَّعَادٌ

د ډلو نه | دروغژن ګنړلے وو (حق) لره | مخکښ د دوی نه | قوم | د نوح ؑ | او عاد یانو

چه د ډلته په مکه کښ به شکست خورده شی د دوی نه مخکښ د نوح ؑ قوم او عادیانو او د میخونو والا

وَّفِرۡعَوۡنُ ذُو الۡاَوۡتَادِ ۞ وَثَمُوۡدُ وَقَوۡمُ لُوۡطٍ وَّاَصۡحٰبُ الۡاَيۡكَةِ ؕ

او فرعون | میخونو والا | او ثمودیانو | او قوم | د لوط ؑ | او د بنړ والو

فرعون دے ټولو پیغمبرانو لره دروغژن ګنړلی وو او د ثمودیانو او د لوط ؑ قوم او د بنړ اوسیدونکو

اُولٰٓئِكَ الۡاَحۡزَابُ ۞ اِنۡ كُلٌّ اِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ

هم دا دی | (مخالفے) ډلے | نه وو دا ټول | مګر | دروغژن ے ګنړلی وو | پیغمبران | نو ثابت شو (پرے)

هم (پیغمبرانو لره دروغژن ګنړلی وو) او هم دا هغه مخالفے ډلے دی دے ټولو د پیغمبرانو تکذیب او ګرونو (څکه)

عِقَابِ ۞ وَمَا يَنۡظُرُ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا صَيۡحَةً وَّاحِدَةً مَّا لَهَا ع

عذاب زما | او انتظار نه کوی | دا خلق | مګر | (د دا سے) چغے | یوے | چه نشته د هغے لره

زما د عذاب مستحق شول او دا (مکے والا) خلق خو صرف دیوے دا سے درنے چغے انتظار کوی چه په هغے کښے به

مِنۡ فَوَاقٍ ۞ وَقَالُوۡا رَبَّنَا عَجِّلۡ لَّنَا قِطَّنَا قَبۡلَ يَوۡمِ

هیڅ ایسار یدل | او وائی دوی | اے زمونږ ربه | زر را کړه | مونږ ته | برخه زمونږ | مخکښ | د ورځے

هیڅ وقفه نه وی او دوی وائی چه اے زمونږ ربه! مونږ ته زمونږ (د نعمتونو یا د عذاب حصه) د حساب د ورځے نه مخکښ

الۡحِسَابِ ۞ اِصۡبِرۡ عَلٰى مَا يَقُوۡلُوۡنَ وَاذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوٗدَ

د حساب نه | ته صبر کوه | په هغه څه | چه دوی ئے وائی | او یاد کړه | بنده زمونږ | داؤد

په تلوار را کړه (اے نبی!) د دوی په خبرو صبر کوه او زمونږ بنده داؤد ؑ را یاد کړه چه

ذَا الْاَيْدِ ۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ۝ اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ

همت والا (طاقتور) | بیشکه هغه وو | دیر رجوع کوونکے | بیشکه | مونږ تابع کړی وو | غرونه | دهغه سره

دیر طاقتور (باهمت) وو (او بیا هم) الله تعالی ته رجوع کوونکے وو مونږ غرونه دهغه تابع کړی وو

يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ۝ وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ؕ كُلٌّ

چه تسبیح به ئې ویله | په ماښام | او سحر کښې | او مارغان (هم) | چه راغونډ کړے شوی وو | ټول وو

چه سحر او ماښام به ئې دهغه سره د الله پاکی (تسبیح) بیانوله او مارغان هم چه هغه ته به راجمع وو

لَّهٗۤ اَوَّابٌ ۝ وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ

هغه ته | راګرځیدونکی | اومضبوط کړے وو مونږ | حکومت دهغه | اوور کړے وو مونږ هغه ته | حکمت (پوهه) | اوفیصله کوونکے

دا ټول دهغه تابع وو او مونږ دهغه حکومت مضبوط کړے وو او هغه ته موحکمت او د فیصله کن خبرو

الْخِطَابِ ۝ وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ ۘ اِذْ تَسَوَّرُوا

خبرے | او آیا | راغلے دے تاته | خبر | د جګړه کوونکو | کله چه | هغوی راواوړیدل په دیوال

صلاحیت ور کړے وو او آیا تاته دهغه مقدمے والو (جګړه کوونکو) خبر راسیدلے دے کله چه هغوی په دیوال

الْمِحْرَابَ ۝ اِذْ دَخَلُوْا عَلٰى دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ؕ قَالُوْا

د عبادت خانے | کله چه | هغوی داخل شو | په | داؤد | نو هغه ویریدلو | دهغوی نه | اووئیل هغوی

د عبادت خانے راواوړیدلی وو نو کله چه هغوی د داؤد خوا له ورغلل نو هغه ترے اویریدلو (نو) هغوی ورته اووئیل

لَا تَخَفْ ۚ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ

مهٔ یریږه | (مونږ) دوه جګړه کوونکی یُو | (چه) زیاتے کړے دے | یَو زمونږ نه | په بل باندے | نو ته فیصله اوکړه

چه یریږه مهٔ مونږ دوه جګړه کوونکی یُو په مونږ کښے یو په بل باندے زیاتے کړے دے نو ته زمونږ

بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَاۤ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ۝

په مینځ مونږ کښې | په انصاف | اوبے انصافی مه کوه | اورهنمائی اوکړه زمونږ | لارے | برابرے ته

په مینځ کښے د انصاف فیصله اوکړه اوبے انصافی (زیاتے) مه کوه او مونږ ته سمه لار اوښایه

اِنَّ هٰذَاۤ اَخِيْ ۘ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ

بیشکه | دا | زما ورور دے | دده | نهه اوڼوی (یَو کم سل) | ګډے دی | او زما ده | ګډه

دا زما ورور دے دده (سره) یو کم سل ګډے دی او زما (سره) یوه ګډه ده

وَّاحِدَةٌ ۘ فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ۝ قَالَ

یَوه | پس دے وائی | چه ته اوسپارہ ماته هغه | دے غالب شوے دے ماباندے | په خبرو کښے | اووئیل (داؤد)

اوس دا (ماته) وائی چه دا (یوه هم) ماته حواله کړه او دے په خبرو کښے (هم) په ماباندے زور اور دے

لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا

یقیناً | ده ظلم کړے دے په تا | په غوښتلو | د ګډے ستا سره | خپلو ګډو ته | او بیشکه | دیر

داؤدؑ (ورته) اووئیل دے (کس) ستا ګډه د خپلو ګډو سره دیوځای کولو په مطالبه کښے یقیناً په تا ظلم کړے دے

مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِيْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا الَّذِيْنَ

د شریکانو نه | خامخا زیاتے کوی | بعضے دَدوی | په بعضو باندے | سوا | دهغه کسانونه

او (ده هم داسے چه) اکثر شریکان په یوبل باندے زیاتے کوی سوا دهغه چا نه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ؕ وَظَنَّ

چه ایمان راوړے دے | او عملونه ئے کړے دی | نیك | او ډیر لږ دی | هغوی | او خیال او کړو

چه ایمان راوړی او نیك عملونه کوی او هغه هم ډیر لږ دی او داؤدؑ ته خیال راغے

دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا

داؤدؑ | چه بیشکه | ازمیښت او کړو مونږ په ده | پس بخښنه ئے وغوښتله | درب خپل نه | او پریوتلو | رکوع کوونکے

چه (په دے واقعے سره) مونږ دهغه ازمیښت او کړو نو د خپل رب نه ئے معافی او غوښتله او په سجده پریوتلو

وَّاَنَابَ ﴿۲۴﴾ فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ؕ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى

اور اوګرځیدلو (الله ته) | پس بخښنه او کړه مونږ | هغه ته | د غټ خبرے | او بیشکه | (شته) د هغه د پاره | زمونږ سره | خامخا نزدے والے

او (الله ته ئے) رجوع او کړه پس مونږ ورته دا (خبره) معاف کړه او حقیقت دا دے چه دهغه د پاره زمونږ په نزد

وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ

او خائسته | ځائے دورتلو | اے داؤدؑ ! | بیشکه مونږ ته جوړ کړے ئے | خلیفه | په زمکه کښے

ډیر نزدیکت او خائسته ځائے دے۔ اے داؤدؑ ! مونږ ته په زمکه کښے خلیفه جوړ کړے ئے

فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ

نو فیصله کوه | په مینځ | د خلقو کښے | په انصاف | او مهٔ روانیږه | په خواهش پسے | کنی نو هغه به بلارے کړی تا

نو د خلقو په مینځ کښے په انصاف (حقے) فیصلے کوه او خواهشاتو پسے مه ځه کنی نو

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

د لارے | د الله نه | بیشکه | هغه کسان | چه بے لارے کیږی | د الله د لارے نه

د الله د لارے نه به دے واړوی یقین وکړه چه کوم خلق د الله تعالیٰ د لارے نه واوړی (گمراه شی)

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ ع

دهغوی د پاره | عذاب دے | ډیر سخت | په دے وجه | چه هغوی هیره کړے ده | ورځ | د حساب

دهغوی د پاره ډیر سخت عذاب دے ځکه چه هغوی د حساب ورځ هیره کړے ده

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ؕ

او مونږ نه دے پیدا کړے | آسمان | او زمکه | او هغه څه | چه دواړو په مینځ کښے دی | بے کاره

او مونږ آسمان او زمکه او څه چه ددے دواړو ترمینځه دی فضول (بیکاره) نه دی پیدا کړی

ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

دا | خیال (گمان) | دهغه کسانو دے | چه کفر ئے کړے دے | پس هلاکت دے | دهغه خلقو د پاره | چه کفر ئے کړے دے

دا (خو) د کافرانو خیال (گمان) دے بس د کافرانو د پاره د دوزخ د اور په شکل کښے تباهی ده

مِنَ النَّارِ ۝ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د اور نه | آیا مونږ وګرځوؤ | هغه کسان | چه ایمان ځړاوړے دے | اوعملونه ئے کړے دی | نیك

چا چه ایمان راوړے دے او نیك عملونه ئے کړی دی آیا مونږ هغوی

كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ۝

پشان د فساد کوونکو | په زمکه کښے | یا مونږ وګرځوؤ | پرهیزګاران | پشان د بدکارو

دهغه چاسره برابر کړو چه هغوی په زمکه کښے فساد خوروی؟ آیا مونږ متقیان د بدکارو پشان اوګرځوو؟

كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ

(دا) کتاب | را لیږلے دے مونږ دغه کړه | تاته | برکت والا دے | دے د پاره چه هغوی سوچ وکړی | په آیتونو دے کښے

اے نبی ا دا کتاب چه مونږ تاته نازل کړے دے برکت والا دے دے د پاره هغوی را لیږلے دے (چه) هغوی دے په آیتونو کښے

وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝ وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ۭ

او دے د پاره چه نصیحت (تر) ے واخلی | عقل مند خلق | او مونږ ورکړے وو | داؤد ته | سلیمان

سوچ (غور) او کړی او عقل مند خلق تر ے نه نصیحت حاصل کړی او داؤد ته مونږ (د) سلیمان (غوندے خوئے) ورکړو

نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ۝ اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ

ډیر ښه | بنده وو (هغه) | بیشکه هغه وو | رجوع کوونکے (الله ته) | کله چه | پیش کړے شو | په هغه باندے | په مازیګر کښے

هغه ډیر ښه بنده وو الله ته ډیر راګرځیدونکے وو (هغه یو یادګار وخت وو) کله چه هغه ته دمابنام (مازیګر) په وخت

الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ۝ فَقَالَ اِنِّيْٓ اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ

په درے خپو ولاړ | کره (اسونه) | نو اووئیل هغه | بیشکه محبت کوومرزهٔ | محبت | د مال

دښه نسل کره (اصیل) اسونه پیش کړے شو نو هغه اووئیل (چه) ما دے د (دولت) سره محبت د خپل رب د یاد (جهاد) دوجے

عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ۝ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۭ

دوجے د یاد دولو | د رب خپل نه | تر دے | چه پټ شو هغه (اسونه) | په پرده کښے | راواپس کړئ هغه | ماته

اختیار کړے دے تر دے پورے چه هغه اسونه په پرده کښے پټ شول (نو وے وئیل چه) دا زما خواله واپس راولئ

فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ۝ وَلَقَدْ فَتَنَّا

پس شروع شو | چه لاس ئے وهلو | (دهغے) په پنډو باندے | او په څټونو باندے | او یقینا | مونږ ازمینت کړے وو

بیا ئے دهغے په پنډو او څټونو لاس راښکل شروع کړل او مونږ په سلیمان ازمینت کړے وو او پس حملاقات دهغه ئے په یوه څپه کښ وسلو

سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰي كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ۝

په سلیمان | او مونږ غورزولے وو | دهغه په کرسئ باندے | یو (نیمګړے) جسم | بیا | هغه رجوع وکړه (الله ته)

بیا یو نوسر ه پیار ه مطلب حاوی د (مجاهدینو) بغیر د انشاء الله ووئیلو نه) نو دهغه په تخت مړو نیمګړے مولد واچولو بیا هغه (الله ته) رجوع وکړه

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ

اووئیل هغه | اے زما ربه | بخښنه اوکړه | ماته | او را کړه | ماته | (داسے) حکومت | چه نه وی مناسب | هیڅ چا لره

هغه اووئیل چه اے زما ربه ! ماته معافی اوکړه او داسے سلطنت (حکومت) را ته را کړه چه زما نه وروستو

مِّنۢ بَعْدِیْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّیْحَ

زمانه وروستو | بیشکه | هم ته ئے | ډیرور کړۍ ئکے ذات | پس تابع کړه مونږ | هغهٔ لره | هوا

ئے هیڅاته ورنکړے یقیناً هم ته ډیر ور کړه کړۍ ئکے ئے۔ نو مونږ هوا دهغه په قابو کښے راوستله چه چرته به هغه

تَجْرِیْ بِاَمْرِهٖ رُخَآءً حَیْثُ اَصَابَ ﴿۳۶﴾ وَالشَّیٰطِیْنَ كُلَّ

چه روانه به وه | په حکم دهغهٔ | په نرمئ سره | چرته به | چه تلو (هغه) | او پیریان | هر

تلل غوښتل دهغه په حکم به په نرمئ سره چلیدله او سرکش پیریان هم مونږ دهغه په قابو کښے راوستل چه په هغوی کښے

بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾ وَّاٰخَرِیْنَ مُقَرَّنِیْنَ فِی الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾ هٰذَا

آبادی چوړولئکے | او غوطے وهونکے | او نور | تړلے شوی | په زنځیرونو کښے | دا ده

هر قسم عمارت چوړونکی او غوطے وهونکی شامل وو او څه نور پیریان هم وو چه په زنځیرونو کښے تړلی شوی وو (اوورته مو

عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَیْرِ حِسَابٍ ﴿۳۹﴾ وَاِنَّ لَهٗ

ور کړه زمونږ | پس ته احسان کوه | یا بند اوساته (خان سره) | بغیر | د حساب نه | او بیشکه | هغهٔ لره

وئیلی ووچه) دا زمونږ ور کړه ده نو ستا اختیار دے چه په چا احسان کوے یا ئے خان سره بند ساتے په تا هیڅ حساب نشته

عِنْدَنَا لَزُلْفٰی وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾ وَاذْكُرْ عَبْدَنَاۤ اَیُّوْبَ ۘ اِذْ ع

زمونږ سره | خامخا ډیر نزدے والے | او خائسته | ځائے ورتلودے | او یاد کړه | بنده زمونږ | ایوبؑ | کله چه

او حقیقت دا دے چه دهغه زمونږ سره ډیر نزدیکت او ډیر ښه ځائے ورتلودے او زمونږ بنده ایوبؑ یاد کړه

نَادٰی رَبَّهٗۤ اَنِّیْ مَسَّنِیَ الشَّیْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ ﴿۴۱﴾

آواز او کړو هغه | رب خپل ته | چه بیشکه زهٔ | رسولے دے ماته | شیطان | مرض | او تکلیف (عذاب)

کله چه هغه خپل رب ته آواز (فریاد) او کړو چه شیطان زهٔ په رنځ او آزار اخته کړے یم (مونږ ورته اووئیل)

اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ ۚ هٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿۴۲﴾ وَوَهَبْنَا

اووهه (زمکه) | په خپه خپله باندے | دا | ځائے دغسل دے | یخ | او اوبهٔ د څکلو | او ورکړل مونږ

خپله خپه په زمکه اووهه (او کوره) دا ښے اوبه دی دلا مبلو دپاره هم او د څکلو دپاره هم او (دغه رنګ) مونږ

لَهٗۤ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرٰی

هغه ته | بال بچ دهغهٔ | او دهغوی پشان (نور) | دهغوی سره | دوی ته د رحمت خپل نه | او (دپاره) د نصیحت

هغهٔ ته دهغهٔ کورواله هم ورکړل او دهغے سره دهغے هومره نور هم د خپل طرف نه د رحمت په طور او د عقل مندو

لِاُولِی الْاَلْبَابِ ﴿۴۳﴾ وَخُذْ بِیَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ

د عقل مندو | او اونیسه | په لاس خپل کښے | یو موټے وچ (جارو) | بیا اووهه | په هغه باندے (خپله بی بی)

دپاره د نصیحت په طور. او (مونږ ورته داهم اووئیل چه) په لاس کښے یو موټے وچ واخله او (خپله بی بی پرے) اووهه

وَلَا تَحْنَثْ ؕ اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ؕ نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗۤ

او قسم مه ماتوه | بیشکه مونږ | موندلے وو هغهٔ لره | صبر کوونکے | ډیر ښهٔ | بنده وو (هغه) | بیشکه هغه وو

او خپل قسم مه ماتوه حقیقت دا دے چه مونږ هغه ډیر صبر والا موندلے وو هغه ډیر ښه بنده وو یقیناً هغه

أَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ وَاذْكُرْ عِبٰدَنَآ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

دیر رجوع کوونکے (الله ته) | او یاد کړه | بندګان زمونږ | ابراهیمَ | او اسحاقَ | او یعقوبَ

الله ته دیر راګرځیدونکے وو۔ او زمونږ بندګان ابراهیمَ . اسحاقَ او یعقوبَ یاد کړه

أُولِي الْأَيْدِيْ وَالْأَبْصَارِ ﴿۱۸﴾ اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى

طاقت والا | او بصیرت والا | بیشکه | مونږ غوره کړی وو هغوی | په یو غوره والی سره | (چه هغه) یادول

چه دیر طاقتور (همت والا) او صاحب نظر خلق وو مونږ هغوی په یوه خاص خبره (صفت) کښے خاص کړی وو

الدَّارِ ﴿۱۹﴾ وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ﴿۲۰﴾ وَاذْكُرْ

دآخرت کور دی | او بیشکه هغوی دی | زمونږ په نزد | خامخا د صفا کړے شوو | غوره خلقونه | او یاد کړه

چه هغه دآخرت د کور یاد وو. او حقیقت دادے چه دا ټول زمونږ په نزد غوره کړے شوی نیکانو خلقو کښے دی

إِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ﴿۲۱﴾ هٰذَا

اسماعیلَ | او یَسعَ | او ذو الکفلَ | او دا ټول وو | د غوره خلقونه | دا

او اسماعیلَ او الیسعَ او ذوالکفلَ یاد کړه او دا ټول دیر غوره خلق وو۔ دا (یو)

ذِكْرٌ ۗ وَاِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ لَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۲۲﴾ جَنّٰتِ عَدْنٍ

نصیحت دے | او بیشکه | دپرهیزګارانو دپاره | خامخا دے خائسته | ځائے دورتلو | جنتونه | دهمیشه اوسیدلو

نصیحت دے او یقین وکړئ چه دمتقیانو دپاره دیر خائسته ځائے دے (چه هغه) دهمیشه اوسیدو

مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴿۲۳﴾ مُتَّكِـِٔيْنَ فِيْهَا يَدْعُوْنَ فِيْهَا

پرانستلے شوے به وی | هغوی ته | دروازے | تکیه موهونکی به وی | په هغے کښے | (را) غواړی به | هغے کښے

جنتونه دی چه دهغے دروازے به دوی ته (پوره) کهولا وی هلته به دوی تکیه لګولی وی

بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ وَّشَرَابٍ ﴿۲۴﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ

میوے | دیرے | او څکل | وی به دهغوی سره | (حورے) بندونکی | د سترګو

دیرے میوے او شربتونه (شراب) به راغواړی او دوی سره په همزولے حورے وی چه نظر ونه به (دحیاء دوجے)

أَتْرَابٌ ﴿۲۵﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ اِنَّ هٰذَا

همزولے | دا دی | هغه څه | چه تاسو سره ځے وعده کولے شی | دپاره دورځے | د حساب | بیشکه | دا

لاندے ساتی (وئیلے به هم دوی ته) دا هغه نعمتونه دی چه تاسو سره ځے دحساب په ورځ وعده شوے ده یقیناً دا زمونږ

لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ نَّفَادٍ ﴿۲۷﴾ هٰذَا ۗ وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ لَشَرَّ

خامخا زمونږ ورکړه ده | نشته | دده | هیڅ ختمیدل | دا ثابت دی دپاره دمؤمنانو | او بیشکه | دسرکشانو دپاره | خامخا بد

دا سے رزق دے چه هیڅ کله ختمیدونکے نه دے. یو خو خوبه دا وی او (بل) خوا) دسرکشو خلقو دپاره به

مَاٰبٍ ﴿۲۸﴾ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۹﴾ هٰذَا ۙ فَلْيَذُوْقُوْهُ

ځائے ګورتلو دے | جهنم | چه هغوی به دا خلیږی ورته | پس دیر بد | ځائے آرام دے (هغه) | دا جهنم دے | پس اودې څکی دوی دا

دیر خراب ځائے وی یعنی دوزخ چه هغوی به ورته ورداخلیږی پس هغه دیر خراب ځائے دے. دا څکیدلے

حَمِيْمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖۤ اَزْوَاجٌ ﴿۵۸﴾ هٰذَا

(دا) خښکیدلے اوبه | اوونے (زومے) دی | اونور (عذابونه به وی) | پشان ډډے | قسما قسم | دا ډے

(ګرمے) اوبه اوزومے دی نو بس هغوی دے ډډے خوندا وخکی اوډډے په شان به نور قسم قسم عذابونه وی

فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ ؕ اِنَّهُمْ صَالُوا

یَو لښکر | چه نتوتونکی دے | تاسو سره | نه دے وی هیڅ خوشحالی | ددوی دپاره | بیشکه دوی | داخلیدونکی دی

(ملائک به مشرانو ته اووائی) دایو لښکر دے چه تاسو سره دے ننګ ځائ ته داخلیږی نو مشران به جواب کښ اووائی هیڅ کله دِ

النَّارِ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ ۖ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ؕ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ

اور ته | اوبه وائی هغوی | بلکه | تاسو | نه دے وی خوشحالی | ستاسو دپاره | تاسو | وړاندے کړے وو

خوشحاله نشی یقیناً دوی به اورته داخلیږی هغوی به ورته اووائی نا بلکه تاسو دپاره دِ خوشحالی نه وی دا مصیبت خو هم تاسو

لَنَا ۚ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا

مونږ ته | پس ډیر بد ځائ ډے | د استوګنے | اوبه وائی دوی | اے زمونږ ربه | چاچه | وړاندے کړے وو | مونږ ته

مونږ ته رامخکښ کړے دے پس داداوسیدو ډیر خراب ځائ ډے (بیا به) اووائی اے زمونږ ربه چاچه داشرک زمونږ مخے نه

هٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿۶۱﴾ وَقَالُوْا مَا لَنَا

دا | پس زیات کړه هغه ته | عذاب | دوچنده | په اور کښے | اواوبه وائی دوی | چه څه اوشو په مونږ پاندے

راوستلے دے هغے له په اور کښے دوچند عذاب ورکړه او (دوی به یو بل ته) اووائی څه وجه ده

لَا نَرٰى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿۶۲﴾ اَتَّخَذْنٰهُمْ

چه نه وینو مونږ | (هغه) سړی | چه مونږ به ګڼړل هغوی | د خرابو خلقو نه | آیا مونږ نیولی وو هغوی

چه مونږ هغه موحدین خلق نه وینو چه مونږ به په شریرانو خلقو کښے شمارل آیا مونږ په هغوی پورے

سِخْرِيًّا اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ﴿۶۳﴾ اِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ

په ټوقو سره | یا کړے شوی دی | د هغوی نه | سترګے | بیشکه | دا | خامخا حق دی

(په ناحقه) ټوقے کولے یا د هغوی نه زمونږ سترګے اوړیدلے دی؟ یقیناً د دوزخیانو په خپلو کښے

تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ ﴿۶۴﴾ قُلْ اِنَّمَاۤ اَنَا مُنْذِرٌ ۖ وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ ع ۱۳

جګړه کول دی | د دوزخ والو | اووایه | بیشکه | زه | ډیروونکے یم | اونشته مے | هیڅ څوک | لائق د عبادت

د جګړے کولو دا تولے خبرے بالکل حق (رښتیا) دی (اے نبیؐ!) اووایه زه خو بس یو ډیروونکے یم او د هغه الله نه سوا

اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۶۵﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا

سوا | د الله نه | چه یَو دے | ډیر غالب (زور آور) | رب دے | د آسمانونو | او د زمکے | او د هغه څه

بل څوک د عبادت لائق نشته چه یَو دے (او) په ټولو غالب (زور اور) دے د اسمانونو او د زمکے او د دے

بَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيْمٌ ۝

چه دے دواړو په مینځ کښ دی | ډیر غالب | ډیر بخښونکے | اووایه | دا (قیامت) | یو خبر دے | ډیر لوئے

دواړو په مینځ کښے دهر څیز مالك دے ډیر غالب ډیر بخښونکے دے ته (دوی ته) اووایه چه دا یو ډیر لوئے خبر دے

اَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ ۝ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَاِ

تاسو | دهغے نه | مخ اړوونکی یئ | نشته دے | ماته | هیڅ علم | په ډله

دكوم نه چه تاسو مخ اړوئ۔ ماته د عالم بالا (فرشتو باره کښے) هیڅ علم نشته

الْاَعْلٰٓى اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ۝ اِنْ يُّوْحٰٓى اِلَيَّ اِلَّآ اَنَّمَآ اَنَا

اوچته باندے | کله چه | هغوی بحث کولو | نه کیږی وحی | ماته | مګر | دا چه بیشکه | زه یم

کله چه هغوی بحث کولو (په استخلاف د آدم کښ) ماته خو هم دا وحی کیږی چه زه صرف یو ښکاره ډیروونکے

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌ

ډیروونکے | ښکاره | کله چه | اووئیل | رب ستا | ملائکو ته | چه بیشکه زه | پیدا کوونکے یم

یم هغه وخت یاد کړه کله چه ستا رب ملائکو ته اووئیل چه زه د خټے نه یو انسان پیدا کوم

بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ ۝ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ

یو بنیادم لره | د خټے نه | پس کله چه | زه برابر کړم هغه | اوپوکے او کړم | په هغه کښے | د خپل روح نه

نو کله چه زه هغه پوره جوړ کړم او خپل روح پکښے پوک وهم نو

فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ۝ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ۝

نو تاسو پریوزئ | هغه ته | سجده کوونکی | پس سجده او کړه | ملائکو | ټولو | په یو ځای

تاسو ورته سجده اوکړئ بیا ټولو ملائکو سجده اوکړه

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ

سوا | د ابلیس نه | تکبر اوکړو هغه | اوو وهغه | د کافرانو نه | اووئیل (الله) | اے ابلیس!

البته ابلیس اونکړه هغه تکبر اوکړو او هغه د الله په علم کښ دمخکښ نه په کافرانو کښ شامل وو الله ورته اووئیل

مَا مَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ ؕ

څه شی | منع کړے ته | د دے نه | چه سجده اوکړے ته | هغه څه ته | چه پیدا کړے دے ما | په لاسونو خپلو

کوم څیز چه ما په خپلو لاسونو پیدا کړو هغے ته د سجدے کولو نه ته څه څیز منع کړے

اَسْتَكْبَرْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِيْنَ ۝ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ؕ

آیا تکبر اوکړو تا | یا ته ئے | د اوچتو خلقو نه | اووئیل (هغه) | زه | ډیر غوره یم | د هغه نه

آیا تا تکبر اوکړو یا ته په اوچتو خلقو کښے ئے (دلوئے مرتبے والا ئے) ابلیس اووئیل زه د ده نه ډیر غوره یم

خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ۝ قَالَ فَاخْرُجْ

تاپیدا کړے یمزه | د اور نه | اوتاپیدا کړے دے دے | د خټے نه | اووئیل(الله) | پس اُوځه

تازه داور نه پیدا کړے یم او دے دِ د خټے نه پیدا کړے دے الله (ورته)اووئیل څه دلته نه

مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ۝ وَّاِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيْٓ اِلٰى يَوْمِ

ددے نه |پس بیشکه ته ئے | رټلے شوے | او بیشکه | وی به په تا | لعنت زما | تر ورځے

اووځه ځکه چه ته رټلے شوے (مردود) ئے اویقین او کړه چه دقیامت دورځے پورے به په تاباندے زما لعنت وی

الدِّيْنِ ۝ قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝

دجزاء پورے |اووئیل هغه | اے زما ربه ! |پس مهلت را کړه ماته |تر هغے ورځے پورے | چه دوی به بیارا پاځولے شی

هغه اووئیل اے زما ربه (بیا خو) ماته دهغے ورځے پورے مهلت را کړه چه خلق به پکښے دوباره ژوندی کیږی

قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ۝ اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ۝

اووئیل الله |پس بیشکه ئے ته | د مهلت ورکړے شوے نه | تر ورځے | د وخت | معلوم پورے

الله ورته اووئیل څه ته په هغه خلقو کښے شامل شوے چه مهلت ورته ورکړے شوے دے (خو) دیو متعین وخت

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ

اووئیل هغه |پس قسم دے ستا په عزت | خامخا بهزه گمراه کوم دوی | ټول | مګر | بندګان ستا | د دوی نه

پورے هغه اووئیل ستا په عزت مِ د قسم وی چه زه به دا ټول گمراه کوم سوا ستا د هغه بندګانو نه

الْمُخْلَصِيْنَ ۝ قَالَ فَالْحَقُّ ۙ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ۝ لَاَمْلَئَنَّ

چه خالص کړے شوی دی |اووئیل(الله) |پس دا خبره حقه ده | او حق | زه وایم | چه خامخا زه به ډکوم

چه خالص (بچ کړے شوی) وی الله اوفرمائیل ! دا رشتیا خبره ده اوزه (همیشه) رشتینی خبره کوم

جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ قُلْ

جهنم | ستانه | او دهغه چانه |چه روان وی تاپسے | ددوی | ټولو نه | اووایه

چه زه به ستانه اوستا دټولو منونکو نه دوزخ ډکوم۔ (اے نبیؐ ! خلقو ته) اووایه

مَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ۝

زه نه غواړم ستاسونه |په دے باندے | هیڅ اجر | اونه یم زه | د تکلف کوونکو نه

چه زه تاسونه په دے (دعوت) هیڅ اجرت نه غواړم اونه زه تکلف (بناوټ) کوونکے یم

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ۝ ع

نه دے دا(قران) | مګر | نصیحت | د مخلوقاتو دپاره |اوخامخا تاسو به پوهه شئ |ددے په خبر | پس | دځه وخت نه

دا (قرآن) خو دټول جهان دپاره یو نصیحت دے اولږ وخت پس به تاسو ته ددے حال (حقیقت) معلوم شی

آياتها [٧٥]	سورة الزمر مكية	ركوعاتها [٨]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝١ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ

نازلول | د دے کتاب | د طرف نه دالله دی | چه ډير غالب | لوے حکمت والا دے | بيشکه | مونږ اليږلے دے

دا کتاب دهغه الله د طرف نه راليږلے کيږی چه هغه ډير زور آور او لوے حکمت والا ذات دے (اے نبی!) يقين او کړه

اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۝٢

تاته | کتاب | په حقه | پس عبادت کوه | د الله | (چه) خالص کوونکے (ے) | هغهٔ لره | دين

چه مونږ دا کتاب تاته په حقه راليږلے دے نو د الله دا سے عبادت او کړه چه بندگی خالص دهغهٔ وی

اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ؕ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

خبردار | خاص الله پاره دے | دين | خالص | او هغه کسان | چه جوړ کړی ئے دی | سوا د هغه نه

ياد ساتئ (خبردار) چه خالص بندگی هم د الله حق دے او کومو خلقو چه د الله نه سوا

اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ؕ

نور دوستان | (والئ) مونږ عبادت نه کوو دوی | مګر | دے د پاره چه دوی نزدے کړی مونږ | الله ته | په نزدے کولو سره

نور دوستان (معبودان) جوړ کړی دی (وائی چه) مونږ دوی عبادت صرف دے د پاره کوو چه مونږ الله ته نزدے کړی

اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْمَا هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ؕ ۝٣

بيشکه | الله (به) | فيصله کوی | په مينځ دوی کښے | په هغه څه کښے | چه دوی | په هغے کښے | اختلاف کوی

دوی په مينځ کښے به الله تعالیٰ دهغه خبرو فيصله او کړی کومو کښے چه دوی اختلاف کوی

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ۝٤ لَوْ اَرَادَ

بيشکه | الله | لار نه ښائی | هغه چا ته | چه وی هغه | دروغژن | ډير ناشکره | که چرے | غوښتلے

يقين او کړئ چه الله تعالیٰ دا سے کس ته توفيق نه ورکوی چه دروغژن وی (او) په کفر باندے کلک وی که الله تعالیٰ څوک

اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا

الله | چه اُونيسی | څوئ | نوخامخا غوره کړے (به ئے) وو | دهغه چا نه | چه پيدا کوی ئے | هغه څوک

خپل څوئ (اولاد) جوړول غوښتلے نو په خپل مخلوق کښے ئے چه څوک خوښ وو هغه به ئے چونږ کړے وو

يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝٥ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

چه غوښتلے ئے | (نو) ايه پاک دهغه | هم هغه دے | الله | اِک يَو | ډير زور اور | پيدا کړی دی هغه | آسمانونه

(ليکن) هغه خو (دد ے خبرونه) پاک دے هم هغه الله دے اِک يَو (او) ډير زور اور (غالب) (هم) هغه آسمانونه

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ

او زمکه | په حقه | رانغاړی هغه | شپه | په ورځ | او رانغاړی | ورځ

او زمکه په حقه (په تدبیر سره) پیدا کړی دی (هم) هغه شپه په ورځ باندے را نغاړی او ورځ

عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ

په شپه | اوتابع کړی ئے دی | نور | او سپوږمۍ | هریو | روان دے | یو وخت (نیټے)

په شپه باندے را نغاړی او نور سپوږمۍ ئے په کار لګولی دی هریو د معین (مقرر) مودے پورے

مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ

مقرر پورے | خبردار | هم هغه دے | ډیر زور اور | ډیر بخښونکے | هغه پیدا کړی یئ تاسو | د نفس

روان دے خبردار هم هغه ډیر غالب ډیر بخښونکے ذات دے هغه (الله) تاسو دیو نفس

وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَاَنْزَلَ لَكُمْ

یَو نه | بیا ئے | جوړه کړے ده | د هغهٔ نه | بی بی د هغهٔ | او پیدا کړی ئے دی | ستاسو د پاره

(کس) نه پیدا کړی یئ بیا ئے د هغهٔ نه د هغهٔ بی بی (ښځه) جوړه کړه او ستاسو د پاره ئے

مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

د څاروو نه | اته | جوړے | پیدا کوی هغه تاسو | په خیټو | د میندو ستاسو کښے

په څاروو کښے اته جوړے پیدا کړی دی هم هغه تاسو ستاسو د میندو په خیټو کښے

خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

په یو پیدائش | وروسته | د بل پیدائش نه | په تیارو | دریو کښے | هم دا | الله

په مختلف مرحلو کښے په دریو تیارو کښے دننه پیدا کوی هم دا الله

رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝

ستاسو رب دے | هم دهغه | بادشاهی ده | نشته دے | لائق د عبادت | سوا | د هغهٔ نه | پس کومر خوا | اړولے شئ تاسو

ستاسو رب دے ټوله بادشاهی هم د هغه ده د هغه نه سوا هیڅ څوک د عبادت لائق نشته نو بیا تاسو کومر خوا روان یئ؟

اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۚ وَلَا يَرْضٰى

که چرے | کفر کوئ تاسو | نو بیشکه | الله | بے پرواه دے | ستاسو نه | او نه خوښوی هغه

که چرے تاسو کفر اختیار کړئ نو یقین او کړئ چه الله تعالی تاسو نه بے نیازدے او هغه د خپلو بندګانو

لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ ؕ وَلَا تَزِرُ

د خپلو بندګانو د پاره | کفر | او که چرے | تاسو شکر کوئ | نو هغه خوښوی دا | ستاسو د پاره | او نه به او چتوی

د پاره کفر نه خوښوی او که چرے تاسو شکر او کړئ نو هغه ئے درله خوښوی او هیڅ بوج او چتونکے به

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ

یو اوچتونکے | بوج (بار) | د بل چا | بیا | رب خپل ته | واپس کیدل دی ستاسو | پس خبر به درکړی ستاسو ته

د بل چا بوج پورته نه کړی بیا ستاسو د ټولو خپل رب طرف ته واپس تلل دی نو تاسو

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝

دهغه څه | چه تاسو به | کول | بیشکه هغه | ښه پوهه دے | په رازونو | د سینو

چه څه کول دهغے نه به مو خبر کړی یقیناً هغه د زړونو خبرے ښے پیژنی

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ مُنِيْبًا اِلَيْهِ ثُمَّ

اوکله چه | اورسی | انسان ته | څه تکلیف | نو رابلی هغه | رب خپل | رجوع کوونکے | الله ته | بیا

او کله چه انسان ته څه تکلیف اورسی نو خپل رب رابلی او (د زړه نه) هغه ته رجوع کوی (خو) بیا

اِذَا خَوَّلَهٗ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوْٓا اِلَيْهِ

کله چه | ورکړی دهٗ ته | نعمت | د خپل طرف نه | (نو) هیر کړی | هغه څه | چه رابللو ئے (الله) | هغے ته

چه کله ورته الله د خپل طرف نه څه نعمت ورکړی نو هغه (حالت یا تکلیف) هیر کړی چه دهغے د پاره ئے

مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ

مخکښ ددے نه | او ددے جوړ کړی | د الله د پاره | شریکان | چه گمراه کړی (خلق) | د لارے د هغهٗ نه

مخکښے الله رابللو او د الله سره شریکان جوړ کړی نو نتیجه داشی چه خلق د الله د لارے نه وارو ی

قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيْلًا ۣ اِنَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۝

اووایه | فائده واخله | په خپل کفر سره | لږه | بیشکه ته ئے | د | اور والو | نه

ته ورته اووایه په خپل کفر (ناشکرئ) لږے مزے واخله یقین او کړه چه ته په دوزخیانو کښے شامل ئے

اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَاۗءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَاۗىِٕمًا يَّحْذَرُ

آیا هغه څوك | چه وی | تابعداری کوونکے | په وختونو | د شپے کښے | سجده کوونکے | او ولاړ | یَحْذَرُ

آیا (د غه شرلے ښه دے یا) هغه کس چه د شپے په وختونو کښے (الله تعالیٰ) عبادت کوی کله په سجده کښے وی او کله په ولاړه

الْاٰخِرَةَ وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ۭ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ

د آخرت نه | او اُمید ساتی | د رحمت | د رب خپل | اووایه | آیا | برابر دی | هغه کسان

(او) د آخرت نه یَحْذَرُ او د خپل رب د رحمت اُمید ساتی؟ اے نبیؐ! اووایه چه آیا هغه خلق

يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۭ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝ ع

چه پوهیږی | او هغه کسان | چه نه پوهیږی | بیشکه | نصیحت اخلی | عقل مند خلق

چه پوهیږی او هغه خلق چه نه پوهیږی برابر کیدے شی؟ نصیحت خو صرف عقل مند خلق قبلوی

قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۭ لِلَّذِيْنَ

اووایه | اے بندگانو زما! | هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | یَحْذَرُ | د خپل رب نه | د هغه خلقو د پاره

(مومنانو ته زمونږ د طرف نه) اووایه چه اے زما مومنانو بندگانو! د خپل رب نه یَحْذَرُ ۔ چا چه

اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۭ وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ۭ

چه نیکئ کړی دی | په دے | دنیا کښے | ښه بدله ده | او زمکه | د الله | فراخه ده

په دے دنیا کښے نیکی کړے ده ښه بدله هم د هغوی د پاره مقرر ده او د الله تعالیٰ زمکه ډیره فراخه ده

إِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾ قُلْ إِنِّيٓ

بیشکه | پوره به ورکړے شی | صبر کوونکو ته | اجر دهغوی | بغیر | د حساب نه | اووایه | بیشکه

څوك چه د صبر نه کار اخلی هغوی ته به دهغوی اجر بے حسابه (بے شماره) ورکړے شی اووایه چه ما ته (خو)

أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ

ما ته حکم شوے دے | چه زه عبادت اوکړم | د الله | چه خالص کوونکے یم | هغه | دین (عبادت) | او ما ته حکم کړے شوے دے

دا حکم شوے دے چه زه د الله تعالیٰ دا سے عبادت اوکړم چه زما بندگی (دین) خالص دهغه (دپاره) وی او ما ته دا حکم

لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ

چه زه شم | ورومبے | د مسلمانانو نه | اووایه | بیشکه زه | یَریږم | که چرے | نافرمانی اوکړم

(هم) شوے دے چه دټولو نه ورومبے مسلمان (فرمانبردار) زه جوړ شم اووایه چه که چرے زه د خپل رب

رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾ قُلِ اللّٰهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا

د رب خپل | د عذاب | د ورځے | لوئے نه | اووایه | خاص د الله | عبادت کوم زه | خالص کوونکے (یم)

نافرمانی اوکړم نو زه د یوے لوئے (زبردست) ورځے د عذاب نه یَریږم اووایه چه زه د الله تعالیٰ دا سے عبادت کوم

لَّهُ دِينِي ﴿١٤﴾ فَاعْبُدُوا مَا شِئْتُمْ مِّن دُونِهِ ۗ قُلْ

هغه لره | دین (عبادت) خپل | پس تاسو عبادت کوئ | د چا چه | غواړئ تاسو | سوا د هغه نه | اووایه

چه ما خپله بندگی (دین) د هغه دپاره خالص کړے دے اوس ستاسو چه د هغه نه سوا د چا خوښه وی عبادت کوئ

إِنَّ الْخٰسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوٓا أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ

بیشکه | تاوانیان | هغه کسان دی | چه تاوان کښے ځان او د ځانونو خپل | او کور والا خپل | په ورځ

اووایه چه تاوان مونډونکی (خو) هغه خلق دی چه د قیامت په ورځ به خپل ځانونه او خپله کورنئ تاوانی کړی

الْقِيٰمَةِ ۗ أَلَا ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ

د قیامت | خبردار | هم دا دے | تاوان | ښکاره | وی به د دوی د پاره | د پاسه د دوی نه

یاد ساتئ چه هم دا ښکاره تاوان دے ۔ د دا سے خلقو دپاره به دهغوی د برہ نه هم

ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِن تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ۚ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ

سورې | د | اور نه | او د لاندے د دوی نه به | (هم) سورې وی | دا | یَروی | الله

د اور سائبان (شعلے) وی او د لاندے نه به هم دغه شان سائبان (لمبے) وی دا هم هغه څیز دے چه الله

بِهِ عِبَادَهُ ۚ يٰعِبَادِ فَاتَّقُونِ ﴿١٦﴾ وَالَّذِينَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوتَ

په دے سره | بندگان خپل | اے زما بندگانو | نو زما نه اُویریږئ | او هغه کسان | چه ځان ساتی | د غټ سرکش نه

پرے خپل بندگان یَروی نو اے زما بندگانو ! زما نه اُویریږئ او کوم خلق چه د طاغوت

أَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَأَنَابُوْٓا إِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ

چه دوی عبادت او کړی دهغهٔ | اور جوع کوی دوی | الله ته | ددوی دپاره | خوشحالی ده | پس ته زیرے ورکړه

دبندګۍ نه ځان بچ کوی او الله تعالی ته رجوع کوی د خوشحالۍ خبر (زیرے) هم دهغوی دپاره دے

عِبَادِ ۝ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ أَحْسَنَهٗ ؕ

بندګانو زما ته | هغه کسان | چه غوپه اږدی | خبرے ته | بیا روانیږی | خائسته خبرے دهغے پسے

تو (اے نبی!) زما هغه بندګانو ته زیرے ورکړه چه (دالله) خبره (کلام) په غور سره آوری او دهغے دښو خبرو تابعداری کوی

أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَأُولٰٓئِكَ هُمْ أُولُوا الْأَلْبَابِ ۝

هم دا | هغه کسان دی | چه سمه لاره ورته ښودلے ده | الله | او هم دغه کسان | دوی | عقل مند دی

هم دا هغه خلق دی چه الله ورته هدایت کړے دے او هم دا عقل مند خلق دی

أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ؕ أَفَأَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ

آیا نو هغه څوک | چه ثابت شوی وی | په هغه باندے | خبره | د عذاب | آیا نو ته | خلاصوے | هغه څوک

آیا هغه کس چه د عذاب فیصله پرے (پوره) شوے وی نو آیا ته هغه څوک بچ کولے شے

فِي النَّارِ ۝ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ

چه په اور کښے وی | لیکن | هغه کسان | چه ویریږی | د رب خپل نه | دهغوی دپاره | بالاخانے دی

چه اور ته داخل شوے وی؟ البته کوم خلق د خپل رب نه ویریږی دهغوی دپاره

مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ؕ

چه دهغے دپاسه (په) | (نورے) بالاخانے وی | جوړے شوی | بهیږی په | لاندے دهغے نه | نهرونه

لاندے باندے جوړ شوی او چت او چت محلونه (عمارتونه) دی چه دهغے دلاندے نهرونه بهیږی

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ۝ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ

(وعده کړے ده) وعده الله | خلاف نه کوی | الله | د وعدے | آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله

دا دالله تعالی وعده ده الله هیڅ کله د خپلے وعدے خلاف ورزی نه کوی آیا تا دے خبرے ته نه دی کتلی

أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ

راوړی | د آسمان نه | اوبه | بیا چلوی هغے لره | چینے | په زمکه کښے | بیا

چه الله تعالی دبره نه اوبه (باران) راوړولے دے بیا ئے هغه د زمکے په چینو کښے روانے کړی دی بیا هم هغه

يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ

راوباسی | په هغے سره | فصل | چه مختلف دی | رنګونه دهغے | بیا | اوچ شی | نو ته ولے هغه

دهغے په ذریعه مختلف رنګونو والا فصلونه راتوکوی بیا هغه اوچ شی نو ته ئے

مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُ حُطَامًا ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى

زیږ | ببیا | اوګرځوی (الله) هغے لره | چوړه چوړه | بیشکه | په دے کښے | خامخا نصیحت دے

تك زیږ وښے بیا ئے هغه (الله) چوړه چوړه (مات مات) کړی یقیناً په دے خبرو کښے

لِاُولِي الْاَلْبَابِ ۝ اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ع ۱۲

د پاره د عقل مندو | آیا نو هغه څوك | چه پرانستلے وی | الله | سینه د هغهٔ | اسلام ته

د عقل مندو د پاره دیر لوئے نصیحت (سبق) پروت دے آیا د چا سینه چه الله تعالیٰ اسلام ته پرانستلے ده

فَهُوَ عَلٰي نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ

نو هغه وی | په رڼا | د خپل رب د طرف نه | پس هلاکت دے | هغه چا لره چه سخت وی | زړونه د هغوی

او هغه د خپل رب د طرف نه په یوه رڼا کښے وی؟ پس د چا زړونه چه د الله تعالیٰ د ذکر نه سخت شوی دی

مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝ اَللّٰهُ نَزَّلَ

د ذکر | د الله نه | هم دغه کسان دی | په گمراهۍ | ښکاره کښے | الله | را لیږلے ده

دهغوی د پاره تباهی ده دا خلق په ښکاره گمراهۍ کښے پراته دی۔ الله تعالیٰ دیر ے

اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۣ تَقْشَعِرُّ

دیره خائسته | خبره | چه کتاب دے | یو شان دیو بل سره | (چه) بیا بیا لوستلے شی | (چه) زیگ زیگ کیږی

بهتر ښے خبرے را لیږلے دی دا سے کتاب په شکل کښ چه د هغے مضمون دیو بل سره سم برابر دے بیا بیا لوستلے شوے دے

مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ

د هغے نه | څرمنے | د هغه کسانو | چه یَریږی | د رب خپل نه | بیا | نرمیږی | څرمنے د هغوی

کوم خلق چه د خپل رب نه یَریږی د هغوی څرمنے د هغے سره غوڑے کیږی بیا د هغوی بدنونه

وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ

او زړونه د هغوی | ذکر | د الله ته | دا دے | هدایت | د الله | چه لار ښائی | په دے سره

او زړونه نرم شی (او) د الله ذکر ته متوجه شی هم دا د الله هدایت دے د دے په ذریعه چه

مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝

چاته | چه اوغواړی | او هغه څوك | چه گمراه (ځ) کړی | الله | نو نشته | د هغه د پاره | هیڅ څوك لاره ښودونکے

چاته اوغواړی هدایت ور کوی او الله تعالیٰ چه څوك بے لارے کړی نو هغه ته هیڅ څوك سمه لاره ښودونکے نشته

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْۗءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ

آیا نو هغه څوك | چه بچ کوی په ځان خپل | په مخ خپل سره | د سخت | عذاب نه | په ورځ | د قیامت

آیا څوك (به) چه د قیامت په ورځ په خپل مخ سره د ډیر بدترین عذاب نه ځان بچ کوی (د هغه چا په شان کیدے شی چه په راحت کښے

وَقِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ۝ كَذَّبَ

او ویلے شی | ظالمانو ته | اوځئ (خوند) | د هغه څه | چه تاسو به | کسب کول | دروغژن ګڼلے وو

به وی؟) او ظالمانو ته به اووئیلے شی چه تاسو چه څه کول د هغے مزه (خوند) وځئ کوم خلق چه د دوی نه مخکښ وو هغوی هم

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝

هغه کسانو | چه مخکښ وو دعوی نه | نو راغے په هغوی | عذاب | دَدا سے خائے نه | چه هغوی پرے نه پوهیدل

حق دروغژن ګڼلے وو چه دهغے په نتیجه کښے پرے عذاب دا سے خائے نه راغے چه دوی پرے ګمان هم نه کولو

فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

پس اوځکوله دوی ته | الله | رسوائی | په ژوند | دنیوی کښے | او خامخا عذاب | د آخرت

پس الله تعالیٰ هغوی ته په دُنیوی ژوند کښے (دعذاب) مزه اوځکوله او د آخرت عذاب

اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا

ډیر لوے دے | کاش که دوی | پوهیدلے | او یقیناً | مونږ بیان کړی دی | د خلقو دپاره | په دے

خو ډیر لوئے دے کاش چه دا خلق پوهیدلے! او حقیقت دا دے چه مونږ په دے قرآن کښے

الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝ قُرْاٰنًا

قرآن کښے | د هر قسم | مثال نه | دے دپاره چه دوی | نصیحت واخلی | (دا سے) قرآن

د خلقو (دپوهے) دپاره هر قسم مثالونه بیان کړی دی چه دوی ترے سبق (نصیحت) واخلی دا قرآن

عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ۝ ضَرَبَ اللّٰهُ

په عربی ژبه کښے | چه نه دے هیڅ کوږ والی والا | دے دپاره چه دوی | اوږدیږی | بیانوی | الله

په عربی ژبه کښے دے چه هیڅ عیب (کوږ والے) پکښے نشته دے دپاره راغلے دے چه دوی (دالله نه) اُوږدیږی الله تعالیٰ

مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا

یو مثال | دیو (دا سے) سړی | چه په هغه کښے | حصه داران وی | یو بل سره جګړه کونکی | او دیو بل (دا سے) سړی | چه ټول

یو مثال بیانوی چه یو غلام دے چه په هغه کښے دیر کسان شریکان دی چه دیو بل سره ضد هم ساتی او یو بل غلام دے چه هغه پوره

لِّرَجُلٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

دیو سړی وی | آیا | برابر دی دواړه | په مثال کښے | ټول حمد ونه دی | الله لره | بلکه | اکثر دوی نه

دیو سړی په ملکیت کښے دے آیا دے دواړو حالت یو شان کیدے شی؟ ټول تعریفونه الله لره دی بلکه په دوی کښے

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ۝ ثُمَّ

نه پوهیږی | بیشکه ته | مړ کیدونکے ئے | او بیشکه دوی (هم) | مړه کیدونکی دی | بیا (به)

اکثر خلق نه پوهیږی (اے نبیؐ) ته به هم مړ ے او دوی به هم مړی ـ بیا به

اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ۝ ع

بیشکه تاسو | په ورځ | د قیامت | په نزد د رب خپل | جګړه کوئ |

تاسو ټول د قیامت په ورځ خپلے جګړے د خپل رب وراندے پیش کوئ۔

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ

نو څوک دے | غټ ظالم | دهغه چا نه | چه دروغ وائی | په الله باندے | او دروغژن ګڼری | رشتیاؤ لره

نو (اوس تاسو اووایئ چه) دهغه چا نه به غټ ظالم څوک وی چه په الله تعالی باندے دروغ وائی او چه رشتنی خبره ورته

اِذْ جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝ وَالَّذِيْ

کله چه | راغلل ده ته | آیا نه دے | په جهنم کښ | ځای (داوسیدو) | دپاره د کافرانو | او هغه کس

کله راشی نو هغه دروغ ګڼړی؟ آیا په جهنم کښ دداسے کافرانو (د اوسیدو) ځای نشته؟ او چا چه

جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۝

چه راوړی | رشتیاؤ لره | او تصدیق کوی | دهغے | دغه خلق | هم دوی | پرهیزګاران دی

رشتنے خبره راوړه (یعنی قرآن) او پخپله ئے هم د هغے تصدیق او کړو هم دا خلق متقیان دی

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ۝

دوی دپاره دی | هغه څه | چه دوی به ئے غواړی | د خپل رب سره | دا ده | بدله | د نیکی کوونکو

دوی ته به د خپل پروردګار سره هر هغه څه ملاویږی چه دوی (به) ئے غواړی د نیکانو خلقو هم دا بدله ده.

لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ

دے دپاره چه لرے کړی | الله | د دوی نه | ناکاره | دهغه عملونو | چه دوی کړی دی | او بدله ورکړی دوی ته

(دا دے دپاره) چه الله تعالی د دوی نه هغه بد کارونه چه دوی کړی وو لرے کړی

اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ

اجر د دوی | په هغو بنائسته | هغه عملونو سره | چه دوی به همیشه کول | آیا نه دے | الله | کافی

او کومر بنه کارونه چه دوی کړی وو دهغے بدله (ثواب) ورله ورکړی (اے نبیؐ!) آیا الله تعالی د خپل بنده دپاره کافی

عَبْدَهٗ ؕ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ

بنده خپل لره | او دوی یږوی تا لره | په هغه چا | چه دالله نه سوا دی | او هغه څوک | چه ګمراه ئے کړی

(بچ کوونکے) نه دے؟ او دا کافران دالله تعالی نه سوا په نورو خلقو (معبودانو خپلو باندے) تا یږوی او الله تعالی چه څوک ګمراه کړی

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

الله | نو نشته دهغه دپاره | هیڅ څوک | لاره ښودونکے | او هغه څوک | چه هدایت (ورته) او کړی | الله | نو نشته دهغه (دپاره)

هغه ته هیڅ څوک سمه لار ښودونکے نشته. او چا ته چه الله تعالی سمه لار او ښائی نو هغه لره هیڅ څوک

مِنْ مُّضِلٍّ ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ۝ وَلَئِنْ

هیڅ څوک | ګمراه کوونکے | آیا نه دے | الله | ډیر زرور | بدلے والا | او که چرته

ګمراه کولے نه شی. آیا الله تعالی ډیر زورور (غالب) بدله اخستونکے نه دے؟ او که چرته

سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

تپوس او کړے دوی نه | چه چا | پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | (نو خامخا به دوی وائی | (چه) الله

دے مشرکانو نه تپوس او کړی چه آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی؟ نو دوی به ضرور هم دا وائی چه الله

قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَنِىَ

ووایه | آیا نو تاسو خبر یئ | په هغه چا | چه تاسو (ئے) رابلئ | سوا | د الله نه | که چرے | اوغواړی زما د پاره

ته ورته اووایه چه لږ او کورئ (سوچ او کړئ) که چرے الله تعالی ما ته څه تکلیف رسول اوغواړی

اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖۤ اَوْ اَرَادَنِىْ بِرَحْمَةٍ

الله | څه تکلیف | (نو) آیا دوی | لرې کوونکی | د تکلیف دهغهٔ دی | یا (که) اوغواړی هغه زما د پاره | څه مهربانی

نو آیا دوی دهغه تکلیف لرے کولے شی؟ یا که الله تعالی په ما باندے مهربانی کول اوغواړی

هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ حَسْبِىَ اللّٰهُ ؕ عَلَيْهِ

(نو) آیا دوی | بندوونکی | د مهربانئ دهغهٔ دی | اووایه | کافی دے زما د پاره | الله | هم په هغه باندے

نو آیا دوی دهغه مهربانی (رحمت) بندولے شی؟ اووایه چه زما د پاره هم الله کافی دے خاص په هغهٔ

يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ۝ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ

توکل کوی | توکل کوونکی | اووایه | اے زما قومه | عمل کوئ | په خپل ځای خپل

توکل کوونکی توکل کوی. ته ورته اووایه چه اے زما قومه! تاسو په خپله طریقه عمل کوئ

اِنِّىْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ۝ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ

بیشکه زه (هم) | عمل کوونکے یم | پس ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | چه څوک دی | چه راځی په هغه باندے | (دا سے) عذاب

او زهٔ هم (په خپله طریقه) عمل کوم بیا به ډیر زر تاسو ته پته اولګی چه په چا باندے هغه عذاب راځی

يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۝ اِنَّاۤ اَنْزَلْنَا

چه رسوا به کړی هغه لره | اوراکوز (به) شی | په هغه باندے | عذاب | همیشه | بیشکه | مونږ نازل کړے دے

چه رسوا به ئے کړی او (په چا باندے) همیشه عذاب راناز لیږی (اے نبیٰ!) یقیناً مونږ د خلقو د فائدے د پاره

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ ۚ

په تا باندے | (دا) کتاب | د خلقو د پاره | په حقه | پس چا چه | لاره اومونده له | نو (فائده ئے) د خپل ځان ده

په تا باندے دا کتاب په حقه رالیږلے دے اوس چه څوک په سمه لار شی نو فائده ئے د خپل ځان ده

وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَاۤ اَنْتَ عَلَيْهِمْ

او څوک چه | گمراه شو | نو بیشکه | هغه گمراه شو | (چه ویلے دگمراهئ په هغه باندے دے) | اونهٔ ئے ته | په دوی باندے

او څوک چه گمراه شی نو د گمراهئ نقصان هم په هغه دے او (اے نبیٰ!) ته د دوی ذمه وار نه ئے

بِوَكِيْلٍ ۝ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِىْ

ذمه وار | الله | اخلی | روحونه | په وخت | د مرګ دهغے کښ | اوهغه روحونه

الله تعالی ټول روحونه د هغوی د مرګ په وخت کښ قبض کوی (اخلی) او د چا مرګ

لَمْ تَمُتْ فِىْ مَنَامِهَا ۚ فَيُمْسِكُ الَّتِىْ قَضٰى عَلَيْهَا

چه نه مری | (اخلی ئے) په خوب د هغے کښ | بیا حصار کړی | هغه روحونه | چه فیصله ئے کړی وی | په هغے باندے

چه لا نه وی راغلے نو د هغوی روحونه هم په خوب کښ اخلی (قبضه کوی) بیا چه هغه په چا د مرګ فیصله کړی وی

الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰٓى اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

د مرګ | اوراولیږي هغه | نور | ترنیټې | مقرر مهال پورې | بیشکه | په دې کښ

هغه (روحونه) ایسار کړي او نور روحونه دیو مقرر وخت پورې راپریږدي یقیناً په دې کښ

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۴۲﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

خامخا(ډیرې) نښې دي | دپاره دهغه قوم | چه فکر کوي | آیا دوی نیولي دي | سوا د الله نه

د غور او فکر کوونکو دپاره ډیرې نښې دي آیا دوی د الله نه سوا نور سفارشیان جوړ کړي دي؟

شُفَعَآءَ ؕ قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴۳﴾

سفارشیان | اووایه | اګرکه | دوی | اختیار نه لري | دهیڅ یوشیز | او نه عقل لري

دوی ته اووایه چه اګرکه هغوی دهیڅ شیز اختیار نه لري اونه په څه پوهیږي (نو بیا به ځه هم تاسو سفارشیان ګڼئ؟)

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ؕ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

اووایه | خاص دالله دے | (اختیار د) سفارش | ټول | خاص دهغه ده | بادشاهي | د آسمانونو

ورته اووایه چه سفارش خو ټول په ټوله د الله تعالی په اختیار کښ دے هم دهغه په قبضه کښ د آسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ

او د زمکے | بیا | خاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ | اوکله چه | یاد کړے شي | الله | اِک یواځے

او د زمکے بادشاهي ده بیا به تاسو هم هغه ته واپس کیږئ. اوکله چه ایک یواځے د الله ذکر کیږي

اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ

نو تنګ شي | زړونه | دهغه کسانو | چه ایمان نه لري | په آخرت | اوکله چه | یاد کړے شي

نو کوم خلق چه په آخرت ایمان نه لري د هغوی زړونه تنګیږي اوکله چه دهغه نه سوا دبل چا ذکر کیږي

الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ

هغه (معبودان) | چه سوا دهغه نه دي | نو دغه وخت | دوی | خوشحاله شي | اووایه | اے الله

نو (دغه وخت) دوی خوشحالیږي۔ (اے نبیؐ!) ته اووایه اے الله!

فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ

پیدا کوونکیه | د آسمانونو | او د زمکے | پوهه | په پټ | او په ښکاره | هم ته (به)

اے د آسمانونو او د زمکے پیدا کوونکیه! اے په پټو او په ښکارو پوهیدونکیه! هم ته به

تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۶﴾

فیصله کوے | په مینځ | د بندګانو خپلو کښ | په هغه څه کښ | چه دوی وو | په هغے کښ | چه اختلاف به ئے کولو

د خپلو بندګانو په مینځ کښ دهغه خبرو فیصله کوے چه دوی پکښ اختلاف کولو۔

وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا

اوکه چرے هغی | دهغه کسانو دپاره | چه ظلم ئے کړیدے | هغه څه | چه په زمکه کښ دی | ټول

اوکه چرے د ظالمانو سره د زمکے دا ټول مال او متاع او د دے هومره نور هم هغی

وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ

اودهغسره مره(نور)وی | دهغے سره | نوخامخا به دوی خدیه کښی ورکړی | هغه (ټول) | د بد | عذاب نه

نو د قیامت په ورځ به د بد ترین عذاب نه د بچ کیدو د پاره دا ټول په بدله (فدیه) کښی ورکول غواړی

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا

په ورځ | د قیامت | او ښکاره به شی | دوی ته | د الله د طرف نه | هغه څه | چه دوی به ئے

او د الله تعالی د طرف نه به هغه څه دوی ته ښکاره شی چه دوی ئے گمان هم نه کولو۔

يَحْتَسِبُوْنَ ۝ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ

گمان (هم) نه کولو | او ښکاره به شی | دوی ته | بد انجامونه | دهغه څه | چه دوی کسب کړی وو | او راګیر به کړی

او د خپلو بدو اعمالو خرابیانے به ورته راښکاره شی او کوم عذاب پورے چه ئے

بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ

دوی لره | هغه څه | چه دوی به | په هغے پورے | ټوقے کولے | نو هرکله | چه اورسیږی | انسان ته

خندے (ټوقے) کولے هغه به ترے چاپیره شی. (د انسان حال خو دا دے چه) کله انسان ته څه تکلیف اورسی

ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا ۙ قَالَ اِنَّمَآ

څه تکلیف | نو رابلی مونږ | بیا | کله چه | ورکړو مونږ هغه ته | څه نعمت | د خپل طرف نه | (نو) وائی | بیشکه

نو مونږ رابلی بیا چه کله ورله مونږ د خپل طرف نه څه نعمت ورکړو نو وائی چه دا خو ما ته

اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ ؕ بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

راکړے شوی دی دا ما ته | په پوهه (زما) | (نه) بلکه | دا (خو) | یوازے مینبت دے | لیکن | اکثر د دوی

د خپل علم (هنر) په وجه ملاو شوی دی (نه) بلکه دا خو یو ازمینبت دے لیکن اکثر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى

نه پوهیږی | یقیناً | ویلے وه دا خبره | هغه کسانو | چه مخکښے د دوی نه وو | نو دفع نه کړو

نه پوهیږی۔ هم دا خبره د دوی نه مخکښے هم څه خلقو کړے وه خو کوم عملونه چه هغوی کول

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا

د هغوی نه (عذاب) | هغه څه | چه هغوی به کسب کول | پس اورسیدل هغوی ته | بد انجامونه | د هغه څه

هغه ئے هیڅ په کار را نغلل او (بلکه) څه چه ئے کړی وو د هغے بد ے نتیجے ئے مخے ته راغلے

كَسَبُوْا ؕ وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيْبُهُمْ

چه هغوی کړی وو | او هغه کسان | چه ظلم ئے کړے دے | د دے خلقو نه | زرده چه او به رسی هغوی ته (هم)

او په دے خلقو کښی چه کوم ظالمان دی هغوی ته به هم د خپلو عملونو بد ے نتیجے

سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ۝ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا

بد انجامونه | دهغه څه | چه دوی کړی دی | او نه دی دوی | کمزوری کوونکی (الله لره) | آیا دوی نه پوهیږی

دیر زر مخے ته راشی او دوی الله تعالی عاجزه کولے نه شی آیا دوی ته دا پته نشته چه

اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

چه بیشکه | الله | فراخوی | رزق | چاڼره چه | اوغواړی | او تنګوی (ئے) | بیشکه | په دے کښ

الله تعالیٰ چه دَ چا دپاره اوغواړی رزق ورله فراخه کوی او تنګوی (کمیوی) ئے هم هغه؟ یقیناً په دے کښ

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا ع ۱۶

خامخا نښے دی | دپاره دهغه قوم | چه ایمان لری | اووایه | اے بنده گانو زما | هغه کسانو | (چه) زیاتی کړے دے

دهغه خلقو دپاره لوے نښے دی څوک چه ایمان راوړی. (اے نبیٔ! زما دطرف نه زما بنده گانو ته) اووایه

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ

په ځانونو خپلو | مه ناامیده کیږئ | د رحمت | دالله نه | بیشکه | الله | بخښی

اے زما هغه بنده گانو چا چه په ځان زیاتی کړے دے دالله تعالیٰ درحمت نه مایوسه کیږئ مه. یقین اوکړئ

الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝ وَاَنِيْبُوْٓا

ګناهونه | ټول | بیشکه | هم هغه دے | دیر بخښونکے | دیر مهربان | اوراوګرځئ

چه الله تعالیٰ ټول ګناهونه معاف کوی یقیناً هغه دیر بخښونکے دیر مهربان دے

اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ

رب خپل ته | او غاړه کیږدئ | هغه ته | مخکښے ددے نه | چه راشی تاسو ته | عذاب

اود عذاب د راتلو نه مخکښے مخکښے تاسو هغه ته رجوع اوکړئ او د هغه تابعدار شئ

ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ۝ وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

بیا به | ستاسو مدد نه شی کیدے | اوتابعداری اوکړئ | د دیر ښائسته | هغه څهٔ | چه نازل کړے شوی دی | تاسو ته

(کښی) بیا به ستاسو مدد نه کیږی او ستاسو د رب د طرف نه چه کوم بهترین کلام تاسو ته نازل شوے دے

مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ

تاسو د رب د طرف نه | مخکښے ددے نه | چه راشی تاسو ته | عذاب | ناڅاپه | او تاسو به

د هغے تابعداری اوکړئ مخکښے دَ دے نه چه په تاسو ناڅاپی عذاب راشی او تاسو ته به

لَا تَشْعُرُوْنَ ۝ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ

نه پوهیږئ | داچه | (اونه) وائی | یو کس | هائے افسوس زما | په هغه څه | چه کوتاهی کړے ده ما

پته هم اونه لګی. هسے نه چه (هغه وخت) بیا یو کس دا اووائی چه افسوس دے زما په هغه کوتاهئ

فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ۝ اَوْ تَقُوْلَ

په ارخ (حق) | د الله کښ | او بیشکه | وو مسخره | د ټوقو کوونکو نه | یا (اونه) وائی

چه ما د الله تعالیٰ په حق کښ کړے ده او رشتیا خبره دا ده چه ما په حق پورے ټوقے کولے یا دا اووائی

لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ اَوْ تَقُوْلَ

که چرے | الله | هدایت کړے وے ماته | نو خامخا به وے زه | د پرهیزګارانو نه | یا (اونه) وائی

که چرے الله تعالیٰ ماته هدایت کړے وے نو زه به هم په متقیانو کښ شامل وے یا

حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ

کله چه | اوویني | عذاب لره | که چرے وے | زما دپاره | یو ځل تلل (دنیا ته) | نو وے به زه
د عذاب د لیدو په وخت کښ دا اووائی چه که چرے زهٔ یو ځل بیا دنیا ته لاړم نو زه به

مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا

د نیکانو نه | ولے نه | یقیناً | راغلی ووتاته | آیتونه زما | نو دروغ اوګڼړل تا | هغے لره
په نیکانو کښ شامل شم. (الله به اوفرمائی) ولے نه زما آیتونه تاته راغلی ووخو بیا هغه تا دروغ اوګڼړل

وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى

او تکبر اوکړو تا | او ته وے | د کافرانو نه | اوپه ورځ | د قیامت به | ته اووینے
اوځان دے لوئی اوګڼړلو او کافر شوے۔ او د قیامت په ورځ به ته هغه خلق اووینے چه

الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ؕ اَلَيْسَ

هغه لسانونه | چه دروغ ے وین | په الله | (په) دهغوی مخونه به تک تور (شوی) وی | آیا نه دے
په الله تعالیٰ ئے دروغ ترلی دی (چه) مخونه به ئے تک تور شوی وی آیا

فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝ وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ

په جهنم کښ | ځائے (داوسیدو) | دپاره د تکبر کوونکو | او بچ به کړی | الله | هغه کسان
په جهنم کښ د دے متکبرینو داوسیدو ځائے نشته؟ او چا چه تقوی اختیار کړے ده الله تعالیٰ به هغوی

اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ ۫ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

چه اوپریږدل (دالله نه) | په سبب د کامیابۍ دهغوی | نه به رسی هغوی ته | تکلیف | او نه به هغوی | غمژن شی
دهغوی د کامیابۍ او سعادت په وجه د جهنم نه بچ کړی چه نه خو به ورته څه تکلیف رسی او نه به غمژن شی.

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۝

الله | پیدا کوونکے | د هرڅیو | څیز دے | او هغه | په هر | څیز | ذمه وار دے
الله تعالیٰ د هرڅیو څیز پیدا کوونکے دے او هم هغه د هرڅیو څیز نګران (ذمه وار) دے۔

لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

خاص د هغه (سره) دی | کنجیانے | د آسمانونو | او د زمکے | او هغه کسان | چه کفر ے کړے دے
د آسمانونو او د زمکے کونجیانے هم د هغه په اختیار کښ دی او چا چه د الله

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ ع

په آیتونو | د الله | د هغه خلق | هم دوی | (پوره) تاوانیان دی | اووایه | آیا نو سوا | د الله نه
د آیتونو نه انکار کړے دے هم د هغه خلق تاوانیان دی (اے نبی! دوی ته) اووایه چه اے جاهلانو آیا بیا هم

تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ

تاسو حکم کوئ ماته | چه زه (ئے) عبادت اوکړم | اے | جاهلانو! | او یقیناً | وحی کړے شوے ده | تاته
تاسو ماته (هم) داوایئ چه زه دے د الله نه سوا دبل چا عبادت اوکړم؟ حالانکه حقیقت دادے چه مونږ تاته

وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ

اوهغه کسانوته (هم) | چه مخکښ ستانه وو | (چه) که چرے | شرک اوکړوتا | نو خامخا برباد به شی

اوستانه مخکښے پیغمبرانوته هم داوحی کړے وه چه که چرے تاشرک اوکړو نو ټول اعمال به دے ضائع شی

عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ

عمل ستا | او خامخا شے به ته | د تاوان مونډونکو نه | (نه) بلکه | د الله | عبادت کوه | او شه

او په تاوانیانو کښ به شامل شے ۔ بلکه ته خو خاص (یوا ځے) د الله عبادت کوه

مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۶﴾ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ

د شکر گزارو نه | اودوی قدر نه دے کړے | د الله | حق | قدر دهغهٔ | او زمکه

او شکر گزارو کښ شامل شه اودے خلقو د الله هغه شان قدر اونه کړو څنګه چه پکار وو حالانکه

جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ

ټوله (به) | په موټی دهغهٔ کښ وی | په ورځ | د قیامت | او آسمانونه به | راغښتلی شوی وی

(هغه دومره لوے ذات دے چه) ټوله زمکه به د قیامت په ورځ دهغه په موټی کښ وی او ټول آسمانونه به دهغه

بِيَمِيْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾

په ښی لاس دهغهٔ کښ | پاکی (بیان کړئ) دهغه | اوهغه ډیر اوچت دے | دهغه څه نه | چه دوی ئے (ورسره) شریکوی

په ښی لاس کښ راغښتلی شوی وی هغه پاک ذات دے اودهغه شریکانو نه ډیر اوچت دے چه داخلق ئے ورسره شریکوی

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ

اوپوکے به اووهلی شی | په شپیلئ کښ | نو بے هوشه به شی | هر هغه څوک | چه په آسمانونو کښ دی | اوهر هغه څوک

او شپیلئ به پوک وهلی شی نو په آسمانونو او زمکه کښ چه څومره خلق دی ټول به مړه شی

فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ

چه په زمکه کښ دی | سوا | دهغه چانه | چه غواړی ئے | الله | بیا به | پوکے اووهلی شی | په هغے کښ

سوا دهغه چا نه چه الله دهغوی باقی پاتے کیدل غواړی بیا به په دویم ځل شپیلئ

اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ

بل کرت | ناڅاپه به | دوی | ولاړ وی | کورې به | او روښانه به شی | زمکه

پوک وهلی شی نو ټول به یکدم راپاڅی (او) کورې به او زمکه به د خپل پروردګار

بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ

په نور | د رب خپل | او کیږي خود لے به شی | عملنامے | او راوستلی به شی | پیغمبران | او شهیدان

په نور باندے روښانه شی او عملنامے به (مخامخ) کیږي خود لی شی او پیغمبران او شهیدان (گواهان) به راوستلی شی

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَوُفِّيَتْ

او فیصله به اوکړی شی | په مینځ ددوی کښ | په انصاف سره | او په دوی باندے به | ظلم نشی کولے | او پوره به ورکړی شی

او ددے خلقو په مینځ کښ په حقه (په انصاف) فیصله اوشی او هیڅ زیاتے به پرے نه کیږی

كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۝ ع

هر یو کس ته (بدله) | دهغه څه | چه دهٔ کړی دی | اوهغه (الله) | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه دوی (ـئ) کوی

اوهر یو کس ته به دخپل عمل پوره پوره بدله ورکړے شی او دوی چه څه کوی الله تعالی هغه ښه پیژنی

وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا ؕ حَتّٰٓى اِذَا

اواوبه شړلی شی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | جهنم ته | دلے دلے | تر دے | چه کله

او کافران به دلے دلے جهنم ته راځکلی شی تر دے چه کله هغے ته اورسی

جَآءُوْهَا فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ

راشی دوی هغے ته | (نو) پرانستلی به شی | دروازے دهغے | اواوبه وائی | دوی ته | څوکیداران دهغے

نو دهغے دروازے به پرانستلی شی او دهغے محافظ ملائکے به ورته اووائی (چه)

اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ

(چه) آیا نه وو راغلی تاسوته | پیغمبران | ستاسو نه | چه لوستل ئے | په تاسو باندے | آیتونه | درب ستاسو

آیا تاسوته هم ستاسو نه پیغمبران نه وو راغلی چه تاسوته ئے ستاسو درب آیتونه لوستلی وو

وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ

او یرولی ئے تاسو | دملاقات | دورځے ستاسونه | چه دا دده | اوبه وائی هغوی | ولے نه | لیکن

اوددے ورځے دملاقات نه ئے یرولی وئ؟ هغوی به اووائی ولے نهٔ (راغلی وو) لیکن

حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝ قِيْلَ ادْخُلُوْٓا

پوره شوے وه | خبره (فیصله) | د عذاب | په کافرانو باندے | اوبه ویلی شی | داخل شئ

د عذاب فیصله په کافرانو باندے پوره (ثابته) شوه. ورته به اوویلی شی چه د جهنم

اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝

دروازو | د جهنم ته | همیشه به یئ | په دے کښ | پس ډیر بد | ځائے (داوسیدو) دے | د تکبر کوونکو

په دروازو د همیشه اوسیدو دپاره داخل شئ پس جهنم د متکبرینو ځائے (داوسیدو) ډیر خراب دے

وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ؕ حَتّٰٓى

اوروان به کړے شی | هغه کسان | چه یره ئے کړے وه | دخپل رب نه | جنت ته | دلے دلے | تر دے

او کوم خلق چه د خپل رب نه یریدل هغوی به (هم) دلے دلے جنت ته پوتلی شی تر دے

اِذَا جَآءُوْهَا وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا

چه کله | راشی دوی هغے ته | اوپرانستلی شوی به وی | دروازے دهغے | اواوبه وائی | دوی ته | څوکیداران دهغے

چه کله هغے ته اورسی او دروازے به (دمخکښے نه) پرانستلے شوی وی او دهغے محافظ ملائکے به ورته اووائی

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ۝ وَقَالُوا

سلام دے وی | په تاسو باندے | خوشحاله اوسئ | پس داخل شئ دے ته | همیشه به یئ (دلته) | اواوبه وائی دوی

چه په تاسو دے سلام وی خوشحاله اوسئ تاسو. اوس داخل شئ جنت ته د همیشه دپاره او اوبه وائی (جنتیان)

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ

حمدونه دی | الله لره | هغه ذات | چه رشتیاڼے کړه زمونږ سره | وعده خپله | اووارثان ےے کړو مونږ | دزمکے (دجنت)

ټول شکرونه (حمدونه) دهغه الله دی چه مونږ سره ےے خپله وعده رشتیا (پوره) کړه او مونږ ےے ددے زمکے دجنت دا سے

نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۝

چه مونږ خاے ونیسو | د جنت نه | چرته | چه مونږ غواړو | دیر ښه دے | اجر | د عمل کوونکو

وارثان جوړ کړو چه مونږ په جنت کښ چرته غواړو هلته به دیره کیږو. ثابت شوه چه ښه بدله دنیک عمله خلقو دپاره ده

وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ

اوته به وینے | ملائکے | چه راتاؤ شوی به وی | چاپیره | د عرش نه | پاکی به وائی

اوته به ملائک وینے چه د عرش نه کیر چاپیره به ےے حلقه اچولے وی (او) دخپل رب دصفتونو

بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ

سره دستائنے | درب خپل | اوفیصله به اوکړے شی | په مینځ د دوی کښ | په انصاف سره | او اوبه ویل شی

سره (سره) به دهغه پاکی وائی او دخلقو په مینځ کښ به په حقه فیصله اوشی او اوبه وئیلے شی چه

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ع

| حمدونه دی | الله لره | (چه) رب | د مخلوقاتو دے |

ټول حمدونه دهغه الله دپاره دی چه د ټولو جهانونو پروردګار (مالک) دے

آیاتها [۸۵]	سورة المؤمن مکّیة	رکوعاتها [۹]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د ټوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ۝ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝ غَافِرِ

حٰم | راالیږل | د دے کتاب | دطرفه د (هغه) الله دی | چه ډیر زور ور | ډیر پوهه دے | بخښونکے

حٰم دا کتاب دهغه الله دطرف نه نازل شوے دے چه هغه ډیر زور ور (غالب) او لوے حکمت والا دے۔

الذَّنْۢبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ۙ ذِي الطَّوْلِ ؕ

دګناهونو | او قبلونکے | د توبے | سخت | عذاب ورکوونکے | قدرت (طاقت) والا دے

دګناهونو بخښونکے توبه قبلونکے سخت عذاب ورکوونکے او لوئی طاقت والا دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝ مَا يُجَادِلُ

نشته دے | لائق د عبادت | سوا | دهغه نه (بل څوک) | خاص هغه ته | ورګړ څیدل دی | چکړه نه کوی

دهغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته هم دهغه طرف ته (د ټولو) واپسی ده دالله تعالی

فِیْۤ اٰیٰتِ اللّٰهِ اِلَّا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فَلَا یَغُرُّكَ

په آیتونو | د الله کښ | مګر | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | پس دهوکه دے نه کړی تاله ره

په آیتونو کښ جګړے هم هغه خلق کوی چه کافران وی نو د دے خلقو

تَقَلُّبُهُمْ فِی الْبِلَادِ ۝ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ

اوړیدل راوړیدل ددوی | په ښارونو کښ | دروغژن ګڼلی وو (پیغمبران) | مخکښے ددوی نه | قوم | د نوح

په ښارونو کښ (په خوشحاله خوشحاله) ګرځیدو راګرځیدو باندے دهوکه نه شے. اوددوی نه مخکښے د نوح قوم

وَّالْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ وَهَمَّتْ كُلُّ اُمَّةٍۭ بِرَسُوْلِهِمْ

او (نورو) ډلو | وروستو ددوی نه | او قصد کړے وو | هر یو | امت | د خپل پیغمبر په باره کښ

اودهغوی نه پس نورو ډلو هم حق دروغژن ګڼلے وو او هر یو امت د خپل پیغمبر په باره کښ دا قصد (اراده) کړے وه

لِیَاْخُذُوْهُ وَجٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ لِیُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ

چه راونیسی دوی هغه لره | اوجګړه ئے کړے وه | په باطله | د دے دپاره چه اونړوی | په دے سره | حق لره

چه د قتل دپاره ئے راونیسی او د حق (دین) د ناکامه کولو دپاره ئے په ناحقه جګړے کولے

فَاَخَذْتُهُمْ ۫ فَكَیْفَ كَانَ عِقَابِ ۝ وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ

پس راونیول ما دوی | پس څنګه | وو | عذاب زما | او دغه شان | پوره شوه | خبره

خو اخیر ما به راونیول نو (لږ او کوره چه) زما عذاب څنګه (سخت) وو؟ او دغه شان د کافرانو په باره کښ

رَبِّكَ عَلَى الَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ۝ اَلَّذِیْنَ

درب ستا | په هغه کسانو | چه کفر ئے کړے وو | چه بیشکه دوی | دوزخیان دی | هغه ملائک

ستا د رب دا فیصله پوره شوے ده چه یقیناً دوی دوزخیان دی۔ کومو فرشتو

یَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ یُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

چه پورته کوی | عرش لره | اوهغه څوک | چه چاپیره دی دهغے نه | پاکی وائی | سره د ستائینے | د رب خپل

چه عرش اوچت کړے دے او کومے چه ترے ګیر چاپیره دی هغوی ټول د خپل رب د حمد سره (سره)

وَیُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَیَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ۚ رَبَّنَا

او ایمان لری | په هغه باندے | او بخښنه غواړی | د هغه چا دپاره | چه ایمان ئے راوړے دے | اے ربه زمونږ

د هغه پاکی (تسبیح) وائی او په هغه ایمان لری او د مومنانو دپاره بخښنه غواړی چه اے زمونږ ربه!

وَسِعْتَ كُلَّ شَیْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِیْنَ تَابُوْا

رسیدلے ئے ته | هر یو | څیز ته | په رحمت | او په علم سره | پس بخښنه اوکړه | هغه کسانو ته | چه توبه ئے ویستلے ده

ستا رحمت او علم هر یو څیز ته فراخه دے نو چا چه توبه ویستلے ده

وَاتَّبَعُوْا سَبِیْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِیْمِ ۝ رَبَّنَا

او تابعدارے ئے کړے ده | ستا دلارے | او بچ کړه هغوی | د عذاب | د دوزخ نه | اے ربه زمونږ

اوستا په لار روان شوی دی هغوی ته بخښنه اوکړه او د دوزخ د عذاب نه ئے بچ کړه۔ اے زمونږ ربه!

وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ

اوداخل کړه دوی لره | جنتونو | دهمیشه اوسیدونه | هغه | چه تاوعده کړے ده دَدوی سره | اوهغه څوک (هم)

دوی د هميشه اوسيدو هغه جنتونو ته داخل کړه چه تا ئے ورسره وعده کړے ده

صَلَحَ مِنْ اٰبَآىِٕهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ

چه نیکان دی | د پلارانو دَدوی نه | او دَ بیبیانو دَدوی نه | اودَ اولاد دَدوی نه | یقیناً تهٔ | خاص تهٔ

اودهغوی په پلار نیکه او بیبیانو او اولاد کښ چه کوم نیکان وی (هغوی ورسره هم داخل کړه) یقیناً هم ته

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ ؕ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ

زبردست اور | حکمت والا ذات ئے | اوبچ اوساتے دوی لره | د ناکاره تکلیفونونه | او څوک | چه بچ کړل تا | د (ناکاره) تکلیفونونه

زبردست ور (غالب) لوئ حکمت والا ئے. او د تکلیفونو (عذابونو) نه ئے بچ کړه اوپه دغه ورځ چه تا څوک

يَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ ع

په دغه ورځ | نو یقیناً | تا رحم اوکړو په هغه باندے | او هم دا | ده | کامیابی | ډیره لویه

د بدو (عذابونو) نه بچ کړل نو په هغه تا (لوے) رحم اوکړو اوهم دا ډیره لویه کامیابی ده

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ

بیشکه | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | آوازیه اوکړے شی هغوی ته | چه غصه | د الله | ډیره لویه ده

کافرانو ته به آواز اوکړے شی چه (نن) ستاسو د خپل ځان نه څومره نفرت دے، د دے نه زیات نفرت

مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ۝

د غصے ستاسو نه | خپلو ځانونو ته | کله چه به | رابللی شوئ تاسو | ایمان ته | نو تاسو به کفر کولو

ستاسو نه د الله هغه وخت وو کله به چه تاسو ته د ایمان دعوت درکولے شو او تاسو به انکار کولو

قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا

اوبه وائی دوی | اے ربه زمونږ | مرګ اوستلے دے تا په مونږ | دوه ځل | اوژوندۍ اکړے دے تا مونږ ته | دوه ځل | پس مونږ اعتراف کوو

دوی به اووائی چه اے زمونږ ربه! تا مونږ دوه ځل مړه کړو او دوه ځل دے راژوندی کړو اوس (پس) مونږ

بِذُنُوْبِنَا فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ۝ ذٰلِكُمْ بِاَنَّهٗ

د ګناهونو خپلو | نو آیا شته دے | وتلو ته | څه لار | دا | د دے وجه چه شان دادے

د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو آیا (د دوزخ نه) د وتلو څه لار شته؟ (جواب په ورکړے شی چه) ستاسو دا حالت وو

اِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ وَاِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ

چه کله به | رابللے شو | الله | ایک یوا ځے | (نو) تاسو به کفر کولو | او که چرے | شرک به کولے شو | د هغه سره

چه کله به الله ایک یوا ځے رابللے شو نو تاسو به انکار کولو او که د هغه سره به څوک شریک مقرروله شو

تُؤْمِنُوْا ؕ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ۝ هُوَ الَّذِيْ

(نو) تاسو به ایمان راوړلو | پس فیصله (خو) | د الله ده | چه ډیر لوئ | او څنګه مرتبے والا دے | الله هغه ذات دے

نو تاسو به پرے ایمان راوړلو اوس خو فیصله هم د الله ده چه ډیر اوچت شان والا لوے ذات دے (الله) هم هغه ذات دے

يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ وَمَا يَتَذَكَّرُ

چه بنائی تاسو ته | نخنے خپلے | او نازلوی | ستاسو دپاره | د آسمان نه | رزق | او نصیحت نه اخلی

چه تاسو ته خپلے نخنے بنائی او ستاسو دپاره د آسمان نه رزق رالیږی او نصیحت خو هم هغه خلق منی

اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ۝ فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ

مگر | هغه څوک | چه راګرځی (الله ته) | پس رابلئ | الله لره | چه خالص کوونکی یئ | هغه لره | دین (بلنه)

چه دزړه نه (الله ته) رجوع کوی نو (اے خلقو!) الله دا سے رابلئ چه ستاسو تابعداری (بلنه) خالص دهغه دپاره وی

وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ

اګر که | بد (ښے) ګڼری | کافران | (الله) اوچتوونکے | ددرجو دے | مالک دعرش دے

اګر که په کافرانو (دا خبره) بده لګی. هم هغه (الله) دلوے درجو (مرتبو) والا (او) دعرش مالک دے

يُلْقِي الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ

راغورځوی | روح | په خپل حکم سره | په چا | چه اوغواړی | دبندګانو خپلو نه

په خپلو بندګانو کښ چه په چا اوغواړی په خپل حکم سره په هغهٔ وحی رالیږی (دے دپاره) چه

لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ۝ يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ لَا يَخْفٰى

دے ډارولے چه هغه ورځ ښکاره کړی | د ورځ | د ملاقات نه | (په) هغه ورځ | چه دوی به | ښکاره وی | نه به وی پټ

د ملاقات دهغے ورځے نه خلق اویروی په کومه ورځ به چه ټول (د قبرونو نه) بهر راوځی د هغوی هیڅ یو

عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ؕ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ؕ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ

په الله باندے | د دوی نه | هیڅ یو شیز | دچا | بادشاهی ده | نن ورځ؟ | خاص دالله | چه ایک یو

شیز به دالله نه پټ نه وی (او به ویلی شی چه) نن دچا بادشاهی ده؟ (جواب کښ به اووایی شی چه) صرف دهغه الله

الْقَهَّارِ ۝ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ؕ

دپیر زور ور دے | نن ورځ به | بدله ورکړے شی | هر یو | کس ته | دهغه څه | چه هغه کړی دی

چه ایک یو (او) زورور (غالب) دے. نن ورځ به هر یو کس ته د خپلو کړو (عملونو) بدله ملاویږی

لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝ وَاَنْذِرْهُمْ

نه به وی هیڅ ظلم | نن ورځ | بیشکه | الله | زر اخستونکے | د حساب دے | او اویروه (دوی)

نن به هیڅ ظلم نه کیږی یقیناً الله دیر زر حساب اخستونکے دے. او (اے نبیؐ!) دا خلق دیو دا سے

يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كٰظِمِيْنَ ؕ

د (هغه) ورځے | نزدے راتلونکے نه | کله به چه | زړونه | د مړو سره وی | غمژن به وی

دمصیبت دورځے نه اویروه (خبردار کړه) چه هغه نزدے راتلونکے ده چه زړونه به د غم دوجے غټو مړوته راشی

مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ ۝ يَعْلَمُ

نه به وی دظالمانو دپاره | هیڅ څوک | دوست کرم | اونه څوک سفارشی | چه خبره ئے اومنلے شی | پوهیږی هغه (الله)

د ظالمانو به نه څوک (همدرد) دوست وی او نه څوک سفارشی چه خبره ئے اومنلے شی. الله تعالی

خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿١٩﴾ وَاللّٰهُ يَقْضِيْ

په خیانت | د سترګو | اوپه هغه څه | چه پټوی ئے | سینے | او الله | فیصله کوی

د سترګو په غلا او د سینو په پټو رازونو ښه پوهیږی او الله حقه فیصله کوی

بِالْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ؕ

په حقه سره | او هغه کسان | چه دوی ئے رابلی | سوا دهغه نه | هغوی فیصله نشی کولے | دهیڅ یو څیز

او کوم معبودان چه دوی د الله نه سوا رابلی هغوی د هیڅ یو څیز فیصله نشی کولے

ع ۲ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٢٠﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

بیشکه | الله | دے | ښه اوریدونکے | (هرڅه) لیدونکے | آیا دوی نه دی ګرځیدلی | په زمکه کښ

یقیناً هم الله هرڅه اوریدونکے دے (او) هرڅه وینی. آیا دا خلق په زمکه کښ ګرځیدلی نه دی

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

چه اوګوری | چه څنګه | شو | انجام | دهغه کسانو | چه وو | مخکښ د دوی نه

چه ګتلی ئے وے چه کوم خلق د دوی نه مخکښ وو د هغوی انجام څنګه شو؟

كَانُوْا هُمْ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ

وو | هغوی | زیات سخت | د دوی نه | په طاقت کښ | او په ږیرونخښووالاوو | په زمکه کښ

هغوی په طاقت کښ او په زمکه کښ دآبادو په نخښو جوړولو کښ د دوی نه زیات (مضبوط) وو

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

پس راونیول هغوی | الله | په (وجه د) ګناهونو د هغوی | او نه وو | د هغوی دپاره | د الله نه

نو بیا الله هغوی د خپلو جرمونو په وجه راونیول او هغوی لره د الله نه بچ کوونکے

مِنْ وَّاقٍ ﴿٢١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

هیڅ څوک بچ کوونکے | دا (څکه) | چه بیشکه هغوی | وو | راتلل به هغوی ته | پیغمبران | خپل | په ښکاره دلیلونو سره

هیڅ څوک (هم) نه وو۔ دا څکه چه هغوی ته به خپل پیغمبران په ښکاره دلیلونو سره راتلل

فَكَفَرُوْا فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢٢﴾

نو انکار یه کولو هغوی | پس راوبه نیول هغوی لره | الله | بیشکه هغه | ډیر قوت والا | سخت | عذاب ورکوونکے دے

او هغوی به ترے انکار کولو نو بس (څکه به) الله راونیول یقیناً هغه لوے قوت والا سخت عذاب ورکوونکے دے

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٣﴾ لا اِلٰى فِرْعَوْنَ

او یقیناً | مونږ لیږلے وو | موسیٰ | په خپلو آیتونو | او دلیل | ښکاره سره | فرعون

او یقیناً مونږ موسیٰ د خپلو نخښو او د واضح دلیل سره فرعون،

وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ

او هامان | او قارون ته | پس اوویل هغوی | (دا) جادوګر دے | ډیر دروغژن | پس هرکله | چه راڅرګنده شوه دوی ته

هامان او قارون ته لیږلے وو نو هغوی اوویل چه دا ډیر (لوے) دروغژن جادوګر دے۔ بیا کله چه هغه دوی ته

بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

حق لره | زمونږ د طرف نه | (نو) اووېل دوی | اووژئ | ځامن | د هغه کسانو | چه ایمان ځړاوړے دے

زمونږ د طرف نه د حق سره راغے نو هغوی اووېل چه کومو خلقو چه د ده سره ایمان راوړے دے

مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ؕ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا

هغه سره | اوژوندئ پریږدئ | زنانه د هغوی | اونه وو | تدبیر | د کافرانو | مکر

هغوی اووژئ او ښځے (لونړه) ئے ژوندئ پریږدئ او د کافرانو منصوبے په خلاف د موسیٰ کښ بے اثره لاړے.

فِيْ ضَلٰلٍ ۝ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ

په بربادئ کښ | او اووېل | فرعون | پریږدئ ما | (چه) زه اووژنم | موسیٰ | اوهغه دے راوبلی

او فرعون اووېل ما پریږدئ چه موسیٰ اووژنم او هغه دے (بیا) خپل رب راوبلی

رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ

رب خپل | بیشکه زه | یَرَیږم | چه دے (په) بدل کړی | دین ستاسو | یا داچه ښکاره به کړی

ما سره دا یَرَه ده چه دے به ستاسو دین بدل کړی یا به په زمکه کښ

فِي الْاَرْضِ الْفَسَادَ ۝ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ

په زمکه کښ | فساد | او اووېل | موسیٰ | بیشکه زه | پناه غواړم | په رب خپل

فساد خور کړی او موسیٰ اووېل زه د هر متکبر نه چه د حساب په ورځ ایمان نه لری د خپل رب

وَرَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ۝ ع وَقَالَ

او په ربهستاسو سره | د هر | تکبر کوونکی نه | چه ایمان نه راوړی | په ورځ | د حساب | او اووېل

او ستاسو د رب پناه غواړم او د فرعون د کورنئ نه یو کس چه (په ابتداء کښ ئے د دعوت د مصلحت په خاطر)

رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ

یو سړی | مومن (ایماندار) | د کورنئ | د فرعون نه | چه پټولو ئے | ایمان خپل | آیا تاسو وژنئ

خپل ایمان پټ کړے وو اووېل چه آیا تاسو دا سړے صرف په دے وجه وژنئ

رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

سړے | په دے خبره چه وائی | رب زما | الله دے | او یقیناً | هغه راغلے دے تاسو ته | په ښکاره دلیلونو سره

چه دے وائی چه زما رب الله دے؟ حالانکه هغه تاسو ته ښکاره دلیلونو (نخښو) سره راغلے دے

مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ

د طرفه د رب ستاسو نه | او که چرے | وی هغه | دروغژن | نو په هغه باندے وبال دے | د خپلو دروغو | او که چرے

او که چرے هغه دروغژن وی نو د هغه د دروغو نقصان به هم هغه ته رسی او که چرے

يَّكُ صَادِقًا يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ

وی هغه | رښتنے | نو اوبه رسیږی تاسو ته | بعضے | هغه عذاب | چه هغه ځوعده کوی تاسو سره | بیشکه

رښتنے وی نو د کوم عذاب چه تاسو سره وعده کوی د هغے څه حصه به تاسو ته اورسیږی

اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ

الله | سمه لار نه ښائی | هغه چاته | چه هغه وی | د حد نه اوړیدونکے | ډیر دروغژن | اے زما قومه! | ستاسو

یقیناً الله تعالیٰ دا سے کس ته هدایت نه کوی چه د حد نه اوړیدونکے (او) غټ دروغژن وی اے زما قومه!

الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۡ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا

بادشاهی ده | نن ورځ | زورور یئ | په زمکه کښ | پس څوک به | مدد او کړی زمونږ سره

نن ستاسو دا سے بادشاهی ده چه په ملک کښ غالب یئ لیکن که د الله عذاب

مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَآءَنَا ؕ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ اُرِيْكُمْ

د عذاب | د الله نه | که چرے | راشی هغه مونږ ته | اوویل | فرعون | زه نه ښایم تاسو ته

په مونږ باندے راغے نو بیا به مونږ څوک بچ کوی؟ فرعون اوویل زه تاسو ته هم هغه رائے درکوم

اِلَّا مَآ اَرٰى وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ

مګر | هغه | چه رائے ده زما | او زه نه ښایم تاسو ته | مګر | لار | د کامیابئ | او اوویل

کومه چه زه صحیح ګڼم او زه تاسو ته هم هغه لار ښایم چه هغے کښ مصلحت او هدایت دے او هغه

الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ مِّثْلَ يَوْمِ

هغه کس | چه ایمان ځړاوړے وو | اے زما قومه! | بیشکه زه | یریږم | په تاسو باندے | پشان | د ورځے

مومن کس اوویل اے زما قومه ازه په تاسو یریږم چه هسے نه چه هغه شان د ورځے هلاکت په تاسو راشی څنګه چه د پیغمبرانو په مقابله

الْاَحْزَابِ ۙ﴿۳۰﴾ مِثْلَ دَاْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ وَالَّذِيْنَ

د ډله بازی کوونکو | پشان | د حالت | د قوم | د نوح | او د عاد | او د ثمود | او د هغه کسانو

کښ په ډله بازی کوونکو ولو باندے راغلے وے یعنی ستاسو حال هغه شان نه شی څنګه حال چه د نوح د قوم د عاد د قوم او د ثمود د قوم

مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿۳۱﴾ وَيٰقَوْمِ

چه د دوی نه وروسته وو | اونه دے | الله | چه اراده کوی | د ظلم کولو | په بندګانو باندے | او اے زما قومه!

او د هغوی نه د وروسته خلقو شوے وو او الله تعالیٰ په خپلو بندګانو ظلم کول نه غواړی. او اے زما قومه!

اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ۙ﴿۳۲﴾ يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ

بیشکه زه | یریږم | په تاسو | د ورځ | د چغے وهلو نه | هغه ورځ | چه اوبه تحقیق تاسو | ها کوونکی

زه په تاسو د قیامت د هغے د ورځے نه یریږم چه په هغے کښ به چغے سورے وی په کومه ورځ به چه تاسو په شا تحقیق

مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

نه به وی | ستاسو د پاره | د الله نه | هیڅ څوک بچ کوونکے | او هغه څوک | چه ګمراه (ے) کړی | الله

هیڅ څوک به مو د الله نه بچ کوونکے نه وی او چه الله تعالیٰ څوک ګمراه کړی

فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ

پس نشته | د هغه د پاره | هیڅ لاره ښودونکی | او یقیناً | راغلے وو تاسو ته | یُوسفؑ | مخکښے د دے نه

نو هغه ته هیڅ څوک هدایت نشی کولے. او حقیقت دا دے چه دے نه مخکښے تاسو ته یوسفؑ

بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰٓى

په بنکاره دلیلونو سره | او هیمشه وئ تاسو | په شک کښ | دهغه څه نه | چه هغه راغلے وو تاسو ته | په هغے سره | تر دے

په بنکاره دلیلونو سره راغلے وو او باوجود دے تاسو دهغه په راوړو خبرو کښ په شک کښ اخته وئ تر دے

اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ

چه کله | مړ شو هغه | (نو) اووئیل تاسو | چه هیڅ کله به راوڼه لیږی | الله | وروستو د هغه نه | بل پیغمبر

چه کله هغه وفات شو نو تاسو اووئیل چه دهغه نه پس به الله تعالی اوس بل پیغمبر راوڼه لیږی

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ۟ۙ الَّذِيْنَ

دغه شان | گمراه کوی | الله | هغه څوک | چه وی هغه | د حد نه اوړیدونکے | شک کوونکے | هغه کسان

دغه شان الله تعالی هغه خلق گمراه کوی چه د حد نه اوړی (او) شک کوی

يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ

چه جګړه کوی | په آیتونو | د الله کښ | بغیر | د څه دلیل نه | چه راغلے وی دوی ته | ډیره

چه د یو واضح دلیل نه بغیر د الله تعالی په آیتونو کښ جګړے کوی

مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ

د غصے (خبرې) ده | په نزد | د الله | او په نزد | د هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے دے | دغه شان | مهر لګوی

دا د الله تعالی او د مومنانو په نزد ډیره د نفرت (غصے) خبره ده دغه شان

اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ۝ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ

الله | په ټول | زړۀ | د تکبر کوونکی | سرکشه باندے | او اووئیل | فرعون | اے هامانه

الله تعالی د هر متکبر او سرکش په زړه مهر لګوی او فرعون (خپل وزیر ته) اووئیل چه اے هامانه!

ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ۝ اَسْبَابَ

جوړه کړه | زما د پاره | یوه بنګله | (دے د پاره) چه زه | اورسم | دروازو ته | دروازو

زما د پاره یو لوئ عمارت (محل) جوړ کړه چه زه هغه لارو ته اورسم چه هغه د آسمان لارے دی

السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ

د آسمانونو ته | چه ورښکاره شم | خدائے | د موسیٰ ته | او بیشکه زۀ | خامخا گمان کوم په دې باندے

بیا د موسیٰ خدائ اووینم او یقین او کړئ چه زه دا موسیٰ دروغژن کښ ګڼم

كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ

د دروغژن | او دغه شان | ښائسته کړے شوے وو | فرعون ته | بد | د عمل خپل | او منع کړے شوے وو

او دغه شان فرعون ته دهغه بد عمل ښائسته کړے شوے وو او د سمے لارے نه

عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ۝ وَقَالَ ع

د (سمے) لارے نه | او نه وو چل وَل | د فرعون | مګر | په تباهئ کښ | او اووئیل

بند کړے شوے وو او د فرعون تدبیر خو بیکاره وو (برباد وو)۔ او هغه مومن کس اووئیل

الَّذِیْٓ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِیْلَ

هغه کس | چه ایمان ـ ړاوړے وو | اے زما قومه! | خبره اومنئ زما | زه به اوښایم تاسوته | لار

اے زما قومه! زما خبره اومنئ زهٔ به تاسو ته سمه لار اوښایم

الرَّشَادِ ۝ یٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا مَتَاعٌ ۫ وَّاِنَّ

د کامیابئ | اے زما قومه! | بیشکه | دا | ژوند | دُنیوی | (معمولی) فائده ده | او بیشکه

اے زما قومه! دا د دنیا ژوند (خو د څو ورځو) مزے دی او تاسو یقین اوکړئ

الْاٰخِرَةَ هِیَ دَارُ الْقَرَارِ ۝ مَنْ عَمِلَ سَیِّئَةً فَلَا یُجْزٰٓی

آخرت | هم هغه دے | کور | دآرام (همیشه) | چا چه | عمل اوکړو | بد | نو بدله به نشی ورکولے هغه ته

چه هم آخرت د اوسیدو اصل ځائے دے۔ چا چه بد عمل کړے وی هغه ته به هم دهغے برابر

اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰی وَهُوَ

مګر | پشان دهغے | اوچا چه | عمل اوکړو | نیک | د نارینو نه | یا د زنانو نه | او هغه

بدله ملاویږی او چا چه نیک عمل کړے وی نارینه وی که زنانه (خو) په دے شرط

مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ یُرْزَقُوْنَ فِیْهَا بِغَیْرِ

مومن وی | نو هم دغه خلق به | داخلیږی | جنت ته | رزق به ورکولی شی دوی ته | په هغے کښ | بغیر

چه مومن موحد وی نو هم دغه خلق به جنت ته داخلیږی (او) هلته به ورته بے حسابه رزق ورکولے شی۔

حِسَابٍ ۝ وَیٰقَوْمِ مَا لِیْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَی النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِیْٓ

د حساب نه | اواے زما قومه! | څه وجه ده ما لره | چه زه رابلم تاسو | خلاصی ته | او تاسو بلئ ما لره

او اے زما قومه! دا لاځنکه خبره ده چه زهٔ تاسو د نجات طرف ته رابلم او تاسو ما اور ته رابلئ؟

اِلَی النَّارِ ۝ تَدْعُوْنَنِیْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشْرِكَ بِهٖ مَا

اور ته | تاسو بلئ ما لره | دیته چه زه کفر اوکړم | په الله | او شریک کړم | دهغه سره | هغه څه

تاسو ما دے (خبرے) ته رابلئ چه زه دے (هم) دالله نه انکار اوکړم او دهغه سره دے داسے څیزونه شریک کړم

لَیْسَ لِیْ بِهٖ عِلْمٌ ۫ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ اِلَی الْعَزِیْزِ الْغَفَّارِ ۝

چه نشته | زما سره | په هغے باندے | هیڅ علم | او زه | رابلم تاسو | زور ور (غالب) | او ډیر بخښونکی (ذات) ته

چه زما سره پرے هیڅ علم (دلیل) نشته او زهٔ تاسو یو زور ور (غالب) (او) ډیر بخښونکی ذات طرف ته رابلم۔

لَا جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِیْٓ اِلَیْهِ لَیْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ

خامخا | بیشکه هغه څه | چه تاسو رابلئ ما | هغے ته | نشته | دهغه دپاره | هیڅ حق بلنه

رشتیا خبره خو داده تاسو چه ما د چا طرف ته رابلئ هغه نه په دنیا کښ د بلنے لائق دے

فِی الدُّنْیَا وَلَا فِی الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ مَرَدَّنَآ اِلَی اللّٰهِ وَاَنَّ

په دنیا کښ | او نه | په آخرت کښ | او بیشکه | واپسی زمونږ | الله ته ده | او بیشکه

او نه په آخرت کښ او دا هم حقیقت دے چه زمونږ د ټولو واپسی به الله ته کیږی او دا (هم حقیقت دے)

الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ﴿۴۳﴾ فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ

د حد نه تیرو تولنکی | هم هغوی دی | اور والا | پس ډیر زر به تاسو یادوئ | هغه څه | چه زه ئے وایم

چه د حد نه پوره اوړیدونکی خلق دوزخیان دی۔ پس ډیر زر به تاسو زما خبرو پسے ارمان او کړئ

لَكُمْ ؕ وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾

تاسو ته | اوزهٔ سپارم | کار خپل | الله ته | بیشکه | الله | لیدونکے دے | بندګانو لره

او زه خپل کار الله ته سپارم یقیناً الله تعالیٰ ټول بندګان ښه ږیني

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ

پس بچ اوساتلو هغه لره | الله | د آفتونو | د هغه څه نه | چه هغوی ئے تدبیر کړے وو | او راګیر کړل | فرعونیانو لره

نتیجه دا شوه چه الله تعالیٰ دهٔ لره د هغوی د مکرونو (تدبیرونو) نه بچ اوساتلو او فرعونیان ئے په

سُوْٓءُ الْعَذَابِ ۚ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ

ناکاره | عذاب | اور | پیش کولے شی دوی | په هغے باندے | سحر | او ماښام

سخت (بد) ترین عذاب راګیر کړل۔ اور (دے) چه سحر او ماښام ورته دوی پیش کولے شی

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۫ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ

او په هغه ورځ | چه قائم به شی | قیامت | داخل کړئ | فرعونیان | ډیر سخت

او په کومه ورځ چه قیامت راشی (نو اوبه ویلے شی چه) فرعونیان سخت ترین عذاب کښ داخل کړئ

الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِى النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا

عذاب ته | او کله چه | دوی به جګړے کوی | په اور کښ | نو وائی به | کمزوری

او کله به چه دوی په دوزخ کښ خپل مینځ کښ جګړه کوی نو هغه کمزوری خلق به هغه چا ته اووائی

لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ

هغه کسانو ته | چه لوئی ئے کړے وه | بیشکه | مونږ وو | ستاسو | تابعدار | نو آیا | یئ تاسو

چه څان ئے لوئی ګڼلے وو چه مونږ خو تاسو پسے روان وو نو آیا تاسو زمونږ نه د عذاب د اور نه

مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ﴿۴۶﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

لرے کوونکی | زمونږ | څهٔ حصه | د اور نه | اوبه وائی | هغه کسان | چه لوئی ئے کړے وه

څه حصه لرے کولے شئ ؟ نو مشران به ورته اووائی چه (اوس خو به)

اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ ۙ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿۴۷﴾

بیشکه مونږ | ټول یو | په دے کښ | بیشکه | الله | یقیناً | فیصله کړے ده | په مینځ | د بندګانو کښ

مونږ ټول په دے دوزخ کښ پراته یو الله تعالیٰ د ټولو بندګانو په مینځ کښ (قطعی) فیصله کړے ده.

وَقَالَ الَّذِيْنَ فِى النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ

او اوبه وائی | هغه کسان | چه په اور کښ به وی | څوکیدارانو | د جهنم ته | چه دعا اوغواړئ | د خپل رب نه

او هغه څوک چه په دوزخ کښ به پراته وی هغوی به د دوزخ څوکیدارانو ته اووائی چه د خپل پروردګار نه دعا وغواړئ

يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ۝ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ

چه کم کړی | زمونږ نه | یوه ورځ | څه عذاب | اوبه وائی هغوی | آیا نه وو راغلی تاسو ته

چه زمونږ نه یوه ورځ لږ غوندی مے عذاب کم کړی هغوی به ورته اووائی چه ولے (آیا) تاسو ته ستاسو پیغمبران

رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ قَالُوْا بَلٰى ؕ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ

پیغمبران ستاسو | په ښکاره دلیلونو سره | اوبه وائی هغوی | ولے نه | اوبه وائی (ورته) هغوی | پس (نو) راوبلئ

په ښکاره دلیلونو (نخښو) سره نه وو راغلی؟ هغوی به اووائی چه ولے نه (راغلی وو) نو ملائک به ورته اووائی بیا خو

وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝ اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا ع

اونه ده | دُعا | د کافرانو | مګر | په ګمراهئ کښ | بیشکه مونږ به | خامخا مدد کوو | د پیغمبرانو خپلو

بس هم تاسو دعاء اوغواړئ او د کافرانو دعاء به (په هغه ورځ) بیکاره وی یقین او کړئ چه مونږ د خپلو پیغمبرانو

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ

او هغه کسانو | چه ایمان ځړاوړے دے | په ژوند | دُنیوی کښ | او په هغه ورځ | چه اوبه دریږی

او د مومنانو د دنیا په ژوند کښ هم مدد کوو او په هغه ورځ (به ځُهم کوو) کله به چه ګواهان (ګواهئ دپاره) اودریږی

الْاَشْهَادُ ۝ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ

ګواهان | په هغه ورځ | چه فائده به نه ورکوی | ظالمانو ته | عذرونه د دوی | او د دوی دپاره

په دغه ورځ به ظالمانو ته د هغوی عذرونه (پیش کول) هیڅ فائده ورنه کړی او د هغوی دپاره به

اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى

لعنت دے | او د دوی دپاره | (ډیر) بد | کور دے | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | هدایت

لعنت او ډیر بد کور دوی او مونږ موسیٰ ته هدایت ورکړے وو

وَاَوْرَثْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ۝ هُدًى وَّذِكْرٰى

او وارثان کړی وو مونږ | بنی اسرائیل | د کتاب | چه هدایت | او نصیحت وو

او بنی اسرائیل مود (هغه) کتاب وارثان جوړ کړی وو چه هغه د عقل مندو خلقو دپاره هدایت او نصیحت وو

لِاُولِي الْاَلْبَابِ ۝ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ

دپاره د عقل مندو | پس صبر کوه | بیشکه | وعده | د الله | رښتنے ده | او بخښنه غواړه

نو (اے نبیؐ!) د صبر نه کار واخله یقین او کړه چه د الله وعده رښتنے ده او د خپل قصور معافئ غواړه

لِذَنْۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ۝ اِنَّ

د خطائے خپلے | او پاکی وایه | سره د ستائنے | د رب خپل | بیګا | او صبا | بیشکه

او صبا او بیګاه د خپل رب د حمد سره دهغه تسبیح وایه۔ یقین او کړئ

الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ

هغه کسان | چه جګړے کوی | په آیتونو | د الله کښ | بغیر | د څه دلیل نه | چه راغلے وی دوی ته

چه کوم خلق بغیر د دلیل (سند) نه د الله تعالیٰ په آیتونو کښ جګړے کوی

اِنْ فِیْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِیْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ

نشته | په سینو د هغوی کښ | مګر | لوئی | چه نه دی دوی | رسیدونکی هغے ته | پس پناه غواړه

دهغوی په زړونو کښ دَحق دَمغلوب کولو یو لوے مقصد دے خو په دغه مقصد کښ دوی هیڅ کله کامیابیدے نه شی

بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ ۝۵۶ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ

په الله سره | بیشکه | هم هغه دے | ښه اوریدونکے | ښه لیدونکے | خامخا پیدا کول | د آسمانونو

نوتهٔ د الله پناه غواړه یقیناً هغه هر څه اوریدونکے هر څه لیدونکے دے یقینی خبره ده چه د آسمانونو

وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

او د زمکے | ډیر لوے دی | د پیدا کولو | د انسانانو نه | لیکن | اکثر | خلق

او د زمکے پیدایش د خلقو د پیدا کولو نه ډیر لوے کار دے لیکن اکثر خلق (په دومره خبره هم)

لَا یَعْلَمُوْنَ ۝۵۷ وَمَا یَسْتَوِی الْاَعْمٰی وَالْبَصِیْرُ ۙ۬ وَالَّذِیْنَ

نه پوهیږی | او نه دی برابر | ړوند | او بینا | او هغه کسان

نه پوهیږی او ړوند او بینا برابر نه دی او نه هغه خلق چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِیْٓءُ ؕ قَلِیْلًا

چه ایمان ئے راوړے دے | او عمل کوی | نیک | او نه بدی کوونکی | ډیر لږ

ایمان ئے راوړے دے او نیک عملونه کوی او بدکار برابر کیدے شی لیکن ډیر لږ خلق

مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝۵۸ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِیَةٌ لَّا رَیْبَ فِیْهَا

تاسو نصیحت اخلئ | بیشکه | قیامت | خامخا راتلونکے دے | هیڅ شک نشته | په هغے کښ

نصیحت اخلی۔ یقین او کړئ چه قیامت ضرور راتلونکے دے هیڅ شک پکښ نشته

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یُؤْمِنُوْنَ ۝۵۹ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِیْٓ

لیکن | اکثر | خلق | ایمان نه راوړی | او ویلی دی | رب ستاسو | ما بلئ

لیکن اکثر خلق ایمان نه راوړی او ستاسو رب ویلی دی چه زمانه دعاء غواړئ

اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِیْنَ یَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِیْ

زه به قبلوم | (دعاګانے) ستاسو | بیشکه | هغه کسان | چه ځان لوئی کړی | زما د عبادت نه

زهٔ به ستاسو (دعاګانے) قبلوم یقیناً کوم خلق چه زما د عبادت نه ځان لوئی کړی

سَیَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِیْنَ ۝۶۰ اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ ع

زرده چه داخل به شی | جهنم ته | ذلیله | الله | هغه (ذات) دے | چه جوړه کړے ئے ده | ستاسو د پاره

ډیر زر به هغوی ذلیل او خوار جهنم ته داخل شی. الله هغه ذات دے چه ستاسو د پاره ئے شپه جوړه کړے ده

الَّیْلَ لِتَسْكُنُوْا فِیْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ

شپه | چه تاسو آرام او کړئ | په هغے کښ | او ورځ | روښانه | بیشکه | الله | خامخا فضل والا دے

چه تاسو پکښ آرام او کړئ او ورځ ئے روښانه (رڼا والا) پیدا کړے ده حقیقت دا دے چه الله تعالی په خلقو

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۱﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

په خلقو باندے | لیکن | اکثر | خلق | شکر نه اوباسی | دغه | الله

فضل کوؤنکے دے لیکن اکثر خلق شکر نه اوباسي هم دا الله ستاسو رب دے

رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى

رب ستاسو دے | پیدا کوؤنکے | دهر یو | څیزدے | نشته | لائق دعبادت | مګر | هغه | پس کوم خوا

دهر څیز پیدا کوؤنکے دے دهغه نه سوا بل هیڅ څوک دعبادت لائق نشته نو بیا تاسو کوم خوا دَ حق نه

تُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۲﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

تاسو اړولی شئ | دغه شان | اړولی کیدل | هغه کسان | چه هغوی وو | چه د آیتونو | د الله نه ئ

اړولی روان یئ؟ دغه شان هغه خلق هم اړولی روان وو چه د الله تعالی د آیتونو نه به ئ انکار کولو

يَجْحَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا

انکار کولو | الله | هغه (ذات) دے | چه هغۀ جوړه کړے ده | ستاسو دپاره | زمکه | ځائے داستوګنے

الله تعالی هغه ذات دے چه زمکه ئے د قرار ځائے جوړ کړے دے

وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ

او آسمان | چت | اوصورتونه ئے درکړی دی تاسوته | نو بنائسته کړی ئے دی | صورتونه ستاسو

او آسمان ئے چت (جوړ کړے دے) او تاسو له ئے شکلونه درکړی دی او ستاسو شکلونه ئے ډیر بنائسته جوړ کړی دی

وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ

اورزق ئے درکړے دے تاسوته | دپاکیزه (څیزونو) نه | دغه | الله | رب ستاسو دے

او پاکیزه رزق ئے درکړے دے هم دا الله ستاسو رب دے

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾ هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ

پس ډیر برکت والا دے | الله | چه رب | دمخلوقاتو دے | هغه | (همیشه) ژوندے دے | نشته | حاجت پوره کوؤنکے

پس لوے برکت والا دے هغه الله چه دمخلوقاتو رب دے. هم هغه (همیشه) ژوندے دے دهغه نه سوا بل هیڅوک

اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

سوا | دهغه نه | پس رابلئ هغه | (چه) خالص کوؤنکی (یئ) | هغۀ لره | بلکنه | حمدونه دی | د الله دپاره

دبلنے لائق نشته نو تاسو (هم) هغه دا سے رابلئ چه ستاسو بلنه خالص دهغه دپاره وی حمدونه دی هغه الله لره

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ

چه رب | دمخلوقاتو دے | اووایه | (چه) بیشکه زه | منع کړے شوے یم | (ددے نه) چه | زه عبادت اوکړم | دهغه چا

چه رب العالمین دے (اے نبی اکافرانو ته) اووایه چه زه ددے خبرے نه منع کړے شوے یم چه کله ماته دخپل رب

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ مِنْ رَّبِّيْ

چه تاسو ئے رابلئ | سوا | د الله نه | هرکله | چه راغلی دی ماته | ښکاره دلیلونه | دخپل رب دطرف نه

دطرف نه ښکاره دلیلونه (نښې) راغلی دی نو بیا دے هم زه دهغه چا عبادت اوکړم چه تاسو ئے د الله نه سوا رابلئ

وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۶﴾ هُوَ الَّذِیْ

اوحکم شوے دے ماته | (دا) چه | زه تابعدار اوسم | د رب | د مخلوقاتو | هم الله هغه (ذات) دے

اوماته دا حکم شوے دے چه زهٔ دے رب العالمین ته سر تیټ کړم (غاړه کیږدم). (الله) هم هغه دے

خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ

چه تاسو ئے پیدا کړی یئ | د خاورے نه | بیا | د نطفے نه | بیا | دغوښے دیوے ټکړے نه

چه تاسو ئے د خاورے نه پیدا کړئ بیا ئے د نطفے نه بیا ئے دوینے دیوے ټکړے نه

ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ثُمَّ

بیا | هغه راوباسی تاسو | ماشومان | بیا | (تربیت کوی ستاسو) چه اوسی تاسو | طاقت خپل ته | بیا

بیا هغه تاسو د ماشوم په شکل کښ بهر راوباسی بیا (هغه ستاسو پرورش کوی) چه تاسو خپلے ځوانۍ

لِتَكُوْنُوْا شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ

بالآخر چه شئ تاسو | بوډاکان | او بعضے ستاسو نه | هغه دی | چه مړهٔ شی | مخکښے د دے نه

ته اورسیږئ او بیا بالآخر بوډاکان شئ او بعضے په تاسو کښ د دے نه مخکښے مړهٔ شی

وَلِتَبْلُغُوْٓا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ هُوَ الَّذِیْ

او(ساتی تاسو) چه اوسی تاسو | نیټے | مقرر ے ته | او دے دپاره چه تاسو | د عقل نه کار واخلئ | الله هغه (ذات) دے

اوساتی تاسو د دے دپاره چه تاسو یو مقرر ے نیټے ته اورسیږئ او چه تاسو د عقل نه کار واخلئ. (الله) هم هغه ذات دے

يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ فَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ

چه ژوندی کول کوی | او مړهٔ کول کوی | پس هر کله | چه فیصله او کړی | دیو کار | نو بیشکه | وائی | هغهٔ ته

چه ژوند ورکوی او مرګ ورکوی او کله چه دیو کار فیصله او کړی نو هغه ته صرف دومره او وائی

كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۶۸﴾ ع ۔ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ

چه شه | نو هغه اوشی | آیاتهٔ نه ګورے | هغه کسانو ته | چه جګړه کوی | په آیتونو

چه موجوده شه پس هغه موجود شی. آیا تا هغه خلق نه دی لیدلی چه د الله تعالیٰ په آیتونو کښ جګړے کوی

اللّٰهِ ؕ اَنّٰى يُصْرَفُوْنَ ﴿۶۹﴾ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ

د الله کښ | کوم طرف ته | اړولی شی دوی | هغه کسان | چه دروغ ے ګڼلے دے | کتاب | او هغه څه

دوی د حق نه څهٔ رنګ اړولی شی دا هغه خلق دی چه دا کتاب ئے هم دروغ ګڼلے دے او هغه کتابونه هم

اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۰﴾ اِذِ الْاَغْلٰلُ

چه مونږ اليږلی دی | په هغے (سره) | پیغمبران خپل | پس دیر زر به | دوی پوهه شی | کله چه | طوقونه

چه مونږ د (نورو) پیغمبرانو سره اليږلی وو پس دیر زر به دوی ته پته اولګی کله چه د دوی په څټونو کښ

فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلٰسِلُ ؕ يُسْحَبُوْنَ ﴿۷۱﴾ فِى الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ

دوی په څټونو کښ وی | او زنځیرونه | راخکل به شی دوی | په ګرمو اوبو کښ | بیا به

طوقونه واچولے شی اوپه خپو کښ به ئے زنځیرونه (پراتهٔ) وی ګرمو اوبو کښ به راخکل شی بیا به

فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ۝ ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ

په اور کښ | سوځول شی | بیابه | اوویل شی | دوی ته | (چه) چرته دی هغه څه | چه تاسو به

په اور کښ اوسو ځول شی بیا به ورته اوویل شی چرته دی د الله نه سوا (ستاسو) هغه (معبودان) چه تاسو به

تُشْرِكُوْنَ ۝ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ

شریکول | سوا | د الله نه | اوبه وائی دوی | (چه) ورک شوهغوی | زمونږ نه | (نه) بلکه

(د الله سره) شریک کنړل؟ اوبه وائی هغه ټول خو زمونږ نه ورک شول (نه) بلکه

لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ؕ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ

مونږ (خو) نه دی رابللی | مخکښے ددے نه | هیڅ یو شیز | دغه شان | گمراه کوی | الله

مونږ (خو) ددے نه مخکښے هیڅ یو شیز نه رابللو. دغه شان الله تعالیٰ کافران بے لارے کوی.

الْكٰفِرِيْنَ ۝ ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ

کافران | دا | ځکه چه | تاسو به | خوشحالی ښکاره کوله | په زمکه کښ

دا (سزا) ځکه ده چه تاسو به په زمکه کښ په ناحقه په ګناهونو خوشحالۍ ښکاره کوله

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ۝ اُدْخُلُوْۤا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

په ناحقه | او ځکه چه | تاسو به | لوټی کوله | داخل شئ | په دروازو | د جهنم

او (دا ځکه چه) تاسو به په زمکه کښ غرور او لوټی کوله (ځئ) د جهنم په دروازو دهمیشه اوسیدو د پاره داخل شئ

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝ فَاصْبِرْ

همیشه به یئ | په دے کښ | پس ډیر بد دے | ځائے د اوسیدو | د تکبر کوونکو | پس (نو) ته صبر کوه

(پس) هغه د تکبر کوونکو د پاره د اوسیدو ډیر بد (خراب) ځائے دے. نو (اے نبیؐ!) ته صبر کوه

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ

بیشکه | وعده | د الله | رښتنے ده | پس که چرے | مونږ اوښایُو تاته | بعضے | هغه (څه)

(او) یقین اوکړه چه د الله تعالیٰ وعده رښتنے ده اوس دے کافر انو سره چه مونږ د کوم عذاب وعده کوو که د هغے څه حصه

نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ۝ وَلَقَدْ

چه مونږ (ئے) وعده کوو ددوی سره | یا مونږ وفات کړوتا | نو خاص مونږ ته به | دوی واپس کولی شی | او یقیناً

مونږ تاته (ستا په ژوند کښ) اوښایو یا که تا وفات کړونو (په هر صورت) هم زمونږ طرف ته به دوی واپس راځی.

اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ

مونږ لیږلی دی | پیغمبران | مخکښے ستا نه | بعضے ددوی نه | هغه څوک دی | چه مونږ بیان کړی دی | تاته

او یقیناً مونږ ستا نه مخکښے ډیر پیغمبران لیږلی دی چه په هغوی کښ د بعضو واقعات مونږ تاته بیان کړی دی

وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ؕ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ

او بعضے ددوی نه | هغه دی | چه نه دی بیان کړی مونږ | تاته | او نه وو (اختیار) | د هیڅ یو پیغمبر

او د بعضو مونځ دی بیان کړی او هیڅ یو پیغمبر ته دا اختیار نشته چه د الله

اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ فَاِذَا جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ

چه هغه راوړی | یوه نخښه | مګر | په حکم | د الله | پس هرکله | چه راشی | حکم | د الله

د اجازت (حکم) نه بغیر څه معجزه راوړی (پیش کړی) بیا کله چه د الله حکم راشی

قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ ع

نو فیصله به لوکړے شی | په حقه سره | او تاوانیان به شی | دغه وخت کښ | باطل پرست | الله | هغه ذات دے

نو په حقه به فیصله اوشی او په دغه موقع به باطل پرست خلق ډیر تاوانیان شی. الله تعالی هغه ذات دے

جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا مِنْهَا وَمِنْهَا

چه پیدا کړی ئے دی | ستاسو د پاره | څاروی | چه تاسو سورلی کوئ | په بعضو دهغے | او بعضے دهغے نه

چه ستاسو د پاره ئے څاروی پیدا کړی دی چه په بعضو تاسو سورلی کوئ او بعضے خورئ

تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا عَلَيْهَا

تاسو خورئ | او ستاسو د پاره | په هغے کښ | فائدے دی | او (دے د پاره) چه ورسئ تاسو | په هغے باندے

او ستاسو د پاره په دے کښ نورے ډیرے فائدے دی او (یو فائده یکښ دا ده) چه ستاسو په زړونو

حَاجَةً فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿۸۰﴾

یو (داسے) حاجت ته | چه ستاسو په سینه کښ دے | او په هغے باندے | او په کشتو باندے | تاسو سورولی شئ

کښ (چرته د تلو) حاجت وی چه هغے ته پرے اوړے ئی او په دے او په کشتو باندے تاسو سواره کړئ

وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ۫ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ﴿۸۱﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

او بنائی هغه تاسو ته | نخښے خپلے | نو د کومو | نخښو | د الله نه | تاسو انکار کوئ | آیا نو دوی نه گرځی

او الله تعالی تاسو ته خپلے نخښے بنائی نو تاسو به د الله د کومے کومے نخښے نه انکار کوئ؟ آیا دوی په ځمکه کښ

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

په زمکه کښ | پس دوی اوګوری | (چه) څنګه | وو | انجام | د هغه خلقو

نه گرځی چه اوګوری چه د دوی نه مخکښے کوم خلق وو د هغوی انجام څنګه شو؟

مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا

چه مخکښے وو د دوی نه | هغوی وو | ډیر | د دوی نه | او زیات | قوت والا | او نخښو جوړولو والا

هغوی د دوی نه په تعداد کښ هم زیات وو او په طاقت کښ هم سخت وو او په زمکه کښ د عمارتونو په نخښو

فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَمَّا

په زمکه کښ | پس (عذاب) لرے نه کړو | د هغوی نه | هغه څه | چه هغوی به کول | پس هرکله

جوړولو کښ هم سخت وو خو (لیکن) بیا هم هغوی چه د څه کول هیڅ ئے پکار را نغلل او کله چه هغوی ته

جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ

چه را غلل هغوی ته | پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | نو خوشحاله شول | په هغه څه | چه د هغوی سره وو

خپل پیغمبران په ښکاره دلیلونو سره را غلل نو هغوی په خپل هغه علم باندے ناز (خوشحالی) شروع کړه

مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾

د علم نه | اوراکیږ کړل | دوی لره | هغه څه | چه وو دوی | چه په هغے پورے به ئے | ټوقے کولے

کوم چه هغوی سره وو او کوم څیز پورے چه ئے ټوقے (خندے) کولے هم هغے راکیږ کړل

فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ

پس هرکله | چه دوی اولیدلو | عذاب زمونږ | نو وئے ویل | (چه) مونږ ایمان راوړے دے | په الله | چه یَوَدے

بیا ئے چه کله زمونږ عذاب اولیدو نو دا ئے اوویل چه مونږ په ایک یو الله ایمان راوړو

وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ

اومونږ کفر کړے دے | په هغه څه | چه مونږ دهغه سره شریکان کړی وو | نو نه وه چه فائده ورکړے وے دوی ته

اودهغه څه مو انکار او کړو چه مونږ به دهغه سره شریکول. لیکن کله چه هغوی زمونږ عذاب اولیدو نو بیا

اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ

ایمان دَدوی | هرکله چه | دوی اولیدلو | عذاب زمونږ | دا دستور | دالله دے | هغه | چه تیر شوے دے

ایمان راوړلو هیڅ فائده ورنکړه د الله تعالیٰ هم دا معمول دے چه دهغه په بندګانو کښ (د پخوا نه)

فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ ع

| په بندګانو دهغهٔ کښ | او تاوانیان شول | په دغه وخت کښ | کافران |

جاری دے او په دغه موقع دَ کافرانو تاوان بیهٔ بیکاره شو۔

آیاتها [۵۴]	سورة حٰمٓ السّجدة مكّيّة	رکوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾ كِتٰبٌ فُصِّلَتْ

حٰمٓ | راالیږل (دے قرآن) | دطرفه دډیر مهربان | رحم کوونکی نه دی | (دا یو) کتاب دے | چه واضح کړے شوی دی

حامیم. دالکلام دهغه ذات دطرف نه راالیږلے کیږی چه هغه ډیر مهربان رحم کوونکے ذات دے دا دے کتاب دے چه آیتونه ئے

اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۚ

آیتونه ددے | قرآن دے | عربی ژبے والا | دپاره دهغه قوم | چه پوهیږی | زیږے ور کوونکے | او ویروونکے

بلکل واضح کړے شوی دی (او دا سے) قرآن (دے) چه په عربی ژبه کښ دے هغه خلقو دپاره چه پوهه لری (دا قرآن) زیږی

فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۴﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا

پس مخ واړولو | اکثر خلقو دوی نه | پس دوی | نه آوری | او وائی | (چه) زړونه زمونږ

ور کوونکے هم دے اویروونکے هم دے بیا هم اکثر خلق ددے نه مخ اړوی او آوری (ئے) نه او (پیغمبر ته) وائی چه ته

فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ

په پردو کښې دی | دهغه څه نه | چه ته رابلے مونږ | هغے ته | اوپه غوږونو زمونږ کښې | بوج دے

چه مونږ کوم څيز ته رابلے د هغے نه زمونږ زړونه په پردو کښې دی او زمونږ په غوږونو کښې بوج دے

وَّمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۝

او زمونږ په مينځ کښې | اوستا په مينځ کښې | پرده ده | پس ته (هم) عمل کوه | بيشکه مونږ (هم) | عمل کوونکي يو

او زمونږ او ستا په مينځ کښې يوه پرده (زوړ ندره) ده (نو) پس ته خپل کار کوه مونږ به خپل کار کوو

قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ

اووايه | بيشکه | زه (خو) | يو بنيادم يم | ستاسو غوندے | چه وحي کوے شي | ماته | چه بيشکه | معبود ستاسو

(اے نبيؐ اته ورته) اووايه چه زهٗ خو هم ستاسو پشان يو انسان (بشر) يم (البته) ماته داوحي کيږي چه

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ۭ وَوَيْلٌ

معبود دے | ايک يو | پس برابر (متوجه) شئ | هغه ته | اوبخښنه وغواړئ دهغه نه | او تباهي ده

ستاسو معبود ايک يودے نو هم هغه ته برابر متوجه شئ اوبخښنه ترے اوغواړئ او تباهي ده

لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ

د مشرکانو دپاره | هغه کسان | چه نه ورکوی | زکات | او هغوی | په آخرت نه باندے

دهغه مشرکانو دپاره چه زکات نه ورکوی او حال ئے دادے چه د آخرت نه (هم) منکر دی

هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

هم هغوی | کفر کوونکی دی | بيشکه | هغه کسان | چه ايمان ئے راوړے دے | اوعملونه ئے کړی دی | نيک

(البته) هغه چه ايمان راوړے دے او نيک عملونه ئے کړی دی

لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝ قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِيْ

دهغوی دپاره | بدله ده | نه ختميدونکے | اووايه | آيا تاسو | خامخا انکار کوئ | دهغه ذات نه

دهغوی دپاره يقيناً نه ختميدونکے اجر دے. (ته ورته) اووايه چه آيا تاسو (واقعی) په هغه ذات کفر کوئ

خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ۭ

چه پيدا کړے ئے دے | زمکه | په دوه ورځو کښې | اوجوړوئ تاسو | هغه لره | شريکان

چه هغه زمکه په دوه ورځو کښې پيدا کړه او تاسو دهغه سره (نور) شريکان جوړوئ

ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا

دا دے | رب | دمخلوقاتو | اوجوړ کړی دی هغه | په دے کښې | غرونه | دپاسه ددے

هم دغه ذات (خو) دټولو مخلوقاتو پروردګار دے. اوهغه په زمکه کښې ددے دپاسه مضبوط غرونه پيدا کړل

وَبٰرَكَ فِيْهَا وَقَدَّرَ فِيْهَآ اَقْوَاتَهَا فِيْٓ اَرْبَعَةِ

اوبرکت ئے اچولے دے | په دے کښې | اومقرر کړی ئے دی | په دے کښې | خوراکونه ددے | په څلورو

اوبرکت ئے کښې واچولو اوپه توازن (په اندازه) سره ئے کښې غذاګانے پيدا کړے اوداټول کارونه ئے په اندازه د څلورو

اَيَّامٍ ؕ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝ ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ

ورځو کښې | برابر دي | دپاره د تپوس کوونکو | بيا | برابر شو (قصد ئې وکړو) | آسمان ته | اوهغه

ورځو کښې او کړل اودا تفصيل دتولو تپوس کوونکو دپاره يو برابر (دے) بيا هغه (الله) آسمان (طرف) ته متوجه شو (چه

دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ؕ

لوګے وو | پس وئې ويل | هغۀ ته | او زمکے ته | (چه) راشئ دواړه | په خوښه | يا په ناخوښه

په هغه وخت کښې) هغه لوګے وو او آسمان ته او زمکے ته ئې اوويل دواړه راشئ په رضا يا په زور

قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ۝ فَقَضٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ

اوويل هغے دواړو | (چه) مونږ راغلو | په خوښه | بيا پوره کړل الله هغوی لره | اوه | آسمانونه

هغے دواړو اوويل مونږ په رضا (خوشحالئ) راځو۔ بيا الله په دوه ورځو کښې اوه آسمانونه جوړ کړل

فِيْ يَوْمَيْنِ وَاَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا ؕ وَزَيَّنَّا

په دوه ورځو کښې | اوحکم ئې اوکړو | په هر يو | آسمان کښې | د کار دهغے | اومونږ ښائسته کړے دے

او هر آسمان ته ئې د هغے (مناسب) حکم (کار) اوليږلو او مونږ دا نزدے آسمان په ديوو سره

السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ ۖ وَحِفْظًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ

آسمان | دنيوی | په ديوو سره | او (حفاظت مو کړے دے هغے په حفاظت سره | دا | تدبير (تقدير) | د ډير زور ور

ښائسته کړے دے او (د شيطانانو نه) مو محفوظ کړے دے دا د هغه ذات (مقرر شوے) اندازه ده چه هغه ډير زور ور

الْعَلِيْمِ ۝ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ

اوډير پوهه (ذات) دے | پس که چرے | مخ واړوی دوی | نو اووايه | چه زه يرومرتاسو | ډيوسخت عذاب نه | پشان

ډير پوهه دے بيا (هم) که دوی مخ اوګرځولو نو ورته اووايه چه زه ګورے تاسو ديو داسے سخت عذاب نه خبرووم

صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ ۝ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ

دسخت عذاب | د عاد | او د ثمود | کله چه | راغلل هغوی ته | پيغمبران | د هغوی د وړاندے نه

لکه څنګه سخت عذاب چه په عاد او ثمود راغلے وو کله چه هغوی ته د وړاندے وروستو نه پيغمبران راغلل

وَمِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ

او د هغوی د وروستو نه | چه عبادت مه کوئ | سوا | د الله نه (دبل چا) | اوويل هغوی | که چرے | غوښتلے

چه د الله نه سوا د بل چا عبادت مه کوئ۔ هغوی اوويل چه که زمونږ رب غوښتلے

رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ

رب زمونږ | نو خامخا به ئې راکوزے کړے وے | ملائکے | پس بيشکه مونږ | په هغه څه | چه تاسو پرے راليږلی شوی ئ

نو ملائک به ئې راليږلی وے پس تاسو چه د کوم پيغام سره راليږلی شوی ئ

بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝ فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ

په هغے | کفر کوونکی يئ | پس هر چه | عاديان وو | نو څان لوئ اوګڼلو هغوی | په زمکه کښې

مونږ د هغے نه انکار کوو بيا د عاد قوم چه وو نو هغوی خو په ناحقه په زمکه کښې

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمْ يَرَوْا

په ناحقه | اووے ویل | څوک دی | زیات (سخت) | زمونږنه | په قوت کښ | آیا دوی نه کتل

څان لوئی اوکنړلو اووے ویل چه څوک دی چه زمونږنه زیات طاقت والا وی؟ آیا دوی دیته نه کتل

اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ

چه بیشکه | الله | هغه ذات دے | چه پیدا کړی دی دوی | هغه | زیات دے | دَدوی نه | په قوت کښ

چه کوم الله چه دوی پیدا کړی دی هغه د دوی نه زیات طاقتور دے

وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ۝ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا

اودوی وو | چه زمونږ د آیتونونه | ځی انکار کولو | نومونږ راولیږله | په دوی باندے | سیلئ | تیزه

اودوی همیشه زمونږ د آیتونو نه انکار کولو۔ بس (نو) مونږ پرے په سپیرهٔ ورځو کښ

فِیْۤ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْیِ فِی الْحَيٰوةِ

په (هغه) ورځو | سپیرو کښ | (دے دپاره) چه مونږ اوځکوو دوی ته | عذاب | درسوایئ | په ژوند

یوه توندهٔ سیلئ راولیږله (دے دپاره) چه الله دوی ته د دنیا په ژوند کښ درسوایئ د عذاب (مزه) اوځکوی

الدُّنْيَا ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰی وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝

دُنیوی کښ | او خامخا عذاب | د آخرت | زیات درسوایئ دے | اودَدوی سره به | مدد نشی کیدے

او د آخرت عذاب خو دیر زیات شرموونکے دے او دَدوی سره به (څه قسم) مدد هم نه کیږی

وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰی عَلَی الْهُدٰی

اوهرچه | ثمودیان وو | نولارهنبود لے وه مونږ هغوی ته | نوخوښ کړو هغوی | روندوالے | په هدایت باندے

او ثمودیان چه وو نو هغوی ته (خو) مونږ سمه لار ښود لے وه لیکن هغوی د هدایت (د سمے لارے) په ځای

فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا

پس راونیول دوی لره | چغے | د عذاب | د ذلت والا | په سبب د هغه څه | چه هغوی به

روندوالے (کمراهی) غوره کړه نو هغوی چه څه کول د هغے دوجے یو شرموونکی عذاب آفت راونیول

يَكْسِبُوْنَ ۝ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝ ع ۱۶

(همیشه) کول | اوبچ کړل مونږ | هغه کسان | چه ایمان ځی راوړے وو | اوو هغوی | چه څان ځی ساتلو

او چا چه ایمان راوړے وو او تقوی ځی اختیار کړے وه هغوی مو بچ کړل

وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَی النَّارِ فَهُمْ

اوپه هغه ورځ | چه راجمع به کړے شی | دشمنان | د الله | اور ته | پس هغوی به

او په کومه ورځ چه د الله تعالی دشمنان به اور ته راجمع کړے شی او په دلو (دلو) کښ به

يُوْزَعُوْنَ ۝ حَتّٰۤی اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ

تقسیم کړے شی په دلو کښ | تر دے | چه کله | راشی دوی هغے (اور) ته | نو گواهی به اوکړی | په دوی باندے

تقسیم (کړے) شی۔ تر دے چه کله هغوی هغه (اور) ته راورسی نو د هغوی

سَمْعُهُمْ وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

غوږونه دَدوی | اوستر گے دَدوی | اوخرمنے دَدوی | په هغه څه | چه دوی به کول

غوږونه، ستر گے او څرمنے به د هغوی خلاف گواهی ورکړی چه هغوی څه څه کول

وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا

اوبه وائی دوی | خپلو څرمنو ته | ولے گواهی اوکړه تاسو | په مونږ باندے | اوبه وائی هغوی | چه گویا کړو مونږ

او دوی به خپلو څرمنو ته اووائی چه تاسو زمونږ خلاف گواهی ولے ورکړه؟ هغوی به ورته اووائی چه مونږ ته

اللّٰهُ الَّذِیْٓ اَنْطَقَ كُلَّ شَیْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ

الله | هغه ذات | چه گویا کړے دے | هرڅیز | څیز | او هغه | پیدا کړی وئ تاسو | په اول | ځل

هغه ذات دویلو (د خبرو کولو) طاقت را کړے دے چاچه هرشیز ته گویائی ورکړے ده او هم هغه تاسو په اول ځل پیدا کړی وئ

وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ

او هغه ته | تاسو واپس کړے شوئ | او نه وئ تاسو | چه پرده موکوله | (ددے نه) چه | گواهی به اوکړی

او هم د هغه طرف ته تاسو واپس کړے شوئ او (د گناه په وخت کښ) تاسو د دے خبرے نه پرده نه کوله

عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ

په تاسو باندے | غوږونه ستاسو | او نه ستر گے ستاسو | او نه څرمنے ستاسو | لیکن

چه ستاسو غوږونه، ستر گے او څرمنے به ستاسو خلاف گواهی ورکړی لیکن

ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ وَذٰلِكُمْ

تاسو گمان کولو | چه یقیناً | الله | نه پوهیږی | په ډیر | هغه څه | چه تاسو (ئے) کوئ | او دا

ستاسو دا گمان وو چه الله تعالیٰ ته ستاسو د ډیرو اعمالو (خبرو) علم نشته

ظَنُّكُمُ الَّذِیْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ

ستاسو گمان وو | هغه | چه تاسو (ئے) گمان کړے وو | په خپل رب | چه هلاک ئے کړئ تاسو | پس شوئ تاسو

او د خپل پروردگار په باره کښ ستاسو هم دے گمان تاسو تباه کړئ او (هم ددے په نتیجه کښ) تاسو په تاوانیانو

مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ

د ډیره تاوانیانو نه | پس که چرے | صبر اوکړی دوی | نو (هم) اور | ځائے د اوسیدو | د دوی دے

خلقو کښ شامل شوئ (اوس ددے خلقو د حال دے) چه که چرے دوی صبر اوکړی نو بیا ئے (هم) اور ځائے د اوسیدو دے

وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ۝ وَقَيَّضْنَا

او که چرے | واپسی غواړی دوی | پس نه به وی | دوی | د واپس کړے شوو نه | او مونږ پیوست لګول دی

او که دنیا ته واپسی غواړی نو دا مطالبه ئے هم نشی منلے کیدے او مونږ (په دنیا کښ) د دوی سره

لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا

د دوی سره | څه ملګری | پس ښائسته کړی دی هغوی | دوی ته | هغه څه | چه وړاندے د دوی نه دی | او هغه څه

څه شیطانان ملګری مقرر کړی وو نو هغوی به ورته خپل ناکاره عملونه او د تیر شوو مشرانو ناکاره عملونه

خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ

چه وروستو دَدوی دی | اوثابته شوے ده | په دوی باندے | خبره (فیصله) | په (هغه) دلو کښ | چه یقیناً

بنائسته بنکاره کول او (اخیر) په دوی باندے (هم) دالله تعالی هغه پخوانۍ فیصله پوره شوه

خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا

تیرے شوی دی | مخکښ دَدوی نه | د پیریانو نه | او د انسانانو نه | بیشکه دوی | وو

کومه فیصله چه د نورو اُمتونو سره شوے ده که پیریان وو او که انسانان یقیناً دا ټول تاوانیان دی.

خٰسِرِيْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ ع

تاوان موندونکی | او وائی | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | چه مه اورئ | دا | قرآن

او دا کافران یو بل ته وائی چه دا قرآن مه اورئ او ددے (د لوستلو په وخت) کښ شور کوئ

وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ۝ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ

اوشور جوړ کړئ | په دے کښ | دے دپاره چه تاسو | غالب شئ | پس خامخا به اوځکوو مونږ | هغه کسانو ته

دے دپاره (شاید) چه تاسو غالب شئ۔ پس (نو) مونږ به خامخا دے کافرانو ته

كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ

چه کفر ئے کړے دے | عذاب | ډیر سخت | اوخامخا مونږ به بدله ورکړو هغوی ته | ډیره بده | د هغه څه

د سخت عذاب خوند (مزه) وځکوو او کوم بد عملونه چه ئے کول

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ

چه دوی به کول | دا | بدله ده | د دشمنانو | د الله | اُور | دَدوی دپاره

د هغے پوره بدله به ورته ورکړو۔ هم دا اُور د الله دَ دشمنانو بدله (سزا) ده دَدوی دپاره

فِيْهَا دَارُ الْخُلْدِ ؕ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا

پاتے کښ | کور | دهمیشه (اوسیدو) دے | (ورته کړی شی) بدله | په سبب د دے | چه دوی وو | چه زمونږ د آیتونو نه ئے

په دے کښ د همیشه اوسیدو کور دے دا د دے خبرے سزا (بدله) ده چه دوی به زمونږ د آیتونو نه

يَجْحَدُوْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ

انکار کولو | او به وائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے وو | اے زمونږ ربه! | اوښایه مونږ ته | هغه دوه کسان

انکار کولو او دا کافران به اووائی چه اے زمونږ ربه! په پیریانو او په انسانانو کښ

اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا

چه مونږ ئے گمراه کړی وو | د پیریانو | او انسانانو نه | چه مونږ کړو هغوی دواړه | لاندے | د خپو خپلونه

چه مونږ چا گمراه کړی وو هغه دواړه مونږ ته اوښایه چه د خپو لاندے ئے کړو

لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ

(دے دپارہ) چه شی هغوی | د دلیلانو (خکته) خلقونه | بیشکه | هغه کسان | چه وائی | چه رب زمونږ | الله دے

چه ښه دلیله (سپک) شی ۔(بل طرف ته) چا چه ویلی وو چه زمونږ رب الله دے

ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا

بیا | کلک پاتے شول | را کوزیږی (به) | په هغوی باندے | ملائکے | (چه) مه یریږئ

اوبیا په دے خبره باندے کلک پاتے شول په هغوی به ملائک را کوزیږی (او ورته به وائی چه) مه یریږئ

وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝ نَحْنُ

او غم مه کوئ | اوزیری واخلئ | د جنت | هغے | چه تاسو سره به (ئے) | وعده کولے شوه | مونږ

اومهٔ غم کوئ او په هغه جنت خوشحاله شئ چه تاسو سره ئے وعده کولے شوه۔ مونږ

اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيْهَا

دوستان ووستاسو | په ژوند | دُنیوی کښ | او په آخرت کښ | اوستاسو دپاره | په دے کښ

د دنیا په ژوند کښ هم ستاسو ملګری وو او په آخرت کښ هم اوستاسو دپاره په دے جنت کښ

مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ۝

هغه څه دی | چه غواړی ئے | زړونه ستاسو | اوستاسو دپاره | په دے کښ | هغه څه دی | چه تاسو (ئے) غواړئ

هر هغه څیز دے چه ستاسو زړونه ئے غواړی او په دے کښ ستاسو دپاره هر هغه څیز دے چه تاسو ئے راغواړئ

نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ۝ وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا ع

میلمستیا (په ورکولے شی) | د دیر بخښونکی | دیر رحم کوونکی (ذات) نه | اوځوک دے | زیات ښائسته | په خبره کښ

دا دهغه ذات د طرف نه میلمستیا ده چه هغه دیر بخښونکے دیر مهربان دے. اودهغه چا نه ښه (ښائسته) خبره

مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِيْ

دهغه چا نه | چه را بلی (خلق) | الله ته | او عمل کوی | نیک | او وائی | چه بیشکه زه یم

د چا کیدے شی چه د الله طرف ته (خلق) را بلی او (پخپله هم) نیک عمل کوی او دا وائی چه زه

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۭ اِدْفَعْ

د مسلمانانو نه | او نه دی برابر | نیکی | او بدی | لرے کړه

په فرمانبردارانو کښ شامل یم او (اے نبیؐ!) نیکی او بدی برابرنهٔ دی ته په ښه (خوږه) طریقه

بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ

په هغه طریقه | چه هغه | دیره ښائسته ده | پس په دغه وخت کښ | هغه کس | چه په مینځ ستا کښ | او په مینځ دهغهٔ کښ

بَدی دفع کوه نو (په نتیجه کښ به) ستا او د چا ترمینځه چه دشمنی وه هغه به داسے شی

عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ۝ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ

دشمنی ده | (دلته شی) گویا که هغه دے | دوست | گرم | اونه شی ور کولے دا (خوئ) | مگر | هغه خلقو ته

لکه ستا ډیر همدرد او مخلص دوست. او دا صفت (خوئ) صرف هغه چا ته حاصلیږی څوک چه

صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝ وَاِمَّا

چه صبر ئے کړیدے | اونه شی ور کولے دا (خوئ) | مگر | خاوند | دبرخے | لوے ته | او که چرے

د صبر نه کار اخلی او دا صفت هم هغه چا ته ملاویږی چه د لوے نصیب والا وی او که چرے

يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

اورسی تا ته | د شیطان نه | څه وسوسه | نو پناه غواړه | په الله سره | بیشکه | هم هغه دے

تا ته د شیطان د طرف نه څه وسوسه اورسیږی نو د الله پناه غواړه یقیناً هغه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ

ښه اوریدونکے | ښه پوهه | او د هغه د نښو نه | شپه | او ورځ | او نور

هر څه اوریدونکے په هر څه پوهه دے او شپه او ورځ او نور او سپوږمۍ د هغهٔ د قدرت د نښو نه دی

وَالْقَمَرُ ؕ لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ

او سپوږمۍ ده | تاسو سجده مه کوئ | نور ته | او نه سپوږمۍ ته | او سجده کوئ | الله ته

تاسو مهٔ نور ته سجده کوئ او نه سپوږمۍ ته بلکه که تاسو واقعی

الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ۝ فَاِنِ

هغه (الله) چه پیدا کړی ئے دی دا ټول | که چرے | تاسو | خاص د هغه | عبادت کوئ | پس که چرے

د الله عبادت کوئ نو سجده هم هغه الله ته کوئ چه دا ټول هر څهٔ ئے پیدا کړی دی

اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ

لوئ کوی دوی | نو هغه خلق | چه دی | ستا د رب سره | هغوی پاکی بیانوی | د هغه | په شپه

بیا هم که دا کافر تکبر کوی (نو کوی دے څکه چه) کوم فرشتے ستا د رب سره دی هغوی شپه او ورځ

وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُوْنَ ۝ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ

او په ورځ کښ | او هغوی | نه ستړی کیږی | د هغه د نښو نه (دا ده) | چه بیشکه ته | وینے | زمکه

د هغه تسبیح وائی او هغوی هیڅ چرے نه ستړی کیږی او دا هم د هغه د قدرت د نښو نه یوه نښه ده چه ته (اے بنده!)

خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ

عاجزه (او وچه) | پس هر کله | چه مونږ را ولیږو | په هغے باندے | او به | نو حرکت شروع کړی | او اوپر سیږی

زمکه وینے چه اوده (خشکه) ده بیا چه څنګه مونږ په هغے باندے باران راوړو نو حرکت کښ راشی او تازه شی او بوګه شی

اِنَّ الَّذِیْٓ اَحْیَاهَا لَمُحْیِ الْمَوْتٰی ؕ اِنَّهٗ عَلٰی كُلِّ

بیشکه | هغه ذات | چه راوژندئ ئے کړه دا | خامخا ژوندی کوونکے | د مړو دے | بیشکه هغه | په هر ئیو

حقیقت دا دے چه کوم ذات دا زمکه ژوندئ (تازه) کړه هم هغه مړو لره ژوندی کوونکے دے یقیناً هغه په هر

شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝ اِنَّ الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ فِیْٓ اٰیٰتِنَا لَا یَخْفَوْنَ

څیز | قادر دے | بیشکه | هغه کسان | چه کاږه روان دی | په آیتونو زمونږ کښ | نه شی پټیدلے

څه قادر دے. یقیناً کوم خلق چه زمونږ د آیتونو په باره کښ کږه لاره اختیار وی (الحاد کوی) هغوی زمونږ نه پټیدے نه شی

عَلَیْنَا ؕ اَفَمَنْ یُّلْقٰی فِی النَّارِ خَیْرٌ اَمْ مَّنْ یَّاْتِیْٓ

زمونږ نه | آیا نو هغه څوک | چه غورځولی (به) شی | په اور کښ | غوره دے | یا | هغه څوک | چه راځی به

آیا هغه کس چه اور ته به غورځولے کیږی هغه ډیر غوره دے که هغه څوک چه د قیامت په ورځ به

اٰمِنًا یَّوْمَ الْقِیٰمَةِ ؕ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا

امن والا | په ورځ | د قیامت | عمل کوئ | څه چه | ستاسو خوښه وی | بیشکه هغه (الله) | د هغه څه

په امن راشی. ښه زه چه څه مو خوښه وی کوئ خو یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ

تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ۝ اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا

چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے دے | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | په ذکر (قرآن) باندے | هر کله چه

ستاسو عملونه ښه وینی یقیناً (هغه خلقو ډیر بد کړی دی) چا چه د نصیحت د کتاب نه انکار کړے دے کله چه

جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِیْزٌ ۝ ۙ لَّا یَاْتِیْهِ الْبَاطِلُ

راغے دوی ته | او بیشکه دا | خامخا ئې کتاب دے | عزتمند | نشی راتلے دے ته | باطل

هغه دوی ته راغے او (حالانکه) هغه ډیر عزتمند کتاب دے (چه) باطل خبره ورته نه دوړاندے نه راتلے شی

مِنْۢ بَیْنِ یَدَیْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِیْلٌ مِّنْ حَكِیْمٍ

(نه) د وړاندے د دے نه | او نه د وروستو د دے نه | رالیږلے شوے دے | د طرفه د حکمت والا

اونهٔ د وروستو نه. د هغه ذات طرف نه رالیږلے شوے چه ډیر حکمت والا (او) د صفتونو حقدار ذات دے.

حَمِیْدٍ ۝ مَا یُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِیْلَ لِلرُّسُلِ

ستایلی شوی نه | نه ویلی کیږی | تاته | مګر | هغه څه | چه یقیناً | ویلی شوی وو | پیغمبرانو ته

(اے پیغمبره!) تاته چه کومے خبرے کیږی هغه ستا نه مخکښے هم پیغمبرانو ته شوے وے

مِنْ قَبْلِكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِیْمٍ ۝

مخکښے ستا نه | بیشکه | رب ستا | د بخښنے والا دے | او عذاب (ورکولو) والا دے | دردناک

یقین اوساته چه ستا رب بخښنه کوونکے هم دے او سخت عذاب ورکوونکے هم دے۔

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ

اوکه چرے | مونږ جوړ کړے وے وے دا | قرآن | په عجمی ژبه | نو خامخا ویل به دوی | (چه) ولے نه دی بیا واضح کړی شوی

اوکه چرے مونږ دا قرآن په عجمی ژبه کښ نازل کړے وے نو دے خلقو به ضرور دا ویل چه دے آیتونه صفا صفا

اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

آیتونه ددے | آیا (کتاب) عجمی دے | او (پیغمبر) عربی دے | اووایه | دا | دهغه خلقو دپاره | چه ایمان ئے راوړے دے

ولے نه دی بیان شوی؟ (دا لا څنګه خبره ده) چه قرآن دے عجمی وی او پیغمبر دے عربی وی؟ ته ورته اووایه چه

هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ

هدایت | او شفاء ده | او هغه کسان | چه ایمان نه راوړی | په غوږونو د هغوی کښ | دروندوالے دے

کوم خلق ایمان راوړی دا د هغوی دپاره هدایت او شفاء ده او څوک چه ایمان نه راوړی د هغوی په غوږونو کښ بوج دے

وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍ

او دا | په هغوی باندے | پروندوالے دے | دغه خلق دی | چه آواز ورته کولے شی | د ځای

او دا قرآن په هغوی باندے حُجت دے او دا خلق (د حق دا وریدو باوجود اسے دی لکه چه) دډیر لرے ځای نه ورته

بَعِيْدٍ ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ

لرے نه | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | کتاب | نو اختلاف کړے شوے وو | په هغے کښ (هم)

آواز کیږی او (اے نبیؐ ستا نه مخکښ) مونږ موسیٰ ته هم کتاب ورکړے وو نو دهغے په بارہ کښ (هم دا سے) اختلاف شوے وو

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ

اوکه چرے نه وے | خبره (فیصله) | مقرر شوے د مخکښے نه | ستا د رب د طرف نه | نو خامخا فیصله به شوے وه

اوکه چرے ستا د رب د طرف نه یوه نیته د مخکښے نه مقرر شوے نه وے نو ددوی په مینځ کښ به

بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ۝

ددوی په مینځ کښ | او بیشکه دوی | خامخا دی په شک کښ | د دے نه | په پوخ شک کښ

فیصله شوے وه او یقیناً دوی د دے قرآن په بارہ کښ په پوخ شک کښ (اخته) دی۔

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ

چا چه | عمل اوکړو | نیک | نو د خپل ځان دپاره (ئے دی) | او چا چه | اوکړه بدی

څوک چه نیک کار کوی نو د خپل ځان دفائدے دپاره ئے کوی او څوک چه بد کار (گناه) کوی

فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝

نو (نقصان ئے) هم په ده دے | او نه دے ستا رب | (هیڅ) ظلم کوونکے | په بندګانو |

نو نقصان به ئے هم هغه ته رسی او ستا رب په (خپلو) بندګانو (معمولی) ظلم (هم) نه کوی۔

اِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ؕ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٰتٍ

خاص هغه ته | ولپس کولے شی | عِلم | د قیامت | او نه راوځی | هیڅ میوے

دټول مخلوق دطرف نه دقیامت دعلم حواله صرف په الله باندے ورکولے شی اوصرف دهغهٔ په علم سره میوے

مِّنْ اَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلْمِهٖ ؕ

د کښورو خپلونه | او نه اخلی حمل | هیڅ ښځه زنانه | اونه زیږوی (هغه) (بچی لره) | مګر | په علم دهغهٔ سره

دخپلو غلافونونه راوځی اویوه مادہ حمل اخلی اویوے زیږوی (بل دهیچا په دے کارونو باندے تفصیل علم نشته)

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ اَيْنَ شُرَكَآءِيْ ۙ قَالُوْٓا اٰذَنّٰكَ ۙ

اوپه هغه ورځ | چه آواز به اوکړی هغه دوی ته | (چه) چرته دی | شریکان زما؟ | اوبه وائی دوی | خبر در کوو مونږ تاته

اوپه کومه ورځ به چه الله مشرکانو ته آواز وکړی چه ستاسو په خیال کښ زما هغه شریکان چرته دی؟ نو هغوی به اووائی چه (اے الله) مونږ

مَا مِنَّا مِنْ شَهِيْدٍ ۚ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

چه نشته دے زمونږ نه | هیڅ څوک گواه (ددے خبرے) | او ورک به شی | د دوی نه | هغه شریکان | چه دوی به

خوتاته هم داعرض کوو چه په مونږ کښ هیڅ څوک ددے خبرے گواهی کوونکے نشته اوددے نه مخکښے به ځنې کوم خدایان را بلل

يَدْعُوْنَ مِنْ قَبْلُ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ۝

را بلل | پخوا (ددے نه) | اوگمان به اوکړی دوی | چه نشته دے | ددوی دپاره | څه ځائے د تیښتے

هغه به ترے (داسے) ورک شی (چه هیڅ پته به ځنې نه لګی) اودوی به یقین اوکړی چه (اوس) دخلاصی هیڅ لار نشته

لَا يَسْئَمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَآءِ الْخَيْرِ ۫ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ

نه ستړی کیږی | انسان | د غوښتلو | د خیر نه | اوکه چرے | اورسیږی ده ته | تکلیف

د (بعضے) انسان داحال دے چه د خیر په غوښتلو نه ستړی کیږی او چه کله ورته څه تکلیف ورسی

فَيَئُوْسٌ قَنُوْطٌ ۝ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْۢ بَعْدِ

نو (بیا) مایوسه | ناامیده وی | اوکه چرے | اوځکوو مونږ ده ته | څه مهربانی | دخپل طرف نه | پس

نو بیا داسے مایوس شی چه هر امید پریږدی او کوم تکلیف چه ورته رسیدلے وو که دهغے نه پس پرے

ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ ۙ وَمَآ اَظُنُّ

د (هغه) تکلیف نه | چه رسیدلے وو ده ته | نو خامخا دے وائی | چه دا (خو) | زما (حق) دے | او زه گمان نه کوم

مونږ دخپل رحمت څهٔ مزه اوځکوو نو بیا وائی چه دا خو زما حق وو او زه دا خیال نه کوم

السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ اِنَّ لِيْ

په قیامت باندے | قائمیدونکے | اوکه چرے | زه واپس کړے شوم | رب خپل ته | (نو) بیشکه | وی به زما دپاره

چه قیامت به (لاهم) راشی او که بالفرض زه خپل رب طرف ته واپس بوتللے شوم نو زما یقین دے چه

عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِمَا

د هغه سره | خوشحالی | پس خامخا مونږ به خبر کړو | هغه کسان | چه کفر ئې کړے دے | په هغه څه

دهغه سره به هم ماته خوشحالی ضرور ملا ویږی پس مونږ به کافرانو ته ضرور د هغوی د ټولو

عَمِلُوْا وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا

چه دوی کړی دی | او خامخا مونږ به اوځکوو دوی ته | د عذاب | دیر سخت نه | او کله چه | انعام او کړو مونږ

عملونو خبر ورکوو او دیو سخت عذاب مزه به ورته څکوو۔ او کله چه مونږ په (بعض) انسان باندے

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ

په انسان باندے | نو مخ واړوی | اولاړ ے کړی اړخ خپل | او کله چه | اورسیږی ده ته | تکلیف

څه احسان اوکړو نو مخ واړوی او دډه اوکړی او کله چه ورته څه تکلیف ورسی

فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ۝ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ

نو څې خاوند د دعاء | پلنے | اووایه | آیا خبر یئ تاسو | که چرے | وی دا (قرآن)

نو ییا بار بار پلنے دعاګانے غواړی (اے نبیؐ! کافرانو ته) اووایه چه لږ دا راته اووایئ که چرے دا (قرآن)

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ

د طرفه | د الله نه | ییا | کفر کوئ تاسو | په دے باندے | (نو) څوک دے | زیات گمراه | د هغه چا نه

د الله د طرف نه راغلے وی (او) ییا ترے هم تاسو انکار کوئ نو د هغه چا نه به زیات گمراه څوک وی

هُوَ فِيْ شِقَاقٍ بَعِيْدٍ ۝ سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ

چه هغه | په مخالفت (دشمنئ) | لرے کښ وی | زړه چه مونږ به اوښایو دوی ته | نخښے خپلے | په خواو شاطرفونو کښ

چه په مخالفت کښ دیر لرے وتلے وی؟ مونږ به دیر زر دوی ته خپل دلیلونه د قدرت د عالم په اطرافو کښ هم اوښایو

وَفِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ ۭ اَوَلَمْ يَكْفِ

او په نفسونو دَدوی کښ | ترڅو دے | چه بنه بنکاره به شی | دوی ته | چه بیشکه دا | حق دے | آیا نه دی کافی

او د دوی په نفسونو کښ هم ترڅو دے پورے چه دوی ته به دا خبره بنه واضحه شی چه دا قرآن واقعی حق دے

بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ اَلَآ اِنَّهُمْ فِيْ مِرْيَةٍ

رب ستا | چه بیشکه هغه | په هر څیز | گواه دے | خبردار | بیشکه دوی | په شک کښ دی

آیا ستا د رب دا صفت کافی نه دے چه هغه په هر څیز باندے حاضر ناظر دے؟ یاد ساتئ چه دا خلق

مِّنْ لِّقَاۗءِ رَبِّهِمْ ۭ اَلَآ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ ۝ ع

د ملاقات | د رب خپل نه | خبردار | بیشکه هغه | هر څیز باندے | احاطه کوونکے دے

د خپل رب سره د ملاخامخ کیدو په باره کښ په شک کښ پراته دی یاد ساته چه هغه هر څیز لره په خپل علم کښ راګیروونکے دے

آیاتها[۵۳]	سورة الشّوریٰ مکّیّة	رکوعاتها[۵]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ﴿۱﴾ عٓسٓقٓ ﴿۲﴾ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ

حٰم | عٓسٓقٓ | دغه شان | وحی کوی | تاته | او هغه خلقو ته

حٰمٓ عٓسٓقٓ۔ (اے نبیؐ!) الله چه زورور (غالب) او حکمت والا ذات دے هغه تا ته وحی را لیږی

مِنْ قَبْلِكَ ۙ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۳﴾ لَهٗ مَا

چه تا نه مخکښ وو | (هغه) الله | (چه) ډیر زورور | لوے حکمت والا دے | هم دهغه (په اختیار کښ) دی | هغه څه

پشان د مخکنو پیغمبرانو څه چه په آسمانونو کښ دی

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۴﴾

چه په آسمانونو کښ دی | او هغه څه | چه په زمکه کښ دی | او هم هغه دے | ډیر اوچت | ډیر لوے

او څه چه په زمکه کښ دی ټول دهغه (په اختیار کښ) دی او هم هغه ډیر اوچت ډیر لوے دے۔

تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰۗىِٕكَةُ يُسَبِّحُوْنَ

نزدے دی | آسمانونه | چه اوچوی | د برہ طرف خپل نه | او ملائکے | تسبیح وائی

دا سے ښکاری چه د شرک د قباحت د وجے آسمانونه د برہ نه اوچوی (خو ځکه نه چوی چه) ملائک د خپل رب د حمد سره (سره)

بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ۭ اَلَآ اِنَّ

سره د حمد | د رب خپل نه | او بخښنه غواړه | دهغه چا دپاره | چه په زمکه (کښ) دی | خبردار | بیشکه

دهغه تسبیح وائی او د زمکے والو دپاره بخښنه غواړی یاد ساتئ چه هم

اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵﴾ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

الله | هم هغه | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | او هغه کسان | چه جوړ کړی ئے دی | سوا دهغه نه

الله ډیر بخښونکے ډیر رحم کوونکے ذات دے۔ اوچا چه د الله تعالیٰ نه سوا نور خدایان

اَوْلِيَاۗءَ اللّٰهُ حَفِيْظٌ عَلَيْهِمْ ۡ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ

نور دوستان | الله دے | ساتنه کوونکے | په دوی باندے | او نه ئے ته | په دوی باندے

جوړ کړی دی الله په (په سبب د توفیق د توبے ور کولو) دهغوی ساتنه کوونکے دے او په تا باندے دهغوی

بِوَكِيْلٍ ﴿۶﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ

ذمه وار | او دغه شان | مونږ وحی کړے ده | تا ته | د قرآن | په عربی ژبه کښ | (دے دپاره چه ته اویروے

هیڅ ذمه واری نشته. او دغه شان مونږ تا ته دا عربی قرآن د وحی په ذریعے را لیږلے دے چه ته د مرکزی کلی (مکے) والا

اُمَّ الۡقُرٰی وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنۡذِرَ یَوۡمَ الۡجَمۡعِ

اصل د کلو لرہ | او هغه څوک | چه کیږ چاپیره دهغے نه دی | او(چه) ته اویروے | د ورځ | د جمع کولونه
او د هغے کیږ چاپیره نور خلق دهغه ورځے نه خبردار کړے چه خلق به پکښ جمع کړے شی

لَا رَیۡبَ فِیۡهِ ؕ فَرِیۡقٌ فِی الۡجَنَّةِ وَفَرِیۡقٌ فِی السَّعِیۡرِ ۝

چه هیڅ شک نشته | په هغے کښ | یوه ډله به | په جنت کښ وی | او بله ډله به | په بل شوی اور کښ وی
چه دهغے په راتلو کښ هیڅ شک نشته، یوه ډله به جنت ته لاړه شی او بله ډله به جهنم ته لاړه شی

وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمۡ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنۡ یُّدۡخِلُ

او که چرے | غوښتلے | الله | نو کړے یو ډلے به ځوے دوی | ډله | یوه | لیکن | هغه داخلوی
او که چرے الله غوښتلے نو دا ټول (خلق) به ځے (په زور) یو جماعت کړی وے لیکن هغه چه

مَنۡ یَّشَآءُ فِیۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوۡنَ مَا لَهُمۡ مِّنۡ وَّلِیٍّ

چا لره | چه او غواړی | په رحمت خپل کښ | او ظالمان (چه دی) | نشته | دهغوی دپاره | هیڅ څوک دوست
چا لره او غواړی نو په خپل رحمت کښ ځے داخلوی او د ظالمانو نه څوک دوست شته

وَّلَا نَصِیۡرٍ ۝ اَمِ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اَوۡلِیَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ

او نه مددګار | آیا دوی جوړ کړی دی | سوا د هغهٔ نه | نور دوستان | پس الله | هم هغه دے
او نهٔ څوک مددګار، آیا دے خلقو دالله نه سوا نور دوستان (مددګاران) جوړ کړی دی؟ رشتیا خو دا دی

الۡوَلِیُّ وَهُوَ یُحۡیِ الۡمَوۡتٰی ۫ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ۝ ع

دوست (مددګار) | او هم هغه | ژوندی کوی به | مړی | او هم هغه دے | په هر څیز باندے | قدرت لرونکے
چه (دهر چا) کارساز (دوست) خو صرف الله دے او هم هغه به مړی ژوندی کوی او هم هغه په هر څیز قادر دے

وَمَا اخۡتَلَفۡتُمۡ فِیۡهِ مِنۡ شَیۡءٍ فَحُكۡمُهٗۤ اِلَی اللّٰهِ ؕ

او هغه | چه اختلاف کوئ تاسو | په هغے کښ | د هغهٔ څیز نه | نو (حواله کړئ) فیصله دهغے | الله ته
او په کومه خبره کښ چه تاسو اختلاف کوئ نو د هغے فیصله هم الله ته حواله کړئ

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّیۡ عَلَیۡهِ تَوَكَّلۡتُ ؕ وَاِلَیۡهِ اُنِیۡبُ ۝ فَاطِرُ

دغه | الله | رب زما دے | هم په هغه | ما توکل کړے دے | او هم هغه ته | زهٔ ور ګرزم | (هغه) پیدا کوونکے
هم دغه الله زما رب دے هم په هغه ما توکل کړے دے او هم هغهٔ ته زهٔ رجوع کوم

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ جَعَلَ لَكُمۡ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ اَزۡوَاجًا

د آسمانونو | او د زمکے دے | پیدا کړی ځے دی | ستاسو دپاره | د نفسونو ستاسو نه | بیبیانے
هغه د آسمانونو او د زمکے پیدا کوونکے دے هغه ستاسو دپاره ستاسو د جنس نه جوړے پیدا کړی دی

وَّمِنَ الۡاَنۡعَامِ اَزۡوَاجًا ۚ یَذۡرَؤُكُمۡ فِیۡهِ ؕ لَیۡسَ كَمِثۡلِهٖ

او د څارووو نه (هم) | جوړے | هغه خوروی تاسو | په دے (زمکه) کښ | نشته دے | د هغه پشان
او د څارووو ځے هم جوړے پیدا کړی دی هم په دے طریقه هغه ستاسو نسل خوروی د هغه پشان

شَيْءٍ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ

هیڅ یو څیز | اوهم هغه دے | اوریدونکے | لیدونکے | هم دهغه سره دی | کونجیانے | د آسمانونو

هیڅ یو څیز نشته او هم هغه هر څهٔ آوری هر څه وینی۔ د آسمانونو او د زمکے کونجیانے هم

وَالْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّهٗ

او د زمکے | فراخه کوی | رزق | چا لره چه (غواړی) | اوغواړی | او تنګوی ئے | بیشکه هغه دے

دهغه (په قبضه کښ) دی (هم) هغه چه چا لره اوغواړی رزق ورله فراخه کوی او (چا لره چه اوغواړی) تنګوی ئے

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا

په هر | څیز باندے | ښه پوهه | هغه مقرر کړی دی | ستاسو دپاره | د دین نه | هغهٔ څهٔ

یقیناً هغه هر څیز ښه پیژنی. هغه ستاسو دپاره د دین توحید هم هغه طریقه مقرر کړے ده د کوم

وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا

چه وصیت ئے کړے وو | په هغے سره | نوحؑ ته | او هغه | چه مونږ وحی کړے ده | تا ته | او هغهٔ څهٔ

دین توحید حکم ئے چه نوحؑ ته کړے وو او د کوم چه (اے نبیؐ!) مونږ تا ته وحی کړے ده او د کوم

وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا

چه مونږ وصیت کړے وو | په هغے سره | ابراهیمؑ | او موسیٰؑ | او عیسیٰؑ ته | چه قائم اوساتئ

حکم چه مونږ ابراهیمؑ، موسیٰؑ او عیسیٰؑ ته کړے وو (هغه دا) چه تاسو دین قائم کړئ

الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ ۭ كَبُرَ عَلَي الْمُشْرِكِيْنَ مَا

دین لره | او ډلے مهٔ جوړیږئ | په دے کښ | ګران لګی | په مشرکانو باندے | هغه څه

او ډله بازی (تفرقه) پکښ مه کوئ. هم دا خبره مشرکانو ته ډیره ګرانه ښکاری کومے ته چه

تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ۭ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ

چه ته ئے رابلے دوی | هغے ته | الله | غوره کوی | خپل ځان ته | هغه څوک | چه اوغواړی | او لار ښائی

ته هغوی رابلے. د الله چه څوک خوښ شی نو د خپل ځان او د خپل دین دپاره ئے غوره کوی او هدایت

اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ۝ وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا

خپل طرف ته | هغه چا ته | چه راګرځی | او دوی ډلے ډلے شوی نه وو | مګر | پس | د دینه

صرف هغه چا ته کوی چه څوک ور ګرځی هغهٔ ته۔ او دا خلق چه (په خپل مینځ کښ) ډلے ډلے شوی دی نو

جَاۗءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۭ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ

چه راغے دوی ته | علم | دوے د ضد نه | په خپل مینځ کښ | او که چرے نه وے | خبره (فیصله)

د حق علم در اتلونه پس په خپل مینځ کښ د ضد (دشمنئ) دوے شوی دی او که چرے ستا د رب د طرف نه

سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ

مقرر د مخکے نه | ستا د رب د طرف نه | تر یو نیټے | مقرر ے پورے | نو خامخا فیصله به شوے وه

د یو مقرر وخت دپاره خبره (فیصله) د مخکښ نه شوے نه وے نو د دوی په مینځ کښ به (اوس)

بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

په مینځ دَدوی کښې | او بیشکه | هغه کسان | چه میراث کښې ورکړے شوی ته | کتاب | وروستو دَ دوی نه

فیصله شوے وه او ددوی نه وروستو چه کوم خلقو ته کتاب په میراث کښې پاتے شوے دے هغوی دهغه کتاب

لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ۝ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ وَاسْتَقِمْ

خامخا دی په شک کښې | دهغے (کتاب) نه | په کلک شک کښې | نو ددے (دین) دپاره | ته دعوت کوه | او ټینګ اوسه

په باره کښې په پوخ شک کښې پراته دی۔ پس (نو) (اے نبی) ته هم دَدے خبرے (دین توحید) دعوت خلقو ته کوه

كَمَآ اُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ وَقُلْ اٰمَنْتُ

لکه څنګه چه | حکم شوے دے تاته | او مه روانیږه | په خواهشاتو دَدوی پسے | اووایه | (چه) ما ایمان راوړے دے

اوځنګه چه درته حکم شوے دے هم دغسے په (دین) کلک اوسیږه اوددے خلقو خواهشاتو پسے مه ځه اووایه چه ما څو

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ ۚ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ

په هغه څه | چه رالیږلی دی | الله | د کتاب نه | اوماته حکم کړے شویدے | چه زه انصاف اوکړم

په (هر) هغه کتاب ایمان راوړے دے چه الله نازل کړے دے او ماته دا حکم شوے دے چه ستاسو په

بَيْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ؕ لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ

ستاسو په مینځ کښې | الله | رب زمونږ دے | اورب ستاسو دے | زمونږ دپاره | زمونږ عملونه دی | اوستاسو دپاره

مینځ کښې انصاف اوکړم الله زمونږ هم رب دے او ستاسو هم رب دے مونږ ته په زمونږ د عملونو بدله ملاویږی

اَعْمَالُكُمْ ؕ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ يَجْمَعُ

ستاسو عملونه دی | نشته دے | هیڅ جګړه | زمونږ په مینځ کښې | اوستاسو په مینځ کښې | الله به | راجمع کړی

او تاسو ته به ستاسو د عملونو بدله ملاویږی زمونږ او ستاسو په مینځ کښې هیڅ جګړه (بحث) نشته. الله تعالیٰ به مونږ

بَيْنَنَا ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝ وَالَّذِيْنَ يُحَآجُّوْنَ فِي اللّٰهِ

مونږ ټول | اوخاص هغه ته | واپس (تلل) دی | او هغه کسان | چه جګړے کوی | دالله (په توحید) کښې

ټول راجمع کوی او هم دهغه خواله دټولو واپس تلل دی او کوم خلق چه دالله تعالیٰ په توحید کښې جګړے (بحثونه) کوی

مِنْۢ بَعْدِ مَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ

پس | دَدے نه | چه قبولیت کړے شویدے | دهغه | (نو) دلیل دَدوی | باطل (کمزورے) دے

پس دَدے نه چه دهغهٔ دتوحید دعوت منلے شوے دے دهغوی دلیلونه دهغوی درب په نزد بیکاره (باطل) دی

عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۝

په نزد | درب دهغوی | اوپه هغوی باندے | غضب دے | اودهغوی دپاره | عذاب دے | ډیر سخت

اوپه هغوی باندے غضب دے او د هغوی دپاره ډیر سخت عذاب دے۔

اَللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِيْزَانَ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ

الله | هغه ذات دے | چه رالیږلے دے | کتاب | په حقه | او تله (هم) | اوته څه خبر کړے

الله هغه ذات دے چه کتاب او میزان (قرآن) ځے په حقه نازل کړی دی او تاته څه پته ده

لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿۱۷﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

کیدے شی | چه قیامت | نزدے وی | زر غواړی | دا (قیامت) | هغه کسان | چه ایمان نه راوړی

کیدے شی چه قیامت نزدے وی۔ کوم خلق چه په قیامت ایمان نه راوړی

بِهَا ۚ وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا ۙ وَيَعْلَمُونَ

په دے | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | هغوی یریدونکی دی | د دے نه | او هغوی پوهیږی (په دے)

هغوی ئے زر غواړی او چا چه ایمان راوړے دے هغوی د قیامت د راتلونه یَریږی او په دے پوهیږی

أَنَّهَا الْحَقُّ ۗ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ

چه ییشکه دا | حق دے | خبردار | بیشکه | هغه کسان | چه جګړے کوی | د قیامت په باره کښ

چه دا حق دی خبر شئ کوم خلق چه د قیامت په باره کښ جګړے (بحثونه) کوی

لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿۱۸﴾ اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَنْ

هغوی دی په ګمراهئ | لرے کښ | الله | (پوره) مهربان دے | په بندګانو خپلو | رزق ورکوی | چاته

هغوی په ګمراهئ کښ ډیر لرے تلی دی. الله په خپلو بندګانو ډیر مهربان دے هغه چه چاړه اوغواړی

يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ﴿۱۹﴾ مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ

چه اوغواړی | او هغه | ډیر طاقتور | ډیر غالب دے | څوک چه | وی | چه غواړی | فصل

رزق ورکوی اوهم هغه ډیر طاقتور ډیر غالب دے. څوک چه په خپل نیک عمل سره د آخرت فصل غواړی

الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ ۖ وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ

د آخرت | (نو) مونږ په زیات کړو | دهغه دپاره | په فصل دهغه کښ | او څوک چه | وی | چه غواړی

مونږ به دهغه دپاره دهغه په فصل کښ اضافه کوو او څوک چه صرف د دنیا فصل غواړی

حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ

فصل | د دنیا | نو مونږ به ورکړو هغه ته | د دے نه | او نه به وی | دهغه دپاره | په آخرت کښ

نو مونږ به هغه ته هم د هغے (دنیا) نه څه ورکړو او په آخرت کښ به د هغه هیڅ حصه نه وی۔

مِنْ نَصِيبٍ ﴿۲۰﴾ أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ

څه برخه | آیا شته (دے) د دوی دپاره | شریکان | چه هغوی مقرر کړی دی | د دوی دپاره | د دین نه

آیا د دے خلقو دا سے شریکان شته (دے) چه دا سے دین ئے ورله جوړ کړے دے

مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ

هغه څه | چه حکم نه دے کړے | په هغے باندے | الله | او که چرے نه وے | خبره | د فیصلے (مقرر)

چه الله د هغے اجازت نه دے ورکړے؟ او که د الله د طرف نه (د مهلت ورکولو) فیصله نه وے شوے

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ

نو فیصله به کړے شوے وے | د دوی په مینځ کښ | او بیشکه | ظالمان | دے دهغوی دپاره | عذاب

نو د دوی په مینځ کښ به فیصله (اوس) شوے وه او یقین او کړئ چه د ظالمانو دپاره ډیر دردناک عذاب (تیار) دے

اَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ

دردناک | ته به وینے | ظالمان | (چه) یَرِیدونکی (به وی) | دهغه څه نه | چه دوی کړی دی | اوهغه به

(په هغه وخت به) ته اووینے چه ظالمان به د خپلو عملونو (د وبال) نه یَرِیږی (خو) هغه به

وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

راپریوتونکی وی | په دوی باندے | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | اوعملونه ئے کړی دی | نیک

خامخا (ضرور) په دوی راپریوتونکی وی او چا چه ایمان راوړے دے اونیک عملونه ئے کړی دی

فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

په باغیچو | دجنتونو کښ به وی | وی به د دوی دپاره | هغه څه | چه دوی به ئے غواړی | د خپل رب سره

هغوی به د جنتونو په باغیچو کښ وی هغوی ته به د خپل رب سره هر هغه څه ملاویږی چه هغوی به ئے غواړی

ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿۲۲﴾ ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ

هم دا | دے | فضل | دیر لوے | دا | هغه څیز دے | چه زیرے ورکوی (درکړے) | الله

هم دا دیر لوئ فضل دے ـ دا هم هغه څیز (انعام) دے چه د هغے زیرے الله تعالیٰ

عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلْ

بندګانو خپلوته | هغه (بندګان) | چه ایمان ئے راوړے دے | اوعملونه ئے کړی دی | نیک | اووایه

خپلو هغه بندګانو ته ورکوی چه ایمان ئے راوړے دے اونیک عملونه ئے کړی دی (اے نبیؐ! کافرانو ته) اووایه

لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ؕ وَمَنْ

زه نه غواړم ستاسونه | په دے | څه اجر (بدله) | مګر | مینه | د خپلوئ | اوچا چه

چه زه تاسو نه په دے (دعوت) هیڅ اجر (بدله) نه غواړم مګر د خپلوئ د محبت (لحاظ خو اوکړئ)

يَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِيْهَا حُسْنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اوکړه | څه نیکی | نوزیات به کړو مونږ | دهٔ لره | په هغے کښ | ښائسته | بیشکه | الله دے

اوڅوک چه نیکی اوکړی مونږ په ورله په نیکئ کښ خائسته زیات کړو یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۲۳﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۚ فَاِنْ

دیر بخښونکے | دیر قدردان | آیا دوی وائی | چه ده ترلی دی | په الله باندے | دروغ | نوکه چرے

دیر بخښونکے دیر قدردان دعمل دے آیا دا خلق وائی چه دے (پیغمبر) په الله باندے دروغ ترلی دی

يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ؕ وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ

اوغواړی | الله | نومهر به اووهی | په زړهٔ ستا | اوورانه به کړی | الله | باطل | اوثابت به کړی

حالانکه که الله تعالیٰ اوغواړی نو (اے نبیؐ!) ستا په زړه به مهر اولګوی (کهٔ چرته تا دروغ ګومان وے) اوالله تعالیٰ باطل ختموی

الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۴﴾ وَهُوَ

حق لره | په خپلو کلمو سره | بیشکه هغه | (ښه) پوهه دے | په رازونو | د سینو | هم (الله)

اوپه خپلو کلمو سره حق ثابتوی یقیناً هغه د سینو پټ رازونه ښه پیژنی۔

الَّذِیۡ یَقۡبَلُ التَّوۡبَۃَ عَنۡ عِبَادِہٖ وَیَعۡفُوۡا عَنِ السَّیِّاٰتِ

هغه ذات دے | چه قبلوی | توبه | د بندګانو خپلو | او معافی کوی | د بدو (ګناهونو)

او الله هم هغه ذات دے چه د خپلو بندګانو توبه قبلوی او ګناهونه معاف کوی

وَیَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُوۡنَ ﴿۲۵﴾ وَیَسۡتَجِیۡبُ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا

او پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | او هغه قبلوی (عمل) | د هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے دے

او تاسو چه څه کوئ هغه ټول الله پیژنی۔ او چا چه ایمان راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَیَزِیۡدُہُمۡ مِّنۡ فَضۡلِہٖ ؕ وَالۡکٰفِرُوۡنَ

او عملونه کوی | نیک | اوزیات ورکوی هغوی لره | د فضل خپل نه | او کافران

او نیک عملونه کوی الله د هغوی دعاګانے قبلوی او په خپل فضل ورله زیات (اجر) ورکوی او د کافرانو دپاره

لَہُمۡ عَذَابٌ شَدِیۡدٌ ﴿۲۶﴾ وَلَوۡ بَسَطَ اللّٰہُ الرِّزۡقَ

دهغوی دپاره | عذاب دے | ډیر سخت | او که چرے | فراخه کړے وے | الله | رزق

ډیر سخت عذاب دے او که چرے الله تعالی د خپلو (ټولو) بندګانو رزق فراخ ولے

لِعِبَادِہٖ لَبَغَوۡا فِی الۡاَرۡضِ وَلٰکِنۡ یُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ

دپاره د بندګانو خپلو | نو ضرور به دوی سرکشی کړے وے | په زمکه کښ | لیکن | راليږی الله | په اندازه

نو ضرور به هغوی په زمکه کښ فساد (سرکشی) کولے لیکن هغه (الله) چه څومره غواړی په هغه اندازه

مَّا یَشَآءُ ؕ اِنَّہٗ بِعِبَادِہٖ خَبِیۡرٌۢ بَصِیۡرٌ ﴿۲۷﴾ وَہُوَ الَّذِیۡ

څومره چه | غواړی | بیشکه هغه | په بندګانو خپلو | ښه خبردار | ښه لیدونکے دے | او هم الله | هغه ذات دے

رزق راليږی یقیناً الله تعالی په خپلو بندګانو پوره خبردار لیدونکے ذات دے۔ او هم الله هغه ذات دے چه

یُنَزِّلُ الۡغَیۡثَ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُوۡا وَیَنۡشُرُ رَحۡمَتَہٗ ؕ

چه راوروی | باران | وروستو د دے نه | چه ناامیده شوی وی دوی | او خوروی | رحمت خپل

د خلقو د ناامیده کیدو نه پس باران راوروی او خپل رحمت خوروی

وَہُوَ الۡوَلِیُّ الۡحَمِیۡدُ ﴿۲۸﴾ وَمِنۡ اٰیٰتِہٖ خَلۡقُ السَّمٰوٰتِ

او هم هغه دے | کارساز | د صفتونو مستحق | او بعضے دهغهٔ دنخښو دقدرت نه | پیدا کول | د آسمانونو

او هم هغه کارساز او د صفتونو (تعریفونو) مستحق دے۔ او دهغهٔ دقدرت په نخښو کښ آسمانونه

وَالۡاَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِیۡہِمَا مِنۡ دَآبَّۃٍ ؕ وَہُوَ

او د زمکے دی | او هغه څه | چه خواره کړی ئے دی | په دے دواړو کښ | د زنده سرو نه | او هغه

اوزمکه پیدا کول دی او هغه ساه والا څیزونه هم چه په دے دواړو کښ ئے خواره کړی دی او هغه چه

عَلٰی جَمۡعِہِمۡ اِذَا یَشَآءُ قَدِیۡرٌ ﴿۲۹﴾ وَمَاۤ اَصَابَکُمۡ مِّنۡ مُّصِیۡبَۃٍ ع

په راجمع کولو ددوی | چه کله ئے | اوغواړی | قادر دے | او هغه | چه اورسیږی تاسوته | څه مصیبت

کله اوغواړی نو د دوی په راجمع کولو قادر دے او په تاسو چه څه (قسم) مصیبت هم راځی

فَبِمَا كَسَبَتۡ اَيۡدِيۡكُمۡ وَيَعۡفُوۡا عَنۡ كَثِيۡرٍ ۝

نو(هغه وی)په وجه د هغه(عمل) | چه کسب کړی وی | لاسونو ستاسو | او هغه معافی کوی | د ډیرو (ګناهونو)

نو هغه ستاسو د خپلو عملونو نتیجه وی او ډیر ګناهونه خو (درته) الله معاف کوی

وَمَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُعۡجِزِيۡنَ فِى الۡاَرۡضِ ۚ وَمَا لَكُمۡ مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ

اونه یئ تاسو | عاجزه کوونکی (الله لره) | په زمکه کښ | اونشته ستاسو دپاره | سوا د الله نه

او تاسو په زمکه کښ (الله) عاجزه (کمزورے) کولے نه شئ او د الله نه سوا ستاسو

مِنۡ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيۡرٍ ۝ وَمِنۡ اٰيٰتِهِ الۡجَوَارِ فِى الۡبَحۡرِ

څوک دوست | اونه څوک مددګار | او بعضے دهغه دنخښونه | روانے کشتۍ دی | په دریاب کښ

نه څوک دوست شته او نه څوک مددګار. او دهغه دقدرت په نخښو کښ د غرونو پشان کشتۍ دی په دریاب کښ

كَالۡاَعۡلَامِ ۚ اِنۡ يَّشَاۡ يُسۡكِنِ الرِّيۡحَ فَيَظۡلَلۡنَ رَوَاكِدَ

پشان د غرونو | که چرے | هغه اوغواړی | نو اوبه درَوی | هَوا | نو شی به هغه (کشتۍ) | ولاړے

که چرے هغه اوغواړی نو هوا به اودرَوی چه په هغے سره به دا کشتۍ د دریاب په شا ولاړے پاتے شی

عَلٰى ظَهۡرِهٖ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوۡرٍ ۝

په شا (دریاب) | بیشکه | په دے کښ | خامخا نخښے دی | د پاره د هر | صبر کوونکی | شکر کوونکی

یقیناً په دے کښ د هر صبر کوونکی (او) شکر کوونکی د پاره د عبرت نخښے دی

اَوۡ يُوۡبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُوۡا وَيَعۡفُ عَنۡ كَثِيۡرٍ ۝ وَّيَعۡلَمَ

یا به هغه تباه کړی دا کشتۍ | په سبب د هغه څه | چه دوی کسب کړی دی | او معافی کوی | د ډیرو (ګناهونو) | او (چه) پوهه شی

یا (که هغه اوغواړی) نو دا کشتۍ به د خلقو د بعضو عملونو په وجه تباه کړی او د ډیرو ګناهونو نه الله معاف کوی او کوم خلق

الَّذِيۡنَ يُجَادِلُوۡنَ فِىۡۤ اٰيٰتِنَا ؕ مَا لَهُمۡ مِّنۡ مَّحِيۡصٍ ۝

هغه کسان | چه جګړے کوی | په آیتونو زمونږ کښ | نشته دے | د هغوی د پاره | هیڅ ځائے د تختیدلو

چه زمونږ په آیتونو کښ جګړے (بحثونه) کوی چه هغوی ته پته اولګی چه د هغوی د پاره د خلاصی هیڅ ځای نشته.

فَمَاۤ اُوۡتِي�ۡتُمۡ مِّنۡ شَىۡءٍ فَمَتَاعُ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا ۚ

پس هغه څه | چه درکړی شوی دی تاسو ته | څه څیز | نو (هغه خو) فائده | د ژوند | دُنیوی دے

غرض دا چه تاسو ته چه څه درکړے شوی دی هغه (تش) د دنیا د ژوند سامان دے

وَمَا عِنۡدَ اللّٰهِ خَيۡرٌ وَّاَبۡقٰى لِلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

او هغه څه | چه د الله سره دی | (هغه) ډیر ښه | او پاتے کیدونکی دی | د هغه کسانو د پاره | چه ایمان ئے راوړے دے

او څه چه د الله سره دی هغه هغه چا د پاره ډیر غوره او باقی پاتے کیدونکی دی چه ایمان ئے راوړے دے

وَعَلٰى رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُوۡنَ ۝ وَالَّذِيۡنَ يَجۡتَنِبُوۡنَ كَبٰٓئِرَ الۡاِثۡمِ

او په خپل رب باندے | توکل کوی | او هغه کسان | چه ځان بچ کوی | د غټو | ګناهونو نه

او په خپل رب باندے توکل کوی او کوم خلق چه د لویو ګناهونو

وَالۡفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوۡا هُمۡ يَغۡفِرُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيۡنَ

او د بے حیایئ نه | او کله چه | غصه شی دوی | نو دوی | معافی کوی | او هغه کسان

او د بے حیایئ نه ځان بچ کوی او کله چه غصه هم نو معافی کوی او کوم خلق

اسۡتَجَابُوۡا لِرَبِّهِمۡ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۪ وَاَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰى

چه حکم قبلوی | د رب خپل | او قائموی | مونځ | او کار د هغوی | مشوره کول دی

چه د خپل رب خبره (حکم) منی او د مانځه پابندی کوی او خپل کارونه (معاملات) په خپل مینځ کښ

بَيۡنَهُمۡ ۪ وَمِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ يُنۡفِقُوۡنَ ﴿۳۹﴾ وَالَّذِيۡنَ اِذَاۤ

په خپل مینځ کښ | او د هغه څه نه | چه مونږ ورکړی دی هغوی ته | خرچ کوی | او هغه کسان | چه کله

په مشوره سره (پوره) کوی او مونږ چه ورته کوم رزق ورکړے دے د هغے نه څه حصه خرچ کوی او کوم خلق چه کله

اَصَابَهُمُ الۡبَغۡىُ هُمۡ يَنۡتَصِرُوۡنَ ﴿۴۰﴾ وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ

اور سیږی هغوی ته | زیاتے (ظلم) | (نو) هغوی | بدله اخلی | او بدله | د بدئ | بدی وی

ورباندے څه زیاتے اوهی نو خپله بدله اخلی او د بدئ بدله هم هغسے بدی کول دی

مِّثۡلُهَا ۚ فَمَنۡ عَفَا وَاَصۡلَحَ فَاَجۡرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ

پشان د هغے | پس چا چه | معافی او کړه | او اصلاح ئے او کړه | نو اجر د هغهٔ | په الله دے | بیشکه هغه

بیا هم چا چه معافی او کړه او اصلاح ئے او کړه نو د هغه اجر الله (په خپله) ذمه (اخستلے) دے یقیناً الله

لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۴۱﴾ وَلَمَنِ انۡتَصَرَ بَعۡدَ ظُلۡمِهٖ

نهٔ خوښوی | ظالمان | او چا چه | بدله واخسته له | پس | د ظلم کیدو نه په د هغهٔ باندے

ظالمان نه خوښوی او څوک چه (په خپل ځان باندے) د ظلم کیدو نه پس خپله بدله واخلی

فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيۡهِمۡ مِّنۡ سَبِيۡلٍ ﴿۴۲﴾ اِنَّمَا السَّبِيۡلُ

نو هم د غه خلق | نشته | په دوی باندے | هیڅ ملامتیا | بیشکه | ملامتیا

نو په هغوی باندے هیڅ اِلزام نشته۔ اِلزام خو په هغه خلقو دے

عَلَى الَّذِيۡنَ يَظۡلِمُوۡنَ النَّاسَ وَيَبۡغُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ

په هغه کسانو د ه | چه ظلم کوی | په خلقو باندے | او سرکشی کوی | په زمکه کښ

چه په خلقو باندے ظلم کوی او په زمکه کښ بَرنا حقه (فساد) خوروی

بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۴۳﴾ وَلَمَنۡ

په ناحقه | هم د غه خلق | د دوی د پاره | عذاب دے | دردناک | او خامخا چا چه

هم داسے خلقو د پاره دردناک عذاب دے۔

ع صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنۡ عَزۡمِ الۡاُمُوۡرِ ﴿۴۴﴾ وَمَنۡ

صبر او کړو | او بخښنه ئے او کړه | نو بیشکه | دا | خامخا د همت (عزیمت) د کارونو نه دی | او هغه څوک

او (بیا هم) چا چه د صبر له کار واخستلو او معافی ئے او کړه نو دا د لوے همت خبره ده او څوک چه

يُضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى

چه گمراه (ئے) کړی | الله | نو نشته | دهغه دپاره | هیڅ څوک دوست | پس دهغه له | اوته به وویني

الله تعالی گمراه کړی نو بیا د الله نه پس دهغه هیڅ څوک مددګار (دوست) نشته او کله چه

الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ

ظالمان | کله چه | اوویني هغوی | عذاب لره | (نو) وائی به | آیا شته | واپس تلو ته

ظالمان عذاب اوویني نو ته به ئے اووینے چه دا به وائی چه آیا د واپس تلو څه لار شته؟

مِّنْ سَبِيْلٍ ۝ وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ

څه لار | اوته به اووینے دوی | (چه) پیش کولی به شی | په اور باندے | سرونه خکته کوونکی به وی

اوته به دوی اووینے چه دوزخ ته به دا سے پیش (مخامخ) کړے شی چه ذلت دوے نه به ئے سرونه تیټ کړی وی

مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ

ذوے د ذلت نه | کوری به دوی | په نظر کمزوری سره | او وائی به | هغه کسان

(او) د ستر کو په کوټو نو به کوری او مومنان به اووائی چه

اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

چه ایمان ئے راوړے دے | (چه) بیشکه | پوره تاوانیان | هم هغه کسان دی | چه تاوان ئے کړے دے | خانونو خپلو ته

واقعی اصل تاوان کښ خو هغه خلق پاتے شول چا چه خپل خانونه او کور والا

وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ

او کورنئ خپلے ته | په ورځ | د قیامت | خبردار | بیشکه | ظالمان به وی | په عذاب

(بال یچ) د قیامت په ورځ په تاوان کښ واچول یاد ساتئ چه ظالمان خلق به په دا سے عذاب کښ وی

مُّقِيْمٍ ۝ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ

همیشه کښ | او نه به وی | دوی دپاره | هیڅ څوک (دا سے) دوستان | چه مدد او کړی دَدوی (سره)

چه هغه به همیشه وی او دَ دوی به هیڅ څوک دا سے مددګار نه وی چه د الله نه سوائے

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ۝

سوا | د الله نه | او هغه څوک | چه گمراه ئے کړی | الله | پس نشته | دهغه دپاره | څه لار

څه مدد او کړی او څوک چه الله تعالی گمراه (ئے) کړی دهغه دپاره د هدایت (د خلاصی) هیڅ لار نشته۔

اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ

قبول کړئ (حکمونه) | د رب خپل | مخکښے د دے نه چه راشی | (هغه) ورځ | چه نشته واپس کیدل

اے خلقو! د خپل رب حکم (خبره) د هغے ورځے د راتلو نه مخکښ مخکښ اومنئ چه د الله د طرف نه

لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ

د هغے | د الله د طرف نه | نشته | ستاسو دپاره | څه ځائے د پناه | په دغه ورځ | اونه به وی | ستاسو دپاره

د هغے واپس کیدل نشته په هغه ورځ به نه ستاسو دپاره د پناه څه ځائے وی او نه به څه انکار کولے شئ

مِّنْ نَّكِيْرٍ ۝ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ

څه انکار | پس که چرے | مخ اړوی دوی | نو له ځانه لیږلے مونږ ته | په دوی باندے | نگهبان

(اے پیغمبره!) که چرے داخلق (بیا هم) مخ اړوی نو مونږ (خو) ته په دوی باندے څه نگران نه ځے مقرر کړے

اِنْ عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا

نشته | په تا باندے | مگر | رسول | اوبیشکه مونږ | چه کله | اوڅکوؤ | انسان ته | دخپل طرف نه

ستا په ذمه خو صرف پیغام (احکام) رسول دی او (دانسان حال داد ے چه) کله مونږ انسان ته دخپل طرف نه درحمت

رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا

څه مهربانی | نوے خوشحاله شی | په هغے باندے | اوکه چرے | اورسیږی دوی ته | څهٔ تکلیف | په وجه دهغه څه

خوند اوڅکوونو په هغے باندے خوشحاله (غاوره) شی او که داسے خلقو ته دخپلو عملونو دوے څه مصیبت اورسیږی

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ ۝ لِلّٰهِ مُلْكُ

چه مخکے لیږلی دی | لاسونو ددوی | نو بیشکه | انسان | ډیر ناشکره دے | خاص دالله | بادشاهی ده

نو بیا هم دغه انسان ډیر ناشکره وی ـ د (ټولو)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ يَهَبُ لِمَنْ

د آسمانونو | او د زمکے | هغه پیدا کوی | (هغه) څه | چه غواړی (ځے) | ورکوی | چاته چه

آسمانونو او د زمکے بادشاهی (صرف) د الله ده. هغه چه څه غواړی پیدا کوی ځے. چا لره

يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ۝ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ

اوغواړی | جینکی | او ورکوی | چاته چه | اوغواړی | هلکان | یا جوړه ورکوی دوی ته

چه اوغواړی جینکی (لونړه) ورکوی او چالره چه اوغواړی هلکان ورکوی یا ورله

ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ

هلکان | اوجینکی | اوکړی | چاله | چه اوغواړی | شنډ | بیشکه هغه | ښه پوهه

هلکان اوجینکی (جوړه جوړه) ورکوی او چاله چه اوغواړی نو شنډ ځے (پاتے) کړی یقیناً هغه ښه پوهه

قَدِيْرٌ ۝ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا

قدرت والا دے | او نه دی ممکن | دیو بشر دپاره | چه خبرے اوکړی دهغه سره | الله | مگر | په وحی سره

(پوره) قدرت والا دے اودهیڅ یو انسان دپاره دا ممکن نه دی چه الله تعالیٰ ورسره (مخامخ) خبرے اوکړی مگر داچه یا خو دوحی په

اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ

یا | وروستو | دپردے نه | یا راولیږی هغه | یو ملک | نو هغه وحی اوکړی | په حکم دهغه (الله)

ذریعه بغیر دواسطه د ملک نه زړه ته پیغام ورکړی یا دپردے شاته یا ورته یو ملک (فرشته) راولیږی نو هغه ورته دهغه څه وحی راوړی

مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ۝ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ

څه چه | هغه غواړی | بیشکه هغه | ډیر اوچت | دحکمت والا (ذات) دے | او دغه شان | وحی کړے ده مونږ

څه چه دالله تعالیٰ خو ښه وی یقیناً هغه ډیر اوچت شان والا لوے حکمت والا دے اودغه شان مونږ په خپل حکم

اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ؕ مَا كُنْتَ تَدْرِیْ مَا الْكِتٰبُ

تاته | د روح (قرآن) | په خپل حکم سره | نه وے ته | چه پوهیدلے | چه څه دے | کتاب

تاته د یو روح وحی کړے ده تا خو نه کتاب پیژندلو

وَلَا الْاِيْمَانُ وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِیْ بِهٖ مَنْ

او نه ایمان | لیکن | جوړ کړو مونږ دا (قرآن) | یوه رنړا | چه هدایت کوو مونږ | په دے سره | چاته

اونه دے تفصیلی ایمان پیژندلو لیکن مونږ دا قرآن یوه رنړا جوړه کړے ده چه دے په ذریعه په خپلو بندګانو کښ

نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ؕ وَاِنَّكَ لَتَهْدِیْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۙ﴿۵۲﴾

چه اوغواړو | د خپلو بندګانونه | اوبیشکه ته | هدایت کوے | په طرف دلارے | سمے (نیغے)

چه چاته اوغواړونو سمه لار ورته ښایو (هدایت کوو) اوپه دے کښ هیڅ شک نشته چه ته (خلقو ته) سمه لار ښائے

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا

(چه هغه) لار | د الله (ده) | هغه (الله) | چه دهغه (دپاره) دی | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی | اوهغه څه

چه (هغه) دهغه الله لار ده چه د آسمانونو او د زمکے د هر څه مالک دے۔

فِی الْاَرْضِ ؕ اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ ۧ﴿۵۳﴾ ع

| چه په زمکه کښ دی | خبردار | خاص الله ته | واپس کیږی به | تول کارونه |

خبر شئ چه تول کارونه (معاملات) به الله ته واپس کیږی۔

آیاتها [۸۹]	سورة الزّخرف مكّيّة	رکوعاتها [۷]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ۚ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۙ﴿۲﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا

حٰم | قسم دے په کتاب | وضاحت کوونکی باندے | بیشکه | جوړ کړے دے مونږ دا | قرآن | عربی (ژبه کښ)

حٰم قسم دے په (دے) واضحه کتاب باندے یقیناً مونږ دا د عربی ژبے قرآن جوړ کړے دے

لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۚ﴿۳﴾ وَاِنَّهٗ فِیْۤ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِیٌّ

دے دپاره چه تاسو | پوهه شئ | اوبیشکه دا قرآن دے | په اصل | د کتابونو کښ | زمونږ سره | خامخا ډیر اوچت

(دے دپاره) چه تاسو د عقل نه کار واخلئ او حقیقت دادے چه دا زمونږ سره په لوح محفوظ کښ ډیر اوچتے درجے والا

حَكِيْمٌ ؕ﴿۴﴾ اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ

د حکمتونونه ډک دے | آیا مونږ واړوو | ستاسو نه | (دا) نصیحت | په اړولو سره | په دے (وجه) | چه تاسو یئ

(او) د حکمت نه ډک کتاب دے آیا مونږ ستاسو نه دا نصیحت په دے وجه واړوو او نازلول ئے پریکړو چه تاسو

قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ۝ وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ ۝

يَو قوم | د حد نه اوړيدونكى | اوځومره (ډير) | ليږلى دى مونږ | پيغمبران | په وړومبنو خلقو كښ

د حد نه اوړيدلى خلق يئ؟ او مونږ په پخوا نو خلقو كښ څومره (ډير) پيغمبران ليږلى وو

وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝

اونه به راتلو هغوى ته | هيڅ يَو پيغمبر | مگر | هغوى به وو | په دهٗ پورے | چه نه وے به ئے كولے

او هغوى ته هيڅ يو پيغمبر داسے نه وو راغلے چه هغوى وَرپورے نه وے كړے

فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ۝

نو هلاك كړل مونږ | زيات سخت | دهغوى نه | په طاقت كښ | او تير شوى دے | مثال (نمونه) | د وړومبنو

پس (بيا) كوم خلق چه په هغوى كښ زور وو هغه مونږ هلاك كړل او د پخوا نو خلقو مثال او نمونه (خو) تير شوے دى

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

او كه چرے | ته تپوس او كړے دوى نه | (چه) چا | پيدا كړى دى | آسمانونه | او زمكه

او كه چرے ته دوے (مشركانو) نه تپوس او كړے چه دا ټول آسمانونه او زمكه چا پيدا كړى دى؟

لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ۝ الَّذِيْ جَعَلَ

(نو) خامخا به دوى وائى | چه پيدا كړى دا (ټول) | ډير زور ور | ښه پوهه ذات | هغه (ذات) | چه جوړه كړے ئے دے

نو دوى به ضرور هم دا وائى چه دا هغه ذات پيدا كړى دى چه ډير زور ور ښهٔ پوهه دے هغه (الله)

لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا

ستاسو دپاره | زمكه | فرش | او جوړے كړے ئے دى | ستاسو دپاره | په هغے كښ | لارے

چه زمكه ئے ستاسو دپاره فرش (جوړه) كړے ده او په هغے كښ ئے ستاسو دپاره لارے جوړے كړى دى

لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

دے دپاره چه تاسو | لار بيا مومئ | او هغه (ذات) | چه راوروى ئے دى | د آسمان نه | او به

چه تاسو (پرے) خپل منزل ته اورسيږئ او هغه (الله) چه په يَو خاص اندازه ئے او به راوروى دى

بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ۝

په (يوه) اندازه | نو راوژوندے كړے مونږ | په هغے سره | بنسار | مړ (وچ) | دغه شان به | تاسو (هم) راويستلى شئ

بيا مونږ د هغے په ذريعه اوچه زمكه تازه كړے ده دغه شان به تاسو هم (د قبرونو نه) راوويستلى شئ

وَالَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ

او هغه ذات | چه پيدا كړى ئے دى | جوړے | ټولے | او جوړے كړے ئے دى | ستاسو دپاره | د كشتو

او هغه (الله) چه هر قسم جوړے ئے پيدا كړى دى او تاسو دپاره ئے هغه كشتئ

وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ۝ لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ

او څاروونه | هغه څه | چه تاسو (پرے) سورلى كوئ | (دے دپاره) چه تاسو برابر شئ | په شاكانو د هغے | بيا

او څاروى پيدا كړى دى چه تاسو پرے سورلى كوئ دے دپاره چه تاسو د هغے په شا ټينگ (برابر) كينئ بيا

تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا

یاد کړئ تاسو | نعمت | درپ خپل | کله چه | تاسو برابر کیږئ | په هغے باندے | او اووایئ تاسو

کله چه وربانده سواره شئ نو (چه) د الله نعمت رایاد کړئ او دا اووایئ چه مونږ

سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ۙ﴿١٣﴾

(چه) پاکی ده | هغه ذات لره | چه تابع کړی ئے دی | زمونږ دپاره | دا | او له وو مونږ | دے لره | قابو کوونکی

پاکی وایو دهغه ذات چه داسورلۍ ئے زمونږ تابع کړے ده ګنی زمونږ خو دومره هیت له وو چه دا موږ په قابو کښی راوستلے وه

وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿١٤﴾ وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ

اویقیناً مونږ خپل رب طرف ته واپس تلونکی یو او دے (مشرکانو) د الله تعالی په بندګانو کښ دهغه دپاره

جُزْءًا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ؕ﴿١٥﴾ اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا

حصه | بیشکه | انسان دے | خامخا ډیر ناشکره | ښکاره | آیا هغه لیولی دی | دهغه څه نه

یو جزء مقرر کړے دے یقیناً انسان ښکاره ناشکره دے۔ آیا الله تعالی په مخلوق کښ د ځان دپاره

يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّاَصْفٰىكُمْ بِالْبَنِيْنَ ﴿١٦﴾ وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ

چه پیدا کړی ئے دی | لونږه | اوغوره کړی ئے تاسو | په څامنو سره | اوکله چه | زیږے ورکړے شی | یو تن ته دوی نه

(خو) لونږه خوښے کړی دی او تاسو ئے په څامنو غوره کړی یئ؟ حالانکه په دوی کښ چه کله یو کس ته

بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ

په هغه څه | چه دے ئے بیانوی | د رحمٰن دپاره | په مثال کښ | نو شی | مخ ددۀ | تک تور | اووی دے

دهغه (لور) زیږے ورکړے شی چه د هغے نسبت الله ته کوی نو ددۀ مخ تک تور شی او ډیر غمژن وی

كَظِيْمٌ ﴿١٧﴾ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ

ډک د غم نه | آیا هغه څوک | چه پالل شی | په کالو کښ | او هغه | په جګړه (بحث) کښ

آیا (الله دا سے کمزورے اولاد د ځان دپاره غوره کړے دی) څوک چه په ډول اوسنګار کښ پالل شی او په وخت د جګړه

غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ

نه وی | ښکاره کوونکے (خپل مقصد لره) | اودوی ګنډلی دی | ملائکے | هغه | چه هغوی | بندګان

(بحث) کښ خپله خبره هم صفا نه شی کولے؟ او دوی هغه ملائکے چه د رحمٰن بندګان دی

الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ؕ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ؕ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ

د رحمٰن دی | زنانه | آیا دوی حاضر شوی دی | پیدایش دهغوی ته | زرده چه او به لیکلی شی | بیان ددوی

زنانه ګنډلی دی آیا دوی دهغوی د پیدایش په وخت کښ موجود وو؟ زرده چه (عنقریب) ددوی دا بیان به او لیکلی شی

وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ

اوددوی نه به تپوس او کړی شی | او وائی دوی | که چرے | غوښتلے | رحمٰن | نو مونږ به عبادت نه وو کړے ددوی

اوددوی نه به د دے بے دلیله خبرو تپوس کیږی اودوی وائی که چرے رحمٰن غوښتلے نو مونږ به دے (ملائکو) عبادت نه وے کړے

مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٢٠﴾

نشته ددوی سره | په دے باندے | هیڅ علم | نه دی دوی | مگر | په توک خبرے کوی

حالانکه دوی سره په دے خبرے هیڅ دلیل نشته (خو) صرف په اټکل باندے روان دی۔

اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿٢١﴾

آیا مونږ ورکړے دے دوی ته | یو کتاب | مخکے ددے نه | چه دوی | په هغے باندے | منګولے لګونکی دی

آیا مونږ دوی ته ددے (قرآن) نه مخکښ څه کتاب ورکړے دے چه دوی په هغهٔ سره دلیل نیوونکی دی

بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا

(نه) بلکه | دوی وائی | چه بیشکه مونږ | موندلی دی | پلار نیکه خپل | په یوه طریقه باندے | او بیشکه مونږ

نه بلکه دوی (خو) دا وائی چه مونږ خپل پلار نیکه په یوه طریقه موندلی دی

عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

دهغوی په نقش قدم | لاره موندونکی یُو | او دغه شان | نه دی لیږلی مونږ | مخکښے ستا نه

او مونږ هم دهغوی په نقش قدم باندے روان یُو او (اے نبیؐ!) مونږ چه ستانه مخکښے (کله هم)

فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا وَجَدْنَآ

په یو کلی کښ | څوک ویروونکے | مگر | ویل به | مالداره خلقو دهغے | چه بیشکه مونږ | موندلی دی

په یو کلی کښ یو ویروونکے پیغمبر لیږلے دے نو دهغے مالدارو خلقو به هم دا خبره په دلیل کښ پیش کوله چه مونږ

اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴿٢٣﴾ قٰلَ

پلار نیکه خپل | په یوه طریقه باندے | او بیشکه مونږ | دهغوی په قدمونو پسے | روان یُو | اُوبه ویل (پیغمبر)

خپل پلار نیکه په یوه طریقه موندلی دی او مونږ قدم په قدم هغوی پسے روان یُو نو پیغمبر (به) ورته اوویل: تاسو چه خپل پلار نیکه

اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ۭ

آیا اګر که ما راوړی دوی تاسو ته | ښه هدایت | دهغه څه نه | چه تاسو موندلی دی | په هغے باندے | پلار نیکه خپل

په کومه طریقه موندلی دی که ما تاسو ته دهغے نه (ډیر) غوره طریقه راوړے وی نو بیا به هم (تاسو په هغوی پسے روان یئ)؟

قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٢٤﴾ فَانْتَقَمْنَا

اوبه وئیل هغوی | بیشکه مونږ | په هغه څه | چه تاسو لیږلی شوی یئ | په هغے | کفر کوونکی یُو | پس مونږ بدله واخسته

هغوی (به) ورته اوویل چه تاسو چه کوم پیغام راوړے دے مونږ هغه نه منو آخیر دا چه مونږ به دهغوی نه بدله واخسته

مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَاِذْ قَالَ ع

دهغوی نه | نو اوګوره | (چه) څنګه | شو | انجام | د دروغژن کوونکو | او کله چه | اوویل

نو (اوس) اوګوره چه د تکذیب کوونکو انجام څنګه شو؟ او (هغه وخت هم دیادولو دے) کله چه

اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٦﴾

ابراهیمؑ | خپل پلار ته | او خپل قوم ته | (چه) بیشکه زه | بیزاره یم | دهغه څه نه | چه تاسو (ئے) عبادت کوئ

ابراهیمؑ خپل پلار او خپل قوم ته اوویل چه تاسو چه دچا عبادت کوئ زه دهغے نه بیزاره یم

إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً

مگر | هغه ذات | چه هغه پیدا کړے یم زه | پس بیشکه هغه | زړه چه لاربه لوبنائی ماته | او اوکړ څوله الله دے لره | یوه کلمه

سوا د هغه ذات نه چه زه ئے پیدا کړے یم بس هم هغه به ماته لار بنائی او هم دا خبره الله د هغه په اولاد کښ

بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هَٰؤُلَاءِ

باقی پاتے کیدونکے | په بچو د هغه کښ | دے د پاره چه دوی | اوګرځی (توحید ته) | بلکه | مافائده ورکړے | دے خلقو ته

(باقی) پاتے کړه (د دے د پاره) چه خلق (د شرک نه) رجوع اوکړی اصل خبره دا ده چه مونږ دے خلقو ته

وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُولٌ مُبِينٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا

او پلار نیکه د دوی ته | تر دے | چه راغے دوی ته | حق | او رسول | بیکاره بیان کوونکے | او هر کله

او د دوی پلار نیکه ته د ژوند مزے (فائدے) ورکړے تر دے چه حق او صفا بیان کوونکے پیغمبر ورته راغے

جَاءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِ كَافِرُونَ ﴿٣٠﴾

چه راغے دوی ته | حق | (نو) اوویل دوی | دا | جادو دے | او بیشکه مونږ | په دے | کفر کوونکی یو

او کله چه ورته حق راغے نو وئے ویل چه دا خو جادو دے او مونږ د دے نه انکار کوو

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ

او اوویل دوی | ولے نازل نه کړے شو | دا | قرآن | په یوسړی | د دوو کلو نه

او وے ویل چه دا قرآن د هغه دوو کلو (چه مکه او طائف دے) په یو مالداره سړی باندے ولے نازل نه کړے شو؟

عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَةَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا

(چه) لوے (دے) | آیا دوی | تقسیموی | مهربانی | درب ستا | مونږ | تقسیم کړی دی

آیا دوی (به) ستا د رب رحمت تقسیموی؟ (حالانکه) هم مونږ د دنیا په ژوند کښ

بَيْنَهُمْ مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ

په مینځ د دوی کښ | (سامان د) ژوند د دوی | په ژوند | د نیوی کښ | او مونږ پورته کړی دی | بعضے د دوی نه

د دوی رزق (د دوی د رزق اسباب) د دوی په مینځ کښ تقسیم کړی دی او په یو بل مو

فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ

د پاسه | د بعضو نور و | په درجو کښ | (دے د پاره) چه اونیسی | بعضے د دوی نه | بعضو لره | خدمتګاران

ورله درجے اوچتے کړی دی دے د پاره چه دوی د یو بل نه کار (خدمت) واخلی

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾ وَلَوْلَا أَن يَكُونَ

او مهربانی | د رب ستا | ډیره ښه ده | د هغه څه نه | چه دوی (ئے) راجمع کوی | او که چرے نه وے | (د اخبره) چه څی به

او د دوی چه څه جمع کړی دی ستا د رب رحمت د هغے نه ډیر غوره دے او که چرے د اخبره نه وے

النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ

خلق | ډله | یوه (په کفر) | نو ضرور به مونږ جوړ کړی وے | د هغه چا د پاره | چه کفر کوی | په رحمٰن

چه ټول خلق به په یوه طریقه (د کفر) روان شی نو د رحمٰن د منکرینو د پاره به مونږ

لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ۙ﴿۳۴﴾

د کورونو دهغوی دپاره | چتونه | د سپینو زرو (نه) | او پوړئ | چه په هغے باندے | دوی وَرخیژی

د هغوی د کورونو چتونه هم د سپینو زرو نه جوړے کړی وو او هغه پوړئ هم چه دوی پرے خیژی

وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ ۙ﴿۳۵﴾ وَزُخْرُفًا ؕ

او دپاره د کورونو دَدوی | دروازے | او تختونه هم | چه په هغے باندے | دوی تکیا لگوی | او سرهٔ زر هم

او د دوی د کورونو دروازے هم او هغه تختونه هم چه دوی پرے آرام کوی او ورکړے به وو مونږه

وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَالْاٰخِرَةُ

او نهٔ دی | دا ټول | مګر | فائده | د ډوند | دُنیوی | او آخرت

سرهٔ زر هم او دا هر څه (خو) صرف د دنیا د ډوند (لږ غوندے) سامان دے او فائدے د آخرت

عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾ ع وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ

په نزد | د رب ستا | د متقیانو دپاره دے | او څوک | چه ښتے کړی ستر گے | د نصیحت | د رحمٰن نه

ستا د رب سره د متقیانو دپاره دی او څوک چه د رحمٰن د ذکر نه ستر گے ښتے کړی

نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴿۳۶﴾ وَاِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ

نو مونږ یه مقرر کړو | په هغے | شیطان | پس وی به هغه | د دغه (پاره) | ملګرے | او بیشکه هغوی | خامخا منع کوی دوی لره

نو مونږ به په هغهٔ باندے یو شیطان مسلط کړو نو هغه به د ددهٔ ملګرے شی او یقیناً دا شیطان دوی لره

عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۷﴾ حَتّٰۤى اِذَا

د لارے نه | او گمان کوی دوی | چه بیشکه دوی | (سمه) لار موندونکی دی | تر دے | چه کله

د سمے لارے نه منع کوی او دوی گمان کوی (گنی) چه دوی په سمه لار روان دی۔ تر دے چه دا سے کس کله

جَآءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ

راشی مونږ ته | نو وائی به | هائے زما ژمن | چه وے په مینځ ما کښ | او په مینځ ستا کښ | لرے والے | د مشرق او د مغرب (هومره)

زمونږ خواته راشی نو وبه وائی به (خپل شیطان ملګری ته) وائی چه کاش زما او ستا په مینځ کښ د مشرق او د مغرب فاصله وے

فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ ﴿۳۸﴾ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اِذْ ظَّلَمْتُمْ

پس ډیر بد | ملګرے ئے (ته) | او هیڅ کله به فائده درنکړی تاسو ته | نن ورځ | هر کله چه | تاسو ظلم کړے دے

(څکه چه) ته ډیر خراب ملګرے وے او (دوی ته به او وبلی شی) هر کله چه تاسو (په دنیا کښ) ظلم کړے دے نو نن تاسو ته

اَنَّكُمْ فِى الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۹﴾ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ

(د خبرې) چه تاسو | په عذاب کښ | شریک یئ | آیا نو ته | آورولے شے | کنړو ته

د خبرې هیڅ فائده نشی درکولے چه تاسو په عذاب کښ دیوبل سره شریک یئ نو بیا (اے نبی!) آیا ته کنړو ته خپله خبره آورولے شے

اَوْ تَهْدِى الْعُمْىَ وَمَنْ كَانَ فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۰﴾ فَاِمَّا

یا ته لار ښودلے شے | رندو ته | او هغه چا ته | چه وی هغه | په گمراهئ | ښکاره کښ | پس که چرے

یا رندو ته او هغه چا ته سمه لار ښودلے شے چه په ښکاره گمراهئ کښ پراته دی۔

نَذْهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ۝ اَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِيْ

مونږ یوځو | تا | نوبیشکه مونږ | د دوی نه | بدله اخستونکی یُو | یا به مونږ اوښایو تاته | هغه څه

نوامے پیغمبره اته تسلی لره چه که چرے مونږ تاوفات کړونو بیا به هم مونږ د دوی نه بدله (ضرور) اخلو یا به تاته مونږ

وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَيْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ۝ فَاسْتَمْسِكْ

چه مونږ (ئے) وعده کړے ده دوی سره | نوبیشکه مونږ | په دوی باندے | (بنه) قدرت لرونکی یُو | پس منګولے ولګوه

ستا پرے وند کښ هغه (عذاب) اوښایُو د کوم چه مونږ دوی سره توعده کړے ده ځکه چه مونږ په هر حال کښ په دوی باندے قابو لرونو

بِالَّذِيْٓ اُوْحِيَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

په هغه څه | چه وحی (ئے) کړے شوے ده | تاته | بیشکه ته ئے | په لاره | نیغه باندے

(اے نبیؐ!) تاته چه کومه وحی شوے ده هغه مضبوطه راتینګه کړه یقیناً ته په سمه لارے

وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ۝

اوبیشکه دا (قرآن) | خامخا نصیحت دے | ستا د پاره (هم) | اوستا د قوم د پاره (هم) | اوزر ده | چه تاسو نه به تپوس اوکړے شی

او حقیقت دا دے چه دا (وحی) ستا اوستا د قوم د پاره عزت (نصیحت) دے او به زر به تاسو نه وغواړے (د حق) تپوس اوشی

وَسْـَٔلْ مَنْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ اَجَعَلْنَا

اوته تپوس اوکړه | د هغه چا نه | چه مونږ لیږلی وو | ستا نه مخکے | د خپلو پیغمبرانو نه | (چه) آیا مونږ جوړ کړی وو

اوتاسو نه مخکښ چه مونږ څومره پیغمبران لیږلی دی د هغوی نه تپوس اوکړه چه آیا مونږ

مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

سوا | د رحمٰن نه | (نور) خدایان | چه د هغوی عبادت کیدے شی | او یقیناً | مونږ لیږلے وو

د رحمٰن نه سوا نور خدایان مقرر کړی دی چه د هغوی د عبادت اوشی؟ او یقیناً مونږ

مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ اِنِّيْ رَسُوْلُ

موسیٰؑ | په خپلو نښو سره | فرعون | او د هغه سردارانو ته | نو هغه اووېل | چه بیشکه زه | رسول

موسیٰؑ په خپلو نښو سره فرعون او د هغه سردارانو ته لیږلے وو نو موسیٰؑ ویلی وو چه زه

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ

د رب | د مخلوقاتو یم | پس هر کله | چه د مے راغے هغوی ته | په نښو زمونږ سره | نو د غه وخت | هغوی

د رب العالمین رالیږلے شوے پیغمبر یم (بیا) کله چه هغه زمونږ د نښو سره دوی ته راغے

مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ۝ وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ

د ٔ پورے | خندا کوله | او مونږ به نه ٔ ښودله دوی ته | څه نښه | مګر | هغه به | لویه وه

نو دوی ورپورے خندا کاڼے شروع کړے او کومه نښه به چه مونږ دوی ته ښودله هغه د مخکښ

مِنْ اُخْتِهَا ۫ وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝

د ملګرے خپلے نه | او مونږ راونیول دوی | په عذاب سره | د مے د پاره چه دوی | واپس شی

نښے نه لویه وه او مونږ (دوی) په عذاب کښ راونیول د مے د پاره چه مونږ ته رجوع اوکړی

وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ

اواوویل دوی | اے | جادوگره! | دعاء اوغواړه | زمونږدپاره | درب خپل نه | په دے وجه | چه هغه لوظ کړے دے

او دوی دا اوویل چه اے جادوگره! ستا رب چه تاسره کوم لوظ کړے دے دهغے په وجه زمونږ دپاره

عِنْدَكَ ۚ اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ

تاسره | بیشکه مونږبه | خامخا هدایت قبلونکی شُو | پس هرکله | چه به مونږلرے کړو | دَدوی نه | عذاب

دخپل رب نه دعاء اوغواړه یقیناً مونږبه په سمه لار راشو (خو) بیاکله به چه مونږ دَدوی نه عذاب لرے کړو

اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ قَالَ

نودغه وخت به | دوی | لوظ ماتولو | او آواز اوکړو | فرعون | په قوم خپل کښ | وئے ویل

نو په هغه وخت کښ به دوی خپل لوظ مات کړو او فرعون په خپل قوم کښ اعلان اوکړو (او) وئے ویل

يٰقَوْمِ اَلَيْسَ لِيْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِيْ

اے زما قومه! | آیا نه دے | زما (دپاره) | حکومت | د مصر | او دا | نهرونه هم | بهیږی

چه اے زما قومه! آیا د مصر حکومت زما په قبضه کښ نه دے؟ او دا نهرونه چه زما (دَحکم د)

مِنْ تَحْتِيْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۱﴾ اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِيْ

زما (دَحکم د) لاندے؟ | آیا تاسو نه وینئ | آیا زهٔ | غوره یم | دَدے کس | هغے نه

لاندے بهیږی (زما په قبضه کښ نه دی)؟ آیا تاسو (دا هر څه) وینئ نه؟ یا بیادا و منئ چه زهٔ دهغه کس نه ډیر غوره یم

هُوَ مَهِيْنٌ ۙ وَّلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿۵۲﴾ فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ

چه هغه | ذلیل دے | او نزدے نه دے | چه بشکاره کړی (مقصد خپل) | پس ولے اونه غورځولی شو | په دهٔ باندے

چه دهغه هیڅ عزت نشته او خپله خبره هم صفا (بشکاره) نه شی کولے (که چرے دے پیغمبر وے نو)

اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ ﴿۵۳﴾

باهوکان (کړئ) | د سرو زرو | یا ولے نه راځی | ددهٔ سره | ملائک | پیوست (ملګری)

په دهٔ باندے د سرو زرو باهوکان ولے نه دی اچولی شوی یا قطار په قطار فرشتے ورسره ولے راغلے

فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۵۴﴾

پس دهٔ بیوقوف کړو | قوم خپل | نوهغوی خبره ومنله دده | بیشکه هغوی | وو | یَو قوم | نافرمانه

غرض دا چه دهٔ (فرعون) خپل قوم بیوقوفه کړو اوهغوی ئے خبره اومنله حقیقت دادے چه هغوی ټول فاسقان وو

فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۵﴾

پس هرکله | چه هغوی خفه کړو مونږ | نو مونږ بدله واخسته | د هغوی نه | نو غرق کړل مونږ هغوی | ټول

پس (بیا) هرکله چه هغوی مونږ خفه کړو نو مونږ ترے نه بدله واخسته او ټول مو غرق کړل

فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ

پس اوګرځول مونږ هغوی | پیشوایان | او نمونه | د وروستنو دپاره | اوهرکله چه | یاد کړے شی | څوئے

اود نورو (راتلونکو) خلقو دپاره مو دَعذاب نمونه اود عبرت واقعه جوړه کړه اوکله چه د عیسیٰ بن

مَرْيَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّوْنَ ﴿۵۷﴾ وَقَالُوْٓا

د مریم | په مثال کښې | نوناکهانه | ستا قوم | د هغهٔ دوجې | شور کوی | او وائی دوی

مریم دبندګۍ ذکر په قرآن کښې په طور د مثال دوی ته راوکړے شی نو دغه وخت ستا قوم شور کوی چې ولې عیسیٰ جوړ کړے شوے الهتهٔ موږ څخه؟

ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ ۭ مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ۭ

چه آیا زمونږ خدایان | ډیر غوره دی | یا هغه (عیسیٰ) | دوی نه یې یانوی هغه لره | تاته | مګر | د ضد د پاره

او دوی وائی چه آیا زمونږ خدایان جوړ کړے شوی خدایان غوره دی که هغه (عیسیٰ)؟ دوی دا خبره تاته صرف د جګړې او د ضد په طور کوی

بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا

بلکه | دوی | یو قوم دے | جګړه کوونکی | نه دے هغه | مګر | یو (داسے) بنده | چه مونږ یې احسان کړے وو

بلکه دا خلق هسے هم جګړه مار دی عیسیٰ خو بس زمونږ یو بنده وو چه مونږ پرے انعام کړے وو

عَلَيْهِ وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ﴿۵۹﴾ وَلَوْ نَشَاۗءُ

په هغه باندے | او مونږ جوړ کړے وو هغه | یو نمونه | د پاره د بنی اسرائیلو | او که چرے | مونږ غوښتلے

او د بنی اسرائیلو د پاره مو یوه نمونه د عبرت جوړه کړے ده۔ او که مونږ غوښتلے

لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰۗىِٕكَةً فِي الْاَرْضِ يَخْلُفُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَاِنَّهٗ

نو خامخا به جوړ کړے وے مونږ | ستاسو په بدله کښې | ملائک | په زمکه کښې | چه خلافت به ګوله | او بیشکه هغه

نو ستاسو په بدله کښې به موفرشتے پیدا کړے وے چه ستاسو په څای به په زمکه کښې اوسیدے او یقین او کړی

لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ۭ هٰذَا

خامخا یوه نخښه ده | د قیامت | پس تاسو شک مه کوئ | د هغے (قیامت) په راتلو کښې | او ما پسے راځئ | دا ده

چه نزول د عیسیٰ د قیامت یوه نخښه ده نو تاسو په دے کښې شک مه کوئ او ما پسے راروان شئ هم دا

صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۱﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ

لاره | نیغه | او بند دے نه کړی تاسو لره | شیطان | بیشکه هغه دے | ستاسو (د پاره)

نیغه لاره ده او شیطان دے هیڅ کله تاسو (د ځان سره لارے نه) منع نه کړی یقین او سائ چه هغه ستاسو

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۶۲﴾ وَلَمَّا جَاۗءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ قَدْ

دشمن | ښکاره | او هر کله | چه راغے | عیسیٰ | په ښکاره نخښو سره | وے ویل | چه یقیناً

ښکاره دشمن دے او کله چه عیسیٰ د ښکاره نخښو سره راغے نو خلقو ته ئے اووئیل چه

جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ

زه راغلے یم تاسو ته | د حکمت سره | او (دے دپاره) چه وضاحت اوکړم | تاسو ته | د بعضے | هغه خبرو

ما تاسو ته د حکمت خبرے راوړی دی او دے د پاره راغلے یم چه تاسو ته دهغه خبرو وضاحت اوکړم

تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۶۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

چه تاسو اختلاف کوئ | په هغے کښې | نو اویریږئ | د الله نه | او زما خبره اومنئ | بیشکه | الله | هم هغه

چه تاسو پکښې اختلاف کوئ نو بس د الله نه اویریږئ او زما خبره اومنئ۔ یقیناً الله

رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝

رب زما | اورب ستاسو دے | نوعبادت اوکړئ دهغه | دا دہ | لارہ | نیغه

زما هم رب دے او ستاسو هم رب دے نو هم دهغه عبادت اوکړئ هم دا نیغه لار دہ

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ

پس اختلاف اوکړو | دلو | په خپل مینځ کښې | پس تباهی دہ | دهغه خلقو دپارہ

بیا (هم) (دیرو) دلو په خپل مینځ کښې اختلاف اوکړو پس د ظالمانو خلقو دپارہ

ظَلَمُوْا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ۝ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا

چه ظلم ئے کړے دے | د عذاب | دور څخه | دردناکے نه | دوی انتظار نه کوی | مکر

د دردناکے ورځے د عذاب په وجه تباهی دہ دا خلق صرف د دے خبرے انتظار کوی چه

السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝ اَلْاَخِلَّآءُ

د قیامت | چه رابه شی دوی ته | ناڅاپه | اودوی به | خبر نه وی | دوستان به

قیامت پرے ناڅاپی راشی اودوی ته به (ئے) پته هم نه وی په دغه ورځ به ټول دوستان

يَوْمَئِذٍۢ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ ۝ يٰعِبَادِ

په دغه ورځ | بعضے دَدوی نه | د بعضو دپارہ | دشمنان وی | سوا | د متقیانو نه | اے زما بندگانو

دیو بل دشمنان وی سوا د متقیانو نه (هغوی ته به اوویلی شی چه) اے زما بندگانو

لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ

نشته دے هیڅ ډیره | په تاسو | نن ورځ | او نهٔ به تاسو | غمژن شئ | هغه کسان

نن ورځ به په تاسو هیڅ ډیره نه راځی او نهٔ به غمژن کیږئ دا هغه خلق دی

اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ۝ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ

چه ایمان ئے راوړے وو | په آیتونو زمونږ | اووو دوی | مسلمانان | داخل شئ | جنت ته

چه زما په آیتونو ئے ایمان راوړے وو او همیشه فرمانبردار وو۔ (دوی ته اووئیلے شو چه) تاسو اوستاسو بیبیانے

اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ۝ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ

تاسو | او بیبیانے ستاسو هم | (چه) خوشحاله به کړے شئ تاسو | کرځول به شی | په دوی باندے | کاسے

جنت ته خوشحاله ورننوځئ۔ (هلته به) په دوی باندے د سرو زرو د رکیبو

مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ ۚ وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ

د سرور زرو | او گیلاسونه هم | او وی به په دے کښې | هغه څه | چه غواړی ئے | نفسونه

او گیلاسونو دور چلیږی او هلته به هر هغه څیز وی چه دَدوی زړونه ئے غواړی او (چه) ستر گے پرے

وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ وَاَنْتُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ

اوخوند ترے اخلی | ستر گے | او تاسو به | په دے کښې | همیشه یئ | او دا | جنت دے

خوند حاصلوی (او دوی ته به اووئیلی شی چه) تاسو به دلته (په جنت کښې) همیشه اوسیږئ اودا هغه جنت دے

الَّتِيْٓ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾ لَكُمْ فِيْهَا

هغه | چه در کړے شوتاسوته (دا) | په وجه دهغه څه | چه تاسو به کول | ستاسو دپاره | په دے کښ

چه تاسو د خپلو عملونو په وجه دَ دے وارثان جوړ کړے شوئ په دے کښ ستاسو دپاره

فَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۷۳﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ عَذَابِ

میوے دی | ډیرے | (چه) دهغے نه | تاسو خورئ | بیشکه | مجرمان به | په عذاب

ډیرے میوے دی چه تاسو به ئے خورئ۔ البته مجرمان خلق به د دوزخ په عذاب کښ همیشه وی

جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۷۴﴾ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿۷۵﴾

دجهنم کښ | همیشه وی | نه به هلکی کمے (عذاب) | دَدوی نه | او دوی به | په هغے کښ | نا اُمیده وی

هغه عذاب به دَ دوی نه کمیږی نه او دوی به په هغے کښ نا اُمیده پراته وی

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْا هُمُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۶﴾ وَنَادَوْا

اوظلم نه دے کړے مونږ په دوی باندے | لیکن | وو | دوی | ظالمان | اوآوازیه اوکړی دوی

او مونږ په دوی ظلم نه دے کړے لیکن دوی پخپله ظالمان وو او دوی به (د دوزخ فرشتے ته) آواز اوکړی

يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ

(چه) اے مالکه! | فیصله دے اوکړی (دمرګ) | په مونږ باندے | رب ستا | اوبه وائی هغه | بیشکه تاسو (دلته)

چه اے مالک! ستا رب دے زمونږ فیصله (خبره) ختمه کړی هغه به ورته اووائی تاسو به همیشه

مّٰكِثُوْنَ ﴿۷۷﴾ لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ

ایسار یئ | یقیناً | مونږ راوړے ووتاسوته | حق (دین) | لیکن | ډیر ستاسو نه | حق لره

هم په دے حالت کښ یئ حقیقت دادے چه مونږ خو تاسو ته حق راوړے وو لیکن په تاسو کښ اکثر خلقو

كٰرِهُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَمْ اَبْرَمُوْٓا اَمْرًا فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ ﴿۷۹﴾

بد ګڼرونکی وو | آیا دوی کلک قصد کړے دے | دیو کار | (نو) بیشکه مونږ | کلک قصد کوونکی یُو

حق نه خوښولو. آیا دوی دَحق د مقابلے کلکه فیصله کړے ده نو مونږ هم د څه کولو فیصله کوونکی یُو

اَمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ ؕ بَلٰى

آیا دوی ګمان کوی | چه بیشکه مونږ | نه اورو | پټے خبرے دَدوی | او جرګے دَدوی | ولے نه

آیا دوی دا خیال دے چه (ګنی) مونږ دَدوی پټے خبرے او د سر ګوشئ خبرے نه اورو وو، ولے نه اورو،

وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۸۰﴾ قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ ۖ

اوملائک زمونږ | ددوی سره دی | چه لیکل کوی | اووایه | که چرے | وی | درحمٰن (دپاره) | څوئے

اوزمونږ فرشتے دَدوی سره دی هغوی هر څه لیکی اے پیغمبره! (دوی ته) اووایه که بالفرض درحمٰن ذات

فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

نوزه به وے | اول | د عبادت کوونکو نه | پاک دے | رب | د آسمانونو | او د زمکے

څوک اولاد دے نو د تولو نه وړومبے به زه (دهغهٔ) عبادت کوونکی وے د آسمانونو او د زمکے مالک (او) د عرش مالک دهغه

رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا

مالک | د عرش | دهغه څخه نه | چه دوی ئې بیانوی | پس ته پریږده دوی | چه ورنښتی په بحث کښ | اولوبے کوی

تولو خبرونه پاک دے چه دوی ئے بیانوی نو (اے نبیؐ!) ته دوی په خپل حال پریږده چه په دے خبرو (شغلونو) کښ

حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۸۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

تر دے | چه دوی مخامخ شی | دور څخه دَدوی | هغے سره | چه دوی سره ئے وعده کوله شی | او هم الله هغه ذات دے

اخته وی اولوبے کوی تر دے چه دکومے ور څخه ورسره وعده شوے ده هغے سره مخامخ شی او هم هغه یو (الله) دے

فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

چه آسمان کښ (هم) | معبود دے | او په زمکه کښ (هم) | معبود دے | او هم هغه | لوئ حکمت والا

چه په آسمانونو کښ هم معبود دے او په زمکه کښ هم معبود دے او هم هغه ډیر حکمت والا

الْعَلِيْمُ ﴿۸۴﴾ وَتَبٰرَكَ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ښه پوهه دے | او ډیر برکت والا دے | هغه ذات | چه دهغه (د پاره) ده | بادشاهی | د آسمانونو | او د زمکے

ډیر پوهه دے او لوئ شان دے دهغه ذات چه دهغه په قبضه کښ د آسمانونو او د زمکے

وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ

او دهغه څه | چه دے دواړو په مینځ کښ دی | او (هم) دهغه سره | علم | د قیامت دے | او هم هغه ته به

او د دے دواړو په مینځ کښ چه څه دی د هغے حکومت دے او هم دهغه سره د قیامت علم دے او هم هغهٔ ته به

تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۵﴾ وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ

تاسو واپس کولی شئ | او اختیار نه لری | هغه کسان | چه دوی ئے رابلی | سوا د هغه نه | د سفارش

تاسو واپس کولی شئ او الله تعالیٰ نه سوا چه دوی کوم معبودان رابلی هغوی د هیڅ سفارش اختیار نه لری

اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ وَلَئِنْ

مګر | هغه څوک | چه گواهی ئے ورکړے ده | د حق | او هغوی | پوهیږی | او که چرے

البته چا چه د حق اقرار ئے کړے وی او دهغے علم ورسره هم وی او که چرے ته دے خلقو نه

سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۸۷﴾

ته پوس او کړے دے دوی نه | چه چا | پیدا کړی دی دوی؟ | نو خامخا به دوی وائی | چه الله | پس نو کوم خوا | اړولی شی دوی

پوس او کړے چه دوی چا پیدا کړی دی؟ نو دوی به خامخا وائی چه الله نو بیا کوم خوا دوی اړولی روان دی د حق نه؟

وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾

او قسم دے په دے وینا (د رسول) | چه اے ربه زما | بیشکه | دا خلق | (دا سے) قوم دے | چه ایمان نه راوړی

او د پیغمبر په دے وینا قسم دے چه اے زما ربه یقیناً دا دا سے خلق دی چه ایمان نه راوړی

فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ؕ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾

پس ته مخ واړوه | د دوی نه | او اووایه | سلام دے (تاسو ته د جدایئ) | پس ډیر زر به | دوی پوهه شی

نو (اے نبیؐ!) ته د دوی نه مخ واړوه او ورته اووایه چه (زما تاسو ته) سلام دے څکه چه ډیر زر به دوی ته پته اولگی

آياتها[٥٩]	سورة الدّخان مكّيّة	ركوعاتها[٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ۚ﴿١﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۙ﴿٢﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ

حٰم | قسم دے په کتاب | واضحه باندے | (چه) بيشکه مونږ | نازل کړے دے دا | په شپه

حٰم. په هغه کتاب قسم دے چه حق لره واضح کوونکی دے چه يقيناً مونږ دا (قران) په يوه مبارکه شپه کښ

مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ﴿٣﴾ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ

مبارکه کښ | بيشکه مونږ | يُو | ويروونکی | په دے (شپه) کښ | فيصله کولے شی | دهر يو کار

نازل کړے دے او مونږ خلقو لره خبردار وونکی (ويرونکی) يُو. هم په دے شپه کښ د حکمت هر کار

حَكِيْمٍ ۙ﴿٤﴾ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ۚ﴿٥﴾ رَحْمَةً

حکمت والا | په حکم کولو سره | زمونږ د طرف نه | بيشکه مونږ | يُو | رالېږونکی | دوے د رحمت

زمونږ په حکم فيصله کيږی يقيناً مونږ پيغمبر رالېږونکی يُو دا ستا د رب رحمت دے

مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۙ﴿٦﴾ رَبِّ السَّمٰوٰتِ

د رب ستا نه | بيشکه | هم هغه دے | اوريدونکے | ښه پوهه (ذات) | رب | د آسمانونو

يقيناً هغه هر څه اوريدونکے په هر څه پوهه دے د آسمانونو او د زمکے

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿٧﴾ لَآ

او د زمکے | اودهغه څه | چه دے دواړو ترمينځه دی | که چرے | تاسو يئ | يقين کوونکی | نشته دے

او د دے دواړو په مينځ کښ چه څه دی د هغے مالک (رب) دے که تاسو واقعی يقين لرونکی يئ

اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ

لائق د بندګۍ | سوا | دهغه نه | ژوندی کول کوی | اومړه کول کوی | رب دے ستاسو | اورب دے | ستاسو د پلار نيکه

دهغه نه سوا هيڅ څوک د عبادت لائق نشته هغه ژوندی هم ورکوی او مرګ هم (راولی) هغه ستاسو هم رب دے او ستاسو

الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ﴿٩﴾ فَارْتَقِبْ يَوْمَ

پخوانو هم | بلکه | دوی | په شک کښ دی | لوبے کوی | پس انتظار اوکړه | دهغه ورځ

د پخوانو پلار نيکه هم رب دے بلکه دوی په شک کښ پراته دی (او) لوبے کوی نو (بس) ته دهغے ورځے انتظار کوه

تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿١٠﴾ يَّغْشَى النَّاسَ ؕ هٰذَا عَذَابٌ

چه ښکاره به کړی | آسمان | لوګئ | څرګند | چه پټوی به | خلق | دا دے | عذاب

کله به چه د آسمان نه يو ښکاره لوګے ښکاره شی چه په خلقو به راخور شی دا يو دردناک عذاب دے

اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾

دردناک | اے ربه زمونږ | ته لرے کړه | زمونږ نه | عذاب | بیشکه مونږ | ایمان راوړونکی یُو

(هغه وخت به خلق اووائی چه) اے زمونږ ربه! مونږ نه دا عذاب لرے کړه مونږ به خامخا ایمان راوړو

اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۳﴾

څنګه به فائده مند شی | د دوی دپاره | نصیحت | او یقیناً | راغلے دے دوی ته | رسول | ښکاره

په دغه وخت به نصیحت دوی له څه فائده ور کړی؟ حالانکه دوی ته حق واضح کوونکے پیغمبر راغلے دے

ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّا كَاشِفُوا

بیا | مخ واړولو دوی | دهغه نه | اووئ ویل | ده ته ښودنه کړے شوے ده | لیونے دے | بیشکه مونږ | لرے کوونکی یُو

بیا هم دوی دهغه نه مخ اړوی او وائی چه ده ته ښودنه کړے شوے ده (او) لیونے دے مونږ خو عذاب

الْعَذَابِ قَلِيْلًا اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ ﴿۱۵﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ

د عذاب | لږ وخت | بیشکه تاسو | بیا واړس کیدونکی (یئ) | په هغه ورځ | چه مونږ نیول او کړو | نیول

څه وخته پورے لرے کوو خو تاسو به بیا هم کفر کوئ په کومه ورځ به چه مونږ ډیر سخت نیول او کړو

الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ

ډیر لوے | بیشکه مونږ | بدله اخستونکی یُو | او یقیناً | مونږ امتحان کړے وو | مخکے د دوی نه | په قوم

نو (په هغه ورځ به) یقیناً مونږ پوره بدله اخلو او یقیناً مونږ د دوی نه مخکښ

فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۷﴾ اَنْ اَدُّوْٓا اِلَيَّ عِبَادَ

د فرعون | او راغلے وو هغوی ته | یو رسول | عزتمند | چه حواله کړئ | ماته | بندګان

فرعون او دهغه قوم از مائلے وو او هغوی ته یو معزز پیغمبر راغلے وو (او ورته ئے ویلی وو چه) د الله بندګان زما حواله کړه

اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۸﴾ وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ ۚ

د الله | بیشکه زه | ستاسو دپاره | یو رسول یم | امانتدار | او داچه | سرکشی مه کوئ | د الله خلاف

زه ستاسو (دپاره) یو امانتدار پیغمبر یم او (دا چه) د الله تعالی په مقابله کښ سرکشی مه کوئ

اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۹﴾ ۚ وَاِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ

بیشکه زه | راوړونکے یم تاسو ته | دلیل | ښکاره | او بیشکه زه | پناه غواړم | په رب خپل

یقیناً زه تاسو ته ښکاره دلیل پیش کوونکے یم او زه دے خبرے نه د خپل پروردګار او ستاسو د پروردګار پناه غواړم

وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿۲۰﴾ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ

او په رب ستاسو سره | د دے نه | چه تاسو په ګټو وولی مارلے | او که چرے | ایمان نه راوړئ تاسو | زما (په دعوت)

چه تاسو ما سنګسار کړئ او که چرے تاسو په ما ایمان نه راوړئ نو بیا زما نه

فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿۲۱﴾ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۲﴾

ته جدا شئ زما نه | پس هغه دعاء او غوښتله | د خپل رب نه | (چه) دا خلق | یو قوم دے | جرم کوونکی

دے ده ته شئ بیا موسیٰ خپل رب ته آواز (فریاد) او کړو چه دا خلق مجرمان دی

فَاَسْرِ بِعِبَادِيْ لَيْلًا اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَاتْرُكِ

نیک | (دا سے) جنتونه | چه بهیږی (به) | لاندے د هغے نه | نهرونه | او هغه کسان

الله تعالی به هغوی دا سے جنتونو ته داخل کړی چه لاندے به ئے نهرونه بهیږی.

كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ

چه کفر ئے کړے دے | هغوی فائدے اخلی | او خوراک کوی | (دا سے) لکه څنگه | چه خوراک کوی | څاروی

او چا چه کفر اختیار کړے دے (هغوی دلته) مزے کوی او دا سے خوراک کوی لکه څنگه چه څاروی خوراک کوی

وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۝١٢ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِىَ اَشَدُّ قُوَّةً

او اور | ځای د اوسیدو | د هغوی دے | او ډیر | د کلو نه (وو) | چه هغه | زیات وو | په طاقت کښ

او (اخیر) د جهنم اور د هغوی ځائے دے. او څومره ډیر کلی وو چه په طاقت کښ ستا

مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿۱۳﴾

د کلی ستا نه | هغه | چه ته ئې ویستلے ئې | مونږ هلاک کړل هغوی | پس نه وو هیڅوک مدد کوونکے | د هغوی
دهغه کلی نه مضبوط ووچه ته ئې ویستلے ئې، هغه ټول مونږ هلاک کړل نو (بیا) هیڅ څوک د هغوی مددګار نه وو.

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ

آیا نو هغه څوک | چه وی | په ښکاره دلیل | د خپل رب له طرفه نه | پشان د هغه چا دے | چه ښائسته کړے شوی وی | هغه نه
(اوس اووایئ) څوک چه د خپل رب د طرف نه په یو واضحه دلیل باندے (روان) وی آیا دا د هغه چا پشان کیدے شی

سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ

بد | عمل خپل | او روان وی | په خپلو خواهشاتو پسے | حالت | د جنت | هغے | چه وعده ئې کیږی
چه خپل بد عمل ورته ښائسته (ښکاره) کړے شوی وی او خپلو خواهشاتو پسے روان وی؟ متقیانو سره چه د کوم جنت

الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ

متقیانو سره | په هغے کښ به | نهرونه وی | د (داسے) اوبو | چه نه به وی | خرابیدونکی | او نهرونه به وی
وعده شوے ده د هغے مثال (حال) دادے چه په هغے کښ د داسے اوبو نهرونه دی چه (هیڅکله) نه خرابیږی

مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ

د (داسے) پیو | چه نه به وی بدل شوی | خوند د هغے | او نهرونه به وی | د (داسے) شرابو | چه خوند ورکوونکی به وی
او د داسے پیو نهرونه دی چه خوند ئے (هیڅ کله) نه بدلیږی، او د داسے شرابو نهرونه دی

لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ؕ وَلَهُمْ فِيْهَا

څکوونکو ته | او نهرونه به وی | د (داسے) شاتو | چه صفا کړے شوی به وی | او وی به دوی دپاره | په هغے کښ
چه څکوونکو ته به خوند ورکوی او د داسے کښینو نو (شاتو) نهرونه دی چه بلکل صفا ستره دی

مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَمَنْ هُوَ

هر قسمه | میوے | او بخښنه | د خپل رب د طرف نه | (دے) پشان د هغه چا دے | چه هغه
او د هغوی دپاره به هر قسم میوے وی او د خپل رب د طرف نه به مغفرت (هم وی) آیا دا د خلق د هغه چا

خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ

همیشه وی | په اور کښ | او څکولے به شی په هغوی باندے | او به | کړے | نو توټے توټے به کړی هغه
پشان کیدے شی چه همیشه به په اور کښ وی او داسے کړے (خو تکیدلے) او به ئې به پرے څکولی شی

اَمْعَآءَهُمْ ﴿۱۵﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوْا

کولیے د هغوی | او بعضے د دوی نه | هغه څوک دی | چه غوږ ږدی | تاته | تر دے | چه کله | وځی دوی
چه کولیے به ورله تکړے تکړے کړی؟ او (اے نبی!) په دوی کښ څه خلق داسے دی چه ستا خبرے اوری

مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ

ستا د خوا نه | (نو) وائی | هغه کسانو ته | چه ورکړے شوے دے هغوی ته | عِلم | چه څه اوویلے دے (پیغمبر)
تر دے چه کله ستا د خوا (مجلس) نه لاړ شی نو چا ته چه علم ورکړے شوے دے هغوی ته (بطور استهزاء) وائی

اَنِفًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا

اوس | هم دغه | خلق دی | چه مهر وهلے دے | الله | د دوی په زړونو | او دوی روان دی

چه دے پیغمبر دا اوس څه (بغاندے) خبرے او کړے. دا هم هغه خلق دی چه الله تعالی ورله په زړونو مهر لګولے دے او خپلو

اَهْوَاۗءَهُمْ ۝ وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى

په خپلو خواهشاتو پسے | او هغه خلق | چه هدایت ځموندلے دے | زیات کړی الله هغوی لره | هدایت

خواهشاتو پسے روان دی او چا چه سمه لار موندلے ده الله تعالی هغوی له په هدایت کښ نوره ترقی ورکړی

وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ۝ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ

اوورکړی الله هغوی ته | تقوٰی دهغوی | پس له کوی دوی انتظار | مګر | د قیامت

او هغوی ته د هغوی د تقوٰی حصه ورکړی (اوس) آیا دا خلق صرف د قیامت انتظار کوی چه ناڅاپه

اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَاۗءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ

چه هغه راشی دوی ته | ناڅاپه | پس یقیناً | راغلی دی | نخښے د هغے | پس د کوم ځائے نه به وی | د پاره د دوی

پرے راشی (که دا سوی) نو د هغے نخښے خو راغلی دی بیا کله چه قیامت راشی نو بیا به دوی لره د نصیحت اخستلو موقع

اِذَا جَاۗءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ۝ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

کله چه | راشی هغه دوی ته | نصیحت (اخستل) د دوی | پس ته پوهه شه | په دے چه نیشکه | نشته | لائق د عبادت | سوا | د الله نه

چرته ملاؤ شی؟ پس (نو) (اے نبی!) په دے خبره یقین اولره چه د الله تعالی نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

او بخښنه غواړه | د خپلے خطائے | او د پاره د مؤمنانو (سړو) | او د پاره د مؤمنانو ښځو | او الله | پیژنی

او د خپل قصور د معافئ دعاء غواړه او د مؤمنانو سړو او مؤمنانو زنانو د پاره هم معافئ غواړه او الله تعالی ستاسو

مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع

ځائے د کرځیدلو ستاسو | او ځائے د آرام ستاسو | او وائی | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے

د کرځیدلو او د آرام ځایونه ټول پیژنی۔ او مؤمنان وائی چه (د جهاد)

لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّذُكِرَ

ولے نازل نه کړے شو | یو سورت | پس هر کله چه | نازل کړے شو | یو سورت | کلک حکم والا | او ذکر کړے شو

یو سورت ولے نازل نه شو؟ بیا چه کله یو صفا مضمون والا (محکم) سورت نازل شی او پکښ

فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

په هغے کښ | جنګ | (نو) وینے به ته | هغه کسان | چه د هغوی په زړونو کښ | مرض دے

د جهاد (قتال) ذکر وی نو د چا په زړونو کښ چه مرض دے ته به هغه وینے چه تاته به

يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۭ

(چه) کوری به | تاته | پشان د کتلو | د هغه چا چه بے هوشی راغلی وی | په هغه باندے | د مرګ د وجے

دا سے کوری لکه په چا چه د مرګ د راتلو د وجے بے هوشی راغلی وی. پس د دا سے خلقو د پاره

فَاَوۡلٰى لَهُمۡ ۝ طَاعَةٌ وَّقَوۡلٌ مَّعۡرُوۡفٌ ؕ فَاِذَا عَزَمَ

پس تباهی ده | دهغوی دپاره | (پکار دی دوی لره) خبره منل | او وینا | نیکه کول | پس هرکله چه | قطعی فیصله وشوه

تباهی (خرابی) ده۔ دوی له خو الله حکم منل او ښه وینا کول پکار وو لیکن کله چه د جهاد خبره

الۡاَمۡرُ ۟ فَلَوۡ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ لَهُمۡ ۝

دکار (د جنګ) | پس که چرې | دوی رښتنې ثابت شوی وے | الله سره | نو خامخا به دا

پخه شوه هغه وخت که دوی د الله سره رښتنی وے نو د

فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ اِنۡ تَوَلَّيۡتُمۡ اَنۡ تُفۡسِدُوۡا فِى الۡاَرۡضِ

پس یقیناً تاسو نه دا امید دے | که چرې | تاسو مخ واړوئ | دا چه فساد به اوکړئ | په زمکه کښ

بیا که تاسو (د جهاد نه) مخ واړولو نو ستاسو نه هم دا توقع ده چه تاسو به په زمکه کښ فساد خوروئ

وَتُقَطِّعُوۡۤا اَرۡحَامَكُمۡ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ

اوپرے به کړئ | خپلوان خپلے | هم دا | هغه کسان دی | چه لعنت کړے دے په دوی باندے | الله

او خپلوانی به ختموئ۔ دا هم هغه خلق دی چه الله پرے لعنت کړے دے

فَاَصَمَّهُمۡ وَاَعۡمٰٓى اَبۡصَارَهُمۡ ۝ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوۡنَ الۡقُرۡاٰنَ

پس کاڼړه کړی ئے دی دوی | اوړندے کړی ئے دی | ستر گے ددوی | آیا نو دوی سوچ نه کوی | په قرآن کښ

او کاڼړه کړی ئے دی او ستر گے ئے وړله ړندے کړی دی. آیا دا خلق په قرآن کښ غور نه کوی

اَمۡ عَلٰى قُلُوۡبٍ اَقۡفَالُهَا ۝ اِنَّ الَّذِيۡنَ ارۡتَدُّوۡا عَلٰٓى اَدۡبَارِهِمۡ

بلکه په زړونو ئے | تالے دهغے دی | بیشکه | هغه کسان | چه واوړیدل | په خپلو شاګانو

بلکه ددوی په زړونو باندے تالے لګیدلی دی۔ یقیناً کوم خلق چه د هدایت د پوره ښکاره کیدو

مِّنۡۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الۡهُدَى ۙ الشَّيۡطٰنُ سَوَّلَ

پس د دے نه | چه ښه ښکاره شو | دوی ته | هدایت | شیطان | ښائسته کړے دے

باوجود هم مرتد شول هغوی ته شیطان (داکار) ښائسته ښکاره کړے دے

لَهُمۡ ؕ وَاَمۡلٰى لَهُمۡ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمۡ قَالُوۡا لِلَّذِيۡنَ

دوی ته (داکار) | او مهلت ئے ورکړے دے | دوی ته | دا حکه | چه بیشکه دوی | ویلی وو | هغه کسانو ته

او (اوږده) امیدونه ئے ورکړی دی۔ دا (هر څه) حکه (اوشو) چه کومو خلقو د الله رالیږلے دین

كَرِهُوۡا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيۡعُكُمۡ فِىۡ بَعۡضِ الۡاَمۡرِ ۚ

چه هغوی بدګڼلی دی | هغه څه | چه رالیږلی دی | الله | (چه) زړه چه مونږ به خبره او منو ستاسو | په بعضے | کارونو کښ

بدګڼلے دے نو دے منافقانو هغوی ته دا اوویل چه په بعضو کارونو (معاملاتو) کښ به مونږ ستاسو خبره او منو

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ اِسۡرَارَهُمۡ ۝ فَكَيۡفَ اِذَا تَوَفَّتۡهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ

او الله | پیژنی | پټے خبرے ددوی | پس څنګه (حال) به وی | کله چه | ساه اخلی ددوی نه | ملائک

او (حالانکه) الله تعالیٰ ته ددوی پټے خبرے معلومے دی بیا به په هغه وخت د دوی څه حال وی کله به چه فرشتے

يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوا

وهي به | مخونه دَدوی | او شاکانے دَدوی | دا ځکه | چه بیشکه دوی | روان دی

ددوی نه ساه اخلی (او) په مخونو او په شاګانو به ئے وهی؟ دا ځکه چه دوی په هغه کارونو پسے روان دی

مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ

په هغه کار پسے | چه خفه کړے ئے دے | الله | اودوی بده ګڼری | رضا د الله | پس ضائع کړل هغه (الله)

چه الله ئے خفه کړے دے او دوی دَهغهٔ رضا کول بد ګڼری نو (ځکه خو) الله

اَعْمَالَهُمْ ۝ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ع

عملونه دَدوی | آیا ګمان کوی | هغه کسان | چه دهغوی په زړونو کښ | مرض دے

ددوی عملونه برباد کړل۔ دا چا په زړونو کښ چه مرض دے آیا هغوی دا خیال کوی چه (ګنی)

اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ ۝ وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ

چه هیڅکله به رابنکاره نه کړی | الله | کینے دَهغوی | اوګه چړے | مونږ غوښتلے | نو خامخا مونږ به ښودلی وے تاته دوی

الله تعالی به دهغوی پټے کینے رابنکاره نه کړی؟ او (اے نبی!) که چړے مونږ اوغواړو نو تاته به داخلق دا سے اوښایو

فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ؕ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ؕ وَاللّٰهُ

نو ضرور به تا پیژندلی وو دوی | په نخښو دَدوی | او خامخا ته به اوپیژنے دوی | په چالاکو | خبرو | او الله

چه ته به دوی د دوی په نخښو اوپیژنے او (اوس هم) د خبرو په طرز به تهٔ دوی خامخا پیژنے او الله تعالی

يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ ۝ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ

پیژنی | عملونه ستاسو | او خامخا به مونږ ازمیښت کوو په تاسو | تر دے چه | مونږ ښکاره کړو | جهاد کوونکی

ستاسو ټول عملونه ښه پیژنی او مونږ به ضرور په تاسو ازمیښت کوو تر دے چه مونږ دا ښکاره کړو چه څوک

مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَا اَخْبَارَكُمْ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ

د تاسو نه | او صبر کوونکی | او (تر دے چه) مونږ اوازمایو | حالات ستاسو | بیشکه | هغه کسان

په تاسو کښ جهاد کوونکی دی او (څوک) صبر کوونکی دی او چه مونږ ستاسو د حالاتو اندازه واخلو۔ حقیقت دا دے

كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ

چه کفر ئے کړے دے | او منع کړی ئے دی (خلق) | د لارے | د الله نه | او مخالفت ئے کړے دے | د پیغمبر

چه کومو خلقو دهدایت (حق) د ښکاره کیدو نه پس هم کفر اختیار کړو او خلق ئے د الله د لارے نه منع کړل

مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى ۙ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ

پس د دے نه | چه ښکاره شو | دوی ته | هدایت | هیڅ کله به نقصان اونه رسوی دوی | الله ته | دڅه شے

او د پیغمبر مخالفت ئے او کړو هغوی الله تعالی ته هیڅ کله نقصان (ضرر) نشی رسولے

وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ

اوزرے دے چه هغه (الله) به ضائع کړی | عملونه دَدوی | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | خبره اومنئ | د الله

او دیر زر به الله تعالی د هغوی عملونه برباد کړی۔ اے مؤمنانو د الله حکم اومنئ

وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ

او خبره اومنئ | د پیغمبر | او مهٔ بربادوئ | عملونه خپل | بیشکه | هغه کسان

او د پیغمبر تابعداری اوکړئ او خپل عملونه مه بربادوئ۔ یقیناً چا چه

كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ

چه کفر ئے کړے دے | او منع کړی ئے دی (خلق) | د لارے | دالله نه | بیا | مړه شوی دی | او حال داچه دوی

کفر کړے دے او د الله د لارے نه ئے خلق منع کړی دی (او) بیا د کفر په حالت کښ مړه شوی دی

كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ۝ فَلَا تَهِنُوْا وَتَدْعُوْٓا

کافر انوو | نو هیڅکله به بخښنه اونه کړی | الله | دوی ته | پس تاسو مهٔ بے همته کیږئ | او دعوت مه ور کوئ

الله تعالیٰ به ئے هیڅ کله معاف نه کړی نو (اے مؤمنانو!) همت مه بایلئ او (دشمن ته)

اِلَى السَّلْمِ ۖ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۖ وَاللّٰهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ

صلحے ته | او (هم) تاسو (به) | غالب یئ | او الله | تاسو سره دے | او هیڅکله به کم نه کړی هغه

د صلح دعوت (اوّلاً) مه ور کوئ او هم تاسو به غالب یئ او الله تعالیٰ تاسو سره دے هغه به هیڅ کله

اَعْمَالَكُمْ ۝ اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۭ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا

عملونه ستاسو | بیشکه | ژوند | دُنیوی (خو) | لوبے | او مشغله ده | او که چرے | تاسو ایمان راوړو

ستاسو عملونه بربادنه کړی۔ (حقیقت دادے چه دا) دنیوی ژوند خو بس لوبے تو ے (تماشے) دی او که تاسو ایمان راوړلو

وَتَتَّقُوْا يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ۝

او پرهیزګاره شوئ | نو درکه کړی الله تاسو ته | اجرونه ستاسو | اونه به غواړی هغه تاسو نه | مالونه ستاسو

او تقوی مو اختیار کړه نو الله به تاسو ته ستاسو اجر درکړی او تاسو نه به ستاسو مالونه نهٔ غواړی

اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ۝

او که چرے هغه او غواړی تاسو نه دا (مال) | پس زور او کړی په تاسو | نو تاسو به بخل او کړئ | او رابنکاره به کړی هغه | کینے ستاسو

که هغه تاسو نه ستاسو (ټول) مال او غواړی او تاسو تنګ کړی نو تاسو به د بخل نه کار واخلئ او ستاسو بد نیتی به رابنکاره کړی۔

هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَاۗءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ

خبر شئ تاسو خو | هغه خلق یئ | چه را بللی شئ | (دے دپاره) چه خرچ او کړئ | په لاره | د الله کښ

ګوره تاسو دا سے خلق یئ چه تاسو ته د الله په لار کښ د خرچ کولو دعوت درکولے شی

فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ۭ

نو بعضے په تاسو کښ | هغه دی | چه بخل کوی | او چا چه | بخل او کړو | نو بیشکه | هغه بخل کوی | د خپل ځان سره

نو په تاسو کښ بعضے خلق بخل کوی او څوک چه بخل کوی نو (په حقیقت کښ) هغه د خپل ځان سره بخل کوی

وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَاۗءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ

او الله دے | بے حاجته | او تاسو یئ | محتاج | او که چرے | تاسو مخ واړولو | نو په بدل کښ به راولی هغه

او الله تعالیٰ دیر بے نیازه (غنی) دے او تاسو محتاج یئ او که تاسو مخ واړوئ نو هغه به ستاسو په ځای

قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ۝ ع

يَو قوم | تاسو نه سوا | بيا به | نه وی هغوی | ستاسو غوندے نه |

يو بل قوم پيدا کړی بيا به هغوی ستاسو غوندے نه وی.

آياتها [۲۹]	سورة فتح مدنية	رکوعاتها [۴]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۝ ۙ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا

بيشکه | مونږ فتح درکړه | تاته | فتحه | ښکاره | دے دپاره چه او بخښی | تاته | الله | هغه څه

(اے نبی!) يقين او کړه (چه) مونږ تاته يوه ښکاره فتح درکړے ده (دے دپاره) چه الله تعالی

تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ

چه مخکښ ټير شوی دی | ستا د خطايی نه | او هغه څه | چه وروسته (پاتے) شوی دی | او (چه) پوره کړی هغه | نعمت خپل

ستا مخکنۍ او وروستنۍ کوتاهۍ معاف کړی او خپل نعمت په تا پوره کړی

عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝ ۙ وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا

په تا باندے | اوچه وښائی تاته | لاره | نيغه | اوچه مدد او کړی ستا | الله | مدد

او په سمه (نيغه) لاره دے روان کړی او الله ستا دا سے مدد او کړی

عَزِيْزًا ۝ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ

زبردست | هم هغه (الله) دے | چه راليږلے ؤ ده | تسلی | په زړونو | د مؤمنانو کښ

چه هغه په ټولو غالب وی۔ هم الله هغه (ذات) دے چه د مؤمنانو په زړونو کښ ؤ اطمينان پيدا کړو

لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ۭ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ

دے دپاره چه زيات کړی هغوی | ايمان | سره | د خپل ايمان | او خاص دالله دی | لښکرے | د آسمانونو

(دے دپاره) چه د هغوی په ايمان کښ د نور ايمان اضافه (زياتوالے) اوشی او د آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ ۙ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ

او د زمکے | او دے | الله | ښه پوهه | لوے حکمت والا | دے دپاره چه داخل کړی هغه | مؤمنان سړی

او د زمکے ټولے لښکرے هم دالله دی او الله تعالی ښه پوهه لوے حکمت والا دے۔ (دے دپاره) چه هغه مومنان سړی

وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

او مؤمنانے ښځے | هغه جنتونه ته | چه بهيږی (به) | دهغے لاندے | نهرونه | همیشه به وی

او مومنانے زنانه دا سے جنتونو ته داخل کړی چه لاندے به ئے نهرونه بهيږی همیشه به

فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ

په هغے کښ | او(چه)لرے کړی هغه | د دوی نه | ګناهونه د دوی | او ده | دا(خبره) | په نزد | د الله

په هغے کښ او سیږی او د هغوی ګناهونه (بدیانے) د هغوی نه لرے کړی او د الله تعالی په نزد

فَوْزًا عَظِيمًا ۝ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

کامیابی | ډیره لویه | او(چه) عذاب ورکړی | منافقانو سړو ته | او منافقانو ښځو ته | او مشرکانو سړو ته

دا ډیره لویه کامیابی ده او (دے دپاره) چه منافقانو سړو او منافقانو ښځو او مشرکانو سړو

وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ عَلَيْهِمْ

او مشرکانو ښځو ته | (هغه)چه ګمان کوونکی دی | په الله باندے | ګمان | بد | هم په دوی باندے دے

او مشرکانو ښځو ته سزا ورکړی چه د الله تعالی په بارہ کښ ے بد ګمانیانے کولے، هم په دوی باندے

دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ

مصیبت (چکر) | بد | او غضب کړے دے | الله | په دوی باندے | او لعنت ے کړے دے په دوی

بده ورځ راتلونکے ده او الله تعالی پرے غضب کړے دے او د خپل رحمت نه ے لرے کړی دی

وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ

او تیار کړے ے دے | د دوی دپاره | دوزخ | او بد دے هغه (دوزخ) | ځای دوه پس ورتلو | او خاص دالله دی | لښکرے

او جهنم ے ورله تیار کړے دے او هغه (جهنم) ډیر بد ځای دے او د آسمانونو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝ اِنَّآ

د آسمانونو | او د زمکے | او دے | الله | ډیر زورور | لوے حکمت والا | بیشکه مونږ

او د زمکے ټولے لښکرے هم د الله دی او الله تعالی ډیر زورور (غالب) ډیر حکمت والا دے۔ (اے نبی!)

اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

لیږلے ے ته | ګواهی کوونکے | او زیری ورکوونکے | او یرو وونکے | دے دپاره چه تاسو ایمان راوړئ | په الله

مونږ ته ګواهی کوونکے (حق پښکاره کوونکے) زیرے ورکوونکے او یرو وونکے لیږلے ے دے دپاره چه (اے خلقو!)

وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً

او په پیغمبر دهغهٔ | او(چه) تاسو مدد او کړئ دهغه | او عزت او کړئ دهغه | او(چه) پاکی بیان کړئ دهغه | صبا

تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او د هغه مدد او کړئ او د هغه تعظیم (عزت) او کړئ او سحر او ماښام

وَّاَصِيْلًا ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ؕ

او بیګا | بیشکه | هغه کسان | چه بیعت کوی تاسره | بیشکه | هغوی بیعت کوی | د الله سره

د الله تسبیح (پاکی) بیان کړئ۔ (اے نبی!) یقیناً کوم خلق چه تاسره بیعت کوی هغوی په حقیقت کښ د الله سره بیعت کوی

يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ

لاس | د الله | د پاسه | د لاسونو د هغوی د ے | پس چا چه | مات کړو (بیعت) | نو بیشکه | هغه مات وی (به)

د الله لاس د هغوی د لاسونو د پاسه د ے بیا (د دے نه پس هم) چه چا خپل لوظ مات کړو نو د لوظ د مات ولو وبال به

عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ

په خلاف دخپل ځان | او چاچه | پوره کړو | هغه څه | چه لوظ ئې کړیدے | په هغے باندے | د الله سره
هم په هغه راځی او چا چه هغه لوظ پوره کړو چه د الله سره ئې کړے دے

فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝١٠ سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ

نو زړه چه هغه به ور کړی ډګه | اجر | ډیر لوے | زړه چه وائی به | تاته | وروستو پاتے کړے شوی خلق
نو الله به هغهٔ ته ډیر زړ ډیر لوئے اجر ور کړی. هغه باندې والا چه (حدیبیه کښې) وروستو پاتے شوی وو

مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ

د باندې والو نه | چه مشغوله کړی وو مونږ | مالونو خپلو | او بال بچ خپل | پس نه بخښنه اوغواړه | زمونږ دپاره
اوس به هغوی خامخا تاته وائی چه مونږ خپل مال دولت او بال بچ مشغوله کړی وو نو زمونږ دپاره بخښنه اوغواړه

يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۭ قُلْ فَمَنْ

دوی وائی | په خپلو ژبو | هغه څه | چه نشته | په زړونو د دوی کښې | اووایه | پس څوک
دا خلق په خپلو ژبو هغه خبرے کوی چه په زړونو کښې ئې نشته دوی ته اووایه چه که چرے

يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا

اختیار لری | ستاسو دپاره | د الله نه | د څه شیز | که چرے | اوغواړی هغه | تاسو ته | تکلیف رسول
الله تعالیٰ تاسو ته نقصان رسول غواړی یا فائده رسول غواړی نو څوک دی چه د الله تعالیٰ مخے ته ستاسو

اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۭ بَلْ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

یا کهٔ | اوغواړی هغه | تاسو ته | فائده رسول | بلکه | دے | الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ
په پاره کښې د څه کولو طاقت لری؟ بلکه تاسو چه څه کوئ الله تعالیٰ د هغے نه پوره

خَبِيْرًا ۝١١ بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ

پوره خبردار | بلکه | گمان کړے وو تاسو | (دا) چه | هیڅ کله به واپس راځی | پیغمبر | او مؤمنان
خبر دار دے بلکه (حقیقت خو دا دے چه) تاسو خو دا خیال کړے وو چه پیغمبر او مسلمانان به

اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا وَّزُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ

خپلو کورونو والو ته | همیشه | او بناڅسته کړے شوے وو | دا (گمان) | په زړونو ستاسو کښې | او تاسو گمان کړے وو
خپلو کورونو ته هیڅ کله واپس راځی او هم دا خبره ستاسو په زړونو کښې بناڅسته بنکاره کړے شوے وه

ظَنَّ السَّوْءِ ۚ وَكُنْتُمْ قَوْمًۢا بُوْرًا ۝١٢ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ

گمان | بد | او وئ تاسو | یو قوم | تباه شوی | او چاچه | ایمان را نه وړو | په الله
او (هم دد ے وجے نه) تاسو بد گمانیانے کولے او اخیر تاسو برباد شوئ۔ او څوک چه په الله

وَرَسُوْلِهٖ فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ۝١٣ وَلِلّٰهِ

او په پیغمبر د هغه | نو بیشکه | مونږ تیار کړے دے | د کافرانو دپاره | اور (بلیدونکے) | او خاص د الله دے
او د هغه په رسول ایمان نهٔ راوړی نو (هغه دے یاد اوساتی) چه د کافرانو دپاره مونږ گرم اور تیار کړے دے۔

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ

حکومت | د آسمانونو | او د زمکے | بخښنه کوی | چاته | چه اوغواړی | او عذاب ورکوی

او د آسمانونو او د زمکے بادشاهی هم د الله ده هغه چه څوک اوغواړی معاف ئے کړی او چا لره

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۴﴾ سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ

چاته | چه اوغواړی | او دے | الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان | زړه چه مولائی به | وروستو پاتے کړے شوی خلق

چه اوغواړی عذاب ورکړی او الله دیر بخښونکے دیر مهربان دے (اے مسلمانانو!) کله چه تاسو

اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ

کله چه | تاسو روان شئ | غنیمتونو پسے | چه تاسو واخلئ هغه | پریږدئ مونږ | چه لاړ شو تاسو سره

دغنیمت اخستلو پسے ځئ نو دغه وروستو پاتے شوی خلق به (ضرور) تاسو ته وائی چه مونږ هم پریږدئ چه تاسو سره لاړ شو

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ

دوی غواړی | چه بدل کړی | کلام | د الله | اووایه | هیڅ کله به نه ځئ تاسو مونږ سره | دغه شان

دوی غواړی چه د الله تعالیٰ خبره بدله کړی (اے نبیؐ!) ته ورته اووایه چه تاسو به هیڅ کله زمونږ سره نه ځئ دغسے

قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ

ویلی دی | الله | مخکښے دے نه | پس زړه چه اووایه وائی دوی | (نه نه) بلکه | تاسو حسد کوئ زمونږ سره | (نه) بلکه

الله تعالیٰ د مخکښے نه ویلی دی (په دے خبره به) دوی تاسو ته وائی چه (نه نه) بلکه تاسو زمونږ سره حسد کوئ (نه نه)

كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵﴾ قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ

دوی دی | چه نه پوهیږی | مگر | لږ | اووایه | وروستو پاتے کړے شوو ته | د بانډو والو ته

بلکه حقیقت دا دے چه دوی په سمه خبره دیر کم کوز پوهیږی (اے نبیؐ!) دے وروستو پاتے شوی خلقو ته ووایه چه

سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ

زړه چه تاسو به راوبللے شئ | یو دا سے قوم ته | چه سخت جنګ والا دی | (چه) یا خو به جنګ کوئ تاسو دهغوی سره

دیر زر به تاسو دیو دا سے قوم سره (د جنګ دپاره) راوبللے شئ چه دیر سخت جنګیالی به وی (چه) یا خو به ورسره جنګ کوئ

اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ

یا به هغوی اسلام قبلوی | پس که چرے | تاسو خبره اومنله | نو دریه کړی تاسو ته | الله | اجر | ښائسته

یا به هغوی خبره اومنی (مسلمانان به شی) هغه وخت که تاسو خبره اومنله نو الله تعالیٰ به درله دیر ښائسته اجر درکړی

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ

اوکه چرے | مخ وارولو تاسو | لکه څنګه چه | مخ اړولے وو تاسو | مخکښے دے نه | نو عذاب به درکړی هغه تاسو ته

او که مخ مو وارولو لکه څنګه چه مو پخوا مخ اړولے وو نو (دیر)

عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶﴾ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ

عذاب | دردناک | نشته | په روند باندے | څه تنګی | او نه په کوډ (شل) باندے

دردناک عذاب به درکړی۔ نه خو په روند باندے څه ګناه شته او نه په کوډ (شل)

حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

څه تنګی | او نه په مریض باندے | څه تنګی شته | اوځوک چه | خبره اومنی | د الله | او د رسول دهغهٔ

اونهٔ په مریض باندے څه ګناه شته او څوک (هم) چه د الله او د هغه د رسول خبره اومنی

يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ

نو الله به داخل کړی دے | (دا سے) جنتونو ته | چه بهیږی به | دهغے دلاندے | نهرونه | اوچاچه | مخ واړولو

نو الله به ئے دا سے جنتونو ته داخل کړی چه لاندے به ئے نهرونه بهیږی، اوځوک چه مخ واړوی

يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ۝ لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ع

نو هغه ته به عذاب ورکړی | عذاب | دردناک | یقیناً | راضی شوی دے | الله | د مؤمنانو نه

نو دردناک عذاب به ورکړی۔ یقیناً الله تعالیٰ د هغه مؤمنانو نه (دیر) خوشحاله شو

اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ

کله چه | هغوی بیعت کولو تاسره | لاندے | د ونے | پس خبر وو الله | د هغه څه نه | چه وو په زړونو د هغوی کښ

کله چه هغوی تاسره د ونے لاندے بیعت کولو او د هغوی زړونو کښ چه څه وو هغه (هم) الله ته معلوم وو

فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ۙ۝

نو راولیږله هغه | تسلی | په دوی باندے | اوپه بدله کښ ئے ورکړه دوی ته | فتح | نزدے

څکه (خو) ئے په هغوی باندے اطمینان نازل کړو او بدله (انعام) کښ ئے ورله نزدے فتح (د خیبر) ورکړه

وَّمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝

او غنیمتونه | دیر | چه دوی (به) اخلی هغه | او دے | الله | دیر زور وور | لوے حکمت والا

او نور دیر غنیمتونه چه هغوی حاصل کړل او الله تعالیٰ دیر زور ور (غالب) لوئے حکمت والا دے

وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَاْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ

وعده کړے ده تاسو سره | الله | د غنیمتونو | دیرو | چه تاسو به اخلئ هغه | نو زر ئے درکړل | تاسو ته

الله تعالیٰ تاسو سره د نورو دیرو غنیمتونو وعده کړے ده چه تاسو به ئے حاصل کړئ اوس دا یو غنیمت ئے

هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً

دا | او بند کړل هغهٔ | لاسونه | د خلقو | تاسو نه | او (دے دپاره) چه شی (دا) | یوه نښه

فوری طور (لاس په لاس) درکړو او د خلقو (یهودیانو، اسد او غطفان) لاسونه ئے تاسو نه بند کړل او (دا دے دپاره) چه دا

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۙ۝ وَّاُخْرٰى

د مؤمنانو د پاره | او (چه) الله اوښائی تاسو ته | لاره | نیغه | اونور غنیمتونه (دی)

د مؤمنانو د پاره یوه نښه (نمونه) شی او (چه) الله تاسو په نیغه لاره وران کړی اونور غنیمتونه (لکه فتح د روم او فارس) هم دی

لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

چه وس نه دے پرے شوے ستاسو | په هغے | یقیناً | احاطه کړے ده | الله | په هغے باندے | او دے | الله

چه ستاسو پرے (لا) لاس نه دے پر شوے لیکن الله هغه په خپل علم کښ راګیر کړی دی او الله تعالیٰ

عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرًا ﴿٢١﴾ وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په هر | څیز باندے | قادر | اوکه چرے | اوجنګیدلے تاسو سره | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے

په هر څیز باندے پوره قادر دے۔ که چرے دے کافرانو تاسو سره جنګ کړے وے

لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٢٢﴾

نو خامخا به واړوی هغوی | شاګانے | بیا به | اونهٔ مومی هغوی | څوک دوست | اونه څوک مددګار

نو ضرور په شا به تختیدلی وے بیا به ئے نه څوک دوست موندلے وو او نهٔ څوک مددګار

سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِىْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ

(دا) طریقه | دالله (ده) | هغه | چه تیره شوے ده | مخکښے ددے نه | اوهیڅ کله به ته اونهٔ مومے

لکه څنګه چه دغه د الله دستور دے چه د پخوا نه راروان دے او ته به د الله په دستور کښ

لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ الَّذِىْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ

طریقے | د الله لره | هیڅ بدلیدل | اوهم الله هغه (ذات) دے | چه بند ئے کړل | لاسونه دهغوی | تاسو نه

هیڅ کله څه قسم تبدیلی اونه مومے. اوهم هغه (الله) دے چه دمکے په سرحد باندے ئے د هغوی لاسونه د تاسو نه

وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ

او ستاسو لاسونه | دهغوی نه | په مینځ (وادی) | دمکے کښ | پس ددے نه | چه غالب ئے کړی تاسو

او ستاسو لاسونه د هغوی نه بند کړل پس د دے نه چه په هغوی ئے تاسو لره غلبه (فتح) در کړے وه

عَلَيْهِمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿٢٤﴾ هُمُ الَّذِيْنَ

په هغوی باندے | او دے | الله | هغه څه لره | چه تاسو ئے کوئ | لیدونکے | هم دا هغه کسان دی

او تاسو چه څه عمل کوئ الله تعالی هغه ښه وینی۔ دا هم هغه خلق دی

كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْىَ

چه کفر ئے کړے دے | او منع کړی ئے یئ تاسو | د مسجد حرام نه | او قربانۍ هم

چه کفر ئے اختیار کړے دے او تاسو ئے د مسجد حرام نه منع کړی ئے یئ او د قربانۍ هغه څاروی هم

مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ۭ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ

چه بند کړے شوی وے | (دد ے نه) چه اورسی | خپل ځائے (د حلالی) ته | او که چرے نه وے سړی | مؤمنان

چه خپل ځائے ته درسیدو نه بند کړے شوی وو او که چرے (په مکه کښ) دا سے مسلمانان سړی

وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَـــُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ

او زنانه | مؤمنانے | چه تاسو نه پیژندل هغوی | چه دخپلولاندے به کړئ تاسو هغوی | بس وبه رسیږی تاسو ته

او مسلمانانے نښځے نه وے چه تاسو ئے نه پیژنئ او تاسو به په نا خبرئ کښ هغوی د خپلو خپلولاندے چخنړی کړئ او دهغے په وجه به

مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِىْ رَحْمَتِهٖ

دهغوی په وجه | نقصان | بغیر | دپوهے نه | دے دپاره چه داخل کړی | الله | په خپل رحمت کښ

په نا خبرئ کښ تاسو ته نقصان اورسیږی (نو تاسو به الله ئے منع کړئ د قتال نه د دوی سره) الله تعالی په خپل رحمت کښ (چه ایمان

مَنْ يَّشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چالره | چه اوغواړی | که چرے | جدا شول دا مومنان | نو خامخا به مونږ عذاب ور کړو | هغه کسانو ته | چه کفر ئے کړے دے

(اوږل دی) چالره چه غواړی داخل ئے کړی که چرے دغه مسلمانان یو اړخ ته (جدا) شوی وے نو مونږ به په مکے والو کښ

مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ

د دوی نه | عذاب | دردناک | هر کله چه | واچولو | هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | په خپلو زړونو کښ

کافرانو ته ډیر دردناک عذاب ور کړے وو (هم داوجه ده) چه کله کافرانو (مسلمانان ځیبیت الله نه بند کړل) په خپلو زړونو کښ

الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

ضد (غیرت) | ضد (غیرت) | د جاهلیت | نو راولیږله | الله | تسلی خپله | په پیغمبر خپل باندے

ئے د جاهلیت (د زمانے) پشان غیرت اوتیولو نو الله تعالی په خپل پیغمبر

وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ

او په مؤمنانو باندے | اولازمه ئے کړه په هغوی باندے | خبره | د تقوٰی | او ووهغوی | ډیر حقدار

او په مؤمنانو باندے اطمینان نازل کړو او هغوی ئے د توحید په کلمه (تینګ (قائم) پاتے کړل او په نسبت د نورو سکنو مسلمانانو)

بِهَا وَاَهْلَهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝ لَقَدْ صَدَقَ ع

دهغے | او اهل د هغے | او دے | الله | په هر یو | څیز باندے | ښه پوهه | یقیناً | رښتیا کړو

هغوی د دے کلمے زیات حقدار وو او (په علم د الله کښ) د دے کلمے اهل هم وو او الله تعالی په هر یو څیز ښه پوهیږی حقیقت دا دے چه

اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ ۚ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ

الله | خپل رسول ته | خوب | په حقه | (چه) خامخا تاسو به داخلیږئ | مسجد حرام ته

الله تعالی خپل پیغمبر ته رښتیا خوب ښودلے دے (چه) (اے مسلمانانو) کله چه الله او غواړی تاسو به ضرور مسجد حرام ته

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ۙ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ ۙ

کله چه | او غواړی | الله | په امن سره | خرونکی (به یئ) | د خپلو سرونو | اولنډونکی (به یئ د خپلو ویښتو)

په دا سے امن او امان سره داخل شئ چه (په تاسو کښ به) چا سرونه خرولی وی او چا به ویښته پرے کړی وی

لَا تَخَافُوْنَ ۭ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ

یَرِیږئ به نه | پس خبر وو الله | په هغه څه | چه تاسو نه وئ خبر (په هغے) | نو در کړه هغه | مخکښے د دے نه

(او) هیڅ یره به نه درسره نه وی الله ته هغه خبرے معلوم دی چه تاسو ته معلوم نه دی نو (څکه خو ئے)

فَتْحًا قَرِيْبًا ۝ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ

فتح | نزدے | هم الله هغه ذات دے | چه راولیږلے ئے دے | پیغمبر خپل | په هدایت | او په دین

دهغے (خوب د پوره کیدو) نه مخکښے یوه نزدے فتح در کړه. هم الله هغه ذات دے چه خپل پیغمبر ئے د هدایت

الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

حق سره | دے د پاره چه هغه غالب کړی دے لره | په دینونو | ټولو باندے | او کافی دے | الله

او حق (رښتنی) دین سره (د دے د پاره) راولیږلے دے چه هغه (دین) په نورو ټولو دینونو باندے غالب کړی

شَهِيْدًا ۝ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ

کواه | محمدؐ | رسول | د الله دے | او هغه کسان | چه دۀ سره دی | ډیر سخت دی

او (په دے خبره) هم د الله کواهی کافی ده. محمدؐ د الله پیغمبر دے او کوم خلق چه د هغه سره (ملګری) دی

عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا

په کافرانو باندے | ډیر مهربان دی | په خپل مینځ کښ | ته وینے دوی | رکوع کوونکی | سجده کوونکی

هغوی د کافرانو په مقابله کښ ډیر سخت دی او په خپل مینځ کښ (په یو بل باندے) ډیر مهربان دی ته به هغوی

يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ؗ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ

لټوی دوی | فضل | د الله | او رضا | نخښے ډدوی | په مخونو ډدوی کښ دی

د الله فضل او د هغه رضا په طلب کښ (کله) په رکوع او (کله) په سجده کښ وینے د هغوی نخښے د سجدو

مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚۖ وَمَثَلُهُمْ

ډوډے ډ نخښو | د سجدو نه | دا | صفت (حال) ډدوی دے | په تورات کښ | او صفت (حال) ډدوی

د اثر د وډے نه د هغوی په مخونو کښ ښکاره دی. دا د هغوی هغه اوصاف (صفتونه) دی چه په تورات کښ وو

فِي الْاِنْجِيْلِ ۚۛ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْئَهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ

په انجیل کښ | پشان د یو فصل دے | چه راویستلی ځوی | تیغ خپل | بیا ځکک کړی | بیا هغه غټ شی

او په انجیل کښ د هغوی مثال (صفت) دا دے لکه چه یو بوټے وی چه خپل تیغ ځراز غون کړو بیا ځکک کړو

فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ

بیا هغه برابر او درپرے | په پښو ئ خپله باندے | چه خوشحالوی | زمینداروله | انجام دا چه غصه کړی هغه | په دوی سره

بیا هغه غټ شو بیا هغه په خپله تنه باندے تیغ او دریدو چه زمینداران پرے خوشحاله کړی (او)

الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

کافران | وعده کړے ده | الله | د هغه کسانو سره | چه ایمان ځراوړے دے | او عملونه ځ کړی دی

کافران پرے غصه کړی، چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ځ کړی دی

الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝

نیک | ډ دوی نه | د بخښنے | او د اجر | ډیر لوے

الله تعالیٰ د هغوی سره د بخښنے او ډ ډیر لوے ثواب وعده کړے ده.

آیاتها [۱۸]	سورة الحُجُرٰت مدنيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد ډ نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | مه وړاندے کوئ (له ځانه) | (په) مخکښے (د ځکم) | د الله | او د هغه د پیغمبر

اے مومنانو! د الله او د هغه د پیغمبر نه (په هیڅ یو کار کښ) ځان مه وړاندے کوئ

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝۱ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او ویریږئ | د الله نه | بیشکه | الله دے | ښه اوریدونکے | ښه پوهه | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

او د الله نه اویریږئ یقیناً الله هر څه آوری په هر څه پوهیږی۔ اے مؤمنانو!

لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ

مه اوچتوئ | آوازونه خپل | د پاسه | د آواز | د پیغمبر نه | اومه کوئ په زوره ویناوینا | هغه ته

خپل آوازونه د پیغمبر د آواز نه مه اوچتوئ او نه د هغه سره داسے په زوره خبرے کوئ

بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ

په خبرو کښ | پشان د زوره ویناکولو | د بعضو ستاسو بعضو نورو ته | (هسے نه) چه برباد شی | عملونه ستاسو

لکه څنګه چه تاسو خپل مینځ کښ یو بل سره په زوره خبرے کوئ هسے نه چه عملونه مو برباد شی

وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۝۲ اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ

اوتاسو به | خبر هم نه یئ | بیشکه | هغه کسان | چه ټیټ ساتی | آوازونه خپل | په خوا

او تاسو به (ترے) خبر قدرے هم نه یئ. یقین او کړئ کوم خلق چه د الله د پیغمبر په مخکښے خپل آوازونه

رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ؕ

د پیغمبر | د الله کښ | هم دا | هغه کسان دی | چه ازمایلی دی | الله | زړونه د دوی | د تقوٰی دپاره

ټیټ (خکته) ساتی هم دا هغه خلق دی د چا زړونه چه الله تعالیٰ د پرهیزګارئ دپاره ازمایلی دی

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝۳ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ

دپاره د دوی | بخښنه ده | او اجر (دے) | ډیر لوے | بیشکه | هغه کسان | چه آواز کوی تاته

هم د دوی دپاره بخښنه او ډیر لوے اجر دے۔ (اے نبیؐ!) کوم خلق چه د حجرو د بهر نه تاته

مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝۴ وَلَوْ اَنَّهُمْ

وروستو | د کوټو نه | اکثر د هغوی نه | عقل نه لری | او که چرے | هغوی

چغے وهی په هغوی کښ اکثر بے عقله دی۔ او که چرے هغوی (د غه وخت)

صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ

صبر کړے وے | تر دے | چه ته راوځے | هغوی ته | نو خامخا دا به وے | ډیره غوره | د هغوی دپاره | او الله

صبر کړے وے تر دے چه ته ورله پخپله بهر راوتلے وے نو دا به ورله ډیره ښه وه او الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۵ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌ

ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | که چرے | راشی تاسو ته | یو ګناهګار

ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے۔ اے مؤمنانو اګر چرے تاسو ته یو فاسق (یو بے اعتباره کس) څه خبر راوړی

بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا

په څه خبر سره | نو بنه معلومات کوئ | (هسے نه) چه نقصان اورسوئ تاسو | یو قوم ته | په نا پوهئ سره | نو شئ به تاسو

نو (د هغے) پوره تحقیق کوئ هسے نه چه په نا پوهئ کښ څه خلقو ته نقصان اورسوئ او بیا به په

عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۝ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ؕ

په هغه څه | چه تاسو کړے وی | پښیمانه | او پوهه شئ | چه یقیناً | په تاسو کښ | پیغمبر | د الله دے

خپلو کړو باندے پښیمانه یئ. او په دے خبره حیران نه پوهه کړئ چه ستاسو په مینځ کښ د الله پیغمبر موجود دے

لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ

که چرے | هغه او مني ستاسو خبره | په ډیرو | کارونو کښ | نو خامخا په تکلیف کښ به پریوځئ تاسو | لیکن

ډیرے خبرے دا سے دی که په هغے کښ هغه (نبی) ستاسو خبره اومني نو تاسو به په تکلیف کښ | اخته شئ لیکن

اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ

الله | خوښ کړے دے | تاسو ته | ایمان | او بنائسته کړے ځے دے (ایمان) | په زړونو ستاسو کښ

الله تعالیٰ ستاسو په زړونو کښ د ایمان محبت اچولے دے او هغه ځے ستاسو په زړونو کښ بنائسته کړے دے

وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ؕ اُولٰٓئِكَ

او بد ځے بنکاره کړے دے | تاسو ته | کفر | او ګناهونه | او نافرمانی | هم داخلق

او کفر او ګناه او نافرمانی ځے درته بد بنکاره کړی دی هم دا سے خلق

هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۝ۙ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

دوی دی | لاره موندونکی | دوے د فضل | د الله نه | او (دوے د) نعمت (د الله نه) | او الله | ښه پوهه

په سمه لار روان دی د الله تعالیٰ په فضل او نعمت سره او الله تعالیٰ په هر څه پوهه (او)

حَكِيْمٌ ۝ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا

لوے حکمت والا دے | او که چرے | دوه ډلے | د مؤمنانو نه | جنګ او کړی (په خپل مینځ کښ)

لوے حکمت والا دے او (اے مسلمانانو) که چرے دمسلمانانو یو دوه ډلے په خپل مینځ کښ (د یو بل سره)

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى

نو تاسو صلح او کړئ | دهغوی په مینځ کښ | پس که چرے | زیاتے او کړی | یوه ډله دهغے دوارونه | په بلے ډلے

جنګ او کړی نو تاسو د هغوی په مینځ کښ صلح او کړئ بیا که چرے یوے ډلے دبلے ډلے سره زیاتے او کړو

فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ

نو تاسو جنګ او کړئ | دهغے ډلے سره | چه زیاتے کوی | تر دے | چه رجوع او کړی هغه | حکم | د الله ته

نو زیاتی کوونکی ډلے سره تر هغے پورے او جنګ یږئ تر دے چه د الله حکم ته واپس شی

فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَاَقْسِطُوْا ؕ

پس که چرے | رجوع او کړه هغے | نو صلح او کړئ | دهغوی (دواړو) په مینځ کښ | په انصاف سره | او انصاف او کړئ

نو که هغے رجوع او کړه نو بیا دهغوی تر مینځ په انصاف سره صلح او کړئ او (په رعایت د حقوقو د یو بل کښ) د انصاف نه کار واخلئ

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ

بیشکه | الله | خوښوی | انصاف کوونکی | بیشکه | مومنان | (دیو بل) ورونړه دی

یقیناً الله تعالیٰ انصاف کوونکو سره مینه کوی. حقیقت دادے چه ټول مسلمانان (دیو بل) ورونړه ورونړه دی

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝ ع

نو تاسو صلح کوئ | په مینځ | دخپلو دوۀ ورونړو کښ | اویَر یږئ | دالله نه | دے دپاره چه په تاسو | رحم اوکړے شی

نو تاسو دخپلو دوو ورونړو په مینځ کښ صلح کوئ او دالله تعالیٰ نه ویریږئ چه رحم درباندے اوشی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | نه وے ډِنه کوی | یَو قوم | په بل قوم پورے | کیدے شی

اے مؤمنانو! نه خو دے نارینه په نورو نارینو پورے خندا کوی کیدے شی

اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى

چه وی هغوی | دیر غوره | د دوی نه | او نهٔ زنانه | په نورو زنانو پورے | کیدے شی

چه هغوی د دوی نه غوره وی او نه دے زنانه په نورو زنانو پورے خندا کوی کیدے شی

اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا

چه هغوی وی | دیر ے غوره | د دوی نه | او عیب مه لګوئ | په خپلو خلقو نو باندے | او مه یادوئ یَو بل

چه هغوی د دوی نه غوره وی او مه یو بل له پیغور (طعنه) ور کوئ او مه یو بل ته خراب نومونه اخلئ

بِالْاَلْقَابِ ۭ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ

په بدونو مونوسره | دیر بد | نوم | (د) ګناه (والا) دے | وروستو | د ایمان نه | اوشوک چه

د ایمان راوړو نه پس خراب نوم کیخودل دیره بده (د ګناه) خبره ده۔ او شوک چه

لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

توبه نهٔ اوباسی | نو هم دغه خلق | دوی دی ظالمان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

د دے خبرو نه توبه اُونه باسی هم هغوی ظالمان دی اے مؤمنانو!

اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۡ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ

ځان اوساتئ | د ډیرو | ګمانونو نه | بیشکه | بعضے | ګمان | ګناه وی

د ډیرو (بد) ګمانونو نه ځان بچ اوساتئ (ځکه چه) بعضے ګمانونه ګناه وی

وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ۭ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ

اومهٔ لټوئ (عیب) دیو بل | اوغیبت ډِنه کوی | بعضے ستاسو نه | د بعضو | آیا خوښوی | ایو کس د تاسو نه

او دیو بل جاسوسی مه کوئ او نه دیو بل غیبت کوئ. آیا په تاسو کښ به څوک دا (خبره) خوښه کړی چه د خپل

اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ

دا چه اوخوری | غوښه | د ورور خپل | چه مړ وی | پس تاسو بد ګڼئ هغه | او اویریږئ | دالله نه

مړ ورور غوښه اوخوری؟ دا دے (خبرے) نه خو تاسو نفرت کوئ او دالله نه اویریږئ یقین او کړئ چه الله تعالیٰ ډیر (لوے)

اِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ

بیشکه | الله | دیر توبه قبلونکے | دیر مهربان دے | اے خلقوا | بیشکه | مونږ پیدا کړی یې تاسو

توبه قبلونکے دیر مهربان دے اے خلقوا حقیقت دا دے چه مونږ تاسو یوں د یو نارینه اوزنانه له پیدا کړی یې

مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ

د (یو) نارینه | اویو ے) زنانه له | اومونږ جوړ کړی یې تاسو | خاندانونه (قاموله) | اوقبیلے | دے دپاره چه تاسو یو بل اوپیژنئ

اوتاسو مومختلف قاموله اوقبیلے (صرف) دے دپاره جوړ کړی یې چه یو بل اوپیژندے شئ (گنی) په حقیقت کښ (خو)

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ

بیشکه | زیات عزتمند په تاسو کښ | په نزد | د الله | زیات پرهیزګار ه دے په تاسو کښ | بیشکه | الله دے | ښه پوهه

دالله تعالی په نزد په تاسو کښ زیات عزتمند هغه څوک دے چه په تاسو کښ زیات متقی وی یقین او کړئ چه الله تعالی په هر څه پوهه

خَبِيْرٌ ۝ قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ؕ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ

ښه خبردار | وائی | بادیه نشین والا | مونږ ایمان راوړے دے | اووایه | تاسو ایمان نه دے راوړے | لیکن

اودهر څه نه پوره خبر دے. بادیه نشین والا وائی چه مونږ ایمان راوړے دے اے نبی آته ورته اووایه چه تاسو خو ایمان نه دے راوړے

قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ

اووایئ | چه مونږ اسلام قبول کړے دے | اولا (تر اوسه) نه دے داخل شوے | ایمان | په زړونو ستاسو کښ

البته دا سے وایئ چه مونږ اسلام راوړے دے اوایمان (خو) لا تر اوسه پورے ستاسو په زړونو کښ ننوتے هم نه دے

وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ

اوکه چرے | تاسو خبره اومنئ | د الله | اودهغه د پیغمبر | نو هغه به نیمګړی نه کړی | د عملونو ستاسو نه

اوکه چرے تاسو د الله اود هغه د پیغمبر حکم اومنلو نو هغه (الله) به ستاسو په عملونو کښ معمولی

شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ

هیڅ څیز | بیشکه | الله دے | دیر بخښونکے | دیر مهربان | بیشکه | مؤمنان (خو) | هغه کسان دی

کمے قدرے هم اونه کړی یقیناً الله تعالی دیر بخښونکے دیر مهربان دے۔ مؤمنان (خو بس) هغه دی

اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَجٰهَدُوْا

چه ایمان ئے راوړے دے | په الله | او دهغه په رسول | بیا ئے | (هیڅ) شک نه دے کړے | اوجهاد ئے کړے دے

چه الله او د هغه رسول ئے د زړه نه منلے دے بیا ئے پکښ هیڅ شک نه دے کړے او خپلو مالونو

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۝

په خپلو مالونو | اوپه خپلو ځانونو سره | په لار | د الله کښ | هم دغه خلق | دوی دی | رښتنی

او ځانونو سره ئے د الله په لاره کښ جهاد کړے دے هم دا خلق رښتنے دی۔

قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

اووایه | آیا تاسو خبروركوئ | الله ته | د خپل ایمان | او الله | پیژنئ | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی

(اے نبی ابادیه نشین والا ته) اووایه چه آیا تاسو الله تعالی ته د خپل دین (دینداری) خبر ورکوئ حالانکه الله تعالی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ يَمُنُّوْنَ

اوهغه څه | چه په زمکه کښې دی | او الله | په هر ډول | څیز باندې | ښه پوهه دے | دوی احسان کوی

(خو) د آسمانونو او د زمکے دهر یو څیز نه واقف دے او الله تعالی په هر یو څیز باندې پوهیږی۔ دوی په تا باندې

عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ؕ قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ

په تا باندې | (ددے) چه دوی اسلام راوړے دے | اووایه | احسان مه کوئ | په ما باندې | د خپل اسلام (راوړلو)

احسان (زیادنه) کوی چه دوی اسلام راوړے دے۔ ته ورته اووایه چه په ما باندې د خپل اسلام (راوړو) احسان مه کوئ

بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ

بلکه | الله | احسان کوی | په تاسو باندې | ددے چه ښودلے دے تاسو ته (لار) | په طرف د ایمان | که چرے

بلکه که تاسو واقعی (په خپله خبره کښې) رشتنی یئ نو دا د الله په تاسو باندې احسان دے چه

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۲﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ

تاسو یئ | رشتنی | بیشکه | الله | پوهیږی | په پټو خبرو | د آسمانونو

د ایمان لارے درته ښودلے ده۔ یقیناً الله تعالی د آسمانونو او د زمکے هر یو پټ څیز

وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳﴾ ع ۱

او د زمکے | او الله | ښه لیدونکے دے | هغه څه (لره) | چه تاسو ئے کوئ |

ښه پیژنی او تاسو چه څه کوئ الله تعالی هغه ښه وینی.

آیاتها [۴۵]	سورة قٓ مکّیّة	رکوعاتها [۳]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ﴿۱﴾ ۚ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ

ق | قسم دے په قرآن | لوے شان والا باندے | بلکه | دوی تعجب کوی | په دے چه راغے دوی ته

ق په قرآن مجید باندے قسم دے (چه کافر انو د پیغمبر تکذیب په څه دلیل نه دے کړے) بلکه دوی په دے خبره حیران دی

مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿۲﴾ ۚ

یو ویره ورکوونکے | د دوی نه | پس اوویل | کافرانو | چه دا (خو) | یو څیز دے | ډیر عجیبه

چه دوی ته یو ویره ورکوونکی هم د دوی (د جنس) نه (څنګه) راغلے دے نو (پس) کافران وائی چه دا خو ډیره نالښتا (عجیبه) خبره ده

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ﴿۳﴾ قَدْ عَلِمْنَا

آیا کله چه | مونږ مړه شو | او شو | خاورے | دا (خو) | واپسی ده | (د عقل نه) لرے | یقیناً | مونږ پوهیږو

آیا مونږ چه کله مړه شو او خاورے (خاورے) شو (نو لا بیا به راوندی کیږو؟) دا بیا راوندی کیدل خو د عقل نه لرے خبره ده. (حالانکه)

مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۝

په هغه څه | چه کموی ئے | زمکه | ددوی نه | اوزمونږ سره دے | یو کتاب | ساتونکے

مونږ ددوی هغه اجزاء پیژنو کوم چه زمکه (خوری او) کموی ئے اوزمونږ سره (خو) یو داسے کتاب دے چه هر څه محفوظ ساتی

بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝

بلکه | دوی دروغژن اوګنړلو | حق لره | هرکله | چه راغے دوی ته | پس دوی دی | په یو کار | ګډوډ کښ

بلکه عجیبه خبره (خو) داده چه کله دوی ته حق (دین) راغے نو دوی هغه دروغ اوګنړلو نو دوی (اوس) په ګډوډو سر دی

اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا

آیا نو دوی نه ګوری | آسمان ته | دپاسه دَ دوی | چه څنګه | جوړ کړے دے مونږ هغه

آیا دوی د خپل ځان دپاسه آسمان ته نه دی کتلی چه مونږ هغه څنګه جوړ کړے دے

وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا

اوښائسته کړے دے مونږ هغه | او نشته | هغے لره | څۀ چاودل | او زمکه | غوړولے ده مونږ هغه

او (په ستوروسو) هغه ښائسته کړے دے او هیڅ (قسم) چاودی پکښ نشته اوزمکه هم مونږ خوره کړے ده

وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ

اواچولی دی مونږ | په هغے کښ | (پاخه) غرونه | اوراز غون کړی دی مونږ | په هغے کښ | د هر قسم | بوټی

اومضبوط غرونه مو پکښ اودرولی دی او هر قسم ښائسته (تازه) بوټی مو پکښ راز غون کړی دی

بَهِيْجٍ ۝ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝ وَنَزَّلْنَا

تازه (ښائسته) | دپاره د پوهه کولو | او د نصیحت | دپاره د هر یو | بنده | رجوع کوونکی | او مونږ راوړلی دی

چه مونږ ته دراکړ ځیدونکی هر بنده دپاره د ستر کو د غړولو او د نصیحت (اخستلو) ذریعه ده ۔ او مونږ

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ

د آسمان نه | اوبه | برکتی | بیامونږ راز غون کړل | په هغے سره | باغونه | او دانے

د آسمان نه برکتی اوبه راوړلی دی بیا مو په هغے سره باغونه او دریبلی کیدونکی فصل دانے راز غون کړی ۔

الْحَصِيْدِ ۝ وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۝ رِّزْقًا

دریبلی شوی فصل | او قجورے | دنګے (لوړے) | چه دهغے دی | غونچکونه | لاندے باندے | (دپاره د) روزئ

اودقجورو اوهغے اوچتے اوونچه دهغے ګوڅی په یو بل کښ جوخت پرتے دی دا هر څه مودبندګانو درزق دپاره پیدا کړی دی

لِّلْعِبَادِ ۙ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۭ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ۝

دبندګانو | اومونږ ژوندے کړے دے | په هغے سره | بنار | مړ (اوچ) | دغه شان | راوتل دی (دقبرونو نه)

اومونږ په هغے (اوبو) اوچه زمکه تازه کړے ده بس هم دغه شان به (دقبرونو نه دانسانانو) راوتل هم وی

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ۝

دروغژن ګنړلی وو | مخکښے دَ دوی نه | قوم | د نوحؑ | او کوهی والو | او ثمود یانو

ددوی نه مخکښے د نوحؑ قوم، د کوهی والو اوثمودیانو (پیغمبرانو لره) دروغژن ګنړلی وو

وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ۙ﴿۱۳﴾ وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ وَقَوْمُ

او عادیانو | او فرعون | او ورونړو | د لوط | او بنړ والو | او قوم

او عادیانو، فرعون او د لوط ورونړو (قوم) هم او بنړ والو او

تُبَّعٍ ؕ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ اَفَعَيِيْنَا

د تبع | دے ټولو | دروغژن ګنړلی وو | پیغمبران | نو ثابت شو | عذاب زما | آیا نو مونږ سترې شوی یُو

د تبع قوم هم، دے ټولو پیغمبران دروغژن ګنړلی وو نو څکه (پرے) زما عذاب ثابت شو. آیا مونږ په اول خل

ع ۱ بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ؕ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۵﴾

په پیدایش | ورومبنی | بلکه | دوی | په شک کښ دی | د پیدایش | نوی نه

پیدا کولو باندے سترې شو څه؟ (نه نه) بلکه دا خلق د نوی پیدائش په بارہ کښ په شک کښ پراتہ دی

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ

اویقیناً | مونږ پیدا کړے دے | انسان | او پوهیږو | په هغه څه | چه وسوسه اچوی | دہٗ ته

او حقیقت دا دے چه مونږ انسان پیدا کړے دے او د دہٗ په زړہ کښ چه څومره وسوسے راځی

نَفْسُهٗ ۚ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾ اِذْ يَتَلَقَّى

نفس ددہٗ | او مونږ | د پیر نزدے یُو | دہٗ ته | د رګ | د ساه (مرئ) نه | کله چه | اخلی (لیکی)

هغه هم مونږ ته معلوم دی او مونږ خو دہٗ ته د ددہٗ د ساه د رګ نه هم زیات نزدے یُو (هغه وخت هم) کله چه

الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ

دوه اخستونکی | د ښی طرف نه | او د کس طرف نه | ناست (وی) | (انسان) نه اوباسی د خولے نه

عمل لیکونکی دوه فرشتے لیکل کوی یو ښی طرف ته ناسته وی او بل کس طرف ته. د دہٗ د خولے نه

مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ

څه خبره | مګر | د ددہٗ سره | یو څوک کوونکے | تیار (ناست) وی | او راغله | سختی (بے هوشی)

لاځه (خبره) ویستل نه وی مګر په هغے یو نګران مقرر وی چه (هر وخت لیکلو ته) تیار وی او د مرګ

الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ﴿۱۹﴾ وَنُفِخَ

د مرګ | په رښتیا | دا دی | هغه څه | چه ته | د هغے نه | تښتیدلے | او پوکے به اووهلی شی

سختی (خو) په رښتیا راغله دا هم هغه څیز دے چه ته به ترے نه تښتیدلے، او په شپیلۍ کښ به پوک اووهلے شی

فِي الصُّوْرِ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿۲۰﴾ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ

په شپیلۍ کښ | دا دہ | ورځ | د وعدے (د عذاب) | او راښه شي | هر یو | کس

هم دا هغه ورځ (د عذاب) ده چه تاسو سره ئے وعده کیدے شوه او هر یو کس به په دا سے حالت کښ راځی چه

مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿۲۱﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا

چه د هغه سره به وی | یو راوستونکی | او یو ګواه | یقیناً | وے ته | په غفلت کښ | د دے نه

ورسره به یوه راوستونکے فرشته وی او یو ګواه. حقیقت دا دے چه ته د دے (ورځے) نه په غفلت کښ پروت وے

فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿۲۲﴾ وَقَالَ

پس لرے کړه مونږ | ستا نه | پرده ستا | نو نظر ستا | تن ورځ | ډیر تیز دے | او وبه وائی

نو اوس مونږ ستا نه ستا هغه پرده لرے کړے نو تن ستا نظر ښه تیز شو. او دده ملګری به ووائی چه داده

قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿۲۳﴾ اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ

ملګری ددهٔ | دا دے | هغه څیز | چه ماسره دے | تیار | اوغورځوئ تاسو دواړه | په دوزخ کښ | هر | کافر

هغه عملنامه چه ماسره تیاره پرته ده (حکم به اوشی چه) هر هغه کس جهنم ته اوغورځوئ چه ډیر ناشکره

عَنِيْدٍ ﴿۲۴﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيْبِ ﴿۲۵﴾ الَّذِيْ جَعَلَ

عِنادی (ضدی) | منع کوونکے | د خیر | اوریدونکے د حد نه | شک کوونکے | هغه کس | چه جوړ کړے دے

سرکشه (دشمن) ووچه نور به ئے هم د نیکئ نه منع کول، د حد نه اوریدونکے او په شک کښ پروت ووو دا هغه کس وو

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿۲۶﴾ قَالَ

د الله سره | خدائے (معبود) | بل | پس اوغورځوئ ددهٔ لره | په عذاب | ډیر سخت کښ | اوبه وائی

چه د الله سره ئے بل معبود (خدائ) مقرر کړے وو نو (اوس) تاسو دواړه دے سخت عذاب کښ اوغورځوئ ددهٔ ملګرے

قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿۲۷﴾

ملګرے ددهٔ | اے زمونږ ربه | ما نه وو ګمراه کړے دے | لیکن | وو دے | په ګمراهئ | لرے کښ

(شیطان) به اووائی چه اے زمونږ ربه ما خو دے نه وو ګمراه کړے بلکه دا (خو) پخپله د حق نه ډیر لرے ګمراهئ کښ پروت وو.

قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ

اوبه وائی (الله) | جګړے مه کوئ | زما په خوا کښ | او یقیناً | ما (خو) مخکښے درلیږلے وه | تاسو ته

الله تعالیٰ به ورته اووائی چه زما په مخکښے جګړے مه کوئ او ما خو تاسو ته د مخکښے نه د عذاب خبر درلیږلے وو

بِالْوَعِيْدِ ﴿۲۸﴾ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ

(وعده) د عذاب | نه شی بدلیدلے | خبره | زما سره | او نه یم زه | هیڅ ظلم کوونکے

زما په دربار کښ خبره (فیصله) نشی بدلیدے او زهٔ په بندګانو هیڅ ظلم نه کوم

لِّلْعَبِيْدِ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَتَقُوْلُ

په بندګانو | په کومه ورځ | چه مونږ به اووایو | دوزخ ته | چه آیا | ته ډک شوے؟ | او هغه به وائی

په کومه ورځ به چه مونږ د جهنم نه تپوس او کړو چه آیا ته ډک شوے؟ او هغه به اووائی چه

هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿۳۰﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿۳۱﴾

آیا | څه زیاتی (نور) شته؟ | او نزدے به کړے شی | جنت | متقیانو ته | نه به وی لرے

آیا څه نور هم شته؟ او متقیانو ته به جنت دومره نزدے کړے شی چه هیڅ لرے به نه وی

هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ حَفِيْظٍ ﴿۳۲﴾ مَنْ

دا دی | هغه څه | چه تاسو سره ئے وعده کولے شوه | د هر | رجوع کوونکی | حفاظت کوونکی | هغه څوک

(اوورته به اووایی شی چه) دا هغه څه دی چه تاسو سره به ئے په شرط د تقویٰ وعده کیده (یعنی) د هر توبه کوونکی او حفاظت کوونکی د هر

خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبِ ۙ ادْخُلُوْهَا

چه ئیریږی | درحمٰن نه | بے ډلیدلو | اوراغلے وی | په زړه | راګرځیدونکی سره | داخل شئ دے ته

(هغه څوک) چه درحمٰن څانته ئیریدلو په حال دکه لیدلو دهغهٔ کښ اوحق ته په راګرځیدونکی زړه سره حاضر شو. تاسو په سلامتیا سره

بِسَلٰمٍ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ۝ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا

په سلامتیا سره | دا ده | ورځ | دهمیشوالی | وی به دوی دپاره | هغه څه | چه دوی به ئے غواړی | په هغے کښ

په دے کښ داخل شئ دغه ورځ به دهمیشه ژوند وی دوی ته به هر هغه څه ملاویږی چه دوی به ئے غواړی

وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ۝ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ

اودی زمونږ سره | (نور) زیات | اوځومره (پیړۍ) | هلاک کړی دی مونږ | مخکښ دوی نه | نسلونه (قومونه)

اوزمونږ سره (نور هم) زیات (نعمتونه) دی. او دوی نه مخکښے مونږ څومره (پیړۍ) قومونه هلاک کړی دی

هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ ؕ هَلْ

چه ووهغوی | ډیر سخت | دوی نه | په نیولو کښ | پس هغوی ورنوتلی وو | په ښارونو کښ | آیا وو

چه هغوی په حمله کولو (نیولو) کښ دَدوی نه زیات سخت وو او ښارونه ئے چاڼ کړی وو آیا

مِنْ مَّحِيْصٍ ۝ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ

ځائے د تیښتے | بیشکه | په دے کښ | خامخا نصیحت دے | دهغه چا دپاره | چه وی | دهغه | زړهٔ

دهغوی د تیښتے (د پناه) ځائ وو؟ یقیناً په دے کښ د هر هغه چا دپاره نصیحت دے د چا چه (روغ) زړهٔ وی

اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ۝ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

یا ږدی | غوږ | او هغه | حاضر (متوجه) وی | او یقیناً | مونږ پیدا کړی دی | آسمانونه

او په توجه سره خبرے ته غوږ کیږدی۔ او یقیناً مونږ آسمانونه او زمکه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ّۖ وَّمَا مَسَّنَا

او زمکه | اوهغه څه | چه دے دواړو په مینځ کښ دی | په شپږو | ورځو کښ | اونه دے رسیدلے مونږ ته

او دے دواړو په مینځ کښ چه څه دی دا ټول (صرف) په شپږو ورځو کښ پیدا کړی دی او مونږ لږ هم

مِنْ لُّغُوْبٍ ۝ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

څه ستړیوالے | پس صبر کوه | په هغه څه | چه دوی ئے وائی | اوپاکی بیانوه | سره د تعریف | د رب خپل نه

ستړی شوی نه یو. نو (اے نبیؐ!) دوی په خبرو صبر کوه او د خپل رب د حمد سره دهغهٔ تسبیح وایه

قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ۝ وَمِنَ الَّيْلِ

مخکښ | دراختلو | د نوَر نه | او مخکښ | دپریوتلو (دنوَر نه) | اودشپے (په څه حصه کښ)

د نوَر دراختلو نه مخکښے هم او دپریوتلو نه مخکښے هم او د شپے په څه حصه کښ هم

فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ۝ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ

(یا) تسبیح وایه دهغه | او پس | دسجدو کولو نه | او واوره | په هغے ورځ | چه آواز به اوکړی | آواز کوونکے

دهغهٔ تسبیح وایه او د سجدو (مونځونو) نه پس هم وایه اوپه (توجه سره) واوره په کومه ورځ به چه یو آواز کوونکے

مِنۡ مَّكَانٍ قَرِيۡبٍ ۙ﴿۴۱﴾ يَّوۡمَ يَسۡمَعُوۡنَ الصَّيۡحَةَ بِالۡحَقِّ ؕ ذٰلِكَ

د ځمکې څخه | نزدے نه | په هغه ورځ | دوی به آوری | چغه | په رښتیا | دا ده

دنزدے ځایځه آواز اوکړی په هغه ورځ به دا خلق دغه چغه (دویمه شپیلۍ) په رښتیا (په یقین سره) واوری دغه به

يَوۡمُ الۡخُرُوۡجِ ﴿۴۲﴾ اِنَّا نَحۡنُ نُحۡىٖ وَنُمِيۡتُ وَاِلَيۡنَا الۡمَصِيۡرُ ۙ﴿۴۳﴾

ورځ | د راوتلو (د قبرونو نه) | بیشکه | هم مونږ | ژوندی کوو | او مړه کوو | او هم زمونږ (طرف) ته | واپس راتلل دی

(د قبرونو نه) د وتلو ورځ وی یقین اوکړئ چه هم مونږ ژوندون ورکوو او مرګ هم ورکوو او هم مونږ ته د تولو واپسی ده

يَوۡمَ تَشَقَّقُ الۡاَرۡضُ عَنۡهُمۡ سِرَاعًا ؕ ذٰلِكَ حَشۡرٌ

په هغه ورځ | چه اوبه چوی | زمکه | د دوی نه | په تولدئ | دا | راجمع کول دی

په هغه ورځ به زمکه د دوی (د پاسه) نه دا سے اوشلیږی چه دوی به زر راوځی دا (تول) راجمع کول

عَلَيۡنَا يَسِيۡرٌ ﴿۴۴﴾ نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا يَقُوۡلُوۡنَ وَمَاۤ اَنۡتَ

په مونږ باندے | (ډیر) آسان | مونږ | پته پوهه یو | په هغه څه | چه دوی ئے وائی | او نه ئے ته

مونږ ته ډیر آسان دی دوی چه څه وائی هغه مونږ ته معلوم دی او (اے نبیؐ!) ته (څه) په دوی (خو)

عَلَيۡهِمۡ بِجَبَّارٍ فَذَكِّرۡ بِالۡقُرۡاٰنِ مَنۡ يَّخَافُ وَعِيۡدِ ﴿۴۵﴾ ع

په دوی باندے | زبردستی کوونکے | پس نصیحت کوه | په قرآن سره | هغه چا ته | چه یریږی | د عذاب زما نه

زبردستی کوونکے نه ئے . نو ته د قرآن په ذریعه هر هغه چا ته نصیحت کوه چه زما د عذاب نه یریږی

آیاتها [۶۰]	سورة الذّٰریٰت مکّیّة	رکوعاتها [۳]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرۡوًا ۙ﴿۱﴾ فَالۡحٰمِلٰتِ وِقۡرًا ۙ﴿۲﴾ فَالۡجٰرِيٰتِ

قسم دے په الوزونکو هوا کانو | په الوزولو سره | بیا (قسم دے په) پورته کوونکو هوا کانو | بوج لره | بیا (قسم دے په) چلیدونکو هوا کانو

په هغه هوا کانو قسم دے چه (دوړه) الوزوی بیا په هغه هوا کانو قسم دے چه دوړې بوج اوچتوی بیا په هغه هوا کانو

يُسۡرًا ۙ﴿۳﴾ فَالۡمُقَسِّمٰتِ اَمۡرًا ۙ﴿۴﴾ اِنَّمَا تُوۡعَدُوۡنَ

په آسانۍ سره | بیا (قسم دے په) تقسیموونکو (هوا کانو) | کار لره | بیشکه هغه | چه تاسو سره ئے وعده کوله شی

قسم دے چه په آسانۍ (نرمۍ) سره روانوی بیا په هغه هوا کانو قسم دے چه کار نه تقسیموی چه تاسو سره چه کومه وعده (د قبرونو نه د راوتلو) کیږی

لَصَادِقٌ ۙ﴿۵﴾ وَّاِنَّ الدِّيۡنَ لَوَاقِعٌ ؕ﴿۶﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الۡحُبُكِ ۙ﴿۷﴾

خامخا رښتنی دی | او بیشکه | قیامت | خامخا واقع کیدونکے دے | او قسم دے په آسمان | ستورو والا باندے

هغه یقیناً رښتنے دی او د عملونو بدله یقیناً ملاویدونکے ده. او په هغه آسمان قسم دے چه کنړ ستوری پکښې دی

اِنَّكُمْ لَفِیْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ۙ﴿۸﴾ یُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ؕ﴿۹﴾

بیشکه تاسو | خامخا په یوه خبره کښ | اختلاف کوونکی یئ | اړولی شی | دهغے نه | هغه څوک | چه اړولی شوی دی

چه تاسو په اختلافی (متضاد) خبرو کښ اخته یئ ۔ ددے نه هم هغه کس اوړی څوک چه (د حق نه) اړولی شوی دی۔

قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ۙ﴿۱۰﴾ الَّذِیْنَ هُمْ فِیْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ۙ﴿۱۱﴾

هلاک کړے شو | په توک خبره کوونکی | هغه کسان | چه هغوی | په غفلت کښ دی | هیروونکی

اټکل (بے دلیله) خبرے کوونکی ډهلاک شی دا هغه خلق دی چه په غفلت کښ (دا سے) پراته دی (چه) هر څه ځپیر کړی دی۔

یَسْـَٔلُوْنَ اَیَّانَ یَوْمُ الدِّیْنِ ؕ﴿۱۲﴾ یَوْمَ هُمْ عَلَی النَّارِ

تپوس کوی دوی | چه کله به وی | ورځ | د جزاء اوسزا | په هغه ورځ | چه دوی به | په اور باندے

دوی تپوس کوی چه د بدلے ورځ به کله وی؟ دا به هغه ورځ وی چه دوی به په اُور اوسوځولے شی

یُفْتَنُوْنَ ﴿۱۳﴾ ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ؕ هٰذَا الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ

سوځولی شی | اوخکئ تاسو | (مزه) د سوزش خپل | دا دی | هغه څه | چه تاسو به دے لره

(او ورته به اوویلی شی چه) د خپل شرارت (د سزا) خوند اوخکئ دا هغه عذاب دے چه تاسو به (په دنیا کښ)

تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ فِیْ جَنّٰتٍ وَّعُیُوْنٍ ۙ﴿۱۵﴾ اٰخِذِیْنَ

زر غوښتلو | بیشکه | متقیان به وی | په جنتونو (باغونو) | او په چینو کښ | اخستونکی به وی

زر غوښتلو ۔ یقیناً متقیان خلق به په جنتونو او په چینو کښ (دا سے) اوسیږی چه کوم نعمتونه ورله

مَاۤ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِیْنَ ؕ﴿۱۶﴾

هغه څه | چه ورکوی به ځنے ئی | رب خپل | بیشکه دوی | وو | مخکښے | ددے نه | نیکی کوونکی

خپل رب ورکوی هغه به اخلی. یقیناً دوی د دے نه مخکښے (په دنیا کښ) نیک عمله وو

كَانُوْا قَلِیْلًا مِّنَ الَّیْلِ مَا یَهْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ

وو دوی | ډیر کم | د شپے نه | چه خوب به ئے کولو | او د پیشمنی به | هم دوی

او د شپے به ډیر لږ اوده کیدل ۔ او د پیشمنی په وخت کښ به ئے بخښنه غوښتله

یَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَفِیْۤ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآىِٕلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۱۹﴾

بخښنه غوښتله | او د دوی په مالونو کښ به | حق وو | د غوښتونکو | او د بے نصیبه (تنګدستو)

او د دوی په مالونو کښ به د غوښتونکو (سوالګرو) او نه غوښتونکو محتاجو (باقاعده) حق وو۔

وَفِی الْاَرْضِ اٰیٰتٌ لِّلْمُوْقِنِیْنَ ۙ﴿۲۰﴾ وَفِیْۤ اَنْفُسِكُمْ ؕ

او په زمکه کښ | (ډیرے) نخښے دی | د پاره د یقین کوونکو | | او ستاسو په نفسونو کښ هم

او د یقین کوونکو د پاره په زمکه کښ ډیرے نخښے دی او پخپله ستاسو په بدنونو کښ هم نو تاسو ولے غور نه کوئ؟

أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢٢﴾ وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٣﴾

آیا نو تاسو نه ګورئ | او په آسمان کښ | رزق ستاسو دے | اوهغه څه (هم دی) | چه تاسو سره (ے) وعده کولی شی

اوپه آسمان کښ ستاسو رزق هم دے اوهغه څیز (جنت یا تقدیر دخیر اوشر) هم چه تاسو سره ے وعده کیږی.

فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا

پس قسم دے په رب | د آسمان | او د زمکے | (چه) بیشکه داخبره | خامخا حق ده | په شان | دهغے (خبرو)

نو د آسمان او د زمکے په رب (مالک) قسم دے چه دا (قیامت) دا سے یقینی (حق) دے لکه څنګه چه

أَنَّكُمْ تَنْطِقُونَ ﴿٢٣﴾ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ

چه تاسو ئے | کوئ | آیا | راغلے دے تاته | خبر | د میلمنو | د ابراهیم

تاسو خبرے کوئ (اے نبیؐ!) آیا تاته د ابراهیمؑ د عزتمندو میلمنو خبر رارسیدلے دے؟

الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا ۖ قَالَ

چه عزتمند وو | کله چه | داخل شو دوی | په هغه باندے | نو اووئیل | (چه مونږ) سلام کوو (تاته) | هغه اووئیل

کله چه هغوی د ابراهیمؑ خوا له راغلل نو سلام ے ورته اوکړو ابراهیم علیه السلام ورته هم سلام اوکړو

سَلَامٌ ۚ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ أَهْلِهِ فَجَاءَ

سلام (دے په تاسو) | (داخو) یو قوم دے | ناشنا (ناپیژندلو) | بیا غلے لاړو | خپل کور والو ته | نو راے وړلو

(او زړه کښ ے اووئیل چه) دا (خو) څه ناشنا خلق ښکاری۔ بیا پټ کورته ورغے او یو

بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾

یو ځنے | څورب | بیا ے نزدے کړو هغه | دوی ته | وے ویل | آیا تاسو نه خورئ؟

وریت شوے څورب ځنے ے په تادئ سره راوړو او هغوی ته ے ورنزدے کړو ورته ے اووئیل تاسو ولے نه خورئ؟

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ

نو ده محسوسه کړه | دهغوی نه | یره | هغوی اووئیل | مهٔ یَریږه | اوزیږے ورکړو هغوی دهغه

بیا هغه په خپل زړهٔ کښ یَره محسوس کړه هغوی ورته اووئیل یَریږه مهٔ او دیو (ډیر)

بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ

دیوهلک | پوهه | نو رامخامخ شوه | بی بی دهغهٔ | په یو آواز ډَحیرانتیا سره

پوهه هلک زیږے ے ورله ورکړو۔ په دے (کښ) د ابراهیم علیه السلام بی بی رامخامخ شوه

فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾ قَالُوا

نو وے وهلو | خپل مخ (تندے) | اووے ویل | (زه خو) بوډئ یم | شنډه | اووئیل هغوی

او خپل تندی له ے تس ورکړو او وے اختیاره ے په تیز آواز سره اووئیل چه زه بوډئ (او) شنډه یم. هغوی ورته اووئیل

كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٣٠﴾

دغه شان (په ته ے) | وایلی دی | رب ستا | بیشکه | هغه دے | لوے حکمت والا | ښه پوهه

چه ته به هم په دے صفت باندے ے ستا رب هم دا سے وایلی دی یقین اوکړئ چه هغه ډیر حکمت والا ښه پوهه ذات دے.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۱﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ

اوویل هغه | نوځه دے | (لوے) کارستاسو | اے رالیږلی شوو (فرشتو) | اوویل هغوی | بیشکه مونږ
ابراهیمؑ (فرشتو ته) اوویل چه ستاسو د راتلو مقصد څه دے؟ هغوی ورته اوویل چه مونږ

اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً

رالیږلی شوی یُو | قوم | مجرمانو پسے | چه مونږ راولیږو | په دوی باندے | کانړی
یو مجرم قوم پسے رالیږلی شوی یُو چه د تیکرو د اسے کانړی پرے راوغورو

مِّنْ طِيْنٍ ﴿۳۳﴾ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۴﴾ فَاَخْرَجْنَا

(جوړشوی) دخټے نه | چه نخښه دار کړے شوی دی | ستا د رب سره | د پاره د حد نه د تیریدونکو | نو ویستل مونږ
چه په هغے به ستا د رب د طرف نه د زیاتی کوونکو د پاره نخښے لګیدلی وی بیا (پس) هلته چه

مَنْ كَانَ فِيْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا

هغه څوک | چه وو | په هغے کښ | د مومنانو نه | پس اونۀ موندلو مونږ | په هغے کښ
څومره مومنان وو هغه ټول ترے مونږ راویستل او هلته د مسلمانانو د یو کور نه سوا مونږ

غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۶﴾ وَتَرَكْنَا فِيْهَآ اٰيَةً لِّلَّذِيْنَ

سوا | د یو کور | د مسلمانانو نه | اوپریخودله مونږ | په هغے کښ | نخښه | د هغه خلقو د پاره
نور کور نه اونۀ موندل او مونږ په هغه کلی کښ د هغه خلقو د پاره چه د دردناک عذاب نه یَرِیږی

يَخَافُوْنَ الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۳۷﴾ وَفِيْ مُوْسٰٓى اِذْ اَرْسَلْنٰهُ

چه یَرِیږی | د عذاب | دردناک نه | او (په واقعه) د موسیٰؑ کښ هم | کله چه | اولیږلو مونږ د هغۀ لره
(د عبرت) یوه نخښه پریخودله او د موسیٰؑ په واقعه کښ (هم مونږ نخښه پریخودلے ده) کله چه مونږ هغه

اِلٰى فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ

فرعون ته | په دلیل | ښکاره سره | نو مخ واړولو هغه | د خپل طاقت په وجه | اووے ویل
په یو ښکاره دلیل سره فرعون ته اولیږلی وو نو هغه د خپل طاقت په وجه (خپلو لښکرو) سره مخ واړولو او وے ویل

سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۳۹﴾ فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ

چه (داخو) جادوګر دے | یا لیونے | نو راولیولو مونږ هغه | او لښکرے د هغۀ | بیا مو واوغورځول دوی
چه داخو جادوګر یا لیونے دے نو بس مونږ هغه او د هغه لښکرے راونیولے او ټول مو دریاب ته اوغورځول

فِي الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۴۰﴾ وَفِيْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ

په دریاب کښ | او هغه وو | ځان ملامته کوونکے | او په عادیانو کښ هم | کله چه | راولیږلو مونږ | په هغوی باندے
او هغه په خپلو کړو د پیر ستوماناته وو۔ او په عادیانو کښ (هم مونږ نخښه پریخودلے ده) کله چه مونږ په هغوی باندے

الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ﴿۴۱﴾ مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ اَتَتْ عَلَيْهِ اِلَّا

سیلۍ | شنډه (بے خیره) | (چه) نه ځے پریخودلو | هیڅ یو څیز | چه راتللے | په هغے باندے | مګر
یو داسے بے خیره سیلۍ راولیږله چه په کوم څیز به تیریدله (نو) هغه به ځے داسے پریخودلو

جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ۝ وَفِيْ ثَمُوْدَ اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا

کړوبه ئے هغه | پشان دهغوی خړه خړه شوی | اوپه ثمود یانو کښ هم | کله چه | اووییل شو | هغوی ته | فائدے واخلئ

لکه هغوی ریزه ریزه اوپه ثمودیانو کښ (هم دالله نخښه وه) څه وخت چه ورته اووییل شو چه لږ (څه) وخته پورے

حَتّٰى حِيْنٍ ۝ فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ

تر څه وخته پورے | نوسرکشی اوکړه هغوی | د حکم | درب خپل نه | پس راونیول هغوی | تندر (سختے چغے)

مزے واخلئ نو هغوی دخپل رب د حکم نه سرکشی اختیار کړه نو سختے چغے (عذاب) راونیول

وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ۝ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا

او هغوی | کتل | پس طاقت نه لرلو دوی | د اودریدلو | او نه وو دوی

او دوی کتل نتیجه دا چه نه خو پکښې د پاځیدو طاقت پاتے شو او نه ئے مقابله کولے شوه

مُنْتَصِرِيْنَ ۝ وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا

بدله اخستونکی | او (هلاک کړے وو مونږ) قوم د نوحؑ | مخکښے ددے نه | بیشکه هغوی | وو | قوم

او دَدے نه مخکښے مونږ د نوحؑ قوم (هلاک کړے وو) یقیناً هغوی لوے نافرمانه خلق وو

فٰسِقِيْنَ ۝ ع وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ۝

نافرمانه | او آسمان | جوړ کړے دے مونږ دغه لره | په طاقت (سره) | اوبیشکه مونږ | خامخا فراخی ورکوونکی یُو

او آسمان مونږ په خپل قوت سره جوړ کړے دے او یقیناً مونږ هغے لره فراخی ورکوونکی یُو

وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ۝ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ

او زمکه | غوړولے ده مونږ دے لره | پس څه ښه | غوړوونکی یُو (مونږ) | او د هر یو څیز نه

اوزمکه مونږ فرش کړے (غوړولے) ده نو مونږ ډیر ښه غوړوونکی یُو او د هر یو څیز نه

خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ؕ

پیدا کړی دی مونږ | جوړے | دے دپاره چه تاسو | نصیحت واخلئ | پس اوتخنځ | الله ته

مونږ جوړے پیدا کړی دی (دے دپاره) چه تاسو نصیحت واخلئ نو تاسو هم د الله طرف ته ورمنډه کړئ

اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ ج وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ

بیشکه زهٔ | ستاسو دپاره | دهغه د طرف نه | یَروونکے | ښکاره یم | او مه جوړوئ | د الله سره

یقین او کړئ چه زه د هغه د طرف نه ستاسو دپاره یو ښکاره یَروونکے یم او د الله تعالیٰ سره

اِلٰهًا اٰخَرَ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ ج كَذٰلِكَ

معبود | بل | بیشکه زهٔ | ستاسو دپاره | دهغهٔ د طرف نه | یَروونکے | ښکاره یم | دغه شان

بل معبود مهٔ جوړوئ یقین او کړئ چه زه د هغه د طرف نه ستاسو دپاره یو ښکاره یَروونکے یم دغه شان

مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا

نه به راتلو | هغه کسانو ته | چه مخکښے د دوی نه وو | هیڅ یَو پیغمبر | مګر ویل به هغوی

د دوی نه پخوانو خلقو ته به چه کوم یو پیغمبر راغے نو هغوی به ورته

سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ۚ﴿٥٢﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ

چه (داځی) جادوګر دے | یا لیونے | آیا یو بل ته وصیت کړے وو دوی | په دے (خبره) | (نه) بلکه | وو دوی | قوم

جادوګر یا لیونے ویلو آیا دوی یو بل ته د دے خبرے وصیت کړے دے؟ (نه) بلکه دا خلق سرکشه

طَاغُوْنَ ۚ﴿٥٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿٥٤﴾ وَّذَكِّرْ

سرکشان | پس ته مخ واړوه | د دوی نه | پس نه ئے ته | ملامته (کړے شوے) | او نصیحت کوه ته

خلق دی بس (نو) اے نبیؐ ته د دوی نه مخ واړوه (بلکل پروا مه کوه) ځکه چه په تا هیڅ ملامتیا نشته

فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٥﴾ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ

پس بیشکه | نصیحت | فائده ورکوی | مؤمنانو ته | او نه دی پیدا کړی ما | پیریان

او نصیحت کوه ځکه چه نصیحت مومنانو ته فائده ورکوی او ما پیریان او انسانان (صرف) دے دپاره

وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ

او انسانان | مګر | دے دپاره چه دوی عبادت اوکړی زما | نه غواړم زه | د دوی نه | څه رزق

پیدا کړی دی چه زما عبادت اوکړی زه د دوی نه څه رزق نه غواړم

وَّمَآ اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿٥٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ

او نه غواړم زه دَدوی نه | (دا) چه خوراک را کړی ماته | بیشکه | الله | هم هغه دے | رزق ورکوونکے | خاوند د قوت

او نه دا غواړم چه دوی دے ماته خوراک را کړی یقیناً الله خو پخپله روزی رسان طاقت والا

الْمَتِيْنُ ﴿٥٨﴾ فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ

ډیر مضبوط دے | پس بیشکه | دهغه خلقو دپاره | چه ظلم ئے کړے دے | حصه دی (د عذاب) | پشان | د حصو

او مضبوط دے په دے کښ هیڅ شک نشته چه د ظالمانو دپاره هم د عذاب نوبت (مقرر) دے څنګه چه

اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د ملګرو دهغوی | پس زړه دے نه غواړی دوی زما نه | پس تباهی ده | دهغه کسانو دپاره | چه کفر ئے کړے دے

د دوی د ملګرو نوبت راغلے وو نو دوی دے زما نه عذاب زر نه غواړی غرض (پس) کافرانو دپاره

مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٦٠﴾ ع

دور څخه د دوی نه | هغه (ورځ) | چه دوی سره ئے وعده کولے شی |

د هغے ورځے (په راتلو کښ) ډیره تباهی ده د کومے ورځے چه دوی سره وعده کیږی .

آیاتها[۴۹]	سورة الطّور مكّيّة	رکوعاتها[۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالطُّوْرِ ۙ﴿۱﴾ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ۙ﴿۲﴾ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ۙ﴿۳﴾ وَّالْبَيْتِ

قسم دے په طور باندے | او په کتاب | لیکلی شوی باندے | په پاڼرو | خورو ورو کښې | (او) قسم دے په کور
په طور قسم دے او په هغه کتاب قسم دے چه په پرانستلی پاڼرو کښې لیکلے شوے دے او په

الْمَعْمُوْرِ ۙ﴿۴﴾ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ۙ﴿۵﴾ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ۙ﴿۶﴾

آباد کرے شوی باندے | (او) قسم دے په چت | پورته کرے شوی باندے | (او) قسم دے په دریاب | ډک کرے شوی باندے
بیت معمور قسم دے او په اوچت کرے شوی چت قسم دے او په ډک کرے شوی دریاب قسم دے

اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۙ﴿۷﴾ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ۙ﴿۸﴾ يَّوْمَ

(چه) بیشکه | عذاب | د رب ستا | خامخا واقع کیدونکے دے | نشته دهغے | هیڅ څوک لرے کوونکے | په هغه ورځ
چه یقیناً ستا د رب عذاب ضرور واقع کیدونکے دے هیڅ څوک د هغے منع کوونکے نشته په هغه ورځ

تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ۙ﴿۹﴾ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ؕ﴿۱۰﴾ فَوَيْلٌ

او به خوزیږی | آسمان | په خوزیدو سره | او روان به شی | غرونه په | روانیدو سره | پس تباهی ده
چه آسمان به اولرزیږی او غرونه به روان شی (د خپل ځای نه) نو په دغه ورځ

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۙ﴿۱۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ۘ﴿۱۲﴾

په دغه ورځ | د روغړن کوونکو دپاره | هغه کسان | چه هغوی | په فضول خبرو کښې | لوبے کوی
دهغه د تکذیب کوونکو دپاره تباهی ده چه په فضول خبرو کښې لګیا دی لوبے کوی

يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ؕ﴿۱۳﴾ هٰذِهِ النَّارُ

په هغه ورځ | چه په دیکو دیکو به یوتللے شی دوی | اور | د جهنم ته | په دیکو ور کولو سره | دا دے | اور
په هغه ورځ به دوی د جهنم اور ته په دیکو دیکو ور دیکه کړے شی (او ورته به اووایی شی چه) دا هغه اور دے

الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ۞﴿۱۴﴾ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ

هغه | چه تاسو به دے لره دروغ ګڼرلو | آیا نو جادو دے | دا | یا تاسو
چه تاسو به دروغ ګڼرلو نو آیا دا جادو دے یا (اوس) تاسو ته څه په نظر نه راځی؟

لَا تُبْصِرُوْنَ ۞﴿۱۵﴾ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا ۚ سَوَآءٌ

(هیڅ) نه ویني | داخل شی تاسو دے ته | پس (که) صبر کوئ تاسو | یا (که) صبر نه کوئ | برابره ده
دے ته داخل شئ بیا که تاسو صبر کوئ یا نه کوئ (دواړه خبرے) درله برابرے دی

عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِنَّ

په تاسو باندے | بیشکه | بدله (به) درکولے شی تاسو ته | دهغه څه | چه تاسو به کول | بیشکه

تاسو ته د هم هغه کارونو بدله (سزا) ملاویږی چه تاسو به کول

الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّنَعِيْمٍ ۙ﴿۱۷﴾ فٰكِهِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمْ

پرهیزګاران به | په جنتونو | اونعمتونو کښ وی | خوشحالی کوونکی به وی | په هغه څه | چه ورکړی وی دوی ته

متقیان به یقیناً په جنتونو اونعمتونو کښ وی د خپل پروردګار په ورکړه به خوشحاله وی

رَبُّهُمْ ۚ وَوَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿۱۸﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

رب خپل | اوبچ به ساتلی وی دوی (لره) | رب خپل | د عذاب | د دوزخ نه | خوړئ | او څښئ

اوپه دے چه دوی خپل رب د دوزخ د عذاب نه بچ ساتلی دی (ورته به اووایلی شی چه) د خپلو عملونو په بدله

هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى سُرُرٍ

په مزو سره | په سبب د هغه عملونو | چه تاسو به کول | تکیه لګوونکی به وی | په تختونو باندے

ښه په خوشحالئ سره خوړئ څښئ. حالت به ئے دا وی چه په قطار غوړیدلی تختونو باندے به ئے وی

مَّصْفُوْفَةٍ ۚ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿۲۰﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

صف صف (کړے شوی) | اووادہ به کړو مونږ دوی ته | حورے | غټو سترګو والا | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے

(تکیه) وهلی وی او مونږ به د غټو (ښائسته) سترګو والا حورو سره د دوی واده او کړو او چا چه ایمان راوړے دے

وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ

اوتابعداری کړے ده د دوی | بچو د دوی | په ایمان کښ | مونږ به یو ځای کړو | د دوی سره | بچی د دوی

او نیک عملونه ئے کړی دی او د هغوی بچی په ایمان کښ په هغوی پسے روان دی نو مونږ به د هغوی بچی

وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ كُلُّ امْرِئٍۢ بِمَا

او کم به نه کړو | د عملونو د دوی نه | هیڅ څیز | هر یو | سړے به | په هغه څه کښ

د هغوی سره یو ځای کړو او د هغوی په عملونو کښ به هیڅ کمی اونۀ کړو هر کس په خپل عمل کښ

كَسَبَ رَهِيْنٌ ﴿۲۱﴾ وَاَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا

چه ده کړی وی | ګانړه (ګیر) وی | او مونږ به زیاتوؤ دوی لره | میوے | او غوښے | د هغه څه نه

ګانړه (ګیر) وی اوځنګه میوے اوغوښے چه د دوی زړۀ غواړی مونږ به ئے (بیا بیا) ورکوو

يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۲﴾ يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا

چه دوی به ئے غواړی | راکاږی به دوی دیو بل نه | په هغے کښ | کاسے د شرابو | (چه) نه به وی فضول خبرے | په هغے کښ

د دا سے شرابو په جام ونو به د یو بل سره خوش طبعی کوی چه په هغے کښ به نه څه فضول خبره وی او نۀ څه

وَلَا تَاْثِيْمٌ ﴿۲۳﴾ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ

او نۀ څه ګناه | او ګرځی راګرځی به | په دوی باندے | هلکان | (د خدمت د پاره) د دوی | لکه چه هغوی

ګناه او د هغوی چارچاپیره به د هغوی د خدمت د پاره د اسے (ښائسته) ځوانان (خدمتګاران) ګرځی لکه چه

لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾

ملغلرے دی | ښځے سائلے شوے | اوراړمخامخ به شی | بعضے دَدوی نه | په بعضو باندے | (چه) ټهوسونه به کوی خیوبل نه

ښځے سائلے شوے (محفوظ) ملغلرے، اوهغوی به یوبل ته متوجه (مخامخ) شی (او) دیوبل نه به ټهوسونه کوی

قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ

وائی به | چه بیشکه | مونږ وو | مخکښے ددے نه | په خپله کورنۍ کښ | ګرېدونکی | نو احسان اوکړو

وائی به چه مونږ (خو) په خپلو کورونو (دنیا) کښ ډیر ګرېدلو نو (بس) الله په مونږ باندے

اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ

الله | په مونږ باندے | اوبچ ئے کړو مونږ | د عذاب | د ګرمے هوا نه | بیشکه | مونږ وو | مخکښے ددے نه

احسان اوکړو او مونږ ئے د ګرمے هوا د عذاب نه بچ کړو یقیناً مونږ به دَدے نه مخکښے (دنیا کښ)

نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَا أَنتَ

چه مونږ به رابللو هغه | بیشکه | هغه دے | ډیر احسان کوونکے | ډیر مهربان | پس ته نصیحت کوه | پس نه ئے ته

دهغه نه به مو دعا کانے غوښتلے یقیناً هم هغه (پوره) احسان کوونکے ډیر مهربان دے نو (اے نبیؐ) ته

بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ

په (وجه د) نعمت | د رب خپل | کاهن | او نه لیونے | آیا دوی وائی | چه (دا) یو شاعر دے

نصیحت کوه ځکه چه ته د خپل رب په نعمت سره نه کاهن ئے او نه لیونے آیا دا خلق وائی چه دا

نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي

(چه) مونږ انتظار کوو | په یاره ددۀ کښ | د حادثے | د مرګ | اووایه | انتظار کوئ | پس بیشکه زه (هم)

یو شاعر دے چه مونږ په ده باندے د زمانے د حادثاتو انتظار کوو ته ورته اووایه چه انتظار کوئ زۀ هم

مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا

ستاسو سره یم | د انتظار کوونکو نه | آیا حکم کوی دوی ته | عقلونه دَدوی | ددے (خبرے)

تاسو سره انتظار کوونکے یم آیا دَ دوی عقلونه دوی ته دا حکم کوی

أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ

آیا دی دوی | یَو قوم | سرکشه | آیا دوی وائی | (چه) ده ځان نه جوړ کړے دے دا (کتاب)

بلکه دوی سرکشه خلق دی؟ یا (آیا) دوی وائی چه (دے نبیؐ) دا (قرآن) د ځان نه جوړ کړے دے

بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا

(نه) بلکه | دوی ایمان نه راوړی | پس دوی دِ راوړی | یَوه خبره | پشان دَدے | که چرے | وی دوی

(نه) بلکه دوی (د ضد دوجے) ایمان نه راوړی که دوی واقعی رڼتنے وی نو دے پشان یوه خبره (یو کلام)

صَادِقِينَ ﴿٣٤﴾ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾

رڼتنے | آیا دوی پیدا کړے شوی دی | بغیر د څۀ فائدے نه | یا دوی | پیدا کوونکی دی (پخپله)

دے جوړ کړی آیا دا خلق عبث پیدا کړے شوی دی یا دوی پخپله (د خپل ځان) پیدا کوونکی دی؟

أَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ۝ أَمْ عِندَهُمْ

یا دوی پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | (نه) بلکه | دوی یقین نه کوی | آیا دوی سره دی

یا آیا آسمانونه او زمکه دوی پیدا کړی دی؟ (نه) بلکه اصل خبره داده چه دوی یقین نه لری یا ستا د رب

خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ۝ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ

خزانے | درب ستا | یا دوی | داروغه ګان دی | آیا دوی سره ده | ایږه اندرپایه

خزانے د دوی سره دی یا دوی د هغے انتظام او څوکۍ کوونکی دی؟ یا دوی سره څه پوړۍ (اندرپایه) شته

يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۚ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ۝

چه دوی غوږ ږدی | په هغے کښ | پس راوړے وړی | غوږ ایښودونکی ډډوی | یو دلیل | ښکاره

چه په هغے (دوی برته خیژی او) خبرے آوری که داسے وی نو چا چه اوریدلی وی هغه دے یو واضح دلیل راوړی

أَمْ لَهُ الْبَنَاتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ ۝ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم

آیا الله دپاره | لونړه دی | او ستاسو | خامن دی | آیا ته غواړے د دوی نه | څه اجر (بدله) | پس دوی

آیا د الله لونړه دی او ستاسو خامن؟ آیا (اے نبیؐ) تهٔ د دوی نه څه اُجرت غواړے

مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ۝ أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ۝

د وجے د تاوان نه | درانه شوی دی | آیا دوی سره دے | (علم د) غیبو | پس دوی | لیکل کوی (دهغے نه)

چه د هغے د تاوان د بوج لاندے دوی درانهٔ شوی دی یا دوی سره د غیبو علم دے چه دوی د هغے نه لیکل کوی

أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ

آیا دوی غواړی | مکر کول | پس هغه کسان | چه کفر ځ کړے دے | هم هغوی دی

آیا دوی څه تدبیر (مکر) کول غواړی نو کافران به پخپله په خپل مکرونو کښ

الْمَكِيدُونَ ۝ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ

په خپل مکر کښ راګیریدونکی | آیا شته د دوی | یو معبود | بغیر د الله نه | پاک دے | الله

راګیر شی آیا د الله نه سوا د دوی بل معبود شته الله د هغه شرک نه پاک دے

عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝ وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَاءِ سَاقِطًا

د هغه څخه نه | چه دوی (ځان سره) شریکوی | او که چرے اوویني دوی | ایږه ټکړه | د آسمان نه | راپریوتونکے

چه دوی ځان سره کوی او که چرے دوی د آسمان نه یوه ټکړه په راپریوتو اووینی

يَقُولُوا سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ۝ فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا

(نو) دوی به وائی | (چه داخو) وریځ ده | لاندے باندے | پس ته پریږده دوی | تر دے | چه ملاقات او کړی دوی

نو وائی (به) چه دا (خو) قط په قط (ګوره) وریځ ده بس (اے نبیؐ) ته دوی تر هغے پورے (په خپل حال) پریږده

يَوْمَهُمُ الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ۝ يَوْمَ لَا يُغْنِي

د ورځ خپله | هغے سره | چه په هغے کښ به | دوی بے هوشه کړی شی | په هغه ورځ به | لرے نه کړی

چه هغه ورځ سره مخامخ شی چه په هغے کښ به بے هوشه شی په هغه ورځ به

عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ۝٢٥ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ

د دوی نه | مکر د دوی | هیڅ هم | اونه به د دوی سره | مدد کولے شی | او بیشکه | د هغه کسانو د پاره

د دوی چا لونه (تدبیرونه) د دوی هیڅ پکار رانشی او نهٔ به ئے مدد کیږی او د دے

ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٢٦

چه ظلم ئے کړے دے | عذاب دے | د دے نه سوا | لیکن | اکثر دهغوی | نه پوهیږی

ظالمانو د پاره د دینه مخکښے هم یو عذاب دے لیکن په دوی کښ اکثر نه پوهیږی

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ

او صبر کوه ته | حکم | د رب خپل ته | پس بیشکه ته ئے | زمونږ د ستر گو په وړاندے | او پاکی بیانوه | سره د حمد

او ته د خپل رب په حکم باندے کلک اوسه څکه چه ته زمونږ د ستر گو وړاندے ئے او کله چه پاڅیږے هغه وخت

رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ۝٤٨ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ ۝٤٩

د خپل رب نه | څه وخت | چه ته پاڅیږے | او د شپے (هم) | پس پاکی بیانوه دهغه | او په وخت د ډوبیدو | د ستورو کښ

د خپل رب د حمد سره د هغهٔ پاکی وایه او د شپے په څه حصه کښ هم پاکی وایه او د ستورو د ډوبیدو نه پس هم وایه

سورة النّجم مكّيّة

آياتها [٦٢] | رکوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۝٢

قسم دے په ستوری | کله چه | پریوځی | نه دے بے لارے | ملګرے ستاسو | او نه تیروتلے دے

(اے خلقو!) قسم دے په ستوری کله چه د خپل خالق نه غائب شی ستاسو ملګرے (پیغمبر) نه بلارے شوے دے او نه په خپل

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝٣ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ۝٤

او خبرے نه کوی دے | د (خپل) خواهش نه | نه دے دا (قرآن) | مګر | وحی چه کولے شی (دهٔ ته)

مقصد کښ خطا شوے دے او دے په خپل خواهش هیڅ خبره نه کوی دا خو خاص (د الله حکم دے) چه هغه ته ئے وحی کیږی هغه

عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى ۝٥ ذُوْ مِرَّةٍ ۭ فَاسْتَوٰى ۝٦ وَهُوَ

تعلیم ورکړے دے دهٔ ته | سخت | قوتونو والا (جبریل) | (چه) طاقت والا (دے) | نو هغه برابر شو | او هغه وو

یو داسے مضبوط طاقت والا (فرشتے) تعلیم ورکړے دے چه هغه زور قوت والا و خلسته حے یا هغه صحیح په اصلی شکل کښ راښکاره شو

بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ۝٨ فَكَانَ قَابَ

په غاړه | اوچته باندے | بیا | نزدے شو | نو بهٔ نزدے شو | نو شو | په مقدار

په دا سے حال کښ چه هغه د آسمان په اوچته غاړه ولاړ وو بیا نزدے شو اور اکوز شو د افق نه تر دے چه د دوو لیندو تر مینځه

قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۝٩ فَاَوْحٰۤى اِلٰى عَبْدِهٖ مَاۤ اَوْحٰى ۝١٠

د دوو لیندو | یا زیات نزدے (ددے نه) | نو وحی ئے اوکړه | بنده د الله ته | هغه | چه وحی ئے اوکړه

دفاصلے برابر را نزدے شو (بلکه) ددے نه هم بنه نزدے نو (دغه شان) الله چه خپل بنده ته څه وحی را لیږله هغه ځواله لیږله څه چه

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ۝١١ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ۝١٢

دروغ نه دی ویلی | زړه | څه چه ئے لیدلی دی | آیا تاسو جګړه کوئ دهغه سره | په هغه څه | چه هغه لیدلی دی

هغه لیدلی دی نو زړه په هغے کښ هیڅ غلطی نه ده کړے آیا (نو) تاسو یا هم دهغه سره په هغه څیز کښ جګړے کوئ چه هغه لیدلی دی

وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ۝١٣ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ۝١٤

او یقیناً | ده ګه لیدلے وو هغه | یو ځل | بل (هم) | په خوا | د سدرة المنتهیٰ کښ

او حقیقت دا دے چه ده ګه هغه (فرشته) یو ځل بل هم لیدلے وه دهغه ډیرے دوے نه په خوا کښ چه دهغے سره دمنانو دا رواحو

عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ۝١٥ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ۝١٦

(چه) دهغے سره دے | جنة الماوی | کله چه | پټ کړو | ډیرے لره | هغه څه | چه پټ ئے کړو

او دملائکو دختلو انتهاء کیږی هم دهغے سره په خوا کښ جنة الماوی دے کوم وخت چه دے ډیرے لره دسرو زرو پتنګانو یا

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ۝١٧ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ

نه دے کوږ شوے | نظر | او نه د حد نه تیر وتے دے | یقیناً | هغه لیدلی دی | (څه) نښے | د خپل رب

ملائکو پته کړه (د پیغمبر) نظر نه خو د خپل مقصد نه کوږ شوے دے او نه د مقصد د حد نه ورتیر شوے دے یقیناً هغه د خپل رب

الْكُبْرٰى ۝١٨ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ۝١٩ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ

لوے (غټے) | آیا تاسو سوچ کړے دے | په (حال د) لات | او د عُزیٰ | او د منات | چه دریم دے

د (غټو غټو) نښو نه ډیر څه او لیدل آیا تاسو د لات او د عزی (په حقیقت) سوچ کړے دے او دیو بل دریم بُت (په حقیقت)

الْاُخْرٰى ۝٢٠ اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ۝٢١ تِلْكَ اِذًا

بل | آیا وی دے ستاسو دپاره | نارینه | او دهغه دپاره | جینکۍ ؟ | دا (خو) | په دغه وخت کښ

چه نوم ئے منات دے ؟ آیا ستاسو خو دے څامن وی او دهغه (الله) دے لونړه وی ؟ دا تقسیم خو

قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ۝٢٢ اِنْ هِىَ اِلَّاۤ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَاۤ اَنْتُمْ

تقسیم دے | د بے انصافۍ | نه دی دا | مګر | (ټش) نومونه | چه ایښودلی دی تاسو دے لره | تاسو

ډیر د بے انصافۍ دے . د دے حقیقت خو دا دے چه دا خو ټش (هغه) نومونه دی چه تاسو

وَاٰبَآؤُكُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ

او پلار نیکه ستاسو | نه دے رالیږلے | الله | په دے | هیڅ (قسم) دلیل | او نه دی روان دوی

او ستاسو پلار نیکه ایښودلی دی الله تعالیٰ دد ے په حق کښ هیڅ ثبوت نه دے رالیږلے حقیقت دا دے چه دا (کافر) خلق

اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ

مګر | په ګمان پسے | او په هغه څه پسے | چه خواږی (ږے) | نفسونه | او یقیناً | راغلے دے دوی ته

صرف خپل ګمانونو او نفسانی خواهشونو پسے روان دی حالانکه

مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿٢٣﴾ اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿٢٤﴾

دخپل رب دطرف نه | هدایت | آیادی | د انسان دپاره | هغه څه | چه دے غواړی کوی

دخپل رب د طرف نه ورته هدایت راغلے دے آیا انسان دپاره هر هغه څه جائز دی چه دے غواړو کوی

ع ٢ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ

پس خاص دالله (دپاره دے) | آخرت | او دنیا (هم) | اوځومره (پیرے) | فرشتے دی | په آسمانونو کښ

(نه) څکه چه آخرت او دنیا (ټول) خو دالله په اختیار کښ دی او په آسمانونو کښ ډیرے فرشتے دی

لَا تُغْنِيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ

(چه) پکاریه رانشی | سفارش دهغوی | هیڅ هم | مګر | وروستو ددے نه | چه اجازت اوکړی | الله

چه د هغوی سفارش د چا په کار نشی راتلے البته د چا دپاره چه الله اجازت اوکړی

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

هغه چاته | چه اوے غواړی | اورضامنی هغه (الله) | بیشکه | هغه کسان | چه ایمان نه راوړی | په آخرت

او (په هغے) رضا وی نو بیا په کار راتلے شی یقیناً کوم خلق چه په آخرت ایمان نه راوړی

لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُمْ بِهٖ

خامخا نومونه پدی | فرشتو له | په نومونو | د زنانو | اونشته دے ددوی سره | په دے باندے

هغوی په فرشتو د زنانو نومونه پدی حالانکه هغوی سره په دے خبره هیڅ علم نشته

مِنْ عِلْمٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ

هیڅ علم (پوهه) | نه دی روان دوی | مګر | په گمان پسے | اوبیشکه | گمان | په کار نه راځی

صرف په گمان پسے روان دی او حقیقت دا دے چه گمان د حق په مقابله کښ بلکل بیکاره دے

مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿٢٨﴾ فَاَعْرِضْ عَمَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا

په مقابله د حق کښ | هیڅ هم | پس ته مخ واړوه | د هغه چا نه | چه اوړیدلے دے | د نصیحت زمونږ نه

تو (اے نبیؐ) د هغه چا نه مخ واړوه چه زمونږ د نصیحت (یاد) نه ځ مخ اړولے دے

وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ؕ

او نه غواړی | مګر | ژوند | دُنیوی | دا دے | آخیری مقصد ددوی | د علم نه

او د دنیا د ژوند نه سوا بل هیڅ نه غواړی دا دے خلقو د علم (د پوهے) حد بس هم دومره دے

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۙ وَهُوَ

بیشکه | رب ستا | هغه | ښه پوهه دے | په هغه چا | چه گمراه شوے دے | د هغه دلارے نه | او هغه

ستا رب هغه څوک هم ښه پیژنی چه د سمے لارے نه اوړیدلے (گمراه) شوے دے او هغه څوک هم ښه پیژنی

اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ﴿٣٠﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

ښه پوهه دے | په هغه چا | چه هدایت ځموندلے دے | اوخاص دالله (دپاره دی) | هغه څه | چه آسمانونو کښ دی | اوهغه څه

چه هدایت ځے موندلے دے او د آسمانونو او د زمکے هر څه یوا ځے (خاص) د الله دی

فِي الْاَرْضِ ۙ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا

چه په زمکه کښ دی | چه هغه بدله ور کړی | هغه کسانو ته | چه بدی ئے کړے ده | په سبب د هغه عملونو | چه هوی کړی دی

نتیجه داده چه چا بد عملونه کړی دی هغه (الله) به هغوی ته د خپلو عملونو بدله (سزا) ور کړی

وَيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰى ۚ﴿٣١﴾ اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ

او (چه) بدله ور کړی | هغه کسانو ته | چه نیکی ئے کړے ده | په سبب د نیکۍ | هغه کسان | چه ځان بچ کوی

او چا چه نیک کارونه کړی دی هغوی له به ښه بدله ور کړی دا (نیکان) هغه خلق دی چه د ډوړو ګناهونو نه سوا

كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ

د غټو | ګناهونو | او د بے حیایئ نه | سوا د وړو ګناهونو نه | بیشکه | ستا رب | فراخه

د غټو غټو ګناهونو او د بے حیایئ (د کارونو) نه ځان بچ کوی یقین او کړه چه ستا رب ډیر فراخه

الْمَغْفِرَةِ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ

بخښنے والا دے | هغه | ښه پوهه دے | په تاسو | کله چه | هغه پیدا کړئ تاسو | د زمکے نه | او کله چه

مغفرت (بخښنے) والا دے هغه تاسو ښه پیژنی کله چه ئے تاسو د خاورے نه پیدا کړئ

اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

تاسو | پټ وئ | په خیټو | د مېندو خپلو کښ | نو پاک مه ګڼئ | ځانونه خپل

او تاسو د خپلو میندو په خیټو کښ ماشومان وئ د خپلو ځانونو صفتونه مه کوئ

ع هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ۚ﴿٣٢﴾ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ تَوَلّٰى ۙ﴿٣٣﴾

هم هغه | ښه پوهه دے | په هغه چا | چه پرېږی | آیا پس تا لیدلے دے | هغه کس | چه مخ ئے اړولے دے

هغه ښه پوهیږی چه متقی څوک دے. (اے نبی) آیا تا هغه کس لیدلے دے چه د حق نه ئے مخ واړولو

وَاَعْطٰى قَلِيْلًا وَّاَكْدٰى ﴿٣٤﴾ اَعِنْدَهٗ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ

اوور کړے ئے دے | (مال) لږ | او منع شوے دے | آیا دے د ده سره | علم | د غیبو | نو دے

اولږ غوندے مال ئے ور کړو (خرچ کړو) او (بیا) ئے لاس بند کړو او د ځان لپاره عمل نه عاجز شو آیا ده سره د پټو خبرو علم دے نو دے

يَرٰى ﴿٣٥﴾ اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ بِمَا فِيْ صُحُفِ مُوْسٰى ۙ﴿٣٦﴾ وَاِبْرٰهِيْمَ

وینی | آیا ده ته خبر نه دے ور کړے شوے | د هغه څه | چه وو په صحیفو | د موسیٰ کښ | او د ابراهیم کښ

پوهیږی (چه په لږ دین کښ نجات دے او ټول دین ته حاجت نشته) آیا ده ته د هغه خبرو خبر نه دے ملاو شوے چه هغه د موسیٰ په صحیفو

الَّذِيْ وَفّٰٓى ۙ﴿٣٧﴾ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۙ﴿٣٨﴾ وَاَنْ

هغه | چه پوره کړے ئے دے (حق) | دا چه نشی اوچتولے | یو پیتی اوچتوونکے | پیتی | د بل چا | او (دا) چه

کښ لیک دے او د ابراهیم په صحیفو کښ هم چه هغه پوره وفادار وو (یعنی) دا چه هیڅ یو بوج اوچتوونکے د بل چا بوج نشی اوچتولے

لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ۙ﴿٣٩﴾ وَاَنَّ سَعْيَهٗ

نشته | د انسان دپاره | مګر | هغه څه | چه هغه ئے کوشش کړے دے | او (دا) چه | د ده کوشش به

او دا چه انسان ته به هم هغه څه ملاو ږیږی چه هغه ئے کوشش کړے دے او دا چه د هغه کوشش به

سَوْفَ يُرٰى ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿٤١﴾ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ

زر ده | چه او به لیدلے شی | بیا به | بدله ور کړی شی حقه | بدله | پوره | او (دا) چه | ستا رب ته

ډیر زر او کتلے شی بیا به ورته خپله بدله پوره پوره ور کړے شی او دا چه (اخیر) ستا درب خوا له

الْمُنْتَهٰى ﴿٤٢﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ﴿٤٣﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ

(آخیری) رسیدل دی | او (دا) چه | هم هغه | خندول کوی | او ژړول کوی | او (دا) چه | هم هغه | وژل کوی

رسیدل دی او دا چه هم هغه خندول کوی او ژړول کوی او دا چه هم هغه وژل کوی

وَاَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَاَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٤٥﴾

اوژوندی کول کوی | او (دا) چه هغه | پیدا کړی دی | جوړے | نارینه | او زنانه

اوژوندی کول کوی او دا چه هم هغه نر او مادے (دوه) جوړے پیدا کړی دی (هغه هم صرف)

مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿٤٦﴾ وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿٤٧﴾

د نطفے نه | کله چه | هغه واچولی شی (په رحم کښ) | او (دا) چه | هم دهغه په ذمه دے | پیدا ښ | بل

دیو څاڅکی نطفے نه کله چه هغه (په رحم کښ) تویه کړے شی او دا چه بیا ژوندی کول هم هغه په خپله ذمه | خستل دی

وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿٤٨﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿٤٩﴾

او (دا) چه | هم هغه | مالداره کوی (څوک) | او غریب کوی (څوک) | او (دا) چه | هم هغه | رب دے | د شعرٰی (ستوری)

او دا چه هم هغه (څوک) مالداره کوی او (څوک) غریب کوی او دا چه هم هغه د شعرٰی ستوری مالک دے او دا چه هم هغه

وَاَنَّهٗ اَهْلَكَ عَادَا ِالْاُوْلٰى ﴿٥٠﴾ وَثَمُوْدَا فَمَآ اَبْقٰى ﴿٥١﴾

او (دا) چه هغه | هلاک کړی دی | عادیان | وړومبنی | او ثمودیان (هم) | پس باقی ئے نه دی پریخودلی (هیڅ څوک)

پخوانی (اولنی) عادیان تباه کړی دی او ثمودیان (ئے هم دا سے تباه کړی دی) چه هیڅ څوک ئے (ترے نه) پریخودلی نه دی

وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿٥٢﴾

او قوم | د نوحؑ (هم) | مخکښے ډډے نه | بیشکه هغوی | وو | هغوی زیات ظلم کوونکی | او زیات سرکشه

او د دے نه وړاندے د نوحؑ قوم (ئے هم تباه کړے دے) یقیناً هغوی ډیر ظالمان او ډیر سرکشه وو

وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰى ﴿٥٣﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿٥٤﴾ فَبِاَيِّ

او (هغه) الټه شوی کلی (هم) | هغه را وغورځول | بیا پټ کړل هغه (کلولره) | هغه څه | چه پټ ئے کړل | پس په کومو

او (هغه) الټه شوی کلی هم را وغورځول وو بیا په دغه کلو را چاپیر شو هغه څیز چه را چاپیر شو نو (اے انسان) ته به

اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿٥٥﴾ هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿٥٦﴾

نعمتونو | درب خپل کښ به | ته شک کوے | دا | ایو یروونکے دے | د یروونکو | وړومبنو نه

د خپل رب په کوم کوم نعمت کښ شک کوے؟ دا (پیغمبر هم) د پخوانیو یروونکو (پیغمبرانو) پشان یو یروونکے دے

اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾

را نزدے شو | نزدے راتلونکے (آفت) | نشته | هغے لره | سوا د الله نه | څوک بندوبست (لرے) کوونکے

کوم آفت چه نزدے راتلونکے دے هغه را نزدے شو د الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅ څوک د هغے لرے کوونکے (بندوبست کوونکے) نشته

أَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ۙ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ۙ﴿٦٠﴾

آیا نو د دے | خبرے نه | تاسو تعجب کوئ | او تاسو خندا کوئ | او تاسو نه ژاړ

آیا نو تاسو د دے کلام په باره کښ تعجب کوئ او خاندئ او ژاړ نه

وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿٦١﴾ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿٦٢﴾ ع

او تاسو | غافله یئ | پس (نو) سجده اوکړئ | خاص الله ته | او عبادت اوکړئ |

او په غفلت کښ پراته یئ اوس (پس) الله ته سجده اوکړئ او (د هغه) عبادت اوکړئ.

آیاتها [٥٥]	سورة القمر مكّيّة	رکوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿١﴾ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً

(ډیر) نږدے شو | قیامت | او اوچاودله | سپوږمئ | او که چرے | اوویني دوی | (څه) نخښه

قیامت راتلونکے شو او سپوږمئ اوچاودله او (دا دے خلقو حال دا دے) که دوی څه نخښه د الله د قدرت یا معجزه د پیغمبر اوویني

يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾ وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا

(نو) مخ اړوی | او وائی | (دا) جادو دے | (همیشه) ختمیدونکے | او دوی دروغژن ګڼری | او روان دی

نو مخ اړوی او دا وائی چه دا خو همیشه نه راروان جادو دے او حق دروغژن ګڼری او خپلو خواهشاتو پسے

اَهْوَآءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ

په خپلو خواهشاتو پسے | او هر یو | کار | په خپل وخت کیدونکے دے | او یقیناً | راغلی دی دوی ته

روان دی او دهر یو کار وخت مقرر دے او یقیناً دے خلقو ته (د پخوا نو خلقو د) واقعاتو دومره خبرونه رارسیدلی دی چه پکښ

مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَا فِيْهِ مُزْدَجَرٌ ۙ﴿٤﴾ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ

د خبرونو نه | هغه | چه په هغے کښ | زورنه ده | (یا) حکمت دے | پوره رسیدونکے | پس فائده نه ورکوی

د ډیر (کافی) عبرت پروت دے (او) د حکمت نه ډک خبرے هم چه فصاحت او بلاغت کښ انتهاء ته رسیدلے دی، نیا هم یرووڼکی

النُّذُرُ ۙ﴿٥﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ اِلٰى شَيْءٍ

یرووڼکے | پس ته مخ واړوه | د دوی نه | په هغه ورځ | چه رابلل به اوکړی | یو رابلونکے | یو څیز

څیزونو دوی ته هیڅ فائده ورنه کړه نو (اے نبی) ته هم د دوی پرواه مه کوه په کومه ورځ به چه آواز کوونکی (اسرافیل) دوی لره

نُّكُرٍ ۙ﴿٦﴾ خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ كَاَنَّهُمْ

ناشنا ته | کوزے به وی | ستړګے د دوی | راوځی به | د قبرونو نه | لکه چه دوی

یو ناخوبنه څیز طرف ته (حساب کتاب طرف ته) راوتلی (په هغه ورځ به ځ) ستړګے خکته (ټیټے) نیولی وی (او) د قبرونو نه به حساسره اوځی

جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِيْنَ اِلَى الدَّاعِ ؕ يَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ

ملخان دی | خواره واره | منډے به وهونکی وی | بلونکی ته | وائی به | کافر

لکه خوارهٔ وارهٔ ملخان دیو را بلونکی طرف ته به په منډه روان وی کافران به وائی

هٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ

دا | ورځ ده | ډیره سخته | دروغژن ګنړلی وو | مخکښے د دوی نه | قوم | د نوح

چه دا خو ډیره سخته ورځ ده د دوی نه مخکښے د نوح علیه السلام قوم (حق) دروغژن ګنړلے وو

فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا وَقَالُوْا مَجْنُوْنٌ وَّازْدُجِرَ ۝٩ فَدَعَا

پس دروغژن اوګنړلو هغوی | بنده زمونږ | اووے وئیل | (دا) لیونے دے | او اوزوروے شو هغه | پس هغه راوبللو

نو هغوی زمونږ بنده دروغژن اوګنړلو اووے ویل چه دا (خو) لیونے دے او نوح اوزوروے شو نو هغه

رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ۝١٠ فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ

رب خپل | چه بیشکه زه یم | مغلوب (بے وسه) | نو بدله واخله (زما) | نو مونږ پرانستلے | دروازے | د آسمان

خپل رب نه دعاء اوغوښتله چه زه کمزورے شوے یم نو ته زما بدله واخله نو مونږ د آسمان دروازے د شرپ په

بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝١١ وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى الْمَآءُ

په اوبو | را بهیدونکو سره | او روانے کړے مونږ | د زمکے نه | چینے | پس یو ځای شوے | اوبه

اوبو سره راپرانستلے او د زمکے نه مو چینے راوبهیولے (او دغه شان) ټولے اوبه دهغه کار دپاره را یو ځائے شوے

عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ۝١٢ وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلْوَاحٍ

په (هغه) کار | چه یقیناً | مقرر کړے شوے وو | او مونږ سور کړو هغه (نوح) | په (کشتۍ) د تختو والا

چه دهغے فیصله شوے وه (یعنی هلاکت د دغه قوم) او مونږ نوح د تختو او د میخونو په یوه کشتۍ کښ سور کړو

وَّدُسُرٍ ۝١٣ تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا ۚ جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ۝١٤

او د میخونو والا کښ | روانه وه | زمونږ د ستر ګو وړاندے | دپاره د بدلے اخستلو | دهغه چا | چه ناشکرے کړے شوے وه دهغه

چه زمونږ د ستر ګو وړاندے روانه وه (د دے دپاره) چه دهغه چا بدله واخستلے شی چه دهغه ناقدرے شوے وه

وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ۝١٥ فَكَيْفَ كَانَ

او یقیناً | مونږ پریخودله (دغه قصه) | یوه نخښه | نو آیا شته | څوک نصیحت اخستونکے | پس څنګه | وو

او یقیناً مونږ دغه (واقعه) (د عبرت) یوه نخښه جوړه کړه نو آیا څوک نصیحت اخستونکے شته نو اوس سوچ اوکړه

عَذَابِيْ وَنُذُرِ ۝١٦ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ

عذاب زما | او ویرول زما | او یقیناً | مونږ آسان کړے دے | قرآن | دپاره د نصیحت | نو آیا شته

زما عذاب او زما ویرول څنګه وو؟ او حقیقت دا دے چه قرآن مونږ د نصیحت دپاره آسان کړے دے نو آیا

مِنْ مُّدَّكِرٍ ۝١٧ كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ

څوک نصیحت اخستونکے | دروغژن ګنړلے وو | عادیانو (خپل پیغمبر) | پس څنګه | شو | عذاب زما

(اوس) څوک نصیحت اخستونکے شته عادیانو هم (پیغمبر) دروغژن ګنړلے وو نو (او ګوره چه) زما عذاب

وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ

اویَرول زما | بیشکه مونږ | رالیږله مونږ | په هغوی باندے | هوا | ډیره سخته | په ورځ

او یَرول څنګه وو؟ بیشکه مونږ په یوه دا سے سپیره ورځ کښ په هغوی باندے یوه

نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿٣١﴾ تَنزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ

دسپیرهٔ توب | همیشه کښ | چه راښکل ئے | خلق | لکه چه هغوی | تنے دی | د قجورو

تونده (تیزه) سیلۍ راولیږله چه دهغے ورځ سپیره نحوب همیشه ووچه خلق به ځدا سے اغور ځول لکه چه هغوی دراوتلو قجورو تنے وی

مُّنقَعِرٍ ﴿٣٢﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

د بیخ نه وتلے | پس څنګه | وو | عذاب زما | اویَرول زما | او یقیناً | مونږ آسان کړے دے

اوس (پس) سوچ اوکړه چه زما عذاب اویَرول څنګه وو؟ او یقیناً مونږ قرآن د نصیحت دپاره

هغه (لیکدی) په یو کتاب کښ | مخکښے د دے نه | چه مونږ پیدا کړو هغه | بیشکه | دا (کار) | په الله باندے

مخکښے د دے نه چه هغه مونږ پیدا کړو په یو کتاب کښ لیکلی شوے دے یقین او کړئ چه دا خبره الله ته

يَسِيْرٌ ۝ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا

ډیر آسان دے | دے د پاره چه تاسو خفه نشئ | په هغه څه | چه لاړل ستاسو نه | او (چه) خوشحاله نشئ

ډیره آسانه ده (دا دے د پاره تاسو ته وایو) چه تاسو نه کوم څیز لاړو (فوت شو) په هغے غم اونه کړئ او څه چه

بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ۙ

په هغه څه | چه درکړی دی الله تاسو ته | او الله | نه خوښوی | هر خان لوے ګڼونکے | فخر کوونکے

الله درکړی دی په هغے باندے غاوړه (مست) نشئ او الله تعالیٰ هیڅ یو غاوړه (تکبر کوونکی) (او) فخر کوونکی نه خوښوی

الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ

هغه کسان | چه بخل کوی | او حکم کوی | خلقو ته | د بخل | او څوک چه | مخ واړوی

(دادا سے خلق دی) چه پخپله هم بخل کوی او نورو خلقو ته هم د بخل سبق ورکوی او چا چه مخ واړولو (نو یاد ساتئ)

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝ لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا

نو بیشکه | الله | هم هغه دے | بے نیازه | ستائلے شوے | یقیناً | مونږ رالیږلی دی | پیغمبران خپل

(چه) الله تعالیٰ هم دهر چا نه بے نیاز (بے پروا) دے (او) د صفتونو لائق دے حقیقت دادے چه مونږ خپل پیغمبران

بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ

په ښکاره دلیلونو سره | او مونږ رالیږلے دے | د هغوی سره | کتاب | او تله | چه اودریږی

د ښکاره (واضح) ښځنو سره رالیږلی دی او د هغوی سره مو کتاب او تله هم نازله کړه چه خلق

النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ

خلق | په انصاف | اوپیدا کړے ده مونږ | اوسپنه | چه په هغے کښ دے | جنګ | سخت

په انصاف باندے قائم پاتے شی او مونږ اوسپنه راولیږله (پیدا کړه) چه په هغے کښ جنګی طاقت هم دے

وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ

او فائدے | د خلقو دپاره | اودے دپاره چه ښکاره کړی | الله | هغه څوک | چه مدد کوی د هغه | او د رسولانو د هغه

او د خلقو دپاره نورے فائدے هم دی، او دا دے دپاره چه الله تعالیٰ هغه خلق ښکاره کړی چه بغیر د لیدلو د هغه (د دین)

بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا ع

بے د لیدلو نه | بیشکه | الله دے | ډیر طاقتور | ډیر زورور | او یقیناً | مونږ لیږلی وو | نوح

او د هغه د پیغمبرانو مدد کوی یقین او کړئ چه الله تعالیٰ ډیر طاقتور ډیر زورور (غالب) دے او یقیناً مونږ نوح

وَّاِبْرٰهِيْمَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ

او ابراهیم | او مونږ جاری کړے وه | په اولاد د دوی کښ | پیغمبری | او کتاب

او ابراهیم (پیغمبران) راولیږل او د هغوی اولاد کښ مو د پیغمبرئ او د کتاب سلسله جاری کړه

فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝ ثُمَّ قَفَّيْنَا

پس بعضے د هغوی نه | سمه لار موندونکی وو | او ډیر | د هغوی نه | نافرمان وو | بیا | مونږ پرله پسے راولیږل

(نو) بیا بعضے په هغوی کښ په هدایت راغلل او ډیر پکښ نافرمانه شول بیا مونږ په هغوی پسے هم

عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

روستو په هغوی پسے | (نور) پیغمبران خپل | اوورپسے راولیږلو مونږ | عیسیٰ | څوئ | د مریم

د هغوی په نقش قدم (پرله پسے) نور ډیر پیغمبران روالیږل او په هغوی پسے مو عیسیٰ بن مریم راولیږلو

وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ

اوورکړو مونږ هغه ته | انجیل | او مونږ واچوله | په زړونو | د هغه کسانو کښ

او هغه له مو انجیل ورکړو او څوک چه د هغه په لار روان شول نو د هغوی په زړونو کښ مو نرمی

اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَرَهْبَانِيَّةَ ِۨابْتَدَعُوْهَا

چه روان وو په هغه لسې | نرمي | او مهربانی | او رهبانیت | دځان نه جوړه کړه هغوی داطریقه

او مهربانی (رحمدلی) پیدا کړه او رهبانیت خو هغوی پخپله ایجاد (جوړ) کړے وو

مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ

نه وو فرض کړے مونږ دا (رهبانیت) | په هغوی باندے | مګر | تلاش کول | د رضاء | د الله

مونږ پرے نه وو فرض کړے مګر هغوی د الله د رضاء د حاصلولو دپاره (پخپله ایجاد کړو) خو بیا ئے

فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

پس هغوی (لحاظ) اونه ساتلو هغے | پوره | لحاظ ساتل د هغے | پس ورکړو مونږ | هغه کسانو ته | چه ایمان ئے راوړو

د هغے داسے خیال اونه ساتلے شو ځنګه چه د هغے حق وو الغرض (بیا چه) چا چه په هغوی کښ ایمان راوړے وو

مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

د هغوی نه | اجر د هغوی | او ډیر | د هغوی نه | نافرمان وو | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

هغوی ته مونږ د هغوی (خپل) اجر ورکړو او ډیر په هغوی کښ نافرمانه پاتے شول اے مؤمنانو

اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ

اوپریږئ | د الله نه | او ایمان راوړئ | په پیغمبر د هغه | د به کړی هغه تاسو ته | دوه برخے | د رحمت خپل نه

د الله نه اوپریږئ او د هغه په رسول ایمان راوړئ هغه (الله) به تاسو ته د خپل رحمت دوه حصے درکړی

وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ

او جوړه به کړی | تاسو دپاره | رڼا | چه تاسو به ګرځئ | په هغے سره | او بخښنه به او کړی | تاسو ته | او الله دے

او هغه رڼا به درله پیدا (جوړه) کړی چه په هغے کښ به تاسو ګرځئ او بخښنه به درته او کړی ځکه هغه

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ

ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | دے دپاره | چه پوهه شی | اهل کتاب | چه دوی قدرت نه لری

بخښنه کوونکے او مهربان ذات دے (دا دے دپاره) چه اهل کتابو ته پته اولګی چه د الله په فضل کښ هغوی

عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ

په هیڅ یو شیز | د فضل | د الله نه | او (دا) چه بیشکه | فضل | په لاس | د الله کښ دے

د هیڅ شیز اختیار نه لری او دا چه فضل (خو ټول) صرف د الله په لاس کښ دے هغه ئے چه

يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝ ع

هغه ورکوی دا (فضل) | چا ته | چه (ئے) اوغواړی | او الله | خاوند د فضل دے | ډیر لوے |

چا له اوغواړی ورکوی ئے او الله تعالیٰ د ډیر لوے فضل مالک دے

آیاتها [٢٢]	سورة المجادلة مدنيّة	رکوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا

يقيناً | واوريدله | الله | خبره | دهغه (زنانه) | چه جګړه ئے کوله تاسره | په بارہ دخپل خاوند کښې
اے نبیؐ! الله تعالیٰ د هغه زنانه خبره واوريدله چه د خپل خاوند په بارہ کښې ئے تاسره بحث کولو

وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ

اوشکایت ئے کولو | الله ته | او الله | اوريدلے | خبرے اترے ستاسو دواړو | بيشکه | الله دے
او الله تعالیٰ ته ئے فرياد کولو او الله تعالیٰ ستاسو د دواړو خبرے اترے اوريدلے يقيناً الله تعالیٰ

سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۝ اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ

ښه اوريدونکے | ښه ليدونکے | هغه کسان | چه ظهار کوی | ستاسو نه | د خپلو ښځو سره
دَهر څه اوريدونکے هر څه ليدونکے دے په تاسو کښې چه کوم خلق د خپلو ښځو سره ظهار کوی

مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ۭ اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا اڀ وَلَدْنَهُمْ ۭ

(نو) نه دی دوی | مينډے دهغوی | نه دی مينډے دهغوی | مګر | هغه (زنانه) | چه زيږولی ئے دی دوی لره
(نو په ظهار سره) هغوی (ښځے) د دوی مينډے کيږی نه، د دوی مينډے خو صرف هغه دی چه دوی ئے زيږولی دی

وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ

اوبيشکه دوی | خامخا وائی | بده | خبره | او دروغ (خبره) | اوبيشکه | الله دے
او حقيقت دا دے چه دا خلق (شرعاً او عقلاً) ډيره نامناسبه او د حقيقت نه خلاف خبره کوی او الله تعالیٰ

لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ۝ وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ ثُمَّ

خامخا ډير معافی کوونکے | ډير بخښونکے | او هغه کسان | چه ظهار کوی | د خپلو ښځو سره | بيا
ډير معافی کوونکے ډير بخښونکے دے او کوم خلق چه خپلو ښځو سره ظهار کوی او بيا

يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ

واپس کيږی | (ما تولود) هغه خبرے ته | چه دوی ويلی وه | نو آزادول | د يو غلام دی | مخکښے د دے نه
د خپلے خبرے نه رجوع کول غواړی نو په هغوی باندے يو بل ته دلاس ورورلو نه مخکښے مخکښے يو غلام آزادول لازم دی

اَنْ يَّتَمَاۗسَّا ۭ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

چلاس ورورې دی دواړو يو بل ته | دا هغه خبره ده | چه نصيحت کولے شی تاسو ته | په دے سره | او الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ
(اے مسلمانانو) تاسو ته د دے خبرے نصيحت کيږی او تاسو چه څه کوئ الله تعالیٰ د هغے نه پوره

خَبِيْرٌ ۝ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

پوره خبردار دے | پس څوک | چه نهٔ مومی (طاقت) | نو روژے نیول دی | دوه میاشتے | پرله پسے

خبردار دے بیا چه څوک غلام نهٔ مومی نو یو بل ته دلاس ورورلو نه مخکښے مخکښے په هغه باندے دوه میاشتے پرله پسے

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ

مخکښے دده نه چه لاس ورورې حواړه یو بل ته | پس څوک | چه وس نه لري (دروژے) | نو خوراک ورکول دی | شپیته

روژے نیول (لازم) دی بیا چه څوک ددے (روژو) هم طاقت نه لري نو په هغه باندے شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکول

مِسْكِيْنًا ۭ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۭ وَتِلْكَ حُدُوْدُ

مسکینانو ته | دا | دے دپاره چه ایمان راوړئ تاسو | په الله | او په رسول دهغهٔ | او دغه دی | حدونه (پولے)

(لازم) دی دا حکم څکه (اوشو) چه تاسو په الله او دهغه په رسول ایمان راوړئ او دغه د الله تعالیٰ پولے (حدونه) دی

اللّٰهِ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ

د الله | او د کافرانو دپاره دے | عذاب | دردناک | بیشکه | هغه کسان | چه خلاف کوی | د الله

او د کافرانو دپاره دردناک عذاب دے یقین او کړئ چه کوم خلق د الله او د هغه د رسول مخالفت کوی

وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او د رسول دهغهٔ نه | ذلیله کړے شوی دی | لکه څنګه چه | ذلیله کړے شوی وو | هغه کسان | چه مخکښے ددوی نه وو

هغوی به هم دا سے ذلیله شی لکه څنګه چه د هغوی نه مخکښے (پخوانی) خلق ذلیله شوی وو

وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝

او یقیناً | مونږ د الیږلی دی | آیتونه | واضحه | او د کافرانو دپاره دے | عذاب | سپکوونکے

او مونږ (خو) واضحه آیتونه د الیږلی دی او د کافرانو دپاره رسوا کوونکے عذاب دے

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۭ

په هغه ورځ | چه راپاڅوی دوی لره | الله | ټول | نو خبر به ورکړی دوی ته | په هغه څه | چه دوی کړی دی

په هغه ورځ چه الله تعالیٰ به دا ټول بیا راژوندی کړی نو څه چه دوی کړی دی هغه ټول به ورته الله ښکاره کړی

ع اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝

راګیر کړی دی هغه | الله | او هیر کړی دی دوی هغه | او الله دے | په هر یو څیز باندے | ګواه (حاضر)

دغه ټول (کارونه) الله تعالیٰ شمار (سنبال) ساتلی دی او دوی هیر کړی دی او الله تعالیٰ په هر څیز ګواه او عالم دے

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ

آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله | پوهیږی | په هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی | او په هغه څه | چه زمکه کښ دی

آیا تا غور نه دے کړے چه په آسمانونو او زمکه کښ چه څه دی هغه ټول الله تعالیٰ ته معلوم دی

مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ

نه کیږی | یوه جرګه (پټه مشوره) | د دریو کسانو | مګر | هغه | څلورم د دوی وی | او نه د پنځو کسانو

ګله هم په دریو کسانو کښ هیڅ پټه جرګه نه کیږی مګر څلورم پکښ الله په اعتبار د خپل علم سره موجود وی او نه په پنځو

اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ

مګر | هغه | شپږم د دوی وی | او نهٔ کم | د دے نه | او نهٔ زیات | مګر | هغه

کسانو کښ پته جرګه کیږی مګر شپږم مرور سره الله موجود وی او نهٔ د دے نه د کمو کسانو او نهٔ د زیاتو پته جرګه (دا سے کیږی)

مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا

د دوی سره وی | چرته هم | چه وی دوی | بیا به | هغه (الله) خبر ور کړی دوی ته | په هغه څه | چه دوی کړی دی

مګر الله د دوی سره وی چرته هم چه دوی وی بیا به الله د قیامت په ورځ دوی ته او ښائی

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ اَلَمْ تَرَ

په ورځ | د قیامت | بیشکه | الله دے | په هر ڕیو | څیز باندے | ښه پوهه | آیا ته نهٔ ګورے

چه دوی څه څه کړی و و یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز باندے پوره علم لری آیا ته نهٔ ګورے

اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا

هغه کسانو ته | چه منع کړے شوی دی | د پټو مشورو (جرګو) نه | بیا | دوی واپس کیږی | هغه څه ته

چه هغوی د پټو جرګو نه منع کړی شوی وو بیا هم هغه څه کوی چه د څهٔ نه

نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

چه منع کړے شوی دی | د هغے نه | او پټے مشورے کوی | د ګناه | او د زیاتی | او د نافرمانئ

منع کړی شوی وو؟ او د یو بل سره د ګناه او د ظلم او د پیغمبر د نافرمانئ جرګے کوی

الرَّسُوْلِ ۡ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ

د پیغمبر | او کله چه | راشی دوی تا ته | نو سلام کوی تا ته | په هغه (الفاظو) | چه سلام نه دے کړے تا ته | په هغے سره

او (اے نبی) کله چه دوی ستا خوا له راشی نو تا ته په دا سے طریقه سلام کوی چه په هغه طریقه الله تا ته سلام نه دے کړے

اللّٰهُ ۙ وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا

الله | او وائی دوی | په خپلو زړونو کښ | و لے عذاب نه را کوی مونږ ته | الله | په هغه (خبرو)

او په خپلو زړونو کښ وائی چه الله تعالیٰ مونږ له ځمونږ په وینا کانو (خبرو) عذاب و لے نه را کوی؟

نَقُوْلُ ۭ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝

چه مونږ ته وائیو | کافی دے د دوی د پاره | دوزخ | ورننوځی به دوی هغے ته | پس ډیر بد | ځائے دے (هغه)

د دوی د پاره هم دوزخ کافی دے دوی به هم هغے ته داخلیږی او هغه ډیر خراب (بد) ځائے دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْاِثْمِ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | جرګه کوئ تاسو | نو جرګه مه کوئ | د ګناه

اے مؤمنانو! کله چه تاسو په خپل مینځ کښ (یو بل سره) پټے جرګے کوئ نو د ګناه

وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۭ

او د زیاتی | او د نافرمانئ | د پیغمبر | او (بلکه) جرګه کوئ | د نیکئ | او د تقویٰ

او د ظلم او د پیغمبر د نافرمانئ جرګے مه کوئ بلکه د مخلوق خدا سره د نیکئ جرګے کوئ

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْٓ اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝ اِنَّمَا النَّجْوٰی

او یَرِیږئ | د اللّٰه نه | هغه (اللّٰه) | چه دهغه طرف ته به | تاسو راجمع کول شئ | بیشکه | (دا سے) پټے جړ کے

او د هغه اللّٰه نه یَرِیږئ چه هغهٗ ته به تاسو ټول ورجمع کیږئ یقیناً دا سے جړ کے

مِنَ الشَّیْطٰنِ لِیَحْزُنَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَلَیْسَ

د شیطان (دوسے سره چې نه وی) | د ے د پاره چه هغه غمژن کړی | هغه کسان | چه ایمان ځړاوړے دے | او نه دے هغه

خو دَ شیطان حرکت دے چه هغه (په دے سره) مومنان غمژن کړی حالانکه هغه

بِضَآرِّهِمْ شَیْئًا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَی اللّٰهِ فَلْیَتَوَكَّلِ

نقصان رسوونکے هغوی ته | هیڅ هم | مګر | په حکم | د اللّٰه | او خاص په اللّٰه دے | ځانونه سپارې

د اللّٰه تعالیٰ د حکم نه بغیر مومنانو ته هیڅ نقصان نشی رسولے او مومنان له پکار دی چه بس

الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِیْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا

مؤمنان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | اوویلی شی | تاسو ته | (چه) فراخی اوکړئ

په اللّٰه توکل اوکړی اے مومنانو! کله چه درته اوویلی شی چه په مجلس کښ یوبل ته ځائے پریږدئ

فِی الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا یَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِیْلَ

په مجلسونو کښ | نو فراخی اوکړئ | فراخی به راولی | اللّٰه | تاسو دپاره | او کله چه | اوویلی شی

نو تاسو ځائے پریږدئ اللّٰه تعالیٰ به درله وسعت پیدا کړی او کله چه (درته) اوویلی شی

انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا یَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ

چه پاڅئ (دخپل ځای نه) | نو پاڅئ | اوچتوی | اللّٰه | هغه کسانو لره | چه ایمان ځړاوړے دے | ستاسو نه

چه ځئ (پاڅئ) نو بیا ځئ (پاڅئ) په تاسو کښ چه چا ایمان راوړے دے

وَالَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

اوهغه کسانو لره | چه ورکړے شوی دے هغوی ته | عِلم | په ډیرو درجو سره | او اللّٰه | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ

اوچاته چه علم ورکړے شوے دے اللّٰه تعالیٰ هغوی په ډیرو درجو سره پورته کړی دی اللّٰه تعالیٰ ستاسو د عملونو (کارونو) نه

خَبِیْرٌ ۝ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَیْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا

ښه خبردار دے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | جرګه کوئ تاسو | د پیغمبر سره | نو وړاندے ورکړئ

پوره خبردار دے اے مؤمنانو! کله چه تاسو د پیغمبر سره څه پټه جرګه (مشوره) کوئ نو د خپلو

بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَیْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ

مخکښے | د جرګے خپلے نه | څه خیرات | دا | ډیره غوره ده | ستاسو دپاره | او ډیره پاکوونکے ده

پټو جرګو (مشورو) نه مخکښے څه صدقه ورکوئ دا ستاسو دپاره ډیره غوره او ډیره پاکیزه طریقه ده

فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ۝ ءَاَشْفَقْتُمْ

بیا که چرے او نه مومئ تاسو (د دے طاقت) | نو بیشکه | اللّٰه دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | آیا تاسو یَرِیږئ

او که (بیا) تاسو څه نه مومئ نو یقیناً اللّٰه تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے آیا تاسو د دے خبرے نه یَرِیږئ

أَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ

دے نه | چه وړاندے ورکړئ | مخکښے | د جرګو خپلو نه | خیرات ونه | پس (نو) که چه

چه د خپلو پټو جرګو (مشورو) نه مخکښے څه صدقې ورکړئ ؟ بیا چه تاسو

لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

اونه کړو تاسو (داکار) | اومعافی اوکړه | الله | تاسوته | لوقائم کړئ | مونځ | او ورکړئ

داکار اونه کړے شو او الله تعالیٰ درته معافی اوکړه نو د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ

الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ؕ ع

زکات | اوخبره اومنئ | دالله | اودرسول دهغهٔ | اوالله دے | ښهٔ خبردار | په هغه څه | چه تاسو کوئ

او دالله او د هغه د پیغمبر خبره (حکم) منئ او تاسو چه څه کار کوئ الله تعالیٰ د هغے نه پوره خبردار دے

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ

آیا تهٔ نهٔ کورے | هغه کسانو ته | چه دوستی کوی | د (هغه) قوم سره | چه غضب کړے دے | الله | په هغوی باندے

آیا تا هغه کسان نه دی لیدلی چه دا سے قوم (خلق) سره دوستی کوئ چه په هغوی باندے الله غضب کړے دے

مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ

نه دی دوی | ستاسو نه | اونه د هغوی نه | اوقسمونه خوری دوی | په دروغو باندے | اودوی

دوی خو نه ستاسو ملګری دی او نه د هغوی او سره د پوهے په دروغه قسمونه خوری

يَعْلَمُوْنَ ۝ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ اِنَّهُمْ

پوهیږی | تیار کړے دے | الله | د دوی د پاره | عذاب | ډیر سخت | بیشکه دوی

الله تعالیٰ د دوی د پاره ډیر سخت عذاب تیار کړے دے یقیناً

سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

ډیر بد دی | هغه څه | چه دوی ئے | کوی | جوړ کړی دی دوی | قسمونه خپل | ډال

دوی چه څه کوی ډیر بد (غلط) دی دوی خپل قسمونه څان د پاره ډال (جوړ) کړے دے

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝

پس منع کوی خلق | د لارے | د الله نه | پس د دوی د پاره | عذاب دے | سپکوونکے

او خلق د الله د لارے نه منع کوی څکه خو دوی د پاره سپکوونکے عذاب دے

لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ

هیڅ کله به لرے نه کړی | د دوی نه | مالونه | او نهٔ اولاد د دوی | د الله (د عذاب) نه | څه شے

د دوی مال او اولاد به د الله په مقابله کښ د دوی هیڅ پکار رانشی

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ يَوْمَ

دغه خلق | اور والا دی | دوی به | په دے (اور) کښ | همیشه وی | په کومه ورځ به چه

دا خلق دوزخیان دی دوی به په هغے کښ همیشه اوسیږی په کومه ورځ به چه الله دوی ټول

يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ

راپاڅوی دوی لره | الله | ټول | نو قسمونه به خوری | هغه ته | لکه څنګه چه | قسمونه خوری دوی | تاسو ته

راپاڅوی نو د الله په مخکښے به هم دا ے قسمونه خوری لکه څنګه چه ستاسو په مخکښے قسمونه خوری

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ

او ګمان کوی دوی | چه بیشکه دوی دی | په څه شے (فائده مند) باندے | خبردار (واوری) | بیشکه | هم دوی دی

او دا خیال به کوی چه دوی په څه بنیاد (لګیا) دی ۔ خبر شئ چه یقیناً دوی دروغژن دی ۔

الْكٰذِبُوْنَ ۝ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ

دروغژن | غالب شوے دے | په دوی باندے | شیطان | نو هیر کړے ئے دے دوی نه | یاد

شیطان په دوی باندے قابو موندلے دے (مسلط شوے دے) نو دوی نه ئے د الله یاد هیر کړے دے

اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ

د الله | دغه خلق | ډله | د شیطان ده | خبردار | بیشکه | ډله | د شیطان

هم دا د شیطان ډله ده یاد ساتئ هم د شیطان ډله تاوانی ده

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ

هم هغوی دی | تاوانیان | بیشکه | هغه کسان | چه مخالفت کوی | د الله | او د رسول د هغهٔ | هم دغه خلق دی

یقیناً کوم خلق چه د الله او د هغه د رسول مخالفت کوی هم دوی

فِي الْاَذَلِّيْنَ ۝ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په ډیر ذلیله خلقو کښ | لیکلی دی | الله | (چه) خامخا غالب کیږم به | زهٔ | او پیغمبران زما | بیشکه | الله دے

په ذلیله خلقو کښ شامل دی الله تعالیٰ دا خبره لیکلے ده چه زه او زما پیغمبران به ضرور غالب کیږو یقیناً

قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

ډیر طاقتور | ډیر زور ور | ته به اونهٔ مومے | (داسے) یو قوم | چه ایمان راوړی | په الله | او په ورځ | روستنئ

الله تعالیٰ ډیر طاقتور ډیر غالب دے څوک چه په الله او د آخرت په ورځ ایمان لری ته به هیڅ کله دوی

يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا

چه (هغوی) به دوستی کوی | د هغه چا سره | چه مخالفت کوی | د الله | او د رسول د هغهٔ | اګرچه | وی دوی

د هغه چا سره په دوستانه کولو اونهٔ کورے څوک چه د الله او د هغه د رسول مخالفت کوی اګر کهٔ دوی د هغوی

اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ

پلاران د هغوی | یا خامن د هغوی | یا ورونړه د هغوی | یا قبیله (خپلوان) د هغوی | د هغه خلق دی

پلاران یا خامن یا ورونړه یا خاندان والا وی هم دا هغه خلق دی

كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ

چه لیکلے دے الله | په زړونو د دوی کښ | ایمان | او مضبوط کړے ئے دی | په روح سره | د خپل طرف نه

چه الله تعالیٰ د دوی په زړونو کښ د ایمان نور لیکلے دے او په خپل روح سره ئے دوی مضبوط کړی دی

وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

او داخل به کړي دوی لره | (دا سے) جنتونو ته | چه بهیږي (به) | لاندے دهغے نه | نهرونه | هیشه به وي دوی

او الله به دوی دا سے جنتونو ته داخل کړي چه د هغے د لاندے (به) نهرونه بهیږي هلته به دوی

فِيْهَا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ

په هغے کښ | راضي دے | الله | دَدوی نه | راضي دي دوی | دهغه (الله) نه | دغه ده | ډله

هیشه اوسیږي الله دَ دوی نه راضي دے او دوی د الله نه راضي شوي دي دا د الله

اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۲۲ ع

د الله | خبردار | بیشکه | ډله | د الله | هم دوی دي | کامیاب

ډله ده یاد ساتئ (خبردار) چه هم د الله ډله کامیاب ده۔

آیاتها [۲۴]	سورة الحشر مدنيّة	رکوعاتها [۳]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

پاکی بیانوی | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دي | او هغه څه | چه په زمکه کښ دي | او هغه دے

په آسمانونو او زمکه کښ چه څه دي هغه ټول د الله تعالیٰ پاکی وائی او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۱ هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

ډیر زورور | ډیر حکمت والا | هم الله هغه (ذات) دے | چه راویوستل | هغه کسان | چه کفر ئے کړیدے

ډیر غالب ډیر حکمت والا دے (اے مسلمانانو) هم الله هغه (ذات) دے چه کافر اهل کتاب ئے

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ؕ مَا ظَنَنْتُمْ

د اهل کتابو نه | د (خپلو) کورونو نه | په اول ځل | راغونډولو سره | گمان نه وو کړے تاسو

په وړومبی ځل (راغونډولو سره) د خپلو کورونو نه راویستل ستاسو خو دا خیال هم نه وو

اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ

چه راوبه وځی دوی | او گمان کړے وو دوی | (چه) بیشکه دوی | بچ کوونکی دي دوی لره | قلاکانے دَ دوی

چه دوی به راوځی او دوی پخپله هم دا خیال کولو چه دَ دوی قلاکانے به دوی د الله د عذاب نه بچ کړی

مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۫

د الله نه | نو راغے دوی ته | الله | د داسے ځائے نه | چه دوی (ئے) گمان (هم) نه وو کړے

بیا د الله (عذاب) ورباندے د داسے ځائے (طرف) نه راغے چه دَ دوی په گمان کښ هم نه وو

وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ

اواوغورځولوهغه(الله) | په زړونو ډډوی کښې | رعب | ورانول دوی | کورونه خپل | په لاسونو خپلو

او الله ډډوی په زړونو کښې (دا سے) رعب واچولو چه خپل کورونه ئے پخپله په خپل لاسونو

وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۗ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ۝ وَلَوْلَآ اَنْ

اوپه لاسونو | د مومنانو | پس عبرت واخلئ | اے عقل والو! | اوکه چرے نه وے (داخبره)

اود مسلمانانو په لاسونو ورانول نو اے دستر گو خاوندانو (عقل مندو) عبرت واخلئ اوکه چرے

كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۭ

چه لیکلی دی | الله | په دوی باندے | شرل دخپل وطن نه | نوخامخابه ئے سزاورکړے وه دوی ته | په دنیا کښې

الله تعالی ډډوی په حقله د جلا وطنئ (فیصله) نه وے لیکلے نو دوی ته به ئے هم په دنیا کښې عذاب ورکړے وو

وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَاۗقُّوا

ډډوی دپاره | په آخرت کښې | عذاب | داور دے | داځکه چه | بیشکه دوی امخالفت کړے وو

او په آخرت کښې دوی دپاره داور عذاب (تیار) دے داځکه چه دوی د الله او د هغه د رسول

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَاۗقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

د الله | او د رسول د هغهٔ نه | او څوک | چه مخالفت کوی | د الله نه | نو بیشکه | الله دے | سخت

مخالفت (دشمنی) کړے ده او څوک (هم) چه د الله تعالی مخالفت کوی نو الله تعالی ډیر سخت عذاب

الْعِقَابِ ۝ مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَاۗىِٕمَةً

عذاب ورکوونکے | هغه | چه تاسو پرے کړی دی | څه ونے د کجورے | یا تاسو پریخودلی دی هغه | ولاړے

ورکوونکے دے (اے مسلمانانو!) تاسو چه کومے د کجورو ونے پریکړے یا مو په خپلو جړو باندے

عَلٰٓى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ۝ وَمَآ

په خپلو ویخونو باندے | نو (داوو) په حکم | د الله | او (دے دپاره) چه هغه رسوا کړی | نافرمان خلق | او هغه څه

ولاړے پریخودلے نو د الله په حکم سره وو او (مقصد پکښې داوو) چه د الله تعالی نافرمانه خلق رسوا کړی

اَفَاۗءَ اللّٰهُ عَلٰي رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ

چه ورکړی وی | الله | خپل رسول ته | ډډوی نه | نو نهٔ دی زغلولی تاسو | په هغے باندے

کومه مال چه الله تعالی ددے بنو نضیر نه خپل رسول ته د جنګ نه بغیر (د مال فئ په طور) ورکړے دے (نو هغه دا سے مال دے)

مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰي مَنْ

هیڅ اسونه | او نه اوښان | لیکن | الله | زور ورکوی | پیغمبران خپل | په چا (ئے) چه

(چه) دهغے دپاره نه تاسو اسونه زغلولی دی او نه اوښان لیکن الله چه په چا اوغواړی (نو) خپل پیغمبران پرے

يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ مَآ اَفَاۗءَ اللّٰهُ

اوغواړی | او الله | په هر څیز | (پوره) قدرت لری | هغه څه | چه واپس کړی دی | الله

مسلط (غالب) کوی او الله تعالی په هر یو څیز پوره قدرت لری کومه مال چه الله تعالی خپل پیغمبر ته

عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ

په رسول باندے | د کلو والو نه | نو(هغه دی) د الله | او د پیغمبر

د (نورو) کلو والو نه بغیر د جنګ نه (د مال فئ په طور) ور کړے دے نو هغه د الله (حق) دے او د پیغمبر

وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَيْ

او د خپلوانو | او د یتیمانو | او د مسکینانو | او د مسافرو دپاره | دے دپاره

او د خپلوانو او د یتیمانو او د مسکینانو او د مسافرو (حق) دے (دا حکم دے دپاره اوشو) چه

لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ

چه نه وی هغه (مال فئ) | گردش کوونکے | په مینځ | د مالدارو کښ | ستاسونه | اوځه چه | درکړی دی تاسوته

دغه مال په تاسو کښ صرف د مالدارو په لاسونو کښ وانه وړی (په مالدارو کښ تقسیم نه کړے شی)

الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۗ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا

پیغمبر | نو اونیسئ هغه | اوځه چه | منع کړی دے هغه تاسو | د هغے نه | نو منع شئ | او ویریږئ

او پیغمبر چه تاسو له څه درکوی (نو) هغه اخلئ او د څه نه چه منع کوی نو د هغے نه منع شئ

اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۘ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ

د الله نه | بیشکه | الله | دیر سخت | عذاب والا دے | (دا مالونه دی) دپاره د فقیرانو | مهاجرینو

او د الله نه ویریږئ یقیناً الله دیر سخت عذاب والا دے (دغه مال فئ خو) د هغه محتاجو مهاجرینو

الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا

هغه کسان | چه ویستلی شوی دی | د کورونو خپلونه | او د مالونو خپلونه | چه لټوی هغوی | فضل

خلقو (حق) دے چه هغوی د خپلو کورونو او د مالونو نه راویستل شوی دی

مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ

د الله | اورضا (د هغه) | او مدد کوی | د الله (د دین) | او د پیغمبر د هغهٔ | هم دغه خلق

د الله رضا غواړی او د الله او د هغه د رسول مدد کوی هم دا خلق

هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۚ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ

دوی دی | رشتنی | د هغه کسانو (دپاره د دی) | چه هغوی آباد شوی دی | په خپلو کورونو کښ | او (راوړے دے) ایمان

رشتنی دی (او د غه مال فئ) د هغه انصارو (حق) دے چه د دوی (مهاجرینو) (د راتلو) نه مخکښے په دار هجرت کښ دیره دی

مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ

مخکښے (د راتلو) د دوی نه | دوی مینه کوی | د هغه چا سره | چه هجرت ے کړیدے | دوی ته | او نه مومی دوی

(او) ایمان ے راوړے دے څوک چه د دوی خوا ته (مدینے ته) هجرت او کړی دوی د هغوی سره مینه کوی

فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ

په خپلو سینو کښ | څه تنګی (خفګان) | د هغه څه نه | چه ورکړے شوی دی هغوی (مهاجرینو) ته | او دوی غوره کوی

او مهاجرینو ته چه څه ملاویږی دوی د هغے په باره کښ خپلو زړونو کښ څه تنګی (خواهش) نه سائی

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۭ وَمَنْ يُّوْقَ

په خپلو ځانونو باندے | اګرچه | وی | په دوی باندے | لوږه (محتاجی) | اوځوک چه | بچ اوساتل شو

اومهاجرینو له په خپل ځان ترجیح ورکوی اګرچه پخپله دوی (محتاج) وی اوځوک چه دخپل نفس (طبیعت)

شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ جَاۗءُوْ

دحرص | دنفس خپل نه | نوهم دغه خلق | دوی دی | کامیاب | اودهغه کسانو دپاره دی | چه راغلی دی

دبخل نه اوساتلی شو نو هم داسے خلق کامیاب دی او (دا مال فئ) د هغه چا (دپاره) هم دے چه د دوی

مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ

وروستو دَدوی نه | وائی | اے زمونږ ربه | بخښنه اوکړه | مونږته | اوزمونږ وروڼو ته | هغه کسان

(انصارو او مهاجرینو) نه پس راغلل هغوی دادعاء کوی چه اے زمونږ ربه! مونږته اوزمونږ هغه وروڼو اوبخښه

سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ

چه مخکښے شوی دی زمونږ نه | په ایمان کښ | اومه پیدا کوه | په زړونو زمونږ کښ | کینه | دهغه کسانو سره

چه زمونږ نه ځ مخکښے ایمان راوړے دے اوزمونږ په زړونو کښ دمومنانو دپاره هیڅ بغض (کینه) مه پیدا کوه

اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝ اَلَمْ تَرَ ع

چه ایمان ځ راوړے دے | اے زمونږ ربه | بیشکه ته ځ | ډیر شفقت کوونکے | ډیر رحم کوونکے | آیا ته نه ګورے

اے زمونږ ربه یقیناً ته ډیر شفقت کوونکے ډیر مهربان ځ (اے نبی!) آیا تا هغه خلق نه دی لیدلی

اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغه کسانو ته | چه منافقت ځ کړیدے | (چه) وائی | خپلو وروڼو ته | هغه کسان | چه کفر ځ کړے دے

چه منافقت ځ اختیار کړے دے چه د اهل کتابو نه خپلو کافرانو وروڼو ته وائی

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَىِٕنْ اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ

د اهل کتابو نه | که چرے | اوویستلی شوئ تاسو | نو خامخا مونږ به اوځو | تاسو سره

چه که چرے تاسو (د مدینے نه) اوویستلی شوئ نو مونږ به هم تاسو سره اوځو

وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ

اومونږ به خبره نه منو | ستاسو په باره کښ | د هیڅ چا | هیڅکله | اوکه چرے | جنګ اوکړے شو تاسو سره

او ستاسو په باره کښ به هیڅ کله د چا خبره اونه منو او که تاسو سره جنګ اوکړے شو

لَنَنْصُرَنَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝ لَىِٕنْ

نو خامخا به مونږ مدد کوو ستاسو | او الله | گواهی کوی | چه بیشکه دوی | خامخا دروغژن دی | که چرے

نو مونږ به درسره ضرور مدد کوو او الله تعالیٰ گواهی ورکوی چه دا خلق دروغژن دی که چرے هغوی

اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَىِٕنْ قُوْتِلُوْا

اوویستل شو هغوی | نو نه اوځی دوی | د هغوی سره | اوکه چرے | جنګ اوکړے شو د هغوی سره

(اهل کتاب) اوویستلی شو نو دوی به د هغوی سره نه اوځی او که د هغوی سره جنګ اوکړے شو

لَا يُنْصَرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ

نو مدد نه کوی دوی دهغوی | او که چرے | دوی مدد او کړی دهغوی | نو خامخا به واړوی دوی | شاګانے | بیا به

نو دوی په ے مدد نه کوی او که چرے مدد ے او کړو نو په شاه به تخته بیا به د دوی مدد نه کیږی

لَا يُنْصَرُوْنَ ۝ لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ۭ

د دوی مدد نشی کیدے | خامخا تاسو | ډیر زیات | رعب والا یئ | په سینو دَ دوی کښ | د الله نه

اے مسلمانانو حقیقت دادے چه د دوی په زړونو کښ ستاسو ډیره (رعب) د الله ډیر ے نه زیات (پروت) دے

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ۝ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا

دا ځکه | چه دوی | (دا ے) قوم دے | چه نه پوهیږی | جنګ به نشی کولے دوی تاسو سره | ټول (په یو ځای)

دا ځکه چه دوی دا ے خلق دی چه پوهه نه لری دا ټول په یو ځاے هم تاسو سره جنګ نشی کولے

اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ۭ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ

مګر | (چه وی) په کلو | قلابندو کښ | یا | دروستو | د دیوالونو نه | جنګ دَ دوی | په خپل مینځ کښ

مګر په قلابندو (محفوظ) کلو کښ یا د دیوالونو شاته د دوی په خپل مینځ کښ مخالفت (جنګ)

شَدِيْدٌ ۭ تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ۭ ذٰلِكَ

ډیر سخت دے | ته به ګمان کوے په دوی | دیو (ځاے) والی | او (حال دا چه) زړونه د دوی | جدا جدا دی (دیو بل نه) | دا

ډیر سخت دے ته به په دوی دا ګمان کوے چه دوی یَو دی حالانکه د دوی زړونه بیل بیل دی دا ځکه

بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ۝ كَمَثَلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

ځکه چه دوی | (دا ے) قوم دے | چه عقل نه لری | (د دوی حال پشان د حال | د هغه کسانو (دے) | چه مخکښے وو د دوی نه

چه دوی بے عقله خلق دی دَ دوی حال د هغه خلقو پشان دے چه د دوی نه ځے لږ مخکښے

قَرِيْبًا ذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

نزدے (زمانه کښ) | او ځکله هغوی | سزا | د خپل کار | او دَ دوی دپاره | عذاب دے | دردناک

د خپل کار سزا ځکلے ده او دَ دوی دپاره یو دردناک عذاب دے

كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ فَلَمَّا كَفَرَ

پشان د حال | د شیطان | کله ځے چه | اووایل | انسان ته | چه کافر شه | پس هر کله | چه هغه کافر شو

د دوی مثال د شیطان پشان دے چه یَو انسان ته وائی چه کافر شه بیا کله چه هغه کافر شی

قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ

نو اووایل هغه (شیطان) | چه بیشکه زه (خو) | بیزاریم | ستانه | بیشکه زه (خو) | یریږم | د الله نه | چه رب دے

نو (ورته) وائی چه زه (خو) تانه بری (بیزاره) یم زهٔ خو د هغه الله نه یَریږم چه

الْعٰلَمِيْنَ ۝ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ

د ټولو جهانونو | پس شو | انجام د هغه دواړو | د اچه بیشکه وی به هغه دواړه | په اور کښ | (چه) هیشه به وی

د ټولو جهانونو رب دے نو د دواړو انجام دا شو چه دواړه به اور کښ وی هلته به همیشه دپاره اوسیږی

فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا

په هغے کښ | او دا ده | سزا (بدله) | د ظالمانو | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | یره کوئ

او د ظالمانو هم دا سزا ده اے مؤمنانو ! د الله نه یَرِیږئ

اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

د الله نه | اواوده کوری | هر یو کس | چه څه | لپاره دی هغه مخکښے | د صبا دپاره | او یره کوئ | د الله نه

او هر کس دے دا او کوری چه هغه د صبا دپاره څه عمل مخکښے لپاره لے دے او د الله نه یَرِیږئ

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

بیشکه | الله دے | پوره خبردار | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | او تاسو مه کیږئ | په شان د هغے کسانو

یقین او کړئ تاسو چه څه کوئ الله د هغے نه پوره خبردار دے او تاسو د هغه خلقو په شان مه کیږئ

نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝

چه هغوی هیر کړے وو | الله | نو هیر کړل الله د هغوی نه | خپل ځانونه | هم د غه خلق | دوی دی | نافرمان

چه الله ئے هیر کړے وو نو الله ترے خپل ځانونه هیر کړل هم د غه خلق نافرمان دی

لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ؕ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

نه دی برابر | دوزخیان | او جنتیان | جنتیان

دوزخیان او جنتیان (هیڅکله) برابر یدے نشی هم جنتیان

هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ

هم هغوی دی | کامیاب | که چرے | مونږ نازل کړے وے | دا | قرآن | په یو غر باندے

پوره کامیاب دی که چرے مونږ دا قرآن په یو غر باندے نازل کړے وے

لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ

نو خامخا به ګاڼیدلے وے هغه | عاجزی کوونکے | توله توله کیدونکے | د یَرے | د الله نه | او د غه دی

نو تا به (هغه) لیدلے چه د الله د یَرے نه به عاجزی کوونکے (حکم منونکے) او چاودلے وے

الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ۝ هُوَ اللّٰهُ

مثالونه | چه مونږ بیانوو دا | د خلقو دپاره | دے دپاره چه دوی | سوچ (فکر) او کړی | هغه | الله

او مونږ دا مثالونه خلقو ته دے دپاره بیانوو چه هغوی غور او فکر او کړی هغه الله هم هغه ذات دے

الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ

هم هغه ذات دے | چه نشته | لائق د عبادت | سوا | د هغه نه | پوهه دے | په (هر) پټ | او په (هر) ښکاره

چه د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته هغه په پټه او په ښکاره هره خبره پوهه دے

هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ۝ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

هم هغه دے | عام مهربان | خاص مهربان | هم هغه | الله | هغه ذات دے | چه نشته | هیڅ څوک لائق د عبادت | سوا

هغه ډیر مهربان هیڅه رحم کوونکے دے هغه الله هم هغه ذات دے چه د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ

دهغه نه | بادشاه دے | ډیر پاک دے | سلامتیا والا دے | امن ور کوونکے دے | ساتونکے دے

هغه بادشاه دے ډیر پاک دے سلامتی ور کوونکے دے امن ور کوونکے دے حفاظت کوونکے دے

الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٢٣﴾

ډیر زورور | زبردست | لویئ والا دے | پاکی ده | الله لره | دهغه څخه نه | چه دوی ئے شریکوی

ډیر غالب دے زبردست دے لویئ مالک دے دهر هغه څه نه پاک دے چه دا خلق ئے ورسره شریکوی

هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ

هم هغه | الله دے | پیدا کوونکے | جوړوونکے | شکلونه ور کوونکے | هم دهغه دی | لرمونه

هغه الله هم هغه ذات دے چه پیدا کوونکے، درست جوړوونکے دے، صورت جوړوونکے دے هم دهغه د ټولو نه

الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

(ډیر) ښائسته | پاکی بیانوی | دهغه | هغه څه | چه په آسمانونو | اوپه زمکه کښ دی | اوهم هغه دے

ښائسته نومونه دی د آسمانونو او د زمکے هر څیز د هغه پاکی وائی او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٤﴾ ع

ډیر زورور (غالب) | ډیر حکمت والا |

ډیر غالب ډیر حکمت والا دے

سورة الممتحنة مكّية

آياتها [١٣] | ركوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | مهٔ نیسئ تاسو | دشمن زما | او دشمن خپل | دوستان

اے مومنانو! که تاسو زما په لاره کښ د جهاد دپاره او زما رضا د حاصلولو دپاره (د خپلو کورونو نه)

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ

(چه) ورلیږئ تاسو | هغوی ته | (پیغام) د محبت | اوحال دا چه | دوی کفر کړیدے | په هغه څه | چه راغلی دی تاسو ته

وتلی یئ نو زما او خپلو دشمنانو ته د دوستانے پیغام مه لیږئ حالانکه تاسو ته چه کوم

مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

د حق نه | اوباسی دوی | پیغمبر | او تاسو لره | په دے (وجه) | چه تاسو ایمان راوړئ | په الله

حق دین راغلے دے هغوی د هغے نه انکار کړے دے (او) پیغمبر او تاسو یئ (د مکے نه) صرف

رَبِّكُمْ ط اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ

چه ربه ستاسو دے | که چرے | تاسو وئلی یئ | د جهاد دپاره | په لارزما کښ | اودپاره دلتولو

په دے وجه ویستل یئ چه تاسو په خپل رب باندے ایمان راوړے دے تاسو هغوی ته په پته

مَرْضَاتِيْ ق تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ق وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ

درضا زما | پته لیږئ تاسو | دوی ته | (پیغام) دمحبت | او زهٔ | ښهٔ پوهه یم | په هغه څه

د دوستانے پیغام لیږئ حالانکه څه چه تاسو په پته کوئ یا ئے په ښکاره کوئ هغه ټول ماته معلوم دی

اَخْفَيْتُمْ وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ط وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ

چه تاسو پټوئ | اوپه هغه څه | چه تاسو ښکاره کوئ | اوچا چه | اوکړو داکار | ستاسونه | نو یقیناً | هغه گمراه شو

او په تاسو کښ چه چا هم دا کار آئنده کښ اوکړو نو یقیناً هغه د سمے لار نه

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ۝۱ اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ اَعْدَآءً

د سمے | لارے نه | که چرے | دوی پیاموی (قدرت پرته تاسو | نو دوی به شی | ستاسو | دشمنان

گمراه شو (واوړیدو) که تاسو دوی له په لاس ورشئ نو ستاسو دشمنان به شی

وَّيَبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ وَاَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ وَوَدُّوْا

اواوږده به کړی | تاسو ته | لاسونه خپل | اوژبے خپلے | په بدئ سره | اوغواړی دوی

او خپل لاسونه او خپلے ژبے به درپسے په بدئ دراوږدے کړی او دوی (خو) دا غواړی

لَوْ تَكْفُرُوْنَ ۝۲ ط لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ج

کاش! | چه تاسو کفر اوکړئ | هیڅ کله فائده به درنکړی تاسو ته | خپلوان ستاسو | او نه بچی ستاسو

چه تاسو هم کافر شئ د قیامت په ورځ به نه ستاسو خپلوان څه په کار راځی او نه ستاسو بچی (اولاد)

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ج يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ط وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

په ورځ | د قیامت | فیصله به اوکړی هغه (الله) | ستاسو ترمینځه | او الله | هغه څه لره | چه تاسو ئے کوئ

الله به ستاسو په مینځ کښ فیصله اوکړی او تاسو چه څه کوئ الله هغه ښه وینی

بَصِيْرٌ ۝۳ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ

(ښه) لیدونکے دے | یقیناً | شته | ستاسو دپاره | نمونه | ښائسته | په ابراهیمؑ

اے مسلمانانو! تاسو دپاره (خو) په ابراهیمؑ او د هغه په ملګرو کښ یوه ښه نمونه ده

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ ج اِذْ قَالُوْا لِقَوْمِهِمْ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ

اوپه هغه خلقو کښ | چه د هغه سره وو | کله چه | اوویل دوی | قوم خپل ته | (چه) بیشکه مونږ | بیزاره یو | ستاسو نه

کله چه هغوی خپل قوم ته وویل وو چه مونږ تاسو نه او تاسو چه

وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ز كَفَرْنَا بِكُمْ

اودهغو نه څه نه | چه تاسو ئے عبادت کوئ | سوا | د الله نه | مونږ انکار کړیدے | ستاسو (د طریقے) نه

د الله نه سوا د چا عبادت کوئ د هغے ټولو نه بیزاره (بے تعلقه) یو او ستاسو (د عقیدو) نه منکر یو

وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَآءُ اَبَدًا حَتّٰى

اوښکاره شوه | په مینځ زمونږ | او په مینځ ستاسو کښې | دشمنی | او بغض | همیشه | تر دے

اوزمونږ او ستاسو ترمینځه تر هغه وخته پورے ښکاره دشمنی او بغض (پیدا شوے) دے تر څو پورے

تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ

چه تاسو ایمان راوړئ | په الله | چه یوے | مګر | وینا | د ابراهیمؑ | خپل پلار ته

چه تاسو صرف په الله ایمان رانه وړئ مګر د ابراهیمؑ خپل پلار ته د خبرې کول (مستثنی دی)

لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ

(چه) زه به ضرور بخښنه غواړم | ستا دپاره | او نه لرم زه اختیار | ستا دپاره | د الله نه | د هیڅ شیز

چه زه به ستا دپاره بخښنه ضرور غواړم اګر چه د الله په وړاندے زه ستا دپاره د هیڅ اختیار نه لرم

رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ۝

اے زمونږ ربه! | خاص په تا باندے | مونږ توکل کړے دے | او خاص تا ته | رجوع کړے ده مونږ | او خاص تا ته | واپس کیدل دی

اے زمونږ ربه مونږ په تا باندے توکل کړے دے او هم تا ته مو رجوع کړے ده او هم ستا طرف ته (د تلو) واپسی ده

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا

اے زمونږ ربه! | مه ګرځوه مونږ لره | ازمیښت | دپاره د هغه کسانو | چه کفر ے کړے دے | او بخښنه او کړه | مونږ ته

اے زمونږ ربه! مونږ د کافرانو دپاره یو ازمیښت مه جوړوه او اے زمونږ ربه مونږ ته بخښنه او کړه

رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ

اے زمونږ ربه! | بیشکه | هم ته ئے | ډیر زور ور | لوے حکمت والا | یقیناً | شته | ستاسو دپاره

یقیناً صرف هم ته ډیر غالب لوے حکمت والا ذات ئے (اے مسلمانانو) یقیناً په دے خلقو کښې ستاسو دپاره

فِيْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ

په دوی کښې | یوه نمونه | ښائسته | یعنی دهغه چا دپاره | چه امید ساتی | د الله | او د ورځے

(یعنی) دهر هغه چا دپاره چه د الله (د ملاقات) او د آخرت د ورځے امید ساتی یوه بهترینه نمونه (پرته) ده

الْاٰخِرَ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝ ع

روستنۍ | او څوک | چه مخ واړوی | نو بیشکه | الله | (هم هغه) دے | بے نیازه | ستایلے شوے

او چا چه مخ واړولو نو الله تعالیٰ هم بے پروا او ستائلے شوے ذات دے

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ

لزدے ده | چه الله | پیدا کړی | په مینځ ستاسو کښې | او په مینځ | د هغه کسانو کښې

دا څه لرے (عجیبه) خبره نه ده چه الله تعالیٰ ستاسو او د هغه خلقو چه ستاسو ورسره

عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ

چه تاسو (ورسره) دشمنی کړے ده | دوی نه | دوستانه | او الله دے | پوره قدرت لرونکے | او الله دے

دشمنی ده ترمینځه دوستی (مینه) پیدا کړی او الله تعالیٰ پوره قدرت والا دے او الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ

دیر بخښونکے | دیر رحم کوونکے | نه منع کوی تاسو | الله | دهغه کسانو نه | چه هغوی جنګ ندے کړے تاسو سره

دیر بخښونکے دیر مهربان دے کومو خلقو چه د دین په باره کښ تاسو سره جنګ نه دے کړے

فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ

په دین کښ | اونه هغوی ویستلی ئے تاسو | د خپلو کورونو نه | (ددے نه) چه نیکی اوکړئ تاسو دهغوی سره

اونه ئے تاسو د خپلو کورونو نه ویستلی یئ د هغوی سره د نیکئ (احسان) او د انصاف کولو نه

وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ اِنَّمَا

او انصاف اوکړئ | دهغوی سره | بیشکه | الله | خوښوی | انصاف کوونکی | بیشکه

الله تعالی تاسو نه منع کوی الله تعالی (خو) انصاف کوونکو خلقو سره مینه کوی البته

يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ

منع کوی تاسو | الله | دهغه کسانو نه | چه جنګ ئے کړیدے تاسو سره | په دین کښ

الله تعالی تاسو د هغه خلقو سره د دوستئ کولو نه منع کوی چه تاسو سره ئے جنګ کړے دے

وَاَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ

اوهغوی ویستلی یئ تاسو | د کورونو ستاسو نه | او مدد ئے کړے دے | ستاسو په ویستلو کښ (د کافرو سره)

او د خپلو کورونو نه ئے ویستلی یئ او ستاسو په ویستلو کښ ئے (د نورو خلقو) مدد کړے دے

اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰۗىِٕكَ

(ددے نه) | چه تاسو دوستی اوکړئ دهغوی سره | او چا چه | دوستی اوکړه دهغوی سره | نو هم دغه خلق

او چا چه د هغوی سره دوستی اوکړه نو هغه ظالمان دی۔

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا جَاۗءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ

دوی دی ظالمان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | هر کله | چه راشی تاسو ته | مومنانے ښځه

اے مؤمنانو ! کله چه ستاسو خواله مسلمانے ښځے هجرت اوکړی (راشی)

مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ۭ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ

هجرت کوونکے | نو امتحان واخلئ د هغوی | الله | پوهه دے | په ایمان د هغوی | نو که ئے چرے

نو ازمیښت پرے اوکړئ (اګر چه) الله تعالی ته د هغوی ایمانونه ښه معلوم دی بیا چه تاسو ته

عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ۭ لَا هُنَّ

معلومے کړئ تاسو هغوی | چه مومنانے دی | نو مه واپس کوئ هغوی | کافرانو ته | نه هغه (ښځے)

پته اولګی چه هغوی (واقعی) مؤمنانے دی نو کافرانو ته ئے واپس مه لیږئ هغوی د هغه کافرانو دپاره

حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ۭ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ۭ

روا دی | دوی دپاره | اونه هغه (کافران) | روا دی | د دوی دپاره | اوور کړئ دوی ته | هغه نفقه | چه دوی خرچ کړے ده

روا نه دی او هغه کافران د هغوی دپاره روا نه دی او هغه کافرانو چه څه خرچ (مهر وغیره) کړے دے هغه ورله تاسو ورکړئ

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ

اونشته دے څه ګناه | په تاسو باندے | چه نکاح اوکړئ تاسو دهغوی سره | کله چه | ورکوئ تاسو هغوی ته

او (بیا) پس د ادائیګئ د مَهر نه د دغه زنانو سره په نکاح کولو کښې په تاسو هیڅ ګناه نشته

اُجُوْرَهُنَّ ؕ وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْئَلُوْا مَآ

مهرونه د هغوی | او تاسو مه ساتئ | نکاحونه | د کافرو ښځو | او غواړئ | هغه څه

او د کافرو ښځو سره د نکاح تعلقات برقرار مه ساتئ او څومره خرچه مو چه پرے کړے ده هغه (ترے) اوغواړئ

اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْئَلُوْا مَآ اَنْفَقُوْا ؕ ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ؕ

چه تاسو خرچ کړی دی | او هغوی دِ (هم) اوغواړی | هغه څه | چه هغوی خرچ کړی دی | دا دے | حکم | د الله

او هغوی (کافرانو) چه څومره خرچه کړے ده هغه دے (تاسو نه) اوغواړی هم دا د الله فیصله ده

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ وَاِنْ فَاتَكُمْ

فیصله کوی هغه | په مینځ ستاسو کښې | او الله | (ښه) پوهه | (لوے) حکمت والا دے | او که چرے | پاتے شی ستاسو

قائمه ستاسو په مینځ کښې، او الله تعالیٰ ډیر پوهه لوے حکمت والا ذات دے او که چرے ستاسو په ښځو کښې

شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا

څه څیز | د بیبیانو ستاسو نه | کافرانو ته | او (بیا) تاسو له موقع په لاس درشی | نو ورکړئ

یوه ښځه مرتده شی او کافرانو ته دهغے مهر تاسو نه ورکړو (او) بیا تاسو له موقع په لاس درشی او څه مال غنیمت د کافرانو نه حاصل کړئ

الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

هغه کسانو ته | چه تلی دی | بیبیانے د هغوی | پشان | د هغه څه | چه هغوی خرچ کړی دی | او یَرَ پرېږئ | د الله نه

نو دا ښځے چه مرتدے شوی دی هغوی ته هغه هومره (د مال غنیمت نه) ورکړئ څومره چه هغوی خرچ کړی دی او د هغه الله نه یَرَ پرېږئ

الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ

هغه ذات | چه تاسو | په هغه | ایمان لرونکی یئ | اے نبیؐ! | هرکله چه | راشی تاته

چه تاسو پرے ایمان لرئ اے نبیؐ! کله چه تاله مسلمانے زنانه په دے خبره

الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْـًٔا

مؤمنانے زنانه | چه بیعت کوی تاسره | په دے چه | شریک به نه جوړوی | د الله سره | هیڅ څیز

د بیعت کولو دپاره راشی چه د الله سره به هیڅ قسم شرک نه کوی

وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ

او نه به غلا کوی | او نه به زنا کوی | او نه به وژنی | بچی خپل | او نه به راتلل کوی

او غلا به نه کوی او خپل بچی به نه وژنی او د بهتان اولاد به

بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ

څه بدنامے لګولو ته | چه جوړوی ئے | په مینځ د لاسونو خپلو کښې | او د خپو خپلو کښې | او نه به نافرمانی کوی ستا

نه راوړی چه مخ په مخ ئے (په خپلو خاوندانو پورے) په دروغه وتړی او د نیکئ په یو کار کښې به

فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په ښونیک کار کښې | نو بیعت اوکړه دهغوی سره | او بخښنه غواړه | دهغوی دپاره | دالله نه | بیشکه | الله دے

ستانافرمانی نه کوی نو د هغوی سره بیعت اوکړه او د الله نه ورله بخښنه اوغواړه یقیناً الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا

دیر بخښونکے | دیر مهربان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | دوستی مه کوئ | د(هغه) قوم سره

دیر بخښونکے دیر مهربان دے اے مؤمنانو ! د هغه خلقو سره دوستی مه کوئ

غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ

چه غضب کړے دے | الله | په هغوی باندے | یقیناً | هغوی ناامیده شوی دی | د آخرت نه

چه الله تعالی پرے غضب کړے دے هغوی (خو) د آخرت نه داسے مایوسه (ناامیده) شوی دی

كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ۝ ع

لکه څنګه | چه ناامیده شوی دی | کافران | د قبرونو والا نه |

لکه څنګه چه کافران د قبرونو والو (د بیا ژوندون) نه نا اُمیده شوی دی.

آیاتها [۱۴]	سورة الصّف مدنيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه دیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

پاکی بیانوی | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څه | چه په زمکه کښې دی | او هغه دے

څه چه په آسمانونو او په زمکه کښې دی هغه ټول د الله پاکی بیانوی او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا

دیر زور ور | لوے حکمت والا | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | ولے وایئ تاسو | هغه خبرے

دیر غالب لوے حکمت والا دے اے مؤمنانو ! تاسو داسے خبرے ولے کوئ

لَا تَفْعَلُوْنَ ۝ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا

چه نه ئے کوئ تاسو | غټه | د غصے خبره ده | په نزد | د الله | (دا) چه | تاسو وایئ | هغه خبرے

چه کوئ ئے نه د الله تعالی په نزد دا دیره د غصے (ناراضګۍ) خبره ده چه تاسو داسے خبرے کوئ چه

لَا تَفْعَلُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ

چه نه ئے کوئ تاسو | بیشکه | الله | خوښوی | هغه کسان | چه جنګ کوی | په لاره د هغه کښې

بیا ئے پوره کوئ نه. حقیقت دا دے چه الله تعالی د هغه خلقو سره محبت کوی چه د هغه په لار کښې

صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۝ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

صفونه صفونه | (دا سے) لکه چه هغوی | یو دیوال دے | په یو بل کښ نښتولی | او کله چه | اوویل | موسیٰ

دا سے صف ترلی جنګیږی لکه په قلعی پوخ شوی دیوال او هغه وخت یاد کړئ کله چه موسیٰ

لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّيْ

قوم خپل ته | اے زما قومه! | ولے تکلیف را کوئ تاسو ماته | او یقیناً | تاسو پوهیږئ | چه بیشکه زه یم

خپل قوم ته اوویل چه زما قومه! تاسو ماته تکلیف ولے را کوئ حالانکه تاسو ته ښه پته ده چه زه تاسو ته

رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ؕ فَلَمَّا زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ

پیغمبر | د الله | ستاسو طرف ته | پس هر کله | چه هغوی کاږه شول | (نو) کاږه کړل | الله | زړونه د هغوی

د الله رالیږلے شوے رسول یم بیا کله چه هغوی کوږوالے (کمراهی) اختیار کړه نو الله تعالیٰ (هم) د هغوی زړونه کاږه کړل

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝ وَاِذْ قَالَ عِيْسَى

او الله | هدایت نه کوی | قوم | نافرمان ته | او کله چه | اوویل | عیسیٰ

او الله تعالیٰ (دا سے) نافرمانو خلقو ته هدایت نه کوی او هغه وخت هم یاد کړه کله چه عیسیٰ

ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ

خوی | د مریمؑ | اے بنی اسرائیلو! | بیشکه زه | رسول | د الله یم | تاسو ته

بن مریمؑ ویلی وو چه اے بنی اسرائیلو زه تاسو ته د الله رالیږلے شوے (دا سے) پیغمبر یم چه

مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ

تصدیق کوونکے (یم) | دهغه څه | چه زما نه مخکښے دی | (د) تورات (نه) | اوزیږے ورکوونکے (یم) | د یو پیغمبر

دهغه کتاب تصدیق کوم چه زما نه مخکښے راغلے دے او د یو (دا سے) پیغمبر زیږے درکوم

يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

چه راځی به | وروسته زما نه | (چه) نوم دهغه | احمد دے | بیا هر کله | چه هغه راغے هغوی ته | په ښکاره دلیلونو سره

چه زما نه وروسته به راځی چه نوم ئے احمد دے بیا کله چه هغه (پیغمبر) دوی ته د ښکاره دلیلونو سره راغے

قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

(نو) اوویل دوی | دا (خو) | جادو دے | واضح (ښکاره) | اوځوک دے | زیات ظالم | د هغه چا نه | چه تړی

نو وئے ویل چه دا خو ښکاره جادو دے او د هغه کس نه به لوئے (زیات) ظالم څوک وی چه

عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰٓى اِلَى الْاِسْلَامِ ؕ وَاللّٰهُ

په الله باندے | دروغ | او (حال دا چه) هغه | رابللے کیږی | اسلام ته | او الله

په الله باندے دروغ تړی حالانکه هغه اسلام ته رابللے کیږی او الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ

هدایت نه کوی | قوم | ظالمانو ته | غواړی دوی | چه مړه کړی | رڼا | د الله

(دا سے) ظالمانو خلقو ته هدایت نه کوی دا خلق دا غواړی چه په خپلو خولو د الله رڼا مړه کړی

بِاَفْوَاهِهِمْ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۸

په خپلو خولو سره | او (حال دا چې) الله | پوره کوونکے | د خپلے رڼا دے | اګرچه | بد ے ګڼې | کافران

حالانکه الله (به) خپله رڼا پوره کوی اګر چه کافران ے بده ګڼې

هُوَ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰی وَدِیْنِ الْحَقِّ

هُم هغه (ذات) | چه رالیږلے ے دے | پیغمبر خپل | د هدایت سره | او دین | حق سره

هم الله هغه ذات (دے) چه خپل پیغمبر ے د هدایت او د حق دین سره (دے دپاره) رالیږلے دے

ع ۱۰ لِیُظْهِرَهٗ عَلَی الدِّیْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۹

(دے دپاره) چه هغه غالب کړی دا (دین) | په دینونو | ټولو باندے | اګرچه | بد ے ګڼې | مشرکان

چه په ټولو دینونو ے غالب کړی اګر چه مشرکان ے بد ګڼې

یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰی تِجَارَةٍ تُنْجِیْكُمْ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | آیا | زه اوښایم تاسو ته | یو (داسے) تجارت | چه بچ کړی تاسو

اے مومنانو! آیا زه تاسو ته یو داسے تجارت اوښایم چه د دردناک عذاب نه مو بچ کړی

مِّنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ۱۰ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ

د عذاب | دردناک نه | ایمان راوړئ تاسو | په الله | او په رسول دهغه باندے | او جهاد کوئ

(هغه دا دے چه) تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او په خپل مال (او دولت)

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ

په لاره | د الله کښې | په خپلو مالونو | او خپلو نفسونو سره | دا | ډیره ښه ده | ستاسو دپاره

او په خپلو نفسونو (ځانونو) سره د الله په لاره کښې جهاد او کړئ دا تاسو دپاره ډیر غوره (ښه) ده

اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۱۱ یَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَیُدْخِلْكُمْ

که چرے | یئ تاسو | چه پوهیږئ | معاف به کړی هغه | تاسو ته | ګناهونه ستاسو | او داخل به کړی تاسو

که تاسو پوهیږئ هغه (الله) به ستاسو ګناهونه معاف کړی او داسے جنتونو ته به مو داخل کړی

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَیِّبَةً

(داسے) جنتونو ته | چه بهیږی (به) | د لاندے د هغے نه | نهرونه | او کورونو | پاکیزو (ځکلو) ته

چه د هغے د لاندے (به) نهرونه بهیږی او داسے پاکیزه (ښائسته) کورونو ته (به مو داخل کړی)

فِیْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ۱۲ وَاُخْرٰی

په جنتونو | د همیشګړئ کښې | دا ده | کامیابی | ډیره لویه | او یو بل څیز هم دے

چه هغه به د همیشه همیشه اوسیدو والا جنتونو کښې وی او دا ډیره لویه کامیابی ده او یو بل څیز هم دے

تُحِبُّوْنَهَا ؕ نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِیْبٌ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِیْنَ ۱۳

چه تاسو خوښوئ هغه | مدد دے | د الله | او فتحه | نزدے | اوزیرے ورکړه | مومنانو ته

چه تاسو ے خوښوئ (او هغه دے) د الله مدد او نزدے فتحه (او اے نبی!) مومنانو ته زیرے ورکړه

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | شئ | مددګار | د الله (د دین) | لکه څنګه | چه ویلی وو

اے مومنانو ! د الله (د دین) مددګار جوړ شئ لکه څنګه چه

عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ

عیسیٰ | څوی | د مریم | حواریانو ته | (چه) څوک دی | مددګاران زما | د الله د طرف نه

عیسیٰ بن مریم حواریانو ته ویلی ووچه څوک دی چه الله ته د نزدیکت حاصلولو دپاره زما مددګار (ملاتړ) جوړ شی

قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ

اوویل | حواریانو | موږ یو | مددګاران | د الله (د دین) | نو ایمان راوړو | یوے ډلے

حواریانو اوویل چه موږ د الله (د دین) مددګار یو بیا په بنی اسرائیلو کښی یوے ډلے

مِّنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ

د بنی اسرائیلو نه | او کفر اوکړو | بلے ډلے | نو موږ مضبوط کړل | هغه کسان

ایمان راوړو او بلے (یوے) ډلے انکار اوکړو نو چا چه ایمان راوړے وو

اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ۝ ع

| چه ایمان ئے راوړے وو | په دشمنانو د هغوی باندے | نو شول هغوی | غالب |

موږ د هغوی سره د دشمنانو خلاف مدد اوکړو نو هغوی غالب شول

آیاتها [١١]	سورة الجُمعة مَدَنيّة	رکوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ

پاکی وائی | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو کښی دی | او هغه څه | چه په زمکه کښی دی | (هغه) بادشاه (دے)

د آسمانونو او د زمکے هر یو څیز د (هغه) الله پاکی وائی چه هغه بادشاه دے

الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝ هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ

ډیر پاک | ډیر زور ور | لوے حکمت والا دے | هم الله هغه (ذات) دے | چه راالیږلے ئے دے

ډیر پاک دے ډیر غالب لوے حکمت والا دے، هم الله هغه ذات دے چه

فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ

په امیانو کښی | ئے پیغمبر | د هغوی نه | چه لولی | په هغوی باندے | آیتونه د هغه (الله) | او پاکوی هغوی

په امیانو خلقو کښی ئے هم د هغوی نه یو (داسے) پیغمبر راولیږلو چه هغوی ته د هغه (الله) آیتونه لولی

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۗ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ

او بنائی هغوی ته | کتاب | او حکمت | او بیشکه | وو هغوی | مخکښے د دے نه

او هغوی پاکوی او کتاب او حکمت (سنت) ورته بنائی حالانکه هغوی د دے نه مخکښے په ښکاره گمراهۍ کښ

لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۙ۝۲ وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ؕ

(خامخا) په گمراهۍ | ښکاره کښ | او نورو خلقو کښ | د دوی نه | چه لا نه دی یو ځای شوی | د دوی سره

(پرانګه) وو او په دوی کښ نورو خلقو ته (هم موندرد ا پیغمبر درالیږلے دے) چه لا دوی سره یو ځای نه شوی (بلکه روستو راتلونکی دی)

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝۳ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ

او هغه دے | ډیر زورور | ډیر حکمت والا | دا دے | فضل | د الله | هغه ورکوی | چا ته

او هغه ډیر غالب لوے حکمت والا دے دا د الله فضل دے چا ته ئے چه او غواړی ورکوی ئے

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝۴ مَثَلُ الَّذِيْنَ

چه (ئے) او غواړی | او الله دے | خاوند د فضل | ډیر لوے | مثال | د هغه کسانو

او الله تعالی د ډیر لوے فضل مالک دے کومو خلقو ته چه په تورات باندے

حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ

چه ور کړے شوے وو هغوی ته | (ذمه داری د) تورات | بیا | او چا نه کړو هغوی تورات لره | پشان د حال (مثال) | د خر د دے

د عمل کولو حکم شوے وو او په تورات پوهه شوے هم وو او بیا ئے د سر د علم په تورات عمل او نه کړو د هغوی مثال پشان د یو خر د دے

يَحْمِلُ اَسْفَارًا ؕ بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

چه بار کړی | کتابونه | (ډیر) بد دے | مثال | د قوم | هغے | چه دروغ ئے ګڼلی دی

چه کتابونه ئے بار کړی وی کوم خلق چه د الله آیتونه دروغ ګڼری د هغوی مثال ډیر بد (خراب) دے

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۵ قُلْ

آیتونه | د الله | او الله | هدایت نه کوی | قوم | ظالمانو ته | اووایه

او الله تعالی ظالمانو خلقو ته هدایت نه کوی (اے نبی! یهودیانو ته اووایه چه)

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ

اے هغه کسانو | چه یهودیان شوی یئ | که چرے | تاسو خیال کوئ | چه بیشکه تاسو | دوستان یئ | د الله

اے یهودیانو! که تاسو دا دعوی کوئ چه صرف (هم) تاسو د الله دوستان یئ

مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۶

سوا د (نورو) خلقو نه | نو آرزو او کړئ | د مرګ | که چرے | یئ تاسو | رشتنی

نور خلق نه دی نو که تاسو رشتنی یئ نو راځئ (بطور مباهله) په گمراه باندے دُعا د مرګ او غواړئ

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗۤ اَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ

او آرزو نه کوی دوی د مرګ | هیڅکله | په وجه د هغه څه | چه مخکښے لیږلی دی | لاسونو | د دوی | او الله

او دوی چه کوم عملونه کړی دی (مخکښے ئے لیږلی دی) د هغے په وجه به دوی هیڅ کله د مرګ تمنا او نه کړی

عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ

نبه پوهه دے | په ظالمانو باندے | اووایه | بیشکه | مرګ | هغه چه | تخنۍ تاسو | دهغے نه

او الله تعالی ظالمان نبه پیژنی ورته اووایه چه د کوم مرګ نه چه تاسو تخنۍ

فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ

نو بیشکه هغه | مخامخ کیدونکے دے تاسو سره | بیا به | تاسو واپس کړے شئ | (هغه ذات ته) چه پوهه دے | په پټو

هغه به (خامخا) ستاسو مخے له راځی بیا به تاسو د هغه ذات طرف ته واپس بوتللی شئ چه هغه په پټو

وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ع ۱۱

او په ښکاره | نو خبر به درکړی تاسو ته | په هغه شه | چه تاسو به کول | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

او په ښکاره خبرو پوهیږئ نو (بیا) تاسو چه څه کوئ د هغے نه خبر کړی اے مومنانو!

اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ

کله چه | آواز اوکړے شی | د مانځه دپاره | په ورځ | د جمعے | نو ورمنډه کړئ | یاد (ذکر) ته

کله چه د جمعے په ورځ د مانځه دپاره اذان (اوان) اوشی نو د الله یاد ولو (مانځه) دپاره روان شئ

اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

د الله | او پریږدئ | اخستل خرڅول | دا | دیره ښه ده | ستاسو دپاره | که چرے | تاسو

او اخستل خرڅول پریږدئ دا تاسو دپاره دیره ښه ده که تاسو پوهیږئ

تَعْلَمُوْنَ ۝ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ

پوهیږئ | بیا کله چه | پوره کړی شی | مونځ | نو خواره شئ | په زمکه کښ

بیا چه کله مونځ پوره (اداء کړے) شی نو په زمکه کښ خواره شئ

وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ

او ولټوئ | فضل | د الله | او ذکر کوئ | د الله | دیر | (دے دپاره) چه تاسو

او د الله فضل تلاش کړئ او الله دیر یادوئ چه کامیاب شئ

تُفْلِحُوْنَ ۝ وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوَا ِۨانْفَضُّوْٓا اِلَيْهَا

کامیاب شئ | او کله چه | اووینی دوی | څه تجارت | یا لوبه تماشه | نو ورمنډه کړی | دهغے طرف ته

او (څه خلق) چه کله څه تجارت (سودا) یا څه د تماشے (لوبے) څیز اووینی نو هغے پسے منډے کړی

وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا ؕ قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ

او تا ولاړ | پریږدی تا | ولاړ | اووایه | هغه څه | چه د الله سره دی | دیر غوره دی | د لوبے نه

او تا ولاړ پریږدی ورته اووایه چه د الله سره چه څه دی هغه د دے تماشو (لوبو)

وَمِنَ التِّجَارَةِ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝ ع ۱۲

او د | تجارت نه | او الله | دیر ښه | رزق ورکوونکے دے

او د تجارت نه دیر غوره دی او الله تعالی د ټولو نه بهتر رزق ورکوونکے دے۔

آیاتها [۱۱]	سورة المنٰفقون مدنیّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ

کله چه | راشی تاته | منافقان | (نو) وائی | چه مونږ گواهی کوو | چه بیشکه ته | رسول ئے
(اے نبیٰ!) کله چه منافقین ستا خواله راځی نو وائی چه مونږ گواهی ورکوو چه ته د الله

اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ

د الله | او الله | پوهیږی | چه بیشکه ته | رسول دهغۀ ئے | او الله | گواهی کوی
پیغمبر ئے او الله ته پته ده چه ته (واقعی) د هغه پیغمبر ئے او الله دا گواهی ورکوی

اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۝ۚ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

چه بیشکه | منافقان | خامخا دروغژن دی | جوړ کړی دی دوی | قسمونه خپل | ډال
چه دا منافقان دروغژن دی دوی د خپلو قسمونو نه ډال جوړ کړے دے

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا

پس منع شوی دی | د لار | د الله نه | بیشکه دوی | ډیر بد دی | هغه څه | چه دوی ئے
اودهغے په وجه په خپله هم خلق د الله د لارے نه منع کوی یقیناً دوی چه څه کوی هغه

يَعْمَلُوْنَ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ

کوی | دا | ځکه چه دوی | ایمان راوړے دے | بیا ئے | کفر کړے دے | پس مهر اووهلے شو
ډیر بد دی دا ځکه چه دوی (په ظاهره) ایمان راوړلو بیا ئے کفر اختیار کړو

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ

په زړونو د دوی | پس دوی | نه پوهیږی | او کله چه | ته اووینے دوی
نو په زړونو ئے مهر ولګیدو نو (اوس) په حق خبره نه پوهیږی او کله چه ته دوی اووینے نو

تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ؕ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ؕ

نو تعجب کښ اچوی تا | بدنونه د دوی | او که چرے | خبرے کوی دوی | نو ته آورے | خبرے د دوی
ددوی څخه (بدنونه) درته ښائسته او غټ ښکاره شی او که دوی خبرے شروع کړی نو ته ئے (توجه فصاحت نه) خبرو ته غوږ ږدے

كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ؕ يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ؕ

لکه چه دوی | لرګی دی | لګولی شوی دیوال ته | دوی ګمان کوی | د هرے | چغے (خطرے) | په خپل ځان باندے
دوی دا سے دی لکه دیوال ته ارام کړی شوی لرګی (چه ظاهراً غټ وی او مینځ کښ ډوډوی) هره چغه د خپل ځان په خلاف ګڼری

هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝

هم دوی | دشمنان دی | نو ددوی نه ځان ساته | هلاک دِ کړی دوی لره | الله | کوم خوا | اړولی (روان) دی

هم دوی ستاسو دشمنان دی نو ځان ترے ساتئ الله دی دوی هلاک کړی کوم خوا الته روان دی (دَحق نه)

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

اوکله چه | اوویلی شی | دوی ته | راشئ | چه بخښنه اوغواړی | ستاسو دپاره | پیغمبر | دالله

او کله چه ورته اوویلی شی چه راشئ چه د الله پیغمبر درله (د الله نه) بخښنه اوغواړی

لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ۝

نو دوی واړوی | سرونه خپل | اوته به وینے دوی | چه مخ اړوی | او دوی | تکبر کوڼکی دی

نو خپل سرونه تاو کړی او ته به دوی وینے چه ډیر په تکبر سره مخ اړوی

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ

برابره ده | په دوی باندے | که ته بخښنه غواړے | دوی دپاره | یا بخښنه نهٔ غواړے | دوی دپاره

(اے نبیؐ) ته که دوی له بخښنه غواړے یا نه غواړے د دوی په حق کښ دواړه خبرے برابر دی

لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝

هیڅ کله به بخښنه اونه کړی | الله | دوی ته | بیشکه | الله | هدایت نه کوی | قوم | نافرمان ته

الله به هیڅ کله دوی ته بخښنه اونهٔ کړی یقین او کړه چه الله نافرمانه خلقو ته هدایت نه کوی

هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ

دا هم | هغه کسان دی | چه وائی (یوبل ته) | چه تاسو خرچ مه کوئ | په هغه چا | چه دی | دَ پیغمبر

دا هم هغه خلق دی چه (خلقو ته) وائی چه کوم خلق د الله د پیغمبر سره (راجمع) دی په هغوی باندے

اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ؕ وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

دالله سره | تر دے | چه دوی خواره ځواره شی | او خاص دالله دی | خزانے | د آسمانونو | او د زمکے

هیڅ خرچه مه کوئ تر دے چه هغوی خواره واره شی حالانکه د آسمانونو او د زمکے ټولے خزانے د الله سره دی

وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَاۤ

لیکن | منافقان | نه پوهیږی | دوی وائی | که چرے | مونږ واپس (لاړ) شو

لیکن منافقان نه پوهیږی دوی وائی چه که چرے مونږ

اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ

مدینے ته | نو خامخا به اوباسی | (ډیر) عزتمند | د هغے نه | (ډیر) ذلیل لره | او خاص دالله (دپاره) دے

مدینے ته واپس لاړو نو (دا) عزتمند خلق به د هغے نه (دا) ذلیله خلق بهر اوشړی حالانکه

الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ ع ۱۳

عزت | او دهغه د رسول دپاره دے | او د مومنانو دپاره دے | لیکن | منافقان | نه پوهیږی

عزت خو بس د الله دے او د هغه د پیغمبر دے او د مومنانو دے لیکن منافقان نه پوهیږی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | غافل دے نه کړی تاسو | مالونه ستاسو | او نهٔ بچی ستاسو

اے مؤمنانو! ستاسو مال دولت او بچی دے تاسو د الله د یاد نه غافله نه کړی

عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝

د یاد | دالله نه | او چا چه | او کړو | دا(کار) | نو هم دغه خلق | دوی دی | تاوانیان

او چا چه دا سے او کړل نو هم هغوی تاوانیان دی

وَاَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ

او خرچ کړئ | دهغه څه نه | چه مونږ در کړی دی تاسو ته | مخکښے دد ے نه | چه راشی | تاسو کښ یو کس ته

او مونږ چه کوم رزق (مال) تاسو ته در کړے دے دهغے نه څه مال دهغه وخت در اتلو نه مخکښے خرچ کړئ

الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ

مرګ | نو (بیا) وائی | اے زما ربه | ولے دِ ورو ستونه کړم زه | تر نیټے | نزدے پورے

چه په تاسو کښ یو کس له مرګ راشی نو بیا وائی چه اے زما ربه تا ماله لږ نور مهلت ولے را نه کړو

فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ

چه صدقه ے کړے وے | او شوے وے زه | د نیکانو نه | او هیڅ کله به ورو ستونه کړی | الله

چه ما خیرات کړے وے او په نیکانو کښ شامل شوے وے او کله چه د چا مقرر وخت (نیټه) راشی

نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ۭ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝ ع

یو کس | کله چه | راشی | نیټه د هغهٔ | او الله | ښه خبر دار دے | په هغه څهٔ | چه تاسو ئے کوئ

نو الله تعالیٰ هیڅ کله هغه ته (نور) مهلت نه ورکوی او الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه پوره خبر دار دے۔

آیاتها [۱۸]	سورة التغابن مدنیة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ

پاکی بیانوی | دالله | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی | او هغه | چه په زمکه کښ دی | خاص دهغه | بادشاهی ده

د آسمانونو او د زمکے هر یو څیز پاکی د الله تعالیٰ وائی هم د هغه بادشاهی ده

وَلَهُ الْحَمْدُ ۡ وَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ هُوَ الَّذِيْ

او خاص هغه د پاره | ستاینه ده | او هغه | په هر | څیز | قدرت لرونکے دے | هم الله هغه (ذات) دے

او هم دهغه د پاره حمد ونه دی او هغه په هر څیز پوره قدرت لری هم الله هغه ذات دے

خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

چه پیدا کړی یئ تاسو | نو بعضے ستاسو نه | کافران دی | او بعضے ستاسو نه | مومنان دی | او الله | ډهغه څه

چه تاسو ئے پیدا کړی یئ بیا په تاسو کښ څنے کافر دی او څنے مسلمانان . او تاسو چه څه کوئ

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ

چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے دے | هغه پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | په حقه سره

الله هغه ښه وینی . هغه آسمانونه او زمکه په حقه پیدا کړی دی

وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝ يَعْلَمُ

لو صورت ئے ډر کړیدے تاسو ته | نو بنائسته ئے جوړ کړی دی | صورتونه ستاسو | او خاص هغه ته | واپس تلل دی | هغه پوهیږی

او ستاسو صورتونه ئے جوړ کړی دی او ستاسو صورتونه ئے ډیر بنائسته جوړ کړی دی او هم هغه ته واپس تلل دی

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا

په هغه څه | چه په آسمانونو | او په زمکه کښ دی | او هغه پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو یئ پټوئ | او په هغه څه

په آسمانونو او په زمکه کښ چه څه دی هغه ټول هغه ته معلوم دی او تاسو چه څه پټ کوئ او څه چه

تُعْلِنُوْنَ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ اَلَمْ يَاْتِكُمْ

چه تاسو ئے ښکاره کوئ | او الله | ښه پوهه دے | په | راز د سینو | آیا تاسو ته نه دی راغلی

ښکاره کوئ هغه ورته هم معلوم دی او الله تعالیٰ د زړونو پټے خبرے (هم) پیژنی آیا تاسو ته دهغه خلقو

نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۫ فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ

خبر | د هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | مخکښے د دے نه | پس هغوی او څکله | سزا | د کار خپل

خبر ونه (واقعات) نه دی راغلی چه د دے نه مخکښے ئے کفر اختیار کړے وو بیا هغوی د خپلو کارونو سزا او څکله

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ

او د هغوی دپاره | عذاب دے | دردناک | دا څکه | چه بیشکه | وؤ به | چه راتلل به دوی ته

او د هغوی دپاره دردناک عذاب دے دا هر څهٔ څکه اوشو چه دوی ته به پیغمبران د واضحه دلیلونو سره

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ۫ فَكَفَرُوْا

پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | نو اوویل دوی | چه آیا بشر به | لار ښائی مونږ ته | نو دوی کفر او کړو

راتلل نو دوی به ویل چه آیا یو انسان به مونږ ته سمه لاره ښائی نو دوی کفر اختیار کړو

وَتَوَلَّوْا وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝ زَعَمَ

او مخ ئے واړولو | او بے پروا شو | الله | او الله | بے نیازه | ستایلے شوے (ذات) دے | خیال (دعوی) کوی

او مخ ئے واړولو او الله تعالیٰ ئے هم څه پروا اونه کړه او الله تعالیٰ خو دیر بے نیازه ستایلے شوے ذات دے کافران خلق

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | (دا) چه | هیڅکله به دوی راپاڅه شوے | اووایه | ولے نه | قسم دے مزما په خپل رب

دا دعوی (گمان) کوی چه دوی به هیڅ کله بیا ژوندی نه کړے شی ته ورته اووایه ولے نه قسم دے په خپل رب

لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ؕ وَذٰلِكَ

چه خامخا به تاسو راپاڅولی شئ | بیا به | خامخا تاسو ته خبر درکولے شی | دهغه څه | چه تاسو کړی دی | او دا

تاسو به ضرور بیا ژوندی کولی شئ بیا به درته خپل ټول عملونه اوښودلی شی او دا کار

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ

په الله باندې | آسان دے | پس ایمان راوړئ | په الله | اوپه رسول دهغهٔ | اوپه نُور | هغه

الله ته ډیر آسان دے بس (نو) په الله او د هغه په پیغمبر او په هغه رڼا (نور) ایمان راوړئ

اَنْزَلْنَا ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ

چه نازل کړے دے موندِ | او الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | ښه خبردار دے | په هغه ورځ | چه راجمع به کړی هغه تاسو

چه موندِ رالیږلے دے او الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه پوره خبردار دے (دا بیاژوندن به) په هغه ورځ (وی)

لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ

ورځ | د راجمع کیدو ته | دغه ده | ورځ | د بیلات (اودکتے) | اوچا چه | ایمان راوړو | په الله

کله به چه تاسو الله تعالیٰ د جمع کیدو په ورځ راجمع کړی هم دغه د حسرت (افسوس) ورځ ده او چا چه په الله ایمان راوړو

وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ

او عمل ئے اوکړو | نیک | نولرے به کړی هغه | د دهٔ نه | ګناهونه د دهٔ | او داخل به کړی دهغه لره | (دا سے) جنتونو ته

او نیک عمل ئے اوکړو نو الله به د هغه ګناهونه معاف کړی او دا سے جنتونو ته به ئے داخل کړی

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ

چه بهیږی (به) | د لاندے د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښ | همیشه | دا ده

چه د هغے د لاندے به نهرونه بهیږی همیشه به هلته اوسیږی دا

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ

کامیابی | ډیره لویه | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | او دروغ ئے ګنړلی دی | آیتونه زمونږ

ډیره لویه کامیابی ده او چا چه کفر اختیار کړو او زمونږ آیتونه ئے دروغ او ګنړل

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ ع

هم دغه خلق | دوزخ (اور) والا دی | همیشه به وی | په هغے کښ | او ډیر بد | ځائے دے (دا)

نو دغه خلق دوزخیان دی هلته به همیشه اوسیږی او هغه ډیر بد ځائے دے

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ

نه رسی | هیڅ یَو مصیبت | مګر | په حکم | د الله | اوچا چه | ایمان راوړو | په الله

هیڅ یو مصیبت د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر نه راځی او څوک چه په الله ایمان راوړی

يَهْدِ قَلْبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝ وَاَطِيْعُوا

نو هغه به هدایت اوکړی | زړهٔ د دهٔ ته | او الله | په هر یَو | څیز باندے | ښه پوهه دے | او خبره اومنئ

الله د هغه زړه ته هدایت کوی او الله تعالیٰ په هر یو څیز باندے ښه پوهه دے او د الله خبره (حکم) اومنئ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا

د الله | او خبره اومنئ | د پیغمبر | پس که چرے | تاسو مخ واړولو | نو بیشکه | په پیغمبر زمونږ باندے

او د پیغمبر خبره (حکم) اومنئ که بیا هم تاسو مخ واړولو نو زمونږ د پیغمبر ذمه داری

الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ

(صرف) رسول دی | ښکاره | الله | نشته هیڅ څوک | لائق د عبادت | سوا | دهغه نه | اوخاص په الله دے

خو صرف صفا صفا پیغام رسول دی الله هغه (ذات) دے چه دهغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ

توکل اوکړی | مومنان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | بیشکه | بعضے ستاسو د زنانو نه

او مومنانو له (خو بس) په الله باندے توکل کول پکار دی اے مومنانو حقیقت دا دے چه ستاسو ښځو

وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا

او بچو نه | دشمنان دی | ستاسو | نو ځان اوساتئ دهغوی نه | او که چرے | معافی اوکړه تاسو

او بچو کښې بعضے ستاسو دشمنان دی نو د هغوی نه ځان ساتئ او که تاسو معافی اوکړئ

وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ اِنَّمَآ

او مخ واړولو تاسو | او بخښنه اوکړه تاسو | نو بیشکه | الله دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | بیشکه

او ستر کے پرے پتے کړئ او وے بخښئ نو یقیناً الله تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے یقیناً

اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۭ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝

مالونه ستاسو | او بچی ستاسو (خو) | یو ازمیښت دے | او الله | سره دے | اجر | ډیر لوئ

ستاسو مال او ستاسو بچی (ستاسو د پاره) یو ازمیښت دے او د الله سره ډیر لوئ اجر دے

فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا

پس اویریږئ | د الله نه | څومره چه | وس وی ستاسو | او واورئ | او خبره اومنئ | او خرچ کړئ

پس څومره چه مو وس وی د الله نه اویریږئ او (خبره) آورئ او (حکم) منئ (او مال) لګوئ

خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ۭ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰۗىِٕكَ

(دا به) غوره وی | ستاسو د پاره | او څوک چه | بچ کړے شو | د بخل (حرص) | د نفس خپل نه | نو هم دغه خلق

دا به ستاسو د پاره غوره وی او څوک چه د خپل نفس د حرص نه بچ اوساتلے شو نو دغه خلق

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

دوی دی | کامیاب | که چرے | تاسو (قرض) ورکړئ | الله ته | قرض | ښائسته

پوره کامیابه دی که تاسو الله تعالیٰ ته ښه قرض (قرض حسن) ورکړئ

يُضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ

نو هغه (الله) به زیات کړی دا (قرض) | تاسو لره | او بخښنه به او کړی | تاسو ته | او الله | ډیر قدردان

نو الله به ځرله سوچنده (زیات) کړی او بخښنه به درته او کړی او الله تعالی ډیر قدردان دعمل دے (بنهٔ بدلے به درکړی)

حَلِيْمٌ ۙ﴿٢٣﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٤﴾

او ډیر صبر ناک دے | پوهه دے | په پټو | او په ښکاره | ډیر زورور (غالب) | لوے حکمت والا دے

ډیر صبر ناک دے (مجرمانو ته مُهلت ورکوی) په هره پټه او په هره ښکاره خبره پوهه دے ډیر غالب ډیر حکمت والا دے

آیاتها [١٢]	سورة الطّلاق مدنيّة	رکوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

اے نبیؐ! | هرکله چه | تاسو طلاق ورکوئ | ښځو ته | نو طلاق یو کوئ هغوی ته | دهغوی د عدت نه مخکښے

اے نبیؐ! کله چه تاسو خپلو ښځو ته طلاق ورکول غواړئ نو د عدت (حیض) دمودے نه مخکښے په زمانه د طهر کښے طلاق ورکوئ

وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ

او شمار کوئ | د عِدت | او یَرِیږئ | د الله نه | چه رب دے ستاسو | مه اوباسئ هغوی

او د عدت (ور ځے) شمارئ او دهغه الله نه یَرِیږئ چه ستاسو رب دے نه خو به تاسو دغه ښځے (د عدت په ورځو کښ)

مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّاۤ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ

د هغوی د کورونو نه | اونه دی ووځی هغوی (پخپله) | مګر | دا چه | راتلل او کړی هغوی | څه بے حیائی

د خپلو کورونو نه اوباسئ او نه دے هغوی خپله ووځی البته که هغوی ښکاره بے حیائی او کړی (نو بیا ئے په ویستلو کښ

مُّبَيِّنَةٍ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ

ښکاره ته | او دغه دی | پُولے (حدونه) | د الله | او څوک | چه واوړیدو | د پولو (حدونو) | د الله نه

څه حرج نشته) او دا د الله (مقرر کړی) حدونه دی او څوک چه د الله تعالی د حدونو نه واوړی

فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ

نو یقیناً | هغه ظلم او کړو | په خپل ځان | ته نه پوهیږے | کیدے شی | چه الله | پیدا کړی | وروستو

نو یقیناً هغه په خپل ځان ظلم او کړو تاته پته نشته کیدے شی چه الله تعالی د دے (طلاقِ رجعی) نه وروسته

ذٰلِكَ اَمْرًا ﴿١﴾ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ

د دے نه | څه (بله) خبره | پس کله چه | اور سیږی هغوی | نیټے خپلے ته | نو اوساتئ هغوی

څه نوے خبره (د رجوع) پیدا کړی بیا کله چه هغه زنانه خپلے نیټے (میعاد) ته ورسی نو یا خو ئے تاسو

بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَىْ عَدْلٍ

په ښه طریقے سره | یا جدا کړئ هغوی | په ښه طریقے سره | او گواهان اونیسئ | دوه انصاف والا

په ښه طریقه (په خپله نکاح کښ) اوساتئ اویا ئے په ښه طریقه پریږدئ اوپه خپلو کښ دوه معتبره کسان پرے گواهان کړئ

مِّنْكُمْ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ

ستاسو نه | اوپوره پوره (ادا) کړئ | گواهی | دالله دپاره | داخبره ده | چه نصیحت گولے شی | په دے سره

او گواهی ټیک ټیک دالله دپاره ورکړئ اے خلقو ادا هغه خبرے دی چه په دے سره هغه چاته نصیحت کیږی

مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ

هغه چاته | چه ایمان راوړی | په الله | او په ورځ | روستنئ | اوهغه څوک | چه ډیریږی | دالله نه

(څوک) چه په الله او د آخرت په ورځ ایمان لری او څوک چه د الله نه ډیریږی الله به ورله

يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۙ۝ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ؕ

نوهغه به چاره کړی | ددې دپاره | څه لار دخلاصی | اوورته کړی هغه دهغه روزی | دهغه خاے نه | چه دے به (ئے) گمان نه کوی

(دمشکل نه) دوتلو څه لاره پیدا کړی اوددا سے خاے نه به ورله رزق ورکړی چه دهغه به پرے گمان هم نه راځی

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ

اوچا چه | توکل اوکړو | په الله باندے | نو هم هغه | کافی دے ده له | بیشکه | الله | پوره کوونکے دے

اوچا چه په الله توکل اوکړو نو بس هغه ورله کافی دے یقین اوکړئ چه الله خپل کار سرته رسوونکے دے

اَمْرِهٖ ؕ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝ وَالّٰٓـِٔيْ

کار خپل | یقیناً | مقرر کړے ده | الله | دهر یو | څیز دپاره | یوه (خاص) اندازه | اوهغه زنانه

اوالله تعالی دهر څیز دپاره یوه اندازه مقرر کړے ده او ستاسو په ښځو کښ چه کومے ښځے

يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ

چه ناامیده شوی دی | د حیض نه | د زنانو ستاسو نه | که چرے | تاسو شک کوئ

د حیض نه مایوسه شوی دی که ستاسو (دهغوی دعدت په باره کښ) شک وی

فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓـِٔيْ لَمْ يَحِضْنَ ؕ

نو دهغوی عدت | درے | میاشتے دے | اوهغه زنانه (هم) | چه حیض نه وی راغلے دهغوی

نو دهغوی عدت درے میاشتے دے او دهغه زنانو چه حیض ئے لا نه دے راغلی (دهغوی هم دغه عدت دی)

وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ

او د حمل والا زنانه | نیټه (عدت) دهغوی | دادے چه | وزیږوی هغوی | خپل حمل | اوهغه چه

اوگومے زنانه چه حاملے وی دهغوی دعدت نیټه (میعاد) د ماشوم زیګول دی

يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ۝ ذٰلِكَ اَمْرُ

ډیریږی | دالله نه | نوهغه به چاره کړی | ده له | د کار ددهٔ نه | آسانی | دادے | حکم

اوهغه چه دالله نه ډیریږی الله به دهغهٔ په کار کښ آسانی پیدا کړی دا د الله حکم دے

اللّٰهِ اَنْزَلَهٗۤ اِلَيْكُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ

د الله | چه رالیږلی ئے دے | تاسو ته | او څوک | چه یَرِیږی | د الله نه | نوهغه به لرے کړی | د ده نه

چه تاسو ته ئے رالیږلے دے او څوک چه د الله نه یَرِیږی الله به د هغه ګناهونه معاف کړی

سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗۤ اَجْرًا ۝ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ

ګناهونه ددہ | اولوئی به کړی | د ده له | اجر | اوسوئ تاسو دغه ښځے | چرته چه | تاسو اوسیږئ

او ډیر لوئے اجر به ورله ورکړی دغه (طلاقے شوے) ښځے (د عدت په ورځو کښ) د خپل وس (حیثیت) مطابق

مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ

د خپل طاقت مطابق | او ضرر مه ورکوئ هغوی ته | (دے دپاره) چه تاسو تنګی اوکړئ | په هغوی باندے

په هغه ځائے کښ اوسوئ چرته چه تاسو اوسیږئ او د تنګولو دپاره هغوی ته تکلیف مه ورکوئ

وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى

اوکه چرے | وی دغه زنانه | حمل والا | نو خرچ اوکړئ | په هغوی باندے | تر دے

اوکه دغه ښځے حامله (امیدوار ے) وی نو بیا ورله د ماشوم د زیګولو وخت پورے

يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ

چه هغوی اوزیګوی | حمل خپل | پس که چرے | هغوی ته ورکوی | ستاسو دپاره | نوور کړئ هغوی ته

خرچ خوراک ورکوئ بیا که هغوی ستاسو دپاره دغه ماشوم ته پئ (ټے) ورکوی نو هغوی ته د هغوی

اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ

مزدوری د هغوی | او مشوره اوکړئ تاسو | په خپل مینځ کښ | په ښه طریقه | اوکه چرے | سختی کوئ تاسو (دیوبل سره)

اجرت ورکړئ او (د اجرت مقرر ولو دپاره) په خپلو کښ په ښه طریقه مشوره اوکړئ او که تاسو یو بل سره سختی (شروع) کړه

فَسَتُرْضِعُ لَهٗۤ اُخْرٰى ۝ لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ

نو زرده چه ئے ته به ورکړی | هغه (ماشوم) ته | بله زنانه | خرچ دے اوکړی | وس والا | د خپل وس مطابق

نو بله یوه ښځه دے دغه ماشوم ته ئے ورکړی هر وس والا (مالدار) دے د خپل وس مطابق خرچ خوراک (نفقه) ورکړی

وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّاۤ اٰتٰىهُ

اوهغه څوک | چه تنګ کړے شوے وی | په هغه باندے | د هغه رزق | نوهغه د خرچ اوکړی | د هغه څه نه | چه ورکړی دی هغه

او د چا رزق (لاس) چه تنګ وی نو الله چه ورله څومره (څه) ورکړی دی هغے نه دے خرچ خوراک (نفقه) ورکړی

اللّٰهُ ؕ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَاۤ اٰتٰىهَا ؕ سَيَجْعَلُ

الله | تکلیف نه ورکوی | الله | هیڅ یو کس ته | مګر | برابر د هغه طاقت | چه ورکړے ئے دے هغه | زرده چه پیدا به کړی

الله تعالی چه چا ته څومره (څه) ورکړی دی هغے نه زیات بوج پرے نه اچوی او ډیر زر به

اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ۝ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ ع

الله | پس | د تنګئ نه | آسانی | او ډیر کل دی | چه نافرمانی ئے اوکړه | د حکم

الله تعالی د سختئ نه پس آسانی پیدا کړی او ډیر کل دا سے دی چه هغوی د خپل رب

رَبِّهَا وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّعَذَّبْنٰهَا

درب خپل | او د پیغمبر انو دهغوی سره | نو مونږ حساب او کړو دهغوی سره | حساب | ډیر سخت | او عذاب ورکړو مونږ هغوی ته

او د هغه د پیغمبر انو د حکم نه سرکشی او کړه نو مونږ ورسره ډیر سخت حساب او کړو او ډیر بد (خراب)

عَذَابًا نُّكْرًا ۝ فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ

عذاب | ډیر بد | پس او څکله هغوی | سزا | د کار خپل | او شو | آخیری انجام

عذاب مو ورکړو نو هغوی د خپلو عملونو سزا وڅکله او د هغوی د عملونو انجام همیشه تاوان شو

اَمْرِهَا خُسْرًا ۝ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا

د کار دهغوی | تاوان | تیار کړے دے | الله | دهغوی دپاره | عذاب | ډیر سخت | نو اویریږئ

(او په آخرت کښ) الله تعالی د هغوی دپاره ډیر سخت عذاب تیار کړے دے نو اے عقل مندو!

اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ۚ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۛ قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ

دالله نه | اے عقل مندو | یعنی هغه کسانو | چه ایمان (مو) راوړے دے | یقیناً | نازل کړی دی | الله

چه ایمان مو راوړے دے د الله نه اویریږئ یقیناً الله تاسو ته یو نصیحت رالیږلے دے

اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۝ رَّسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ

تاسو ته | نصیحت | یو پیغمبر | چه لولی هغه | په تاسو باندے | آیتونه | د الله | واضحه

(چه هغه) پیغمبر دے چه تاسو ته د الله واضحه (صفا) آیتونه لولی

لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

(دے دپاره چه هغه راوباسی | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړے دی | نیک

دے دپاره چه چا ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ

د تیارو نه | رنړا ته | او چاچه | ایمان راوړو | په الله | او عمل ئے او کړو

هغوی د تیارو نه رنړا ته راوباسی او څوک چه په الله ایمان راوړی او نیک عمل او کړی

صَالِحًا يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

نیک | نو داخل به کړی هغه (الله) | (دا سے) جنتونو ته | چه بهیږی (به) | لاندے د هغے نه | نهرونه

نو الله به ئے دا سے جنتونو ته داخل کړی چه د هغے د لاندے به نهرونه بهیږی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ۝ اَللّٰهُ

همیشه به وی | په هغے کښ | همیشه | یقیناً | ښائسته کړے دے | الله | د هغه له | رزق | الله

هلته به همیشه اوسیږی الله تعالی د هغه دپاره بهترین رزق تیار کړے دے الله تعالی

الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ۭ

هغه (ذات) دے | چه پیدا کړی ئے دی | اوه | آسمانونه | او د زمکے نه (هم) | د دے په شان

هغه ذات دے چه اوه آسمانونه ئے پیدا کړی دی او زمکے ئے هم د دغومره (پیدا کړی دی)

يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

را کوزیږی | حکم | په مینځ ددوی کښې | (دے دپاره) چه پوهه شئ تاسو | چه بیشکه | الله | په هر یو

د الله تعالی حکم د دوی په مینځ کښې را کوزیږی چه تاسو په دے پوهه شئ چه الله تعالی په هر یو څیز

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ۝

څیز باندے | (او دا) قدرت لرونکے دے | او یقیناً | الله | یقیناً | احاطه کړے ده | په هر یو څیز باندے | په علم سره

قادر دے او الله تعالی هر یو څیز په خپل علم کښې راګیر کړے دے

آیاتها [۱۲]	سورة التحریم مدنیّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِيْ

اے نبیؐ! | ته ولے حرام کنړے | هغه څه | چه حلال کړی دی | الله | ستا د پاره | ته لټوے (غواړے)

اے نبیؐ! کوم څیز چه الله تعالی ستا د پاره حلال کړے دے ته د خپلو بیبیانو

مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ قَدْ فَرَضَ

رضا مندی | د خپلو بیبیانو | او الله دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | یقیناً | مقرر کړے دی

د خوشحالولو د پاره هغه (په ځان باندے) ولے بندوے؟ او الله تعالی ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے یقیناً

اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ

الله | ستاسو د پاره | پرانستل (ماتول) | د قسمونو ستاسو | او الله | دوست ستاسو دے | او هم هغه

الله تعالی ستاسو د پاره د خپلو قسمونو د ټوټلو (د ماتولو) طریقه مقرر کړے ده او الله تعالی ستاسو کارساز دے

الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ

ډیر پوهه | لوے حکمت والا دے | او کله چه | پټه کړه | نبیؐ | بعضے | بیبیانو خپلو ته

او هغه ډیر پوهه ډیر حکمت والا دے او هغه وخت یاد کړه کله چه پیغمبر خپلے یوے بی بی ته

حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ

یوه خبره | پس هر کله | چه هغے (بی بی) خبر ورکړو | د هغے خبرے (یلے ته) | او ښکاره کړه هغه خبره | الله | په ده (نبیؐ) باندے

د راز یوه خبره او کړه بیا کله چه هغے (بی بی) هغه خبره یلے ته او کړه او الله تعالی دا خبره پیغمبر ته ښکاره کړ

عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا

نو هغه (نبیؐ) اوښودله | یوه خبره | او مخ ئے واړولو | د یلے خبرے نه | پس هر کله چه

نو هغه (پیغمبر) هغے ته څه خبره خو ښکاره کړه او څه ئے ښکاره نه کړه بیا کله چه هغه (پیغمبر) هغے (بی بی) ته

نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ؕ قَالَ

هغه(نبی) خبر ور کړو هغې(بی بی)ته | دهغه خبرې | نو اووې هغې | (چه) چا | خبر در کړو تاته | دې | اووې هغه(نبی)
خبره او کړه نو هغې ورته اووې چه تاته دا خبره چا او کړه؟ هغه (نبی) ورته اووې چه ماته هغه ذات او ښود له

نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝ اِنْ تَتُوْبَاۤ اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ

خبرا کړے دے ماته | ډیر پوهه | خبردار(ذات) | که چرې | توبه اوباسئ تاسو دواړه | الله ته | نو یقیناً
چه هغه ډیر پوهه ډیر خبردار دے (اے د پیغمبر بیبیانو!) که تاسو الله ته توبه اوویستله (نو دا به ډیره ښه وی) ځکه چه

صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ وَاِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ

مائل شوی دی | زړونه ستاسو (توبې ته) | او که چرې | تاسو مدد کوئ دیو بل | دهغه(نبی) خلاف | نو بیشکه | الله
ستاسو دواړو زړونه (هسے هم توبې ته) مائله شوی دی او که تاسو د پیغمبر په خلاف دیو بل سره مدد او کړه (یاد ساتئ چه)

هُوَ مَوْلٰىهُ وَجِبْرِيْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ

هم دهغه دوست دے | او جبریلؑ | او نیکان | مومنان | او فرشتے (هم) | وروستو
چه الله هم دهغهٔ مولی دے جبریلؑ او نیکان مومنان او فرشتے هم د هغه مددګار دے دی

ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ۝ عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ

دے نه | مددګار دے | نزدے دے | چه رب د هغه(نبی) | که چرې | هغه طلاق در کړی تاسو نه | په بدل کښ به ور کړی هغه ته
که هغه (نبی) تاسو له طلاق در کړی نو (دا څه ګرانه نه ده چه) الله تعالی به هغه ته ستاسو په ځای

اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ

بیبیانے | ډیرے غوره | ستاسو نه | مسلمانانے | مومنانے | حکم منونکے | توبه ویستونکے
دا سے بیبیانے ور کړی چه هغه به مسلمانانے، مومنانے، خبره منونکے، توبه ویستونکے

عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا

عبادت کوونکے | روژه نیوونکے | کونډے | او پېغلے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | بچ کړئ تاسو
عبادت ګذارے، روژه دارے وی که مخکښے ځ خاوندان وو او که پېغلے، اے مومنانو!

اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ

ځانونه خپل | او بال بچ خپل | د(هغه) اورنه | چه خشاک دهغے به | خلق | او ګټے دی
خپل ځانونه او خپل کور والا د هغه اورنه بچ کړئ چه د هغے خشاک (به) خلق او ګټے وی

عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَاۤ

(مقرر دی) په هغے باندے | فرشتے | سخت خویه | ډیرے سختے | چه نافرمانی نه کوی هغوی | د الله | په هغه څه کښ
په هغے باندے دا سے سخت خویه او ډیرے سختے (مضبوطے) فرشتے مقرر دی چه د الله تعالی

اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه هغه حکم کړے وی هغوی ته | او کوی هغوی | هغه څه | چه حکم ے کولے شی هغوی ته | اے هغه کسانو چه کفر مو کړے دے
دیو حکم نافرمانی هم نه کوی او هم هغه څه کوی د څه چه ورته هغه حکم کوی | اے کافرانو!

لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٧ ع

بهانے (عذر) مه کوئ | نن ورځ | بیشکه | بدله درکولی شی تاسو ته | دهغه څه | چه تاسو به کول

نن بهانے (عُذرونه) مه (پیش) کوئ تاسو ته خوبس (صرف) د خپلو عملونو بدله (سزا) ملاویږی

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَصُوحًا ۖ عَسَىٰ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | توبه اوباسئ | الله ته | توبه | خالصه (رشتنے) | نزدے ده

اے مومنانو ! الله تعالی ته رشتنی توبه اوباسئ امید دے چه

رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ

چه رب ستاسو | لرے کړی | تاسونه | ګناهونه ستاسو | او داخل کړی تاسو | (هغه) جنتونو ته

ستاسو رب ستاسو ګناهونه معاف کړی او داسے جنتونو ته مو داخل کړی چه

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ

چه بهیږی (به) | لاندے دغے | نهرونه | په هغه ورځ | چه نه به رسوا کوی | الله | نبی

د هغے د لاندے (به) نهرونه بهیږی په هغه ورځ به الله پیغمبر

وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ ۖ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ

او هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | د دغه سره | رنړا دَدوی به | منډے وهی | وړاندے دَدوی نه

او چا چه د هغه سره ایمان راوړے دے نۀ رسوا کوی دَدوی رنړا به دَ دوی مخے ته

وَبِأَيْمَانِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ

اوښی طرف دَدوی ته | واۍ به دوی | اے زمونږ ربه | ته پوره کړه | زمونږ دپاره | زمونږ رنړا | اوبخښنه اوکړه

او دَدوی ښی طرف ته روانه وی (منډے به وهی) واۍ به چه اے زمونږ ربه زمونږ دپاره زمونږ رنړا پوره کړه

لَنَا ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝٨ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ

مونږ ته | بیشکه ته ئے | په هر ځیز | ځیز باندے | (پوره) قدرت لرونکے | اے نبیؐ !

او مونږ ته بخښنه اوکړه یقیناً ته په هر ځیز پوره قدرت لرے اے نبیؐ !

جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَاهُمْ

جهاد کوه | د کافرانو سره | او منافقانو سره | او سختی کوه | په هغوی باندے | او ځائے دَدوی

د کافرانو او منافقانو سره جهاد اوکړه او په دوی باندے سختی اوکړه او دَ دوی ځائے

جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ۝٩ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِلَّذِينَ

دوزخ دے | او ډیر بد | ځائے (دولړښتو) دے هغه | بیان کړے دے | الله | یَو مثال | د هغه کسانو

دوزخ دے او هغه ډیر بد ځائے دے الله تعالی د کافرانو دپاره

كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ؕ كَانَتَا تَحْتَ

چه کفر وکړے دے | د نبځے | د نوحؑ | او د نبځے | د لوطؑ | وے دا دواړه | لاندے په نکاح کښ

د نوحؑ د نبځے او د لوطؑ د نبځے مثال بیانوی (چه) دغه دواړه زمونږ د دوؤ نیکانو بندګانو په نکاح کښ وے

عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا

د دوه بندګانو | زمونږ د بندګانو نه | چه نیکان وو | نو هغے خواړو خیانت اوکړو د هغوی سره | نو هغوی دواړو لږے نه کړو

خو هغوی دواړو د هغوی سره خیانت اوکړو (بے وفائی اوکړه) نو هغوی دواړه

عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ

د هغے دواړو (نبځو) نه | د الله (د عذاب) نه | هیڅ څیز | او اووایل شو | (چه) دواړه داخلے شئ | اُور ته

د الله د عذاب په دفع کولو کښ د هغوی په هیڅ کار را نغلل او ورته اووایل شو چه نورو داخلیدونکو سره

مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ۝ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

د داخلیدونکو سره | او بیان کړے دے | الله | یو مثال | د هغه کسانو د پاره | چه ایمان یې راوړے دے

تاسو دواړه هم دوزخ ته داخلے شئ او د مومنانو د پاره الله د فرعون د نبځے مثال بیانوی

امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ

د نبځے | د فرعون | کله چه | اووایل هغے | اے زما ربه | ته جوړ کړه | زما د پاره | ستا په خوا کښ

کله چه هغے خپل رب ته اووایل چه اے زما ربه! زما د پاره د خپل ځان سره (په خوا کښ)

بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ

یو کور | په جنت کښ | او بچ کړه ما | د فرعون | او د هغه د عمل نه | او بچ کړه ما

په جنت کښ یو کور جوړ کړه او د فرعون او د هغه د عمل نه ما ته نجات را کړه

مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ

د قوم | ظالمانو نه | او د مریمؑ | لور | د عمران | هغه

او د ظالمانو خلقو نه هم ما ته نجات را کړه او (بل مثال الله) د عمران د لور مریمؑ (بیانوی) چه

اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَصَدَّقَتْ

چه بچ ساتلے وو هغے | عزت خپل | نو مونږ پوک اووهلو | په هغے کښ | د روح خپل نه | او تصدیق کړے وو هغے

د خپل عزت (نوم ناموس) حفاظت ئے کړے وو نو مونږ په هغے کښ خپل روح پوک کړو

بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ۝ ع

د خبرو | د رب خپل | او د کتابونو د هغهٗ | او وه هغه | د تابعدارو نه

او هغے د خپل رب د خبرو او د هغه د کتابونو تصدیق کړے وو او هغه په فرمانبردارو خلقو کښ شامله وه.

آیاتها[۳۰]	سورة المُلك مكّيّة	رکوعاتها[۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ۫ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ

ډیر برکت والا دے | هغه ذات | چه دهغه په لاس کښ | بادشاهی ده | او هغه | په هر یو | څیز باندے
هغه ذات چه د هغه په لاس کښ بادشاهی ده هغه ډیر برکت (لوئی شان) والا دے او هم هغه په هر یو څیز

قَدِیْرُ ۙ الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ

قادر دے | هغه ذات | چه پیدا کړی نه دے | مرګ | او ژوند | چه ازمینت او کړی په تاسو
قادر دے۔ (هم) هغه مرګ او ژوند ددے دپاره پیدا کړی دی چه تاسو او ازمائ

اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ۙ الَّذِیْ

چه کوم یو په تاسو کښ | زیات ښائسته دے | په عمل کښ | او هغه | ډیر غالب | ډیر بخښونکے دے | هغه ذات
چه په تاسو کښ څوک ښائسته عمل کوی او هغه ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے۔ هغه

خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ؕ مَا تَرٰى فِیْ خَلْقِ

چه پیدا کړی نه دی | اوه | آسمانونه | لاندے باندے | او به نه وینے ته | په پیدایښت
اوه آسمانونه لاندے باندے پیدا کړی دی ته به د رحمن په پیدایښت کښ

الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ ؕ فَارْجِعِ الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ۝

د رحمن کښ | هیڅ نقصان | نو او ګرځوه ته | نظر | آیا | ته وینے | څه چاودے
هیڅ فرق (نقصان) بیا نه مومے نو بار بار نظر واچوه آیا څه خلل درته ښکاری؟

ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا

بیا | واچوه | نظر | دوباره | واپس به هی | تاته | ستړے | ناکامه (عاجزه)
بیا بار بار نظر واچوه (نو) نظر به دے هر ځل تاته ناکام (ذلیله) ستومانه

وَّهُوَ حَسِيْرٌ ۝ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ

او هغه به | ستړے وی | او یقیناً | مونږ ښائسته کړے دے | آسمان | نزدے | په ډیوو سره
راواپس هی۔ او یقیناً مونږ نزدے آسمان (د ستورو) په ډیوو ښائسته کړے دے

وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ

او مونږ جوړ کړی دی هغه | ویشتونکی | د شیطانانو | او مونږ تیار کړے دے | دهغوی دپاره | عذاب
او دا مود شیطانانو د ویشتلو ذریعه هم جوړه کړے ده۔ او د هغوی دپاره مونږ دګرم (سور) اور

السَّعِيْرِ ۝ وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ؕ

د اُور کرمہ | او دھغه کسانو دپاره | چه کفر ئے کړے دے | په رب خپل | عَذاب | د دوزخ دے

عذاب تیار کړے دے. او چا چه د خپل رب نه انکار کړے دے د هغوی دپاره د دوزخ عذاب دے

وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا

او دیر بد | خلځ دے هغه | هر کله به | چه اوغور حُولی شی | په هغے کښ | نو دوی به واوری | د هغے | چغے (هنرار)

او هغه دیر بد ځائے دے. کله چه دوی هغے ته اوغور حُولے شی نو دوی به د هغے کړزار اوری

وَّهِيَ تَفُوْرُ ۝ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ؕ كُلَّمَآ اُلْقِيَ

او هغه به | جوش وهی | نزدے ده | چه اوبه چوی | د غصے نه | هر کله | چه اوغور حُولی شی

اوهغه به جوش وهی داسے به ښکاری چه د (دیرے) غصے دوے اوچُود وکله هم چه هغے ته (د کافرانو) یوه ډله اوغور حُولی شی

فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ ۝

په هغے کښ | یوه ډله | (نو) تپوس به کوی دهغوی نه | څوکیداران دهغے | (چه) آیا نه وو راغلے تاسو ته | څوک یروڼکے

نو دهغے محافظ (څوکیدارانے) فرشتے به ترے تپوس اوکړی چه ولے تاسو ته څوک خبردر کوونکے (یروڼکی) نه وو درغلی؟

قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۝ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا

وائی به دوی | ولے نه | یقیناً | راغلے وو مونږته | یروڼکے | پس مونږ دروغ اوګڼرلو (هغه) | او اوویل مونږ

هغوی به ورته وائی چه ولے نه وو راغلی خو مونږ هغوی دروغژن اوګڼرل او ورته مو اوویل

مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۚ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ

چه نه دے رالیږلے | الله | هیڅ یو څیز | نه یئ تاسو | مګر | په ګمراهۍ

چه الله تعالی هیڅ څه نه دی نازل کړی، تاسو خو دیر په لویه ګمراهۍ (غلطۍ) کښ پراته یئ

كَبِيْرٍ ۝ وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا

لویه کښ | اواوبه وائی دوی | که چرے | مونږ | اوریدلے | یا مونږ پوهیدلے | نو نه به وو مونږ

او دوی به اووائی چه که مونږ دا خبره اوریدلے وے یا مو دعقل نه کار اسختے وے نو (ښه)

فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ۚ فَسُحْقًا

په اُور والو کښ | پس اقرار اوکړو دوی | د ګناه خپلے | پس تباهی ده

په دوزخیانو کښ شامل نه وے بس (دغه شان) به دوی د خپلو جرمونو اعتراف اوکړی، پس په

لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ

د اُور والو دپاره | بیشکه | هغه کسان | چه یَرِیږی | د رب خپل نه | بے د لیدو

دوزخیانو دے د الله لعنت وی. (بل طرف ته) څوک چه بغیر د لیدو د خپل رب نه یریږی

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا

هغوی دپاره | بخښنه ده | او اجر (دے) | دیر لوے | او (که) تاسو پټه کړئ | وینا خپله | یا ښکاره کړئ تاسو

هغوی دپاره یقیناً مغفرت او دیر لوے اجر دے او تاسو که خپله خبره پټه کوئ یا ئے په زوره کوئ

بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ

هغه | بیشکه هغه | ښه پوهه دے | په راز (خبرو) | د سینو | آیا نه پوهیږی | هغه ذات

خو هغه د زړونو په خبرو خبردار دے. آیا هغه ذات نه پوهیږی چا چه

خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ۝ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ

چه پیدائش کړے دے | او هغه | ډیر باریک لیدونکے | ډیر خبردار دے | هم هغه ذات دے | چه جوړه کړے ئے | ستاسو د پاره

(مخلوق) پیدا کړے دے؟ او هغه خو ډیر باریک بین او (هر شیز نه) پوره خبردار دے هم الله هغه ذات دے

الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ

زمکه | تابع | نو کړئ | په طرفونو (لارو) د هغے کښ | او خورئ | د رزق د هغهٔ نه

چه زمکه ئے ستاسو د پاره نرمه (د استعمال قابله جوړه) کړے ده بس تاسو د ده لارو کښ گرځئ راگرځئ او د هغه رزق خورئ

وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ۝ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ

او خاص هغه ته | ورپاڅیدل دی | آیا په امن یئ تاسو | د هغه ذات نه | چه په آسمان کښ دے | چه ښخ (به) کړی

او د هغه طرف ته به بیا ژوندی ورځئ. آیا تاسو د دے خبرے نه بے خوفه (بے غمه) یئ چه کوم ذات په

بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ ۝ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ

تاسو لره | په زمکه کښ | نو ناگهانه به | هغه | خوزیږی | یا په امن یئ تاسو | د هغه ذات نه

آسمان کښ دے هغه مو په زمکه کښ ښخ کړی، نو دا (زمکه) به ناگهانه په لړزیدو شی. آیا تاسو د دے خبرے نه

فِي السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُوْنَ

چه په آسمان کښ دی | چه راولیږی | په تاسو باندے | د کانړو باران | نو زر ده چه تاسو به پوهه شئ

بے خوفه یئ چه کوم ذات په آسمان کښ دے هغه درباندے د کانړو باران راووروی؟ بیا به درته پته ولگی

كَيْفَ نَذِيْرِ ۝ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

چه څنگه دی | ویرول زما؟ | او یقیناً | دروغ گنړلی وو (پیغمبران) | هغه کسانو | چه مخکښے د دوی نه وو

چه زما یرول څنگه وو؟ او کوم خلق چه د دوی نه مخکښ وو هغوی هم (حق) دروغ گنړلے وو

فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ

نو څنگه | وو | عذاب زما | آیا دوی نه گوری | مارغانو ته | د پاسه د دوی

نو (او گوره چه) زما عذاب څنگه وو؟ آیا دوی د څان نه د بره مارغانو ته نه دی کتلی چه

صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ۛؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ؕ اِنَّهٗ

(چه) خوروونکی دی (د) وزرو | او بندوی (راټولوی) هغے لره | نه ټینگوی دوی لره | مگر | رحمٰن ذات | بیشکه هغه دے

وزرے ئے خورے کړی وی او راغوندوی ئے، دا د الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅ چا نه دی راټینگ کړی

بِكُلِّ شَيْءٍۭ بَصِيْرٌ ۝ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ

هر شیز | څیز | ښه لیدونکے | آیا څوک دے | هغه ذات | چه هغه | لښکر دے | ستاسو

یقیناً هغه هر څیز ښه وینی. آیا د رحمٰن ذات نه سوا بل څوک دی چه ستاسو لښکر شی

يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ۝٢٠

چه مدد او کړی ستاسو | سوا | د رحمٰن ذات نه | نه دی کافران | مګر | په دهوکه کښ

چه مدد مو او کړی ؟ کافران خو تش په دهوکه کښ پراته دی.

اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ؕ

آیا څوک دے | هغه ذات | چه رزق درکړی تاسو ته | که چرے | بند کړی هغه (الله) | رزق خپل

که الله تعالیٰ رزق بند کړی نو (آیا) بل څوک دی چه تاسو له رزق درکړی؟

بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ۝٢١ اَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا

بلکه | ورنتوتی دی دوی | په سرکشئ | او په نفرت کښ | آیا نو هغه څوک | چه کرځی | پرمخے

لیکن (دد ے باوجود هم) دوی په سرکشئ او په نفرت کښ کلک ورنتوتی (انخق) دی، آیا څوک چه پرمخے روان وی

عَلٰى وَجْهِهٖٓ اَهْدٰٓى اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ

په مخ خپل باندے | ښه لار موندونکے دے | یا هغه څوک | چه کرځی | برابر (نیغ) | په لاره

هغه په سمه لار دے؟ یا هغه څوک چه په سمه لار باندے برابر (نیغ) روان وی؟

مُّسْتَقِيْمٍ ۝٢٢ قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ

نیغه باندے | اووایه | چه هغه (الله) | هم هغه دے | چه پیدا کړی یئ تاسو | او جوړ کړی ئے دی | تاسو لره

(اے نبیٔ!) ورته اووایه چه الله هم هغه ذات دے چه تاسو یئ پیدا کړی یئ

السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝٢٣ قُلْ

غوږونه | او سترګے | او زړونه | ډیر لږ | تاسو شکر کوئ | اووایه

او غوږونه او سترګے او زړونه ئے درکړی دی (خو) تاسو ډیر لږ شکر کوئ، اووایه چه

هُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝٢٤

هغه (الله) | هغه دے | چه خواره کړی یئ تاسو | په زمکه کښ | او خاص هغه ته به | تاسو ورجمع کولی شئ

هم هغه ذات دے چه تاسو یئ په زمکه کښ خواره کړی یئ او هم هغه ته به (واپس) ورجمع کیږئ.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٢٥ قُلْ

او دوی وائی | چه کله به وی | دا | وعده | که چرے | یئ تاسو | رښتنی | اووایه

او دوی وائی چه که تاسو رښتنی یئ نو (راته اووایئ چه) دا وعده به کله پوره کیږی؟ ته ورته اووایه

اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٢٦ فَلَمَّا

بیشکه | علم | د الله سره دے | او بیشکه | زه (خو) یم | یَروونکے | ښکاره | بیا هرکله چه

چه د دے علم خو صرف د الله تعالیٰ سره دے او زه خو بس یو ښکاره یَروونکے یم. بیا هرکله چه

رَاَوْهُ زُلْفَةً سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقِيْلَ

اوویني دوی هغه (عذاب) | نزدے | نوتور (وران) به شی | مخونه | د هغه کسانو | چه کفر ے کړے دے | او اوبه ویلی شی

دوی اوویني چه قیامت خو نزدے راغے نو د کافرانو مخونه به وران شی او (ورته به) اووایلے شی

هٰذَا الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ۝ قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ

دادے | هغه څیز | چه تاسو دے لره غوښتلو | اووایه | آیا کتلی دی تاسو | که چرے

چه دا هغه څیز دے چه تاسو به غوښتلو (اے نبیؐ! دوی ته) اووایه چه (لږ دا راته اووایئ) که چرے

اَهْلَكَنِیَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِیَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ یُّجِیْرُ

هلاک کړی مالره | الله | اوهغه څوک | چه زما سره دی | یا هغه رحم اوکړی په مونږ باندے | نو څوک به | پناه ورکړی

الله ما او زما ملګری هلاک کړی یا په مونږ باندے رحم اوکړی نو کافران به

الْكٰفِرِیْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ۝ قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا

کافرانو ته | د عذاب | دردناک نه | اووایه | هغه | رحمٰن دے | مونږ ایمان راوړے دے

د دردناک عذاب نه څوک بچ کړی؟ اووایه چه هغه رحمن ذات دے مونږ هم په هغه ایمان راوړے دے

بِهٖ وَعَلَیْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ

په هغه باندے | او هم په هغهٔ | مونږ توکل کړے دے | پس زر ده چه اوبه پیژنئ تاسو | هغه څوک | چه دے هغه

او هم په هغه مو توکل کړے دے تاسو ته به ډیر زر پته اولګی چه په ښکاره

فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ۝ قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ

په ګمراهئ | ښکاره کښې | اووایه | آیا خبر ئ تاسو | که چرے | شی (صباله) | اوبه ستاسو

ګمراهئ کښې څوک مبتلا وو. ورته اووایه چه لږ سوچ اوکړئ چه که چرے ستاسو دا (د څکلو) اوبه

غَوْرًا فَمَنْ یَّاْتِیْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِیْنٍ۝

وچے | نو څوک دی | چه راوړی تاسو له | اوبه | روانے (چینه دارے)

لاندے لاړے شی (غالبے شی) نو څوک دی چه تاسو له د چینے اوبه راولی.

آیاتها [۵۲]	سورة القلم مكّيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا یَسْطُرُوْنَ۝ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ

ن | قسم دے په قلم | اوپه هغه څه | چه دوی (لیکی) لیکی | نه یې ته | په نعمت | د رب خپل

ن. د قلم او دوی چه څه لیکی دهغے قسم دے (چه اے نبیؐ!) د قرآن د بیان په وجه په تا لیونتوب نه دے راغلے

بِمَجْنُوْنٍ۝ وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَیْرَ مَمْنُوْنٍ۝ وَاِنَّكَ

لیونے | او بیشکه | ستا دپاره دے | خامخا اجر | نه ختمیدونکے | او بیشکه ته یې

او یقین اوکړه چه ستا دپاره (خو) نه ختمیدونکے (بے انتهاء) اجر دے او یقیناً ستا

لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ۝٤ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ۝٥ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ۝٦

خامخا په اخلاقو | لوی یو باندے | پس زړه اوبه وینے | او دوی یه (هم) اووینی | چه په کوم یو دستاسو باندے | لیونتوب دے

اخلاق دیر اوچت دی. پس دیر زر ته به (هم) اووینے او دوی به هم اووینی چه په تاسو کښ کوم یو لیونے دے

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۖ وَهُوَ

بیشکه | رب ستا | ښه پوهه دے | په هغه چا باندے | چه گمراه شوے دے | د هغهٔ د لارے نه | او هغه

یقیناً ستا رب هغه څوک هم ښه پیژنی څوک چه د هغه د لارے نه گمراه شوی دی او هغه څوک هم

اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝٧ فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝٨ وَدُّوْا لَوْ

ښه پوهه دے | په هدایت مومندونکو باندے | پس ته خبره مه منه | د دروغ گڼونکو | دوی غواړی | کاش چه

ښه پیژنی چه په سمه لار روان دی نو (اے نبیٰ!) ته (د حق) د دروغ گڼونکو خبره مهٔ منه. دوی خو دا غواړی

تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ ۝٩ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ ۝١٠

ته نرمی اوکړے | نو دوی به (هم) نرمی اوکړی | او ته خبره مه منه | د هر | قسم خورونکی | سپک (ذلیله) کس

چه ته نرمے شے په مسئله د توحید کښ نو دوی به هم نرمی شی (یا مخالفت نه کولو سره) او د دے هیڅ یو کس خبره مه منه چه دیر قسمونه

هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيْمٍ ۝١١ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ۝١٢

دیر عیب لګوونکی | دیر گرځیدونکی | په چغلی سره | دیر منع کوونکے | د خیر | د حد نه اوړیدونکی | دیر گناهګار

خوری او ذلیله دے عیب لګوونکے چغلی کوونکے د خیر نه منع کوونکے د حد نه اوړیدونکے (زیاتی کوونکے) بدعمله (گناهګار) دے

عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ ۝١٣ اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ۝١٤

بدخویه | پس د دے نه | بد اصله هم دے | څکه چه | هغه دے | د مال | او څامنو والا

بدخویه دے او د دے نه علاوه بد ذاته (هم) دے. صرف په دے وجه (د هغه خبره مه منه) چه دے مالدار دے او څامنے (زوے) دی

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٥

هر کله | چه لوستل شی | په ده باندے | آیتونه زمونږ | نو وائی | چه دا خو دروغ قصے دی | د پخوانو (وړومبنو)

کله چه ورته زمونږ آیتونه اولوستل شی نو وائی چه دا خو د پخوانو خلقو قصے دی

سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُوْمِ ۝١٦ اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ كَمَا

زړه چه مونږ به داغ اولګوو | په خرتم (پوزه) د ده باندے | بیشکه | مونږ ازمینبت کړے دے په دوی | لکه څنګه چه

مونږ به ورله دیر زر په پوزه داغ اولګوو. مونږ په دے مکے والو باندے هم دا سے ازمینبت کړے دے

بَلَوْنَآ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ۚ اِذْ اَقْسَمُوْا لَيَصْرِمُنَّهَا

مونږ ازمینبت کړے وو | په باغ والو باندے | کله چه | قسم اوکړو هغوی | چه خامخا پرې کوی به هغوی هغه (فصل)

لکه څنګه چه مو په باغ والو باندے هغه وخت ازمینبت کړے وو کله چه هغوی قسمونه اوخوړل

مُصْبِحِيْنَ ۝٢١ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ۝٢٢ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ

سحر وخق | او ان شاء الله ئے اونه ویله | پس راغے (دشمے) | په هغے باندے | یو راتلونکے) آفت

چه سحر وخق به (د دے باغ) میوے پرې کوی. او ان شاء الله ئے اونه ویله نو بس هغوی لا (دشمے) اوده وو

مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿١٩﴾ فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ ﴿٢٠﴾

ستا د رب د طرف نه | او هغوی | اوده وو | نو شو هغه | پشان د پریکړے شوی

چه ستا د رب د طرف نه په هغه باغ یو آفت د شپے شپے چکر اووهلو نو هغه (باغ) داسے شو لکه ریبلے شوے فصل

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِيْنَ ﴿٢١﴾ اَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

بیا آواز لوکړو هغوی یو بل ته | سحر وختی | چه سحر وختی لاړ شی تاسو | خپل فصل ته | که چرے ئے تاسو

بیا سحر وختی هغوی یو بل ته آواز ونه اوکړل چه که چرے میوے پریکوئ نو سحر وختی

صٰرِمِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا

(فصل) پریکوونکی | پس هغوی لاړل | او هغوی | دیو بل سره پټے پټے خبرے کولے | چه هیڅ نکاله داخل نه شی دے (فصل) ته

خپل پټی ته لاړ شئ پس هغوی روان شول او یو بل سره ئے پټے پټے دا خبرے کولے چه نن ورځ را نه

الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ ﴿٢٤﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿٢٥﴾

نن ورځ | په تاسو باندے | څوک مسکین | او هغوی سحر وختی لاړل | په تلوار سره (قصد کوونکی) | (چه خان) قادر (کنړونکی) وو

یو مسکین هم دے باغ ته رانشی او (بیا) په خپل قدرت غاوره په تیزئ سره سحر وختی باغ ته لاړل نو چه

فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ

پس هر کله | چه هغوی اولیدلو هغه (فصل) | نو وئ ویل | چه بیشکه | مونږ خو هیروونکی دلارئ یو | (نه) بلکه | مونږ خو

کله ئے هغه باغ اولیدو نو (یو بل ته) ئے اوویل چه مونږ لاره هیره کړے ده. (بیا لږ ساعت پس ئے اوویل چه) نه بلکه مونږ

مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿٢٨﴾

محرومه کړے شوی یو | اووایل | مینځنی (هوښیار) هغوی | آیا نه وے ما | تاسو ته | چه ولے پاکنه کوئ تاسو الله

خو بے نصیبه یو. په هغوی کښ چه کوم بنه سړے وو هغه (ورته) اووایل آیا ما تاسو ته نه وو ویلی چه تاسو د الله تسبیح وے

قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ

اووایل هغوی | پاک دے | رب زمونږ | بیشکه | مونږ یو | ظالمان | پس را مخامخ شول | بعضے د هغوی

نه کوئ؟ هغوی اووایل چه زمونږ رب پاک دے (مونږ اوس) د خپل رب تسبیح وایو. یقیناً مونږ ظالمان وو. بیا یو بل ته

عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا

بعضو ته (یو بل ته) | چه یو بل ئے ملامته کول | او ویل هغوی | اے هلاکته زمونږ | بیشکه | مونږ وو

متوجه شول چه یو بل ئے ملامته کولو. (او) وے ویل چه افسوس دے په مونږ باندے. یقیناً مونږ

طٰغِيْنَ ﴿٣١﴾ عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ

د حد نه اوړیدونکی | امید دے | چه زمونږ رب | په بدله کښ را کړی مونږ ته | ډیر بنه | ددے نه | بیشکه مونږ

د حد نه اوړیدلی وو مونږ امید لرو چه زمونږ رب مونږ ته ددے په بدله کښ بهتر (بنه) باغ را کړی.

اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ ﴿٣٢﴾ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

خپل رب ته | رغبت کوونکی یو | دغه شان | عذاب وی | او خامخا عذاب | د آخرت

یقیناً مونږ خپل رب ته رجوع کوو. عذاب هم دغه شان وی. او د آخرت عذاب خو (یقیناً)

اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ

دیر لوے دے | کاش | چه دوی | پوهیدلے | بیشکه | د متقیانو دپاره | د خپل رب سره

دیر لوے دے. کاش که دا خلق پوهیدلے. یقیناً د متقیانو دپاره د خپل رب سره

جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ۝

جنتونه | د نعمتونو دی | آیا نو مونږ (به) کړو | مسلمانان | پشان د مجرمانو

د نعمتونو (نه ډک) باغونه دی. آیا مونږ مسلمانان د مجرمانو پشان (محرومه) کړو؟

مَا لَكُمْ ۪ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۝ اَمْ لَكُمْ كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ۝

څه شوی دی په تاسو | څنګه | فیصله کوئ تاسو؟ | آیا شته تاسو سره | دا سے یو کتاب | چه په هغے کښ | تاسو لوستل کوئ

په تاسو څه شوی دی؟ دا څنګه فیصلے کوئ تاسو آیا تاسو سره دا سے یو کتاب دے چه په هغے کښ تاسو دا لوئ

اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ۝ اَمْ لَكُمْ اَيْمَانٌ

(چه) بیشکه | ستاسو دپاره دی | په هغے کښ | هغه څه | چه تاسو ئے خوښوئ | آیا شته ستاسو دپاره | څه قسمونه

چه تاسو ته به هلته هر هغه څه (شفاعتِ شرکیه) ملاویږی چه تاسو ئے خوښوئ؟ یا تاسو زمونږ نه

عَلَيْنَا بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ اِنَّ لَكُمْ لَمَا

په مونږ باندے | رسیدونکی | تر ورځے | د قیامت پورے | چه بیشکه | (وی به) ستاسو دپاره | هغه څه

تر قیامته پورے باقی پاتے کیدونکی قسمونه احستلی دی چه تاسو ته به هر هغه څه ملاویږی چه تاسو ئے فیصله کوئ؟

تَحْكُمُوْنَ ۝ سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ۝ اَمْ لَهُمْ

چه تاسو ئے فیصله کوئ | تاسو پوښتنه او کړه ددوی نه | چه کوم یو په ددوی کښ | د دے (خبرے) | ذمه دار دے | آیا دی ددوی دپاره

(اے نبی!) د ددوی نه تپوس او کړه چه په ددوی کښ څوک دی چه د دے خبرے ذمه داری ئے احستے وی؟ آیا د ددوی

شُرَكَآءُ ۚ فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ۝ يَوْمَ

شریکان؟ | پس راوړی دوی | شریکان خپل | که چرے | وی دوی | رشتنی | په هغه ورځ

شریکان (د دے خبرے ذمه دار) دی؟ که دوی رشتنی وی نو خپل شریکان دے راولی؟ په کومه ورځ به

يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّيُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝

چاڼر مے به کړے شی | (پرده) د پنډئ نه | اوراوبه ښلے شی دوی | سجدے (کولو) ته | پس دوی به طاقت نه لری

چه پنډئ (ساق) بر بنډ کړے شی، او دوی به سجدے ته راوبللی شی نو دوی به سجده نشی کولے

خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ

کوزے به وی | ستر گے د ددوی | خوریږی په ددوی باندے | ذلت | او یقیناً | دوی به | راوبللی شو

ستر گے به ئے تیتے وی (او) ذلت به پرے راخور وی (حالانکه) دوی به هغه وخت هم

اِلَى السُّجُوْدِ وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ۝ فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ

سجدے ته (په دنیا کښ) | او دوی | روغ رمټ وو | پس پرېږده ما | او هغه څوک | چه دروغ ګڼری

سجدے ته راوبللی شو کله چه دوی روغ رمټ وو. پس څوک چه دا کلام دروغ ګڼری

بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ؕ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ﴿۴۴﴾

دا | خبرہ | زرہ چہ مونږ یہ ورورو راکړو دی | پہ دا سے طریقہ | چہ دوی بہ پرے نہ پوهیږی

هغہ ما تہ پریږدہ مونږ یہ دوی پہ دمہ دمہ پہ دا سے طریقہ راولیسو چہ دوی تہ بہ پتہ هم اونہ لگی

وَاُمْلِيْ لَهُمْ ؕ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿۴۵﴾ اَمْ تَسْئَلُهُمْ اَجْرًا

اوږہ مهلت ورکوم | دوی تہ | بیشکہ | زما تدبیر (ډنیولو) | ډیر مضبوط دے | آیا تہ غواړے د دوی نہ | څہ بدلہ

اوږہ دوی لہ مهلت ورکوم، یقیناً زما تدبیر (ډنیولو) ډیر مضبوط دے آیا (ولے) تہ د دوی نہ څہ اجرت غواړے

فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۶﴾ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ

نو دوی | د تاوان نہ | درانہ (شوی) دی | آیا دوی سرہ | غیب دے | نو دوی

چہ دوی د هغے د تاوان (بوج) لاندے درانہ (عاجزہ) دی یا دوی سرہ د غیبو علم دے چہ دوی

يَكْتُبُوْنَ ﴿۴۷﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوْتِ ۘ

لیکل کوی د هغے نہ | پس تہ صبر کوہ | فیصلے | د رب خپل تہ | اومہ کیږہ تہ | پہ شان د مچھی والا

غرض دا چہ تہ د خپل رب حکم (فیصلے) تہ صبر کوہ او د مچھی والا پشان مہ کیږہ،

اِذْ نَادٰى وَهُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿۴۸﴾ لَوْلَاۤ اَنْ تَدٰرَكَهٗ نِعْمَةٌ

کلہ چہ | آواز اوکړو هغہ | او هغہ وو | غمژن | کہ چرے نہ وے | رسیدلے هغہ تہ | نعمت

کلہ چہ هغہ د غم حالت کښ (خپل رب تہ) آواز اوکړو کہ چرے هغہ د خپل رب فضل (اجابت د دُعا) نہ وے

مِّنْ رَّبِّهٖ لَنُبِذَ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ مَذْمُوْمٌ ﴿۴۹﴾ فَاجْتَبٰىهُ

د طرفہ د رب خپل نہ | نو خامخا بہ غورځولے شوے وو | پہ بیاکہ (میدان) | اودے بہ وے | بَد حالہ | پس غوره کړو هغہ لره

راتپینګ کړے نو پہ بد حالت کښ بہ پہ یو بیاک میدان غورځولے شوے وو بیا هغہ خپل رب غوره کړو

رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۵۰﴾ وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ

رب خپل | پس کړو ئے هغہ | د نیکانو نہ | او بیشکہ | نزدے دی | هغہ کسان

او پہ نیکانو کښ ئے شامل کړو. او کافران چہ کلہ د نصیحت خبرہ واوری

كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ

چہ کفر ئے کړے دے | چہ اور سوی تاکہ مصیبت | پہ نظرونو خپلو | کلہ چہ | دوی واوریدو | قرآن (نصیحت)

نو داسے بښکاری چہ تا پہ خپلو (تیزو) نظرونو اوخوږوی

وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۵۱﴾ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۵۲﴾ ع

او وائی دوی | (چہ) بیشکہ دا | (خو) خامخا لیونے دے | اولہ دے دا (قرآن) | مگر | یو نصیحت | د ټولو جهانونو دپارہ

او وائی چہ دا خو لیونے دے حالانکہ دا خو د ټولو جهانونو دپارہ یو نصیحت دے

آیاتها [۵۲]	سورة الحآقه مکّیّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْحَآقَّةُ ۙ﴿۱﴾ مَا الْحَآقَّةُ ۚ﴿۲﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ ؕ﴿۳﴾ كَذَّبَتْ

یقینی راتلونکے | څه دے هغه یقینی راتلونکے | اوڅه پوهه کړے ته | چه څه دے هغه یقینی راتلونکے (آفت) | دروغ وو
هغه حقیقت او آفت چه (ضرور) راتلونکے دے څه دی هغه حقیقت چه (ضرور) راتلونکے دے؟ او تا ته څه پته ده چه هغه آفت څه (څین) دے

ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ بِالْقَارِعَةِ ۚ﴿۴﴾ فَاَمَّا ثَمُوْدُ فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ۚ﴿۵﴾

ثمودیانو | او عادیانو | ټکوونکے دزړونو | پس هر چه ثمودیان وو | نو هغوی هلاک کړے شول | په (یوه سخته) چغه
چه (ضرور) راتلونکے دے ثمودیانو او عادیانو دغه دزړونو ټکوونکے حقیقت دروغ وګڼلے وو نو ثمودیان خو په یوه سخته چغه تباه کړی شو

وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوْا بِرِيْحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ۙ﴿۶﴾ سَخَّرَهَا

او هر چه عادیان وو | نو هغوی هلاک کړے شول | په سیلۍ | ډیرے سختے | دحدنه لوړیدونکے (سره) | مقرر کړے وه الله هغه سیلۍ
او عادیان (خو) په داسے سختے (تیزے) سیلۍ تباه کړے شو چه الله تعالیٰ هغه (سیلۍ) په دوی باندے

عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ ۙ حُسُوْمًا ۙ فَتَرَى الْقَوْمَ

په هغوی باندے | اوه | شپے | او اته | ورځے | پرله پسے | پس لیدلو به تا | قوم
اوه شپے او اته ورځے پرله پسے اوچلوله، پس (که ته هلته وے نو) تا به لیدلے چه هغه خلق هلته

فِيْهَا صَرْعٰى ۙ كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۚ﴿۷﴾ فَهَلْ تَرٰى

په هغے کښ | پرمخے پراته | لکه چه دوی | تنے | د قجورو | راپریوتلے دی | نو آیا | ته وینے
دا سے (مړه) پراته وو لکه د غور ځیدلی شوو قجورو ډډے تنے نو آیا (اوس) تا ته په هغوی کښ

لَهُمْ مِّنْۢ بَاقِيَةٍ ۚ﴿۸﴾ وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ

دهغوی نه | څوک پاتے شوی | او راغلے وو | فرعون | او هغه څوک | چه مخکښے دهغۀ نه وو
څوک باقی پاتی شوی په نظر راځی؟ او فرعون او دهغه مخکښے نورو خلقو

وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ۚ﴿۹﴾ فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ فَاَخَذَهُمْ

او الته شوی کلو والا | په (لویه) ګناه سره | پس نافرمانی کړے وه هغوی | د پیغمبر | د څپل رب | نو راونیول هغه دوی لره
او د الته اړولے شوو کلو (خلقو) هم (دغه شان) لوے جرم کړے وو (چه) هغوی د څپل رب د پیغمبر نافرمانی کړے وه

اَخْذَةً رَّابِيَةً ۚ﴿۱۰﴾ اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ حَمَلْنٰكُمْ

په نیولو | سخته سره | بیشکه مونږ | هر کله چه | (د حد نه) تیرے شوے | او به | سواره کړئ تاسو
نو الله تعالیٰ په ډیر سخته نیولو سره راونیول، کله چه اوبه د حد نه زیاتے شوے نو مونږ تاسو

فِی الْجَارِیَةِ ﴿۱۱﴾ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّتَعِیَهَآ اُذُنٌ

په (روانه) کشتۍ کښ | دے دپاره چه مونږ کړو هغه | ستاسو دپاره | نصیحت | اویاد اوساتی هغے لره | غوږونه

په یوه جاری کشتۍ کښ سواره کړئ، (دے دپاره) چه مونږ دا واقعه ستاسو دپاره یادگار (نصیحت) جوړ کړو

وَّاعِیَةٌ ﴿۱۲﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِی الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾

یاد ساتونکی | پس هرکله | چه پوکے اووهلے شی | په شپیلۍ کښ | پوکے | یو ځل

او یادوونکی غوږونه ئے یاده اوساتی. بیا چه کله یو ځل په شپیلۍ کښ پوک اووهلے شی

وَّحُمِلَتِ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ﴿۱۴﴾

اوراوچته کړے شی | زمکه | او غرونه | نو اوبه تکولی شی دواړه | په تکولو | یو ځل سره

او زمکه او غرونه اوچت کړے شی نو دواړه به په یو ځل ذره ذره کړے شی

فَیَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱۵﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِیَ

پس په دغه ورځ به | واقع شی | واقع کیدونکے (آفت) | او اوبه چوی | آسمان | نو هغه به

نو په دغه ورځ به واقع کیدونکی شیز واقع شی او آسمان به اوچوی او هغه به

یَوْمَئِذٍ وَّاهِیَةٌ ﴿۱۶﴾ وَّالْمَلَكُ عَلٰۤی اَرْجَآىِٕهَا ؕ وَیَحْمِلُ عَرْشَ

په دغه ورځ | کمزورے وی | او فرشتے به | دهغے په غاړو (وی) | او اوچتوی به | عرش

په دغه ورځ ډیر کمزورے وی او فرشتے به د هغے په غاړو باندے وی او ستا د رب عرش به

رَبِّكَ فَوْقَهُمْ یَوْمَئِذٍ ثَمٰنِیَةٌ ؕ ﴿۱۷﴾ یَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ

د رب ستا | د پاسه ځدوی | په دغه ورځ | اته (فرشتے) | په دغه ورځ | وراندے کولے به شی تاسو

په هغه ورځ اته فرشتو ځدوی د پاسه اوچت کړے وی، په هغه ورځ به تاسو (دا سے) حساب ته پیش کړے شئ

لَا تَخْفٰی مِنْكُمْ خَافِیَةٌ ﴿۱۸﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَهٗ

نه به شی پټیدے | ستاسو نه | هیڅ پټیدونکے نفس | پس هغه څوک | چه ورکړے شی هغه ته | عملنامه د هغهٔ

چه ستاسو هیڅ یو شیز به نشی پټیدے بیا چا ته چه خپله عملنامه په ښی لاس ورکړے شی

بِیَمِیْنِهٖ ۙ فَیَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِیَهْ ﴿۱۹﴾ اِنِّیْ ظَنَنْتُ

په ښی لاس خپل سره | نو وائی به هغه | راشئ | اولولئ | عملنامه زما | بیشکه | ما یقین کولو

نو هغه به وائی چه (اے خلقو) راشئ زما عملنامه اولولئ، زما یقین وو چه زهٔ به

اَنِّیْ مُلٰقٍ حِسَابِیَهْ ﴿۲۰﴾ فَهُوَ فِیْ عِیْشَةٍ رَّاضِیَةٍ ﴿۲۱﴾

چه زه | مخامخ کیدونکے یم | د خپل حساب سره | پس هغه به وی | په | ژوند | خوشحاله کښ

د خپل حساب کتاب سره مخامخ کیږم نو (بس) هغه به په خوشحاله (د مزو په) ژوند کښ اوسیږی

فِیْ جَنَّةٍ عَالِیَةٍ ﴿۲۲﴾ قُطُوْفُهَا دَانِیَةٌ ﴿۲۳﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

په | جنت | اوچت کښ | میوے د هغے به | نزدے وی | خورئ | او څکئ

په هغه اوچت جنت کښ (به وی) چه د هغے میوے به نزدے (لاندے تښتے) وی (ورته به اووئیلے شی چه)

هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾ وَاَمَّا مَنْ

په خوشحالۍ سره | په سبب د هغه شي | چه تاسو (مخکښ) لږلې دي | په ورځو | تيرو شوو کښ | او هغه څوک

د خپلو هغه عملونو په بدله کښ ښه په مزو (په خوشحالۍ) خوړئ څکئ چه تاسو په تيرو ورځو کښ کړي دي

اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ

چه ورکړے شو هغه ته | عملنامه د هغۀ | په کس لاس خپل سره | نو هغه به وائي | هائے ارمان

او چا ته چه خپله عملنامه په کس لاس ورکړے شي نو هغه به وائي اے کاش چه

لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يٰلَيْتَهَا

چه نه وے ما ته ورکړے شوے ما ته | عملنامه زما | او نۀ پوهيدلے زه | چه څه دے | حساب زما؟ | اے کاش

ما ته زما عملنامه نه وے راکړے شوے او ما ته هم پته نه وے چه زما حساب کتاب (لا) څه شے دے؟

كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّيْ

چه وے دا مرګ | ختمونکے | په کار رانغے | مالره | مال زما | برباد شو | زما نه

اے کاش چه مرګ زما کار (قصه) ختمه کړے وے زما مال خو زما هيڅ په کار رانغے زما زور (هم)

سُلْطٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾ خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ

حکومت (زور) زما | اونيسئ دا | پس څټ ته ورله طوق واچوئ | بيا | په دوزخ کښ | ورننباسئ دۀ لره | بيا

لاړو ختم شو (حکم به اوشي چه) دا راونيسئ او غاړه کښ ئے پټئ (زنځير) واچوئ بيا ئے دوزخ ته داخل کړئ

فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿٣٢﴾ اِنَّهٗ

په هغه زنځير کښ | چه د هغے اوږدوالے | اويا | گزه دے | اوترئ دۀ لره | بيشکه دے

بيا ئے په داسے زنځير کښ اوترئ چه اوږدوالے ئے اويا گزه دے يقيناً

كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ

وو | چه ايمان ئے نه لرلو | په الله | ډير لوے باندے | اونۀ ئے تيزول (خلق) | په خوراک (ورکولو)

نه خو ده په هغه لوے الله ايمان لرلو او نۀ ئے غريب (محتاج) ته د خوراک ورکولو

الْمِسْكِيْنِ ﴿٣٤﴾ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿٣٥﴾ وَّلَا طَعَامٌ

مسکين ته | پس نشته | دده دپاره | نن ورځ | دلته | څوک دوست | او نه څه خوراک

ترغيب ورکولو. نو نه خو نن دلته دده هيڅ څوک دوست شته او نۀ د خوراک څه شيز

اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَاْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِـُٔوْنَ ﴿٣٧﴾ فَلَآ اُقْسِمُ

سوا | د وينو زوو نه | (چه) نه به خوري هغه | مګر | ګناهګاران | پس دا سے نۀ دۀ زه قسم کوم

سوا د غسلين (وينو زوو) چه د ګناهګارو نه سوا به ئے بل څوک نه خوري، اوس زۀ قسم کوم

بِمَا تُبْصِرُوْنَ ۙ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ ۙ﴿٣٩﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ

په هغه څه | چه تاسو ئے وینئ | اوپه هغه څه | چه تاسو ئے نه وینئ | بیشکه دا (قرآن) | خامخا ویناده | دیو رسول

دهغه څه هم چه تاسو ئے وینئ اودهغه څه هم چه تاسو ئے نه وینئ (یعنی دټولو محسوساتو اومغیباتو قسم کوم)، چه یقیناً

كَرِيْمٍ ۙ﴿٤٠﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ

عزتمند | او نهٔ ده دا | وینا | دیو شاعر | دیر لږ | تاسو ایمان راوړئ | او نه ده وینا

دا قرآن دیو عزتمند رسول راوړلے کلام دے. او دا د شاعر کلام نه دے (خو) تاسو دیر لږ ایمان راوړئ. او نهٔ دا د یو

كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ؕ﴿٤٢﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ﴿٤٣﴾

د کاهن (ده) | دیر لږ | تاسو نصیحت اخلئ | راالیږلی شوے دے | د طرفه د رب | د ټولو جهانونو نه

کاهن کلام دے (خو) تاسو دیر لږ نصیحت (سبق) اخلئ. (دا خو) د ټولو جهانونو د رب د طرف نه نازل شوے دے

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ ۙ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا مِنْهُ

اوکه چرے | ده ترلی وے | په مونږ باندے | بعضے | (دروغ) خبرے | نو مونږ به خامخا نیولے وو | د ده نه

اوکه (بالفرض) دے پیغمبر په مونږ باندے څه دروغ خبرے جوړے کړے وے نو مونږ به د ده

بِالْيَمِيْنِ ۙ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ۚ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنْكُمْ

ښے لاس | بیا به | خامخا مونږ پرے کړے وو | د ده | رګ دزړه (شه رګ) | پس نه به ووستاسو نه

ښے لاس نیولے وو (او) بیا به موتړے د زړهٔ رګ پرے کړے وو نو بیا به په تاسو کښ

مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ

هیڅ څوک | د ده لره | بچ کوونکے | او بیشکه دا (قرآن) | خامخا نصیحت دے

هیڅ څوک دا سے نه ووچه مونږ ئے د دې (کار) نه منع کړے وے اوبیقین اوکړئ چه دا د متقیانو دپاره یو نصیحت دے

لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾

د متقیانو دپاره | اوبیشکه مونږ | خامخا پوهیږو | چه بیشکه | ستاسو نه | دروغ ګڼونکی دی

او مونږ ته ښه پته ده چه په تاسو کښ دروغ ګڼونکی خلق هم دی

وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنَّهٗ لَحَقُّ

اوبیشکه دا | خامخا افسوس دے | په کافرانو | او بیشکه دا | خامخا حق دے

او یقیناً دا (قرآن) د کافرانو دپاره د حسرت سبب دے او یقیناً دا بلکل

الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٥٢﴾ ع

یقینی | پس پاکی وایه | د نوم | د رب خپل | دیر لوے

یقینی حق دے نو (پس) ته د خپل لوے رب د نوم پاکی وایه۔

آیاتها [۴۴]	سورة المعارج مكّيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۙ﴿۱﴾ لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ

اوغوښتلو | یو غوښتونکی | عذاب | واقع کیدونکے | په کافرانو | نشته دے | دهغے

یو غوښتونکی هغه عذاب اوغوښتلو چه په کافرانو راتلونکے دے (او) هیڅ شوک د هغے

دَافِعٌ ۙ﴿۲﴾ مِّنَ اللّٰهِ ذِی الْمَعَارِجِ ؕ﴿۳﴾ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ

هیڅ شوک لرے کوونکے | د الله د طرف نه | چه آسمانونو والا دے | (پرته) خیژی | فرشتے

دفع کوونکے نشته۔ هغه په د هغه الله د طرف نه راځی چه هغه د آسمانونو مالک دے فرشتے

وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِیْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ

او روح | هغه ته | په (دا سے) ورځ کښ | چه دے | مقدار د هغے | پنځوس | زره

او روح القدس د هغه طرف ته په دا سے ورځ کښ خیژی چه د هغے مقدار پنځوس زره

سَنَةٍ ۚ﴿۴﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ۘ﴿۵﴾ اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ۙ﴿۶﴾

کاله | پس ته صبر کوه | صَبر | ښائسته | بیشکه دوی | وینی هغه | لرے

کاله دے (ورځ د قیامت) نو (اے نبی!) ته په ډیره ښه طریقه صبر کوه دا خلق (خو) هغه (عذاب) لرے ګڼری

وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ؕ﴿۷﴾ يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ ۙ﴿۸﴾ وَتَكُوْنُ

اووینو موږ هغه | نزدے | په هغه ورځ | چه شی به | آسمان | په شان د ویلی شوے تانبے | او شی به

او موږ ئے نزدے وینو (دا عذاب به) په هغه ورځ (وی) چه آسمان به د ویلی شوے تانبے په شان شی

الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ۙ﴿۹﴾ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيْمٌ حَمِيْمًا ۚ﴿۱۰﴾ يُّبَصَّرُوْنَهُمْ ؕ

غرونه | په شان د رنګدارے وړئ | او تپوس به نه کوی | یو دوست | د بل دوست (نه) | ښودلی کیږی په دوی یو بل ته

او غرونه به د رنګینی وړئ په شان شی او هیڅ یو دوست به د بل دوست تپوس نه کوی حالانکه یو بل به ورته ښودلے شی

يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِیْ مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۭ بِبَنِيْهِ ۙ﴿۱۱﴾

غواړی به | مجرم | کاش | چه دے فدیه کښ ورکړی | د عَذاب | د دے ورځے نه | خامن خپل

مجرم به دا غواړی چه د هغه ورځے د عذاب نه د خلاصی د پاره خپل خامن په فدیه کښ ورکړی

وَصَاحِبَتِهٖ وَاَخِيْهِ ۙ﴿۱۲﴾ وَفَصِيْلَتِهِ الَّتِیْ تُـْٔوِيْهِ ۙ﴿۱۳﴾ وَمَنْ

او ښځه خپله | او ورور خپل | او خاندان خپل | هغه | چه پناه ورکوی ده ته | او هغه شوک

او خپله ښځه او خپل ورور او خپل هغه خاندان چه ده ته به ئے پناه ورکوله او د زمکے

فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ ثُمَّ يُنْجِيْهِ ۙ﴿١٤﴾ كَلَّا ؕ اِنَّهَا لَظٰى ۙ﴿١٥﴾

چه په زمکه کښ دی | ټول | بیا | بچ کړی خپل ځان | هیڅ کله نۀ | بیشکه هغه (خو) | اګر لمبیدی

ټول اوسیدونکی خلق (په فدیه کښ ور کړی) بیا خپل ځان خلاص کړی. لیکن داسے هر ګز نشی کیدی یقیناً هغه خو داسے

نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ۚ﴿١٦﴾ تَدْعُوْا مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰى ۙ﴿١٧﴾

راویستونکے دے | څرمنولره | آواز به کوی | هغه چاته | چه شاه کړے ځده | اومخ ځاړولے دے

(دګرمولمبو) اور دے چه څرمن به راوباسی هر هغه چاته به آواز کوی چه هغه شا کړے وه او مخ ځاړولے وو (دعمل نه)

وَجَمَعَ فَاَوْعٰى ﴿١٨﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا ۙ﴿١٩﴾

او(مال) ټول کړے دے | بیا ئے محفوظ کړے دے | بیشکه | انسان | پیدا کړے شوے دے | ډیر حرصناک

او مال ئے ټول کړے وو او بیا ئے پاڼو خو کښ سنبال کړے وو حقیقت دادے چه انسان ډیر بے صبره حرصناک پیدا کړے شوے دے

اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا ۙ﴿٢٠﴾ وَّاِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا ۙ﴿٢١﴾

کله چه | اوسیږی حالته | تکلیف | (نو) ډیر فریاد کوونکے دے | اوکله چه | اوسیږی حالته | خیر (فائده) | (نو) ډیر منع کوونکے دے

کله (هم) چه ورته څه تکلیف اوسی نو ډیر فریاد ونه کوی (پریږدی) اوکله چه پرے خوشحالی راشی نو بیا بخیل هم

اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ ۙ﴿٢٢﴾ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ۙ﴿٢٣﴾

سوا | د مونځ ګذارونه | هغه کسان | چه هغوی | په مونځونو خپلو باندے | همیشوالے کوی

مګر هغه مونځ ګذار دا سے نه دی کوم چه خپل مونځونه همیشه ادا کوی

وَالَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ۙ﴿٢٤﴾ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ۙ﴿٢٥﴾

اوهغه کسان | چه په مالونو دهغوی کښ | حصه ده | معلومه (مقرره) | د پاره د غوښتونکی | اوبے نوا (بے نصیبه)

او د چا په مالونو کښ چه یو معلوم (مقرر) حق دے د سوال کوونکو (هم) او د نه سوال کوونکو (هم).

وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۙ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ

اوهغه کسان | چه تصدیق کوی | د ورځے | د جزاء | او هغه کسان | چه هغوی | د عذاب

او کوم چه د قیامت د ورځے تصدیق کوی او د خپل

رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ۚ﴿٢٧﴾ اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ۚ﴿٢٨﴾

درب خپل نه | یَرِیدونکی وی | بیشکه | عذاب | درب د دوی | بے خطره نه دے

رب د عذاب نه یَرِیږی ۔ یقیناً د هغوی د رب عذاب د نۀ یَرِیدو شیز نه دے ۔

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۙ﴿٢٩﴾ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ

او هغه کسان | چه هغوی | د خپلو شرمګاهونو | حفاظت کوونکی دی | مګر | په بیبیانو خپلو باندے

او کوم چه د خپلو شرمګاهونو (د حرامو نه) حفاظت کوی سوا د خپلو بښځو

اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۚ﴿٣٠﴾ فَمَنِ

او په هغه چا باندے | چه مالکان (ښځی) | شے (اس) دَدوی | پس بیشکه دوی | نه دی ملامته کړے شوی | پس چا چه

او د خپلو ویښزو نه ځکه چه په دا سے خلقو هیڅ ملامتیا نشته البته کوم خلق چه

ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ

ولټولو | سوا | ددے نه | نو دغه خلق | دوی دی | د حد نه اوړیدونکی | اوهغه کسان | چه هغوی
ددے نه علاوه بله طریقه اختیاروی نو هغوی د حد نه اوړیدلی خلق دی او کوم چه

لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ

دامانتونو خپلو | او دوعدو خپلو | خیال ساتونکی دی | اوهغه کسان | چه هغوی | په گواهو خپلو باندے
دخپلو امانتونو اودخپلو وعدو خیال ساتی او کوم خلق چه خپلے گواهۍ په صحیح طریقه

قَآئِمُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ

ولاړ (قائم) وی | اوهغه کسان | چه هغوی | د مونځونو خپلو | حفاظت کوی | هم دغه خلق
اداء کوی او کوم خلق چه د خپلو مونځونو پوره حفاظت کوی . هم دغه خلق به

فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ۝ فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا قِبَلَكَ

په جنتونو کښ به | عزتمند وی | پس څهٔ وجه ده | هغه کسانو لره | چه کفر ئے کړے دے | چه ستا طرف ته
په جنتونو کښ په عزت سره اوسیږی. (اے نبیؐ!) په دے کافرانو باندے څه شوی دی چه ستا طرف ته

مُهْطِعِيْنَ ۝ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِيْنَ ۝ اَيَطْمَعُ

راوغلی | د ښی طرف نه | او د کس طرف نه | ډلے ډلے | آیا طمع کوی
منډے وهی ـ د ښی او د کس طرف نه ډلے ډلے کیدونکی دی آیا په دوی کښ

كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيْمٍ ۝ كَلَّا ؕ

هر یو | سړے | د دوی نه | داچه | داخل به کړے شی | جنت | د نعمتونو ته | هیڅکله نشی کیدے
هر یو کس دا طمع لری چه هغه به د نعمتونو جنت ته داخل کړے شی. هیڅ کله دا سے نشی کیدے

اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ۝ فَلَآ اُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ

بیشکه مونږ | پیدا کړی دی دوی | دهغه څه نه | چه دوی پوهیږی | پس زه قسم کوم | په رب | د مشرقونو
یقیناً مونږ دوی د دا سے څیز نه پیدا کړی دی چه دوی ئے پخپله (هم) پیژنی. (اوس) زه د مشرقونو

وَالْمَغٰرِبِ اِنَّا لَقٰدِرُوْنَ ۝ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ

او د مغربونو | بیشکه مونږ | خامخا قدرت لرونکی یُو | په دے چه | مونږ بدل کښ راولو | غوره | د دوی نه
او د مغربونو د مالک قسم کوم چه یقیناً مونږ په دے خبره قادر یو چه د دوی په ځای د دوی نه ښه خلق (اطاعت کوونکی) راولو

وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ۝ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى

او نه یُو مونږ | کمزوری کړے شوی | پس پریږده دوی | چه مشغولیږی | او لوبے کوی | تر دے چه
او مونږ عاجزه نه یو. پس ته دوی پریږده چه په باطل کښ مشغوله وی او لوبے تو ئے کوی تر دے

يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ۝ يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ

دوی مخامخ شی | د خپلے ورځے | هغے سره | چه دوی سره ئے وعده کولے شی | په هغه ورځ | چه راووځی به دوی
چه د هغے ورځے سره مخامخ شی چه وعده ئے ورسره کیږی. په هغه ورځ به دوی

مِنَ الْاَجْدَاثِ سِرَاعًا كَاَنَّهُمْ اِلٰى نُصُبٍ

د قبرونو نه | په منډه | لکه چه دوی | نخښو (معبودانو) ته

د خپلو قبرونو نه داسې زر (په منډه) راوځي لکه چه یوې نخښې پسې

يُّوْفِضُوْنَ ۙ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ

منډې وهي | ټیټې به وي | سترګې ددوی | خوربه وي په دوی باندې | ذلت

منډې وهي ـ سترګې به ټې ټیټې وي او ذلت به پرې راخور وي .

ع ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ۧ

دا ده | ورځ | هغه | چه ددوی سره به ټې | وعده کولے شوه

دا هم هغه ورځ ده چه د دوی سره به ټې وعده کیده ـ

آیاتها [۲۸]	سورة نوح مكّيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم ـ

اِنَّاۤ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖۤ اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ

بیشکه | مونږ لیږلے وو | نوح | خپل قوم ته | چه اوګیروه | قوم خپل | مخکښ دد ے نه

یقیناً مونږ نوح خپل قوم ته لیږلے وو چه خپل قوم دے خبردار کړه مخکښې

اَنْ يَّاْتِيَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ لَكُمْ

چه راشي په دوی باندې | عذاب | دردناک | اوویل هغه | اے زما قومه | بیشکه زه یم | ستاسو دپاره

د دے نه چه دردناک عذاب پرے راشي. (نو) هغه (خپل قوم ته) اوویل چه اے زما قومه! زه ستاسو دپاره

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۙ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ۙ

یو ویروونکے | ښکاره | دا چه | تاسو عبادت اوکړئ | د الله | او اوږه پرې دهغه نه | او خبره اومنئ زما

یو ښکاره ویروونکے یم چه د الله عبادت اوکړئ او د هغه نه اوږه پرې اوزما خبره اومنئ

يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

وبه بخښي هغه | تاسو ته | ګناهونه ستاسو | او مهلت به درکړي تاسو ته | تر نیټې | مقرر ے پورے

الله به ستاسو ګناهونه معاف کړي او یو مقرر ے نیټے پورے به (په امن سره دوند تیرولو) مهلت درکړي

اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ اِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۘ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝

بیشکه | نیټه | د الله | هرکله | چه راشي | (نو) شي وروستو کیدے | کاش | چه تاسو | پوهیدلئ

یقیناً د الله قطعی مقرره نیټه چه کله راشي نو بیا وروستو کیږي نه. کاش چه تاسو پوهیدلئ

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ دَعَوْتُ قَوْمِيْ لَيْلًا وَّنَهَارًا ۝ فَلَمْ يَزِدْهُمْ

اوویل هغه | اے زمارب | بیشکه ما | راوبللو ما | قوم خپل | شپه | او ورځ | پس زیات نه کړو دوی لره

نوح اوویل چه اے زمارب ما خپل قوم ته د شپے او د ورځے دعوت (د توحید) ور کړو. لیکن زما د دعوت په نتیجه کښ

دُعَآءِيْٓ اِلَّا فِرَارًا ۝ وَاِنِّيْ كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ

رابللو زما | مکر | تیخته | اوبیشکه زهٔ | هر کله چه | رابللی دی ما دوی لره | چه ته یې بخښنه اوکړے | دوی ته

دهغوی تیخته لوړه هم زیاته شوه. او ما چه کله هم دوی ته دعوت ور کړے دے چه ته یې ورته بخښنه اوکړے

جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ

نو دوی کیخود لے دی | گوتے خپلے | په غوږونو خپلو کښ | او راتوے لے کړے ځے دی | جامے خپلے

نو دوی خپلے گوتے په خپلو غوږونو کښ کیخود لے دی او خپلے جامے ځے د ځان نه راتاو کړے دی

وَاَصَرُّوْا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝ ثُمَّ اِنِّيْ دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝

او ګلک شوی دی | اولوئ ځے کړے دہ | په لوئ کولو سره | بیا | بیشکه | ما رابللے دی دوی | په زوره

او په خپله شرکی خبره (تضد دوے) ګلک شوی دی او تکبر ځے شروع کړے دے تکبر لوے بیا ما دوی ته په زوره هم دعوت ور کړے دے

ثُمَّ اِنِّيْٓ اَعْلَنْتُ لَهُمْ وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ اِسْرَارًا ۝ فَقُلْتُ

بیا | بیشکه ما | په ښکاره ویناکړے دہ | دوی ته | او ما پته ویناکړے دہ | دوی ته | په پته | پس اوویل ما

بیا ے ورته په ښکاره خبره هم کړے ده او پټ پټ ے هم پوهه کړی دی نو ما ورته اوویل

اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُّرْسِلِ السَّمَآءَ

بخښنه اوغواړئ | د خپل رب نه | بیشکه هغه | دے | ډیر بخښونکے | هغه به راولیږی | د آسمان نه

چه د خپل رب نه بخښنه اوغواړئ یقین او کړئ چه هغه ډیر بخښونکے دے. نو بښهٔ ډیر باران به

عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۝ وَّيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ

په تاسو باندے | باران پرله پسے | او مدد به اوکړی ستاسو | په مالونو | او په ځامنوسره | او جوړ به کړی

درباندے راووروی - او مال اولاد به درله زیات کړی۔

لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ۝ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ

ستاسو د پاره | باغونه | او جوړ به کړی | ستاسو د پاره | نهرونه | څه شوی دی په تاسو | چه تاسو امید نه لرئ

او باغونه به درله پیدا کړی، او نهرونه به درله جاری کړی. دا په تاسو څه شوی دی چه

لِلّٰهِ وَقَارًا ۝ وَقَدْ خَلَقَكُمْ اَطْوَارًا ۝ اَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ

د الله د پاره | د عزت | او یقیناً | هغه پیدا کړی ئے تاسو | په مختلفو حالتونو (مرحلو) | آیا تاسو نه ګورئ | چه څنګه

د الله د عظمت (عزت) عقیده نه ساتئ حالانکه هغه تاسو په مختلف مرحلو کښ پیدا کړی یئ. آیا تاسو (بطور تعجب) نه دی کتلی

خَلَقَ اللّٰهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ۝ وَّجَعَلَ الْقَمَرَ فِيْهِنَّ

پیدا کړی دی | الله | اوه | آسمانونه | لاندے باندے | او جوړه کړے ئے دہ | سپوږمۍ | په هغے کښ

چه الله تعالیٰ اوه آسمانونه څنګه لاندے باندے پیدا کړی دی؟ او سپوږمۍ ئے په کښ

نُوْرًا وَّجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿۱۶﴾ وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ

روښانه | اوجوړ کړے ځے | نور | ډيوه بليدونکے | او الله | راتهو کولے ئے تاسو | د زمکے نه

روښانه او نور ئے پکښ ډيوه (جوړه) کړے ده. او الله تعالیٰ تاسو د زمکے نه په يو خاص طريقه

نَبَاتًا ﴿۱۷﴾ ثُمَّ يُعِيْدُكُمْ فِيْهَا وَيُخْرِجُكُمْ اِخْرَاجًا ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ

په راتهو کولو سره | بيا به | واپس کوی تاسو | په دے کښ | او راوباسی به تاسو | په راويستلو سره | او الله

راازرغون کړی يئ. بيا به مو هغه دوباره هم دے (زمکے) ته بوځی. او (هم دے نه به) مو بيا راوباسی. او الله تعالیٰ

جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ بِسَاطًا ﴿۱۹﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا

گرځولے ده | ستاسو دپاره | زمکه | فرش (غوړيدلے) | چه تاسو گرځئ | د هغے نه | په لارو

زمکه ستاسو دپاره فرش جوړه کړے ده. چه تاسو د هغے په پلنو لارو

فِجَاجًا ﴿۲۰﴾ قَالَ نُوْحٌ رَّبِّ اِنَّهُمْ عَصَوْنِيْ وَاتَّبَعُوْا مَنْ ع

پلنو کښ | اوويل | نوحؑ | اے زما ربه | بيشکه دوی | نافرمانی کړے ده زما | اوروان شوی دی | په هغه چا پسے

گرځئ (راگرځئ) نوحؑ اوويل چه اے زما ربه حقيقت دا دے چه دے خلقو زما خبره اونه منله او هغه چا پسے روان شو

لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهٗ وَوَلَدُهٗۤ اِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا

چه نه دی زيات کړے هغه لره | مال دهغهٔ | او اولاد دهغهٔ | مگر | تاوان | اومکرونه جوړ کړل دوی | مکرونه

چه هغوی ته خپل مال او اولاد د نقصان (تاوان) نه سوا بل څه فائده نه ده ورکړے او دوی ډير لوے لوے

كُبَّارًا ﴿۲۲﴾ وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا

ډير لوے | او اوويل دوی | هيڅ کله مه پريږدئ تاسو | خدايان خپل | او هيڅ کله مه پريږدئ | وَد

مکرونه جوړ کړل او (يو بل ته ئے) اوويل چه خپل خدايان (معبودان) هيڅ کله مه پريږدئ مه وَد

وَّلَا سُوَاعًا ۙ وَّلَا يَغُوْثَ وَيَعُوْقَ وَنَسْرًا ﴿۲۳﴾ وَقَدْ اَضَلُّوْا

او نه سواع | او نه يَغوث | او يَعوق | او نسر | اويقيناً | گمراه کړل دوی

او سواع پريږدئ او مه يغوث يعوق او نسر. او (دغه شان) دوی ډير خلق گمراه کړل

كَثِيْرًا ۚ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾ مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ

ډير خلق | او ته مه ډيروه | ظالمانو لره | مگر | گمراهی | په وجه | د گناهونو د دوی

او (اے ربه) ته د دوی گمراهی نوره هم زياته کړه. اخير دوی د خپلو گناهونو د وجے

اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ

غرق کړے شول دوی | پس داخل کړے شول | اور ته | پس اونه موندلو دوی | د څان دپاره | سوا

غرق کړے شو (او) بيا اور ته داخل کړے شو. نو د څان دپاره ئے

اللّٰهِ اَنْصَارًا ﴿۲۵﴾ وَقَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ

د الله نه | څوک مددگاران | او اوويل | نوحؑ | اے زما ربه! | ته مه پريږده | په زمکه باندے

د الله تعالیٰ نه سوا بل هيڅ څوک مددگار اونهٔ موندلو. اونوحؑ اوويل اے زما ربه! په مخ د زمکے

مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا ۝ اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا

د کافرانو (نه) | هیڅ یو کور آباد | بیشکه ته | که چرے | پریږدے دوی | نو گمراه به کړی

یو کافر هم آباد پرے نږدے (آباد پاتے نکړے) که چرے ته دوی پاتے کړے نو ستا بندگان به

عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوْٓا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ۝ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ

بندگان ستا | او اوبه نه زیږوی دوی | مگر | بدکاره | کافر (ناشکره) | اے زما ربه | بخښنه اوکړه | ماته

گمراه کړی اوصرف بدکاره کافران (ناشکره) به اوزیږوی. اے زما ربه! ما هم اوبخښه

وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ

اوزما مور او پلار ته | او هغه چاته | چه داخل شوی دی | زما کور ته | مومن | او مومنانو سړو ته

اوزما مور او پلار هم او هر هغه څوک هم اوبخښه چه زما کور ته د ایمان په حالت کښ داخل شوی دی او ټول مومنان سړی

وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا ۝

او مومنانو ښځو ته | او ته مه زیاتوے | ظالمانو لره | مگر | تباهی |

او مومنانے ښځے اوبخښه. او د ظالمانو خلقو دپاره تباهی (بربادی) لوړه هم زیاته کړه.

آیاتها [٢٨]	سورة الجن مكّيّة	رکوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْٓا

اووایه (چه) | وحی کړی شوے ده | ماته | چه بیشکه | اوریدلے دے | یوے ډلے | د پیریانو نه (قرآن) | نو اوویل هغوی

(اے نبی! (خلقو ته) اووایه چه ماته وحی شوے ده چه د پیریانو یوے ډلے (قرآن) په غور سره واوریدو نو (خپل قوم ته ئے) اوویل

اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا ۝ يَّهْدِيْٓ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا

بیشکه | مونږ واوریدلو | یو قرآن | عجیبه | لاره ښائی هغه | د نیکۍ (طرف ته) | پس مونږ ایمان راوړو

چه مونږ خو یو داسے ناشنا قرآن اوریدلے دے چه د سمے لارے طرف ته ښودنه کوی نو مونږ ورباندے ایمان راوړو

بِهٖ ؕ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا ۝ وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ

په هغے باندے | او هیڅ کله به مونږ شریک نه کړو | د خپل رب سره | هیڅ څوک | او داچه بیشکه | اوچت دے | شان

او مونږ به د خپل رب سره هیڅ کله څوک شریک نه کړو او داچه زمونږ د رب شان خو ډیر اوچت دے

رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ۝ وَّاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ

د رب زمونږ | نه ده نیولے هغه | ښځه | او نه اولاد | او داچه بیشکه | ویل به همیشه

نه ئے ښځه شته او نه ئے بچی. او داچه زمونږ بے وقوفه خلقو به د الله په باره کښ د حد نه زیاتی

سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ۙ﴿٤﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ

بے وقوفو زمونږ | په الله باندے | ناحقه خبره | او (داچه) بیشکه | مونږ گمان کړے وو | چه هیڅ کله به اُونه وائی

(ناحقه) خبرے کولے، او داچه زمونږ خو داگمان وو چه انسانان او پیریان به په الله تعالی باندے

الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۙ﴿٥﴾ وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ

انسانان | او پیریان | په الله باندے | دروغ | او داچه بیشکه | وو | څه سړی

هیڅ کله دروغ نه جوړوی . او دا چه د انسانانو څه کسانو به

مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ

د انسانانو نه | چه پناه ئے غوښتله | د څه سړو | د پیریانو نه | پس هغوی زیاته کړه دوی لره

د پیریانو د څۀ کسانو نه پنائ غوښتله نو د هغوی سرکشی ئے نوره هم زیاته کړه

رَهَقًا ۙ﴿٦﴾ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ

سرکشی | او داچه بیشکه هغوی | گمان کړے وو | لکه (څنګه) | چه تاسو گمان کړے دے | چه هیڅ کله به راپورته نه کړی | الله

او دا چه د هغوی (د انسانانو) هم دا گمان (عقیده) وه څنګه چه ستاسو عقیده ده چه الله تعالی به

اَحَدًا ۙ﴿٧﴾ وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا

هیڅ څوک | او داچه بیشکه مونږ لاس پورلو | آسمان ته | پس اومونډلو مونږ هغه | چه ډک کړے شوے وو | د څوکیدارانو

هیڅ څوک د مړک نه پس بیا ژوندی نه کړی. او دا چه مونږ آسمان اولتولو نو هغه مود سختو څوکیدارانو

شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ۙ﴿٨﴾ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ

سختو | او د شعلو نه | او دا چه بیشکه مونږ به کیناستلو | د هغے (نه) | د استه په ځایونو کښ

او د شعلو نه ډک اومونډلو او داچه مخکښے به مونږ د خبرو اوریدو د پاره د آسمان په بعضو ځایونو کښ کیناستلو

لِلسَّمْعِ ؕ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ۙ﴿٩﴾

د پاره د اوریدو | پس څوک | چه غوږ ږدی | اوس | نو مومی هغه | د ځان د پاره | یوه شعله | تیاره (په انتظار)

لیکن اوس چه څوک څه اوریدل غواړی نو د ځان د پاره یو شعله تیاره بیا مومی

وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْٓ اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ

او داچه بیشکه | مونږ نه پوهیدلو | آیا د څه شر | اراده کړے شوے ده | په هغه چا | چه په زمکه کښ دی

او دا چه مونږ ته پته نه وه چه آیا د زمکے والو باره کښ د شر اراده شوے ده

اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ۙ﴿١٠﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ

یا اراده کړے ده | په هغوی باندے | رب خپل | د هدایت | او داچه بیشکه بعضے زمونږ نه | نیکان دی

یا د هغوی رب د هغوی په باره کښ د هدایت اراده کړے ده. او دا چه په مونږ کښ څه خلق نیکان دی

وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ؕ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ۙ﴿١١﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ

او بعضے زمونږ نه | علاوه دی | د دے نه | وو مونږ | په لارو | مختلفو | او داچه بیشکه گمان کړے وو مونږ

او څه دا سے (یعنی نیکان) نه دی او مونږ په مختلفو لارو روان یو. او دا چه زمونږ دا خیال وو چه

اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿۱۲﴾

داچه | هیڅ کله به مونږ عاجز نه کړو | الله | په زمکه کښ | او هیڅ کله به مونږ عاجز نه کړو هغه | په تیښته
نه مونږ په زمکه کښ الله تعالیٰ عاجز کولے شو او نه ئے (بل ځائے ته) په تیښته عاجز کولے شو،

وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ فَمَنْ يُّؤْمِنْ

اوداچه بیشکه | کله چه | مونږ واوریدو | هدایت | نو مونږ ایمان راوړو | په هغے باندے | پس چاچه | ایمان راوړو
اوداچه کله مونږ د هدایت خبره واوریدله مونږ پرے ایمان راوړلو. پس څوک چه په خپل رب ایمان راوړی

بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿۱۳﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ

په رب خپل | نو نه ډیر یږی | د کمی نه | او نه د زیاتی نه | اوداچه بیشکه بعضے زمونږ نه | فرمانبردار دی
نو هغه (به) نه د نقصان نه ډیر یږی او نه د زیاتی (ظلم) نه او داچه په مونږ کښ څه خلق مسلمانان دی

وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿۱۴﴾

او بعضے زمونږ نه | ظالمان دی | پس چاچه | اسلام راوړلو | نو دغه خلقو | اومونډله | نیغه لار
او څه په مونږ کښ (اوس هم) ظالمان دی نو چاچه اسلام راوړے دے هغوی د هدایت لار تلاش کړے ده

وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿۱۵﴾ وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا

او هر هغه څوک چه ظالمان دی | نو وی به هغوی | د دوزخ | خشاک | اوداچه | که چرے | دوی قائم او سیدلی
او کوم چه ظالمان دی هغوی د دوزخ خشاک (لرګی) دی. او دا (وحی راته هم شوے ده) چه که داخلق (مکے والا)

عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿۱۶﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ

په لار | نو خامخا به مونږ اوڅکوپه دوی باندے | اوبه | ډیرے | چه ازمیښت اوکړو مونږ دوی
په نیغه لاره باندے کلک (ولاړ) پاتے شو نو مونږ به (ضرور) په ډیرو (پریمانه) اوبو باندے خرڅ وکړو دوی

فِيْهِ ؕ وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا

په دے کښ | او څوک چه | مخ واړوی | د ذکر | د رب خپل نه | نو هغه (الله) به ننباسی ده لره | عذاب
(دے دپاره) چه مونږ په دے سره دوی او ازمایو. او چاچه د خپل رب د نصیحت نه مخ واړولو نو هغه به ئے ډیر سخت

صَعَدًا ﴿۱۷﴾ وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿۱۸﴾

سخت ته | اوداچه بیشکه | جماتونه | د الله دی | پس مه رابلئ تاسو | د الله سره | (بل) هیڅ څوک
عذاب ته داخل کړی. او دا (وحی راته هم شوے ده) چه جماتونه خاص د الله دی نو د الله سره بل هیڅوک مه رابلئ

وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ

اوداچه بیشکه | هر کله | اودریدو | بنده | د الله | چه رابلی هغهٔ لره | نو نزدے ده | چه ګډی دوی
اوداچه کله د الله بنده د هغه رابللو دپاره (د عبادت دپاره) اودریږی نو (داسے معلومیږی چه) داخلق پرے

عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿۱۹﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ

په هغه باندے | راپټ | اووایه | (چه) بیشکه | زهٔ رابلم | رب خپل | اونهٔ شریکوم زه | دهغه سره
راپټ شی. اے نبی! اووایه چه زه خو صرف خپل رب رابلم او د هغه سره هیڅ څوک نه شریکوم،

اَحَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾

هیڅ څوک | اووایه | (چه) بیشکه زهٔ | اختیار نه لرم | ستاسو دپاره | دڅه نقصان | اونهٔ دڅه فائدے

اووایه چه زهٔ ستاسو دپاره نه دڅه نقصان اختیار لرم او نه دڅه ښیګړے (هدایت)

قُلْ اِنِّيْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ ۙ وَّلَنْ اَجِدَ

اووایه | چه بیشکه زهٔ | هیڅ کله به بچ نه کړی ما لره | د الله نه | هیڅ څوک | او هیڅ کله به زه اونه مومم

اووایه چه ما د الله تعالیٰ نه هیڅ څوک نشی بچ کولے (پناه نشی را کولے) او دهغه نه سوا زما هیڅ

مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ اِلَّا بَلٰغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهٖ ؕ

د هغه نه سوا | څه ځائے د پناه | مګر (زما کار) | رسول دی | د الله د طرف نه | او دهغه پیغامونه (رسول دی)

د پناه ځائے نیشته . البته د الله د طرف نه (احکام) رسول او د هغه پیغامونه رسول زما ذمه داری ده.

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ

او څوک چه | نافرمانی کوی | د الله | او د رسول د هغهٔ | نو بیشکه | د هغه دپاره | اور | د دوزخ دے

او څوک چه د الله او د هغه د رسول نافرمانی کوی نو د هغه دپاره د دوزخ اور دے چه هلته به

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ﴿٢٣﴾ حَتّٰٓى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ

همیشه به وی | په هغے کښ | همیشه | تر دے | چه کله | اوویني دوی | هغه څه | چه وعده ئے کولے شی د دوی سره

همیشه همیشه اوسیږی ، (داخلق به نافرمانی کوی) تر دے چه کله دوی هغه عذاب اوویني د کوم چه ورسره

فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ نَاصِرًا وَّاَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾ قُلْ

نو زر دے چه پوهه به شی دوی | چه څوک | زیات کمزوری دے | مدد کوونکے | او (زیات) کم دی | په شمار کښ | اووایه

وعده کیږی نو (هغه وخت به) دوی ته پته اولګی چه د چا مددګار کمزوری دے او د چا تعداد کم دے

اِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ

زه نه پوهیږم | چه آیا نزدے دے | هغه څه | چه وعده ئے کولے شی تاسو سره | یا به مقرروی | د هغے دپاره

ورته اووایه چه ما ته پته نشته چه د کوم څیز وعده تاسو سره کیږی آیا هغه نزدے دے یا زما رب د هغے

رَبِّيْٓ اَمَدًا ﴿٢٥﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾

رب زما | موده لرے | هغه پوهه دے | په غیبو | پس هغه نه خبروی | په خپل غیب باندے | هیڅ څوک

دپاره څه لرے نیته مقرر کړے ده) هغه د غیبو خبرے پیژنی او خپل غیب باندے هیڅ څوک نه خبروی

اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ

لیکن | څوک چه | غوره ئے کړی هغه | د رسولانو نه | نو بیشکه هغه | روان کړی | مخکښے د هغهٔ نه

لیکن یو پیغمبر څه (د ځان دپاره ئے) غوره کړے وی نو د هغه نه مخکښے

وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿٢٧﴾ لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ

او ورو ستو د هغهٔ نه | ورکړ ی باران | چه پوهه شی هغه | چه | یقیناً | دوی رسولی دی | پیغامونه

ورو ستو دپاره د حفاظت دوی محافظان لګوی ، دے دپاره چه هغه ښکاره کړی چه پیغمبران خپل رب پیغامونه رسولی دی

رَبِّهِمْ وَاَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿٢٨﴾ ع

درب خپل | اوهغه احاطه کړے ده | په هغه څه | چه دده وی سره دی | اوهغه شمار لـ دے | هر یو څیز | په شمار سره

او هغه د دوی په هر څه احاطه کړے ده او هر یو څیز ئے پوره پوره شمار لے دے۔

آیاتها [٢٠]	سورة المزّمل مكّيّة	رکوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٢﴾ نِّصْفَهٗٓ اَوِ انْقُصْ

اے څادر اغوستونکیه | پاڅه (اودریږه) | د شپے | مکر | لږ | نیمه د هغے | یا کم کړه

اے څادر (جامه) کښ ځان رانغښتونکیه! د شپے دلږے حصے نه سوا باقی شپه (د الله په عبادت کښ) اودریږه

مِنْهُ قَلِيْلًا ﴿٣﴾ اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴿٤﴾

د هغے نه | لږ | یا زیات کړه | په هغے باندے | اوپه قلاره لوله | قرآن | په قلاره لوستلو سره

د شپے نیمه حصه یاد دے نه څه کم کړه یا ئے د دے نه زیات کړه او قرآن په دمه دمه (صفا صفا) لوله

اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا ﴿٥﴾ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ

بیشکه مونږ په | زرده چه واچوو | په تا باندے | یوه وینا | درنه | بیشکه | پاڅیدل | د شپے

یقیناً مونږ په تا باندے یو درونده کلام نازلوو۔ یقیناً د شپے پاڅیدل دا سے عمل دے چه نفس ورسره ښه

هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّاَقْوَمُ قِيْلًا ﴿٦﴾ اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ

هغه دی | ډیر زیات | پامال کوونکی | اوزیات سیده کوونکی وی | د خبرے | بیشکه | وی به ستا د پاره | په ورځ کښ

پیمال کیږی اوخبره هم ډیره په ښه طریقے سره سیده کوی (او د قرآن لوستلو د پاره هم ډیر مناسب دے) یقیناً د ورځے ستا

سَبْحًا طَوِيْلًا ﴿٧﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ﴿٨﴾

مشغولتیا | اوږده | او یاد وه | نوم | د رب خپل | اوځان جدا کړه | د هغه طرف ته | په ځان جدا کولو سره

ډیره (اوږده) مشغولا وی، او د خپل رب نوم یاد وه او د هر چا نه جدا شه، او هغه ته پوره توجه اوکړه

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ

(هغه) رب دے | د مشرق | او د مغرب | نشته دے | هیڅ لائق د عبادت | سوا | د هغه نه | پس ته اونیسه هغه

هغه د مشرق او د مغرب مالک دے د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته نو هم هغه (خپل)

وَكِيْلًا ﴿٩﴾ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا ﴿١٠﴾

کارساز | او صبر کوه | په هغه څه | چه دوی ئے وائی | اوپریږده دوی | په پریخودلو | ښو سره

کارساز جوړ کړه۔ او دا کافران چه څه وائی په هغے د صبر نه کار واخله، اوډیره په ښه (مناسبه) طریقه د هغوی نه جدا شه

وَذَرْنِيْ وَالْمُكَذِّبِيْنَ اُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا ۝ اِنَّ

او پریږده ما | سره دَ دروغ ګڼونکو | نعمتونو والا | او مهلت ورکړه هغوی ته | لږ | بیشکه

او دغه دروغ ګڼونکی چه د عیش او عشرت (نعمتونو) مالکان دی دغوی معامله په ما باندې پریږده، او لږ مهلت ورله ورکړه

لَدَيْنَآ اَنْكَالًا وَّجَحِيْمًا ۝ وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا

زمونږ سره دی | بیړۍ (زنځیرونه) | او ګرمه اور | او خوراک | په مړۍ کښې انختونکے | او عذاب

یقین او ګرځه چه زمونږ سره بیړۍ (زنځیرونه) او ګرمه اور دے او په مړۍ کښې انختونکی خوراک دے

اَلِيْمًا ۝ يَوْمَ تَرْجُفُ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ

دردناک | په هغه ورځ | چه اوجړ قیږی | زمکه | او غرونه | او شی به | غرونه

او دردناک عذاب دے (دا به) په هغه ورځ (وی) چه زمکه او غرونه به اوجړ قیږی او غرونه به داسے شی

كَثِيْبًا مَّهِيْلًا ۝ اِنَّآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْكُمْ رَسُوْلًا ۙ شَاهِدًا عَلَيْكُمْ

ډیری | دشګے بهیدونکے | بیشکه | مونږ الیږلے دے | تاسو ته | یو پیغمبر | ګواهی کوونکے | په تاسو باندے

لکه دشګو ډیری (ریګ). اے خلقو څنګه چه مونږ فرعون ته یو رسول لیږلے وو دغه شان مونږ تاسو ته

كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ۝ فَعَصٰى فِرْعَوْنُ

لکه څنګه چه | مونږ لیږلے وو | فرعون ته | پیغمبر | پس نافرمانی اوکړه | فرعون

هم یو پیغمبر رالیږلے دے چه په تاسو ګواهی اوکړی ـ خو (بیا) فرعون

الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا ۝ فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ

د (هغه) پیغمبر | پس راونیولو مونږ هغه | په نیولو | سخته سره | پس څنګه به | بچ شئ تاسو | که چرے

د هغه رسول خبره اُونه منله نو مونږ ډیر کلک راونیولو ـ که تاسو (هم) انکار اوکړئ

كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا ۝ السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌ

کفر اوکړو تاسو | د هغے ورځے نه | چه کړی به هغه | ماشومان | بوډاګان | آسمان به | اوچوی

نو د هغے ورځ نه به څنګه بچ کیږئ چه ماشومانو نه به بوډاګان جوړ کړی (او په هغے سره به) آسمان اوچوی

بِهٖ ؕ كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ۝ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ

په دغه ورځ | دا | وعده د هغه | پوره شوے | بیشکه | دا دے | نصیحت | پس د چا چه | خوښه وی

د الله وعده خو به ضرور پوره کیږی، یقیناً دا (قرآن) یو نصیحت دے اوس چه څوک غواړی

اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ۝ اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ اَنَّكَ تَقُوْمُ

اودے نیسی هغه | خپل رب ته | لار | بیشکه | ستا رب | پوهیږی | چه بیشکه ته | اودریږے

نو خپل رب ته (د رسیدو) لار دے اختیار کړی. (اے نبیؐ!) یقیناً ستا رب ته پته ده چه ته او ستا څه ملګری

اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَنِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ وَطَآئِفَةٌ

نزدے | دوؤ حصو ته د درې حصو څخے نه | او نیمه حصه د هغے | یا د درېمه حصه د هغے | او یوه ډله

د شپے په درې حصو کښې تر دوو حصو او (کله) تر نیمے شپے او (کله) د درېمے حصے د شپے پورے

مِّنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ ؕ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ عَلِمَ

دهغه خلقو نه (هم) | چه تاسره دی | او الله تعالی | اندازه کوی | دشپے | او دورځے | پوهه دے هغه

(په مانځه) کښ ولاړ یئ. او د شپے او د ورځے ټیک اندازه خو صرف الله لکوی

اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ

چه هیڅ کله تاسو نشئ پوره کولے دا | نو مهربانی اوکړه هغه | په تاسو | پس لولئ | هغه څه | چه آسان وی

هغه ته پته ده چه تاسو دا اندازه پوره ترسره کولے نه شئ نو په تاسو ئے مهربانی اوکړه اوس تاسو دومره قرآن ولئ

مِنَ الْقُرْاٰنِ ؕ عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ وَاٰخَرُوْنَ

د قرآن نه | پوهه دے هغه | په دے | چه وی به | ستاسو نه | بیماران | اوځه نور (خلق هم)

څومره چه (درته) آسان وی. الله ته پته ده چه په تاسو کښ به څه خلق بیماران وی او څه به داسے خلق وی

يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ

چه سفر (به) کوی | په زمکه کښ | (چه) لټوی به | د فضل | د الله نه | اوځه نور (خلق هم) دی

چه د الله د فضل په تلاش کښ به په زمکه کښ سفر کوی. او څه به داسے وی چه

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ

چه جنګیږی | په لاره | د الله کښ | پس لولئ | هغه څه | چه آسان وی | د دے (قرآن) نه

د الله په لاره کښ به جنګ کوی نو (بس) تاسو دومره قرآن ولئ څومره چه (درته) آسان وی

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ

او قائموئ | مونځ | او ورکوئ | زکات | او ورکړئ (قرض) | الله ته

او د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ او الله تعالی ته ښه قرض ورکړئ.

قَرْضًا حَسَنًا ؕ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ

قرض | خائسته | او هغه | چه تاسو مخکښے لیږئ | د خپلو ځانونو دپاره | څه نیکی

او تاسو چه د خپل ځان دپاره څه قسم نیکی (هم) مخکښ لیږئ

تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا ؕ

نو تاسو به بیا موئ هغه | د الله سره | هم هغه | ډیر غوره | او ډیر لوے دے | په اجر ورکولو کښ

هغه به د الله سره بیا موئ (چه هغه به ستاسو دپاره) ډیره ښه وی او اجر به ئے هم ډیر زیات وی

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ ع

او بخښنه غواړئ | د الله نه | بیشکه | الله دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان |

او د الله نه بخښنه غواړئ. یقیناً الله تعالی ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے.

آياتها[۵۶]	سورة المُدثر مكّيّة	ركوعاتها[۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۙ﴿۱﴾ قُمْ فَاَنْذِرْ ۙ﴿۲﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۙ﴿۳﴾ وَثِيَابَكَ

اے خان رانغښتونکیه! | ودريږه (پاڅه) | پس اويروه (خلق) | اوخاص دخپل رب | لوئ بيان کړه | او خپلے جامے

اے په جامه کښې خان رانغښتونکیه! پاڅه او (خلق دالله نه) اويروه. او د خپل رب لوئ بيان کړه. او خپلے جامے

فَطَهِّرْ ۙ﴿۴﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ۙ﴿۵﴾ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ۙ﴿۶﴾ وَلِرَبِّكَ

پاکے ساته | او پليتۍ نه | د ده اوکړه | او احسان مه کوه | چه (بدل پرے) ډير غواړے | او د خپل رب د پاره

پاکے ساته او د ګندګۍ نه لرے اوسيږه او احسان (په دے نيت) مه کوه چه بيا به پرے ډير حاصل کړے.

فَاصْبِرْ ۭ﴿۷﴾ فَاِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ ۙ﴿۸﴾ فَذٰلِكَ يَوْمَىِٕذٍ يَّوْمٌ

صبر کوه | پس کله چه | پوکۍ اووهلے شي | په شهيلۍ کښې | نو دا به | په دغه ورځ | ورځ به وي

او د خپل رب (د رضا) د پاره د صبر نه کار واخله بيا کله چه په شهيلۍ کښې پوکے ووهلے شي نو هغه ورځ به

عَسِيْرٌ ۙ﴿۹﴾ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ غَيْرُ يَسِيْرٍ ﴿۱۰﴾ ذَرْنِيْ وَمَنْ خَلَقْتُ

ډيره سخته | په کافرانو باندے به | نه وي آسانه | پرې ږده ما | اوهغه څوک | چه ما پيدا کړي دي

ډيره سخته ورځ وي، د کافرانو د پاره به آسانه نه وي. او د هغه کس معامله په ما پرې ږده چه هغه ما

وَحِيْدًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّجَعَلْتُ لَهٗ مَالًا مَّمْدُوْدًا ۙ﴿۱۲﴾ وَّبَنِيْنَ شُهُوْدًا ۙ﴿۱۳﴾

يواځے | او ورکړے دے ما | هغه ته | مال | ډير (خوراور) | او څامن | حاضر

يواځے پيدا کړو او ډير مال مے ورله ورکړو او (داسے) څامن مے ورله ورکړه چه (هر وخت) د هغه مخے ته موجود وي

وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا ۙ﴿۱۴﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ۙ﴿۱۵﴾

او تيار کړي دي ما | دهغه د پاره | هر قسم سامان (په تيارولو سره) | بيا | هغه طمع لري | چه زه (نور هم) زيات ورکړم

او هر قسم سامانونه مے ورله تيار (ورکړل) بيا (لا) هغه دا طمع (لالچ) هم کوي چه زه ورله نور زيات ورکړم

كَلَّا ۭ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيْدًا ۭ﴿۱۶﴾ سَاُرْهِقُهٗ صَعُوْدًا ۭ﴿۱۷﴾

چرے نه | بيشکه | هغه دے | زمونږ د آيتونو سره | دشمنی کوونکے | زړه چه زه به هغه اوخيژوم | په سخت غر باندے

هيڅ کله (داسے نشی کيدے) دا زمونږ د آيتونو دشمن (چور شوے) دے. ډير زر به ځه په سخته چڑائی باندے اوخيژوم

اِنَّهٗ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ۙ﴿۱۸﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ۙ﴿۱۹﴾ ثُمَّ

بيشکه هغه | سوچ اوکړو | اواندازه ځولکوله | پس هلاک کړے شي هغه | څنګه | اندازه ځے اولګوله | بيا

يقيناً ده سوچ اوکړو او اندازه ځے اولګوله. نو داد دے تباه شي څنګه اندازه ځے اولګوله بيا دے

قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿۱۹﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿۲۰﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿۲۱﴾

هلاک شے کړی شی څه | څنګه | اندازه ئے ونګوله | بیا ئے | او کتل | بیا ئے | تندے تریو کړو | او خوله ئے ورانه کړه

تباه شی څنګه اندازه ئے او لګوله بیا ئے نظر واچولو (غور ئے او کړو) بیا ئے تندے تریو کړو او خوله ئے ورانه (پوټه) کړه

ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿۲۳﴾ فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ﴿۲۴﴾

بیا ئے | شا کړه | او تکبر ئے او کړو | نو اوئے ویل | (چه) نه دے دا | مګر | جادو | نقل کولے شی

بیا ئے شا کړه او تکبر ئے او کړو، بیا ئے اووېل چه دا خو دا سے جادو دے چه د پخوانه راروان دے

اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿۲۵﴾ سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ ﴿۲۶﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ

نه دی دا | مګر | خبره | د انسان | زړه چه زه به داخل کړم دغه | دوزخ ته | او ته څه پوهه کړے

دا خو بس د بنیادم کلام دے زه به زر به مونږ دغه لره سقر (دوزخ) ته داخل کړو او تا ته څه پته ده چه

مَا سَقَرُ ﴿۲۷﴾ لَا تُبْقِيْ وَلَا تَذَرُ ﴿۲۸﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿۲۹﴾

چه څه دے سقر (دوزخ)؟ | چه نه باقی پاتے کوی | او نه پریږدی | سوځوونکی دے | د څرمنے (د انسان)

سقر (دوزخ) څه څیز دے؟ نه به هغه څوک باقی پاتے کوی او نه به ئے پریږدی بشری (څرمنے) به ورله اوسوځوی

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿۳۰﴾ وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ النَّارِ اِلَّا

په هغے باندے (مقرر دی) | نورلس (فرشتے) | او مونږ نه دی مقرر کړی | د اور ساتونکی | مګر

په هغے باندے نورلس (محافظ) فرشتے مقرر دی۔ او مونږ د دوزخ حفاظت کوونکے

مَلٰٓئِكَةً ۙ وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ

فرشتے | اونه دی جوړ کړی مونږ | شمار دهغوی | مګر | یوازے مبینت | د پاره دهغه کسانو

ملائک مقرر کړی دی او د هغوی تعداد (شمیره) مو صرف د کافرانو د ازمیښت د پاره

كَفَرُوْا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ

چه کفر ئے کړے دے | دے د پاره چه یقین او کړی | هغه کسان | چه ورکړے شوے دے هغوی ته | کتاب | او (چه) زیات شی

مقرر کړے ده (نتیجه به داشی) چه اهل کتاب پرے یقین او کړی او د مومنانو په ایمان کښ

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا ۙ وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

دهغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے دے | ایمان | او (چه) شک اونه کړی | هغه کسان | چه ورکړے شوے دی هغوی ته

نوره اضافه اوشی او اهل کتاب او مومنان (په دے خبرو کښ) شک اونه کړی

الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

کتاب | او مومنان هم | او دے د پاره چه اووائی | هغه کسان | چه دهغوی په زړونو کښ | مرض دے

او د چا په زړونو کښ چه مرض دے او کوم خلق

وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۭ كَذٰلِكَ يُضِلُّ

او کافران هم | چه دغه | اراده کړے ده | الله | په دے | مثال سره | دغه شان | ګمراه کوی

چه کافران دی هغوی دا اووائی چه دد ے عجیبه خبرے (مثال) نه د الله څه مراد دے؟ دغه شان

اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِیْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ

الله | چالره | چه اوغواړی | او لاره ښائ | چاته چه | اوغواړی | او نه پیژنی | لښکرے

الله چه چالره اوغواړی گمراه کوی او چالره چه اوغواړی هدایت ورکوی او ستا درب لښکرے

رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ؕ وَمَا هِیَ اِلَّا ذِكْرٰی لِلْبَشَرِ ۝ كَلَّا

درب ستا | مګر | هغه | او نه دے دا | مګر | نصیحت | دپاره دانسان | چرے نه

د هغه نه سوا بل هیڅ څوک نه پیژنی، او دا (خبرے) خو دانسانانو دپاره بس یو نصیحت دے. خبردار!

وَالْقَمَرِ ۝ وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ۝ وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ۝

قسم دے په سپوږمۍ | او (قسم دے) په شپه | کله چه | شاکړی | او (قسم دے) په صبا | کله چه | روښانه شی

قسم دے د سپوږمۍ او (قسم دے) د شپے څه وخت چه په تیریدو شی او (قسم دے) په صبا کله چه د څنګ رنړا خوره شی

اِنَّهَا لَاِحْدَی الْكُبَرِ ۝ نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ ۝ لِمَنْ شَآءَ

بیشکه دا | خامخا یو دے | د لویو څیزونو نه | ویروونکی دے | انسان لره | د هغه چا دپاره | چه غواړی

چه یقیناً دا (قرآن یا قیامت) په هغه لویو لویو څیزونو کښ یو څیز دے چه ټولو انسانانو دپاره یروونکی دے

مِنْكُمْ اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ ؕ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا

ستاسو نه | چه مخکښے شی | یا وروستو شی | هر یو | کس | په بدله د هغه څه کښ

په تاسو کښ د هر هغه چا دپاره چه یا مخکښے تلل غواړی (ایمان ته) یا وروستو کیدل غواړی (کفر ته)، هر یو کس د خپلو عملونو په

كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ۝ اِلَّآ اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ؕ فِیْ جَنّٰتٍ ۛؕ

چه هغه کړی دی | ګانړه دی | مګر | د ښی طرف والا | په جنتونو کښ به وی

د وجه ګانړه دی، سوا د ښی لاس والو نه (چه هغوی د ایمان او عمل په وجه ځان خلاص کړے دے)، چه هغوی به په جنتونو کښ وی

يَتَسَآءَلُوْنَ ۝ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝ مَا سَلَكَكُمْ فِیْ سَقَرَ ۝

تپوس به کوی هغوی | د مجرمانو نه | چه څه څیز راداخل کړی یئ تاسو | په دوزخ کښ

تپوس به کوی د مجرمانو نه چه تاسو دوزخ ته کوم څیز راوستلی یئ؟

قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ۝ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ

وائی به هغوی | چه نه وو مونږ | د مونځ ګذارو نه | او نه وو مونږ | چه خوراک مو ورکوو

هغوی به ورته وائی چه مونږ به مونځ نه کولو او مسکینانو ته به مو خوراک نه ورکولو.

الْمِسْكِيْنَ ۝ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ۝ وَكُنَّا نُكَذِّبُ

مسکینانو ته | او وو مونږ | چه مشغولیدو | د مشغولتیا کوونکو سره | او مونږ | دروغ ګنړله

او کوم خلق چه به په فضول خبرو کښ اخته وو مونږ به ورسره پکښ هم مشغوله پراته وو. او مونږ به

بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۝ حَتّٰۤى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ؕ فَمَا تَنْفَعُهُمْ

ورځ | د بدلے | تر دے | چه راغے مونږ ته | یقین (مرګ) | پس فائده به نه ورکوی هغوی ته

د بدلے ورځ دروغ ګنړله، تر دے چه هغه یقینی خبره (مرګ) راباندے راغے نو (بس) دا سے خلقو ته به

شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿۴۸﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۹﴾

سفارش | د سفارش کوونکو | پس څه شوی دی په دوی | چه د نصیحت نه | مخ اړوونکی دی

د سفارش کوونکو سفارش هیڅ فائده نه ورکوی۔ (اوس) په دے خلقو څه شوی دی چه د نصیحت نه (داسے) مخ اړوی؟

كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿۵۰﴾ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿۵۱﴾ بَلْ يُرِيْدُ

لکه چه دوی | خره دی | تختیدونکی | چه تختیدلی وی | د زمری نه | بلکه | اراده لری

لکه چه دوی وحشی (تختیدونکی) خره دی، چه د زمری نه تخته، بلکه په دوی کښ

كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿۵۲﴾ كَلَّا ؕ

هر یو | سړے | د دوی نه | چه ورکړے شی هغه ته | پانړے | خورے ورے | هیڅ ړے نه

هر یو کس دا غواړی چه هغه ته دے پرانستلی شوے صحیفے ورکړے شی، هرگز دا سے نشی کیدے

بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۵۳﴾ كَلَّاۤ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ﴿۵۴﴾ فَمَنْ

بلکه | دوی نه یَریږی | د آخرت نه | هرگز نه | بیشکه دا (قرآن) | یو نصیحت دے | پس څوک

بلکه اصل خبره داده چه دوی د آخرت نه نه یَریږی. یقینی خبره ده چه دا قرآن یو نصیحت دے

شَآءَ ذَكَرَهٗ ﴿۵۵﴾ وَمَا يَذْكُرُوْنَ اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ

چه غواړی | نو هغه دے یاد کړی دا | او دوی نه یادوی | مګر | دا چه | اوغواړی | الله

نو (اوس) دا چا چه خوښه وی نو دا دے یاد کړی (نصیحت د واخلی) او نصیحت به دا خلق هله واخلی چه (کله) الله اوغواړی

هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿۵۶﴾ ع

هغه | لائق دے | چه (خلق ترے) اویَریږی | او لائق دے | چه بخښنه (ترے اوغوښتلے شی)

هم هغه دے خبرے لائق دے چه دهغه نه یره اوکړے شی او هم هغه دے لائق دے چه بخښنه ترے اوغوښتلے شی

ع ۱۶

آیاتها [۴۰] | سورة القيٰمة مكّيّة | رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

لَاۤ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ﴿۱﴾ وَلَاۤ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ﴿۲﴾

زه قسم کوم | په ورځ | د قیامت | او زه قسم کوم | په نفس | ملامته کوونکی

زه د قیامت په ورځ قسم خورم او زه په هغه نفس قسم خورم چه (په ګناه باندے) ملامته کول کوی

اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ﴿۳﴾ بَلٰى قٰدِرِيْنَ

آیا ګمان کوی | انسان | چه هیڅ ګله به مونږ جمع نه کړو | هډوکی د ده | ولے نه | (مونږ) قادر یو

آیا انسان دا ګمان کوی چه مونږ به د دهغه هډوکی را جمع نه کړے شو؟ ولے نه (ضرور به ئے را جمع کړو) حالانکه مونږ

عَلٰۤى اَنْ نُّسَوِّیَ بَنَانَهٗ ﴿۴﴾ بَلْ یُرِیْدُ الْاِنْسَانُ لِیَفْجُرَ

په دے چه | مونږ برابر کړو | دهغه د ګوتو سرونه | بلکه | غواړی | انسان | چه ګناه اوکړی

په دے قادره یو چه د هغه د ګوتو بندونه (سرونه) هم برابر جوړ کړو. اصل خبره داده چه انسان دا غواړی چه هغه دے

اَمَامَهٗ ﴿۵﴾ یَسْـَٔلُ اَیَّانَ یَوْمُ الْقِیٰمَةِ ﴿۶﴾ فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿۷﴾

مخکښے د قیامت نه | تپوس کوی | چه کله به وی | ورځ | د قیامت | پس کله چه | اوبرینبی | ستر ګے

مخکښے د راتلو د قیامت نه انکار اوکړی د حق نه تپوس کوی چه د قیامت ورځ به کله راځی؟ بیا کله چه ستر ګے اوبرینبی

وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿۸﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿۹﴾ یَقُوْلُ

او تندر اوتیسی (توره شی) | سپوږمۍ | او جمع کړے شی | نور | او سپوږمۍ | وائی به

او سپوږمۍ تندر اوتیسی (توره شی) او نور او سپوږمۍ را یو ځائے کړے شی، هغه وخت به انسان وائی

الْاِنْسَانُ یَوْمَىٕذٍ اَیْنَ الْمَفَرُّ ﴿۱۰﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿۱۱﴾

انسان | په دغه ورځ | (چه) چرته دے | ځائے د تیښتے | چرے نه | نشته دے | هیڅ پناه (بچ کیدل)

چه اوس چرته اوتښتم - نه (بیشک) هیڅ د پناه ځائے نشته

اِلٰى رَبِّكَ یَوْمَىٕذِ ِالْمُسْتَقَرُّ ﴿۱۲﴾ یُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ یَوْمَىٕذٍ

ستا رب ته | په دغه ورځ | قرار دے | خبر به ورکړے شی | انسان ته | په دغه ورځ

په دغه ورځ هم ستا رب سره د خلقو ټیکانه ده، په هغه ورځ به هر انسان ته هر هغه څه اوښودلی شی

بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ ﴿۱۳﴾ بَلِ الْاِنْسَانُ عَلٰى نَفْسِهٖ

د هغه څه | چه مخکښے لیږلی دی | او وروستو څه پریښودلی دی | بلکه | انسان | خپل ځان لره

چه هغه مخکښے لیږلی دی یا ئے وروستو پریښودلی دی، بلکه د هر انسان الدامونه به پخپله په خپل ځان

بَصِیْرَةٌ ﴿۱۴﴾ وَّلَوْ اَلْقٰى مَعَاذِیْرَهٗ ﴿۱۵﴾ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ

لیدونکے دے | اګرچه | پیش کړی | بهانے خپلے | ته مه خوزوه | په دے (قرآن) سره | ژبه خپله

ګواه ورکوی اګر که بهانے لټوی (اے نبیؐ!) ته (د قرآن) د زر زر یاد ولو د پاره خپله ژبه

لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿۱۶﴾ اِنَّ عَلَیْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ﴿۱۷﴾ فَاِذَا

چه ته تلوار کوے | په دے | بیشکه | په مونږ باندے | د دے جمع کول دی | او د دے لوستل دی | پس کله چه

مه خوزوه یقین اوکړه چه د دے جمع کول (یاد ول) او د دے لوستل زمونږ ذمه داری ده بیا کله چه ئے

قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿۱۸﴾ ثُمَّ اِنَّ عَلَیْنَا بَیَانَهٗ ﴿۱۹﴾ كَلَّا

مونږ اولولو دا | نو ته روان شه | په لوستلو د دے پسے | بیا | بیشکه | په مونږ باندے | د دے بیانول دی | چرے نه

مونږ اولولو نو ته د هغے پیروی کوه بیا د دے وضاحت (پوهه کول) هم زمونږ کار دے خبردار!

بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿۲۰﴾ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۲۱﴾ وُجُوْهٌ یَّوْمَىٕذٍ

بلکه | تاسو مینه کوئ | د دنیا سره | او پریږدئ تاسو | آخرت | (بعضے) مخونه به | په دغه ورځ

(اے کافرانو) اصل خبره داده چه تاسو د دنیا سره مینه کوئ او آخرت پریږدئ، په هغه ورځ به ډیر مخونه

نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾

تازه وی | خپل رب ته به | کتونکی وی | او(بعضے) مخونه به | په دغه ورځ | بدرنګه (خرپی) وی

خوشحاله (تازه) وی، خپل رب ته به کوری، او ډیر مخونه به په هغه ورځ وران (بے رونقه) وی

تَظُنُّ اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ

گمان به کوی | چه اوبه کړے شی | دَدوی سره | ملامات وړنکے (سختی) | چرے نه | کله چه | اور سیږی (روح)

دا گمان به کوی چه دَدوی سره به دا سے سختی کیږی چه ملا به ورته مات کړی خبر دار! کله چه سا (روح)

التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيْلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَّظَنَّ اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾

مړئ ته | او اوویلی شی | (چه) څوک شته | دم اچوونکے | اودے به گمان او کړی | چه دا (وخت) دے | (د) جدایئ

مړئ ته اور سیږی اودا اوویلی شی چه څوک دم اچوونکے شته؟ او انسان به پوهه شی چه دا د جدایئ وخت دے

وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ ۨ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾

او یو څانګے به شی | پنډئ | د بلے پنډئ سره | ستا رب ته | په دغه ورځ | روانیدل دی

او یوه پنډئ به د بلے پنډئ سره یو څانګے شی (په کفن کښ)، په دغه ورځ به هم ستا رب طرف ته تلل وی

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾ ثُمَّ

پس نه تصدیق کړے دے | او نه ځمونځ کړے دے | لیکن | دروغ ګڼلے دے (حق) | او مخ ئے واړولے دے | بیا

(دده باوجود) انسان خونه خبره او منله اونه ئے مونځ او کړو لیکن حق ئے دروغ او ګڼلو او مخ ئے واړولو

ذَهَبَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٤﴾ ثُمَّ

لاړلو | خپل کور ته | چه فخر ئے کولو | پس تباهی ده | تا لره | پس تباهی ده (تا لره) | بیا

بیا په تکبر سره خپل کور والو ته لاړو، بربادی ده ستا دپاره بیا بربادی ده ستا دپاره، بیا (واوره)

اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿٣٥﴾ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾

هلاکت دے | تا لره | پس هلاکت دے | آیا گمان کوی | انسان | چه دے به پریخودلے شی | بیکاره

بربادی ده ستا دپاره، بیا بربادی ده ستا دپاره، آیا انسان دا گمان کوی چه دے به هم دا سے بیکاره پریخودلے شی

اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً

آیا نه وو دے | یو څاڅکے | د منی | چه اچولے شی په رحم کښ | بیا | دے شو | یوه توته (دوینے)

ولے (آیا) دا د منی یو څاڅکے نه وو چه (د مور رحم کښ) اچولے شوے وو؟ بیا دوینے یوه توته شوه

فَخَلَقَ فَسَوّٰى ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ

بیا پیدا کړو هغه (الله) | بیا ئے برابر کړو | بیا ئے جوړے کړے | د دده نه | دوه جوړے | سړی

نو بیا الله دے جوړ کړو او اندامونه ئے ورله برابر کړل، (او سم برابر ئے کړو) بیا ئے هم د دده نه دوه سړی

وَالْاُنْثٰى ﴿٣٩﴾ اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ﴿٤٠﴾

او ښځه | آیا نه دے | دغه (ذات) | قدرت لرونکے | په دے | چه (بیا) ژوندی کړی | مړی

او د ښځے دوه قسمه جوړ کړل آیا هغه (الله) په دے خبره قادر نه دے چه مړی را ژوندی کړی؟

آیاتها[۳۱]	سورة الدّهر مدنيّة	رکوعاتها[۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ

یقیناً | راغلے دے | په انسان باندے | یو وخت | د زمانے نه | چه نه وو دے

یقیناً په انسان باندے داسے وخت هم راغلے دے چه هغه څه

شَيْـًٔا مَّذْكُوْرًا ۝ اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ

څه شیز | یاد کړے شوے | بیشکه | مونږ پیدا کړے دے | انسان | د یوے نطفے

د ذکر (یادولو) قابل شیز نه وو۔ یقیناً مونږ انسان د یوے مخلوط نطفے نه پیدا کړو

اَمْشَاجٍ ۖ نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۝ اِنَّا

گډے وډے نه | (چه) مونږ یې له زمینت او کړو په دے باندے | پس جوړ کړو مونږ دے ګرځوله | اوریدونکے | لیدونکے | بیشکه

(چه) مونږ ئے وازمایو۔ بیا مونږ دے داسے جوړ کړو چه آوری هم او وینی هم۔ یقیناً

هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوْرًا ۝ اِنَّا اَعْتَدْنَا

مونږ ښودلے دے ده ته | لار | یا به | شکر ګذار وی | یا به | ناشکره (وی) | بیشکه | مونږ تیار کړی دی

مونږ ده ته لاره اوښودله چه یا خو شکر ګذار جوړ شی یا ناشکره۔ یقیناً مونږ

لِلْكٰفِرِيْنَ سَلٰسِلَا وَاَغْلٰلًا وَّسَعِيْرًا ۝ اِنَّ الْاَبْرَارَ يَشْرَبُوْنَ

کافرانو دپاره | زنځیرونه | اوطوقونه | اوبل کړے شوے اور | بیشکه | نیکان (خلق) | څکی به دوی

د کافرانو دپاره زنځیرونه او د غاړے طوقونه او کرمر اُور تیار کړے دے۔ یقیناً نیکان خلق به

مِنْ كَاْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ۝ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا

داسے ډکے پیالے | چه وی به | ګډون دهغے | د کافورو | یوه چینه ده | چه څکی به | دهغے نه

د داسے شرابو ډک جامونه څکی چه کافور به پکښ اچولی شوی (ګډ شوی) وی دا یوه چینه ده چه دهغے نه به

عِبَادُ اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا ۝ يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ

بندګان | د الله | چه دوی روانوی به هغے له | په روانولو سره | هغوی پوره کوی | نذر (خپل) | او یَریږی

د الله (خاص) نیکان بندګان څکی (او چه) کوم خوائے غواړی بهیوی به ئے داهغه خلق دی چه خپل نذرونه پوره کوی

يَوْمًا كَانَ شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ۝ وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ

د(هغه)ورځ نه | چه دے | شر دهغے | خور اُور (هر طرف ته) | او دوی ورکوی | خوراک

او دهغے ورځ نه یَرِیږی چه د هغے سختی به هر طرف ته خوره وی. او هغوی د الله په مینه کښ

عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّاَسِيْرًا ۝ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ

په مینه دهغه(الله) | مسکین ته | او یتیم ته | او قیدی ته | بیشکه | مونږ خوراک درکوو تاسو ته

مسکینانو یتیمانو او قیدیانو ته خوراک ورکوی. (او هغوی ته وائی چه) مونږ خو تاسو ته صرف

لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا ۝ اِنَّا

د پاره د رضاء | د الله | نه غواړو مونږ | تاسو نه | څه بدله | او نه څه شکریه | بیشکه

د الله رضا حاصلولو د پاره خوراک درکوو مونږ تاسو نه څه بدله غواړو او نهٔ څه شکر گذاری مونږ

نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا ۝ فَوَقٰىهُمُ

مونږ یرِیږو | د خپل رب نه | په هغه ورځ | چه ډیره تریو هغے (سخته) | (او) ترخه ده | پس بچ به کړی دوی لره

د خپل رب نه د هغه ورځ په بارہ کښ یَرِیږو چه ډیره سخته او ترخه به وی. نو (د دے په نتیجه کښ)

اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ۝

الله | د سختئ | د دغه | ورځے نه | او وَربه کړی دوی ته | تازگی | او خوشحالی

الله به دا سے خلق د هغے ورځے د مصیبت نه بچ کړی او تازگی او خوشحالی به ورله ورکړی.

وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ۝ مُّتَّكِـِٕيْنَ

اوبدله به ورکړی دوی ته | په دے وجه | چه صبر کړے وو دوی | جنت | او ریښم | ډډے لگوونکی به وی

او دَدوی د صبر په بدله کښ به ورله جنت او ریښم ورکړی. دوی به هلته په اوچتو تختونو باندے

فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ۚ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ۝

په هغے کښ | په تختونو باندے | نه به وینی دوی | په هغے کښ | نوَر (گرمی) | او نه (سخته) یَخنی

ډډے لگولی (ناست) وی. او نه به هلته نوَر (گرمی) وینی او نه یخنی

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ۝

اورازورِندبه وی | په دوی باندے | سوری دهغے | اوراکوزے کړے شوی به وی | میوے دهغے | په راکوزولو سره

او دهغے باغونو سوری به په دوی باندے (لاندے) رازورِند وی. او میوے به ئے هم راتیتے (تابع) وی

وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ

اوگرځولے به هغی | په دوی باندے | لوښی | د سپینو زرو نه | اوگیلاسونه (پیالی) | چه (جوړے به) وی

اوپه دوی باندے به د سپینو زرو لوښی او د شیشو (نه جوړ شوی) گیلاسونه (پیالی) گرځولے شی

قَوَارِيْرَا ۝ قَوَارِيْرَا مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا ۝

د شیشو نه | شیشے به (جوړے وی) | د سپینو زرو نه | چه اندازه کړے به ئے وی هغے لره | په مناسب طریقے

شیشے به هم د سپین زرو (نه جوړے) وی (چه) په اندازه باندے به ئے پیمانه کړی وی

وَيُسْقَوْنَ فِيْهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيْلًا ۝ عَيْنًا

لوڅکو لبه شی په هغوی باندے | په هغے کښ | د ے پیالے | چه وی به | کښون د هغے | د سونټو | هغه یوه چینه ده

او هلته به په هغوی باندے (د دا سے شرابو) جامونه څکولی شی چه سونټ به پکښ اچولی شوی وی دا هلته یوه چینه ده

فِيْهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيْلًا ۝ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

په هغے کښ | چه ویلے کیږی هغے ته | سلسبیل | او گرځی راگرځی به | په دوی باندے | هلکان

چه نوم ئے سلسبیل دی او په دوی به (د خدمت د پاره) دا سے هلکان گرځی راگرځی چه همیشه به هلکان وی

مُّخَلَّدُوْنَ ۚ اِذَا رَاَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنْثُوْرًا ۝

همیشه خوانان | کله چه | اووینے ته هغوی | نو ته به خیال کوے په هغوی باندے | د ملغلرو | خورو شوو

کله چه ته هغه اووینے نو ته به دا محسوس کړے چه هغه خورے ورے ملغلرے دی

وَاِذَا رَاَيْتَ ثَمَّ رَاَيْتَ نَعِيْمًا وَّمُلْكًا كَبِيْرًا ۝ عٰلِيَهُمْ

او کله چه | اووینے ته | هغه ځائے | نو اُوبه وینے ته | نعمت | او بادشاهی | ډیره لویه | د پاسه د دوی به وی

او (حقیقت دا دے چه) ته کله هغه ځائے اووینے نو تاته به نعمتونه او لوئ حکومت په نظر راځی د هغوی پاسنے

ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَّاِسْتَبْرَقٌ ۫ وَّحُلُّوْٓا اَسَاوِرَ

جامے | د نرو ریښمو | شنے | او (لاندے طرف) د غټو ریښمو | او اچولے شوے به وی دوی ته | باهوکان (بنگړی)

لباس به د نرو شنو ریښمو او لاندینی لباس به د غټو ریښمو وی او د سپین زرو باهوکان به ورته اغوستل شوے وی

مِنْ فِضَّةٍ ۚ وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ۝ اِنَّ هٰذَا

د سپینو زرو نه | او څکوی به په دوی باندے | رب خپل | شراب | ډیر پاکیزه | بیشکه | دا

او خپل رب به پرے ډیر پاکیزه اوبه (شراب) څکوی او (ورته به وائی چه) یقیناً دا

كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ۝ اِنَّا نَحْنُ ع

ده | ستاسو د پاره | بدله | او دے | کوشش ستاسو | قبول کړے شوے | بیشکه | مونږ

ستاسو بدله (انعام) دے او ستاسو د محنت (ښن) قدر شوے دے (اے نبیؐ!) یقیناً

نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ۝ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

نازل کړے دے | په تا باندے | قرآن | په نازلولو سره | پس ته صبر کوه | فیصلے | د خپل رب ته

هم مونږ په تا باندے دا قرآن لږ لږ را لیږلے دے نو (پس) ته د خپل رب حکم ته صبر کوه (کلک اوسه)

وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ۝ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ

او خبره مه منه | د دوی نه | د هیڅ ګناهګار | او د ناشکره | او یادوه | نوم | د رب خپل

او په دے خلقو کښ د ګناهګار او د ناشکره (کافر) خبره مه منه او سحر او ماښام

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا

سحر | او ماښام | او د شپے | سجده کوه | هغه ته | او پاکی وایه دهغه | په شپے

د خپل رب نوم یادوه .او د شپے په څهٔ حصه کښ هغه ته سجده کوه او د شپے

طَوِيْلًا ۝ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ

اوږده کښ | بیشکه | دا خلق | مینه کوی | د دنیا سره | او پریږدی | وروستو د ځان نه

د اوږد وخت پورے د هغه پاکی بیانوه یقیناً دا خلق د دنیا سره مینه کوی او خپل مخے ته یوه

يَوْمًا ثَقِيْلًا ۝ نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ۚ وَاِذَا

ټوه ورځ | درنه | مونږ | پیدا کړی دی دوی | او مونږ مضبوط کړی دی | جوړونه د دوی | او کله چه

درنه ورځ پریږدی مونږ دوی پیدا کړی دی او د دوی جوړونو (بندونه) مو مضبوط کړی دی او مونږ چه کله

شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ۝ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ

اوغواړو مونږ | بدل کښ به راولو | پشان د دوی | په بدلولو سره | بیشکه | دا | یو نصیحت دے

اوغواړو د دوی په ځائے به د دوی پشان نور پیدا کړو یقیناً دا یو نصیحت دے

فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ۝ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ

پس څوک | چه غواړی | او دے نیسی | رب خپل ته | لار | او نه غواړئ تاسو | مګر

اوس څوک چه غواړی نو خپل رب ته (درسیدو) لار دے جوړه کړی او تاسو خو بس هغه څه غوښتل شئ

اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ يُّدْخِلُ مَنْ

دا چه | اوغواړی | الله | بیشکه | الله | دے | ډیر پوهه | ډیر حکمت والا | داخلوی | هغه چا ته

چه الله ځے اوغواړی. یقیناً الله تعالیٰ ډیر پوهه ډیر حکمت والا دے. هغه چه څوک

يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۭ وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ ع

چه (وے) غواړی | په رحمت خپل کښ | او ظالمان | تیار کړے دے هغه | د دوی دپاره | عذاب | دردناک

اوغواړی په خپل رحمت کښ ځے داخل کړی او ظالمانو دپاره هغه (ډیر) دردناک عذاب تیار کړے دے

آیاتہا [۵۰]	سورۃ المُرسَلٰت مکّیۃ	رکوعاتہا [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ۙ﴿۱﴾ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۙ﴿۲﴾

قسم دے په هواګانو چلولے شوو | نرمو (پرله پسے) | بیا (قسم دے) په تیزو چلیدونکو هواګانو | په تیزه چلیدو سره

دهغه هواګانو قسم دے چه په نرمئ سره (پرله پسے) چلیږی بیا په هغه هواګانو قسم دے چه) په تیزه الوزی او په هغه

وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۙ﴿۳﴾ فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۙ﴿۴﴾ فَالْمُلْقِيٰتِ

قسم دے په خورو ونکو هواګانو | په خورولو سره | بیا (قسم دے) په جدا کوونکو هواګانو | په جدا کولو سره | بیا (قسم دے) په هواګانو راغورځوونکو

هواګانو قسم دے چه ورښے خوروی بیا په هغه هواګانو قسم دے چه ورښے (دیوبل نه) جدا جدا کوی بیا په هغه هواګانو قسم دے چه)

ذِكْرًا ۙ﴿۵﴾ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ۙ﴿۶﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ؕ﴿۷﴾

باران لره | د پاره د عذر | یا د پاره د ویرولو | بیشکه هغه څه | چه وعده مے کولے شی تاسو سره | خامخا واقع کیدونکی دی

باران راغورځوی د پاره د څښتن لو د سو کړے او د پاره د ویره ور کولو (بعضو ته) یقیناً هغه څیز به ضرور واقع کیږی د کوم چه تاسو سره

فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ۙ﴿۸﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ۙ﴿۹﴾ وَاِذَا

پس کله چه | ستوری | بے نوره کړی شی | او کله چه | آسمان | اوشلولے شی | او کله چه

وعده کیږی نو کله چه ستوری بے نوره کړے شی او کله چه آسمان کولاؤ کړے شی او کله چه

الْجِبَالُ نُسِفَتْ ۙ﴿۱۰﴾ وَاِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ؕ﴿۱۱﴾ لِاَيِّ يَوْمٍ

غرونه | والوځولے شی | او کله چه | پیغمبران وته | وخت مقرر کړے شی | د کومے | ورځے د پاره

غرونه ریزه ریزه کړے شی او کله چه د پیغمبرانو د جمع کیدو وخت راشی (د اکارونه) کومے ورځے ته

اُجِّلَتْ ؕ﴿۱۲﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ۚ﴿۱۳﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ

ورو ستو کړے شوی وو | ورځے د فیصلے ته | او څه پوهه کړے ئے ته | چه څه ده | ورځ

ورو ستو کړے شوی دی؟ د فیصلے ورځے ته، او تا ته څه پته ده چه د فیصلے ورځ څه څیز دے؟

الْفَصْلِ ؕ﴿۱۴﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۚ﴿۱۵﴾ اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ۚ﴿۱۶﴾

د فیصلے | تباهی ده | په دغه ورځ | د پاره د دروغ ګنړونکو | آیا نه دی هلاک کړی مونږ | ورومبنی

په دغه ورځ د حق دروغ ګنړونکو د پاره تباهی ده۔ آیا (ولے) مونږ پخوانی خلق تباه کړی نه دی؟

ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٦﴾ كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٧﴾

بیا به | راولو مونږ په دوی پسے | وروستنی خلق | دغه شان | کوو مونږ | د مجرمانو سره

بیا به په هغوی پسے دا وروستنی هم بوځو د مجرمانو سره مونږ هم دغه شان کار کوو

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٨﴾ اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿١٩﴾

تباهی ده | په دغه ورځ | د پاره د دروغ کنړونکو | آیا مونږ نه یې پیدا کړی تاسو | د اوبو | سپکو نه

پس په دغه ورځ د حق دروغ کنړونکو د پاره تباهی ده، آیا (ولے) مونږ تاسو د سپکو اوبو نه پیدا کړی نه یئ؟

فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿٢٠﴾ اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٢١﴾ فَقَدَرْنَا ﴿٢٢﴾

بیا اوساتلے مونږ هغه | په یو ځائے | محفوظ کښ | تر یو اندازے | معلومے پورے | پس اندازه اولګوله مونږ

بیا مونږ هغه (اوبه) د یو مقرر وخت پورے په یو محفوظ (مضبوط) ځائے کښ کیخودلے بیا مونږ اندازه مقرر کړه

فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٤﴾ اَلَمْ نَجْعَلِ

نو ښه | اندازه کوونکی یُو (مونږ) | تباهی ده | په دغه ورځ | د پاره د دروغ کنړونکو | آیا نه ده جوړه کړے مونږ

نو مونږ ډیره ښه اندازه مقرروونکی یو. پس په دغه ورځ د حق دروغ کنړونکو د پاره تباهی ده آیا مونږ

الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا ﴿٢٦﴾ وَّجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ

زمکه | راغونډوونکے | ژوندو لره | او مړو لره | او مونږ جوړ کړی دی | په دے کښ | غرونه

زمکه راتغښتونکی جوړه کړے نه ده؟ د مړو هم او د ژوندو هم، او مونږ په هغے کښ اوچت اوچت

شٰمِخٰتٍ وَّاَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

اوچت اوچت | او مونږ څکولی دی په تاسو باندے | اوبه | تنده ماتوونکی | تباهی ده | په دغه ورځ

غرونه پیدا کړی دی او په تاسو باندے مو خوږے اوبه څکولی دی، پس په دغه ورځ د حق دروغ کنړونکو

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٨﴾ اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنْطَلِقُوْٓا

د پاره د دروغ کنړونکو | لاړ شئ | هغه څه ته | چه تاسو به | هغه | دروغ کنړلو | لاړ شئ

د پاره تباهی ده، (دوی ته به اووئیلی شی چه) څئ (لاړ شئ) هغه څیز طرف ته چه تاسو به دروغ کنړلو لاړ شئ

اِلٰى ظِلٍّ ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيْلٍ وَّلَا يُغْنِيْ

سوری ته | چه دریو څانګو والا دے | (چه) نه هغه سورے ورکوونکے دے | او نه هغه بچ کول کوی

هغه سوری طرف ته چه دریے څانګو والا دے چه نه پکښ یخ سورے شته او نه د اور

مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾ اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَاَنَّهٗ

د شعلے (کرمئ) نه | بیشکه هغه (اور) | اوولی | الګار بڅرکی | پشان د بنګلو | لکه چه هغه دی

د تاو نه څوک بچ کوی، یقیناً هغه (اور) (به) دیوے دنګے مانړئ هومره لوے لوے شعلے (الګار) وُولی

جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٤﴾ هٰذَا يَوْمُ

اوښان | زیر (بے مهاره) | تباهی ده | په دغه ورځ | د پاره د دروغ کنړونکو | دا | هغه ورځ ده

دا سے به ښکاری لکه چه هغه ـ زیر رنګ اوښان دی پس په دغه ورځ د حق دروغ کنړونکو د پاره تباهی ده

لَا يَنْطِقُوْنَ ۝ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ۝ وَيْلٌ

چه دوی به خبرے نه کوی | اونهٗ به اجازت ورکولے شی | دوی ته | چه عذرونه پیش کړی | تباهی ده

دادا سے ورځ ده چه (په هغے کښ به) دا خلق خبرے نشی کولے اونهٗ به ورته اجازت ورکولے شی چه څه عذر پیش کړی

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ جَمَعْنٰكُمْ

په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګنړونکو | دا ده | ورځ | د فیصلے | جمع کړی ئے مونږ تاسو

پس په دغه ورځ د حق دروغ ګنړونکو دپاره تباهی ده. دا د فیصلے ورځ ده مونږ تاسو

وَالْاَوَّلِيْنَ ۝ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ۝ وَيْلٌ

او وړومبنی خلق | پس که چرے | وی | ستاسو دپاره | څه مکر | نو جوړ کړئ زما خلاف ئے | تباهی ده

اوپخوانی خلق راجمع کړی دی اوس که تاسو سره څه تدبیر وی نو زما خلاف ئے اوکړئ. پس په دغه

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ ۝ ع

په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګنړونکو | بیشکه | متقیان به وی | په سورو | او چینو کښ

ورځ د حق دروغ ګنړونکو دپاره تباهی ده. یقیناً متقیان خلق به په سورو او په چینو کښ وی

وَّفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ۝ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا

او په میوو (کښ) | دهغه څه نه | چه دوی به ئے غواړی | خوړئ | او څکئ | په خوشحالئ سره | په سبب دهغه څه

او دخپلے خوښے په میوو کښ به وی (او ورته به اووایی شی چه) تاسو چه کوم عملونه کول دهغے په بدله کښ

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝ وَيْلٌ

چه تاسو به کول | بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو | نیکی کوونکو ته | تباهی ده

بنه په مزه خوړئ او څکئ. یقیناً مونږ نیکانو خلقو ته هم داسے بدله ورکوو. پس په دغه

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝ كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ

په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګنړونکو | خوړئ | او فائده واخلئ | لږه موده | بیشکه تاسو یئ

ورځ د حق دروغ ګنړونکو دپاره تباهی ده (اے کافرانو) لږ وخت (یو څو ورځے) اوخوړئ او مزے اوکړئ یقیناً تاسو

مُّجْرِمُوْنَ ۝ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝ وَاِذَا قِيْلَ

مجرمان | تباهی ده | په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګنړونکو | او کله چه | اووایل شی

مجرمان یئ په دغه ورځ د حق دروغ ګنړونکو دپاره تباهی ده او کله چه دوی ته اووایل شی

لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ ۝ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

دوی ته | (چه) رکوع اوکړئ | نو رکوع نه کوی دوی | تباهی ده | په دغه ورځ

چه رکوع اوکړئ نو دوی رکوع نه کوی پس په دغه ورځ د حق دروغ ګنړونکو دپاره

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ۝ ع

دپاره د دروغ ګنړونکو | پس په کومه یوه | خبره به | پس ددے نه | دوی ایمان راوړی

تباهی ده اوس ددے نه پس به دوی په کومه خبره ایمان راوړی؟

آیاتہا [۴۰]	سورۃ النبا مکیۃ	رکوعاتہا [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ۝۱ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ۝۲ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ

دځه باره کښ | دوی تپوس کوی (دیو بل نه) | د خبر | لوئے باره کښے | هغه | چه دوی | پکښ
دا کافران خلق د کوم څیز باره کښ (عبث) تپوس کوی دهغه لوے خبر (قیامت) په باره کښ تپوس کوی چه دوی پکښ

مُخْتَلِفُوْنَ ۝۳ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝۴ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ۝۵ اَلَمْ نَجْعَلِ

اختلاف کوونکی دی | هیڅ کله نه | ډیر زر به دوی پوهه شی | بیا | هیڅ کله نه | ډیر زر به دوی پوهه شی | آیا مونږ نه دے جوړه کړے
اختلاف کوی هیڅ کله دا سے عبث تپوس نه ځکه چه پکار ډیر زر به دوی ته پته لوکی بیا هیڅ کله دا اختلاف نه دے پکار ډیر زر به دوی ته پته لوکی

الْاَرْضَ مِهٰدًا ۝۶ وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ۝۷ وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ۝۸

زمکه | فرش (غوړیدلے) | او غرونه | میخونه | او پیدا کړی مونږ تاسو | جوړے جوړے
(چه عذاب د قیامت حق دے) آیا مونږ زمکه فرش نه ده جوړه کړے او غرونه مو پرے میخونه کړی دی او تاسو مو (دښځے او سړی)

وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۝۹ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ۝۱۰ وَّجَعَلْنَا

او کړ خولے ده مونږ | خوب ستاسو | آرام | او کړ خولے ده مونږ | شپه | پرده (جامه) | او کړ خولے ده مونږ
د جوړے په شکل پیدا کړی یئ او ستاسو خوب مو د آرام ذریعه کړ خولے ده او شپه مو د پرده سبب کړ خولے دے

النَّهَارَ مَعَاشًا ۝۱۱ وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۝۱۲ وَّجَعَلْنَا

ورځ | وخت د ګټے | او مونږ جوړ کړی دی | ستاسو د پاسه | اوه آسمانونه | کلک | او مونږ جوړه کړے ده
او ورځ مو د رزق د ګټلو وخت جوړ کړے دے او ستاسو د پاسه مو اوه اسمانونه جوړ کړی دی او یو پرے قید و نکے

سِرَاجًا وَّهَّاجًا ۝۱۳ وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ۝۱۴

ډیوه | پرے قید و نکے | او را اوروی دی مونږ به | د ډکو (درنو) وریځو نه | او به | را بهیدو نکے
ډیوه (نور) جوړ کړے دے او د درنو وریځو نه مو ډیرے بهیدو نکے او به را اوروی دی

لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ۝۱۵ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ۝۱۶ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ

چه مونږ را وباسو | پرے هغے سره | دانے | او بوټی | او باغونه | ډیر گنړ | بیشکه | ورځ | د فیصلے
چه په هغے سره مونږ غله (دانه) او بوټی (گیاه) او گور گور باغونه راز راغون کړی دی نو په دے عظیم قدرتونو د الله دلیل او نښه چه

كَانَ مِيْقَاتًا ۝۱۷ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَتَاْتُوْنَ اَفْوَاجًا ۝۱۸

دے | یو وخت مقرر | په هغه ورځ | چه پوک به اووهلی شی | په شپیلئ کښ | نو راځئ به تاسو | ډلے ډلے
د فیصلے ورځ یو وخت مقرر دے په دغه ورځ به په شپیلئ کښ (په دویم ځل) پوکے اووهلے شی نو تاسو به ډلے ډلے راځئ

وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ۙ﴿۱۹﴾ وَّسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ

اوپرانستلی به شی | آسمان | نوشی به هغه | دروازے | اوروان به کړے شی | غرونه | نوشی به هغه

او آسمان به پرانستلے شی نو دروازے به پکښ جوړے شی او غرونه به روان کړے شی نو دشکو ګل په شان به بے حقیقته شی

سَرَابًا ؕ﴿۲۰﴾ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ۙ﴿۲۱﴾ لِّلطَّاغِيْنَ مَاٰبًا ۙ﴿۲۲﴾

په شان دپرق دشکے | بیشکه | دوزخ | دے | ځائے دځوئ | دپاره دسرکشو | ځائے دورتلو دے

یقیناً جهنم ځائے د انتظار د کافرانو دے دا د سرکشو ځائے دے

لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ اَحْقَابًا ۚ﴿۲۳﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ۙ﴿۲۴﴾

اوسیږی به | په هغے کښ | دیره مودے | نه به څکی دوی | په هغے کښ | یخوالے | اونه دځکلو څه څیز

چه دوی به پکښ ترنامعلومه اوږدے زمانے پورے اوسیږی نه به پکښ دیخئ مزه څکی او نه دځکلو یو څیز

اِلَّا حَمِيْمًا وَّغَسَّاقًا ۙ﴿۲۵﴾ جَزَآءً وِّفَاقًا ؕ﴿۲۶﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ

مګر | خوتکیدلے اوبه | او وینے زومے | بدله | پوره پوره | بیشکه دوی | وو | چه امید نه ساتلو

سواد کړمو (یشیدلے) اوبو او وینو زوونه دا پوره بدله موافق دعمل دَدوی دهغه څکه دوی به دآخرت دحساب عقیده

حِسَابًا ۙ﴿۲۷﴾ وَّكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ؕ﴿۲۸﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ

د حساب | اودروغژن نے ګنړل | آیتونه زمونږ | په دروغژن ګنړلو سره | او هریو | څیز | راګیر کړے دے مونږ

نه لرله او زمونږ آیتونه نے بلکل دروغژن ګنړلی وو او مونږ یو یو څیز په لیکلو سره محفوظ ساتلے دے

كِتٰبًا ۙ﴿۲۹﴾ فَذُوْقُوْا فَلَنْ نَّزِيْدَكُمْ اِلَّا عَذَابًا ۧ﴿۳۰﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ ع ۱۰

په لیکلو کښے | پس اوځکئ (عذاب) | پس هیڅ کله نه زیاتوو مونږ تاسو له | مګر | عذاب | بیشکه | متقیانو دپاره

نو اوس مزه اوځکئ مونږ تاسو له د عذاب نه علاوه نور هیڅ نه زیاتوو. یقیناً د متقیانو دپاره ځائے دسیل

مَفَازًا ۙ﴿۳۱﴾ حَدَآئِقَ وَاَعْنَابًا ۙ﴿۳۲﴾ وَّكَوَاعِبَ اَتْرَابًا ۙ﴿۳۳﴾ وَّكَاْسًا دِهَاقًا ؕ﴿۳۴﴾

کامیابی ده | یعنی باغونه | او انګور | او پیغلے جینکئ | همزولے | اوپیالئ | دے دے

اوکامیابئ دے۔ یعنی باغونه او انګور او همزولے پیغلے جینکئ به وی او پوره ډک ډک جامونه به وی.

لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ؕ﴿۳۵﴾ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً

نه به اوری دوی | په هغے کښ | عبث خبرے | او نه دروغژن کول | بدله | ستادرب دطرف نه | ورکړه

دوی به هلته څه عبث او دروغ خبرے نه اوری. دا بدله به ستا درب دطرف نه بدله

حِسَابًا ۙ﴿۳۶﴾ رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ

په حساب | (چه) رب | دآسمانونو | اودزمکے (دے) | اودهغه څه | چه دے دواړو په مینځ کښ دی | رحمٰن ذات دے

يَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ وَاَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ۝ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ

نصيحت قبلوى | انسان | اوڅه فائده به وركړى ددۀ ته | نصيحت | وائى به | هائے ارمان زما

خو د پوهيدو موقع به چرته وى؟ وائى به كاش! چه د خپل دے ژوند دپاره مے

قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ۝ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗٓ اَحَدٌ ۝

چه ما مخكښ لپاره لولے وے | د خپل ژوند دپاره | پس په دغه ورځ | عذاب به نه شى وركولے | د هغه د عذاب په شان | هيڅ څوك

څه مخكښ را لپاره لى وے بيا به په دغه ورځ د الله د عذاب په شان هيڅ څوك عذاب وركولو والا نه وى

وَّلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗٓ اَحَدٌ ۝ يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ۝

او نه به تړل كولے شى | د هغه د تړلو په شان | هيڅ څوك | اے نفسه | اطمينان والا

او نه به څوك د الله د تړلو په شان (مضبوط) تړل كولے شى (نيكانو خلقو ته به او ويلے شى چه) اے نفس مطمئنه

ارْجِعِيْٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ۝ فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ۝

واپس شه | خپل رب طرف ته | خوشحاله | خوښ (خپل رب ته) | پس داخل شه | زما په بنده ګانو کښې

واپس شه خپل رب طرف ته دا سې چه ته هم خوشحاله ئ او هغه هم ستاسه خوشحاله دے او زما په نیکانو بنده ګانو کښې شامل شه

ع ۱

وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ۝

او داخل شه | زما جنت ته |

او زما جنت ته داخل شه.

آیاتها [۲۰]	سورة البلد مكّية	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ۝ وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ۝ وَوَالِدٍ

(دلته نه ده) زه قسم کوم | په دے | ښار | او ته به | داخل شے | په دے | ښار کښې | او قسم کوم په پلار

زه په دے ښار د مکے قسم کوم او تا ته به قتال حلال کړے شي پدے کښې پس دهجرت نه او داخل به شے او زه قسم کوم په پلار (آدم)

وَّمَا وَلَدَ ۝ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ ۝ اَيَحْسَبُ

او په هغه چا | چه پیدا شو ددهٔ | یقیناً | پیدا کړے دے مونږ | انسان | په محنت کښې | آیا دے ګمان کوی

او د هغهٔ په اولاد چه یقیناً مونږ انسان په سختۍ (مشقت) کښې پیدا کړے دے آیا ددهٔ دا خیال دے چه

اَنْ لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ اَحَدٌ ۝ يَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ۝

چه هیڅ کله به قادر نه شی | په ده باندے | هیڅ څوک | دے وائی (چه) | برباد کړے دے ما | مال | ډیر

په ده باندے (ګنې) د چا وس نه رسی دے پخپله وائی چه ما (خو) ډیر مال خرچ کړے (برباد کړے) دے

اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗٓ اَحَدٌ ۝ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ ۝

آیا دے ګمان کوی | چه | نه وینی ده لره | هیڅ څوک | آیا نه دی جوړے کړے مونږ | ده له | دوه سترګے

آیا ددهٔ دا خیال دے (ګنې) چه هیڅ چا نه دے لیدلے؟ آیا مونږ ده له دوه سترګے او یوه ژبه او دوه شونډے

وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ۝ وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ ۝ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ۝

او یوه ژبه | او دوه شونډے | او ښودلی دی مونږ ده ته | دوه لارے | پس نه دے اوږدلے | په کنډاو (سخته لار)

نه دی ور کړی؟ او مونږ ورته دوه لارے (د خیر او شر) ښودلی دی خو دے بیا هم (د دین) په کنډاو (سخته لار) ور نغلو

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ۝ فَكُّ رَقَبَةٍ ۝ اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ

او ته څه پوهه کړے | چه څه څیز دے کنډاو (سخته لار) | آزادول | د سپ دی | یا خوراک ور کول دی | په ورځ

او تا ته څه پته ده چه کنډاو (سخته لاره) څه څیز دے؟ (لوا واړه چه دا خو یا) انسان (د غلامئ، جهل او مظلومیت نه) آزادول دی

ذِيْ مَسْغَبَةٍ ۙ يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ۙ اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ۭ ثُمَّ

د لوږې کښې | يتيم | رشته دار ته | يا مسکين | په خاورو کښې ناست ته | بيا

يا د لوږې په ورځ کښې خوراک ورکول دي يو يتيم ته چې خپلوان وي يا يو مسکين ته چې خاورو کښې ناست وي بيا په هغه

كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا

شي دے | دهغه کسانو نه | چې ايمان ځړاوړے دے | او نصيحت کوي يو بل ته | د صبر کولو | او نصيحت کوي يو بل ته

خلقو کښې هم شامل وي چا چې ايمان راوړے دے او يو بل ته په مشقت او تکليف باندے د صبر کولو پخه خبره کوي او

بِالْمَرْحَمَةِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د رحم کولو | دغه خلق | ښې طرف والا دي | او هغه خلق | چې کفر ئې کړے دے

(مخلوق خدا سره د ښيګړې کولو د پاره يو بل ته د رحم کولو پخه خبره کوي هم داخلق خوش نصيبه دي او چا چې زمونږ د آياتونو نه

بِاٰيٰتِنَا هُمْ اَصْحٰبُ الْمَشْاَمَةِ ۭ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ۧ

زمونږ په آياتونو | هغوي دي | کس طرف والا | وي به په هغوي باندے | اور | بند کړے شوے

انکار کړے دے هغوي د ښيګړې نصيحت دي په هغوي باندے به اور د هر طرف نه چاپيره وي (رابند شوي وي)

آياتها [۱۵]	سورة الشّمس مكّيّة	ركوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چې ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چې عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ۙ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ۙ وَالنَّهَارِ اِذَا

قسم دے په نور | او په رڼا دهغے | او قسم دے په سپوږمۍ | کله چې | راشي هغه پسے | او قسم دے په ورځ | کله چې

په نور او دهغے په رڼا قسم دے او په سپوږمۍ (قسم دے) کله چې په نور پسې راخيژي او په ورځ قسم دے کله چې

جَلّٰىهَا ۙ وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ۙ وَالسَّمَاۗءِ وَمَا بَنٰىهَا ۙ

ښکاره کړي هغه ئې | او قسم دے په شپه | کله چې | پټ کړي هغه ئې | او قسم دے په آسمان | او په هغه (ذات) | چې جوړ کړے دے هغه

نور ئې ښکاره کړي او په شپه قسم دے کله چې نور پټ کړي او په آسمان او دهغے په جوړوونکي قسم دے

وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ۙ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۙ فَاَلْهَمَهَا

او قسم دے په زمکه | او په هغه ذات | چې ښوره کړے هغه | او قسم دے په نفس | او په هغه ذات | چې برابر کړے هغه | بيا ئې ښودلې دي هغه

او په زمکه او دهغے په غوړوونکي (خورونکي) قسم دے او په نفس او دهغے په برابر جوړوونکي ذات قسم دے چې بيا ئې ورته

فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۙ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۙ وَقَدْ خَابَ

نافرمانيا ئې ددې | او پرهيزګاري ددې | يقيناً | کامياب شو | هغه څوک | چې پاک ئې کړو دا (نفس) | او يقيناً | نامراده شو

ښه او بد ښودل دي يقيناً هغه څوک کامياب شو چې خپل نفس ئې پاک کړو او يقيناً هغه څوک ناکام (برباد) شو

مَنْ دَسّٰىهَا ۝ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِطَغْوٰىهَآ ۝ اِذِ انْۢبَعَثَ

هغه څوك | چه تباه ئے کړو دا (نفس) | دروغژن گنړلے وو | ثمود یانو | په وجه د سرکشئ خپلے | کله چه | راپاڅید و

چه خپل نفس ئے گنده کړو (په گناهونو) ثمود قوم د خپلے سرکشئ په وجه خپل پیغمبر دروغژن گنړلے وو څه وخت چه

اَشْقٰىهَا ۝ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ۝

بدبخته دهغوی | پس اووئیل | هغوی ته | پیغمبر | د الله | خیال اوساتئ داونښے | د الله | او دنمبر د څکلو دهغے

دهغوی نه یو بدبخته کس (داونښے د ذبح کولو په نیت) راپاڅید و نو د الله رسول ورته اووئیل چه د الله داونښے او دهغے

فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ۝ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ

نو هغوی دروغژن اوگنړلو هغه | پس اووژله دوی هغه (اونښه) | نو تباهی راوستله | په دوی باندے | رب خپل

داوبو دنمبر خیال اوساتئ نو هغوی (صالح) دروغژن اوگنړلو او اونښه ئی اووژله نتیجه داشوه چه دهغوی دگناهونو په وجه الله تعالیٰ

ع ۱۱ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ۝ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ۝

په وجه د گناهونو د دوی | بیائے برابر کړه هغه تباهی | او نه یریدلو الله | د انجام د دے نه |

پرے تباهی راوستله نو ټول ئی برباد کړل او الله تعالیٰ د هغوی د بد انجام هیڅ پروا اونه کړه۔

آیاتها [۲۱]	سورة اللّیل مکّیة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ۝ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ۝ وَمَا خَلَقَ

قسم دے په شپه | کله چه | راخوریږی | او قسم دے په ورځ | کله چه | روښانه شی | او قسم دے په هغه ذات | چه پیدا کړی ئے دی

په شپه قسم دے کله چه راخوره شی او په ورځ قسم دے کله چه روښانه شی او په هغه ذات قسم دے چه نارینه

الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ۝ اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ۝ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى

نارینه | او زنانه | بیشکه | محنت ستاسو | مختلف دے | پس هغه څوك | چه مال ئے ورکړو

او زنانه ئے پیدا کړی دی چه حقیقت دا دے چه ستاسو محنتونه (کوششونه) مختلف دی نو چا چه (د الله په لار کښې)

وَاتَّقٰى ۝ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ۝ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ۝

او پرهیزګاره شو | او رښتیا ئے اوگنړله | خائسته خبره | نو دیر زر به مونږ آسان کړو هغه ته | لار د آسانئ

ملاو کړو او تقوی ئے اختیار کړه او د تولونه خائسته خبره (کلمة التوحید) ئے رښتیا اوگنړله نو مونږ به ورته د خائسته خصلتونو اختیار ولو

وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ۝ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ۝ فَسَنُيَسِّرُهٗ

او هغه څوك | چه بخل ئے وکړو | او بے پروا شو | او دروغژنه ئے وگنړله | خائسته خبره | نو دیر زر به مونږ آسان کړو هغه ته

توفیق ورکړو او چا چه بخل او کړو او ځان ئے (د الله نه) بے پروا کړو او د تولونه خائسته خبره ئے دروغژنه اوگنړله نو مونږ به ورته

لِلْعُسْرٰى ۝ وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهٗٓ اِذَا تَرَدّٰى ۝ اِنَّ عَلَيْنَا

لار د سختۍ | او پکار به رانه شي | د دۀ | مال خپل | کله چه | هلاك شي | بیشکه | په مونږ باندې دی

دبدو خصلتونو لار آسانه کړو او (دا سے کس) چه کله مړ شي نو خپل مال به ورله هیڅ فائده ورنه کړي یقیني خبره داده

لَلْهُدٰى ۝ وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى ۝ فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا

خامخا لاره ښودل | او بیشکه | زمونږ دپاره دی | آخرت | او دنیا | پس یرومه زۀ تاسو | دهغه اور نه

چه لاره ښودل زمونږ ذمه واري ده او دا هم یقیني خبره ده چه آخرت او دنیا دواړه زمونږ په قبضه کښې دی نو زۀ تاسو دا سے

تَلَظّٰى ۝ لَا يَصْلٰىهَآ اِلَّا الْاَشْقَى ۝ الَّذِيْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ۝

چه لمبیږي وهي | نه به داخلیږي هغے ته | مګر | ډیر بدبخته | هغه کس چه | دروغژن ګڼلے وو (حق) | او مخ ګرځولے وو

اورنه یرومه چه لمبیږي وهي هغے ته به هغه لوے بدبخته نوټي چه حق ئے دروغژن ګڼلے دے او دنیک عمل نه ئے مخ

وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ۝ الَّذِيْ يُؤْتِيْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ۝

اوزړه چه ډیر ډیر به اوساتلے شي دهغے نه | زیات پرهیزګاره | هغه کس | چه ورکوي | مال خپل | چه پاك شي

اړولے دی او هغه لوئے پرهیزګار کس به ترے لرے اوساتلے شي چه خپل مال د خان پاکولو دپاره خرچ کوي

وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰٓى ۝ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ

اونشته | هیڅ یو کس لره | د دۀ سره | څه احسان | چه دهغے بدله ورکولے شي | مګر | لتول | د رضا

حالانکه په دۀ باندے د چا څه دا سے احسان نه وي چه بدل ئے خلاصولے شي بس صرف د خپل

رَبِّهِ الْاَعْلٰى ۝ وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ۝

درب خپل | چه اوچت دے | او خامخا ډیر زر به | خوشحاله شي

اوچت رب رضا ئے لتوله او ډیر زر به دے د خپل رب نه راضي شي۔

آیاتها [۱۱]	سورة الضحیٰ مکیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالضُّحٰى ۝ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا

قسم دے د سخت په وخت | او قسم دے په شپه | کله چه | پوره راخوره شي | چه نه ځپریښود لے ته | رب خپل | او نه ئے (درسره)

(اے نبیؐ!) دوځ په تا قسم دے او په شپه قسم دے کله چه راخوره شي چه نه خوته خپل رب پریښود لے ئے

قَلٰى ۝ وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ۝ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ

دشمنی کړے ده | او خامخا آخرت | ډیر غوره دے | ستا دپاره | د دنیا نه | او خامخا ډیر زر به | درکړي تاته

او نه ئے درنه خفه دے (او نه ئے درسره دشمنی ده) / او یقیناً آخرت ستا دپاره د دنیا نه ډیر بهتر دے او یقین او کړه چه

رَبُّكَ فَتَرْضٰى ۝ اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۝

رب ستا | نو ته به خوشحاله شے | آیا نه وے موندلے هغه ته | یتیم | نو ځائے درکړو

ستا رب به تاله (هغه څه) درکړی چه ته به پرے خوشحاله شے آیا الله تعالیٰ ته یتیم بیا نه موندلے نو ځائے درکړو

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۝ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا

او موندلے وے هغه ته | بے خبره | نو لار ئے اوښودله (تاته) | او موندلے وے هغه ته | محتاج

او د شرائعو له ئے نا خبره بیا موندلے نو لار د شرائعو ئے درته اوښودله او محتاج ئے بیا موندلے

فَاَغْنٰى ۝ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝ وَاَمَّا السَّآئِلَ

نو سبھرو (مالدار) ئے کړے | پس هغه څوک | چه یتیم دے | نو غصه (ورته) مه کوه | او هغه څوک | چه سوال کوونکے دے

نو مالداره ئے کړے نو (اوس ته هم) یتیم ته غصه مه کوه او سوال کړ (محتاج)

فَلَا تَنْهَرْ ۝ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝ ع

نو مه رټه (هغه) | او کوم چه | نعمت دے | ستا درب | نو هغه بیان کړه

مه رټه او د خپل رب د نعمتونو (د ښودلی شوی شرائعو) بیان کوه۔

سورۃ الإنشراح مکّیّۃ

آیاتها [۸] | رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۝ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۝

آیا مونږ نه ده پرانستے | ستا د سینه | سینه ستا | اولړے کړے دے مونږ | ستا نه | بوج ستا

اے نبیؐ! آیا مونږ ستا سینه (معارفُ ته) نه ده پرانستلے؟ او ستا مو هغه بوج هم لړے کړو چه

الَّذِيْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ۝ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝

هغه چه | ماته (درنه) کړے ئے ده | ملا ستا | اواوچت کړے دے مونږ | ستا د پاره | ذکر (یاد) ستا

ستا ملا ئے ماته کړے وه (چه هغه بوج د نبوت دے) او ستا نوم (یاد) مو (په خو اخلاقو) اوچت کړے دے

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝

پس بیشکه | د سختۍ سره | آسانتیا وی | بیشکه | د سختۍ سره | آسانتیا وی

حقیقت دا دے چه (دُنیوی) سختو پسے آسانتیا هم وی یقیناً (دینی) سختو پسے آسانتیا هم وی

فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝ ع

پس کله چه | فارغ شے ته | نو ځان ستړے کړه (په عبادت) | او خپل رب ته | رغبت کوه

پس نو کله چه فارغ شے ته (د دعوت نه) نو په عبادت ځان ستړے کوه او خپل رب سره زړه اولګوه (خپل رب ته رغبت کوه)

آیاتها[۸]	سورة التین مکیة	رکوعها[۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۙ﴿۱﴾ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۙ﴿۲﴾ وَهٰذَا الْبَلَدِ

قسم دے په انځر | او قسم دے په خونهٔ | او قسم دے په طور سینا | او قسم دے په دے | بنار
په انځر او په زیتون قسم دے او د سینا طور (غر) قسم دے او په دے امن والا بنار

الْاَمِيْنِ ۙ﴿۳﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۖ﴿۴﴾

د امن والا | یقیناً | مونږ پیدا کړے دے | انسان | په ډیر خائسته | صورت کښې
قسم دے چه یقیناً مونږ انسان په ډیر بنایسته صورت (ډهانچه) کښې پیدا کړے دے

ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۙ﴿۵﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

بیا اوښکړے مونږ دے | ډیر لاندے | دلاندونه | مگر | هغه خلق | چه ایمان یې راوړے دے | او عملونه یې کړی دی
بیا مونږ دے د ټولو نه لاندینی حالت (دوزخ) ته بوځو مگر څوك چه ایمان راوړی او نیك

الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۭ﴿۶﴾ فَمَا يُكَذِّبُكَ

نیک | نو دهغوی دپاره | اجر دے | نه ختمیدونکے (بې انتهاء) | پس څه څیز دے | چه دروغژن کړځوی تاته
عملونه او کړی نو دهغوی دپاره نه ختمیدونکے اجر مقرر دے نو بیا (اے انسانه!) هغه کوم یو څیز دے چه

بَعْدُ بِالدِّيْنِ ۭ﴿۷﴾ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ۧ﴿۸﴾

پس دَدے نه | په بارهٔ د جزاء کښې | آیا نه دے | الله | پخه فیصله کوونکے | د ټولو فیصله کوونکو نه
تا د جزاء او د سزا په دروغ کښولو آماده کوی آیا الله تعالیٰ د ټولو نه لوے حاکم نه دے؟

آیاتها[۱۹]	سورة العلق مکیة	رکوعها[۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۚ﴿۱﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ

اولوله | په نوم | د خپل رب | هغه ذات | چه پیدا ئش یې کړے دے | پیدا کړے یې دے | انسان
(اے نبیٰ!) د خپل هغه رب په نوم (قرآن) اولوله چه ټول مخلوق یې پیدا کړے دے (او خاص کر) انسان یې د وینے د یو توتے

مِنْ عَلَقٍ ۚ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۙ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۙ

دونے دیوتو لے نہ | اولولہ | اوستارب دے | دیرعزتمند | هغه ذات | چه تعلیم ئے ور کړے دے | په قلم سره

(دچکه وینے) نه پیدا کړے دے اولولہ اوستارب دتولونه زیات کرم (عزت) والا دے هغه دقلم په ذریعه تعلیم ور کړے دے

عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ ؕ كَلَّاۤ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَیَطْغٰۤی ۙ

ښودلی ئے دی | انسان ته | هغه څه | چه هیر ے نه پوهیدو | هرگز نه! | بیشکه | بعضے انسان | خامخاسرکشی کوی

انسان ته ئے دهغه څه تعلیم ور کړے دے چه مخکښې ئے نه پیژندل حقیقت دادے چه انسان صرف دے وجے بنکاره

اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰی ؕ اِنَّ اِلٰی رَبِّكَ الرُّجْعٰی ؕ اَرَءَیْتَ

دے ځانه | چه ویني دے خپل ځان | چه بې پروادے | بیشکه | ستا رب ته | واپسی ده | آیاتالیدلے دے

سرکشی کوی چه خپل ځان بے حاجته (مالدار) گڼری یقیناً ستا رب ته دتولو ور گرځیدل دی آیاتا هغه کس

الَّذِیْ یَنْهٰی ۙ عَبْدًا اِذَا صَلّٰی ؕ اَرَءَیْتَ اِنْ كَانَ

هغه کس | چه منع کوی | بنده لره | کله چه | مونځ کوی هغه | آیاتالیدلے دے | که چرے | وی هغه

لیدلے دے چه یو بنده کله مونځ کوی نو دے ئے منع کوی لږ دا خو اووایه چه (گورہ) که دا بنده

عَلَی الْهُدٰۤی ۙ اَوْ اَمَرَ بِالتَّقْوٰی ؕ اَرَءَیْتَ اِنْ كَذَّبَ

په هدایت | یا حکم کوی | دپرهیزگارئ | آیاتالیدلی دی | که چرے | دروغژن اوگڼری دے

په هدایت وی یادتقوٰی حکم ور کوی (نودا منع کول گمراهی نه ده؟) لږ دا خو اووایه چه (گورہ) که دا منع کوونکے حق دروغژن گڼری

وَتَوَلّٰی ؕ اَلَمْ یَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ یَرٰی ؕ كَلَّا لَئِنْ لَّمْ یَنْتَهِ ۙ

او مخ واړوی | آیا دے نه پوهیږی | چه بیشکه | الله | وینی (گوری) | هرگز نه! | که چرے منع نه شی دے

او دنیک عمل نه مخ اړوی آیا ده ته پته نشته چه الله ئے وینی خبردار دے که دے منع نه شو نو

لَنَسْفَعًۢا بِالنَّاصِیَةِ ۙ نَاصِیَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ۚ

نو خامخا ویښو مونږ دے | د تندی د ویښتو نه | تندے | دروغژن | گناهکار |

مونږ به ئے د تندی د څټوکی نه راکاږو هغه څټوکے چه دروغژن او خطاکار دے

فَلْیَدْعُ نَادِیَهٗ ۙ سَنَدْعُ الزَّبَانِیَةَ ۙ كَلَّا ؕ

پس راوغواړی دے | خپل مجلس والا | زرده چه مونږ به راوغواړو | زبانیه (د دوزخ فرشتے) | هرگز نه!

نو دے دِ خپل ملگری راوغواړی مونږ به هم د دوزخ فرشتے راوغواړو ۔ گورہ

لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ۩

خبره مه منه دده | او سجده کوه | او نزدے شه الله ته |

ته د ده خبره مه منه او (الله ته) سجده کوه او (هغه ته) ځان نزدے کړه.

آياتها [۵]	سورة القدر مكّية	ركوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ۝ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا

بيشکه | مونږ نازل کړے دے ما قرآن | په شپه | د قدر کښې | او تا څه پوهه کړے | چه څه ده

يقيناً مونږ دا قرآن په ليلة القدر کښې نازل کړے دے او تا ته څه پته ده چه ليلة القدر څومره

لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۝ لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ۝ تَنَزَّلُ

شپه | د قدر | شپه | د قدر | ډيره غوره ده | د زرو | مياشتونه | راکوزيږي

(اوچته شپه ده)؟ ليلة القدر د زرو مياشتو نه هم ډيره غوره ده په دغه شپه

الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ مِنْ كُلِّ

فرشتے | او روح | په دے کښې | په حکم | د خپل رب | د هر

فرشتے او روح الامين د خپل رب په حکم د هر خير والا کار د پاره راکوزيږي او څوک چه

اَمْرٍ ۝ سَلٰمٌ ۛ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ۝ ع

کار په باره کښې | سلامتی ده | دا | تر د | راختلو | د صبا پورے ده

الله يادوی هغوی ته سلام کوی دا شپه د صبا د راختلو پورے د امن او سلامتۍ والا وی۔

آياتها [۸]	سورة البيّنة مدنيّة	ركوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

نه وو | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | د اهل کتابو نه | او مشرکان

کافران خلقو يعنی اهل کتابو او مشرکانو طلب د بعثت د رسول نۀ پريښودلو تر دے چه

مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ۝ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتْلُوْا

پريښودونکی | تر دے | چه راغے دوی ته | بنکاره دليل | پيغمبر | د الله (د طرف نه) | چه لولی

هغه واضحه دليل ورته راغے يعنی د الله رسول چه پاکيزه صحيفے ورته لولی

صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۙ﴿۳﴾ فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ؕ﴿۴﴾ وَمَا تَفَرَّقَ

صحیفے | پاکے | چه په هغے کښ دی | حکمونه (مضبوطونه) | مضبوط (درست) | اونه دی ولے ولے شوے

چه په هغے کښ محکم آیاتونه (حکمونه) لیکل شوی دی او اهل کتابو څ

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ؕ﴿۴﴾

هغه کسان | چه ورکړے شوے دے | کتاب | مګر | پس د دے نه | چه راغلے دوی ته | واضحه دلیل

د ښکاره دلیل د راتلو نه پس جدا لاره اختیار کړه حالانکه دوی ته هم

وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ۬

اوحکم نه وو شوے دوی ته | مګر | دے چه عبادت واوکړی دوی | د الله | چه خالص کړی دهغه لره | دین

دا حکم شوے وو چه د الله عبادت دے دا سے اوکړی چه بندګی هغه لره خالص کړی (او)

حُنَفَآءَ وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِيْنُ

(او) چه یو مخیزے به وی | اوپابندی به کوی | د مانځه | اوورکوی به | زکات | او دا دے | دین

د باطل نه حق ته راواړوی او د مانځه پابندی وکړی او زکات ورکړی همدا ډار ښه دین دے

الْقَيِّمَةِ ؕ﴿۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

مضبوط | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | د اهل کتابو نه | او مشرکانو نه

یقیناً کافران یعنی اهل کتاب او مشرکان به همیشه همیشه دهاړه

فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ اُولٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ؕ﴿۶﴾

وی به په اور | د دوزخ کښ | همیشه به وی | په هغے کښ | هم دا خلق | دوی دی | بدترین | د مخلوق نه

د دوزخ په اور کښ پراته وی هم دا خلق د ټول مخلوق نه بد تر دی

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ

یقیناً | هغه کسان | چه ایمان ےراوړے دے | اوعملونه ے کړی دی | نیک | هم دا خلق | دوی دی | بهترین

یقیناً چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ے کړی دی همدا په ټول مخلوق کښې بهترین خلق دی

الْبَرِيَّةِ ؕ﴿۷﴾ جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ

د ټول مخلوق نه | بدله د دوی | د خپل رب سره | جنتونه | د همیشه دی | چه ښکیږی به

د دوی بدله د خپل رب سره دا سے د همیشه اوسیدو جنتونه دی چه

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ

د لاندے د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښې | همیشه | خوشحاله به وی | الله

لاندے به ترے نهرونه بهیږی (او) دوی به په هغے کښ همیشه همیشه اوسیږی الله تعالیٰ به د دوی نه

عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ؕ﴿۸﴾

دوی نه | اودوی به خوشحاله وی | د هغه نه | دا دی | د هغه چا دپاره | چه یریږی | د خپل رب نه

خوشحاله وی او دوی به د هغه خوشحاله وی دا هر څه د هغه چا دپاره دی چه د خپل رب نه یریږی

آیاتها [۸]	سورة الزّلزال مدنيّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝١ وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ۝٢

هرکله | چه اوخوړونکے ځمکه | په خوږولو د هغے سره | او راوباسي | ځمکه | بوجونه خپل

کله چه په ځمکه باندې سخته زلزله راځي (او چرګونکے ځمکه) او ځمکه خپل بوجونه بهر راوخوړي

وَقَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا ۝٣ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا ۝٤

او اووایي | انسان | چه څه اوشو | په دے | په دغه ورځ | بیانوي په دا | خبرونه (حالات) خپل

او انسان به اووایي چه دا په دے څه اوشو؟ په دغه ورځ به ځمکه خپل ټول حالات بیان کړي

بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا ۝٥ يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۝٦

څکه چه | ستا رب به | حکم اوکړي | دے ته | په دغه ورځ | بهر به راوځي | خلق | ډلے ډلے

څکه چه ستا رب به ورته هم دا حکم کړے وي په دغه ورځ به خلق ډلے ډلے راووځي

لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ۝٧ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

چه اوښودلے شي ورته | عملونه خپل | پس چا چه | اوکړه | په اندازه | د ذرے

چه خپل عملونه ورته اوښودلے شي نو (پس) چا چه د یوے ذرے برابر

خَيْرًا يَّرَهٗ ۝٧ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝٨

څه نیکي | (نو) اوبه وینې هغه | او چا | چه اوکړه | په اندازه | د ذرے | څه بدي | (نو) اوبه وینې هغه

څه نیکي کړي وي هغه به هم اووینې او چا چه دیوے ذرے برابر څه ګناه کړي وي هغه به هم اووینې۔

آیاتها [۱۱]	سورة العٰدیٰت مكّيّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ۝٢ فَالْمُغِيْرٰتِ

قسم دے په منډو هوکړو اسونو | چه هڅ پڅ کوي | په قسم دے په اور وستونکو اسونو په سُمونو د هغو سره | په قسم دے په حمله کوونکو اسونو

قسم دے په هغو اسونو چه منډے وهي او هڅ پڅ (پر څیري) پیدا (هغه) چه په خپلو خپو د هغو سره د اور پسري الوځي پیدا

صُبْحًا ۝ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ۝ فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ۝

په وخت د صبا کښې | نورا وچتوی | په هغے سره | دوړے | بیا ورننوځی | په هغے سره | په ډله کښې

سحر په وخت کښې په دشمن باندے حمله کوی. بیا په هغے سره دوړے راپورته کړی بیا هم په هغه وخت د دشمن په لښکر کښې ورننوځی

اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۝ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ۝

چه یقیناً | انسان | د خپل رب | ډیر ناشکره دے | اوبیشکه دے | په دے (کار) | خامخا گواه دے

چه یقیناً انسان د خپل رب ډیر ناشکره دے او دے پخپله د دے خبرے گواه (هم) دے

وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ۝ اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ

اوبیشکه دے | په مینه | د مال کښې | خامخا ډیر سخت دے | آیا نو دے نه پوهیږی | کله به چه | راپاڅولے شی

اوحقیقت دا دے چه دے د مال په مینه کښې ډیر کلک (سخت) دے آیا دے هغه وخت نه پیژنی کله به چه

مَا فِى الْقُبُوْرِ ۝ وَحُصِّلَ مَا فِى الصُّدُوْرِ ۝

هغه څوک | چه په قبرونو کښې دی | اوراښکاره به کړے شی | هغه څه | چه په سینو کښې دی

د قبرونو نه مړی راپاڅولے شی او په سینو کښې چه څه دی هغه به راښکاره کړے شی یقیناً

اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ۝

بیشکه | رب د دوی | په دوی باندے | په دغه ورځ | خامخا پوره خبر دے |

د دوی رب په دغه ورځ د دوی (د حالت) نه پوره خبر دے.

آیاتها [۱۱]	سورة القارعة مكّيّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْقَارِعَةُ ۝ مَا الْقَارِعَةُ ۝ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ۝

(هغه) زړه ټکوونکے (عذاب) | څه دے | هغه ټکوونکے (عذاب) | اوته څه پوهه کړے | چه څه دے | زړه ټکوونکے (عذاب)

زړونه ټکوونکے (واقعه رایاده کړه) هغه زړه ټکوونکے واقعه څه څیز دے اوتا ته څه پته ده چه هغه زړونه ټکوونکے واقعه څه شے ده؟

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۝ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ

په دغه ورځ | شی به | خلق | پشان د پتنگانو | خوږو وړو | او شی به | غرونه

په دغه ورځ به ټول خلق د خوږو وړو پتنگانو په شان شی او غرونه به د شیندلی شوی

كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ۝ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ۝

په شان د (رنګینے) وړئ | شیندلے شوے | پس هغه څوک | چه درنے شوے | تلے د هغه

(ډنډیت شوے) رنګینے وړئ په شان شی نو د چا تله (د عمل) چه درنے راوخیژی

فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۝ وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ۝

نووی به هغه | په ژوند | خوښحاله (غوره) کښی | او هغه څوك | چه سپکے شوے | تلے دهغه

نو هغه به ښه په مزو (دخو شے پ ژوند کښ) کښی وی او د چا (دعمل) تله چه سپکے راوخیژی

فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ۝ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا هِيَهْ ۝ نَارٌ حَامِيَةٌ ۝

نودهغه ځائ به | هاویه وی | او څه پوهه کړے ته | چه هغه څه شے دے؟ | هغه اور دے | سخت گرم

نو د هغه ځائ هاویه دے او تا ته څه پته ده چه هاویه څه شے دے؟ دا یو گرم اور دے۔

سورۃ التکاثر مکیۃ

آیاتها [۸] | رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْهٰىكُمُ التَّكَاثُرُ ۝ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝ كَلَّا

غافله کړی یې تاسو | ډیر والی (د مال په یو بل باندے) | تر دے | چه ورسیدئ تاسو | مقبرو ته | هرگز داسے نه وه پکار

تاسو په یو بل باندے (د مال د) ډیر والی حرص غافله کړی یې تر دے چه قبرستان ته اورسیدئ گوره

سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝ كَلَّا

ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | بیا | هرگز داسے نه ده پکار | ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | یقیناً

ډیر زر به تاسو پوهه شئ بیا گوره ډیر زر به تاسو ته پته اولگی یقیناً که تاسو په علمِ یقینی سره پوهه لرے

لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ ۝ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ۝ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا

که چرے | تاسو پوهه لرئ | په یقینی پوهه | خامخا تاسو به اووینئ | دوزخ | بیا | خامخا تاسو به اووینئ دا

نو تاسو به خامخا جهنم دلرے نه په دنیا کښ اووینئ او بیا به دیقین په ستر گو یعنی په مشاهدے سره

عَيْنَ الْيَقِيْنِ ۝ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ۝

د یقین په ستر گو | بیا | خامخا تاسو نه به تپوس کیږی | په دغه ورځ | د نعمتونو په باره کښ

خامخا جهنم لره اووینئ په آخرت کښ او بیا به ستاسو نه په دغه ورځ د نعمتونو باره کښ خامخا تپوس کیږی۔

سورۃ العصر مکیۃ

آیاتها [۳] | رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالْعَصْرِ ۝ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ ۝ اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

قسم دے همسای کړ (مانه) | بیشکه | انسان | خامخا په تاوان کښ دے | مګر | هغه کسان | چه ایمان لړ اوړے دے

په زمانے قسم دے چه یقیناً انسان په لوے تاوان کښ دے سوا د هغه خلقو نه چه ایمان یے راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝ ع

او عملونه ښے کړے دی | ټینګ | اووصیت یے کړے دے یو بل ته | د حق | اووصیت یے کړے دے یو بل ته | د صبر کولو

اولیکه عملونه ښے کړی دی اوبه یو بل ته د حقے خبرے نصیحت کړے دے اوبه یو بل ته د صبر کولو نصیحت کړے دے۔

آیاتها [۹]	سورة الهُمَزة مكّيّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه دیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَیْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ۝ الَّذِیْ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ۝

تباهی ده | د هر | اپشی شاهدویونکی | مخامخ طعنه کوونکی دپاره | هغه کس | چه جمع کوی | مال | او شماری هغه

د هر هغه چا دپاره لویه تباهی (خرابی) ده چه پشی شا په خلقو عیبونه لګوی او مخامخ پیغورونه ورکوی د هغه کس دے چه

یَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ۝ كَلَّا لَیُنْۢبَذَنَّ

ګمان کوی | چه بیشکه | مال د ده په | همیشه اوساوی دده لره | هرګز داسے نه ده | خامخا به اوغورزولے شی

مال راجمع کوی او بیا ے شماری دا خیال کوی چه د ده مال به د ده سره همیشه وی هیڅ چرے نه هغه به په

فِی الْحُطَمَةِ ۝ وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝

په خطمه کښ | او ته څه پوهه کړے | چه څه څیز دے | خطمه

خطمه اور کښ خامخا غورزولے شی او تا ته څه پته ده چه خطمه څه شے دے

نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ۝ الَّتِیْ تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ۝

دا اور | د الله دے | بل کړے شوے | هغه | چه ورځیږی په | په زړونو باندے

دا د الله تعالیٰ بل کړے شوے هغه اور دے چه په زړونو به ورځیږی (اوډوی به)

اِنَّهَا عَلَیْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۝ فِیْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝ ع

بیشکه دا به وی | په دوی باندے | راښکته کړے شوے | په ستنو | اوږدو کښ

د اور به اوږدو اوږدو پاڅولو کښ راکښته کړے شوی وی۔ د اور به په دوی هر طرف نه راښکته کړے شوے وی

آیاتها [۵]	سورة الفیل مکّیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد ګنوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝١ اَلَمْ يَجْعَلْ

آیا تهٔ نه کورے | چه څنګه | کار کړے وو | رب ستا | د هاتیانو والا سره | آیا وے نهٔ کړ څو

ته په طور د تعجب نهٔ کورے چه ستا رب د هاتیانو والا سره څنګه سلوک او کړو آیا هغه د دوی

كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝٢ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۝٣

چل وَل دهغوی | بیکاره | او راوے لیږل | په هغوی باندے | مارغان | ډلے ډلے

تدبیرونه (چلونه) ناکامه (بیکاره) نه کړل؟ او په هغوی باندے ئے ډلے ډلے مرغان راپرے ولیږل

تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝٤ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ۝٥

چه ویشتل به ئے هغوی | په کانړو | کهاځه کړے شوونه په اوږکنې | نو کړل ئے هغوی | په هغه د بوسو | خوړل شوو

چه د خاورو په پخو کانړو به ئے ویشتل نو داسے ئے کړل لکه خوړلی شوی بُوس۔

آیاتها [۴]	سورة قُریش مکّیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد ګنوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝٢

تعجب دے په میله د قریشو | میله دهغوی | د سفر | د ژمی | او اوړی سره

تعجب پکار دے په قریشو چه ځ د لیاسره دو مره میله کوی چه د ژمی او د اوړی سفر سره عادت شوی دی

فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝٣ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ

نو پکار دے چه دوی عبادت او کړی | د رب | د دے | کور | هغه (رب) | چه خوراک ئے ورکړے دے دوی له

نو دوی له پکار ده چه دوی عبادت او کړی د هغه رب (مالک) چه هغه د لوږے په حالت کښې دوی

مِّنْ جُوْعٍ ۝٤ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝٥

| د لوږه له | او امن ئے ورکړے دے دوی له | د ډیرے له |

ساړه کړی دی (دوی له ئے خوراک ورکړے دے) او د بد امنۍ له ئے محفوظ کړی دی۔

آیاتها [۷]	سورة الماعون مکیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَرَءَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۝١ فَذٰلِكَ الَّذِىْ

آیا تا لیدلے دے | هغه کس | چه دروغژن ګڼړی | دین لره | نو دا | هغه کس دے

آیا تا هغه کس لیدلے دے چه دین دروغژن ګڼړی؟ نو دا هغه کس دے

يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۝٢ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۝٣

چه دیکے ورکوی | یتیم ته | اونه راتیزوی (خلق) | په خوراك | د مسکین پاڼه دے

چه یتیم ته دیکے ورکوی او مسکین ته د خوراك ورکولو ترغیب (قدر ے هم) نه ورکوی

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝٤ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝٥

نو تباهی ده | دمونځ کوونکو دپاره | هغه کسان | چه هغوی | د خپل مانځه نه | بے خبره دی

نو (بیا) دا سے مونځ ګزارو تباه شی چه هغوی د خپلو مونځونو نه بے خبره (غافله) دی

الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝٦ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝٧ ع

هغه کسان | چه هغوی | ریاکاری کوی | او منع کوی | د عام ضرورت څیزونه

یعنی داهغه خلق (دی) چه هغوی په خپلو عملونو کښ ریاکاری کوی اودمعمولی (عام دضرورت) څیزدور کولونه هم انکار کوی.

آیاتها [۳]	سورة الکوثر مکیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ

بے شکه | مونږ درکړی دی تاته | کوثر (ډیر دفائدی څیز) | نو مونځ کوه | د خپل رب دپاره

اے نبیؐ! یقین اوکړه چه مونږ تاته ډیر لوے خیر (کوثر) درکړے دے نو (اوس) ته د خپل رب دپاره مونځ کوه

وَانْحَرْ ۝٢ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۝٣ ع

او قربانی کوه | بیشکه | دشمن ستا | هم هغه دے | بے خیره (بے نامه)

او قربانی کوه (او) یقین اوکړه چه ستا دشمن به بے نومه وی

آیاتها [۶]	سورة الکٰفِرُون مکّیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۙ﴿۱﴾ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۙ﴿۲﴾ وَلَآ اَنْتُمْ

اووایه | اے کافرانو | زه عبادت نه کوم | دهغه څه | چه تاسو ئے عبادت کوئ | او نه تاسو
(اے نبیٰ! کافرانو ته) اووایه! چه اے کافرانو! زه دهغه څیز عبادت نه کوم چه تاسو ئے عبادت کوئ او نه تاسو

عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۚ﴿۳﴾ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۙ﴿۴﴾

عبادت کوونکی یئ | دهغه څه | چه زه ئے عبادت کوم | او نه یم زه | عبادت کوونکے | دهغه څه | چه تاسو ئے عبادت کوئ
دهغه چا عبادت کوئ چه زه ئے عبادت کوم او نه زه آئنده دهغه څیز عبادت کوونکے یم چه تاسو ئے عبادت کوئ

وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۭ﴿۵﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۧ﴿۶﴾

او نه تاسو | عبادت کوونکی یئ | دهغه څه | چه زه ئے عبادت کوم | ستاسو دپاره | ستاسو دین دے | او زما دپاره | زما دین دے
او نه تاسو آئنده دهغه چا عبادت کوونکی یئ چه زه ئے عبادت کوم ستاسو دپاره ستاسو دین دے او زما دپاره زما دین دے۔

آیاتها [۳]	سورة النّصر مدنیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۙ﴿۱﴾ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ

هر کله | چه راشی | مدد | د الله | او فتح | او ته اوویني | خلق | چه داخلیږی
اے نبیٰ! څه وخت چه د الله تعالیٰ مدد او فتح راشی او ته خلق اووینے چه د الله په دین کښ ډلے ډلے داخلیږی

فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۙ﴿۲﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ۭ

په دین | د الله کښ | ډلے ډلے | نو پاکی بیانوه | سره د حمد | د رب خپل | او بخښنه غواړه دهغه نه
نو د خپل رب د حمد سره سره د هغه پاکی بیانوه او بخښنه ترے غواړه

اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۧ﴿۳﴾

| بیشکه هم هغه | دے | ښه توبه قبلوونکے |
یقین اوکړه چه هغه ډیر معافی کوونکے دے۔

آیاتها[۵]	سورة اللهب مكّية	رکوعها[۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ

هلاك شول | دواړه لاسونه | د ابو لهب | او هلاك دِ هی | پکار رانغلے | دهغه | مال دهغه

د ابو لهب لاسونه دِ مات شی او هغه دِ هلاك هی ، نه خو ئے مال پکار راغے

وَمَا كَسَبَ ۝ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝ وَّامْرَاَتُهٗ ط

او هغه څه | چه کتلی ئے وو | دِیر زر به داخل شی | اُور ته | د لمبو والا | او ښځه دهغهٔ (هم)

او نه هغه څه چه کتلی ئے وو دِیر زر به هغه د لمبو والا اور ته داخل شی او ښځه به (ئے هم داخله شی)

ع حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝

| راوچتوونکے د لرګو ده | د هغے په څټ کښی به وی | رسۍ | د قجورو د پوستکی |

چه خشاك ئے اوچت کړے کړ ځی د هغے په غاړه کښی به یوه مضبوطه غښتلی رسۍ وی۔

آیاتها[۴]	سورة الإخلاص مكّية	رکوعها[۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ ۙ

ته اووایه! | هغه | الله | اِك یَو دے | الله | بے حاجته دے | نه ئے اولاد زیږولے دے

اے نبیٔ! (خلقو ته) اووایه چه الله اِك یو دے (دا سے ذات دے) چه ټول دهغه محتاج دی او هغه دچا محتاج نه دے

ع وَلَمْ يُوْلَدْ ۙ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝

او نه هغه زیږولے شوے دے | او نشته | دهغهٔ | برابر | هیڅ څوك |

نه دهغه اولاد شته او نهٔ هغه دچا اولاد دے او هیڅ څوك دهغهٔ برابر نشته۔

آیاتها[۵]	سورة الفلق مکّیة	رکوعها[۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۙ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ﴿۲﴾

ته اووایه | زه پناه غواړم | په رب | د رابنکاره کولو | د شر | د هغه څه نه | چه هغه پیدا کړی دی

اے نبیٔ! اووایه چه زه د هغه مالک پناه غواړم چه رابنکاره کول د هر څیز ولو کوی د هر هغه څیز د شر نه چه هغهٔ پیدا کړی دی

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿۳﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ

او د شر | د تیارے د شے نه | کله چه | هغه راخوره شی | او د شر | د پوکو وهونکو ښځو نه

او د تورے شے د تیارے د شر نه (پناه غواړم) چه کله راخوره شی او په غوټو کښې د پوکو وهونکو د شر نه

فِي الْعُقَدِ ۙ﴿۴﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۚ﴿۵﴾

په غوټو کښې | او د شر | د حسد کوونکی نه | کله چه | هغه حسد کوی

پناه غواړم او د حسد کړ چه کله حسد شروع کړی د هغهٔ د شر نه پناه غواړم۔

آیاتها[۶]	سورة الناس مکّیة	رکوعها[۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ۙ﴿۲﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ۙ﴿۳﴾

ته اووایه | زه پناه غواړم | په رب | د خلقو | په بادشاه | د خلقو | په معبود | د خلقو

اے نبیٔ! اووایه اچه زهٔ د ټولو خلقو د رب پناه غواړم د ټولو خلقو د بادشاه (پناه غواړم) د ټولو خلقو د معبود (پناه غواړم)

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ۚ﴿۴﴾ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ

د شر | د ډیرو وسوسو اچولکی | پټیدونکی نه | هغه | چه وسوسے اچوی

د هغه وسوسے اچونکی د شر نه چه وروستو کیږی (پټیږی) او د خلقو په سینو کښې

فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۙ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۧ﴿۶﴾

په سینو | د خلقو کښې | د پیریانو | او د انسانانو نه

وسوسے اچوی د پیریانو نه وی او کهٔ د انسانانو نه وی۔

الحمد لله تمت ترجمة هذا الجزء الأخير بتوفيق الله و فضله يوم السبت ۲۹ اگست ۲۰۱۵ الموافق ۱۴ ذی القعدة ۱۴۳۶ قبل صلاة الظهر بجامعة تبليغ القرآن — اللهم وفقنا لإتمامه ونشره كما وفقتنا لإبتدائه.

دعاء ختم القرآن

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ○ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ ○ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ○
رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ○ اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا بِكُلِّ حَرْفٍ مِّنَ الْقُرْاٰنِ حَلَاوَةً وَّبِكُلِّ
جُزْءٍ مِّنَ الْقُرْاٰنِ جَزَاءً اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا بِالْاَلِفِ اُلْفَةً وَّبِالْبَاءِ بَرَكَةً وَّبِالتَّاءِ تَوْبَةً وَّبِالثَّاءِ ثَوَابًا
وَّبِالْجِيْمِ جَمَالًا وَّبِالْحَاءِ حِكْمَةً وَّبِالْخَاءِ خَيْرًا وَّبِالدَّالِ دَلِيْلًا وَّبِالذَّالِ ذَكَاءً وَّبِالرَّاءِ رَحْمَةً
وَّبِالزَّاءِ زَكٰوةً وَّبِالسِّيْنِ سَعَادَةً وَّبِالشِّيْنِ شِفَاءً وَّبِالصَّادِ صِدْقًا وَّبِالضَّادِ ضِيَاءً وَّبِالطَّاءِ
كَرَاوَةً وَّبِالظَّاءِ ظَفَرًا وَّبِالْعَيْنِ عِلْمًا وَّبِالْغَيْنِ غِنًى وَّبِالْفَاءِ فَلَاحًا وَّبِالْقَافِ قُرْبَةً وَّ
بِالْكَافِ كَرَامَةً وَّبِاللَّامِ لُطْفًا وَّبِالْمِيْمِ مَوْعِظَةً وَّبِالنُّوْنِ نُوْرًا وَّبِالْوَاوِ وُصْلَةً وَّبِالْهَاءِ
هِدَايَةً وَّبِالْيَاءِ يَقِيْنًا۔ اَللّٰهُمَّ انْفَعْنَا بِالْقُرْاٰنِ الْعَظِيْمِ ○ وَارْفَعْنَا بِالْاٰيٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ○
وَتَقَبَّلْ مِنَّا قِرَاءَتَنَا وَتَجَاوَزْ عَنَّا مَا كَانَ فِيْ تِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ مِنْ خَطَاٍ اَوْ نِسْيَانٍ اَوْ تَحْرِيْفِ
كَلِمَةٍ عَنْ مَّوَاضِعِهَا اَوْ تَقْدِيْمٍ اَوْ تَاْخِيْرٍ اَوْ زِيَادَةٍ اَوْ نُقْصَانٍ اَوْ تَاْوِيْلٍ عَلٰى غَيْرِ مَا اَنْزَلْتَهٗ
عَلَيْهِ اَوْ رَيْبٍ اَوْ شَكٍّ اَوْ سَهْوٍ اَوْ سُوْءِ الْحَانٍ اَوْ تَعْجِيْلٍ عِنْدَ تِلَاوَةِ الْقُرْاٰنِ اَوْ كَسْلٍ اَوْ سُرْعَةٍ
اَوْ تَلْيِيْغِ لِسَانٍ اَوْ وَقْفٍ بِغَيْرِ وُقُوْفٍ اَوْ اِدْغَامٍ بِغَيْرِ مُدْغَمٍ اَوْ اِظْهَارٍ بِغَيْرِ بَيَانٍ اَوْ مَدٍّ اَوْ
تَشْدِيْدٍ اَوْ هَمْزَةٍ اَوْ جَزْمٍ اَوْ اِعْرَابٍ بِغَيْرِ مَا كُتِبَ اَوْ قِلَّةِ رَغْبَةٍ وَّرَهْبَةٍ عِنْدَ اٰيَاتِ
الرَّحْمَةِ اَوْ اٰيَاتِ الْعَذَابِ فَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا وَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ○ اَللّٰهُمَّ نَوِّرْ قُلُوْبَنَا بِالْقُرْاٰنِ
وَزَيِّنْ اَخْلَاقَنَا بِالْقُرْاٰنِ وَنَجِّنَا مِنَ النَّارِ بِالْقُرْاٰنِ وَاَدْخِلْنَا فِي الْجَنَّةِ بِالْقُرْاٰنِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلِ
الْقُرْاٰنَ لَنَا فِي الدُّنْيَا قَرِيْنًا وَّفِي الْقَبْرِ مُؤْنِسًا وَّعَلَى الصِّرَاطِ نُوْرًا وَّفِي الْجَنَّةِ رَفِيْقًا وَّمِنَ
النَّارِ سِتْرًا وَّحِجَابًا وَّاِلَى الْخَيْرَاتِ كُلِّهَا دَلِيْلًا فَاكْتُبْنَا عَلَى التَّمَامِ وَارْزُقْنَا اَدَاءً بِالْقَلْبِ
وَاللِّسَانِ وَحُبَّ الْخَيْرِ وَالسَّعَادَةِ وَالْبِشَارَةِ مِنَ الْاِيْمَانِ ○ وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ
خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ مَّظْهَرِ لُطْفِهٖ وَنُوْرِ عَرْشِهٖ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ
وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا اَبَدًا

قاری فضل کریم عارفؔ

قاری القرآن و مدرس دار القراءۃ جامعہ اشرفیہ پشاور
قاری القرآن و فاتح الحرمین پاکستان
ایم اے اسلامیات پشاور یونیورسٹی
ماسٹر ٹرینر پروونشل ریلیجس اوقاف صوبہ خیبر پختونخواہ

تاریخ 1/11/2-18

باسمہٖ تعالیٰ

تصحیح نامہ

بندہ نے زیر نظر بفتوی ترجمہ قرآن موسومہ بہ "تعلیم الکتاب" کا قرآنی متن لفظ بلفظ بغرض تصحیح پڑھا، جو املاط سے آپس کی رضامندی ہی کی، جنکی درستگی کے بعد بفضلہ تعالیٰ مذکورہ قرآنی متن کا من حرف و علامات پاک اور اشاعت کے لئے لائق اعتماد ہے۔

واللہ الموفق للصواب وہ استعاذ والیہ المرجع والمآب

قاری فضل کریم عارف

محکمہ اوقاف، حج، مذہبی و اقلیتی امور حکومت خیبر پختونخوا پشاور

رجسٹریشن نمبر: 111
مؤرخہ 01-12-2018

رجسٹریشن سرٹیفکیٹ

تصدیق کی جاتی ہے کہ العلم پبلیکیشنز غلہ گنج قصہ خوانی پشاور کو خیبر پختونخوا طباعت قرآن مجید (غلطیوں سے پاک) رولز 2011 اور رجسٹریشن آف پرنٹنگ پریس اینڈ پبلیکیشنز آرڈیننس 2002 کی دفعہ 8 اور خیبر پختونخوا طباعت قرآن مجید (غلطیوں سے پاک) رولز 2011 (ترمیمی) رولز 2013 کے ضابطہ 3 کے تحت بطور پبلشر قرآن مجید رجسٹر کیا جاتا ہے۔

دستخط

رجسٹریشن نمبر: 0 0 0 0 0 0 0 0 0 0 0 0 0 0 0

بسم الله الرحمن الرحيم
مُحَمَّدٌ
أَحْمَدُ
حَامِدٌ
مَحْمُودٌ
قَاسِمٌ
عَاقِبٌ
فَاتِحٌ
شَاهِدٌ
حَاشِرٌ
مُتَقِّيٌ
بَشِيرٌ
دَاعٍ
شَافٍ
هَادٍ
مَاحٍ
مُنْتَجٌ
نَاهٍ
رَسُولٌ
نَبِيٌّ
أُمِّيٌّ
تِهَامِيٌّ
هَاشِمِيٌّ
أَبْطَحِيٌّ
عَزِيزٌ
حَرِيصٌ عَلَيْهِ
رَءُوفٌ
رَحِيمٌ
طٰهٰ
مُجْتَبًى
طٰسٓ
مُرْتَضًى
مُتَوَسِّطٌ
مُصْطَفًى
يٰسٓ
أُولٰى
مُزَّمِّلٌ
وَلِيٌّ
مُدَّثِّرٌ
مَتِينٌ
مُصَدِّقٌ
طَيِّبٌ
نَاصِرٌ
مَنْصُورٌ
سَيِّدٌ
أَمِرٌّ
حِجَازِيٌّ
نَزَارِيٌّ
صَادِقٌ
أَمِينٌ
عَبْدُاللهِ

لا إله إلا الله محمد رسول الله
كليم الله
حبيب الله
نبي الله
صفي الله
خاتم النبيين
عادل
بار
شكور
مقتصد
رسول الرأفة
منير
مبلغ
خطيب
عالم
حق
مبين
مطيع
أول
آخر
ظاهر
باطن
ناطق
رسول الرحمة
منيب
حكيم
فصيح
مذكر
مطهر
قريب
خليل
عربي
جواد
صاحب
عادل
شهيد
قائم
شفيع
مؤمن
مضري
حافظ
غني
حجة
مختار
نور
نبي الرحمة
رسول الملاحم
جامع
فتاح
إمام
قرشي



اشاعت اسلامي كتب پلورنخی
اسحاقزی مارکیٹ لاندیپی پوربزای خلورلاری جلال آباد سنر
0789514907 , 0770277501 , 0310-8360534

العلم پبلیکیشنز
091-2580325 - 2590315
0333-4030836 / 0332-9241690